۳

لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة (الآية)



سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم







تالیف

الشیخ العلامۃ ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

جمع وترتیب واضافات مفیدہ

الشیخ ابوزہیر سیف اللہ حفظہ اللہ

مکتبہ محمدیہ

بیرون کنج گیٹ منگل مارکیٹ پشاور

0301-8828402

لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة (الآية)

سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم



تالیف: الشیخ العلامۃ ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

٣



مکتبہ محمدیہ
بیرون کنج گیٹ منگل مارکیٹ پیښور

د تالیف او طباعت حقوق محفوظ دی

د کتاب نوم	سیرت الرسول ﷺ
د مؤلف نوم	الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله ورعاه
جمع وترتیب واضافات مفیده	از ابوزهیر سیف الله غفر له شیخ آباد پشاور۔
سنۂ طباعت	جمادی الاولیٰ ۲۴/۱٤۳۹ هجری
	الموافق: ۲۰/۱/۲۰۱۸)
د نسخو تعداد	۱۱۰۰
فن	سیرتِ رسول (ﷺ)
ناشر	مکتبه محمدیه گنج پیښور

د ملاویدو پته

۱- مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ پهندو روډ منگل مارکیټ پیښور پاکستان

ولی الله :03118828402/ 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابوزهیر : 03075924001

۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور۔

۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پیښور۔

٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔

۵- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402

٦- مسلم کتاب پلورنځی، جلال آباد اسحاق زئی مارکیټ۔

۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترځنگ دکان نمبر ۲



معرکهٔ مُؤته

(جمادی الاولیٰ سنه ٨ هجری، موافق : اګست یا ستمبر ٦٢٦م)

دے ته معرکه پدے وجه وائی چه دے ته خپله رسول الله ﷺ نهٔ وو حاضر شوے بلکه د معرکے او د سریه په نوم سره یادیږی۔

بعض روایاتو کښے دے ته غَزْوَةُ جَيْشِ الْأُمَرَاء وئیلے شویده۔ یعنی هغه غزا چه په هغے کښے د یو لښکر ډیر امیران مقرر کړے شوی وو۔

او بعض اهل المغازی ورته وَقْعَةُ مُؤْتَه وائی، او بعضو پکښے شك کړیدے چه دا سریه وه او که غزوه؟۔ حافظ ابن کثیرؒ په البدایه والنهایه (٢٤١/٤) کښے عنوان د غزوه مُؤته ورکړے، بیا ئے ورته سریه د زید بن حارثه ﷺ وئیلے ده۔

خو اکثرو مغازی او سیرت والا او محدثینو ورته غزوه وئیلے ده، ددے وجه دا ده چه دے کښے دومره لوی لښکر وتلے وو چه هغه د سریه د تعداد نه ډیر زیات وو۔

او بله وجه دا ده چه کوم صحابه کرام ﷺ پکښے حاضر شوی وو نو په هغوی کښے بعضو دے ته غزوه وئیلے وه۔

(لکه په حدیث د عوف بن مالك اشجعی ﷺ کښے، مسلم (٢٤/٤) او په حدیث د ام سلمه رضی الله عنها کښے لکه په المستدرك (٤٥/٣) کښے دی)۔

لیکن که دے ته وقعه او معرکه او جَيْشُ الْأُمَرَاء ووئیلے شی، نو د اختلاف نه به وځی او یو درمیانه قول به شی ځکه چه دا غزا نهٔ وه پدے وجه چه نبی کریم ﷺ ورته نهٔ وو

حاضر شوے۔ او سریه پدے وجه نۀ وه چه د سریه په اصطلاحی معنیٰ کښے چه کوم تعداد وی هغه پدے کښے نۀ وو بلکه زیات وو۔
چه هغه عدد آخری څلور سوه (٤٠٠) کسان وی۔
(النهایة فی غریب الاثر لابن الاثیر ۹۱۹/۲ لفظ : سری)

رسول الله ﷺ د مکے د فتح نه مخکښے د هجرت په اتم کال بعض سرایا ولیږلے، چه لویه سریه پکښے همدا سریه وه کوم چه معرکه د مُؤته کړیده۔
مُؤتَه : یو کلے دے اَدْنَی الْبَلْقَاء (یعنی بلقاء ته نزدے)، او بلقاء په شام کښے یوه علاقه ده، او مؤته د جنوبی اُردن یو ښار دے، ددے او د بیت المقدس ترمینځ دوه مرحلے مزل دے (او یوه مرحله د بار وړونکو اُوښانو یوه ورځ او یوه شپه مزل دے، چه څلویښت کیلو میټره جوړیږی)۔
(تیسیر العلام شرح بلوغ المرام کتاب الحج ومنحة العلام للشیخ صالح الفوزان)
مؤته ښار په یو زرخیز (شین) میدان کښے د بحیرهٔ مردار په جنوبی طرف کښے مشرقی طرف ته او د کرك په جنوب کښے دوه گینټے مسافت باندے واقع دے۔
(اردو دائرہ معارف اسلامیہ ۷۳۱/۲۱)

دے ته نبی کریم ﷺ درے زره فوج لیږلے وو چه دومره لوی فوج ئے سویٰ د غزوهٔ خندق او فتح د مکے نه بل جنګ ته نۀ وو لیږلے۔
په سرایاؤ کښے به اکثر، دیرش او پنځوس او سل او پنځه سوه کم وزیات کسان لیږلے کیدل، خو دا ځل ئے درے زره مجاهدین ولیږل، چه ډیر اُوچت شان والا خلق وو۔
دا معرکه لوی خونریز جنګ وو چه د رسول الله ﷺ په ژوند کښے مسلمانانو د نصاراؤ سره کړے وو، او دا په اصل کښے د نصاراؤ د ښارونو د فتح کولو دپاره مقدمه (پیش خیمه) او تمهید وو۔

سبب د معرکے

ددے معرکے د واقع کیدو سبب دا وو چه رسول الله ﷺ حارث بن عُمیر اَزْدِی رضی الله عنه د استازی په طور د بُصریٰ گورنر ته ولیږلو چه دا د هرقل د طرف نه د بصریٰ والی او گورنر وو۔ ددهٔ نوم شرحبیل بن عمرو غسّانی وو،
او حافظ ابن حجرؒ فرمائی چه دا حارث بن ابی شَمِر غَسّانی وو۔

(بُصریٰ : دا د حُوراَن علاقے ښار دے، چه ډیرے قلعه ګانے او کلی لری او په طرف د اُوچه باندے د شام او د حجاز ترمینځ واقع دے- شرح النوویؒ علی مسلم)

ددے ګورنر په لاس نبی کریم ﷺ هرقل ته خط لیږلے وو او هغه دِحیَه کلبی رضی الله عنه وړے وو، لکه د بادشاهانو د خطونو په باب کښے د هغے ذکر راغلے دے۔

دا ئے دویم خط وو۔

(او ددے خطونو په ذریعه به رسول الله ﷺ بادشاهانو ته د اسلام دعوت ورکولو)

دا ګورنر اصل نه عرب وو لیکن د هرقل بادشاه د تابعدارئ د وجه نه په نصرانیت کښے داخل شوے وو، لکه دا عامه طریقه وی چه څوك د چا په ګاونډ کښے وسیږی نو د هغوی اثر پرے کیږی۔

د نبی کریم ﷺ استازے چه کله دے علاقے ته ورسیدو نو شرحبیل وربسے فوج راخور کړو او هغه ئے ونیولو او یو څو ورځے ئے بندی کړو، بیا ئے بهر ته راوویستو او په توره ئے په څټ باندے ووهلو او شهید ئے کړو۔

حال دا چه د سفیرانو او قاصدانو وژنه ډیر ناکاره جرم وو، دا د جنګ د اعلان سره برابر بلکه د هغے نه هم زیات وو، او د قاصدانو وژل د ټول انسانیت په نیز،

او دارنګه د الله په قانون کښے هم ناروا عمل دے، اګرکه د هر څومره غټ دشمن د طرف نه استازے وی۔

نو کله چه رسول الله ﷺ ته خبر رارسونکو ددے واقعے خبر راوړو نو دا کار پرے ډیر زیات ګران پریوتو او ډیر خفه شو، نو ملګروته ئے وویل چه تاسو به ځئ او د دغه کافرو سره به جنګ کوئ او د دغه مسلمان بدله به اخلئ۔

نو هغوی طرفته ئے د درے زره کسانو یو لښکر تیار کړو۔

بعض نور اسباب ذکر کوی لکه په کتاب ((غزوة موته)) کښے ئے وګوره۔

ابو زهرهؒ د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه نقل کړیدی چه هغه په ((رسالة القتال)) کښے لیکلی دی چه نبی کریم ﷺ رومیانو ته مؤتے ته فوج پدے وجه ولیږلو چه د هغه ځائے رومی والی د شام مسلمانان وژلی وو۔

(غزوة موته والسرایا والبعوث ١/٢٤٩)

بعض وائی : حقه دا ده چه د جهاد مشروعیت ددے تقاضا کوی چه عربی قبائل تابع

کړے شی او د اسلام زمکه فراخه کړے شی قطع نظر د اسبابو راپیدا کیدو نه،
لکه چه ابن کثیرؒ ذکر کړیدی:

[كَانَتْ اِرْهَاصًا لِمَا بَعْدَهَا مِنْ غَزْوِ الرُّوْمِ، وَإِرْهَابًا لِّأَعْدَاءِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ﷺ]

[الفصول فی سیرة الرسول ص (۱۹۵) لابن کثیر]

دا غزا د روستو رومیانو سره په تبوك کښے د جنګ کولو دپاره مقدمه او اشاره وه، او د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول د دشمنانو یره ول او په هغوی باندے رعب غورزول پکښے مقصد وو۔

نو غزا د موته د تبوك دپاره مقدمه وه، او اشاره وه چه د نبی کریم ﷺ د وفات نه روستو به شام فتح کیږی۔

بعض مستشرقین وائی چه غزا د مُوته کښے هغه عربو ته خبردارے ورکول وو کوم چه په شام کښے وسیدل چه د مسلمانانو قوت زیات شویدے نو دوئ له پکار دی چه د خپلو عربو سره ملګری شی او نصرانیت پریږدی، او عرب تول یو شی او عربی دولت سره یو ځای شی او ددے په نطاق کښے داخل شی۔

او ددے دپاره چه د عربو د نفسونو نه د بیزنطی حکومت هیبت او دبدبه وځی نو موقعه ئے تیاره کړه چه د عربو اتحاد راشی او په روستو زمانه کښے بیزنطی مالونه او ملکیتونه لاس ته راوړی۔ (بیزنطی د رومیانو حکومت وو)

مګر دا یو غلط سوچ دے چه کفارئے د مسلمانانو ترمینځ خوره وی دے دپاره چه مسلمانان د خپل عزت ځایونو او شرافتو نه جدا کړی۔

او خلکو کښے دا خبره عامه کړی چه دا عربی حکومت جوړه ول او د نورو ملکونو مالونه غصب کول وو۔ او پدے سره د دوی مقصد د امت اسلامیه وحدت ختمول دی۔

صحیح دا ده چه معرکه د مُؤته د الله تعالیٰ ددے آواز جواب ورکول وو چه هغه فرمائیلی دی:

﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صَاغِرُوْنَ﴾

[التوبة: ۲۹]

د هغه کسانو سره جنګ وکړئ چه ایمان په الله او په ورځ روستنئ باندے نهٔ لری او د

الله او د رسول حرام کرده ځیزونه حرام نهٔ گنړی او د حق دین تابعداری نهٔ کوی، دویٔ د اهل کتابونه دی تردے چه دویٔ جزیه ورکړی په خپل لاس او دوی ذلیله وی۔

د امیرانو مقررول او هغوی ته وصیت

رسول الله ﷺ ددے لښکر دپاره د یو بل نه پس درے امیران مقرر کړل، اول امیر ئے زید بن حارثه ﷺ مقرر کړو چه دا هغه صحابی دے چه قرآن کریم کښے ئے نوم راغلے دے، او [حِبُّ رَسُوْلِ اللّٰهِ] د رسول الله ﷺ محبوب ورته وئیلے کیږی، د جنگونو په کارونو ډیر ښه پو هیدو،

او رسول الله ﷺ بـه هم داسے کسان امیران مقررول چه یوائے بزرگان نهٔ وی بلکه جنگی ترتیباتو باندے ښهٔ پو هه وی۔

او دائے وویل : [إِنْ قُتِلَ زَيْدٌ فَجَعْفَرٌ، وَإِنْ قُتِلَ جَعْفَرٌ فَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ] ۔

کـه زید بن حارثه ﷺ شهیـد شی نو جعفر بن ابی طالب ﷺ بـه امیر وی او که جعفر شهید شی نو عبد الله بن رواحه ﷺ به امیر وی، او ددے نه اخوا ئے سکوت وکړو۔

خـو د نبی کـریـم ﷺ عـادت مبارکـه دا وو چـه کـلـه بـه ئے د چا په باره کښے دغسے تعیین وکړو نو ددے معنیٰ به دا وه چه دا ټول به شهیدان کیږی۔

او دا خبره چه کله رسول الله ﷺ وکړه نو یو یهودی راغے او دا ئے وویل چه په تورات کښے الله تـعـالیٰ لیکلی دی چه کله یو نبی جهاد ته امیران لیږی او داسے ووائی چه که فـلانے شهیـد شو نو فلانے به امیر وی او که هغه شهید شو بیا به فلانے وی، نو دا ټول به شهیدان کیږی (وَإِنْ سَمّٰى مِائَةً) اگرکه د سلو کسانو نومونه واخلی۔

ځکه چه د پیغمبر شکی او گمانی خبره هم الله تعالیٰ یقینی کوی۔

نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : [كَذٰلِكَ يُرِيْدُ اللّٰهُ] ما ددے درے کسانو نومونه واخستل دغـه شـان د الله تعالیٰ اراده ده چه دا کسان به ځان ته غواړی۔ او د الله رب العزت هم ډیر ناشنا عادتونه دی چه کله بنده په هغے باندے پو هه شی۔

د الله تعالیٰ د عاداتو نه دا ده چه خپل مخلوق ورته ډیر گران دے، خصوصاً انسانان او پـه انسـانانو کښے مسلمانان مؤمنان او په مومنانو کښے متقیان او مخلصین خلک ئے

ډیر خوښ دی نو د محبت د وجه نه هغوي خپل ځان ته راخکاري دے دپاره چه د هغهٔ سره ئے ملاقات وشي لکه یو دوست چه خپل دوست ځان ته راغواړي، ددے وجه نه په جهادونو کښے هغه خلك ډیر شهیدان کیږي چه د هغوی اخلاق ډیر ښهٔ وي، ډیر نرم، یا ډیر خدمتګار یا ډیر پرهیزګار وي، او شهادت ډیره لویه مرتبه ده۔

لکه قرآن کریم کښے الله تعالیٰ دا خبره د اُحد د شکست په باره کښے کړے وه

﴿وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ﴾ (آل عمران : ۱٤۰)

یعنی الله غواړي ستاسو نه شهیدان جوړ کړي، چه د الله په بندګانو کښے ډِے داسے خلك هم وي چه د الله دپاره ئے قرباني ورکړې وي، او د هغهٔ دپاره ئے وینه تویه شوې وي او د الله تعالیٰ د بندګانو نه داسے قرباني خوښه وي۔

دوئ دپاره رسول الله ﷺ سپینه جنډه وتړله او هغه ئے زید بن حارثه ﷺ ته ورکړه۔

وصیتونه

رسول الله ﷺ دوی ته وصیتونه هم وکړل چه دوی به د حارث بن عُمیر د وژلو ځائے ته ورځي، اول چه لاړل نو د هغه ځائے خلکو ته به اسلام طرفته دعوت ورکړي دے دپاره چه دا خلك دین کښے داخل شي نو د جنګ نه به خلاص شي ځکه چه څوك مسلمان شو نو بیا د هغهٔ سره جنګ نهٔ وي۔

(د هغه زمانے دعوت آسان وو داسے به ئے وئیل چه ایمان راوړئ که نهٔ وي نو جنګ ته تیار شئ، او هرچه زمونږ دعوتونه دی، نو دا وعظ او نصیحت دے او دے ته حقیقي دعوت نهٔ وئیلے کیږي، که وعظ او نصیحت څوك ومني ښه ده او که وے نهٔ مني نو جنګ ورسره نهٔ وي، دا وجه ده چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر اصل کښے د حاکمانو او بادشاهانو کار دے)

او دا ئے ورته وفرمایل :

[فَإِنْ أَجَابُوا وَإِلَّا اسْتَعَانُوا بِاللّٰهِ عَلَيْهِمْ وَقَاتَلُوهُمْ]

که دعوت ئے قبول کړو نو ښه ده او که قبول ئے نکړو نو دوی به د الله نه د هغوی په خلاف مدد وغواړي او جنګ به ورسره شروع کړي۔

او دا ئے هم ورته فرمایل :

[أُغْزُوْا بِسْمِ اللّٰهِ، فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ]

د الله په نوم باندے جنګ وکړی، د الله د رضا دپاره، هغه چا سره جنګ وکړئ چه په الله باندے کفر کوی، (هسے نۀ چه مسلمانان قتل کړی)

او دائے هم ورته وفرمایل :

[لَا تَغْدِرُوْا، وَلَا تَغُلُّوْا، وَلَا تَقْتُلُوْا وَلِيْدًا وَلَا امْرَأَةً، وَلَا كَبِيْرًا فَانِيًا، وَلَا مُنْعَزِلًا بِصَوْمِعَةٍ، وَلَا تَقْطَعُوْا نَخْلًا وَلَا شَجَرَةً، وَلَا تَهْدِمُوْا بِنَاءً]

غداری او دهوکه مۀ کوئ، او په غنیمت وغیره کښے خیانت مۀ کوئ، او ماشومان او زنانه به نۀ وژنئ،

(ځکه چه اسلام د ترحم او شفقت نوم دے، یواځے ماشومان بغیر د مور او پلار د هغۀ نه تبنتول صحیح نۀ دی، دا د شفقت او رحمت خلاف ده، الله تعالیٰ داسے نۀ غواړی)۔

او ډیر بوډا به نۀ وژنئ (چه د جنګونو سره ئے کار نۀ وی، هغه په خپلو غمونو او دردونو کښے مصروف وی، دا هم د شفقت خلاف ده)۔

او نۀ هغه سړے چه هغۀ یواځے په عبادت خانه کښے ناست وی او د هیچا په کار کښے کار نۀ لری، د دنیا نه یو طرف ته شوے وی،

(لکه نصاراؤ کښے دا قسم خلک ډیر موجود وو، اګرکه هغه به په غلطه طریقه عبادت کوی لیکن د هغۀ وژل نشته ځکه چه د هغۀ د جنګ سره کار نشته، خپل عبادتونه کوی، جنګ والو ته مشورے هم نۀ ورکوی نو دا اګرکه کافر دے لیکن په اسلام کښے د هر کافر وژل نۀ وی، د هغه کافرو سره جنګ دے چه هغه ضرر لری او د اسلام مخے ته ودریږی)۔

دارنګه د کجورو ونے او عامے ونے مۀ پریکوئ او آبادیانے مۀ نړوئ ځکه چه که تاسو دا کارونه وکړئ نو د خلکو به نفرت پیدا شی، آؤ، په بعض ځایونو کښے دا کارونه جائز وی کله چه په هغے کښے فائده وی، د دشمن اصلاح په غیر د هغے نه نۀ کیږی، په عام اوقاتو کښے دا کارونه نۀ دی کول پکار ځکه چه خلک په اسلام بدګمانه کیږی او وائی به چه اسلام د فساد دین دے۔

ددے وجه نه جهاد داسے ښکلے عبادت دے چه کله دا په صحیح طریقه باندے کیږی نو د ټولو خلقو ورسره مینه پیدا کیږی، دا فطری امر دے۔

نو ځکه ئې ورته دا وصیتونه وکړل۔

رسول الله ﷺ دا د ایمان نه ډك لښکر رخصت کړو او خپله ورسره ثَنِيَّةُ الْوَدَاع پورې روان شو، او کوم صحابه کرام رضی الله عنهم چه په کلی کښې پاتې کیدل هغوی هم ورسره رخصتی وکړه، دعاګانې ئې هم ورته وکړې،

[صَحِبَكُمُ اللّٰهُ بِالسَّلَامَةِ، وَدَفَعَ عَنْكُمْ، وَرَدَّكُمْ اِلَيْنَا صَالِحِيْنَ غَانِمِيْنَ]

الله تعالیٰ دِې تاسو سره سلامتیا ملګری کړی، او ستا د طرف نه دِې مدافعت وکړی، او مونږ ته مو روغ رمټ د غنیمتونو سره راواپس کړی۔

نو پدې کښې عبد الله بن رواحه رضی الله عنه وفرمایل : (چه دا د رسول الله ﷺ شاعر وو)

لٰكِنَّنِیْ أَسْأَلُ الرَّحْمٰنَ مَغْفِرَةً	❁	وَضَرْبَةً ذَاتَ فَرْغٍ تَقْذِفُ الزَّبَدَا
أَوْ طَعْنَةً بِيَدَیْ حَرَّانَ مُجْهِزَةً	❁	بِحَرْبَةٍ تُنْفِذُ الْأَحْشَاءَ وَالْكَبِدَا
حَتّٰى يُقَالَ إِذَا مَرُّوْا عَلٰى جَدَثِیْ	❁	أَرْشَدَهُ اللّٰهُ مِنْ غَازٍ وَّقَدْ رَشَدَا

لیکن زهٔ خو د الله تعالیٰ نه بخنه غواړم او داسې ګوزار د تورې چه ډیر فراخه وی او زګونه ترې روان وی۔ (یعنی دشمن راشی او ما ووهی او وینې رانه روانې شی، یعنی شهادت غواړم) یا د یو تړی سړی په لاس باندې د نیزې داسې ګوزار چه مرګ راورسوی چه هغه ګوزار کولمو او جګر ته ورسیږی۔

تردې چه کله خلك زما په قبر راتیریږی نو داسې وائی الله دِې دا غازی خپل مقصد ته ورسوی او زمونږ یقین دې چه الله به کامیاب کړې وی۔

نو الله تعالیٰ ورله همدا خبره په رشتیا منظوره کړه او همدغسې شهادت ئې ومونده او مقصد ته ورسیدو۔

رسول الله ﷺ پدې موقعه کښې د هغوی نه راواپس شو او عبد الله بن رواحه رضی الله عنه د نورو ملګرو سره ولاړ وو نو پدې کښې عبد الله بن رواحه رضی الله عنه وژړل چا ورته وویل :

[مَا يُبْكِيْكَ ؟] ولې ژاړې؟ نو هغهٔ وویل :

[أَمَا وَاللّٰهِ مَا بِیْ حُبُّ الدُّنْيَا، وَلَا صَبَابَةٌ بِكُمْ، وَلٰكِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقْرَأُ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ يَذْكُرُ فِيْهَا النَّارَ : ﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا﴾

(مریم : ۷۱)

خبر شئ، قسم په الله زما د دنیا سره مینه نشته او نۀ مے تاسو ته.میلان شته (چه ښځه او بچی او فلانے او فلانے به پاتے شی) لیکن ما د رسول الله ﷺ نه ما یو آوریدو چه هغۀ به د الله تعالیٰ د کتاب نه لوستلو او په هغے کښے به ئے د اُور تذکره کوله او هغه دا دے، الله فرمائی : قسم په الله نشته په تاسو کښے هیڅوك مگر هغه به جهنم ته ورداخلیږی، دا ستا په رب باندے فیصله ده چه پوره کولے به شی۔

(وَاِنْ مِنْكُمْ) کښے معنیٰ د قسم پرته ده۔ دا د الله تعالیٰ وعده ده چه په ځان ئے لیکلے ده چه انسانان همداسے جنت ته نۀ بوځی مگر په اُور به ورتیریږی، داسے نشی کیدے چه انسانان د اُور نه په بله لاره تاؤ کړی او جنت ته ئے بوځی،

او پدے کښے د الله تعالیٰ ډیر زیات حکمتونه دی۔

او د ﴿ لَأَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ ﴾ [هود :۱۱۹]

یو مطلب هم دا دے چه جهنم به یو ځل د انسانانو او د پیریانو نه ډکیږی اودوی به ورته ورننوزی۔ (نو دلته د وُرود نه مراد دخول دے)

[فَلَسْتُ أَدْرِىْ كَيْفَ لِىْ بِالصُّدُوْرِ بَعْدَ الْوُرُوْدِ ؟]

نو زۀ نۀ پو هیږم چه د ورداخلیدو نه روستو به زما راواپس کیدل څنگه وی۔

یعنی الله تعالیٰ مونږ ټولو ته خبر راکړے چه اُور ته به ځئ او بیرته ئے خبر نۀ دے راکړے چه فلانیه ! تۀ به د اُور نه بهر کیږے، یعنی زما نوم ئے نۀ دے اخستے نو زۀ یریږم۔

او یوائے پدے موقعه نۀ بلکه عبد الله بن رواحه ﷺ او دغه د نورو سلفو هم دا طریقه ده چه ددے آیت نه به ډیر متأثره کیدل۔

عبد الله بن رواحه ﷺ یو ځل په کور کښے ناست وو او د خپلے ښځے په غیږه کښے ئے سر ایخودے وو نو پدے حالت کښے په ژړا شو، ښځے هم ورسره وژړل، دۀ ترے تپوس وکړو چه تۀ ولے ژاړے؟ نو هغے وویل چه ستا د وجه نه ځکه چه ما وویل چه زما په خاوند باندے څه غم او پریشانی ده نو ما ته خفگان راغلو۔

هغۀ ورته وفرمایل : ما خو ددے وجه نه وژړل چه د قرآن کریم دا آیت ﴿ وَاِنْ مِنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا الخ﴾ رایاد شو، نو پدے خبره ژاړم۔

او د سیرت کتابونه لیکي چه دے کله شهید کیدو نو په دغه وخت کښې هم ورته دا آیت رایاد شو او هغه وخت کښې ئے هم وژړل، چا ورته وویل چه د مرگ نه یریږے؟ هغهٔ وفرمایل: مرگ نه نهٔ یریږم لیکن دغه آیت مے یره وی.

او پدے آیت کښې مونږ ټولو دپاره یره پرته ده.

البته الله تعالیٰ د جهنم نه د وتونکو خبر ورکړے اگرکه د چا نوم ئے نهٔ دے اخستے فرمائیلی ئے دی:

﴿ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴾

(مریم: ۷۲)

اُور ته به ټول داخل شی لیکن بیا به تقویٰ والا خلك ترے وځی،

(یعنی هغه بندگان چه په هغوی کښې کفر، شرك او کبیره گناهونه نشته، هغوی د الله د فرائضو او د نیکو اعمالو پابند دی)

بیا تقویٰ داسے باب دے چه ډیر درجات لری، نو څوك به ترے داسے په جلتئ بهر کیږی لکه د سترگے د رپ په شان او د بریښنا او د هواگانو او د اسونو د منډے او د انسانانو د منډے او د عام مزل او په گناټو باندے ټُلیدو سره وځی، او څوك به اُور لگ نیولے وی او څوك به ډیر او چا لره به اُور نهٔ سوزوی او نهٔ خوروی، الله تعالیٰ به پکښې داسے ایمان او اعمال پیدا کړی وی چه اُور به ئے نهٔ سوزوی.

لکه حدیث کښې دی چه د مجرم انسان ټول بدن اُور سیزی سویٰ د اندامونو د سجدے نه چه دا اُور نشی سوزولے. او چا لره به اُور د نامه او چا لره د پړکو پورے نیولے وی، او څوك به پکښې یوه ورځ او څوك سل کاله او څوك زر کاله او څوك لس زره کاله وی، هر سړے به د خپلے تقویٰ موافق د اُور نه وځی.

د اُور یره هر مؤمن له پکار ده چه د هغهٔ په زړهٔ کښې وی، ځکه چه زمونږ د ایمانیاتو نه یوه دا ده چه په آخرت به ایمان لرو، او په آخرت کښې جنت او جهنم او د الله تعالیٰ حساب دے، په هر انسان به راځی.

الغرض: دویٔ روان شو په دویٔ کښې خالد بن الولید ﷺ هم موجود دے چه دا اُوس نوے مسلمان شویدے.

عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی: زهٔ پدے کښې وم.

دوئ د الله په مدد سره روان شو تردې چه شام ته نزدې علاقې مَعَان ته ورسیدل، چه دا د شام د زمکې نه ده او شمالي حجاز ته نزدې ده، نو دوی مخکښې جاسوسان لیږلي وو چه خبر واخلي چه څه حال احوال دی. همداسې په پټو سترګو روان نهٔ وو.

نو هغوی خبر راوړو چه د عربو نه ستاسو د مقابلې دپاره یو لاکھ کسان جمع شویدي چه هغوی د لَخُم او جُذَام، او بَلْقَیْن او بَهْرَاء او بَلِیُ قبیلې دی، هغوی آوریدلي دي چه مسلمانان مونږ پسې راروان دي، حمله راباندې کوي، نو دوئ ورته تیاري کړې وه. بیا دوئ هرقل بادشاه ته وئیلي وو چه ستا مونږ سره هسې هم وعده ده چه کله تکلیف راشي مونږ سره به مدد کوې، نو مونږ حمله کووتهٔ هم مونږ له فوج راکړه نو هرقل خپله هم د یو لاکھ رومیانو سره راوتلې وو او په بَلْقَاء کښې "مآب" علاقه ئې ورته وئیله په هغې کښې ئې دمه کړې وه ناست وو.

نو د درې زرو مسلمانانو په مقابله کښې دوه لاکھ کسان راوتلي دي او دا ډیره ناشنا او هیبتناکه او د حیرانتیا خبره ده. چه دوئ که مسلمانان په څپیړو باندې ئې وهي هم ختمولې ئې شي لیکن دې مسلمانانو کښې دننه ایمان دې او د الله په وعدوئې پوره یقین دې، په آخرت ئې مضبوط یقین دې.

مَعَان کښې مشاورتي مجلس

د مسلمانانو دا ګمان نهٔ وو چه په دومره لرې زمکه کښې به د دومره زیات شمار والا دشمن سره مخامخ کیږي مګر کله چه ورته خبر راغلو چه د دشمن شمار دوه لاکه دې نو مسلمانان په خپل کار کښې حیران شول، او په مَعَان علاقه کښې ئې دوه شپې تیرې کړې چه په خپل کار کښې ئې سوچ کولو او مشورې ئې کولې چه څه وکړو؟، نو دوه رائې ورکړې شوې، یوه دا چه په همداسې حالت کښې قتال کوو، او بله رایه دا وه چه في الحال جنګ نهٔ شروع کوو بلکه نبي کریم ﷺ ته خط لیږو او هغهٔ ته خبر ورکوو چه زمونږ د دشمن شمار دومره زیات دې، نو یا به مونږ ته د سړو مدد راولیږي یا به زمونږ په باره کښې بل کوم حکم جاري کړي، د هغې تابعداري به وکړو.

او دا رایه پکښې چا هم ورنکړه چه راځئ چه بیرته واپس کیږو. دا ددې مسلمانانو ناشنا بهادري ده.

نو پدې کښې عبد الله بن رواحه ﷺ پاخیدو او مجاهدینو ته ئې ناشنا بیان وکړو او

دوئ ته ئے ترغیب ورکړو او دوئ ته ئے بهادری ورکړه او وے فرمایل :

[يَا قَوْمِ ! وَاللّٰهِ إِنَّ الَّتِيْ تَكْرَهُوْنَ لَلَّتِيْ خَرَجْتُمْ تَطْلُبُوْنَ]

اے زما قومه ! قسم په الله هغه مرګ چه تاسو ئے طبعاً بد ګنړئ دا خو خامخا هغه دے چه تاسو د هغے طلب دپاره راوتی یئ۔ بیا ئے وفرمایل :

[وَمَا نُقَاتِلُ النَّاسَ بِعَدَدٍ وَلَا قُوَّةٍ وَلَا كَثْرَةٍ، مَا نُقَاتِلُهُمْ إِلَّا بِهٰذَا الدِّيْنِ الَّذِيْ أَكْرَمَنَا اللّٰهُ بِهٖ، فَانْطَلِقُوْا، فَإِنَّمَا هِيَ إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ، إِمَّا ظُهُوْرٌ وَإِمَّا شَهَادَةٌ]

او مونږ د کفارو سره په شمار او په ظاهری قوت او ډیر والی سره کله هم جنګ نۀ کوو، (یعنی په ټولو معرکو کښے زمونږ سره نفری او ظاهری قوت کم وی) مونږ چه کفارو سره جنګ کوو نو ددے دین په ذریعے سره کوم باندے چه الله تعالیٰ مونږ ته عزت راکړیدے،

ددے په مقابله کښے مونږ کفار وژنو او ددے دین په وجه الله تعالیٰ زمونږ سره مددونه کوی، او مثالونه ئے ورله ورکړل چه وګورئ مونږ په بدر کښے او په اُحد او نورو ټولو غزواتو کښے کم وو مګر الله تعالیٰ راسره همیشه مدد کړیدے۔ نو ځئ دشمن طرفته روان شئ تاسو ته به یو د دوه خوشحالو نه ضرور ملاویږی، یا به غلبه په دشمن باندے ملاؤ شی یا به شهادت ملاؤ شی۔

داسے ترغیبات ئے ورکول تردے چه ټولو د جناب عبد الله بن رواحه ﷺ په رایه باندے مشوره راغله او دا خبره ئے مقرر کړه چه نبی کریم ﷺ ته خبر نۀ ورکوو او همداسے په دشمن باندے ورځو۔

دشمن طرف ته روانیدل

هرکله چه دوئ دوه شپے په مَعَان کښے تیرے کړے او خبره ئے پدے فیصله کړه چه دشمن سره به خامخا جنګ کوو نو دوئ دشمن طرفته حرکت شروع کړو نو د مَعَان نه روان شو تردے چه د بَلْقَاء یوے علاقے ته ورسیدل چه هغے ته ئے شارف وئیلو،

دشمن د هغه طرف نه دلته راورسیدو او دوئ هم ورسیدل او د هرقل د لوی لښکر سره مخامخ شول۔

مسلمانان د دغه ځائے نه مؤته علاقے ته لاړل، مؤته یو کلے وو او په کلو کښے جنګ

سخت وي، دشمن تهول مسلمانان نشي ختمولے، که شکست راشي بيا به هم مسلمانان وتلے شي، او په ميداني علاقه کښې خطره وه چه دشمن به تهول د مسلمانانو نه تاؤ شي۔ د هغه زمانے د جنګونو يو خاص ترتيب وو، نو د هغه ترتيب مطابق دوئ د خپل ځان دپاره دغه ځائے مناسب منتخب کړو، نو مسلمانانو په مؤته علاقه کښې معسکرات جوړ کړل او جنګ ته ئے تياري ونيوله،

نو زيد بن حارثه ﷺ خپل فوج پنځو ډلو ته تقسيم کړو (ددے وجه نه په عربئ کښے فوج ته خَمِيُس هم وائي ځکه چه پنځه دستے پکښے وي)

مَيُمَنَةُ الُجَيُش (د لښکر په ښي طرف) باندے ئے قُطبه بن قتاده العُذْرِي ﷺ مقرر کړو او هغهٔ له ئے خاص کسان ورکړل۔ او په مَيُسَرَةُ الجيش (ګس طرف) باندے ئے عباده بن مالك الانصاري ﷺ مقرر کړو،

او مُقَدِمَةُ الُجَيش (د فوج په مخکنئ حصه) ئے څه ځوانان پهلوانان سر تيري مقرر کړل، او په خلف الجيش (روستنئ حصه د لښکر) باندے ئے نور کسان مقرر کړل او په قلب الجيش (د لښکر مينځنئ حصه) باندے ئے نور خاص ملګري مقرر کړل چه پدے کښے عموماً مشران خلك وي۔

هر کله چه شپه تيره شوه او د دشمن فوج نزدے راغلے دے او دومره زيات دے چه يو ائے پنځوس زره پکښے اسونه دي، لکه ددے زمانے مطابق پنځوس زره ټينګونه واخله، او سوچ وکړه که داسے پنځوس زره ټينکونه د چا نه تاؤ شي نو ددهٔ به څه حالت وي، رنړا ورځ به پرے توره شپه شي۔ ليکن ددے خلکو په آخرت ايمان دے او د رسول الله ﷺ په خبره ئے يقين دے۔

ابو هريره ﷺ فرمائي : زهٔ هم پدے فوج کښے وم نو ما چه کله دا لښکرے وليدلے زما سترګے وبريښيدلے، نو ما ته ثابت بن اقرم ﷺ وفرمايل :

[يَا أَبَا هُرَيُرَةَ ! مَالَكَ؟، كَأَنَّكَ تَرٰى جُمُوعًا كَثِيُرَةً !]

اے ابو هريره ! ولے درباندے داسے حالت راغے ګويا که تهٔ ډيرے ډلے وينے؟،

ما ورته ووئيل : آؤ، وے فرمايل :

[لَمُ تَشُهَدُنَا بِبَدُرٍ ! إِنَّا لَمُ نُنُصَرُ بِالُكَثُرَةِ]

تهٔ مونږ سره په بدر کښے حاضر نهٔ وے، (چه مسلمانان د کافرانو په مقابله کښے

ځو مره کم وو) مونږ سره د ډیر والي په وجه سره مدد نهٔ کیږي۔

(امتاع الاسماع ۱/ ۳٤۰)

دا ډیر زیات لښکر وو چه د هر څهٔ سامانونو نه پوره وو، د دوئ سره اسونه، اوښان، هر قسم وسلے او سرهٔ او سپین او وریښم وو چه صحابه کرام رضی الله عنهم ددا سے لښکر سره مخکښے هیڅکله نهٔ وو ملاؤ شوی نو ابو هریره ﷺ ځکه دا سے تعجب وکړو۔

شپه چه تیره شوه نو ملګرو د الله تعالیٰ نه دعاګانے طلب کړے، او الله تعالیٰ ته دا سے وخت کښے د صحابه کرامو ډیره زیاته التجاء او زاری او فریاد وو، اوَ کله چه دا سے حالت اختیار شي نو د الله مدد ورسره شاملِ حال شي۔

کله چه دوئ د سهار مونځ وکړو، قنوت نازله وکړے شو، او دعاګانے وکړے شوے او د الله نه سوالونه وکړے شول، یو بل ته د صبر تلقینونه ورکړے شول، نو زید بن حارثه ﷺ حکم وکړو چه په دشمن حمله وکړئ، انتهائی تریخ جنګ دے، درے زره کسان د دوه لاکهو مقابله کوی، عجیبه معرکه ده چه دنیا ورته حیرانه ده، لیکن کله چه د ایمان هواء راوالوزی نو بیا ځان سره عجائب راوړی، نو دوئ پرے اول حمله وکړه،

نو پدے کښے رومیانو او دغه نورو عربو تعجب وکړو چه دا خو یو ځو کسان دی او راځي په مونږ باندے حمله کوی، دوئ پرے حمله وکړه او سمه حمله ئے پرے وکړه، د سهار نه تر مابنامه پورے متواتر جنګ وشو۔

د مسلمانانو نه لږ شان کسان شهیدان شول او د کفارو نه په زرګونو خلك مردار شول، ځکه چه د کوم طرف نه حمله وی هغه غالباً فتح مومی، او دلته د الله مدد ورسره دے، مګر دشمن بیا هم د خپلو ځایونو نه واپس نشول،

نو پدے کښے زید بن حارثه ﷺ جنډه نیولے وه، همیشه وو چه جنګ ئے په انتهائی سختئ او بهادرئ سره کولو کولو، په اس باندے سور وو، تردے چه دشمنانو پرے نیزے راخوشے کړے او د نیزو باران ئے پرے جوړ کړو [حَتّٰی شَاطَ فِی الرِّمَاحِ]

تردے چه هغه په نیزو کښے وسوزیدو نو زمکے ته راپریوتو او شهید شو۔ (رضی الله عنه وارضاه)

دا اول امیر وو چه شهید شو۔

پدې کښې سیدنا جعفر ؓ دویم امیر وو نو دۀ زر جنډه راپورته کړه (څکه چه د جنډې په پریوتو سره ملګری تس نس کیږی او شکست سره مخامخ کیږی)

نو دا وخت د ماښام وو او د شپې خو جنګ نۀ کیږی نو مسلمانان خپل معسکر او کفار خپل معسکراتو ته واپس شول۔

د سهار مانځه نه پس بیا مسلمانانو حمله وکړه، تر ماښامه پورې جنګ شروع وو، په بله ورځ بیا مسلمانانو حمله وکړه تقریباً پنځه ورځو پورې حملې کیدلې۔

په یوه ورځ کښې جعفر ؓ چه په دشمن باندې ورغې نو داسې سخته حمله ئې وکړه چه د هغې هیڅ مثال نۀ وو، جعفر ؓ په سُور او تور اس باندې سور وو، نو دومره ګڼړه ورته جوړه شوه چه اس ئې مخکښې نشو تللې، نو د اس نه راکوز شو او اس ئې په توره ووهلو او وې وژلو،

(وئیلې شی چه دا اولنې اس دې چه په جهادونو کښې د مسلمان د لاس نه وژلې شویدې،

امام بخاریؒ وائی چه په مسلمان باندې دا لازم نۀ ده چه په جهاد کښې خپل اس مړ کړی او دا جعفر ؓ په خپله رأیه سره کړیدی، او ددې دپاره ئې کړیدی چه خپله بهادری وښائی چه زۀ ستاسو د مقابلې نه تښتیدو والا نۀ یم۔

جعفر ؓ د رسول الله ﷺ د ترۀ ځوی دے، او ډیر پخوانې مسلمان دے، څلیریشتم یا یو دیرشتم یا دوه دیرشتم مسلمان دے، حبشو ته ئې هم هجرت کړے او نجاشی بادشاه ددۀ په وجه ایمان راوړیدے، ددۀ اسم کنیه ابو عبد الله او د مور نوم ئې فاطمه وو، کله چه ابو طالب تنګدست شو نو د جعفر ؓ ترۀ عباس ؓ دۀ لره خپل کورته راوستو دے دپاره چه عباس ؓ د خپل ورور د سر نه څه بوج لرې کړی۔

او جعفر ؓ د رسول الله ﷺ په شکل او اخلاقو کښې یو شان وو، دا به ځو مره ښائسته وو، د درې دیرشو کالو په عمر وو۔

نو دۀ داسې تریخ قتال کولو چه بیشماره کفار ددۀ د لاس نه ووژلې شول چه شمار ئې نۀ دې معلوم۔ آخر یو کافر پرې حمله وکړه چه ښې لاس ئې ترې پریکړو نو دۀ جنډه په بل لاس کښې واخسته، بل کافر پرې حمله وکړه نو بل لاس ئې ورله پریکړو نو په دواړو متو کښې غیږ سره جنډه ونیوله،

(دا ډیر گران کار وی، انسان په داسې وخت کښې بیهوشه کیږی مگر دے انتهائی بهادر وو) همداسې ئې نیولے وه چه شا ته نه پرېږی یو رومی راغلو او په توره سره ئې دومره په تیزئ سره ووهلو چه دوه ټکړے ئې کړو، نیم ئې یو طرفته پریوتو او نیم بل طرفته)۔

رسول الله ﷺ خپل کورنئ هم د الله دپاره قربان کړیده۔ دا گران کار وی لیکن الله ته ډیر خوښ عمل دے۔

دے چه شهید شو جنډه پریوته۔

صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی : چه کله مونږ جعفر ﷺ د میدان نه راجدا کولو نو نافعؒ د عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت نقل کوی چه هغه مو وکتلو چه پنځوس گوزارونه پرے لگیدلی وو۔ (صحیح البخاری)

او د بل روایت مطابق څه دپاسه نوی گوزارونه پرے مخامخ لگیدلی وو او په شا باندے ئې یو هم نهٔ وو، دا گوزارونه څه د نیزو او څه د غشو او څه د تورو وو، او په مینځ نیم کړے شوے هم دے او لاسونه ئې هم پریکړے شویدی۔

نبی ﷺ ددهٔ باره کښې وفرمایل : الله تعالیٰ هغهٔ ته د دواړو لاسونو په بدله کښې په جنت کښې دوه وزرے ورکړے چه د هغے په وجه په جنت کښې چه کوم ځائے غواړی الوزی، ددے وجه نه هغهٔ ته جعفر طیار ووئیلے شو۔

یعنی جنت کښې آلوتونکے جعفر، او بل نوم ئې ذی الجناحین شو۔ یعنی د دوه وزرو والا۔ [اسد الغابة ۲ / ۹۰]

پدے کښې جنډه دریم امیر عبد الله بن رواحه ﷺ واخسته او خپل اس باندے ورمخکښې شو نو ددهٔ په زړهٔ کښې لږ تردد راغلو (ځکه چه مرگ طبعی گران کار دے، انسان ته دے وخت کښې وسوسے راځی چه زما دوه ملگری شهیدان شو اُوس زما نمبر دے)، [فَحَادَ حَيْدَةً] نو لږ مائل شو چه د اَس نه کوز شی۔

نو خپل ځان ته ئې بهادری ورکړه او شعرونه ئې وویل :

اَقْسَمْتُ يَا نَفْسُ لَتَنْزِلَنَّهْ	❁	كَارِهَةً اَوْ لَتُطَاوِعَنَّهْ
إِذَا أَجْلَبَ النَّاسُ وَشَدُّوا الرَّنَّةْ	❁	مَالِىَ اَرَاكِ تَكْرَهِيْنَ الْجَنَّةْ
قَدْ طَالَ مَا قَدْ كُنْتِ مُطْمَئِنَّةْ	❁	هَلْ أَنْتِ إِلَّا نُطْفَةٌ فِىْ شَنَّةْ

ما قسم کړیدے چه اے نفسه! خامخا تهٔ به دشمن ته ورکوز یږے که بد ئے ګڼړے او که خوشحاله ئے، په هر حال کښے به مقابله کوے۔
کله چه دشمنان راځی او سخته حمله کوی نو بیا تا له څه شویدی چه تهٔ جنت بد ګڼړے۔ (شهادت کښے خو جنت دے)
د ډیرے مودے نه تهٔ په اطمینان کښے وے، تهٔ خو نهٔ وے مګر نطفه وے په رحم کښے۔
او نور اشعار ئے هم وویل:

يَـا نَـفْـسُ إِلَّا تُـقْـتَـلِـيْ تَـمُـوْتِـيْ	❁	هٰـذَا حِـمَـامُ الْـمَـوْتِ قَـدْ صَـلِـيْـتِ
وَمَـا تَـمَـنَّـيْـتِ فَـقَـدْ أُعْـطِـيْـتِ	❁	إِنْ تَـفْـعَـلِـيْ فِـعْـلَـهُـمَـا هُـدِيْـتِ

وَإِنْ تَـوَلَّـيْـتِ فَـقَـدْ شَـقِـيْـتِ

(نهاية الارب فی فنون الادب)

اے نفسه! که اُوس شهید نشوے نو مرګ خو خامخا راځی۔ دا دے مرګ باندے تهٔ ورداخل شوے ئے۔
او تا چه د څه ارمان کولو (شهادت) هغه تا ته درکړے شویدے۔ که تهٔ د هغه دوه ملګرو په شان کار وکړے نو تهٔ به په سمه لاره روان شے۔ (یعنی زید بن حارثه ؓ او جعفر ؓ) او که تهٔ واوړیدے نو تهٔ به ډیر بد نصیبه شے۔
نو بیا د مَعْمَعَه نومے اس نه راکوز شو، هرکله چه راکوز شو نو د تره ځوی ورته د غوښے هډوکے راوړو، او دا ئے ورته وویل چه پدے باندے خپله شا مضبوطه کړه ځکه چه تهٔ پدے ورځو کښے ډیر تکلیف سره مخامخ ئے، لوږه درباندے ده، نو د هغهٔ د لاس نه ئے هغه واخستو او د هغے نه ئے یو څو چکونه ووهل بیا ئے د خلکو په یو طرف کښے د جنګ شور او آواز واوریدو نو وے فرمایل:

[وَأَنْتَ فِي الدُّنْيَا يَا ابْنَ رَوَاحَةَ]

اے ابن رواحه! تهٔ لا اُوس هم په دنیا کښے ئے۔
بیا ئے هغه د لاس نه وغورزولو او توره ئے راواخسته او دشمن ته ورمخکښے شو جنګ ئے شروع کړو، د کافرانو نه ئے ډیر کسان مردار کړل آخر دا چه دے هم پکښے

شهید شو، او جنډه راپریوته.

نو هرکله چه دا درې واړه امیران شهیدان شول، په مسلمانانو باندې شکست راغلو، جنډه چه پریوزی شکست راځی، څه مسلمانان یو خوا او څه بل خوا تس نس شول.

ابورافع رضی الله عنه فرمائی: چه مسلمانانو ته دومره تکلیف ورسیدو چه دوه مسلمانان په یو ځائے نۀ وو. دشمنان د مچو په شان راخوارۀ وو.

نو پدې کښې یو مشر بدری صحابی ثابت بن اَقرم رضی الله عنه د بنی عَجْلان نه جنډه پسے ورمنډه کړه او هغۀ ئے راپورته کړه، هرکله چه مسلمانانو جنډه وکتله نو دے ته څه ناڅه مسلمانان بیرته راجمعه شول. خالد بن الولید رضی الله عنه ورته اول راورسیدو، نو ثابت بن اقرم رضی الله عنه امر وکړو:

[يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ، اِصْطَلِحُوْا عَلٰى رَجُلٍ مِنْكُمْ]

چه اے مسلمانانو! په جلتئ سره ځانله یو امیر مقرر کړئ او جنډه هغۀ له په لاس کښې ورکړئ، خلکو ورته وویل چه تۀ زمونږ امیر شوے، هغۀ وویل:

ما جنډه دے دپاره نۀ ده راخستے چه زۀ به امیر کیږم، دا ما د خالد بن ولید رضی الله عنه په نیت راوچته کړیده، نو د خلکو هم په خالد رضی الله عنه باندې اتفاق راغلو، خالد بن ولید رضی الله عنه هم په کښې چون وچرا ونکړه بلکه رضاء ئے ښکاره کړه.

نبی کریم ﷺ صرف درے امیران مقرر کړی وو او د صحابه کرامو په مشوره څلورم امیر هم مقرر شو، او په جهادونو کښې امیر مقررول لازم دی، ځکه چه بیا افراتفری جوړیږی، او دا صرف په همدغه سفر کښې امیر وی، مستقل امیر نۀ وی. په کلی کښې ئے داسے تابعداری نۀ وی لکه څنګه ئے چه په سفر کښې وی.

دلته په مدینه منوره کښې نبی کریم ﷺ د وحی په ذریعے سره ملګروته د جنګ تصویر ورکوی لکه ګویا که رسول الله ﷺ د جنګ میدان ته ګوری او خپلو موجودو ملګروته ئے بیانوی (دا جنګ پنځه ورځے شوے وو او په شپږمه ورځ بیا خالد رضی الله عنه حمله وکړه او سخته حمله ئے وکړه)

په صحیح حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ خپلو ملګروته خبر ورکاوه چه نن په

مؤته کښې د مسلمانانو او د کفارو سخت جنګ دے، وے فرمایل :

[اَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ، وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَصَمَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَتّٰى تَغَيَّرَتْ وُجُوْهُ الْأَنْصَارِ]

زید بن حارثه ؓ جنډه واخسته نو هغه شهید شو بیا جعفر ؓ جنډه واخسته هغه هم شهید شو او د رسول الله ﷺ د سترګو نه اُوښکے بهیدلے، (ډیر دردمند وو) بیا عبد الله بن رواحه ؓ جنډه واخسته نو دلته رسول الله ﷺ لږ غلے شو نو د انصارو په مخونو د خفګان اثر وشو چه نبی ﷺ څنګه ذ مخکنو کسانو په باره کښې د شهادت خبر ورکړو او دلته چُپ شو نو څه چل به شوے وی۔

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : ابن رواحه (ؓ) جنډه واخسته او جنګ ئے وکړو تردے چه هغه هم شهید شو۔

د رسول الله ﷺ په جعفر ؓ باندے خفګان :

ابن اسحاق ؒ د اسماء بنت عُمَیس رضی الله عنها نه روایت راوړیدے چه دا د جعفر ؓ بی بی وه، فرمائی : هرکله چه جعفر او د هغهٔ ملګروته مصیبت ورسیدو نو ما کره رسول الله ﷺ راغے او ما څلویښت څرمنے رنګ کړے وے او وړهٔ مے اغږلی وو، او ما خپل بچی لمبولی وو او هغوی مے پاك کړی وو، او تیل مے ورله لګولی وو۔

نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته د جعفر (ؓ) بچی راوله نو ما راوستل نو هغهٔ خکل کړل او د سترګو نه ئے اُوښکے لاړے۔ ما ورته وویل اے د الله رسوله ! زما مور او پلار دِے ستا نه قربان شی ولے ژاړے ؟ آیا تا ته د جعفر او د هغهٔ د ملګرو په باره کښې څه خبر رارسیدلے دے؟ هغهٔ وفرمایل : آؤ، هغوی نن شهیدان شول، نو زهٔ راپاڅیدم چه ژړل مے او ما کره زنانه راجمع شوے او رسول الله ﷺ خپل کورته لاړو، او کور والو ته ئے حکم وکړو :

[اِصْنَعُوْا لِاٰلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا فَإِنَّهٗ قَدْ أَتَاهُمْ أَمْرٌ شَغَلَهُمْ]

(ابوداود : ۳۱۳٤) وابن ماجه (۱٦۱۰) مسند احمد (۱۷۵) واسناده صحیح)

د جعفر د کور والو دپاره طعام تیار کړئ ځکه چه دوئ ته داسے مصیبت راغلے دے

چه دوی ئے مشغوله کړیدی۔ (الروض الانف)

امام بخاریؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت راوړیدے چه هرکله د زید بن حارثه ؓ او د جعفر ؓ او ابن رواحه ؓ د قتل خبر رسول الله ﷺ ته راغلو نو رسول الله ﷺ (په مسجد نبوی کښے) کیناستو چه په هغهٔ کښے غم ښکاره کیدو :

[وَاَنَا اَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ (شَقِّ الْبَابِ) فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ اِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ وَذَكَرَ بُكَاءَ هُنَّ]

او ما د دروازے د چاودی نه کتل نو پدے کښے یو سړے راغے او دائے وویل چه د جعفر ؓ زنانه په زوره ژړا کوی،

(بعض انسانان ډیر موقعه شناس نهٔ وی، د چا د ظروفو او حالاتو لحاظ ته ئے فکر نهٔ وی چه دا فلانے په څه حالت او کوم کیفیت کښے دے)

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : لاړ شه هغهٔ منع کړه چه په زوره ژړا نهٔ کوی۔ هغه لاړو او واپس راغلو وے وئیل : یا رسول الله ، [لَمْ يُطِعْنَهُ] هغوی ته ما خبره وکړه خو خبره نهٔ منی، رسول الله ﷺ دوباره ولیږلو او دائے ورته وویل : [اِنْهَهُنَّ] چه ورشه منع ئے کړه۔ هغه لاړو بیا واپس راغے او وے وئیل :

[وَاللّٰهِ غَلَبْنَنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ]

چه قسم په الله، اے د الله رسوله ! زنانه په مونږ باندے غالبه شوے، زما خبره نهٔ منی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

[فَاحْثُ فِيْ وُجُوْهِهِنَّ التُّرَابَ]

ورشه د هغوی په مخونو کښے خاورے واچوه چه په زوره ژړا ونکړی۔ (ځکه چه د مړی پسے په چغو ژړا کول حرام دی، واویلا کول او نعرے وهل او سینے وهل او ویښتهٔ شوکول او ندبے وئیل او ستاینے کول ناروا دی۔ که چا ددے د نهٔ کولو په باره کښے وصیت نهٔ وی کړے نو مړی ته پدے سره عذاب ورکولے شی۔

حدیث کښے دی :

[مَنْ نِيْحَ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ بِمَا نِيْحَ عَلَيْهِ]

[بخاری : ۱۲۹۱]

چا باندے چه ژړا وشی نو دهٔ ته به عذاب ورکولے شی په سبب ددغه ژړا سره۔

ملائك ئے وهی چه آیا تهٔ داسے ئے لکه څنګه چه دا خلك ستا صفتونه کوی؟۔

نو هغهٔ دا کار نشو کولے نو عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما هغه سړی ته ښیرے وکړے چه

[أَرْغَمَ اللّٰهُ أَنْفَكَ لَمْ تَفْعَلْ مَا أَمَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَلَمْ تَتْرُكْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مِنَ الْعَنَاءِ]

(صحیح البخاری رقم : ۱۲۹۹) صحیح مسلم رقم (۲۲۰٤)

الله دِے ستا پوزه خړه کړی، هغه کار دِے هم ونکړو کوم باندے چه تا ته رسول الله ﷺ حکم کړے وو او نهٔ دِے رسول الله ﷺ د مشقت نه پریخودو۔ همداسے ئے په عذابوے۔

اصول خو دا دی چه یو تن منع کړه چه نهٔ منع کیږی خپل کار به کوی، پردی کارونو کښے هیڅ غرض مهٔ لره۔ بعض خلك د لرے علاقو خلکو په باره کښے لګیا وی چه دا فلانے په لاهور او کراچۍ کښے دا کار ولے کوی حال دا چه خپله ئے نشی منع کولے، فلانے ولے کفر کوی، تهٔ ئے څه کوے، د خپل ځان غم وکړه، ډیر خلك د بل چا پسے خبرے کوی او د خپل ځان فکر ورسره نهٔ وی۔ که د نصیحت او خیر خواهۍ څه خبره دِے کولے شوه ورشه وے وکړه او چه وسه دِے نهٔ کیده نو غلے کینه دا اصول دی۔

او پردو کارونو کښے ګوتے وهونکی ته ښیرے جائز دی، ځکه ورته عائشے رضی الله عنها ښیرے وکړے۔

د سیرت کتابونه لیکی او دارنګه په روایت د طبرانیؒ او دلائل النبوة د بیهقیؒ کښے دی چه نبی کریم ﷺ وفرمایل :

[لَقَدْ رُفِعُوْا إِلَيَّ فِي الْجَنَّةِ فِيْمَا يَرَى النَّائِمُ عَلٰى سُرُرٍ مِنْ ذَهَبٍ]

ما په خوب کښے په جنت کښے دا درے واړه کسان ولیدل چه په ښائسته کټونو د سرو زرو باندے ناست وو۔

[وَرَأَيْتُ فِيْ سَرِيْرِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ رَوَاحَةَ ازْوِرَارًا عَنْ سَرِيْرَىْ صَاحِبَيْهِ فَقُلْتُ بِمَ هٰذَا ؟ فَقِيْلَ لِيْ : مَضَيَا، وَتَرَدَّدَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ بَعْضَ التَّرَدُّدِ، وَمَضٰى]

(المعجم الکبیر للطبرانی رقم : ۱۹٦) دلائل النبوة للبیهقی (٤/ ۳٦۸)

ما د عبد الله بن رواحه په کټ کښے کوږ والے ولیدو چه ددهٔ کټ د دواړو ملګرو نه د کټونو نه جدا وو۔

(د کوړ والی معنیٰ دا ده چه کټ ئے کوږ دے یا د هغوی نه جدا دے)

نو ما وویل چه دا په څه وجه داسے دی؟ نو ما ته وویل شو چه دواړو ملګرو په بهادریٔ او یقین سره میدان ته ورودانګل او عبد الله بن رواحه ﷺ لږ تردد وکړو او لږ پریشانه شو او زړهٔ کښے ئے کمزوری راغله نو بدله کښے ئے هم کمزوری راغله۔ لکه په شهادتونو کښے هم دا اصول دی،

په احادیثو کښے راغلی دی چه شهداء په ډیرو قسمونو دی، څوك چه په ډیر یقین او بهادریٔ سره ودانګی نو د هغهٔ به په جنت کښے دومره اُوچته درجه وی چه د خلکو توپیٔ به ورته غورزیږی او څوك چه ګناهګار وی د هغهٔ به دویمه درجه وی او څوك چه لږه بزدلی وکړی نو د هغهٔ به دریمه درجه وی۔

رسول الله ﷺ وفرمایل: [رَأَيْتُ جَعْفَرًا يَطِيْرُ فِي الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلَائِكَةِ]۔

(الترمذی رقم: ۳۷۶۳) واسناده صحیح -البانی)

ما جعفر ﷺ ولیدو چه په جنت کښے د ملائکو سره آلوتلو او الله ورله د یاقوتو وزرے ورکړے وے، (دلائل النبوة للبیهقی عن عاصم بن عمر بن قتادة مرسلا۔ (فتح الباری۷/۱٦۵)

دا په مقابله د هغه دواړو لاسونو کښے چه د الله په لاره کښے ئے ورکړی وو۔ قیامته پورے به په جنت کښے الوزی رالوزی، د انسان روح د انسان په شکل وی، نو جنت ته چه لاړ شی، بعینهٖ همدغه انسان ترے جوړ شی۔

رسول الله ﷺ ملګروته دا خبر هم ورکړو:

[حَتّٰى اَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوْفِ اللّٰهِ حَتّٰى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ]

تردے چه جنډه د الله تعالیٰ د تورو نه یو بے تورے واخسته چه هغه خالد بن ولید ﷺ دے، تردے چه الله تعالیٰ هغوی ته فتح ورکړه۔

علماء وائی چه دۀ ته الله تعالیٰ ځکه فتح ورکوله چه دۀ ته رسول الله ﷺ سیف الله (د الله توره) وئیلے وه، او د الله توره څوك نشی ماتولے، ددے لقب د وجه نه خالد بن ولید ﷺ سلو جنګونو ته حاضر شویدے او په یو کښے هم نۀ دے شهید شوے، ځکه چه دا د الله تعالیٰ توره وه چه چا نشوه ماتولے، بیا کله چه په خپل مرګ وفات کیدو نو وے فرمایل: [لَا نَامَتْ أَعْيُنُ الْجُبَنَاءِ] د بزدلو خلکو سترګے دے اُودے نشی،

ما ته وګورئ چه زۀ سلو جهادونو کښے حاضر شوے یم او په یو کښے هم نۀ یم وژلے

شوے او اُوس دا دے په خپل کټ باندے مرم لکه یو عام انسان چه څنګه وفات کیږی او پدے باندے خفه وو چه زۀ ولے په کټ مرم، ارمان ئے دا وو چه په یو میدان کښے شهید شوے وے۔

ددے وجه نه په جهاد کښے یوائے مرګ نشته بلکه دا د الله تعالیٰ د لیکلو پورے ده، ډیر خلك په بمونو کښے په خپلو کلو او بازارونو کښے والوزی۔

الغرض: خالد بن ولید ﷺ جنډه راواخسته او دے امیر شو، او ملګری دۀ ته راجمع شو پس د هغے نه چه تس نس شوی وو د رومیانو د حملے په وجه۔

نو پدے کښے مابنام شو نو خالد بن ولید ﷺ خپل جنګی مهارت رابنکاره کړو، او دا فکر ئے وکړو چه کافران زیات دی، د دریاب د چپو په شان په مسلمانانو راروان دی، او مونږ لږ یو، د دوئ مقابله د ظاهری حالاتو مطابق ډیره سخته ده، که مسلمانان په خاص طریقے سره خلاص نکړو نو ټول به رانه شهیدان شی، دشمن به ډیر خوشحاله شی، او جنګ د چل ول نوم دے،

نو خالد بن ولید ﷺ یو خاص ترتیب جوړ کړو، هغه داسے چه ملګرو کښے ئے تبادله وکړه، د ښی طرف ملګری ئے ګس طرف ته واړه ول او د ګس طرف ملګری ئے ښی طرف ته واړه ول او مخکنی ئے روستو کړل او روستنی ئے مخکښے کړل او جنډے ئے هم لږے بدلے رابدلے کړے،

او بل یو ناشنا کار ئے دا وکړو چه د اسونو والا مجاهدین چه هغوی د پنځوسو نه تر سلو پورے وو، هغوی ته ئے حکم وکړو چه تاسو به مدینے طرفته وړاندے پورے لاړ شئ او چه سهار شی او معرکه شروع کیدو والا شی نو تاسو به په داسے لاره راشئ چه په هغے کښے خاوره ډیره وی، چه ستاسو د اسونو په خپو سره ګرد او غبار راپورته شی او چه رانزدے شوئ نو الله اکبر نعرے به وهئ، لس کسان به دا کار وکړئ بیا به لس نور راشی، بیا به لس نور راشی بیا به لس نور راشی هغوی به دا کار وکړی نو پدے طریقه به په دشمن باندے یو رعب واچوو چه هغوی ته پته ولګی چه د مسلمانانو دپاره نور مدد راورسیدو۔

هر کله چه سهار شو چه دا اُومه ورځ د جنګ ده، مسلمانانو په دشمن باندے حمله کوله نو پدے کښے دغه مجاهدین راورسیدل او ګرد او غبار ئے را اُوچت کړو نو کافرانو

باندے رعب راغے چه د مسلمانانو دپاره مدد راغلو او ډیره نفری ورسره یو ځائے شوه او د الله اکبر آواز هم په کافر باندے ډیر رعب غورزوی،

نو دے کښے به دغه ډله ډله مجاهدین راتلل او دغه شان د تکبیر آوازونه به ئے کول نو کافرانو خپل مینځ کښے وویل چه مونږ د دغه درے زره مسلمانانو مقابله پدے شپږو ورځو کښے ونکړه نو بیا چه نور مسلمانان راګنړ شو نو دے سره به څه کوو،

پدے کښے خالد بن ولید ﷛ او دغـه نورو مسلمانانو په دشمن باندے په یو ځل حمله وکړه نو دشمن باندے رعب راغے او دشمن منډه کړه، دوئ ورپسے ور روان دی او دشمن مخکښے دے، لرے ځائے پورے ئے ترے منډے خلاصے کړے او ډیرے ئے په کښے ووژل۔

او په حدیث د بخاری کښے راغلی دی چه خالد بن ولید ﷛ وفرمایل :

پدے ورځ مونږ داسے سخت جنګ وکړو :

[لَقَدِ انْقَطَعَتْ فِيْ يَدِيْ يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ أَسْيَافٍ، فَمَا بَقِيَ فِيْ يَدِيْ إِلَّا صَفِيْحَةٌ يَمَانِيَّةٌ]

ما به په یوه یوه توره دشمنان د مؤتے په جنګ کښے وهل تردے چه نهه تورے زما په لاس کښے ماتے شوے صرف یوه یمنی توره پاتے شوه۔

او په بل لفظ کښے دی :

[لَقَدْ دُقَّ فِيْ يَدِيْ يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ أَسْيَافٍ، وَصَبَرَتْ فِيْ يَدِيْ صَفِيْحَةٌ لِيْ يَمَانِيَّةٌ]

(زما په لاس کښے د مؤته په ورځ نهه تورے ماتے شوے او یوه یمانی توره کلکه شوه)۔

[بخاری : ٤٢٦٦]

دے تـه سوچ وکړه چه دۀ بـه څـومره کسان وژلے وی چه توره ماتیږی او بیا بله توره راخلی او بیا بله حال دا چه توره دومره زر نۀ ماتیږی۔

او خالد بن ولید ﷛ به په اس باندے جنګ کاوه او ډیر غټ بدن ئے وو چه خپے به ئے د زمکے سره لګیدلے۔

او یو زبیر بن عوام ﷛ وو او بل دے وو چه په دوارو لاسونو به ئے تورے چلولے۔ په هر لاس کښے به ئے توره وه او په هغے به ئے دشمنان وهل،

پدے کښے څه مسلمانان هم شهیدان شو چه د هغے اندازه دولس کسان دی، او د دغه کـافرانو نه ډیر زیات کسان مردار شول، پدے حملے سره دشمن ډیر لرے پورے تښتیدلے وو، نـو خالد بن ولید ﷛ ملګـروتـه حکم وکړو چه سمدست راواپس شئ، نو ملګری

راواپس شول، پدې کښې دشمن وویل چه وروسته نهٔ ورځو ځکه چه دا خلك مونږ سره چل کول غواړي، دوئ غواړي چه مونږ صحراء ته بوځی او د خپلو معسکراتو نه مو جدا کړي، ځکه چه دوئ خو مونږ ته شکست زاکړو مونږ پسې راروان دی، نو دا څنګه زمونږ نه سمدست واپس کیږي لهذا دوئ چل کوی،

نو هغوی ورته په انتظار وو او دې طرف ته مسلمانان په آرام آرام واپس کیدل او مؤته کلی ته راورسیدل او همداسې راروان وو، د دشمن دا فکر وو چه په مونږ به بیا حمله کیږي، مګر مسلمانانو مزل متواتر کړو تردې چه مدینې ته راورسیدل۔

په تاریخ د عالم کښې دا د خالد بن ولید ﷺ یوه لویه کارنامه او هوښیارتیا ده او ناشنا طریقې سره خپل ملګری د دشمن د سختو حملو او د هغوی د دریابی نفرئ نه روغ رمټ راویستل، او هغوی نه سره د ډیر والی د هغوی نه منډې ویستل او تښتول معجزانه حرکت دې، ځکه چه د هغه زمانې طریقه دا وه چه که دشمن نه به همداسې راوتښتیدل نو دشمن به ورپسې شا ته نه مزل متواتر وکړو تردې چه د هغوی مخې او شا ته نه به تاؤ شول او تول به ئې ختم کړل۔ همیشه په واپسئ کښې مجاهدینو ته خساره رسیږي۔

نو پدې طریقه دشمن هلته حیران پاتې شو او د دوئ پسې ئې مزل همیشه نکړو او خپلو ښارونو ته واپس شول، نو پدې کښې مسلمانانو ته ډیر ضرر ونهٔ رسیدو ولله الحمد۔

په سیرت کښې دولس کسان ذکر شویدی مګر ظاهر نه دا معلومیږي چه دا لویه معرکه وه نو ددې نه زیات تعداد کښې مسلمانان هم شهیدان شویدی او د دشمنانو نه په زرګونو مردار شول۔

د صحابه کرامو د بهادرئ بعض نمونې

صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین پدې موقعه هم ډیره مړانهٔ وخوده۔

۱- جابر بن عبد الله رضی الله عنهما فرمائی: عقیل بن ابی طالب ﷺ (چه د جعفر او د علی رضی الله عنهما ورور دې او د تولو نه مشر دې) په غزا د مؤته کښې یو سړی

ته د مبارزې اعلان وکړو نو هغهٔ ورته راووتو، دواړو مقابله وکړه تردې چه هغه ئې مردار کړو (او د هغهٔ نه ئې ګوتمه او نور سامان واخستو) نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته د هغهٔ ګوتمه او سامان مفت ورکړو.

[المعجم الاوسط للطبرانی رقم ٤٢٠) باسناد حسن : وفی اسناده عبد اللّٰه بن محمد بن عقیل، قال عنه الهیثمی هو حسن الحدیث وفیه ضعف، وبقیة رجاله ثقات وقال ابن حجر فی التقریب : (٣٢١) صدوق فی حدیثه لین]

۲- دا عوف بن مالك اشجعی ﷺ دې چه ددې معرکې د عینی شاهدینو نه دے او پدې کښې د شریکانو نه دے هغه مونږ ته د صحابه کرامو یوه پهلوانی داسې بیانوی:

زهٔ د زید بن حارثه ﷺ سره په غزا د موته کښې راووتم

[فَرَافَقَنِيْ مَدَدِيٌّ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ لَيْسَ مَعَهٗ غَيْرُ سَيْفِهٖ]

نو ما سره د یمن والو نه یو تن ملګرے شو چه هغه زمونږ د مدد دپاره راغلے وو، (مددی یو تن ته وائی د امداد الیمن نه، دا څه کسان وو چه د مسلمانانو د مدد دپاره به ئې د یمن نه ځان رسولو لکه چه په حدیث د اُویس قرنیؒ کښې راغلی دی:

يَأْتِيْ عَلَيْكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ مَعَ أَمْدَادِ أَهْلِ الْيَمَنِ

(اویس قرنی به تاسو ته د یمن والو د مددګارو سره راشی) (مسلم : ٦٦٥٦)

د هغهٔ سره د توره نه سوئ هیڅ نهٔ وو، پدې کښې د مسلمانانو نه یو سړی یو اُوښ حلال کړے وو نو دا مددی شخص ورپسې ورغلو او د هغهٔ نه ئې د اُوښ د څرمنې څه حصه وغوښته، هغهٔ ورته ورکړه، نو یمنی هغه (د اُوچولو نه پس) د ډال په شکل راواخسته، او مونږ (دشمن طرفته روان شولو) نو مونږ سره د رومیانو ډلے ملاو شوې چه په هغوئ کښې یو سړے وو چه په سُور اس باندې سور وو چه هغې باندې زین وو چه د سرو زرو اُوبه ورکړې شوې وې،

[فَجَعَلَ الرُّوْمِيُّ يَفْرِيْ بِالْمُسْلِمِيْنَ]

نو دغه رومی به د مسلمانانو زخمیان وژل،

(او په یو لفظ کښې دی [يُغْرِيْ بِالْمُسْلِمِيْنَ] چه د مسلمانانو په خلاف به ئې خلکو ته تیزی ورکوله) نو دغه یمنے ورته د یوې ګټې نه شا ته کیناستو نو دغه رومی پرې راتیر شو نو دهٔ پرې ورمنډه کړه او د هغهٔ د اس خپې ئې پریکړې نو هغه راپریوتو او دې پرې

دپاسه شو او هغهٔ ئے قتل کړو او اس او د هغهٔ وسله ئے ځان سره راواخسته۔

هرکله چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته فتح ورکړه نو خالد بن ولید رضی الله عنه ددے شخص پسے یو تن ولیږلو او د هغهٔ نه ئے دغه غنیمت واخستو، نو پدے عوف بن مالك ص وائی چه زهٔ خالد ته راغلم او ما ورته وویل : اے خالد ! آیا تا ته پته نشته چه رسول الله ﷺ د قاتل دپاره په اخستے شوی مال باندے فیصله کړیده، (یعنی چه چا کوم کافر قتل کړو نو اخستے شوے مال به د هغهٔ وی) خالد وویل : ولے نهٔ، لیکن ما دا ډیر وګڼړلو، (ځکه مے ترے واخستو)

عوف رضی الله عنه وائی : ما وویل : [لَتَرُدَّنَهٗ عَلَيْهِ اَوْ لَأُعَرِّفَنَّكَهَا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

خامخا تهٔ به دهٔ ته دا مال واپس کوے یا به زهٔ دا قصه رسول الله ﷺ ته بیانوم۔

مګر خالد بن ولید رضی الله عنه د واپس ورکولو نه انکار کولو، نو عوف رضی الله عنه وائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو مجلس کښے راجمع شو نو ما هغهٔ ته د دغه مددی قصه وکړه او د خالد دا کار مے ورته ذکر کړو، نو رسول الله ﷺ خالد بن ولید رضی الله عنه ته وفرمایل :

[يَا خَالِدُ مَا حَمَلَكَ عَلٰى مَا صَنَعْتَ ؟]

اے خالد ! دا کار دِے ولے کړیدے؟ هغهٔ وویل : یا رسول الله ﷺ ما دا مال ډیر ولیدو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : اے خالد ! دے سړی نه چه تا څه اخستی هغه ورته واپس کړه۔ عوف رضی الله عنه وائی : نو ما خالد ته وویل : اے خالد ! څنګه شو آیا ما درسره خبره سر ته ونهٔ رسوله۔ (یعنی څنګه مے په تا باندے دا مال دغه شخص ته واپس کړو)

نو پدے کښے رسول الله ﷺ تپوس وکړو چه دا څه خبره ده ؟ ما ورته خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ په غصه شو او وے فرمایل :

[يَا خَالِدُ ! لَا تَرُدَّ عَلَيْهِ، هَلْ اَنْتُمْ تَارِكُوْنَ لِيْ اُمَرَائِيْ، لَكُمْ صِفْوَةُ اَمْرِهِمْ وَعَلَيْهِمْ كَدَرُهٗ]

اے خالد ! دے سړی ته دغه مال واپس مهٔ ورکوه، بیا ئے وفرمایل : آیا تاسو ما ته زما امیران پریدئ ؟ ستاسو دپاره به د هغوی نه غوره شے او فائده ملاویږی او مشقت او تکلیف به په هغوی باندے وی۔

[اخرجه مسلم فی الصحیح ٤/٢٤) وابوداود (١٦٣/٣) واللفظ له واحمد رقم (٢٣٩٩٦٠)]

ددے قصے ډیر فوائد ددے معرکے د بیان په آخر کښے راروان دی۔

ددې جنګ اثر

پدې جنګ کښې څه علاقه فتح نشوه، او نۀ څه غنیمتونه ونیولے شول لیکن ددې غزوې دا فائده وشوه چه په عامو علاقو د عربو او عجمو کښې دا خبره خوره شوه چه درې زره مسلمانانو د دوه لاکهه جنګیانو مقابله کړیده نو دې سره د روم لوی والے د خلکو د زړونو نه پریواتۀ، چه مونږ خو رومیان دومره تکړه ګنړل، دوئ خو هیڅ شے نۀ دی۔

دارنګه پدې کښې د آینده دپاره مسلمانانو ته د رومیانو حال معلوم شو او د هغوی د وسلو او د هغوی د جنګی چلونو او د قتال طریقو، چه ددې اثر به روستو زمانه کښې په هغه جنګونو کښې راښکاره شي چه مسلمانانئے د رومیانو په خلاف کوی۔

او پدې سره د رومیانو په زړونو کښې هم خاص قسم رعب پریوتو چه آینده دپاره د مسلمانانو په خلاف د جنګ لوبولو سوچ ونکړی،

او دا سریه د زید بن حارثه ﷺ په ظاهره کښې سریه وه لیکن د بل طرف نه په حقیقت کښې غزوه وه، چه دا یو منظم جنګ وو چه ددې ډیر اهم اهداف وو چه مسلمانان به آینده کښې د شام د فتح کولو دپاره دې ته ګوری۔ (غزوة مؤته)

او دې ته رسول الله ﷺ فتح وئیلې وه، ځکه چه د داسې دریاب سره ملاویدل او بیا د هغوی نه روغ رمټ راواپس کیدل چه هیڅ قیدیان ترې ونۀ نیول شو، او د هغوی په زړونو کښې رعب اچول خپله فتح ده۔ ددې وجه نه کوم سیرت او مغازی والا چه دا وئیلی دی چه پدې کښې د رومیانو فتح او د مسلمانانو شکست وو، دا خبره خطاء ده۔

نو د دغه وخت نه په عامو کافرانو رعب راغلو او د وړاندې ښارونو فتحې شروع شوې، د نصاراؤ علاقې فتح کیدل شروع شول۔

په غزوهٔ موته کښې د شهیدانو نومونه

۱- د قریشو د بنو هاشمو نه جعفر بن ابی طالب ﷺ ۲- بیا زید بن حارثه ﷺ۔

۳- د بنی عدی نه مسعود بن الأسود بن حارثه بن نضلة ﷺ.

٤- د بنی عامر بن لؤی بیا د بنی مالك بن حسیل نه : وهب بن سعد بن ابی السرح ﷺ.

٥- د انصارو نه بیا د بنی الحارث بن خزرج نه : عبد الله بن رواحه ﷺ.

٦- او عباد بن قیس ﷺ

٧- او د بنو مازن بن النجار نه : سراقه بن عمرو بن عطیة بن خنساء ﷺ.

٨- او د بنی غنم بن مالك بن النجار نه : الحارث بن نعمان بن أسامه بن نضله بن عبد عوف ﷺ.

دے شهیدانو باندے د اهل مغازی ؤ اتفاق دے۔ او اختلافی دا روستنی دی :

٩- د بنو مازن بن النجار نه : ابو کلیب، یا کلاب بن عمرو ﷺ.

١٠- او د هغهٔ ورور جابر بن عمرو بن زید بن عوف بن مبذول ﷺ.

١١- او د بنی مالك بن افصی نه عمرو ﷺ،

١٢- او عامر ﷺ چه دواړه د سعد بن الحارث بن عباد بن سعید بن عامر بن ثعلبه ځامن دی۔ (ابن هشام)

١٣- او موسی بن عقبه وغیره ورسره : هبار بن سفیان بن عبد الاسد المخزومی ﷺ.

او موسیٰ بن عقبه ورسره : عبد الله بن ربیع انصاری ﷺ هم زیات ذکر کړیدے۔

١٤- او د بنی زُریق نه : معاذ بن ماعص ﷺ. او په یوه نسخه د مغازی د موسیٰ بن عقبه کښے : ١٥- : عباد بن ماعص ﷺ ذکر دے۔

١٦- او ابن سعدؒ او عدویؒ او ابن جریر الطبریؒ پکښے : زید بن عبید بن المعلی انصاری ﷺ هم زیات کړیدے۔

١٧- او ابن اسحاق پکښے : عبد الله بن سعید بن العاص بن أمیه ﷺ زیات کړیدے۔

١٨- او بلاذریؒ او کلبی پکښے : الهوبجة بن بجیر بن عامر بن سفیان بن اُسید بن زائدة بن حصن الضبی ﷺ هم زیات کړیدے۔

(غزوة موته والسرایا والبعوث النبویة الشمالیة مؤلف : بریك بن محمد بریك أبو مایلة العمری)

مدینے ته واپس کیدل :

کله چه مسلمانان مدینے منورے ته راورسیدل نو دلته مسلمانانو ته خبر شوے وو چه دوئ راتښتیدلی دی، نو دوی مخے ته ور اُوتل او زنانه او ماشومانو د هغوی مخونو طرفته خاورے ویشتلے، او دائے ورته وئیل چه [یا فُرّارُ، فَرَرُتُم فِیُ سَبِیُلِ اللّٰهِ]

اے راتښتیدونکو، تاسو د الله د لارے نه راوتښتیدلئ۔

تردے چه د سیرت کتابونه لیکی چه یو صحابی کور ته ننوتو نو زنانه ورله اجازت نهٔ ورکولو او دائے ورته وئیل چه تهٔ ولے د جهاد نه راتښتیدلے ئے۔

حاکمؒ په صحیح سند سره د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت کوی چه هغے د سلمه بن هشام بن المغیره ؓ ښځے ته وویل :

[مَالِیُ لَا أرٰی سَلَمَةَ یَحُضُرُ الصَّلَاةَ مَعَ رَسُوُلِ اللّٰهِ ﷺ وَمَعَ الُمُسُلِمِیُنَ ؟ قَالَتُ : وَاللّٰهِ مَا یَسُتَطِیُعُ اَنُ یَّخُرُجَ، کُلَّمَا خَرَجَ صَاحَ بِهِ النَّاسُ: یَا فُرَّارُ، أَفَرَرُتُمُ فِیُ سَبِیُلِ اللّٰهِ ! حَتّٰی قَعَدَ فِیُ بَیُتِهٖ فَمَا یَخُرُجُ، وَکَانَ فِیُ غَزُوَةِ مُؤُتَةَ مَعَ خَالِدِ بُنِ الُوَلِیُدِ]

څه وجه ده چه زهٔ سلمه نهٔ وینم چه د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره مانځه ته حاضر شی؟ هغے وویل : قسم په الله هغه د راوتو طاقت نهٔ لری، کله چه راوځی نو خلك ورته آوازونه کوی چه اے تښتیدونکو، آیا تاسو د الله د لارے نه وتښتیدئ تردے چه هغه کور کښے ناست دے، نهٔ راوځی، او هغه د خالد بن ولید ؓ سره په غزوه مؤته کښے ملګرے وو۔

[المستدرك ۳/۴۵، وقال : هذا حديث صحيح على شرط مسلم]

دا څنګه عجیبه امت وو چه په سړو کښے یواځے بهادری څه چه په ماشومانو او زنانو کښے هم دا ایمانی غیرت او په دین باندے خفګان او د الله تعالیٰ سره حقیقی محبت وو، او د هغهٔ په دین باندے ځان قربانول ورته معمولی خبره ښکاره کیده ۔

د خالد بن ولید ؓ دے راوتو ته ئے تیښته ووئیله، دا عجیب تربیت وو چه رسول الله ﷺ دوی لره کړے وو او د دوی پلاران څوك وو؟ د دوی میندے څوك وے ؟ پلارانو به د خپلو بچو څنګه تربیت کولو ؟ مسلمانان نن هم دغه شان درسونو زده کولو ته سخت

ضرورت لری۔

داسې تربیت به ولې د مسلمانانو حالت نۀ بدلوی۔

رسول الله ﷺ د دوئ د حالت نه خبر شو نو د مُؤته د مجاهدینو تائید ئې وکړو او وې فرمایل :

[لَيْسُوا بِالْفُرَّارِ، وَلٰكِنَّهُمُ الْكُرَّارُ إِنْ شَاءَ اللّٰه تعالىٰ]

(مرسل عروة)

دا تښتېدونکی نۀ دی بلکه دوئ ان شاء الله دوباره حمله کونکی دی، (یعنی د دشمن د علاقې نه خپل کلی ته راتلل تیښته نۀ ده کله چه د دوباره جهاد کولو اراده لری)

ابن کثیرؒ ددې روایت په باره کښې وائی: (مرسل من هذا الوجه وفیه غرابة)

او سلمه او د هغۀ نورو ملګروته ئې حکم وکړو چه بغیر د څه حرج او پیغور نه مونځونو ته راوځی، ځکه چه دوئ پهلوانان او په دشمن باندې دوباره حمله کونکی دی، ان شاء الله۔

حافظ ابن کثیرؒ په "البداية والنهاية" کښې لیکی :

کیدې شی چه ددې ملګرو نه بعض کسان تښتېدلی وی کله ئې چه د دشمن په باره کښې واوریدل چه دوی دوه لاکهه دی او په داسې وخت کښې تیښته جائز ده، هرکله چه دوئ لاړل او باقی کسان مضبوط ودریدل او الله هغوی ته فتح ورکړه او د دغه کسانو د لاسونو نه روغ راخلاص شول او په هغوی کښې ئې ډیره کوتره ماری وکړه، او حدیث د عوف بن مالك ﷺ دلیل دې چه دوی د هغوی نه څه غنیمتونه هم راوړل او د هغوی مشران او امیران ئې هم ووژل لکه د بخاریؒ په روایت کښې د خالد بن ولید ﷺ وینا ذکر شوه چه نهه تورې ئې ماتې کړې۔ نو هغوی کښې ئې ډیره وژنه کړېده که داسې نۀ وې نو د هغوئ نه روغ راخلاصیدل مشکل کار وو، نو دا یوائې مستقل دلیل دې (چه دې خلکو جنګ کړیدې او همداسې نۀ دی راتښتېدلی)۔

حافظ ابن کثیرؒ په "السیرة النبویة" کښې لیکی : کله چه دواړه ډلې ملاؤ شوې نو دغه وخت کښې بعض مسلمانان تس نس شول او باقیمانده خلك کلك شول هغوی ونۀ تښتېدل بلکه هغوی مضبوط پاتې شول لکه چه رسول الله ﷺ وفرمایل : بیا جنډه د الله تورې واخسته تردې چه الله تعالیٰ هغوی ته د هغۀ په لاس فتح ورکړه۔

او دا زورنه لو خاورے په مخ کښې شینډل د هغه خلکو دپاره وو چه هغوی د هغهٔ خاص وخت نه تس نس شول، او دغه ملګری ئے په خپل ځائے کښې پریخودل او په هغوی کښې عبد الله بن عمر رضی الله عنه هم وو۔

خزیمه بن ثابت ﷺ فرمائی : زهٔ د مؤته جنګ ته حاضر شوم نو ما ته د هغوی نه یو سړے رابښکاره شو نو ما هغه قتل کړو او د هغهٔ په سر باندے سپینه د وسپنے تو پیٔ وه چه په هغے کښې یاقوت وو، نو زما مقصد دغه یاقوت حاصلول وو نو ما هغه راواخسته۔

کله چه مونږ جنګ ختم کړو او مدینے ته راواپس شو نو زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم، نو هغه ئے ما ته مفت راکړه، بیا ما هغه په زمانه د عثمان ﷺ کښې په سل (۱۰۰) دیناره باندے خرڅه کړه او په هغے باندے مے د کجورو یو باغ واخستو۔ (رواه البیهقیؒ)

ددے معرکے نه راوتی احکام او مسائل :

۱- امام بیهقیؒ وائی : دا دلیل دے چه کله د خلکو امیر او د امیر نائب نهٔ وی او یو صالح استعداد والا سړے د هغوی د مشریٔ دپاره راپورته شو او خلك هغهٔ ته تابع شو او په هغهٔ باندے راضی شو نو د هغهٔ مشری لازمه ده، هغه به شرعی امیر وی۔

۲- بغویؒ د خطابیؒ نه نقل کوی چه هغه وائی : خالد بن ولید ﷺ رسول الله ﷺ پدے فوج کښې نهٔ وو مشر کړے لیکن هغه په خلکو مشر شو ځکه چه ضرورت وو، هغهٔ وکتل چه مسلمانان په ډیر خطرناك سرحد باندے ولاړ دی، چه په مسلمانانو باندے د ضائع کیدو یره ده،

(او هغهٔ کښې ددے جنګی تدبیر صلاحیت وو) نو هغهٔ جنډه راواخسته او د مسلمانانو کارئے سنبال کړو او رسول الله ﷺ پرے راضی وو، (او د هغهٔ صفت ئے په سیف من سیوف الله سره وکړو) نو دا بنیاد دے د هغه کارونو دپاره چه یو تن د هغے په ضائع کیدو باندے یره کیږی نو هغے ته به راپاڅیږی اګرکه بل چا نهٔ وی مخکښې کړے ځکه چه د دین کار په تعاون او تناصح (یو بل سره خیر خواهی) باندے بناء دے۔

[شرح السنة ۵/۱۱) فتح الباری (۷/۵۱۳]

۳- د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم اجتهاد جائز بلکه غوره وو۔
(فتح الباری ۷/۵۱۳)

٤- پدے کښې د خالد بن ولید رضی الله عنه ښکاره فضیلت دے چه رسول الله ﷺ ورته د الله تعالیٰ توره وئیلے ده۔ (فتح الباری، وبهجة المحافل ۱/۲۹۳)

۵- د حیواناتو د وژلو نه خو نبی کریم ﷺ منع فرمائیلے ده نو بیا جعفر رضی الله عنه ولے خپل اس قتل کړو؟ نو علامه سهیلیؒ په الروض الانف کښې فرمائي:

هرچه د جعفر رضی الله عنه آس قتلول دی چه هیچا په هغهٔ باندے هیڅ عیب ونهٔ وئیلو نو دا دلیل د جواز دے کله چه دا یره وی چه دشمن به ئے ترے ونیسی، او په هغې باندے به د مسلمانانو خلاف جنګ وکړی نو دا د تعذیب د حیوان او د قتل د بهائمو د نهی په باب کښې نهٔ داخلیږی۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی: دا حدیث دلیل دے چه حیوان وژل جائز دی کله چه یریږی چه دشمن به ترے فائده واخلی لکه ګډے بزے په غنیمتونو کښې ونیسی او بیا مزل نشی کولے او د دشمن نه یره وی نو د هغې ذبح کول او سیزل جائز دی دے دپاره چه پدے کار سره دشمن د دوئ نه منع او بند شی۔ (البدایة والنهایة ٤/٢٤٤)

٦- په قصه د مددی او د خالد رضی الله عنه کښې فقهی احکام خطابیؒ دا ذکر کړیدی: چه آس د سلب نه دے او سلب (د مقتول نه اخستے شوے مال) لږ وی که ډیر نو دا به د قاتل وی، د هغې نه به خمس نهٔ اخستے کیږی، آیا نهٔ ګورے چه رسول الله ﷺ خالد رضی الله عنه ته حکم وکړو چه هغه اس مددی ته واپس کړی اګرکه خالد رضی الله عنه ډیر ګڼړلے وو، او دوباره ئے خالد رضی الله عنه ته د راواپس کولو حکم پدے وجه وکړو چه پدے کښې یو قسم انکار وو په عوف رضی الله عنه باندے او د هغهٔ منع کول وو دے دپاره چه خلك په امامانو او مشرانو باندے جرأت ونکړی او دے دپاره چه د هغوی په شان کښې ګستاخی ونکړی،

او خالد رضی الله عنه پدے کار کښې اجتهاد کونکے وو، چه هغهٔ دغه سلب ډیر ګڼړلے وو نو رسول الله ﷺ د هغهٔ اجتهاد جاری وساتو کله ئے چه پدے کښې مصلحتِ عامه ولیدو پس د هغې نه چه هغه ئے په اوله رایه کښې خطاء ګرزولے وو او خاص امر په عام امر باندے مقدم وی، او لږ ضرر به د ډیرے فائدے او مصلحت دپاره برداشت کولے شی۔

او ډیره نزدے خبره دا ده چه رسول الله ﷺ به مددی ته د خپل خمس نه بدله ورکړی

وی۔

امام نوویؒ وائی: کیدے شی چه هغه ئے قاتل ته روستو ورکړے وی خو هغۀ ته او عوف بن مالك ﷛ ته د زجر ورکولو دپاره ئے هغه روستو کړو، او پدے وجه چه دے دواړو د خالد ﷛ په باره کښے خوله کولاوه کړه او د یو والی د احترام کم والے ئے وکړو۔

۷- رسول الله ﷺ صحابه کرامؓ ته د جعفر ﷛ او د هغۀ د ملګرو نعی (یعنی خبر د مرګ) ورکړو حال دا چه د نعی نه خو منع راغلے ده۔

نو تحقیق دا دے چه نعی په دوه قسمه ده، یو هغه نعی ده چه د یو نزدے خپلوان د مرګ خبر خلکو ته ورکوی نو دا مباح ده، اګرکه پدے کښے په مسلمان باندے خفګان ورداخلول دی لیکن پدے مفسدت کښے ډیر مصلحتونه دی چه خلك د هغۀ جنازے ته حاضر شی او د هغۀ تجهیز او تکفین وکړی، د هغۀ دپاره د قبر بندوبست وکړی، هغۀ دپاره بخنه وغواړی، هغۀ ته دعا وکړی، د هغۀ وصیتونه نافذ کړی۔

او بله د جاهلیت نعی ده۔ سعید بن منصورؒ د ابن عُلیۃؒ نه هغه د ابن عونؒ نه نقل کړیدی چه ما ابراهیم نخعیؒ ته وویل:

[أَكَانُوا يَكْرَهُونَ النَّعْيَ ؟ قَالَ : نَعَمْ]

آیا صحابه کرامو به نعی بده ګنړله؟ وے فرمایل: آؤ،

ابن عونؒ وائی: د جاهلیت نعی داسے وه چه کله به یو تن وفات شو نو یو سړے به په اس باندے سور شو بیا به ئے په خلکو کښے چغے وهلے چه اے خلکو! زۀ د فلانی د مرګ خبر درکوم۔

قاضی ابوبکر ابن العربیؒ وائی: د مجموعه احادیثو نه درے حالات اخستے کیږی۔

(۱) اول: اهل د مړی او ملګری او نیکان خلك خبره ول نو دا سنت عمل دے۔

(۲) حفل (مجلس) راغوښتل د فخرونو دپاره نو دا ناروا عمل دے۔

(۳) په بله طریقه خبر ورکول هغه دا چه ویر شروع کړی او د مړی پسے په چغو ژړا وکړی چه خلك خبر شی نو دا حرامه ده۔

۸- حدیث د عائشے رضی الله عنها نه ډیر فوائد معلومیږی لکه د ملګرو په مرګ باندے خفګان کول او وقار او تثبت نه کار اخستل، او دا چه په مړی باندے خفګان راښکاره کول چه د صبر نه ئے ونۀ باسی او د الله نه ناراضه نشی او زړۀ په الله باندے

مطمئن وی نو دا بهتر عمل دے۔

۹- رسول الله ﷺ د جعفر ؓ کور والو دپاره د طعام تیاره ولو حکم وکړو۔

ددے نه معلومیږی چه دا مستحب ده چه مړی کور والو دپاره طعام تیار کړے شی او هغوئ بانده په خوراك کښے زور کول دے دپاره چه کمزوری نشی او مصیبت ئے آسان شی۔ البته دے کښے داسے تکلفات کول چه د مړو د مال نه خیراتونه کول او میښے او سنډاګان او غوایان او ګډان حلالول، یا یو تن په بدل بانده غټے ډوډئ ګانے کوی، او نور خلك هم دے ته راغواړی، او دا بهانه کوی چه دا د مړی کور والا نهٔ ده کړے، بل چا راوړے ده، نو دا سو چه بدعت دے، شریعت د تکلفاتو نه منع فرمائیلے ده۔ او پدے کښے ډیر فسادونه دی چه د هیچا نه خفی نهٔ دی، صرف د کور والو دپاره او د راغلو میلمنو دپاره ګنجائش شته۔

او دا طعام درے ورځو پورے هم ضروری نهٔ دے، بلکه روایاتو کښے صرف یوه ورځ او یوه شپه راغلے ده۔ او د مړی د کور والو نه خوراك او میلمستیا حاصله ول په نیاحت (ممنوع ویر او ژړا) کښے داخلیږی۔

لکه چه جریر بن عبد الله ؓ فرمائی :

[كُنَّا نَعُدُّ الْاِجْتِمَاعَ اِلَى اَهْلِ الْمَيِّتِ وَصَنْعَةَ الطَّعَامِ مِنَ النِّيَاحَةِ]۔

مونږ صحابه کرامو به د مړی کره جمع کیدل او د هغوی طعام تیاره ول (ددے خلکو دپاره) د ویر نه شمارل۔

نو معلومه شوه چه د لنډ ځائے میلمانه به خپلو کورونو ته واپس شی او د لرے ځائے میلمانه به ګاونډیان بوځی یا به ئے ورله دلته په شریکه راوړی۔

۱۰- او معلومه شوه چه جنګ تول د هوښیارتیا شے دے، او د صحابه کرامو په جنګونو کښے ځومره هوښیارتیا وه۔

د مؤته د غزا نه روستو او د مکے د فتح نه مخکښے سرایاو او دستو بیان

۱- سرية جَيُش الُخَبَط

یا سریه د ابو عبیدة رضی الله عنه سِیف البحر (قَبَلِیّه) ته سنه (رجب ۸ هـ)

(سبل الهدیٰ والرشاد، وعیون الاثر)

د غزا د مؤته نه روستو رسول الله ﷺ یوه سریه ولیږله چه د هغوی مشرئے ابوعبیده بن جراح رضی الله عنه مقرر کړو او دوئ درے سوه (۳۰۰) کسان وو د مهاجرینو او انصارو نه، او په دوئ کښے عمر بن الخطاب رضی الله عنه هم وو.

دا ئے د جُهینه قبیلے کفارو طرفته ولیږل چه دوئ په قَبَلِیّه علاقه کښے وسیدل چه هغه د دریاب غاړے ته نزدے وو، چه ددے او د مدینے ترمینځ پنځه شپے مزل وو.

رسول الله ﷺ دے لښکر ته د کجورو یوه بوجئ ورکړه، او اُوښان هم ورسره لږ وو، پیاده کسان پکښے زیات وو، نو دوئ روان شو تردے چه د دریاب غاړے ته ورسیدل، نو هلته دیره شو، د دشمن انتظارئے کولو، نیمائی میاشت پورے په انتظار کښے وو.

جابر رضی الله عنه فرمائی: زهٔ هم پدے لښکر کښے وم، په لاره باندے به مونږ ته امیر یوه یوه کجوره راکوله، او په یو روایت کښے دی چه یو یو موټے بیا چه کله کجورے کمے شوے نو یوه یوه کجوره به ئے راکوله تردے چه په لاره باندے زمونږ توله توښه ختمه شوه.

نو امیر امر وکړو چه خپلے خپلے توښے راجمعه کړئ نو هغوی راجمع کړے نو یوه کسوړه د کجورو ترے جوړه شوه.

د جابر رضی الله عنه شاګرد وهب بن کیسان وائی: ما د جابر رضی الله عنه نه تپوس وکړو:

[كَيُفَ كُنُتُمُ تَصُنَعُوُنَ بِهَا]

په یوه کجوره به تاسو څه کول؟ نو هغهٔ وفرمایل:

[كُنَّا نَمَصُّهَا كَمَا يَمَصُّ الصَّبِيُّ (الثَّدْيَ) ثُمَّ نَشُرَبُ عَلَيُهَا الُمَاءَ فَتَكُفِيُنَا يَوُمَنَا اِلَى اللَّيُلِ]

مونږ به هغه چوپله لکه څنګه چه ماشوم سینه خوری، بیا به مو د هغے دپاسه اُوبه

وخکلې نو دا به زمونږ تول ورځ تر شپې پورې کافي کیده۔
[مسلم : ٥١٠٩]
او په یو بل روایت کښې دي : وهب بن کیسانؒ تپوس وکړو :
[مَا تُغْنِیُ عَنْکُم تَمْرَةٌ]
یوې کجورې به تاسو ته څه فائده درکوله ؟ جابر ﷺ وفرمایل :
[لَقَدْ وَجَدْنَا فَقْدَهَا حِیْنَ فَنِیَتْ]
کله چه هغه یوه کجوره ختمه شوه نو مونږ د هغې ارمان هم وکړو۔
او په حدیث د عباده بن صامت ﷺ کښې راغلی دي : امیر مونږ ته کجورې تقسیمولې تردې چه یوه ورځ یو سړی ته کجوره ونۀ رسیده نو مونږ د هغه یوې کجورې ارمان هم وکړو نو مونږ ته سخته لوږه راورسیده۔
او بل روایت کښې دي : یو تن به خپله کجوره وچوپله بیا به ئې په خپله جامه کښې وساتله۔ هرکله چه مونږ ته لوږه زیاته شوه،
[کُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِیِّنَا وَقِسِیِّنَا الْخَبَطَ وَنَبُلُّهُ بِالْمَاءِ وَنَأْکُلُ حَتّٰی تَقَرَّحَتْ اَشْدَاقُنَا]
نو مونږ به په خپلو لیندو او امساګانو باندې د ونو پاڼې وهلې او هغه به مو خوړلې او دپاسه به مو ورپسې اوبه څکلې تردې چه زمونږ وښکې وپړسیدل، زخمي شول۔
تردې چه زمونږ شونډې داسې شوې لکه د اُوښ د شونډې په شان۔
ددې وجه نه دې لښکر ته جَیْشُ الْخَبَط وائي۔ یعنې پاڼې څنډلو سره خوړلو والا لښکر۔ د خبط معنیٰ ده پاڼې څنډل او شوکول او بیا هغه خوړل۔ (لسان العرب، المحیط)
مونږ پداسې حالت کښې ډیرې ورځې وو تردې چه یو تن به پکښې وویل :
[لَوْ لَقِیْنَا عَدُوًّا مَا کَانَ بِنَا حَرَکَةٌ اِلَیْهِ لِمَا نَالَنَا مِنَ الْجَهْدِ]
که مونږ د دشمن سره ملاؤ شو نو مونږ به هغوی طرفته هیڅ حرکت ونکړې شو ځکه چه ډیر سخت تکلیف او لوږه رارسیدلې وه چه بدنونه مو خوار شوي وو۔
(سبل الهدی والرشاد)

د قیس بن سعد ﷛ سخاوت

پدې مینځ کښې دا واقعه راغلـه، هرکله چه صحابه کرام سخت وږی شو نو یو صحابی قیس بن سعد بن عباده ﷛ چه یو سخي صحابي دے، او د خزرج قبیلے د سردار سعد بن عباده ﷛ ځوی دے، دا ډیر سخي وو نو دۀ چه کله د صحابه کرامو لوږه ولیده نو یو کلي ته ورغلو، هلته ئے د جُهَیۡنَه قبیلے یو شخص ته وویل چه ځوك ما نه د اُوښانو په بدله کښې د مدینے کجورے اخلي؟- یعنی ما ته قرض اُوښان راکړئ بیا به ذ مدینے کجورے پکښے درکرم، د یو اُوښ په عوض کښے یو وسق کجورے۔

نو جُهَنِی ووېل : [وَاللّٰهِ مَا اَعۡرِفُكَ مَنۡ اَنۡتَ ؟]

زۀ خو تا نۀ پیژنم تۀ ځوك ئے؟ نو هغۀ ووېل : زۀ قیس بن سعد بن عُبَاده بن دُلَیۡم یم۔ نو دۀ ووېل چه تا خو د ډیر سخي نوم واخستو چه د مدینے والو سردار دے۔

جهني ورته ووېل : چه ګواهان راولـه، نو هغۀ دپاره د مهاجرینو او انصارو نه څه کسانو ګواهي وکړه۔

پدے کښے عمر بن خطاب ﷛ وفرمایل :

[لَا اَشۡهَدُ، هٰذَا يَدَّانُ وَلَا مَالَ لَهٗ اِنَّمَا الۡمَالُ لِاَبِيۡهِ]

زۀ ګواهي نۀ کوم، ځکه چه دا شخص قرض اخلي او خپل مال ئے نشته بلکه مال خو دۀ د پلار دے۔ نو جُهني ووېل :

[وَاللّٰهِ مَا كَانَ سَعۡدٌ لِيُخۡنِيَ بِابۡنِهٖ فِيۡ شُقَّةٍ مِنۡ تَمۡرٍ وَاَرٰى وَجۡهًا حَسَنًا وَفِعۡلًا شَرِيۡفًا]

قسم په الله سعد د خپل ځوی سره ددے لږو کجورو په باره کښے خیانت نۀ کوی او زۀ ددۀ ښائسته مخ او عزتمن کار وینم چه سخاوت کوی۔

نو نهه اُوښان ئے تړے واخستل، درے ئے په یوه موقعه حلال کړل بیا ئے درے په بله موقعه، او بیا ئے درے په بله موقعه۔ بیا ابوعبیده ﷛ ددے کار نه منع کړو چه ستا مال خپل نۀ دے۔ دا روایت د بخاری (٤٣٦١) او مسلم (٥١١١) دے۔

او په نورو روایاتو کښے دي چه په درے موقعو کښے ئے یو یو اُوښ ذبح کړو کله چه څلورمه ورځ شوه نو امیر ددے کار نه منع کړو، او دا ئے ورته ووېل چه تۀ غواړے چه خپل لوظ مات کړے او ستا مال نشته۔

نو قیس ﷺ ورته وویل: آیا ته زما پلار (ابو ثابت) نهٔ وینې چه پردې قرضونه خلاصوی او بوجونه پورته کوی او په لوږه کښې خلکو ته خوراکونه ورکوی او زما دا لږې کجورې به نهٔ خلاصوی چه هغه د الله په لاره کښې د مجاهدینو دپاره اخستې شویدی.

لیکن عمر فاروق ﷺ ددهٔ په منع کولو کلك ولاړ وو. نو د هغې نه دوه اُوښان پاتې شول چه قیس ﷺ هغه مدینې ته راوستل چه په لاره کښې به پرې صحابه کرام نمبر په نمبر سوریدل.

په مغازی د واقدیؒ او مسند حُمیدی کښې راغلی دی: هرکله چه قیس مدینې ته راغې نو پلار ورسره ملاؤ شو ورته ئې وفرمایل:

[مَا صَنَعْتَ فِیْ مَجَاعَةِ الْقَوْمِ حَیْثُ اَصَابَتْهُمْ ؟]

کله چه خلك وږی وو نو تا څه وکړل؟ هغهٔ ووېل: ما اُوښان ذبح کړل، ورته ئې ووېل: ډیر ښهٔ کار دِې کړې. بیا دِې څه وکړل؟ وې وئیل: بیا مې اوښان ذبح کړل، وې فرمایل: ډیر ښه دِې وکړو. بیا دِې څه وکړل؟ وې فرمایل: زهٔ منع کړې شوم، وې فرمایل: چا منع کړې؟ هغهٔ ووېل: ابوعبیده بن الجراح (ﷺ). ولې؟

وې وئیل چه ستا خپل مال نشته او مال ستا د پلار دې. نو هغهٔ ورته ووېل چه ستا څلور باغونه شول چه په ادنیٰ باغ کښې به تهٔ پنځوس وسقه مونده کوې، او پدې باندې ئې یو خط ولیکلو او ابوعبیده ﷺ او نور کسان ئې پرې گواه کړل.

او جُهنی د قیس ﷺ سره راغې او هغهٔ ته ئې خپلې کجورې حواله کړې او په اُوښ ئې سور کړو او جامې کپړې ئې هم ورکړې.

په صحیح ابن خزیمه کښې د جابر ﷺ په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ ته د قیس ﷺ د کار خبر ورسیدو نو وې فرمایل:

[إِنَّ الْجُوْدَ لَمِنْ شِیْمَةِ أَهْلِ ذٰلِكَ الْبَیْتِ]

سخاوت ددې کورنۍ خوئې او عادت دې.

(سبل الهدی والرشاد ٦/١٧٨)

جابر ﷺ وائی: مونږ د دریاب په غاړه روان وو چه مونږ ته دریاب یو ماهی راوغورزولو چه د هغهٔ نوم عنبر وو، چه داسې ماهی مونږ هیڅکله نهٔ وو لیدلې، داسې

وو لکه د شړو یوه لویه غونډۍ۔ نو ابوعبیده ﷛ وفرمایل: مرداره ده،

بیا ئے وفرمایل: نه، بلکه مونږ د الله د رسول استازی یو، او د الله په لاره کښې یو، او تاسو دے ته محتاج یئ نو ددے نه خوراك شروع کړئ،

[فَأَكَلْنَا مِنْهُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ لَيْلَةً]

نو مونږ د هغې نه اتلس ورځو پورے خوراك کاوه،

او په روایت د مسلم کښې دی چه یوه میاشت پورے مونږ هغه خوړلو،

[حَتّٰى سَمِنَّا وَادَّهَنَّا مِنْ وَدَكِهٖ حَتّٰى ثَابَتْ مِنْهُ اَجْسَامُنَا وَصَلُحَتْ نَغْتَرِفُ مِنْ وَقْبِ عَيْنَيْهِ بِالْقِلَالِ الدُّهْنَ]

تردے چه مونږ د هغې په خوښه چاق شولو او د هغې په وازده به مو بدنونه غوړل تردے چه زمونږ بدنونه مضبوط شول او ښهٔ برابر شول، او مونږ به د هغهٔ د سترګو د ګُرم نه په منګو سره غوړی راویستل، تردے چه ډیر زیات منګی مو ترے راویستل۔

او مونږ به د هغې نه دومره غوښه راشوکوله لکه د غوائی په اندازه۔

او مونږ د هغهٔ د غوښو نه څه غوښه وچه کړه او ومو ساتله او د هغهٔ وازدے مو په مشکیزو کښې وساتلے۔

بیا ابوعبیده ﷛ د الله د تعالیٰ د قدرت راښکاره کولو دپاره د ماهی یوه پوښتئ (او په یو روایت کښې دوه پښتئ ذکر دی) راواخسته او هغه ئے ودروله او په لښکر کښې اوږد سړے چه هغه قیس بن سعد ﷛ وو (کما قال الحافظ) هغهٔ ته ئے وویل چه تهٔ په اوښ سور شه او ددے لاندے تیر شه نو هغهٔ د هغې لاندے تیر شو او د هډوکو سره ونهٔ لګیدو۔ دومره غټ ماهی وو۔

او په روایت د مسلم کښې دی:

[فَاَخَذَ اَبُوْعُبَيْدَةَ ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا فَأَقْعَدَهُمْ فِيْ وَقْبِ عَيْنِهٖ] (مسلم: ۵۱۰۹)

او ابوعبیده ﷛ زمونږ نه دیارلس سړی واخستل او د هغه ماهی د سترګے په سوری کښې ئے کینول۔

جابر ﷛ فرمائی: کله چه مونږ مدینے ته راغلو نو مونږ رسول الله ﷺ ته دا قصه ذکر کړه نو هغهٔ وفرمایل:

[كُلُوْا رِزْقًا اَخْرَجَهُ اللّٰهُ، اَطْعِمُوْنَا اِنْ كَانَ مَعَكُمْ]

(بخاری : ٤٣٦٢)

خوړئ دا د الله تعالیٰ رزق دے چه تاسو ته ئے راویستلے دے، که تاسو سره څه وی مونږ ته ئے هم راکړئ۔ نو یو تن ورله یو اندام راوړو نو هغه وخوړلو۔

تنبیهات : ١- ددے سریه د زمانے په باره کښے اختلاف دے، اهل مغازی لکه ابن سعدؒ وغیره وائی چه دا په اتم کال واقع شویده۔

او په روایت د صحیحینو کښے دی چه [یَرْصُدُ عِیرًا لِقُرَیْشٍ] رسول الله ﷺ دا سریه ولیږله چه د قریشو د یو بے قافلے انتظار ئے کولو۔

او په اتم کال کښے خو د حُدیبیه صلح شروع وه او د قریشو سره جنگ بندی وه، نو څنګه دا سریه ورلیږی؟ نو ددے وجه نه دا سریه د شپږم کال ده،

یا ددے نه هم مخکښے ده۔ او که دا د صلح نه روستو وی نو کیدے شی چه د قریشو قافله ئے د جُهینه قبیلے د کسانو نه ساتله د هغے دپاره وتلی وو لکه ددے تائید دا دے چه دوئ اتلس ورځو پورے په یو ځائے کښے وسیدل او هیڅ جنګ ئے پکښے نهٔ دے کړے۔

بل په اتم کال کښے د خیبر د غنیمتونو په وجه صحابه کرام دومره په لوږه او سخته کښے نهٔ وو۔ (فتح الباری وسبل الهدی والرشاد والرحیق المختوم)

٢-د جابر ﷺ د الفاظو نه ښکاره کیږی چه ددے لښکر سره یو عمومی توښه وه چه رسول الله ﷺ ورکړے وه، او بله خصوصی د هر چا سره څه نا څه وه، او هغه هم ډیره کمه وه۔ نو کله چه عمومی توښه ختمه شوه نو خصوصی توښه ئے راجمع کړه دے دپاره چه ټول ملګری پکښے یو شان شی۔

٣- په روایت د وهب بن کیسانؒ کښے دی : مونږ د ماهی نه اتلس ورځے خوراك وکړو او په روایت د عمرو بن دینارؒ کښے نیمائی میاشت، او په روایت د ابو الزبیرؒ کښے یوه میاشت ذکر ده۔ کما فی مسلم۔

ددے تطبیق دا دے چه اتلس ورځے ذکر کونکی خبره پوره یاده کړے او هغه ئے ذکر کړے۔ او چا چه نیمائی میاشت ذکر کړے نو هغهٔ زیاتی کسر (درے ورځے) غورزولی دی۔ او چا چه میاشت ذکر کړے نو هغهٔ اکثر لره حکم د کل ورکړے او دغه کسر سره ئے هغه ورځے هم زیاتی ذکر کړی چه د ماهی د موندلو نه مخکښے وے۔

(سبل الهدی والرشاد)

فوائد او معارف

۱- د صحابه کرامو رضی الله عنهم د الله دپاره سخته تیره ول.
۲- د مجاهدینو کرامتونه ښکاره کیږي.
۳- طافي (یعنی دریاب وژلے مړ) ماهي خوړل جائز دي. او پدے باندے د صحابه کرامو رضی الله عنهم اتفاق دے، او رسول الله ﷺ د هغے تائید وکړو او هغوی ته د مسئلے د جواز ښکاره کولو دپاره ئے د هغوی نه مطالبه وکړه چه که تاسو سره څه حصه وي نو ما له ئے هم راکړئ.
٤- ماهي چه هر څومره غټ وي، خوړل ئے جائز دي.
٥- عنبر په دنیا کښے د ټولو نه ډیر لوی ماهي دے.
٦- سخاوت د قیس بن سعد او د هغهٔ د پلار. رضی الله عنهما.
۷- دے سریه ته جیش الخبط (د پاڼو خوړلو والا لښکر) او سریه د ابوعبیده ﷺ سیف البحر ته. یعنی د دریاب غاړے ته. هم وائي.

۸- ابوعبیده بن جراح ﷺ :

ددهٔ نوم عامر بن عبد الله بن جراح دے، چه په امین الامة لقب سره مشهور دے، ددهٔ مور اُمیمه بنت غنم رضی الله عنها مسلمانه شوے وه، او پلار عبد الله بن جراح د کفر په حالت کښے د بدر په غزا کښے د ابوعبیده ﷺ په لاس قتل شوے دے.

ابوعبیده ﷺ د سابقون اولون او د عشره مبشره ۇ نه دے، مدینے ته ئے چه کله هجرت وکړو نو ددهٔ د مواخات رشته د ابو طلحه ﷺ سره جوړه شوه، په ټولو غزواتو کښے شریك شویدے. رسول الله ﷺ دے په ډیرو فوجي کارونو کښے سربراه او امیر مقرر کړے، ډیر صلاحیت والا انسان وو، کله چه په نهم (۹) هجری کښے د نجران یمن نه د نصاراؤ وفد راغے او بیرته واپس کیدو نو دا مطالبه ئے وکړه چه مونږ سره یو امین شخص ولیږه چه جزیه ورکړو نو رسول الله ﷺ ابوعبیده ﷺ د دوئ نه د جزیه راوړلو او هلته د موجوده خلکو د تبلیغ د اسلام او د زکات د وصولولو دپاره د دوئ سره ولیږلو، په همدے موقعه ورته رسول الله ﷺ امین الامة ووئیلو.

ابو عبیده ﷺ د سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ او د سیدنا عمر فاروق ﷺ په دوړ خلافت کښې په فوجي مهماتو کښې پوره پوره حصه اخستې وه، دهٔ د شام په فتوحاتو کښې ډیر ښکاره کردار ادا کړې وو. په (۱۸) هجري کښې د طاعون عَمُواس په وباء کښې شهید شو. د وفات په وخت ددهٔ عمر (۵۸) کاله وو.

(بخاري، ابن سعد، اسد الغابه، البدایه والنهایه، الکامل)

۲ - سریه د ابو قتاده (حارث بن ربعي انصاري ﷺ) خَضِره ته

او قصه د عبد الله بن ابی حدرد رضی الله عنه

(شعبان ۸ هـ)

خَضِره په نجد کښې د مُحارب قبیلې علاقه ده.

(د پخوانو په نیز باندې نجد به ئې هغه ځائې ته وئیلو چه د مدینې د مشرقي طرف نه به سل کیلو میټره جدا وو، او نن صبا نجد ریاض او د هغې ماحول، القصیم، سدیر، افلاج، یمامه، وشم، او حائل ته وائي) [المعالم الاثیرة ص: ۲٤۹].

خضره علاقه د مدینې په جنوبي طرف کښې ده او د مدینې نه (۱۱۰) کیلو میټره جدا ده، د صوبه وادي الفرع تابع ده. (ویکیپیډیا)

ابن اسحاقؒ او امام احمدؒ او واقديؒ د عبد الله بن ابی حدرد ﷺ نه روایت راوړیدې هغه فرمائي: ما د سراقه بن حارثه نجاري ﷺ لور په نکاح واخسته او هغه په بدر کښې شهید شوې وو، ما ته ددې ښځې د نکاح نه په دنیا کښې هیڅ شې زیات محبوب نهٔ وو، ما هغې دپاره دوه سوه (۲۰۰) درهمه مهر مقرر کړل. خو ما سره هیڅ شې نهٔ وو چه هغې ته ئې په مهر کښې ورکړم.

نو ما ووېل چه په الله او بیا د هغهٔ په رسول مې اعتماد دې. نو زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم او خبر مې ورکړو، نو ما ته ئې ووېل: [کَمْ سُقْتَ اِلَیْهَا ؟]

تا ښځې ته څومره مهر مقرر کړې؟ ما ووېل: اې د الله رسوله! دوه سوه (۲۰۰) درهمه. وې فرمایل: سبحان الله که تاسو د خپل کلي نه دراهم په لپو کښې راواخلئ

هم ددې نه به زیات رانهٔ وړئ۔ (یعنی دا خو تا ډیر زیات مهر مقرر کړے) نو ما عرض وکړو اے د الله رسوله ! ما سره ددې په مهر کښې مدد وکړه۔

رسول الله ﷺ وفرمایل : اُوس ما سره څه نشته چه تا سره پرے مدد وکړم، لیکن ما اراده کړے چه زهٔ ابو قتاده (ﷺ) په څوارلس کسانو کښې لیږم نو ستا خوښه ده چه تهٔ هم د هغوی سره ووځې؟ ځکه چه زما د الله نه امید دے چه الله تعالیٰ به تا ته ستا د ښځې مهر په غنیمتِ کښې درکړي۔ ما وویل : صحیح ده۔

[احمد ٤٤٨/٣ رقم : ٢٣٩٢٨) المستدرك (١٧٨/٢، رقم : ٢٧٣٠، ضعفه شعیب وصححه الحاکم والذهبی]

دے وائی چه زهٔ څو ورځې ایسار وم، نو پدے کښې دا واقعه راغله چه د بنی جُشم قبیلے یو تن راغلو او په غابه علاقه کښې په خپل قوم او نورو خلکو باندے نازل شو، ددهٔ دا اراده وه چه قیس قبیله د رسول الله ﷺ په خلاف باندے د جنگ دپاره راجمع کړي او دا سړے په جشم قبیله کښې ډیر نوم والا او شرافت والا وو۔

نو رسول الله ﷺ زهٔ او د مسلمانانو نه دوه سړي نور راوغوښتل او وے فرمایل : دے سړي یعنی جشمی پسے لاړ شئ او ددهٔ په باره کښې ما ته خبر راوړئ چه دے څه اراده لري۔ او مونږ ته ئے یو خوار اُوښ راکړو چه صرف یو تن پرے کیناستے شو، قسم په الله یو تن چه پرے کیناستو هم نشو پاڅیدے تردے چه د شا ته نه سړو په لاسونو باندے دیکه کړو نو هغه په ډیر تکلیف سره ودریدو خو نزدے نهٔ وو چه ولاړ وے۔

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : [تَبَلَّغُوْا عَلَيْهَا وَاعْتَقِبُوْهَا]

پدے باندے به تاسو ورسیږئ خو نمبر په نمبر پدے باندے سورلی کوئ۔

دے وائی : مونږ راووتو او مونږ سره د وسلے نه غشی او تورے وے او مونږ د ابو قتاده ﷺ سره شپاړس (١٦) کسان وو او ابو قتاده ﷺ زمونږ امیر وو۔

نو رسول الله ﷺ مونږ غطفان ته ولیږلو په طرف د نجد،

او وے فرمایل : د شپے مزل کوئ او د ورځې پټیږئ، او په قوم باندے ناڅاپی حمله وکړئ، او زنانه او ماشومان مهٔ وژنئ۔

دے وائی : مونږ راووتو تردے چه د غطفان قبیلے یو طرف ته راغلو، نو مونږ په یوه چینه باندے موجود خلك ومونډل نو دے وخت کښې مونږ ته ابو قتاده ﷺ تقریر وکړو

او په تقوئ باندے ئے حکم وکړو، او هر دوه سړی ئے یو ځائے کړل او دا ئے وفرمایل چه هر دوه کسان ډیے د یو بل نه نۀ جدا کیږی تردیے چه ملګریے ئے شهید شی، یا ما ته راواپس شی او د هغهٔ خبر راکړی، او ما ته ډیے یو تن نۀ راځی چه زۀ تریے تپوس وکړم چه ستا ملګریے څه شو او هغه وائی چه ما ته پته نشته۔

او کله چه زۀ تکبیر وکړم نو تاسو هم تکبیر وکړئ او کله چه زۀ حمله وکړم نو تاسو هم حمله وکړئ او د دشمن پسے لریے مزئ۔

نو مونږ د دغه خلکو نه ګیره واچوله حمله مو وکړه نو ما د هغوی د یو سړی نه واوریدل چه داسے چغے ئے وهلے (یَا خَضِرَۃ) نو ما نیك فالي ونیوله او دا مے وویل چه زۀ به ضرور خیر ته رسیږم او خپلے ښځے سره به یو ځائے کیږم۔ او مونږ به ددیے خلکو نه تازګی مونده کوو۔

(یعنی الله به شینکی او تازګی راولی، ځکه چه خضرة شینکئ او تازګئ ته وائی)

نو مونږ دغه خلکو ته د شپے راغلو، نو ابوقتاده ﷺ خپله توره راوخکله او مونږ هم توریے راوخکلے او هغهٔ تکبیر وکړو نو مونږ هم تکبیر وکړو نو مونږ په دغه چینے والو باندے سخته حمله وکړه نو پدیے کښے یو تن اُوږد سړے چه توره ئے بربنډه کړیے وه او شاکړیے روان وو او دا ئے وئیل :

[یَا مُسْلِمُ هَلُمَّ اِلَی الْجَنَّۃِ]

اے مسلمانه جنت طرفته راشه، نو زۀ وړپسے روان شوم۔ بیا ئے وویل : ستاسو دا ملګرے خو ډیر چلباز دے او ډیر هوښیار دے، دے جنت جنت یادوی، مونږ پوریے توقے کوی۔

نو ما ته پته ولګیده چه دے زما وژل غواړی نو زۀ وړپسے روان شوم نو ما ته زما ملګری وویل چه وړاندے مۀ ځه ځکه چه مونږ خپل امیر د لریے تللو نه منع کړی یو۔ نو زۀ دغه سړی پسے روان شوم نو ما رالاندے کړو او د شا طرفنه مے په څټ باندے وویشتو، بیا ئے وویل :

[اُدْنُ یَا مُسْلِمُ اِلَی الْجَنَّۃِ]

اے مسلمانه ! جنت ته رانزدے شه، نو ما په بل غشی وویشتو تردے چه قتل مے کړو نو سر راپریوتو نو ما د هغهٔ نه توره راواخسته۔ او زما ملګری آوازونه کول چه چرته

لاړے؟ ځکه که زۀ امیر ته لاړ شم او ما نه ستا په باره کښې تپوس وکړی نو زۀ به خبر ورکوم۔ نو زۀ د هغه سره ملاؤ شوم مخکښې ددے نه چه زۀ د ابو قتاده ﷺسره ملاؤ شم۔ نو ما ورته ووېل چه آیا امیر صاحب زما په باره کښې تپوس کړے؟ هغۀ ووېل: آؤ، او ما ته هم غصه شو او تا ته هم غصه دے۔

او ملګری ما ته دا هم ووېل چه دوئ غنیمتونه نیولی دی او دوئ ته چه څوك راپورته شویدی هغه ټول ئے وژلی دی۔

نو زۀ ابو قتاده ﷺ ته راغلم نو ملامته ئے کړم نو ما ورته پوره قصه وکړه چه ما داسے داسے شخص قتل کړو۔

او مونږ د هغوی نه غنیمتونه او زنانه او د تورو تیکی ونیول او ځان سره مو راروان کړل۔

پدے کښې ما سهار کښې د خپل اُوښ خوا کښې یوه ښځه ولیده چه د صحرائئ اُوسئ په شان وه، هغې به خپل شا ته ډېر کتل او ژړل به ئے، ما ترے تپوس وکړو چه څه ته ګورے؟ هغې ووېل: قسم په الله زۀ یو داسے سړے ګورم که هغه ژوندے وے نو مونږ به ئے تاسو نه خامخا خلاص کړی وے۔

نو زما په زړۀ کښې راغله چه دا هغه سړے یادوی کوم چه ما وژلے دے، نو ما ورته ووېل: چه قسم په الله هغه ما قتل کړیدے، او دا د هغۀ توره ده چه د هغې د تیکی سره د اُوښ پالان ته زوړنده ده۔ نو هغې ووېل: آؤ، قسم په الله دا د هغۀ د تورے تیکے دے نو که تۀ رشتینے ئے دا راکولاؤ کړه نو ما راکولاؤ کړو نو هغې په خپله خوله باندے کیخودو، او وے ژړل او نا امیده شوه۔

عبد الله بن ابی حدرد ﷺ وائی: مونږ نبی کریم ﷺ ته اُوښان او ګډے بزے راوستے۔

جعفر بن عمرؒ وائی: دوئ پنځلس ورځے غائب وو او په غنیمت کښې ئے دوه سوه (۲۰۰) اُوښان او زر (۱۰۰۰) ګډے او ډېرے زنانه راوستے، نو ددے نه خمس اُوویستلے شو نو د هر مجاهد دولس دولس اُوښان ورسیدل چه یو اُوښ به ئے د لسو ګډو سره برابره ولو۔

عبد الله بن ابی حدرد ﷺ وائی: ددے غنیمت په وجه ما د خپلے ښځے وادۀ وکړو او ما ته الله تعالیٰ خیر راکړو۔

(سبل الهدی ومغازی الواقدی)

عبد الله بن عمر ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ یوه سریه نجد طرفته ولیږله چه په هغې کښې زهٔ هم وم نو زمونږ د غنیمت حصه دولس دولس اُوښان ورسیدل او رسول الله ﷺ مونږ ته یو یو اُوښ زیاتی راکړو۔ (بخاری رقم : ۴۳۳۸، ومسلم : ٤٦٥٨)

تنبیه : ابن سید الناسؒ په عیون الاثر کښې سریه د عبد الله بن حدرد ﷛ او سریه د ابو قتاده ﷛ خضره ته جدا جدا ذکر کړیدی،

او محمد بن عمر الواقدیؒ دواړه یوه سریه ګرزولې ده۔ (سبل الهدی)

OOOOOO

دا راتلونکے سریه د فتح مکے نه لږه مخکی لیږلے شویده

٦- سریه د ابوقتاده بن ربعی انصاری رضی الله عنه بَطْنِ اِضَم ته

(اول رمضان ۸ هجری)

نبی علیه السلام یو جماعت ولیږلو اِضم علاقے ته چه دا د اَشجع او د جُهَینَه قبیلو یوه وادی ده، او دا د (ذی خُشُب او ذی مروه) په مابین کی ده، د مدینے سیلابونه دے ته ورغونډیږی، پدے وجه ورته اضم وائی، او ذی المروۃ د مدینے شمالی طرفته درے سوه (۳۰۰) کیلو میټره جدا علاقه ده۔

او اِضم اصل کښے په زیر د همزے سره دے مگر نن صبا په زبر د همزے سره لوستلے کیږی چه دا د سعودی مستقله صوبه گرزیدلے ده او د مکے نه تقریباً (۱۵۰) کیلو میټره جدا ده۔ (ویکیبیډیا)

ابوقتاده بن ربعی انصاری رضی الله عنه ته ئے اته (۸) کسان ورکړل چه دے قوم باندے تاسو حمله وکړئ،

او د روایاتو نه معلومیږی چه دا ئے ددے دپاره ولیږل چه په خلکو باندے د مکے د فتح کولو خبره پټه وساتی، او عام خلك دا گمان وکړی چه رسول الله ﷺ دے طرفته ځی او د مکے د سفر اراده نۀ لری۔

دوئ چه کله دغه قوم ته نزدے شول نو د هغه قوم نه یو سړی (عامر بن اَضبط اَشُجَعِی) گډے بزے ځرولے نو هغه راغے پدے مسلمانانو باندے ئے صحیح د اسلام مطابق سلام واچولو (او په هغه زمانه کی به یو اذان او بل سلام د اسلام نښه وه)

نو پدے کښے یو صحابی مُحَلِّم بن جَثَّامَه لَیثِی ﷺ رامخکی شو او دا ئے قتل کړو، او ددۀ نه ئے اُوښ او سامان هم واخستو، ددۀ په زړۀ کښے د هغۀ سره مخکی نه دشمنی وه د هغے په وجه ئے مړ کړو، او تاویل ئے دا وکړو چه دا مونږ نه خپل مال (گډے بزے) د سلام په وجه محفوظ کول غواړی، ځان خلاصوی، نو قتل ئے کړو او مال ئے ترے واخستو او واپس مدینے ته راغلل۔

رسول الله ﷺ مُحَلم بن جَثامه ته وویل چه تا دا کس ولے وژلو پس د هغے نه چه هغهٔ سلام اچولے وو؟ او الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا، تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ۚ كَذَٰلِكَ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا ......﴾ (النساء:۹٤) ـ

(اے ایمان والو! کله چه تاسو د الله دپاره په زمکه سفر کوئ نو تحقیق کوئ او مهٔ وایئ هغه چا ته چه تاسو ته سلام واچوی چه تهٔ مومن نهٔ ئے، تاسو د دنیا سامانونه طلب کوئ نو د الله تعالیٰ سره ډیر غنیمتونه دی، دغسے تاسو (هم) پخوا وئ نو الله په تاسو احسان وکړو (په ایمان راوړو سره) نو تحقیق کوئ......)

یعنی تاسو په اول سر کښے ځومره ضعیف مسلمانان وئ نو الله درله په اسلام کښے ترقی درکړه نو بل هم دغه شان ګڼړه او د خپل ځان نه عبرت واخله۔

(**فائده**: بعض خلك به اول کښے خپله د حق سخت خلاف کوی خو چه کله حق طرفته راشی نو بیا په نورو خلکو باندے سمدستی د کفر فتوے کوی او هغوی په یوه ورځ پوره سم غواړی او خپل ځان ترے هیروی چه په تا باندے ځومره خواری شویده)۔

نو رسول الله ﷺ په یو سفر وتلے وو نو پدے کی د دغه قبیلے مشر عُیَینَه بن حصن بن بدر فَزاری (الاحمق المطاع) راغے چه د خپل قومی (عامر بن اضبط) قصاص ئے غوښتو چه مونږ ته دا (مُحلم) راکړئ، مونږ دا وژنو، نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه پدے کښے قصاص نهٔ وی، دا په خطاء سره وژلے شویدے، پدے کی دیت دے (ځکه چه د مسلمان وینه به نهٔ ضائع کیږی) نو هغهٔ وویل چه قسم په الله زهٔ به ددهٔ د زنانو زړهٔ سیزم لکه څنګه ئے چه زمونږ د زنانو زړهٔ سیزلے دے۔ نو مونږ دا نهٔ پریدو، نبی علیه السلام ورته وفرمایل: چه دیت واخلئ مګر هغوی نهٔ راضی کیدل۔

نو پدے کښے یو صحابی اقرع بن حابس رضی الله عنه راغے او دے قوم ته ئے وویل چه تاسو ځومره بد اخلاقه یئ، د الله نبی تاسو ته د یو مړی په باره کښے سوال وکړو چه دا مونږ ته پریدئ، او هغه درله دیت هم درکوی، اُوس که رسول الله ﷺ غصه شی نو الله به ددهٔ په غصه باندے غصه شی یا به دریاندے لعنت وکړی نو الله به دریاندے لعنت وکړی هلاك به شئ، دیت قبول کړئ،

بیا ئے ورته یوه لاپه هم وکړه څکه چه اقرع بن حابس ﷺ د بنو تمیمو مشر وو نو دهٔ ورتـه وویـل چـه دا دیت بـه خامخا قبلوئ، که نهٔ وی زهٔ به لاړ شم د بنو تمیمو پنځوس کسان به راولم چه هغوی بهٔ گواهی ورکړی چه

[إِنَّ هٰذَا الرَّجُلَ مَا صَلّٰی لِلّٰهِ قَطُّ]

چه دے سړی الله دپاره یو مونځ هم نهٔ دے کړے (دے کافر مړ دے) (فَلَاُطُلَّنَّ دَمَهٗ) نـو زهٔ بـه ددهٔ وینـه بیـکاره کړم۔ څکه چه د کافر خو دیت هم نهٔ وی، او مطلب دا دے څوك چه مـونـځ نـهٔ کـوی هغه مسلمان نهٔ دے که هغه چا مړ کړو نو نهٔ پرے قصاص راځی او نهٔ پرے دیت)۔

(دا څو مره سخته خبره ده او زمونږ مسلمانانو دا خبره شاته گوزار کړیده)۔

نو هغوی په دیت باندے راضی شو۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: پنځوس اُوښان به اُوس درکړو څکه اوس مونږ سفر کښے یو او پنځوس چه کله د سفر نه مدینے ته واپس شو۔

(مسند احمد ٦/١١ رقم: ٢٣٩٢٧) اسناده محتمل للتحسین- شعیب) (السیرة النبویة لابن کثیر ٣/٤٢٣) تهذیب سیرة ابن هشام ١/٤٣١) واخرجه الطبری فی التاریخ (٥/٢٢٣) ومدار اسناده ابن اسحاق ولکنه صرح بالتحدیث فی الروایات الاخری عند کل من احمد، والطبرانی وابن هشام والبیهقی فهو حسن وان کان الهیثمی قال عنه : رجاله ثقات،

(انظر بریك بن محمد ابو مایلة : السرایا والبعوث النبویة بین مکة والمدینة : ٢٧٦)

واخرجه البزار باسناد جید (کشف الاستار : ٢٢٠٢) والطبرانی وعلقه البخاری فی صحیحه (فتح الباری ١٢/١٩٠-١٩١)

فوائد : ١- ددے واقـعـے نـه مـعـلـومه شوه چه څوك تا ته سلام واچوی او مسلمان ښکاره شی نو هغه به نهٔ وژنے که چا مړ کړو نو انسان پدے سخت گناهگار یږی۔

٢- کـه چا یـو مسـلمان په خطائی کی قتل کړو چه ددهٔ گمان دا وو چه دا کافر دے او هـغـه مسلمان وو نو پدے کی به قصاص نهٔ وی خو دیت به ورکوی څکه چه د مسلمان وینه د الله په نیز ډیره قیمتی ده اگر که گناهگار مسلمان وی۔

یـو کـافر ته ئے بم اینبودے دے او پدے کی په مسلمان باندے په خطائی کی راخلاص کړو نو دیت به ورکوی۔

الفتح الاعظم - فتح د مکے مکرمے

(رمضان ۸ هـ)

فتح مکے ته تیاری:

ددے نه روستو الله سبحانه وتعالیٰ یوه عظیمه فتح رسول الله ﷺ ته ورکړه چه ددے ذکر په قرآن کریم کښے هم راغلے دے، او دے ته ئے عظیمه فتح وئیلے ده چه هغے ته فتح د مکے وائی۔ یعنی مکه فتح کیدل او د هغے مشری د رسول الله ﷺ په لاس کښے راتلل او د مسلمانانو د اسلامی مرکز نه د کفر او شرك ختمیدل دی۔

دا غزوه په رمضان کښے شوے وه، ددے وجه نه دے میاشت ته شَهْرُ الْجِهَاد وائی، دا د اسلام د غلبے او د شهادتونو میاشت ده، او د رسول الله ﷺ عام جهادونه په رمضان کښے شویدی۔

دا هغه فتح ده چه پدے سره الله تعالیٰ اسلام ته عزت ورکړو او ددے نه بعد اسلام د دنیا گوټ گوټ ته ورسیدو، کفارو سرونه خکته کړل، ذلیله شو، شرك او کفر ذلیله شو۔ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ۔

رسول الله ﷺ سره الله تعالیٰ د مخکښے نه وعده کړے وه چه زهٔ به تا ته فتح درکوم، په سورة القصص کښے ئے ورته اشاره کړے وه چه موسیٰ علیه السلام مدین ته تلے وو هجرت ئے وکړو، اته (۸) یا لس (۱۰) کاله ئے په مدین کښے تیر کړل نو بیا ورته الله تعالیٰ نبوت او غلبه ورکړه، فرعون ذلیله شو۔ نو دغه شان به تا ته هم غلبه درکوی، رسول الله ﷺ هم په مدینه کښے اته (۸) کاله تیر کړل بیا ورته په قریشو باندے غلبه ملاؤ شوه او د مکے زمکه ئے په قبضه کښے راغله۔

دارنگه په سورة یوسف کښے د یوسف علیه السلام او د هغهٔ د ورونو په قصه کښے ورته اشاره وه چه د یوسف علیه السلام سره د هغهٔ ورونو حسد وکړو، کوهی ته ئے

ګوزار کړو، قافلې والو وې ورو مصر ته ورسیدو،

ډیره موده د مور او پلار او د کلی نه غائب وو، آخر کښې الله تعالیٰ هغهٔ ته وزارت ورکړو او بیا ورته الله تعالیٰ ورونه محتاج کړل او ملامته او خپیمانه شول او سرونه ئې خکته کړل او هغهٔ د الله دپاره معاف کړل ﴿لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ﴾

(په تاسو نن ورځ ملامتیا نشته، الله دې تاسو ته بخنه وکړی)

نو دغه شان کار د مکې والو وو چه د رسول الله ﷺ سره ئې حسد او دشمنی وکړه، او د کلی نه ئې په هجرت مجبوره کړو، او هغهٔ باندې سخته راغله لیکن آخر کښې ورته الله تعالیٰ غلبه ورکړه او د مکې مشرکان ورته سر خکته شو او ملامتیا ئې ومنله،

نو رسول الله ﷺ همدغه الفاظ ورته وویل چه ﴿لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ﴾ نو الله اشاره ورکړه چه الله تعالیٰ به قریش ذلیله کوی او تهٔ به ئې معاف کوې، د الله تعالیٰ وعدې حقې دی، او د الله نبی حق دې ځکه الله تعالیٰ د مخکښې نه دا پیشینګوئی ورکړه او همغه شان رشتینی راوخته، ګنې یو تن په لوی دشمن او عامه دنیا باندې غالبه کیدل د ظاهری حالاتو مطابق د نا ممکن په درجه کښې دی، د الله تعالیٰ د طاقت نه بغیر داسې نشی کیدې۔

حافظ ابن قیمؒ فرمائی : دا هغه لویه فتح ده چه الله تعالیٰ پدې سره خپل دین او خپل رسول او خپل امین لښکر ته عزت ورکړو، او پدې سره ئې خپل ښار او خپل کور د مشرکانو او کافرانو د لاسونو نه راخلاص کړو کوم چه الله تعالیٰ د مخلوقاتو دپاره د هدایت ذریعه جوړه کړې وه۔

او دا هغه فتح ده چه آسمان والو پرې خوشحالی کړې وه، او د رسول الله ﷺ د عزت رسۍ جوزاء ستوری سره وتړلې شوې، او پدې سره خلك د الله په دین کښې ډله ډله داخل شو، او پدې سره زمکه په رڼرائی او پرق او تازګۍ سره روښانه شوه، آه۔

د غزا سبب

رسول الله ﷺ په حُدیبیه کښې د مشرکانو سره د صلحې معاهده لیکلې وه، په هغې کښې ډیر شرطونه وو، یو دا وه چه زمونږ او ستاسو صلح به لس کاله وی، لسو کالو

پورے قریش به په رسول الله ﷺ او د هغهٔ په منګرو باندے هیڅ قسم تعارض نکوی او دویٔ به په قریشو تعارض نهٔ کوی، آزاده آزادی به وی، یو بل باندے به لاس اُوچتول نهٔ وی، نو قریشو به هم ددے صلحے نه فائده اخسته چه شام ته به په امن وامان کښے تلل راتلل او تجارتونه به ئے کول، خلك به مدینے ته هم راتلل۔

ددے صلحے په فائدو کښے مونږ ذکر کړی وو چه د صلحے د حدُیبیه شپږم کال نه روستو تر اتم کال پورے لس زره (۱۰۰۰۰) مسلمانان پیدا شو۔ دا د یو بل سره د مانوس کیدو او د یو بل د خبرے آوریدو د وجه نه څکه چه دشمن کله جدا وی، د یو بل خبره نهٔ آوری نو هغهٔ ته حق نهٔ رسیږی۔

ورسره دا خبره لیکلے شوے وه چه څوك د قریشو په عقد کښے داخلیږی نو داخل دِے شی او که څوك د رسول الله ﷺ په عقد او ملګرتیا کښے داخلیږی نو داخل دِے شی، نو خُزاعه قبیله (چه دا د عربو یوه مشره قبیله ده چه د یمن نه راغلے وه او د مکے په خواؤ شا کښے آباد وو، د پخوا نه د جاهلیت د زمانے نه ئے د نبی ﷺ او د بنو هاشمو سره تعلق وو)

نو هغویٔ د رسول الله ﷺ په عهد کښے داخل شو، چه مونږ ددهٔ په طرف یو۔ ددهٔ ګُندیان یو، اګرکه دے وخت کښے دویٔ لا مسلمانان شوی هم نهٔ دی، روستو ئے ایمان راوړے وو۔

او بنو بکر بن عبد مناة چه دا بله عربی قبیله وه نو هغوی د قریشو په عهد کښے داخل شول څکه چه هغوی ورته ډیر او عزتمن او د علاقے مشران ښکاره کیدل او رسول الله ﷺ ورته کمزورے ښکاره کیدو۔

نو که څوك په خزاعه قبیله حمله کوی دا به داسے وی لکه په نبی ﷺ باندے حمله کول او په بنو بکر باندے حمله کول به داسے وی لکه په قریشو حمله کول۔

نو ددے وجه نه به مسلمانانو بنو بکر ته هم هیڅ نهٔ وئیل، د هغوی نه به ئے نهٔ څوك وژل او نهٔ به ئے ترے څه مالونه او قافله نیوله، څکه چه دویٔ د قریشو ګُندیان دی۔

بیا د جاهلیت د زمانے نه دا طرز راروان وو چه د خزاعه او د بنو بکرو به خپل مینځ کښے اختلافات وو، څکه چه قبائلی نظام وو، او په قبائلی نظام کښے فتنے او شرونه او جنګونه زیات وی۔ نو خزاعه قبیلے به بنو بکرو لره همیشه دپاره وهل، بنو بکر ئے ډیر

ذليله كړي وو.

هركله چه دا صلح وشوه او پدې باندې دوه كاله تير شو، د شعبان مياشت راغله چه اتم كال د هجرت دې، نو خزاعه قبيلې كښې ډيرو كسانو ايمان راوړو،

خزاعه په حجاز كښې آباده وه، نو ددې ځائې نه څه كسان "وتير" علاقې ته راغلل چه دلته يوه چينه وه او دا حرم ته نزدې علاقه ده، پدې كښې ؤسيدل دې دپاره چه حرم نه فائدې اخلې ځكه چه دې كسانو ايمان راوړې وو، او عرب خانه بدوش وو، نو د مكې نه بهر وسيدل او مكې ته نزدې هم وو.

نو پدې كښې بنو بكرو مشوره وكړه چه دې خلكو مونږ ډير ذليله كړي يو، او زمونږ نه ئې ډير كسان وژلي دي، ورنه د انسان نهٔ هيريږي، نو دوئ ووېل چه دا اُوس موقعه ده شپه هم ده، اُوس به ترې بدله واخلو.

د دوئ مشر نوفل بن معاويه الدِّيلي وو، هغهٔ ووېل چه مونږ خو دې خلكو سره لوظ كړې، نو قوم ورته ووېل : چه لوظ به مات كړو خو خپل قصاص اخستل ضروري دي. نو شيطان په جذبه كښې راوستل، د خيانت هيڅ پرواه ئې ونكړه ليكن بيائې هم په زړهٔ كښې دا يره وه چه كه مونږ په دوئ باندې حمله وكړو او دوئ ئې په مونږ وكړي بيا به مو ووژني، نو وعده به هم ماته شي او وبه مو وهي. نو دوئ د شپې راغلل د قريشو نه ئې مدد وغوښتو، چه خزاعه خو ستاسو هم دشمنان دي، مونږ سره مدد وكړئ چه مونږ د دوئ نه زوږ بدل واخلو،

د قريشو بعض كسانو ووېل چه مونږ خو د محمد رسول الله ﷺ سره وعده كړې ده، دا كار نشو كولې مگر بعضو كسانو باندې د شيطان وسوسه غالبه شوه، هغوي ورله خبره ومنله چه د هغوي نهٔ صفوان بن اميه، عكرمه بنُ ابي جهل او هغه سهيل بن عمرو چه د صلح حديبيه لوظ ئې ليكلې دې، (چه دوي لا تر اُوسه په اسلام مشرف شوي نهٔ وو) دې هم ملگرې شو او بنو بكر ته ئې ووېل چه حمله پرې وكړئ، او وسله ئې هم وركړه، او بعض كسان د قريشو خپله په حمله كښې هم شريك شو، د شپې تيارهٔ ئې غنيمت وگنړله.

نو بنو بكر په شعبان مياشت كښې په اتم كال د هجرت باندې لاړل او په خزاعه باندې ئې د شپې د شپې حمله وكړه چه د قريشو دا كسان هم ورسره دي، هغوي د شپې

تهجدو ته راپاڅیدلی وو او وسلے هم ورسره نهٔ وې، بنهٔ په امن او امان کښې وو، د حملې خیال ئې هم نهٔ وو، نو د خزاعه د مسلمانانو نه ئې درې کسان ووژل، نو د خزاعه کسانو وویل چه دا خلك مو نور هم وژنی نو راځئ چه حرم ته پناه ویسو، نو د شپې د وتیر علاقې نه حرم ته راننوتل (چه حرم ډیره لویه علاقه ده، پنځه دیرش کیلو میټره دے د تهولو اطرافو نه) عربو به د ابراهیم علیه السلام د زمانے نه د حرم قدر او احترام کولو، دلته به ئې جنګ نهٔ کولو۔

بنو بکر ورپسې حرم ته هم راغلل او دلته ئې پرې حمله شروع کړه، نو بنو بکرو خپل مشر نوفل بن معاویه ته وویل:

[إِنَّا قَدْ دَخَلْنَا الْحَرَمَ، إِلٰهَكَ إِلٰهَكَ]

مونږ حرم ته داخل شوی یو، د الله لحاظ وکړه، د الله لحاظ وکړه، یعنی په حرم کښې جنګ مهٔ کوه، د حرم عزت ئې په زړونو کښې وو۔ نو هغه ظالم ډیره لویه خطرناکه خبره وکړه:

[لَا إِلٰهَ الْيَوْمَ] ستاسو نن ورځ إله نشته، نن د اله او د هغهٔ د حرم لحاظ نشته۔

بیا ئې یوه بله بهانه بیان کړه۔

[يَا بَنِيْ بَكْرٍ! اَصِيْبُوا ثَأْرَكُمْ، فَلَعَمْرِيْ إِنَّكُمْ لَتَسْرِقُوْنَ فِي الْحَرَمِ، أَفَلَا تُصِيْبُوْنَ ثَأْرَكُمْ فِيْهِ]

اے بنو بکرو! تاسو خپل قصاص واخلئ، ځکه چه تاسو په حرم کښې غلا کوئ نو بیا قصاص پکښې ولے نهٔ اخلئ۔

(لکه دا د مجرمانو طریقه وی چه هسې دعوه د اسلام کوی، لیکن کله ئې چه د پیسو موقعه راشی، یا د وینے، یا د تاوان وخت راشی، یا ددهٔ د ګمان مطابق په عزت کښې ئې کمے راځی نو بیا درله اسلام ته نهٔ ګوری)

نو دے ظالم هم د قصاص خبره رامخکښې کړه او د الله د حکمونو هیڅ لحاظ ئې ونکړو، سره د هغې نه چه د عربو رواج وو، د هغې مخالفت ئې هم وکړو)

نو پدے کښې خزاعه قبیله د یو مشر کور ته لاړل چه د هغهٔ نوم بُدیل بن ورقاء الخزاعی دے، دا د مخکښې نه په مکه کښې آباد دے، لیکن شپه وه د هغهٔ د کور دروازه بنده وه، دلته بنو بکر هم راورسیدل او قریش هم ورته راغلل نو د بدیل د کور په دروازه کښې ئې پرې حمله وکړه، نو دلته ئې ترې شل کسان نور قتل کړل، او ښکاره وعده ئې

ماته کړه۔

نو پدې کښې صبا وخت نژدې دې قریشو وویل چه که رڼا ولګیده او مونږه خلکو ولیدو او محمد رسول الله ﷺ خبر شو نو غرق به شو ځکه چه دا خو مونږ د هغهٔ لوظ مات کړو، نو حکم د واپسئ ئې وکړو نو خپلو کورونو ته ننوتل۔

خو خزاعه قبیلې ته پته ولګیده چه بنو بکر او قریشو په شریکه دا کار وکړو، او لوظ ئې مات کړو۔

نو خزاعه قبیلې د بدیل بن ورقاء سره ملاقات وکړو نو مشورې ته کیناستل او په جلتئ سره ئې عمرو بن سالم الشاعر الخزاعی رسول الله ﷺ ته مدینې ته ولیږلو او دا ئې ورته وویل چه هیڅوک درنه خبر نشي او په جلتئ ځان مدینې ته ورسوه، (چه قریش خبر نشي د مخکښې نه څه چل جوړ نکړي)

نو عمرو بن سالم په اس باندې سور شو او په جلتئ د مکې نه مدینې طرفته روان شو، دومره تیز روان وو چه په لاره ئې دمه هم نهٔ کوله، ځکه چه خبره ډیره مهمه وه۔

(بنو بکر او قریشو ډیر لوی فساد کړې، وعده ئې ماته کړه، مسلمانان ئې قتل کړل، او په حرم کښې ئې دا کارونه وکړل، د حرم بې عزتي ئې وکړه او خپله دوئ عهد لیکلې دې او د دوئ د طرف نه ماتیږي نو ر ډیر شرونه ئې راجمع کړي وو)

نو عمرو بن سالم سیده مسجد نبوی ته ورسیدو چه په هغې کښې رسول الله ﷺ د ملګرو سره ناست دې، او په خپلو اشعارو کښې ئې خپله دغه مخکنئ واقعه بیان کړه۔

1 يَا رَبِّ اِنِّيْ نَاشِدٌ مُحَمَّدًا	❁	حِلْفَ اَبِيْنَا وَاَبِيْهِ الْاَتْلَدَا
2 قَدْ كُنْتُمْ وُلْدًا وَكُنَّا وَالِدَا	❁	ثُمَّ اَسْلَمْنَا فَلَمْ نَنْزِعْ يَدَا
3 فَانْصُرْ هَدَاكَ اللّٰهُ نَصْرًا اَعْتَدَا	❁	وَادْعُ عِبَادَ اللّٰهِ يَاْتُوْا مَدَدَا
4 فِيْهِمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ قَدْ تَجَرَّدَا	❁	اِنْ سِيْمَ خَسْفًا وَجْهُهٗ تَرَبَّدَا
5 فِيْ فَيْلَقٍ كَالْبَحْرِ يَجْرِيْ مُزْبِدَا	❁	اِنَّ قُرَيْشًا اَخْلَفُوْكَ الْمَوْعِدَا
6 وَنَقَضُوْا مِيْثَاقَكَ الْمُوَكَّدَا	❁	وَجَعَلُوْا لِيْ فِيْ كَدَاءٍ رَصَدَا
7 وَزَعَمُوْا اَنْ لَسْتُ اَدْعُوْ اَحَدَا	❁	وَهُمْ اَذَلُّ وَاَقَلُّ عَدَدَا
8 هُمْ بَيَّتُوْنَا بِالْوَتِيْرِ هُجَّدَا	❁	وَقَتَلُوْنَا رُكَّعًا وَسُجَّدَا

۱: اے زما ربه! زهٔ محمد ﷺ نه مطالبه کوم چه ددهٔ او زمونږ د پلارانو لوظونه راروان دی. (یعنی د پلارانو نه زمونږ ترمینځ لوظ او تعلق او ملګرتوب دے)
۲: بیا چه کله مونږ اسلام راوړو نو هم مونږ د یو بل نه لاس نهٔ دے راخکلے.
۳: نو تهٔ تیار مدد مونږ سره وکړه او د الله بندګان راووبله چه مدد دپاره راشی.
٤: چه په هغوی کښے د الله رسول وی چه توره ئے بربنډه کړی وی، هرکله چه څوك د هغهٔ ذلیله کول غواړی نو د هغهٔ مخ او رنګ بدلیږی او دا بد ګنړی.
٥: په داسے فوج کښے چه د دریاب په شان دے چه زګونه غورزوی، ځکه چه قریشو ستا د وعدے خلاف کړے او مضبوط لوظ ئے مات کړے او ما ته ئے په کداء علاقه کښے کسان کینولی.
٦: او د هغوی دا خیال وو چه زهٔ به هیڅوك نهٔ رابلم حال دا چه دوی ډیر ذلیله او کم شمار والا دی.
۷: دا هغه مجرمان دی چه په مونږ باندے ئے په وتیر علاقه کښے د شپے د تهجدو په حالت کښے حمله وکړه، ۸: او مونږه ئے د رکوع او د سجدے په حالت کښے ووژلو.
مطلب ئے دا وو چه داسے لوی فوج تیار کړه چه تهٔ پکښے خپله هم موجود ئے او په کافرانو حمله وکړه او زمونږ مدد وکړه.
او رسول الله ﷺ ته د مخکښے نه دا معلومه وه چه اول به دا لوظ قریش ماتوی، ځکه چه قرآن کریم کښے ورته اشارے شوے وے، چه اته کاله پس به تهٔ مکه فتح کوے. ددے وجه نه په حدیث کښے راغلی دی چه ددے واقعے نه درے ورځے مخکښے رسول الله ﷺ عائشے رضی الله عنها ته فرمایلی وو چه ما له اسباب تیار کړه زهٔ یو قتال ته روان یم. (یعنی ستوان، پړی، وسله تیره کول وغیره)،
پدے کښے ابوبکر صدیق ﷺ راننوتو وے وئیل:

[يَا بُنَيَّةُ مَا هٰذَا الْجِهَازُ ؟]

اے لورے! دا څنګه تیارے شروع دے؟ هغے ووئیل: ما ته پته نشته.
ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل:

[مَا هٰذَا بِزَمَانِ غَزْوِ بَنِي الْأَصْفَرِ فَأَيْنَ يُرِيْدُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ؟]

دا خو د رومیانو سره د جنګ زمانه هم نهٔ ده، (او د قریشو سره خو صلحه ده) نو بیا

رسول الله ﷺ چرته اراده لری؟ هغې ووېل: ما ته پته نشته.

عائشه رضی الله عنها فرمائی:

[فَاَقَمْنَا ثَلاثًا ثُمَّ صَلَّى الصُّبحَ بِالنَّاسِ فَسَمِعْتُ الرَّاجِزَ يُنْشِدُهُ]

نو مونږ درې ورځو پورې وسیدو تردې چه رسول الله ﷺ خلکو ته د سهار مونځ وکړو او دغه سړې راغې او رسول الله ﷺ ته ئې شعرونه ولوستل، د هغهٔ نه ئې مدد طلب کولو. (المعجم الکبیر للطبرانی ۲٤۸/۱۷ رقم: ۱۹٤۸۲) وفیه یحیی بن سلیمان بن نضله ضعیف)

(فائده: دلته عائشې رضی الله عنها خپل پلار ته هم خبر ورنکړو، دې ته وائی د راز ساتل، کله چه په یو بنده کښې د راز ساتنه نهٔ وی، دا هیڅکله نشی کامیابیدلې، خاصکر دا غزوه رسول الله ﷺ د خلکو نه پټه ساتله او د الله نه ئې دعاء هم کړې وه)

نو پدې کښې رسول الله ﷺ راغې، ابو بکر صدیق ﷺ ورته وفرمایل: اې د الله رسوله! د روم اراده لرې؟ وې فرمایل: نه، د هوازن قبیلې اراده لرې؟، وې فرمایل: نه، د قریشو اراده لرې؟ هغهٔ وفرمایل: آؤ، عرض ئې وکړو آیا قریش ګنې په وعده کښې نهٔ دی؟، وې فرمایل: قریشو وعده ماته کړیده.

درې ورځې مخکښې رسول الله ﷺ په وحی سره خبر ورکړو.

کله چه دې شاعر خپل شعرونه ووئیل نو نبی ﷺ ورته وفرمایل:

[نُصِرْتَ يَا عَمْرَو بْنَ سَالِمٍ]

ستا مدد وکړې شو، اې عمرو بن سالم! زهٔ بالکل ستاسو مدد ته تیاریم.

پدې کښې ناڅاپه وریځ راوختله نو نبی کریم ﷺ وفرمایل:

[إِنَّ هٰذِهِ السَّحَابَةَ لَتَسْتَهِلُّ بِنَصْرِ بَنِىْ كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ]

دا وریځ اشاره راکوی مونږ ته چه الله تعالیٰ به د بنی کعب (یعنی تاسو) سره مدد کوی، د قریشو په مقابله کښې.

پدې کښې د مکې نه د خزاعه قبیلې یو وفد هم راغې د زیات تاکید دپاره، ګویا که هغه شخص رالیږل صرف خبر ورکول وو او دا وفد به پوره خبره کوی.

نو پدې کښې بُدیل بن ورقاء خزاعی او نور کسان چه څلویښت کسان وو مدینې ته راورسیدل. رسول الله ﷺ د ملګرو سره ناست وو، دوئ ورسره ملاؤ شو او پوره خبره

ئے ورسره وکړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : چه مونږ بالکل په قریشو حمله کوو او تاسو به هم مونږ سره ملګرتیا کوئ۔ بیا بُدَیْل بن ورقاء او د هغهٔ ملګری ووتل او مکے ته لاړل۔ او دا ورته وویل شو چه دا خبره راز دے هیڅچا ته به ددے حال نهٔ ښکاره کوئ، نو پدے وخت کښے رسول الله ﷺ د الله تعالیٰ نه دعاء هم وکړه :

[اَللّٰهُمَّ خُذِ الْعُيُوْنَ وَالْأَخْبَارَ عَنْ قُرَيْشٍ حَتّٰى نَبْغَتَهَا فِيْ بِلَادِهَا]

اے الله ! د قریشو جاسوسان او استخبارات ړاندهٔ کړه چه زمونږ په خلاف هغوی تیارے ونکړی او مونږ هغوی باندے د هغوی په ښارونو کښے ناڅاپی حمله وکړو۔

نو الله دا دعاء قبوله کړه چه قریش ئے بیخی په غفلت کښے واچول او هغوی د رسول الله ﷺ د تیاریٔ او د حملے نه خبر نهٔ وو تردے چه مکے ته وررسیدل بیا خبر شو۔

او د مدینے په انقابو (لارو) باندے کسان هم مقرر کړل چه څوك د مدینے نه بهر وځی نو هغوی بیرته راستانهٔ کړی۔

بدیل بن ورقاء مکے ته واپس روان وو نو پدے کښے ابوسفیان ورله مخے ته ُراغے۔

د ابوسفیان مدینے ته راتلل او د عهد تازه کول :

قریش په خپل خیانت او غداریٔ پوهه شول نو خپل مینځ کښے مشورے ته کیناستل چه مونږ خو لوظ مات کړو او نقصان مو وکړو که چرے محمد ﷺ خبر شی، (الله تعالیٰ په قریشو باندے د رسول الله ﷺ یو خاص رعب اچولے وو)

او حمله راباندے وکړی نو تباه به مو کړی۔ نو دویٔ وویل چه نبی ﷺ ته خبر ونهٔ رسیږی نو په جلتیٔ څه چل کول پکار دی، عبد الله بن سعد بن ابی السرح (چه دا اول کښے مسلمان وو او د رسول الله ﷺ د وحی کاتب هم وو بیا مرتد شوے وو، بیا ئے اسلام راوړے وو لکه ددهٔ واقعه به روستو راشی ان شاء الله تعالیٰ) وویل :

چه زهٔ ددے نبی سره پاتے شوے یم ما ته ددهٔ اخلاق معلوم دی، ډیر نرم انسان دے، هغه په تاسو باندے حمله نهٔ کوی، آسان کار وکړئ۔ اول دا چه دیت راجمع کړئ او خزاعه قبیلے ته ئے ورکړئ، نو نبی ﷺ په تاسو څه له حمله کوی، خو خزاعه پدے خبره راضی کړئ، هغوی به لاړ شی د الله نبی ته به ووائی چه مونږه ئے وژلی وو خو

دیت ئے راکړو، خبره ختمه شوه۔

قریشو وویل چه دیت خو نشو ورکولے : [مَا تَرْضٰی خُزَاعَةُ اِلَّا بِكُلِّ اَمْوَالِنَا]

خزاعه خو زمونږ نه نهٔ راضي کیږی، مګر هله چه ټول مالونه ورکړے شی، هغوی خو به زمونږ نه ټول مالونه ویسی بیا به تجارت په څه کوو۔

بیا ئے وویل : که دا نشیٔ کولے نو بل حل دا دے چه خزاعه قبیلے نه معافی طلب کړیٔ، یا ورته قصاص ورکړیٔ۔

نو هغوی وویل : چه دا هم نشو کولے ځکه چه دا کسان خو د قصاص اخستو دپاره وژلے شویدی نو بیا ورله قصاص ورکولو کښے فائده څه شوه۔

بیا ئے وویل چه بس حملے ته تیار شیٔ چه نبی به راشی او په تاسو به حمله کوی،

نو هغوی وویل چه د تورے طاقت هم نهٔ لرو، نو ډیر زیات پریشانه شو۔

نو ابوسفیان پکښے وویل چه زما یوه رایه ده په هغے عمل پکار دے، هغه دا ده چه نبی ﷺ به لا خبر شوے نهٔ وی نو زهٔ به مدینے ته لاړ شم او هغهٔ ته به ووایم چه مونږ دوه کاله مخکښے کومه وعده کړے وه نو هغه بیا تازه کوو او لږ شان ډیر والے پکښے کوو۔ (مثلًا د لسو په ځائے به ئے شل کړو) که دا عهد ئے تازه کړو او زیات ئے کړو نو که بیا ورته د خزاعه قبیلے خبر ورسیږی نو نهٔ به ئے شی ماتولے ځکه چه دا لوظ خو به د جګړے نه روستو تازه شوے وی۔

نو د قریشو پدے خبره اتفاق راغے چه همداسے کول پکار دی، نو پدے وخت کښے ابوسفیان د قریشو مشر دے، هغه مکے ته روان شو، نو په لاره کښے په عُسفان علاقه کښے ورسره بُدیل بن ورقاء ملاؤ شو او دهٔ سره نور ملګری هم وو لیکن هغهٔ ئے په لارو کښے تس نس کړی وو چه څه په یوه لاره او څه په بله لاره مکے ته لاړ شی دے دپاره چه قریش خبر نشی۔

خو دبدیل سره بعض ملګری راروان وو، د ابوسفیان ګمان راغلو چه دا به مدینے ته تلے وی، نو تپوس ئے ترے وکړو چه مدینے ته خو نهٔ وئ تلی؟ هغهٔ وویل چه نهٔ یو تلی، مونږ دلته د خزاعه قبیلے څه غمخواریٔ او څه نور کارونه وو، هغے له تلی وو۔

د مدینے کجورے خو درسره نشته نو دویٔ وویل چه هغه هم نشته۔

پدے کښے ابوسفیان د دویٔ نه جدا شو او دا فکر ئے وکړو که دا خلك مدینے ته تلی

وی نـو زمـونږ کـار بـه ډیر خراب شی، زما دا سفر به ضائع شی، نو معلومات کوم نو بیرتـه راغـے د بـدیـل بـن ورقاء خزاعی اُوښه چه کوم ځائے چوکړے وه نو د هغے پچے ئے راواخستے او ماتے ماتے ئے کړے نو وے کتل چه په هغے کښے د کجورو هډوکی وو. (لـکـه دا کـارئے په بدر کښے هم کړے وو) نو دهٔ وویل چه قسم په الله بُدیل مدینے ته تلے دے او د محمد رسول الله ﷺ سره ملاؤ شوید ے۔

د اُوښانـو پـه پـچـو کښے ئے د مدینے هډوکی دی۔ خو بیا هم سره د ډیر شك نه مدینے طرفته مجبوراً روان شو، تردے چه مدینے ته ورسیدو۔

رسـول الله ﷺ جلتـی ونکړه چه سمدست ابوسفیان راونیسی او دا ووائی چه دوئ وعـده مـاتـه کـړیده او مړئے کړئ۔ جهاد د جلتبازئ شے نهٔ دے، ځوك چه جلتی کوی نو هغـه اکثـر پـیل کیږی، کـه نهٔ وی دا د قریشو مشر وو ددهٔ نه بـه ئے دنیا وزګاره کړے وے، هیچا ترے تپوس هم نشو کولے۔

دے لاړو سـوچ ئے وکړو چه د چا کره به میلمه شم، بیا ئے وویل چه دلته زما د لور کور دے، ام حبیبـه رضـی الله عـنـهـا، چه دا د ابوسفیان لور ده او د نبی کریم ﷺ بی بی ده او حبشو تـه ئے هجرت کړے او د هغه ځائے نه نجاشی بادشاه ورته په نکاح ورکړیده۔

نـو ابوسفیان ام حبیبه رضی الله عنها کره لاړو ورئے ووهلو نو اجازت ورته ملاؤ شو، کـلـه چه ابـوسـفـیـان ننـوتـو نو یوه بستره پرته وه په هغے باندے کیناستو نو ام حبیبه رضـی الله عـنـهـا پـه منـډه راغـلـه او هغه ئے پورته کړه، ابوسفیان حیران شو او ورته ئے وویل :

[يَا بُنَيَّةُ أَرَغِبْتِ بِي عَنْ هٰذَا الْفِرَاشِ أَمْ رَغِبْتِ بِهِ عَنِّي؟]

آیا مـا سره ددے بستـرے نـه میـنـه کـوے چه بـلـه بهترینه بستره اچوے او که ددے بسترے سره دے زما په بدله کښے مینه وکړه۔ نو د ام حبیبے ایمانی جواب ته وګوره :

[هُوَ فِرَاشُ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَاَنْتَ رَجُلٌ مُشْرِكٌ نَجَسٌ فَلَمْ أُحِبَّ اَنْ تَجْلِسَ عَلَيْهِ]

دا د الله د رسول ﷺ بستره ده او ته یو مشرك پلیت سړے ئے نو زهٔ نهٔ خوښوم چه تهٔ پدے باندے کینے۔

نو هغهٔ ته دے خبرے ډیر سخت درد ورکړو او صرف دا ئے وویل :

[لَقَدْ اَصَابَكِ بَعْدِیْ شَرٌّ]

یقیناً چه زما د جدایئ نه روستو تا ته شر رسیدلے دے، (یعنی هیڅ ادب درکښې نشته)۔

کله یو تن د الله د دین د خاطره یوه سخته خبره وکړی نو خلك هغې ته بے ادبی وائی، هغهٔ بے ادبی نهٔ وی بلکه د الله د دین دپاره غیرت وی۔ بے ادبه خو هغه خلك دی چه د الله او د رسول خبرے نهٔ منی، یا ورته هغه معمولی او سپکے ښکاره کیږی۔

شر یو عام لفظ دے چه دماغ خرابیدو، بے ادبئ او بد اخلاقئ ټولو ته شامل دے۔

(**فائده** : ددے واقعے نه د الولاء والبراء عقیده زدهٔ کول پکار دی، چه یو تن حربی کافر دے، نو داسے دشمن به ئے ګنړلے لکه څنګه چه ام حبیبے رضی الله عنها خپل پلار ابوسفیان ګنړلے دے، که دا بله زنانه وے او دومره موده ترے پلار جدا شوے وے او بیا ورسره ملاؤ شوے وے نو غاړه به ئے ورکړے وے او سخته ژړا به ئے ورته کړے وے، آؤ، دا خبره صحیح ده چه په باب د دعوت کښے به د انتهائی اخلاقو نه کار اخستے شی، او سختی به نشی کولے لیکن په بعض موقعو کښے سختی عین دعوت وی دا هله چه کله یو تن سخت ضدی وی)۔

نو ابو سفیان د خفګان په حالت کښے بهر ووتو۔ بیا نبی کریم ﷺ خوا ته مسجد ته راغے د هغهٔ سره ئے خبرے وکړے په باره د تجدید د صلح کښے لیکن رسول الله ﷺ ورته هیڅ جواب ورنکړو۔

د سیرت په بعض کتابونو کښے دی چه

[فَسَكَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَلَمْ يُجِبْهُ بِكَلِمَةٍ]

رسول الله ﷺ غلے شو او هغهٔ ته ئے د یوے خبرے جواب هم ورنکړو۔ ځکه چه هغه خو د دوئ د هر څه نه خبر شوے دے۔

او بعضو روایاتو کښے دی چه داسے جواب ئے ورکړو چه هغه ئے غلے کړو لکه چه روستو راځی۔

ددے ځائے نه چه ووتو نو فکر ئے وکړو چه ابو بکر صدیق ﷺ مشر دے دهٔ له به ورشو، هغهٔ ته ئے وویل :

[فَكَلَّمَهٗ اَنْ يُّكَلِّمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ]

نو هغهٔ ته ئے وویل چه د رسول الله ﷺ سره زما د کار په باره کښے خبره وکړه، یعنی

چه ما سره وعده دوباره تازه کړي۔ نو هغهٔ وفرمایل:

[جِوَارِيْ فِيْ جِوَارِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

زما پناهي ورکول د رسول الله ﷺ په پناهي ورکولو کښې دي۔ که هغه پناهي ورکوي زهٔ ئې هم ورکوم او که هغه ئې نهٔ ورکوي نو زهٔ ئې هم نهٔ ورکوم۔

بیا ئې وویل چه دویم مشر سړے عمر ﷺ دے، نو عمر بن خطاب ﷺ خواته ورغلو نو هغهٔ سره ئې خبره وکړه چه تهٔ پناهي ورکړه۔ نو هغهٔ ورته وویل:

[ءَ اَنَا اَشْفَعُ لَکُمْ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ؟ فَوَ اللّٰهِ لَوْ لَمْ اَجِدْ اِلَّا الذَّرَّ لَجَاهَدْتُّکُمْ بِهٖ]

آیا زهٔ به ستاسو دپاره رسول الله ﷺ ته سفارش وکړم؟ قسم په الله که زهٔ انسانان نهٔ مونده کوم نو میږان ځان سره ملګري کوم او تاسو سره به جنګ کوم۔

بیا ابوسفیان عثمان ﷺ ته ورغلو او دائې ورته وویل چه ستا خبره رسول الله ﷺ نهٔ ردکوي او په دے خلکو کښې تهٔ ما ته ډیر نزدے ئې او په مونږ ډیر رحم کونکے ئې۔ هغهٔ هم د ابوبکر صدیق ﷺ په شان جواب ورکړو۔

بیا علی بن ابی طالب ﷺ خواته راغلو او هلته فاطمه رضی الله عنها هم وه او حسن او حسین هم ناست وو لوبے ئې کولے۔ علي ﷺ ته ئې وویل چه تهٔ د خلکو ترمینځ پناهي ورکړه۔ هغهٔ وفرمایل:

[وَيْحَكَ يَا اَبَا سُفْيَانَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَدْ عَزَمَ اَنْ لَّا يَفْعَلَ، وَلَيْسَ اَحَدٌ يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّكَلِّمَهٗ فِيْ شَيْءٍ يَكْرَهُهٗ] ۔

اے ابوسفیانه! خوار شے، رسول الله ﷺ د یو کار نهٔ کولو اراده کړیده او هیڅوك دا طاقت نهٔ لري چه د رسول الله ﷺ سره په یو کار کښې خبرے وکړي چه هغه ئې بد ګڼړي۔ بیا ئې فاطمے رضی الله عنها ته وویل: تهٔ دا کار وکړه، تهٔ د رسول الله ﷺ لور ئې، هغے وویل: زهٔ زنانه یم او زنانه دا کار نشي کولے۔ بیا ئې وویل چه خپل ځوی حسن ته حکم وکړه چه هغه دا کار وکړي [فَيَكُوْنُ سَيِّدَ الْعَرَبِ اِلٰی آخِرِ الدَّهْرِ]

نو هغه به تر آخر د زمانے پورے د عربو سردار جوړ شي۔

نو هغے وویل چه زما ځوی لا دے درجے ته نهٔ دے رسیدلے چه هغه داسے لوی کار وکړي او د رسول الله په خلاف هیڅوك پناهي چاته نشي ورکولے۔

دلته یوه بله واقعه راغله چه په صحیح مسلم کښې راغلې ده : کله چه ابو سفیان علی بن ابی طالب رضی الله عنه خوا ته ورتللو نو په لاره کښې د سلمان او بلال او صهیب او عمار بن یاسر رضی الله عنهم او نورو صحابه کرامو سره ملاؤ شو چه هغوی په یو ځائے کښې ناست وو نو هغوی ورته تندے راتریو کړو (او هیڅ سترګې مشی ئې هم ورته ونکړه) او ډیر بد بد ئې ورته وکتل چه دا هغه مشرك او د الله دشمن دے چه په مدینه کښې په آرام سره ګرځي، او دا خبره ئې هم وکړه :

[مَا اَخَذَتْ سُيُوْفُ اللّٰهِ مِنْ عُنُقِ عَدُوِّ اللّٰهِ مَأْخَذَهَا]

د الله توره د الله د دشمن په څټ کښې استعمال نشوه، آرمان دے!!۔

نو ابو بکر صدیق رضی الله عنه دا خبره واوریده نو هغوی ته ئې وویل چه :

[اَتَقُوْلُوْنَ هٰذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ]

آیا تاسو دا خبرے د قریشو یو مشر او سردار ته کوئ، داسے خبرے نهٔ دی پکار۔

او ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغے نبی کریم ﷺ ته ئې دا شکایت وکړو چه دغه ملګرو داسے داسے خبرے وکړے، نو رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته وفرمایل :

[يَا اَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ لَئِنْ كُنْتَ اَغْضَبْتَهُمْ فَقَدْ اَغْضَبْتَ رَبَّكَ] (مسلم : ٦٥٦٨)

اے ابو بکر ! شاید چه تا به دغه کسان خفه کړی وی، نو که تا هغوی غصه او خفه کړی وی نو تا خپل رب خفه کړیدے۔

(الله تعالیٰ په خپلو غیرتی اولیاؤ باندے داسے غیرت کوی چه بیا د ډیرو اُوچتو خلکو لحاظ هم نهٔ کوی، د صدیق اکبر رضی الله عنه نه په امت کښې څوك اُوچت کیدے شی خو بیا هم ورته داسے خبره کوی څکه چه دغه کسانو د الله د وجه نه دا خبره کړے وه)

نو هغه په جلتئ باندے لاړو او هغه کسانو ته ئې وویل :

[يَا اِخْوَتَاهُ اَغْضَبْتُكُمْ ؟]

اے زما ورونو ! آیا تاسو ما نه په مخکنئ خبره خفه شوی یئ؟ ۔

هغوی وویل : [لَا، يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكَ يَا أُخَيَّ]

نه، اے زمونږ وروره ! تا ته دِے الله تعالیٰ بخنه وکړی، نو هغوی ئې رضا کړل۔

د ابوسفیان د علی ﷺ سره مشوره :

بیا هرکله چه د ابوسفیان سترګو ته دنیا تیارۀ شوه نو په ډیره نا امیدۍ او پریشانۍ او تنګۍ کښې ئې د علی بن ابی طالب ﷺ نه مشوره واخستله او دا ئې ووېل :

[یَا اَبَا الْحَسَنِ !، اِنِّیْ اَرَی الْاُمُوْرَ قَدِ اشْتَدَّتْ عَلَیَّ، فَانْصَحْنِیْ]

اې ابو الحسن ! ما باندې کارونه ډیر سخت شو نو ما ته یوه داسې خبره وکړه چه زما پکښې فائده وی، نو هغۀ ورته ووېل چه ما ته صرف یوه خبره معلومه ده چه هغه به تا ته فائده درکړي، تۀ د بنو کنانه ؤ سردارئې نو تۀ مسجد نبوی ته لاړ شه او تۀ خلکو کښې پاڅه او اعلان وکړه چه

[اِنِّیْ اَجَرْتُ بَیْنَ النَّاسِ ثُمَّ الْحَقْ بِاَرْضِكَ]

ما لوظ تازه کړو او پناهی مې ورکړه۔ او بیا خپل کلی ته روان شه۔

نو هغۀ ووېل : [وَهَلْ یُغْنِیْ عَنِّیْ شَیْئًا]

آیا دا کار به ما ته څه فائده راکړي، خلك به دا خبره ومنی؟۔ هغۀ ورته وفرمایل :

[لَا وَاللّٰهِ مَا اَظُنُّهٗ، وَلٰکِنِّیْ لَمْ اَجِدْ لَكَ غَیْرَ ذٰلِكَ]

نه، زۀ ددې ګمان نۀ کوم، لیکن ما ته ستا دپاره ددې نه سویٰ بله خبره نۀ ده معلومه۔ دا یوه مشوره ده۔

نو ابوسفیان مسجد نبوی ته راغلو او هلته رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره ناست وو نو دۀ ووېل : [اَیُّهَا النَّاسُ، اِنِّیْ قَدْ اَجَرْتُ بَیْنَ النَّاسِ، ثُمَّ رَکِبَ بَعِیْرَهٗ وَانْطَلَقَ]

اې خلکو ! ما د خلکو ترمینځ پناهی ورکړه او دواړه ډلې به په یو بل حمله نۀ کوی او صلح کښې زیادت وشو۔ او ددې وینا نه روستو په خپل اُوښ باندې سور شو او مکې ته روان شو۔

د سیرت په بعض روایتونو کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ غلې پاتې شو، هیڅ ئې ونۀ وئیل۔ او په بعضو کښې دی چه داسې ئې ووېل :

[اَنْتَ تَقُوْلُ ذٰلِكَ یَا اَبَا سُفْیَانَ]

دا ستا خبره ده اے ابوسفیان !۔ یعنی مونږ ددے منونکی نهٔ یو۔

ابوسفیان چه کله مکے ته راغلو نو قریشو ورته وویل : [مَا وَرَاءَكَ؟] چه څه دے وکړل؟

هغهٔ وویل : زهٔ لاړم د محمد (ﷺ) سره مے خبرے وکړے خو ما ته ئے هیڅ جواب رانکړو، بیا ابن ابی قحافه ته ورغلم [فَلَمْ اَجِدْ فِيهِ خَيْرًا] نو هغهٔ کښے مے څه خیر ونهٔ موندو۔ (دهٔ ته ئے بے خیره ځکه ووئیلو چه ددهٔ پکښے فائده نهٔ وه ورنه صدیق اکبر ؓ د ډیرو خیرونو والا سړے وو)

بیا عمر بن خطاب ؓ ته ورغلم [فَوَجَدْتُهٗ اَدْنَى الْعَدُوِّ]

نو هغه مے نزدے یا ناکاره دشمن وموندو۔

او علی بن ابی طالب ؓ خوا ته ورغلم [فَوَجَدْتُهٗ أَلْيَنَ الْقَوْمِ] نو هغه مے خلکو کښے نرم وموندو۔ هغهٔ څه وکړل؟ وے وئیل :

[قَدْ اَشَارَ عَلَيَّ بِشَيْءٍ صَنَعْتُهٗ]

ما ته ئے د یو کار مشوره راکړه چه ما هغه وکړو، قسم په الله نهٔ پو هیږم چه آیا هغه به ما ته فائده راکړی یا نهٔ۔ هغوی وویل : [وَبِمَ اَمَرَكَ ؟]۔

تا ته ئے په کوم کار حکم وکړو؟۔ ورته ئے وویل : چه خلکو کښے اعلان وکړه چه ما خلکو ته پناهی ورکړه نو ما دا کار وکړو۔ هغوی ورته وویل :

[فَهَلْ أَجَازَ لَكَ مُحَمَّدٌ ؟]

آیا محمد تا ته ددے اجازه درکړه او ستا خبره ئے قبوله کړه؟ هغهٔ وویل : نه، قریشو ورته وویل :

[وَيْلَكَ، إِنْ زَادَ الرَّجُلُ اِلَّا اَنْ لَعِبَ بِكَ]

خوار شے، دغه سړی خو ستا په عقل باندے لوبے کړیدی، چه د یو داسے خبرے حکم ئے درته وکړو چه هیڅ فائده ئے درنکړه۔ نو هغهٔ وویل : قسم په الله چه ما ددے نه سوی بل څه نهٔ موندل۔

نو قریش په ډیر هیبت کښے وو، انتظار کښے وو چه نن به حمله کیږی او صبا به کیږی، او دلته رسول الله ﷺ د مجاهدینو تیارے کولو۔

د غزا تیاری :

دلته رسول الله ﷺ تیاری شروع کړه لکه چه د درے ورځو نه مخکښے ئے تیاری شروع کړے وه، او د الله تعالیٰ نه ئے دعا وکړه چه د قریشو نه اخبار پټ کړی، نو په داسے موقعه کښے هغوی خبر شول چه رسول الله ﷺ ځان ښکاره کول وغوښتل، نزدے ور ورسیدل او قریش د مخکښے صرف هسے د ګمان په درجه کښے په انتظار کښے وو۔

د الله رسول لکه څنګه چه نبی وو نو دغه شان په جنګی کارونو هم ډیر پوهه وو او اعلیٰ قائد وو، نو د الله رسول حکم وکړو چه هیڅوك به د مدینے نه بهر نۀ ووځی تر هغه وخته پورے چه زمونږ فوج وتلے نۀ وی او یو ځائے ته رسیدلے نۀ وی، بهر نه خلك راتللے شی، سخته پابندی ئے ولګوله، ځکه چه رسول الله ﷺ خلیفه هم وو۔ او د مدینے نه بهر ئے خلك مقرر کړل چه په لارو کښے ودریږی چه څوك بهر ونۀ وځی او قریشو ته خبر ورنکړی۔

د بنو سُلیمو اسلام :

نو دلته یو څو کارونه وشو یو دا چه یو څو کسانو ته الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړو، نبی کریم ﷺ په مدینه کښے پدے وخت کښے اوه نیمه زره (۷۵۰۰) فوج تیار کړے وو نو ټولو ته خبر وشو چه جهاد ته به ووځو۔

نو پدے کښے الله تعالیٰ بنو سُلَیمو ته هدایت وکړو، ټولو ایمان راوړو او د هغوی نه زر (۱۰۰۰) شاهسواران د اسونو سره مدینے ته رانڼوتل چه وسلے ورسره ښے پوره وے، نبی کریم ﷺ پدے باندے ډیر زیات خوشحاله شو ځکه چه دا یوه نوے فتح راغله، دا ډیر لوی مدد وو،

نو پدے کښے عُیَیْنَه بن حِصْن فَزَاری ته چا ووئیل چه محمد رسول الله ﷺ غالبه کیږی، یو ځائے بل ځائے ئے ونیولو او عامه غلبه ورته ملاؤ شوه نو راشه په اسلام کښے داخل شه، ورنه بیا به روستو ذلیله شے، نو هغۀ یوه خپه مخکښے کوله او بله ئے روستو کوله، او پدے طریقه هغه هم مدینے ته راغے، او په اسلام کښے داخل شو خو دے خلکو باندے د مشریٔ صفت غالبه وو، مشری او د دنیا عزت ئے غوښتو،

(بعض کسان په بصیرت ایمان راوړي او بعض د مال او د مشرئ دپاره ئے راوړي، دا ایمان هم صحیح دے، روستو ښهٔ کیږي، ځکه چه رسول الله ﷺ چا ته دا نهٔ وئیل چه تا د پیسو او مشرئ دپاره ایمان راوړیدے، ستا ایمان قبول نهٔ دے، بلکه د هر چا ایمان به ئے قبلولو، بلکه خلکو ته به ئے مالونه ورکول دے دپاره چه اسلام ته راننوزي او کله چه د اسلام خوند ورته معلوم شی خپله به مضبوط شي، رسول الله ﷺ سره د خلکو د ایمان غم وو۔

عُیَینَه بن حِصن فَزاري ځان سره خپل ټول قوم رانهٔ وستو بلکه لږ شان کسان ورسره وو، مګر نبي کریم ﷺ ددهٔ په اسلام باندے هم خوشحاله شو ځکه چه د غطفان قبیلے مشر دے، دا هغه سړے دے چه د خندق په غزا کښے ئے د مسلمانانو په خلاف څلور زره (۴۰۰۰) فوج راوستے وو، زر (۱۰۰۰) کسان ئے په خیبر کښے یهودو ته ورکړي وو د نبي ﷺ د مقابلے دپاره۔

دهٔ ته رسول الله ﷺ اول کښے الاحمق المطاع وئیلے وو چه کم عقل سړے دے لیکن قوم ئے په هر څه کښے خبره مني نو کیدے شي چه ددهٔ سره ډیر قوم اسلام ته راشي۔

دغسے بعض نورے قبیلے هم راغلے لکه بنو تمیم چه د دوئ مشر اقرع بن حابس وو، احادیثو کښے راغلي دي چه اقرع بن حابس د وفد سره راغے، مسجد نبوي ته راننوتل، او بلال ﷺ د ماسپښین اذان وکړو او خلك د رسول الله ﷺ د راوتو په انتظار کښے وو نو اقرع بن حابس جلتي وکړه او د رسول الله ﷺ راوتل ئے نا وخته وګڼړل نو دهٔ رسول الله ﷺ ته د حُجرے نه بهر آواز وکړو،

(بعض خلکو کښے تیزي وي، او د چا د ظروفو او د اوقاتو لحاظ نهٔ ساتي خپل غرض پوره کول غواړي نو دهٔ هم جلتي وکړه او داسے آواز ئے وکړو)

[يَا مُحَمَّدُ اُخْرُجْ اِلَيْنَا]

اے محمد (ﷺ) مونږ ته راوځه۔ درے کرته ئے داسے آواز وکړو نو رسول الله ﷺ ته ددے آواز نه ډیر تکلیف ورسیدو۔ بیا اقرع بن حابس داسے ووئیل (زهٔ یو شاعریم):

[اِنَّ مَدْحِيْ (وَفِيْ رِوَايَةٍ حَمْدِيْ) زَيْنٌ وَاِنَّ ذَمِّيْ شَيْنٌ]۔

زهٔ چه د چا صفت وکړم هغه ښائسته کیږي او زهٔ چه د چا بدي بیان کړم هغه بد رنګیږي، بیا ئے خلك هم بدي وائي۔

نو رسول الله ﷺ راووتو او د اخلاقو د وجه نه ئې نور څه ورته ونهٔ وئیل صرف دا ئې ورته وویل : [سُبْحَانَ اللّٰهِ ذَاكَ اللّٰهُ]۔

تعجب دے، دغه صفتونو والا خو الله تعالىٰ دے۔ (الله چه د چا صفت وکړی هغه ښائسته کیږی الخ)

که ټوله دنیا تا ته بد وائی او الله تعالىٰ تا ښهٔ ګڼړی نو هیڅوك ډیے نشی بد کولے او که ټوله دنیا ستا صفتونه کوی خو چه د الله بدی شوے نو هیڅکله به ښائسته نشے، ددے وجه نه انسان په دین باندے او د الله تعالىٰ په تعلق باندے ښائسته کیږی، د ښائست اصلی سبب ډیرو بندګانو پریخودے دے۔

او ددے نه روستو الله تعالىٰ د قرآن کریم دا آیتونه نازل کړل :

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ﴾

(کوم خلك چه ستا د کوټو نه اخوا تا ته آوازونه کوی، اکثر د دوئ نه بے عقله دی۔

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ﴾ ۔

که دوئ صبر کړے وے تردے چه تهٔ دوی ته راوځے خامخا دا به دوی له ډیره بهتره وه۔

(سنن الترمذی : ۳۲۶۷) واسناده صحیح)

ددے وجه نه صحابه کرامو دا ادب زده کړے وو چه رسول الله ﷺ به اُودهٔ هم وو نو نهٔ به ئې راپاڅولو، کیدے شی چه هغهٔ ته وحی کیږی، او کور کښے چه به دننه وو نو آواز به ئې ورته نهٔ کولو چه یا رسول الله ! راوځه زمونږ درسره کار دے، بلکه انتظار به ئې کولو۔

د هغهٔ د وتلو وخت معلوم وو په هغے کښے به راوتو، بیا به ورسره خلك ملاؤ شول ځکه چه رسول الله ﷺ خپل اوقات تقسیم کړی وو، څه وختونه ئې عبادت له او څه د خلکو خدمت او تربیت له او ورسره تعلیم به ئې هم ورکولو او مشورے به ئې هم کولے۔

الغرض : اقرع بن حابس ایمان راوړو (رضی الله عنه) او دا ئې وویل چه بنو تمیم زما تابع دی، هغوی به هم ایمان راوړی او څه کسانو پکښے ایمان راوړیدے نو نبی ﷺ پدے باندے هم خوشحاله شو ځکه چه دا د فتح نه مخکښے فتحے راغلے۔

نو ددے خلکو د راتګ د وجه نه تقریباً لس زره (۱۰۰۰۰) فوج تیار شو، دوی ئې هم

ځان سره روان کړل۔

(**فائده :** دا حدیث دلیل دے پدے خبره چه د جهاد دپاره دا ضروری نهٔ ده چه انسان به ډیره موده په ایمان باندے خواری کړی وی بیا به جهاد ته ځی لکه چه بعض صوفیاء وائی چه د جهاد نه مخکښے به اوپا کاله د ایمان تربیت کوے۔ (یعنی کله چه ډیے په لاس کښے وسله نشوه نیولے نو بیا به جهاد ته ځے) دا خبره خطاء ده، صحابه کرامو به نن ایمان راوړو صبا به جهاد ته روان شو، جهاد خپله د تربیت ذریعه ده او ایمان ورسره مضبوطیږی کله چه صحیح جهاد وی او مشران صحیح تربیت والا خلك وی۔

دلته یوه **بله واقعه** راغله :

د حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه واقعه :

حاطب بن ابی بلتعه ﷺ یو بدری صحابی دے، ډیر اُوچت مؤمن دے لیکن د مؤمنانو نه هم کله بعض لغزش کیدے شی، اجتهاد کښے خطاء کیږی، دهٔ په زړهٔ کښے وویل چه مکے والا ته خبرونه بند دی، زهٔ به هغوی ته یو خبر ولیږم، پدے کښے به زما فائده دا وشی چه هلته زما ښځه او بچی دی، او زهٔ د قریشو نه نهٔ یم بلکه د قریشو سره پیوسته یم، (دا د قریشو سره مُلْصَق وو۔ ملصق به ئے هغه چا ته وئیلو چه د بل قوم نه به یو تن راغلو او پدے قوم کښے به ئے ځان ورننویستو)،

نو د نبی ﷺ د نورو مهاجرینو ملګرو په مکه کښے بچی پاتے شوی وو لیکن نور خپلوان ئے هم وو، خپلوانو کافرانو به ددے ماشومانو او زنانو حفاظت کولو د قوم پرستئ او خپلولئ د وجه نه، او دهٔ وویل چه زهٔ پردے سړے وم، زما د بچو د حفاظت څوك نهٔ وو خلکو به هغوی ته تکلیفونه ورکول)

نو ما اراده وکړه چه ددے ځائے نه به قریشو ته پټ خبر ولیږم نو قریش به زما نه خوشحاله شی، نو ددے په بدله کښے زما ماشومانو ته څه نهٔ وائی، دا ګمان به کوی چه دے زمونږ په مدینه کښے ملګرے دے۔

نو دهٔ یو خط ولیکلو چه په هغے کښے ئے داسے ولیکل :

[مِنْ حَاطِبِ بْنِ اَبِیْ بَلْتَعَةَ اِلٰی اُنَاسٍ مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ مِنْ اَهْلِ مَكَّةَ یُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ اَمْرِ

رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ] [بخاری : ٣٠٠٧]

دا خط د حاطب بن ابی بلتعه د طرف نه دے د مکے والو څه مشرکانو طرفته چه هغوی ته دا خبر ورکوی چه رسول الله ﷺ په دوئ باندے حمله کوی)

صرف دومره لنډه خبره ئے ولیکله.

(پدے کښے نور د هغوی ددوستانے هیڅ خبره نۀ وه، او نۀ د اسلام سپکوالے ئے په زړۀ کښے وو، صرف دوه خبرے ئے په زړۀ کښے وے یو د ښځے او د بچو حفاظت، او دویم ددۀ زړۀ کښے راغلل چه نبی ﷺ خو هسے هم د الله رسول دے، الله به ورله خامخا غلبه ورکوی که مشرکانو ته مونږ هر څومره خبر ورکړو هغوی پرے نشی غالبه کیدے نو زما دا خبر هغوی ته ورکول هغوی دپاره دومره فائده من نۀ دی او زما فائده به وشی، دا ئے اجتهاد وو)

نو ددے خط د رسولو ذریعه ئے دا پیدا کړه چه د عبد المطلب د بچو د وینځو نه یوه زنانه چه ساره نوم ئے وو، مدینے ته راغلے وه (د نبی کریم ﷺ خپلوانه وه) حاطب لاړو هغے سره ئے خبره وکړه چه تۀ مکے ته ځے او تا څوك نۀ منع کوی ځکه چه یوه زنانه ئے، نو زما دا یو خط مکے والو ته ورکړه او دا زنانه پدے زمانه کښے مشرکه ده، او هغے ته ئے امر وکړو چه په داسے لاره باندے اُوځه چه مکے والو لاره نۀ ده، چه عام خلك دربانده گمان ونکړی، نو هغه د مدینے نه په بله لاره ووته چه هغه د مکے لاره نۀ وه بیا به روستو د مکے لارے ته راتاوېږی،

کله چه زنانه خط روان کړو نو پدے کښے الله تعالیٰ جبریل علیه السلام راولیږلو نبی کریم ﷺ ته ئے خبر ورکړو چه حاطب ﷺ یوے زنانه له خط ورکړے او هغه زنانه په رَوْضَةُ خَاخ علاقه کښے روانه ده، نو رسول الله ﷺ په جلتئ سره درے مجاهدین تیار کړل چه هغوی منډے والا او اسونو والا هم وو ، یو علی بن ابی طالب ﷺ، بل زبیر بن العوام ﷺ او دریم مقداد بن الاسود ﷺ او بعض روایاتو کښے ابو مَرْثَد الْغَنَوِی ﷺ ذکر کیږی. او دواړه د بخاری روایتونه دی. رقم (٣٠٠٧) (٣٩٨٣).

او دوئ ته ئے صرف دا وویل چه د هغے نه خط راوړئ، د زنانه د وژلو وغیره حکم ئے ونکړو. دوئ په جلتئ باندے روان شو،

علی ﷺ فرمائی : مونږ په روضة خاخ علاقه کښے دغه زنانه وموندہ کوم ځائے چه

رسول الله ﷺ خودلے وو چه په اُوښ باندے روانه وه۔ زنانه ته ئے وویل [الْكِتَابَ] ۔
خط راکړه، هغے وویل : [مَا مَعَنَا كِتَابٌ]۔
ما سره هیڅ خط نشته، بیا ئے ورته وویل چه خط راکه، زور او زاری ئے ورته کوله چه خط راکړه۔ (ګوتے ئے نشوے وروړے ځکه چه پردئ زنانه ده) او هغے انکار کولو،
نو مونږ د هغے اُوښه کینوله او د هغے نه مو مطالبه وکړه خو مونږ هیڅ خط ونهٔ لیدو۔
بعضو ملګرو وویل چه کیدے شی خط به ورسره نهٔ وی، نو علی ﷺ متوجه کړل چه محمد رسول الله ﷺ وائی چه خط ورسره دے (او تاسو وایئ چه خط به ورسره نهٔ وی) نو هغوی زر متوجه شول چه دا خو نبوی خبره ده، د الله د نبی خبره هیڅکله نشی دروغجنه کیدے۔ هغے ته مو وویل :
[مَا كَذَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ]
چه د الله نبی دروغ نهٔ وائی : [لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ اَوْ لَنُجَرِّدَنَّكِ]۔
خامخا خط به راوباسے یا به دِے بربنده وو۔ هرکله چه هغه پوهه شوه چه خبره رشتینی ده، نو هغے لاس خپلے بډے ته خکته کړو چه د هغے نه ئے شړئ تاؤ کړے وه او د هغے نه ئے خط راواخستو او بیا ئے لاسونه په څه طریقه بره کړل او کمځئ کښے ئے خط تاو کړو او د هغے نه ئے راوخکلو۔
(ددے وجه نه بعض روایاتو کښے بډه او بعضو کښے کمځئ ذکر کیږی)
نو دوئ خط راواخستو او زنانه ئے پریخوده او هغه مکے ته لاړه، او دوی مدینے ته راروان شول۔
خط چه راورسیدو، رسول الله ﷺ یو تن ته خط ورکړو هغهٔ ولوستلو، نو رسول الله ﷺ د حاطب نه تپوس وکړو : [مَا هٰذَا ؟ يَا حَاطِبُ !]
اے حاطبه ! دا څه قصه ده؟، دا خط دے ولے لیږلے دے؟
(رسول الله ﷺ تحقیق کوی او همداسے فیصله نهٔ کوی)۔
نو هغهٔ وویل : [لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ] ۔اے د الله رسوله ! ما باندے جلتی مهٔ کوه۔
[مَا فَعَلْتُ ذٰلِكَ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ]

ما دا کار د کفر د وجه نه او د مرتد کیدو او د کفر د خوښولو په وجه نهٔ دے کړے، بلکه ما ددے وجه نه کړیدے : [اِنِّیْ کُنْتُ مُلْصَقًا فِیْ قُرَیْشٍ وَلَمْ اَکُنْ مِنْ اَنْفُسِهَا]

زهٔ د قریشو سره پیوسته وم او د هغوی د قوم نه نهٔ وم، او ستا د نورو ملګرو مهاجرینو په مکه کښے خپلوان وو چه په هغوی سره به د هغوی د بچو او د مالونو حفاظت کیدو۔

[فَاَحْبَبْتُ اِذْ فَاتَنِیْ مِنَ النَّسَبِ فِیْهِمْ اَنْ اَتَّخِذَ عِنْدَهُمْ یَدًا یَحْمُوْنَ بِهَا قَرَابَتِیْ]

نو ما دا خط دے دپاره لیږلو چه ما د هغوی سره احسان کولو دے دپاره زما د بچو حفاظت وکړی۔

نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : [لَقَدْ صَدَقَکُمْ، وَلَا تَقُوْلُوْا لَهٗ اِلَّا خَیْرًا]

یقیناً چه دے سړی تاسو ته رشتیا وویل، او دهٔ ته مهٔ وایئ مګر خیر خبره۔

(یعنی ضرر ورته مهٔ ورکوئ) عمر رضی الله عنه وفرمایل :

[اِنَّهٗ قَدْ خَانَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالْمُؤْمِنِیْنَ فَدَعْنِیْ اَضْرِبُ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ]

اے د الله رسوله ! دے شخص د الله او د هغهٔ د رسول او د مؤمنانو سره خیانت کړیدے نو ما پریده چه ددے منافق څټ ووهم۔

(**سوال** دا دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل چه سړے رشتینی دے نو بیا څنګه عمر فاروق رضی الله عنه د هغهٔ څټ وهی او هغهٔ ته منافق وائی؟

جواب : عمر رضی الله عنه پدے موقعه کښے وړاندے ناست وو او د رسول الله ﷺ دا خبره ئے وانهٔ وریده چه سړے رشتیا وائی۔

یا پدے وجه چه عمر رضی الله عنه د مخکښے نه په ډیره غصه او جذبه کښے دے، او ډیر کرته انسان د غصے په وجه د بل خبره وانهٔ وری۔

یا دا چه عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ وزیر دے، او د وزیرانو طریقه دا وی چه مشرانو ته مشورے ورکوی، غرض ئے دا وو چه نبی کریم ﷺ نرم انسان دے، او دا شخص مجرم دے اُوس ئے معاف کوی او احسان ورسره کوی، او دا د معاف کولو لائق نهٔ دے، نو دا د مشورے په طریقه خبره ده)

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

[اِنَّهٗ شَهِدَ بَدْرًا وَفِیْ رِوَایَةٍ : اَلَیْسَ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا۔ وَمَا یُدْرِیْكَ لَعَلَّ اللّٰهَ اِطَّلَعَ عَلٰى اَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ]

دے خو بدر ته حاضر شویدے او په یو روایت کښے دی : آیا دے کښے د بدر غزا ته نهٔ دے حاضر شوے، او تهٔ څه پوهه کړے ئے چه الله تعالیٰ خو بدریانو ته خبر ورکړے چه کوئ چه څه مو خوښه وی یقیناً ما تاسو ته بخښنه کړیده۔

او په یو روایت کښے دی : [فَقَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ]۔

ستاسو دپاره جنت واجب دے۔

[فَدَمِعَتْ عَیْنَا عُمَرَ] ۔ هر کله چه عمر رضی الله عنه دا خبره واوریده نو ډیر اثرئے پرے وکړو نو د سترګو نه ئے اُوښکے روانے شوے او وے ژړل۔

(د ژړا دپاره ئے دوه وجے دی، یو دا چه زهٔ هم بدری یم او الله تعالیٰ مونږ سره داسے لوی احسان کړے۔ بله دا چه ما د یو مسلمان په باره کښے داسے سخته خبره وکړه)۔

ددے حدیث نه بعض خلکو دا فائده اخستے ده او دا ئے وئیلی دی چه که چا د کافر دپاره جاسوسی وکړه نو وژنے به ئے نهٔ کله چه سړے مسلمان وی، او سړے به مسلمان حسابیږی او په جاسوسی کولو سره صرف ګناهګار دے۔

مګر دا خبره په محل د نظر کښے ده څکه چه که د یو جاسوس شغل او پیشه جاسوسی وی، او د هغهٔ په عمل سره مسلمانان وژلے کیږی او همیشه دا کار کوی نو هغه خلیفة المسلمین وژلے شی، اخوا دا خبره چه کافر دے او که نهٔ نو دا به الله تعالیٰ ته سپارلے شی۔

او هرچه حاطب رضی الله عنه دے نو هغه پدے کار کښے د کافرانو سره محبت نهٔ وو ساتلے، او یو اجتهاد ئے کړے وو چه رسول الله ﷺ هسے هم غالبه کیږی، او دا کار ئے همیشه هم نهٔ کولو بلکه یو کرت ترے شوے وو۔

او بل طرفته د هغهٔ دپاره بدری کیدل مانع وو د هغهٔ د قتل نه۔

او رسول الله ﷺ د هغهٔ د خبرے تصدیق وکړو۔

او الله تعالیٰ بیا د سورة الممتحنه اولنی آیتونه نازل کړل چه اے ایمان والو ! د کافرانو سره دوستی مهٔ کوئ او د هغوی نه براءت وکړئ او د براءت خپل تفصیلات دی او د محبت او دوستیٔ هم ډیر صورتونه دی چه مختلف حکمونه ئے دی۔

د مدینې نه وتل او مکې طرفته روانیدل :

د رمضان په میاشت کښې په لسم د رمضان چه اتم کال د هجرت دے، رسول الله ﷺ فوج روان کړو، خو د خبرے د پټولو دپاره رسول الله ﷺ یوه وړه شان سریه بَطْنِ اِضَم علاقې طرف ته ولیږله چه هغه مخکښې ذکر شوه، دے دپاره چه خلك دا گمان وکړی چه نبی ﷺ هغه طرف ته روان دے، بیا دغه ملگرو ته خبر وشو چه رسول الله ﷺ د مدینې نه مکې طرفته راوتلے دے نو دوئ هم ورپسے راروان شو تردے چه د دغه لوی فوج سره یو ځائے شول۔

رسول الله ﷺ سره ټول انصار او مهاجرین روان شو چه مهاجرین اوه سوه (۷۰۰) کسان وو او د هغوی سره درے سوه (۳۰۰) اسونه وو، او د انصارو څلور زره (۴۰۰۰) کسان وو او د هغوی سره پنځه سوه (۵۰۰) اسونه وو او مُزَیْنَه قبیله زر (۱۰۰۰) کسان وو او د هغوی سره سل (۱۰۰) اسونه وو او د اَسلم قبیلے څلور سوه (۴۰۰) کسان وو او د هغوی سره دیرش (۳۰) اسونه وو، او جُهَینه قبیله اته سوه (۸۰۰) کسان وو او د هغوی سره پنځوس (۵۰) اسونه وو۔ او د بنو غفار نه څلور سوه (۴۰۰)، او د بنو سلیم نه زر (۱۰۰۰) کسان وو، او دارنگه د قیس او بنو اسد او بنو تمیم او باقی عربو نه ډیر کسان وو۔

[السیرة الحلبیة۳/۱۳ والدرر فی اختصار المغازی والسیر۱/۲۱٤]

او ددے هرے قبیلے دپاره ئے د هغوی نه خپل خپل مشر مقرر کړو ځکه چه د خپل مشر تابعداری بنه کیږی، که بل څوك پرے مقرر کړی نو د هغهٔ پوره تابعداری به نهٔ کوی نو دا د رسول الله ﷺ جنگی قیادت وو۔

او رسول الله ﷺ د مهاجرینو او انصارو پخپله مشری کوله او په مدینه باندے ئے ابورهم (کُلْثُوم بن حُصَین) الغفاری صحابی ﷺ خپل نائب مقرر کړو چه مسجد نبوی کښې مونځونه ورکوی۔

جُحفے ته رسیدل :

هرکله چه رسول الله ﷺ د مدینے نه ووتو او جُحفے ته او بعض وائی ذو الحلیفے ته راورسیدو نو دلته د عباس رضی الله عنه سره ملاؤ شو چه هغه د مکے نه د کور والو سره مسلمان شویدے او هجرت باندے راوتلے دے مدینے طرف ته راروان دے،
عباس ﷺ کښے مخکښے نه اسلام طرفته میلان وو او ډیر نرم انسان وو چه د رسول الله ﷺ مدد ئے په هر پړاؤ کښے کړیدے نو دلته نه رسول الله ﷺ د ځان سره واپس مکے ته پدے لښکر کښے روان کړو۔

ابواء ته رسیدل او د ابوسفیان بن الحارث ﷺ اسلام :

او ابواء د مکے او د مدینے ترمینځ ځائے دے چه د مکے نه تقریباً (۲۰۰) کیلومیټره جدا دے)
نو په لاره کښے په ابواء علاقه کښے د رسول الله ﷺ مخے له ابوسفیان بن الحارث (بن عبد المطلب) او عبد الله بن ابی اُمیة راروان دی، د اسلام اراده ئے ده۔ نو رسول الله ﷺ په اول کښے د هغه دواړو نه مخ واړه ولو ځکه چه دوئ شاعران وو او رسول الله ﷺ ته ئے ډیر زیات ضرر ورکړے وو، د هغهٔ بدی به ئے بیانوله۔
نو ام سلمه رضی الله عنها ورته عرض وکړو : اے د الله رسوله !

[لَا يَكُنْ اِبْنُ عَمِّكَ وَابْنُ عَمَّتِكَ اَشْقَى النَّاسِ بِكَ]

یو ډے د ترهٔ ځوی دے او بل ډے د ترور ځوی دے نو دا ډے په تا باندے د نورو خلکو نه زیات بد بخته نشی، یعنی دا ولے تهٔ بد بخته کوے چه تهٔ دوئ سره بیعت ونکړے او اسلام ورله قبول نکړے نو دوئ به بد بخته شی، نور خلك به راځی ایمان به راوړی او خپلوان به جهنم ته روان وی، نو نبی کریم ﷺ د ډیرو اُوچتو اخلاقو والا وو۔
او دلته علی بن ابی طالب ﷺ ابوسفیان بن الحارث ته وویل :

[اِئْتِ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مِنْ قِبَلِ وَجْهِهٖ فَقُلْ لَهٗ مَا قَالَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ لِيُوْسُفَ عَلَيْهِ السَّلَامُ

﴿تَاللّٰهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ كُنَّا لَخَاطِئِيْنَ﴾ فَاِنَّهٗ لَا يَرْضٰى اَنْ يَّكُوْنَ اَحَدٌ اَحْسَنَ قَوْلًا مِنْهُ]۔

رسول الله ﷺ ته د مخې طرف نه راشه او د هغهٔ په مخامخ د یوسف علیه السلام د ورونو خبره وکړه چه (قسم په الله چه الله تعالیٰ تا ته په مونږ باندے غوره والے درکړے او یقیناً مونږ خطاء کاریو) ځکه چه د رسول الله ﷺ عادت مبارکه دا دے چه هغه په ښو اخلاقو کښے د هر چا نه ځان دپاسه کوی۔ (یعنی د یوسف علیه السلام نه هم ځان په ښو اخلاقو کښے دپاسه کوی) نو دے راغے او دغه شان خبره ئے ورته وکړه، او څه شعرونه ئے هم وویل :

لَعَمْرُكَ اِنِّىْ يَوْمَ اَحْمِلُ رَايَةً	❀	لِتَغْلِبَ خَيْلُ اللَّاتِ خَيْلَ مُحَمَّدٍ
لَكَالْمُدْلِجِ الْحَيْرَانِ اَظْلَمَ لَيْلُهٗ	❀	فَهٰذَا اَوَانِىْ حِيْنَ اُهْدٰى فَاَهْتَدِىْ
هَدَانِىْ هَادٍ غَيْرُ نَفْسِىْ وَدَلَّنِىْ	❀	عَلَى اللّٰهِ مَنْ طَرَّدْتُهٗ كُلَّ مَطْرَدٍ

قسم په الله، زهٔ په هغه ورځ چه ما جنډه راواخسته دے دپاره چه د لات ملګری د محمد (ﷺ) په ملګرو باندے غالبه شی، په هغه ورځ زهٔ د هغه شخص په شان وم چه د شپے حیران روان وی او تیارهٔ پرے راغلی وی،

نو اُوس دا هغه وخت دے چه ما ته هدایت کیږی نو زهٔ هدایت قبلوم۔

ما ته یو لار ښودونکی ذات لاره وخودله نهٔ زما نفس، او ما ته الله تعالیٰ هغه چا وخودو چه مونږ به په هره موقعه کښے شړلو۔

نو رسول الله ﷺ ورته د یوسف علیه السلام په شان جواب ورکړو :

[لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ]

په تاسو باندے هیڅ ملامتیا نن ورځ نشته الله تعالیٰ دِے تاسو ته بخنه وکړی۔

او هر کله ئے چه د اشعری فقره ووئیله نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته په سینه کښے ګوزار ورکړو او دا ئے وویل : [اَنْتَ الَّذِىْ طَرَّدْتَنِىْ كُلَّ مَطْرَدٍ] ۔

تهٔ هغه سړے ئے چه تا زهٔ په هره موقعه شړلے یم۔

بیا ئے ورسره بیعت وکړو او ډیر ښکلے مسلمانان ترے جوړ شول۔ (عیون الاثر)

او ددے خلکو دا کمال وو چه کله به ئے توحید قبول کړو او د رسول الله ﷺ تابعداری به ئے شروع کړه نو بیا به ئے شرکونه او بدعتونه او چون وچرا ټوله ختمه کړه۔
او زمونږ مسلمانان د اسلام دعوه هم کوی لیکن دا ټول فسادونه پکښې راجمع وی پدے وجه اُوس مسلمانانو سره د صحابه کرامو په شان مددونه نهٔ ښکاره کیږی۔
وئیلے شی چه ابو سفیان بن الحارث ﷺ دومره ښهٔ مسلمان شو چه
[اِنَّهٗ مَا رَفَعَ رَأْسَهٗ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مُنْذُ اَسْلَمَ حَیَاءً مِنْه]۔
دهٔ رسول الله ﷺ ته پورته نهٔ وو کتلی د کوم وخت نه چه دے مسلمان شو د ډیرے حیاء د وجه نه۔ د رسول الله ﷺ په مجلس کښے به ئے هر وخت سر خکته وو۔
او د رسول الله ﷺ انتهائی تابعدار وو ددے وجه نه د الله نبی ورسره ډیره زیاته مینه پیدا شوے وه او د جنت گواهی ئے ورله هم ورکړے وه او دا ئے وویل :
[اَرْجُوْ اَنْ یَّکُوْنَ خَلَفًا مِنْ حَمْزَةَ]
چه حمزه خو زما ترهٔ وو وفات شو لیکن زما امید دے چه په ابوسفیان بن الحارث کښے به الله تعالیٰ خیر واچوی او د هغهٔ ځائے به ونیسی۔
او دا هم نقل شویدی چه هر کله دهٔ باندے وفات راتللو نو بچو ورته ژړل نو دهٔ وویل :
[لَا تَبْکُوْا عَلَیَّ فَوَاللّٰهِ لَمْ اَتَنَطَّفْ بِخَطِیْئَةٍ مُنْذُ اَسْلَمْتُ]
ما پسے مهٔ ژاړئ قسم په الله، د کوم وخت نه چه ما اسلام راوړیدے نو زهٔ په یوه گناه باندے هم نهٔ یم ککړ شوے۔
ما د اسلام زندگی ډیره صفا تیره کړیده۔ او روستو راځی چه په غزا د حنین کښے د الله د نبی سره کلک ولاړ وو او د هغهٔ د قچرے مهارئے نیولے وو، ډیر بهادر وو۔
نو ددے دواړو په اسلام سره په لاره کښے بله فتح راغله۔

کدید او بیا مر الظهران ته رسیدل :

رسول الله ﷺ منزل متواتر وکړو تردے چه گدیُد ته ورسیدو چه دا یوه چینه وه د عُسفان او د قُدَیُد ترمینځ، (د مکے نه (۹۰) کیلو میټره جدا ځائے دے) او عِسفان یو ښار

دے چه د مکے نه اتیا (۸۰) کیلو میتره شمالی طرفته دے او د مدینے په لاره دے)
او دا اولسم د رمضان دے۔ (په لسم راوتلی وو او اُولسم باندے دلته راورسیدل)، او رسول الله ﷺ چه کله راوتلو نو خلکو ته ئے اختیار ورکړو چه څوك روژه نیسی او که روژه ماتوی، بیا چه کله گدِیْد ته ورسیدو،
(او په روایت د مسلم او نسائی کښے دی چه کُرَاع الغمیم ته ورسیدو)
(کراع الغمیم د مکے نه د مدینے په لاره (٦٤) کیلو میتره جدا دے)
نو دلته رسول الله ﷺ ته خبر ورسیدو چه بعض کسانو باندے روژه سخته شویده (ځکه چه څه کسان پیاده وو او څه سوارهٔ وو) نو رسول الله ﷺ د مازیگر مانځه نه روستو د اُوبو یوه پیاله راوغوښته او هغه ئے وڅکله او خلکو ورته کتل نو خلکو هم ورسره روژه ماته کړه۔ (ځکه چه په سفر کښے روژه ماتول جائز دی) او هغهٔ ته خبر ورسیدو چه څه کسانو روژه نهٔ ده ماته کړے نو وے فرمایل:
[اُولٰئِكَ الْعُصَاةُ، اُولٰئِكَ الْعُصَاةُ]
همدا خلك نافرمان دی، همدا خلك نافرمان دی۔
(مسلم: ٢٦٦٦) نسائی (٢٢٦٢)
(ددے وجه دا ده چه نبی ﷺ یو عمل کوی نو د هغهٔ نه ځان مخکښے کول جائز نهٔ دی، خپلِ مزاج به د نبی تابع کوے، ددے معنیٰ خو به دا جوړیږی چه زهٔ د نبی نه زیات متقی یم، نه، بلکه د رسول الله ﷺ په تابعداریٔ کښے تقویٰ ده اگرکه ستا د مزاج خلاف به وی، آؤ په سفر کښے روژه نیول بهتر دی د هغه چا دپاره چه ماتول جائز گنړی، او روژه ماتول ئے د مزاج خلاف نهٔ وی، یا ډیر سخت تکلیف ورته نهٔ وی، یا نورو ملگرو ته ددهٔ په وجه تکلیف نهٔ وی یا د جهاد نه نهٔ کمزورے کیږی لکه دلته رسول الله ﷺ د همدے وجے نه روژه ماته کړه)
او روستو راغی چه په مر الظهران کښے ئے صحابه کرامو ته وفرمایل:
[اِنَّكُمْ مُصَبِّحُوْ عَدُوِّكُمْ وَالْفِطْرُ اَقْوٰی لَكُمْ]
(امتاع الاسماع ١/٣٥٥)
تاسو به صبا له په دشمن حمله کوئ او روژه ماتول تاسو لره قوی کونکے دے۔

مر الظهران ته رسیدل :

د کدید نه رسول الله ﷺ مزل متواتر کړو تردے چه مر الظهران علاقے ته ورسیدو (مر الظهران د مکے نه د مدینے په لاره دے او د مکے نه (۲۵) کیلو میټره جدا دے)

مر الظهران ته وادی فاطمه هم وائی،

دے ته په ماسخوتن وخت کښے ورسیدل نو اُوس رسول الله ﷺ غوښتل چه قریشو ته خپل ځان وربښکاره کړی، نو ټولو مسلمانانو ته ئے حکم وکړو چه تاسو اُورونه بل کړئ نو هرے قبیلے اُورونه بل کړل تردے چه ټوله علاقه د اُور د لمبو نه ډکه شوه،

ابن سعدؒ وائی : لس زره (۱۰۰۰۰) اُوره ئے بل کړل۔

دلته به قریشو تجسس هم کولو او لارے به ئے څارلے چه څه به کیږی نو ابوسفیان بن حرب او بُدیل بن ورقاء او حکیم بن حزام راوتلی ذی، حالات ګوری۔

نو عباس ﷺ په خپل قوم قریشو باندے ترس راغلو چه دادے اُوس هلاکیږی چه زر رسول الله ﷺ ته راوځی او د هغۀ نه امان واخلی۔

نو دۀ د نبی کریم ﷺ قچره راواخسته او مکے ته روان شو دے دپاره چه هغوی ته خبر ورکړی چه نبی کریم ﷺ دربانده حمله کوی، که تسلیم نشوئ نو هلاکیږئ، خپل قوم ته ئے فائده رسوله۔

نو عباس ﷺ وائی زۀ راوتلم تردے چه د کیکر ونو خوا ته راغلم دے دپاره چه څوك لرګی ټولونکی موندۀ کړم یا پینو والا یا بل یو ضرورت مند وموم چه هغه مکے ته لاړ شی او هغوی ته خبر ورکړی، دے وائی زۀ په اُوښه روان وم نو په یو ځائے کښے دا درے کسان ناست دی، نو ما د ابوسفیان او د بُدیل خبرے واوریدے چه دواړو یو بل سره خبرے اترے کولے، ابوسفیان وویل :

[مَا رَأَيْتُ كَاللَّيْلَةِ نِيرَانًا قَطُّ وَلَا عَسْكَرًا]

ما د نن شپے په شان دومره اُورونه او فوج هیڅکله نۀ دے لیدلے۔ بُدیل د خبرے پټولو دپاره هغۀ ته وویل :

[هٰذِهِ وَاللّٰهِ خُزَاعَةُ حَمَشَتْهَا الْحَرْبُ]

دا خزاعه قبیله ده چه جنګونو راتیز کړیدی۔ ابوسفیان وویل :

[خُزَاعَةُ اَذَلُّ وَاَقَلُّ مِنُ اَنُ تَكُوُنَ هٰذِهٖ نِیْرَانُهَا وَعَسُكَرُهَا]۔

خزاعه خو ډیره کمه ده ددې نه چه دا د هغوی اُورونه او فوجونه وی، دا خو لوی فوجونه دی۔

عباس ﷺ وائی : ما د ابوسفیان آواز وپیژندو نو ما ورته وویل : اې ابو حنظله !، نو هغهٔ زما آواز وپیژندو نو وې وئیل: ابو الفضل ئې ؟ ما وویل : آؤ، وې وئیل :

[مَالَكَ فِدَاكَ اَبِیُ وَاُمِّیُ]

څه حالت دې زما مور او پلار دې ستا نه قربان شی۔ ما وویل :

[وَاللّٰهِ هٰذَا رَسُوُلُ اللّٰهِ فِی النَّاسِ وَاَصْبَاحَ قُرَیُشٍ]

دا د الله رسول دې په خلکو کښې راروان دې، قریش هلاك کیدونکی دی۔ نو هغهٔ وویل : [فَمَا الْحِیُلَةُ ؟] څه کول پکار دی؟، ما وویل :

[وَاللّٰهِ اِنُ ظَفِرَ بِكَ لَیَضُرِبَنَّ عُنُقَكَ فَارُكَبُ فِیُ عَجُزِ هٰذِهِ الْبَغُلَةِ حَتّٰی آتِیَ بِكَ رَسُوُلَ اللّٰهِ ﷺ فَاَسْتَاُمِنُهٗ لَكَ]

قسم په الله که په تا باندې کامیاب شو نو ستا څټ خامخا وهی نو ما سره ددې اُوښې شا ته سور شه چه تا رسول الله ﷺ ته بوځم او امان درله واخلم۔

نو ښهٔ ئې ویره ولو او په مکې والو باندې هسې هم د رسول الله ﷺ ډیر رعب وو او خاصکر کله ئې چه دا فوجونه او هجوم او کثرت ولیدو۔

نو د هغهٔ دواړه ملګری مکې ته لاړل او ابوسفیان د عباس ﷺ نه شاته د رسول الله ﷺ په اُوښه سور شو، او د مسلمانانو په مختلفو خیمو او اُورونو باندې ئې راتیره ولو۔

رسول الله ﷺ په مر الظهران کښې څوکیداران ودرولی وو چه د هغوی مشرئې عمر فاروق ﷺ مقرر کړې وو۔

هرکله چه به عباس ﷺ په یوه خیمه او اُور باندې ورتیر شو نو د رسول الله ﷺ اُوښه به ئې ولیده نو اجازه به ئې ورکړه چه تیرېږئ، تردې چه د عمر فاروق ﷺ په اُور باندې ورتیر شو نو هغهٔ چه شاته وکتل وې پیژندل چه ابوسفیان ورسره دې نو وې وئیل :

[اَبُوْ سُفْيَانَ عَدُوُّ اللّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَمْكَنَ مِنْكَ بِغَيْرِ عَقْدٍ وَلَا عَهْدٍ]

هغه دے ابوسفیان، د الله دشمن دے، الله لره حمد دے چه مونږه ئے په تا باندے قادره کړو بغیر د لوظ او امان نه۔ یعني تا سره لا وعده نشته او امان نهٔ دے درکړے شوے او پداسے وخت کښے الله زمونږ لاس ته راوستے نو اُوس به درله ختم وهو، او منډه ئے کړه رسول الله ﷺ طرف ته لاړو۔

عباس ﷜ وائی چه عمر ﷜ رانه ابوسفیان وژلو لیکن زهٔ په جلتئ باندے رسول الله ﷺ ته لاړم، او د عمر ﷜ نه په قچره مخکښے شوم، او رسول الله ﷺ ته مے وویل چه دا ابوسفیان دے عمر (﷜) ئے وژنی۔

نو پدے وخت کښے عمر (﷜) راورسیدو او وے وئیل :

[يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا اَبُوْ سُفْيَانَ فَدَعْنِیْ فَلْاَضْرِبْ عُنُقَهٗ]۔

اے د الله رسوله ! دا ابوسفیان د الله دشمن دے، ما ته اجازه راکړه چه ختم ورله ووهم۔ (ځکه چه نهٔ ورسره زمونږ وعده شته او نهٔ مونږ امان ورکړے او د الله دشمن دے، تیار په لاس راغلے دے)

عباس ﷜ وائی : ما وویل : [يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اِنِّیْ قَدْ اَجَرْتُهٗ] ۔

اے د الله رسوله ! ما دهٔ ته پناهی ورکړیده۔ مګر عمر فاروق (﷜) زور کولو چه ابوسفیان قتل کړی نو پدے کښے د غیرت ورکولو دپاره عباس ﷜ عمر فاروق ﷜ ته وویل :

[مَهْلًا يَا عُمَرُ فَوَ اللّٰهِ لَوْ كَانَ مِنْ رِجَالِ بَنِیْ عَدِيٍّ مَا قُلْتَ مِثْلَ هٰذَا]

پریده اے عمره ! قسم په الله که دے د بنی عدی (یعنی ستاسو د قوم) نه وے نو تا به دا قِسم خبرے نهٔ کولے۔

نو هغهٔ ورته وویل :

[مَهْلًا يَا عَبَّاسُ فَوَاللّٰهِ لَاِسْلَامُكَ يَوْمَ اَسْلَمْتَ اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ اِسْلَامِ الْخَطَّابِ لَوْ اَسْلَمَ]

اے عباسه ! دا خبرے پریده، قسم په الله ستا اسلام ما ته زما د پلار د اسلام نه هم زیات غوره وو که هغه اسلام راوړے وے، ددے وجه نه چه رسول الله ﷺ ته ستا اسلام د خطاب د اسلام نه زیات خوښ وو۔

پدے کښے رسول الله ﷺ عباس ﷜ ته حکم وکړو چه دا ابوسفیان ځان سره خپلے

خیمے ته بوځه او سهار ئے ما ته راوله- (رسول الله ﷺ کښې جلتي نهٔ وه)

نو عباس ﷺ هغهٔ لره ځان سره خپلے خیمے ته روان کړو او په لاره ئے د مسلمانانو احوال کتل، ناشنا تعجب ئے کولو،

سیرت حلبیه لیکي : هرکله چه صبا شو او د سهار اذان وشو او خلك راخوارهٔ شو نو ابوسفیان هیبت کښې شو او عباس ﷺ ته ئے وویل چه اے ابو الفضل ! [مَا يُرِيْدُوْنَ ؟] دا خلك څه اراده لري؟- نو هغهٔ ورته وویل : [اَلصَّلَاةَ] مونځونه کوي-

او په یو روایت کښې دي : [مَا لِلنَّاسِ أَ اُمِرُوْا فِيْ بِشَيْءٍ؟]

دے خلکو لره څه شویدي، آیا زما په باره کښې دوئ ته څه حکم شویدے ؟

عباس ﷺ ورته وویل : نه، لیکن دوی مانځه دپاره راپاڅیدل-

بیا ابوسفیان خلك ولیدل چه د رسول الله ﷺ د اوداسه اُوبهٔ راخلي او خپلو ځانونو پورے ئے راکاږي، او وے لیدل چه خلك د رسول الله ﷺ په رکوع باندے رکوع کوي او د هغهٔ په سجده باندے سجده کوي- ابو سفیان عباس ﷺ ته وویل :

[يَا عَبَّاسُ ! مَا يَأْمُرُهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا فَعَلُوْهُ]

اے عباسه ! رسول الله ﷺ خلکو ته د هیڅ شي حکم نهٔ کوي مګر دوی ئے پوره کوي-

نو عباس ورته وویل : [لَوْ نَهَاهُمْ عَنِ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ لَأَطَاعُوْهُ]

که چرے دا نبي خلکو لره د خوراك او څکاك نه منع کړي هم دوی د هغهٔ خبره ضرور مني- نو ابوسفیان وویل :

[مَا رَأَيْتُ مَلِكًا مِثْلَ هٰذَا لَا مَلِكَ كِسْرٰى وَلَا مَلِكَ قَيْصَرَ وَلَا مَلِكَ بَنِي الْاَصْفَرِ]

ما خو دهٔ په شان بادشاه هیچرے نهٔ دے لیدلے، نهٔ کسریٰ بادشاه او نهٔ قیصر او نهٔ د رومیانو نور بادشاهان-

بیا ئے عباس ﷺ ته وویل : چه تهٔ دهٔ سره د خپل قوم په باره کښې خبرے اترے وکړه

[هَلْ عِنْدَهُ مِنْ عَفْوٍ عَنْهُمْ]

آیا دے به هغوی ته معافي وکړي؟ (السیرة الحلبیة)

نو ابوسفیان سهار کښې چه راوستو نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته وفرمایل :

[يَا اَبَا سُفيَانَ اَلَمْ يَأْنِ لَكَ اَنْ تَعْلَمَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ]

اے ابوسفیانه !آیا تا ته وخت نهٔ دے راغلے چه تهٔ پدے خبره پوهه شے چه د الله تعالیٰ نه سوئ بل څوك لائق د عبادت نشته۔

(یعنی اُوسه پورے تهٔ په توحید پوهه نشوے) رسول الله ﷺ سره د الله تعالیٰ د توحید غم وو، نو ابوسفیان وویل :

[بِأَبِيْ اَنْتَ وَاُمِّيْ، مَا اَحْلَمَكَ وَاَكْرَمَكَ وَاَوْصَلَكَ]۔

زما مور او پلار دِے تا نه قربان شی تهٔ څومره حلم والا او عزتمن او زیاته صله رحمی کونکے ئے۔

[لَقَدْ ظَنَنْتُ اَنْ لَوْ كَانَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهٌ غَيْرُهُ لَقَدْ اَغْنٰى عَنِّيْ شَيْئًا بَعْدُ]۔

زما گمان دے چه که د الله تعالیٰ سره بل څوك حقدار د بندگئ وے نو تر اُوسه پورے به ئے مونږ ته فائده راکړے وے خو هیڅ ئے ونهٔ کړل۔ اُوس ئے توجه پیدا شوه۔

بیا ئے ورته وفرمایل :

[وَيْحَكَ يَا اَبَا سُفْيَانَ ! اَلَمْ يَأْنِ لَكَ اَنْ تَعْلَمَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ؟]۔

اے ابو سفیان ! آیا تهٔ اُوسه پورے پدے خبره پوهه نشوے چه زهٔ د الله رسول یم ؟

(یعنی سره د دومره معجزو لیدو نه ستا په علم کښے زما پیغمبری نهٔ راځی)

بیا ئے دغه مخکنئ خبره وکړه :

[بِأَبِيْ اَنْتَ وَاُمِّيْ، مَا اَحْلَمَكَ وَاَكْرَمَكَ وَاَوْصَلَكَ] ۔

تهٔ څومره صبرناك او عزت من او صله رحمئ والا ئے۔

[اَمَّا هٰذِهٖ فَفِي النَّفْسِ مِنْهَا حَتَّى الْآنَ شَيْءٌ] ۔

هرچه ستا نبوت دے نو په زړهٔ کښے مے تر اُوسه پورے ددے نه څه شك او شبهه شته۔

خو د الله نبی ورسره سختی ونکړه، ځکه چه اول کښے انسان دغه شان شکی وی بیا روستو ښهٔ کیږی، تهٔ خپل ځان ته هم دغه شان وگوره۔

نو پدے کښے عباس رضی الله عنه ورته وویل :

[وَيْحَكَ اَسْلِمْ، وَاشْهَدْ اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ قَبْلَ اَنْ تُضْرَبَ عُنُقُكَ]

خوار شي، اسلام راوړه او د توحید او د رسالت ګواهي وکړه ګنې ختې دے وهلے کیږي۔
(هغهٔ همدغسے یره ورکوله) نو دهٔ د زړهٔ دپاسه اسلام راوړو او د حق ګواهي ئے ورکړه۔
(مګر لږ روستو وخت کښے ډیر صحیح مسلمان ترے جوړ شو)
ابوسفیان خو په ظاهره کښے کلمه ووئیله او اسلام کښے داخل شو او د وژلو نه بچ شو۔
عباس رضی الله عنه (د ابوسفیان په اسلام باندے د مضبوطولو دپاره هغهٔ ته لږ عزت ورکوی) وے فرمایل : [یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اِنَّ اَبَا سُفْیَانَ رَجُلٌ یُحِبُّ الْفَخْرَ فَاجْعَلْ لَهٗ شَیْئًا]
اے د الله رسوله ! ابوسفیان یو سړے دے چه فخرئے خوښ دے، نو دهٔ دپاره څه شے مقرر کړه، یعنی څه عزت ورکړه. قومی مشران اکثر دغه شان فخریه او مشرانه غواړی۔
نو رسول الله ﷺ دهٔ ته دا مشری ورکړه چه وے فرمایل :
[مَنْ دَخَلَ دَارَ اَبِیْ سُفْیَانَ فَهُوَ آمِنٌ]
اُوس مونږ په مکه حمله کوو نو هر څوك چه د ابوسفیان کور ته ننوتو نو هغه به په امن وی۔ لیکن د هغهٔ کور خو ډیر وړوکے دے، ډیر خلك پکښے نهٔ ځائیږی نو اعزاز ئے نور هم زیات کړو وے فرمایل :
[وَمَنْ دَخَلَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ فَهُوَ آمِنٌ]
څوك چه مسجد حرام ته ننوتو نو هغه به هم په امن وی۔
بیا مسجد حرام هم وړوکے دے نو نوره فراخی ئے وکړه وے فرمایل :
[وَمَنْ اَغْلَقَ عَلَیْهِ بَابَهٗ فَهُوَ آمِنٌ]
هر څوك چه ځان پسے خپله دروازه بنده کړی (یعنی مقابلے ته راونهٔ وځی) نو هغه به هم په امن وی۔ د رسول الله ﷺ ټول حالات د شفقت وو، د ظالمانو مشرانو په شان نهٔ وو چه کله ئے غلبه او مشری راشی نو بیا ظلمونه کوی، کله یو وژنه او کله بل۔

اسلامی فوج مر الظهران پریدی او مکے طرفته حرکت کوی :

په سهار کښې د رمضان اولسم صبا دے رسول الله ﷺ د مر الظهران نه روانیدو کښې شو نو پدے کښې نبی ﷺ عباس ﷺ ته وفرمایل چه ابوسفیان بوځه او په لاره کښې دوه غرونه راځي هغې کښې ئې اُودره وه چه د مسلمانانو کثرت او لښکرے وینی،
(کفارو او نوی مسلمانانو ته خپل طاقت او کثرت خودل بهتر کار دے چه کافر ذلیله شي او نوے مسلمان متأثر شي)

نو ابوسفیان مخکښې روان شوے وو، عباس ﷺ دغه مَضِیق الوادی ته ور ورسیدو، آواز ئې ورته وکړو چه [قِفْ] ودریږه، هغه حیران شو چه بیا څه چل وشو، او دا ئې وویل چه اے بنی هاشمو ! آیا څه غدر راسره کوئ او که بل څه چل دے؟،

هغهٔ وویل : غدر نشته خو د الله نبی حکم کړے۔

دلته رسول الله ﷺ حکم وکړو چه روان شئ کله چه دغه ځائے ته ورسیدل نو هره قبیله د خپلے جنډے سره روانه ده، هرکله چه یوه قبیله د خپلے جنډے سره تیریږی نو ابوسفیان د عباس ﷺ نه تپوس کوی چه

[يَا عَبَّاسُ ! مَنْ هٰذِهٖ ؟]

اے عباسه ! دا څوك دی؟ نو هغهٔ وویل : سلیم قبیله ده۔

ابوسفیان وویل: [مَالِیْ وَلِسُلَيْمٍ ؟]

زما او د سُلیم څه کار؟ یعنی زمونږ خو د سُلیم سره څه دشمنی نشته چه دوی راځي او په مونږ حمله کوی۔ بیا بله قبیله راتیره شوه، وے وئیل : دا څوك دی ؟ دا مزینه قبیله ده۔ ابوسفیان وویل : [مَا لِیْ وَلِمُزَيْنَةَ ؟]

زمونږ د مزینه قبیلے سره څه جګړه خو نشته؟۔ بیا بله قبیله راتیره شوه، دا څوك دی؟ دا اسلم قبیله ده۔

دغه شان خبره ئې وکړه بیا جهینه قبیله، بیا بنو تمیم قبیله راتیره شوه نو دهٔ به دغه شان خبره کوله [مَالِیْ وَلَهُمْ؟] چه د دوئ زمونږ سره څه کار دے۔

(یعنی ابوسفیان پدے نهٔ پوهیدو چه دا خلك په مونږ باندے ولے حمله کوی، ځکه

چه د عربو عادت دا وو چه یو بل سره به ئے د پوله پتی او دنیاوی مفادو د خاطره جنگونه کول او دا پته ورته نۀ وه چه د الله دپاره هم دشمنی کیږی، نو دلته اُوس چه دا قبیلے مکے ته روانے دی نو دا د الله د خاطره راوتی دی او جهاد نوی ابو سفیان ته لا دا پته نۀ وه چه د الله دپاره به هم څوك د چا سره قتال کوی)

نو پدے کښے په آخره کښے یوه کتیبة خضراء (شنه دسته) راتیره شوه چه په هغے کښے مهاجرین او انصار دی او رسول الله ﷺ پکښے موجود دے، او هغوی ټول په وسله باندے داسے پټ وو

[لَا یُرٰی مِنۡهُمۡ اِلَّا الۡحَدَقُ مِنَ الۡحَدِیۡدِ]

چه د هغوی نه صرف د سترګو ګاتی ښکاره کیدل دومره وسپنو پټ کړی وو۔ ډیر هیبتی شکل ئے جوړ کړے وو، نو ابو سفیان هیبت کښے شو او عباس رضی الله عنه ته ئے وویل :

[سُبۡحَانَ اللّٰهِ یَا عَبَّاسُ مَنۡ هٰؤُلَاءِ ؟]

تعجب دے، اے عباسه ! دا څوك دی؟ عباس رضی الله عنه وائی : ما وویل :

[هٰذَا رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ فِی الۡمُهَاجِرِیۡنَ وَالۡاَنۡصَارِ]

دا د الله رسول دے په مهاجرینو او انصارو کښے۔

نو هغۀ وویل چه ما خو داسے فوج کله هم نۀ وو لیدلے :

[مَا لِاَحَدٍ بِهٰؤُلَاءِ قِبَلٌ وَلَا طَاقَةٌ]

هیڅوك ددے فوج د مقابلے طاقت نۀ لری۔

نو ابو سفیان عباس رضی الله عنه ته وویل :

[لَقَدۡ اَصۡبَحَ مُلۡكُ ابۡنِ اَخِیۡكَ الۡیَوۡمَ عَظِیۡمًا]

قسم دے چه ستا د وراره بادشاهی خو نن ورځ ډیره لویه شوه۔ غټ بادشاه ترے جوړ شو۔ عباس رضی الله عنه پرے رد وکړو چه داسے مۀ وایه، او وے فرمایل : [اِنَّهَا النُّبُوَّةُ]

دا نبوت دے، بادشاهی نۀ ده۔ (د دنیا والو ذهن زر دنیاوی بادشاهی ته لاړ شی)

نو هغۀ وویل : [فَنَعَمۡ اِذَنۡ] صحیح ده، وی به دغه شان۔

د ابوسفیان قریشو ته خبر ورکول او د قریشو رد عمل :

هرکله چه رسول الله ﷺ په ابوسفیان ورتیر شو او اخوا ترے واوړیدو نو دے وخت کښے عباس ﷺ ابوسفیان ته ووئیل : [اَلنَّجَاءَ اِلٰی قَوْمِكَ]

په جلتئ سره خپل قوم ته ځان ورسوه او هغوی بچ کړه۔ نو ابوسفیان په جلتئ سره مکے ته لاړو او هلته ئے په اُوچت آواز سره چغه کړه

[يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ، هٰذَا مُحَمَّدٌ قَدْ جَاءَ كُمْ فِيْمَا لَا قِبَلَ لَكُمْ بِهٖ]

اے د قریشو ډلے ! دا محمد (ﷺ) دے چه تاسو ته په داسے فوجونو کښے راغلے دے چه ستاسو د مقابلے طاقت نشته، هسے ځان مۀ خرابوئ۔ او دلته په خلکو باندے هسے هم د مخکښے نه رعب وو نو دۀ نور په رعب کښے واچول۔

نو د هغۀ ښځه هنده بنت عُتبه ورته راپاځیده او د هغۀ بریت ئے ونیول او دا ئے ووئیل :

[اُقْتُلُوا الْخَمِيْتَ الدَّسِمَ الْأَحْمَشَ السَّاقَيْنِ، قُبِّحَ مِنْ طَلِيْعَةِ قَوْمٍ]

اے خلکو ! دا سور، چاق، نرو پونډو والا مړ کړئ، داسے خبر راوړونکے (جاسوس) خو دِے تباه شی۔ (یعنی دے خو قوم د جاسوسئ دپاره لیږلے وو نو اُوس دے ډیر ناکاره سړے دے چه داسے د کمزورئ خبرے کوی)۔ (الرحیق المختوم)

د عربو ښځے هم ډیرے بهادرے وے۔

نو دۀ قریشو ته ووئیل : [وَيْلَكُمْ، لَا تَغُرَّنَّكُمْ هٰذِهٖ مِنْ اَنْفُسِكُمْ]

خوار شئ اے خلکو ! دا زما ښځه مو د خپلو ځانونو نه دهوکه نکړی، دا تاسو بر هکاوه وی۔ نو هغوی ووئیل چه څه چل وکړو ؟ ابوسفیان ووئیل : زۀ د محمد (رسول الله ﷺ) سره ملاؤ شوم، هغۀ ووئیل : څوك چه د ابوسفیان کور ته ننواتۀ هغۀ ته به څه نۀ وائی۔ نو هندے ورته ووئیل :

[قَاتَلَكَ اللّٰهُ، وَمَا تُغْنِيْ عَنَّا دَارُكَ ؟]

هلاك شے، ستا کور به خلکو ته څه فائده ورکړی ؟ هغے کښے یو څو کسان راځائیږی نو ایله به دغه لږو ته امان ملاؤ وی، نو ابوسفیان ووئیل : چه دا ئے هم وئیلی دی چه څوك مسجد حرام ته ننوزی هغه به هم په امن وی، مسجد هم وړوکے دے، نو

وې وئیل: چه داسې ئې هم وئیلي دي چه څوك په ځان پسې د كور دروازه بنده كړي هغهٔ دپاره هم امان دې، نو هندې ووېل: [وَهٰذَا اَوْسَعُ] اُوس دا خبره فراخه ده۔

د اسلامي فوج ذي طُویٰ ته رسیدل:

رسول الله ﷺ د مر الظهران نه روان وو تردې چه ذي طویٰ ته ورسیدو چه دا مكې ته نزدې علاقه ده، رسول الله ﷺ به چه كله حج یا عمرې ته تللو نو په ذي طویٰ كښې به ئې شپه كوله او بیا به نزدې حرم ته داخلیدو۔ اُوس تقریباً مكه كښې داخله شویده د مكې د غټې والي د وجه نه۔

دلته رسول الله ﷺ ته معلومه شوه چه قریشو د جنګ دپاره څه خاص تیارې نهٔ دې كړې نو دلته ئې د خپل فوج ترتیب لږ بدل كړو نو اَرباعاً ئې تقسیم كړو۔ یعنی څلورو حصو ته ئې تقسیم كړو، او مخكښې ئې اخماسًا (یعني پنځو حصو ته تقسیم كړې وو)

د فوج په ښي اړخ ئې خالد بن ولید ؓ مقرر كړو او هغهٔ له ئې تكړه پهلوانان ملګرې وركړل چه شاهسواران وو او پدې ډله كښې اسلم، سُلیم، غِفار، مُزَینه او جُهَینَه او نور عربي قبائل وو، او دا حكم ئې ورته وكړو چه تهٔ به مكې ته د لاندې طرف د مكې نه داخلیږې۔ او د قریشو په باره كښې ئې دا حكم وكړو:

[اِنْ عَرَضَ لَكُمْ اَحَدٌ مِنْ قُرَيْشٍ فَاحْصُدُوْهُمْ حَصْدًا حَتّٰى تُوَافُوْنِیْ عَلَى الصَّفَا]

كه تاسو ته د قریشو نه څوك د جنګ دپاره راوځي نو سم ئې لَو كړئ (دلدل ئې كړئ/ قتل ئې كړئ) تردې چه تاسو به ما سره په صفا كښې ملاؤ شئ۔

(او كه یو تن د جنګ اراده نهٔ لري نو هغه به نهٔ وژنئ ځكه چه دا د رحم او د اكرام ورځ ده چه الله تعالیٰ به پكښې د قریشو اكرام كوي)۔

(او اهل حق په هره زمانه كښې د خلكو خیرخواه وي چه الله تعالیٰ دوئ ته هدایت وكړي)

او په ګس طرف فوج باندې ئې زبیر بن العوام ؓ مقرر كړو او هغهٔ سره د رسول الله ﷺ جنډه وه، هغهٔ ته ئې حكم وكړو چه د مكې د لاندې طرف نه د كُدَیٰ طرف نه داخل شه تردې چه حَجُون ته به ځان ورسوې او هلته به جنډه ناله كړې او زما دپاره به خیمه

ووهي او هلته به همیشه اُوسيږي تردې چه زۀ هلته درشم۔

او سعد بن عباده رضی الله عنه سره د انصارو جنډه وه هغۀ ته ئې ووېل چه ته څان سره څه کسان واخله او د مکې ذبره طرف نه په گذاء طرف ورداخل شه۔

(پدې طريقه ئې د دشمن د حملې يره ختمه کړه، د دشمن لاره بندول ئې غرض وو او داسې نورې فائدې پکښې وې، د علاقې د راگیره ولو طريقه همداسې وه لکه رسول الله ﷺ پدې جنگي امورو ډير ښۀ پوهيدو)

او ابوعبيده بن الجراح رضی الله عنه ته ئې وفرمايل چه ته به څان سره پياده خلك واخلې او هغه خلك چه وسله ورسره ډيره نشته [اَلرَّجَّالَةُ وَالْحُسَّرُ الَّذِيْنَ لَا سِلَاحَ مَعَهُمْ]

يعنې پياده خلك او د وسلو نه بربنډ۔ او هغۀ ته ئې حکم وکړو چه د مکې کنده (بطن الوادي) باندې به خلك روان کړې تردې چه مکې ته به سيده ورکوز شې د رسول الله ﷺ نه مخکښې۔

او خپله نبي کريم ﷺ د مهاجرينو او انصارو د کتيبة خضراء (شنې دستې) سره ملګرې شو کومه چه د وسلو د وجه نه تکه شنه وه (اَلْمُدَجَّجُ بِالسِّلَاحِ) چه په زغرو او وسلو باندې پټ وو تردې چه نبي کريم ﷺ پدې ورځ باندې خپله هم څان داسې پټ کړې وو چه بَيْضَه (مِغْفر / د وسپنې توپۍ) ئې په سر کړې وه او زغره ئې اچولې وه او وسله ئې څان ته اچولې وه، او لينده هم ورسره وه کوم باندې چه غشي ويشتلې کيږي، او مکې مکرمې ته په غير د احرام نه داخل شو۔

(**فائده** : قانون دا دې چه څوك حج يا عمرې دپاره مکې ته ځي نو بغير د احرام نه نشي داخليدې، نبي کريم ﷺ ددې نه منع فرمائيلې ده، دا د کعبې احترام دې چه د ميقات نه به احرام تړي، صرف هغه چا ته اجازه ده چه د حج يا د عمرې اراده ئې نشته بلکه جهاد، يا د تجارت يا د چا د ملاقات اراده ئې ده۔ ددې وجه نه صحابه کرامو هم احرام نۀ وو تړلې، نو پدې کښې د هغه علماؤ د قول ضعيف والې دې چه وائي : هر څوك چه په هر نيت باندې مکې ته ننوزي نو احرام به تړي لکه فقهاءِ احنافو دا وئيلي دي۔

ooo

هرکله چه ابوسفيان د دغه غرۀ په لمن کښې ولاړ وو نو د انصارو جنډه د سعد بن عباده رضی الله عنه سره وه هغه په ابوسفيان ورتير شو نو هغۀ د غصې د وجه نه ابوسفيان ته

خبره واورووله :

[اَلْيَوْمَ يَوْمُ الْمَلْحَمَةِ، اَلْيَوْمَ تُسْتَحَلُّ الْحُرْمَةُ، اَلْيَوْمَ اَذَلَّ اللّٰهُ قُرَيْشًا]

نن ورځ د جنګ ورځ ده، نن ورځ به د کعبې احترام پائیمالیږی او نن ورځ به الله تعالیٰ قریشو لره ذلیله کوی۔

هرکله چه رسول الله ﷺ ابوسفیان ته راورسیدو او د هغهٔ په برابرئ کښې راتیریدو نو ابوسفیان ورته ووېل : [يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالَ سَعْدٌ ؟]

اے د الله رسوله ! آیا تا د سعد خبرے وانهٔ وریدے؟ هغهٔ ورته وفرمایل : څه ئې ووېل ؟ نو دغه خبره ئې ورته ذکر کړه۔ نو پدے کښې عثمان رضی الله عنه او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه وفرمایل :

[يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! مَا نَأْمَنُ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ فِيْ قُرَيْشٍ صَوْلَةٌ]

اے د الله رسوله ! مونږ سره خطره ده چه دا سړے ډیر غصه دے چه په قریشو به سخته حمله وکړی او بنهٔ خلك به پکښې ووژنی۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[بَلِ الْيَوْمُ يَوْمُ الْمَكْرُمَةِ، يَوْمٌ تُعَظَّمُ فِيْهِ الْكَعْبَةُ، اَلْيَوْمُ يَوْمٌ اَعَزَّ اللّٰهُ فِيْهِ قُرَيْشًا]

بلکه نن ورځ د عزت ورځ ده، داسے ورځ ده چه د کعبے تعظیم به پکښې کولے شی، نن داسے ورځ ده چه الله تعالیٰ به پکښې قریشو ته عزت ورکوی۔

(یعنی الله به د ایمان توفیق ورکوی، مسلمان عزتمن دے)

نو رسول الله ﷺ د خلکو د رضا کولو دپاره د هغهٔ نه جنډه واخسته، او دے دپاره چه په قریشو خطرناکه حمله ونکړی، لیکن بل طرفته رسول الله ﷺ حکیم وو، د چا نه جنډه اخستل د هغهٔ بے عزتی او خجالته کول وی، نو د هغهٔ ځوی قیس بن عباده رضی الله عنه له ئې ورکړه نو بیرته د هغهٔ عزت برحال پاتے شو، داسے شوه لکه چه جنډه د یو لاس نه واخلی او بل لاس کښې ئې ورکړی۔ جنډه په هغه زمانه کښې د عزت شے وو۔

او عروه بن زبیرؒ ذکر کریدی چه هرکله رسول الله ﷺ په ابوسفیان ورتیریدو نو ابوسفیان ورته ووېل :

[اِنِّیْ لَاَرٰی وُجُوْهًا كَثِيْرَةً لَا اَعْرِفُهَا، لَقَدْ كَثُرَتْ هٰذِهِ الْوُجُوْهُ عَلَیَّ ؟]

زهٔ خو ډیر مخونه وینم چه نهٔ ئې پیژنم، تا خو ما پسے ډیر مخونه راوستی دی؟ نو

رسول الله ﷺ وفرمایل:

[اَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا وَقَوْمُكَ، إِنَّ هٰؤُلَاءِ صَدَّقُوْنِيْ إِذْ كَذَّبْتُمُوْنِيْ وَنَصَرُوْنِيْ إِذْ أَخْرَجْتُمُوْنِيْ]

تا او ستا قوم پخپله دا کار کړیدے، دے خلکو زما تصدیق وکړو کله چه تاسو زما تکذیب کولو او دے خلکو زما مدد وکړو کله چه تاسو زهٔ ویستلم. بیا ورته ابوسفیان د سعد بن عباده ﷺ دغه مخکنئ ګیله وکړه.

ooo

او رسول الله ﷺ د قریشو په باره کښے وفرمایل: چه څوك تاسو سره جنګ کوی نو هغه قتل کړئ او که چا جنګ نهٔ کولو نو هغهٔ مهٔ وژنئ صرف د یو څو کسانو نومونه ئے واخستل چه دا په هر حال کښے قتل کړئ، دوئ دپاره امان نشته ځکه چه هغوی د اکابر المجرمین نه وو، د وژلو لائق وو.

هغه کسان چه رسول الله ﷺ د هغوی د قتل حکم کړے وو

لکه ۱- عبد الله بن خطل، ۲- عکرمه بن ابی جهل، ۳- مقیس بن صبابه،

٤- او عبد الله بن سعد بن ابی السرح کوم چه مرتد شوے وو،

۵- او حُویرث بن نقیذ، ٦- او هبار بن الاسود چه د رسول الله ﷺ لور زینب رضی الله عنها ئے د اُوښ نه غورزولے وه،

۷، ۸- او دوه وینځے د ابن خطل چه هغوی به ګډل او په اشعارو کښے به ئے د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو بدی وئیله او کنځل به ئے کول،

۹- او هغه "سَاره" چه د حاطب بن ابی بَلْتَعَه ﷺ خط ئے وړے وو،

۱۰- او هِنده بنت عتبه چه د ابوسفیان ښځه ده چه دے به مشرکان د رسول الله ﷺ په خلاف راپارول لکه په غزا د اُحد کښے او نورو غزواتو کښے او د حمزه رضی الله عنه زړهٔ ئے راوخکلے وو او هغے باندے ئے چکونه لګولی وو.

۱۱- کعب بن زهیر شاعر چه د رسول الله ﷺ او د دین اسلام او د مسلمانانو بدی به ئے په اشعارو کښے وئیله، د هغه د اسلام واقعه به روستو راشی ان شاء الله.

۱۲- عبد الله بن الزبعریٰ.

۱۳- حارث بن نُفیل۔ ددے خلکو حالت یو ځو صفحے روستو هم بیانیږی۔
او عائشه رضی الله عنها فرمائی :

[وَمَا انْتَقَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِنَفْسِهٖ اِلَّا اَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللّٰهِ فَيَنْتَقِمُ لِلّٰهِ بِهَا]

[بخاری : ۳۵٦۰]

او رسول الله ﷺ هیڅکله د خپل ځان دپاره بدله نهٔ ده اخستے اګرکه هر څو مره ضرر به چا ورکړے وو، مګر که د الله د حکم بے عزتی به وشوه نو بیا به ئے د هغے په وجه د الله دپاره بدله اخسته۔

نو معلومه شوه چه دے خلکو د الله او د رسول او د قرآن او د حدیث او د دین اسلام او د مؤمنانو بے عزتی کړے وه نو ځکه ئے د دویٔ نه بدله اخسته چه د نورو دپاره سبق وګرزی، ځکه چه د الله نبی دے دپاره دنیا ته راغلے وو چه د الله دین په دنیا کښے عام او حاکم شی، نو د دین په باره کښے به ئے د چا سره سمجهوته نهٔ کوله۔

هر چه ابن خطل وو نو هغه اول مسلمان شوے وو او رسول الله ﷺ د زکاة راټولو دپاره د عامل په طور لیږلے وو او د هغهٔ سره ئے یو انصاری صحابی ولیږلو او د هغه انصاری سره یو غلام وو نو دهٔ غلام ته حکم وکړو چه ما دپاره چیلے ذبح کړه او طعام راله تیار کړه نو دے اُوده شو چه رابیدار شو نو هغهٔ طعام نهٔ وو تیار کړے نو دهٔ پرے ومنډه کړه او هغه ئے قتل کړو او هغه مسلمان وو، نو بیا دے مرتد شو او د مشرکانو سره ملګرے شو۔

د فتح د مکے په ورځ دے د کعبے د غلاف پورے انختے وو، خیال ئے دا وو چه ما به څوك نهٔ وژنی، نو پدے کښے یو تن راغے رسول الله ﷺ ته ئے وفرمایل :

[اِبْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِاَسْتَارِ الْكَعْبَةِ]

ابن خطل د کعبے د غلاف پورے انښتے دے نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اُقْتُلُوْهُ]

هغهٔ لره قتل کړه۔ نو سعید بن حُریث مخزومی ﷺ او ابوبرزه اسلمی ﷺ دواړه ورپسے ورغلل او په حرم کښے دننه ئے قتل کړو۔

هر چه عکرمه بن ابی جهل وو نو هغه یمن ته وتښتیدو نو د هغهٔ ښځه ام حکیم بنت الحارث بن هشام ورپسے ورغله او هغه ئے راواپس کړو او هغهٔ اسلام راوړو او

بنائستہ مسلمان ترے جوړ شو، او هغه د فضلاء الصحابه نه وو۔

مکے ته داخلیدل:

د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه الله تعالیٰ ته ئے ډیره زیاته عاجزي کوله پدے سفر کښے او خاصکر کله چه مکے ته داخلیدو، په اوښه باندے سور وو او خپل سر مبارك ئے د ډیرے تواضع د وجه نه دومره خکته کړے وو چه ګیره مبارکه ئے د اوښ د شا نه لګیده چه دے الله ما سره څومره احسانات وکړل چه زهٔ پدے مکه کښے یواځے وم، او چا راله د پناهي ځائے هم نهٔ راکولو، اوس الله ما له دا طاقت راکړو چه زهٔ د لس زره مسلمانانو سره مکے ته فاتحانه شکل کښے داخلیږم، او غلبه د اسلام راځی۔

د عامو بادشاهانو او د ناپوهه مجاهدینو طریقه دا وی چه په داسے مقام کښے د فخر خبرے کوی او ډیر په تکبر سره داخلیږی او خپل فوج ته ډولکی او تنبلونه وهی، لکه اوس هم د عامو یادشاهانو طریقه ده چه کله په یو ملك باندے فوج کشی کوی نو هغوی ته ډولکی وهی۔

لیکن رسول الله ﷺ دلته انتهائی عاجزی او تضرع او د الله ذکر او د قرآن لوستل دا طریقه ئے اختیاره کړه۔

البته د کفارو په مقابله کښے د تکبر خبرے کول جائز دی، لیکن کله چه مقابله غرض نهٔ وی نو بیا الله تعالیٰ ته انتهائی عاجزی پکار ده۔

او الله ته عاجزی یواځے په مانځه کښے نهٔ وی بلکه دا د مؤمنانو صفت دے چه هر وخت کښے به ئے اختیاروی۔

وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخَاشِعِيْنَ مطلب هم دا دے چه مونځ ګران کار دے مګر په هغه چا نهٔ دے ګران چه د مخکښے نه په کښے الله تعالیٰ ته عاجزی وی۔

د رسول الله ﷺ په ټوله زندګئ کښے خشوع او عاجزی مونده کیده، د رسول الله ﷺ په ناسته، په روانیدو، په سورلئ کښے د هغهٔ خشوع وه، په بالخت او بستره او کټ کښے خشوع، د نبی کریم ﷺ داسے بالخت وو چه د څرمنے نه به جوړ وو او په هغے کښے به ئے د کجورے پوستکی اچولی وو، او دومره کټ ئے وو لکه د یو قبر په اندازه۔

او حدیث کښې دي چه په آخره زمانه کښې به د خلکو نه خشوع وځي، مونځونو نه به هم وځي او بهر د مانځه نه هم، او په خلکو کښې به د کبر ماده زیاته پیدا کیږي او دا زمونږ پدې زمانه کښې څومره ډیره موجوده ده، یو تن به په خوله باندې ځان ته عاجز او خاکسار وائي لیکن په زړهٔ کښې به ډیر لوی متکبر وي، په زنانو کښې دا مرض شته پاتې لا سري، ډیر لږ خلك د خشوع په صفت پوهیږي او دا پکښې موندې کیږي۔

نو رسول الله ﷺ د دغه عاجزئ په حالت کښې روان شو مکې ته داخلیدو۔

د قریشو په مشرکانو خو رعب راغې نو عام مشرکان خپلو کورونو ته ننوتل او څوك مسجد حرام ته راغلل او څه د ابوسفیان کور ته ننوتل ځکه چه دا ځایونه د امن او امان وو۔

د قریشو بې وقوفان د اسلامي فوج مقابله کوي :

پدې کښې بعض جاهلانو مشرکانو دا کار وکړو چه څه کسان ئې مقرر کړل چه مقابله کوو، او داسې کسان ئې مقرر کړل چه هغوی غیرمشهور وو، هغوی ته اَوباش وائي، یعنی لوپران، غونډه گر، د یو ځائې او بل ځائې نه ئې راجمع کړل، او خندمه علاقې ته ئې ولیږل چه ددې مسلمانانو لاره په هغې باندې ده، چه دا په مکه کښې یو غر دې، چه دوی به دغه ځائې کښې پټ شي او په مسلمانانو به حمله وکړي، او دا ئې وویل :

[فَاِنْ كَانَ لِقُرَيْشٍ شَيْءٌ كُنَّا مَعَهُمْ]

چه که دوی غلبه وکړه نو مونږ به هم تورې راواخلو او حمله به شروع کړو

[وَاِنْ اُصِيْبُوْا اَعْطَيْنَا الَّذِيْ سَئَلْنَا]

او که دوی مغلوبه شول نو بیا به مجبوراً هغه شې دې نبي ته ورکوو چه هغه څه غواړي۔

او د دوئ دپاره درې کسان مقرر کړې شول عکرمه بن ابي جهل، صفوان بن امیه او سهیل بن عمرو چه تاسو به دا کار کوئ او نورې وقوفه هلکان ئې ځان سره واخستل او خندمې علاقې ته لاړل۔

پدې کښې یو تن وو حِمَاس بن قیس وو چه هغهٔ به هره ورځ وسله (یعنی توره او لینده او غشی) تیاره ول، نو ښځې ورته وویل :

[لِمَاذَا تَعُدُّ مَا أَرٰی ؟]

دا وسله د څه دپاره تیاره وې؟ (ښځه ئې پته مسلمانه وه) (تاریخ مکة للازرقی)

هغۀ وویل : [لِمُحَمَّدٍ وَاَصْحَابِهٖ] د محمد (ﷺ) او د هغۀ د ملګرو مقابله پرې کوم.

نو هغې ورته پیغور ورکړو :

[وَاللّٰهِ مَا يَقُوْمُ لِمُحَمَّدٍ وَاَصْحَابِهٖ شَیْءٌ] .

محمد (ﷺ) او د هغۀ ملګرو ته هیڅ شے نشی تینګیدے، نو غلے کینه په وسلو باندے ګوتے مۀ وهه. هغۀ وویل :

[وَاللّٰهِ اِنِّیْ لَاَرْجُوْ اَنْ اُخْدِمَكِ بَعْضَهُمْ]

قسم په الله زما امید دے چه زۀ به د هغوی نه څه کسان ونیسم چه ستا خادمان به ترے جوړ کړم، (غلام به ترے جوړ کړم)

دا هم پدے بے وقوفانو کښے وو او خندمے علاقے ته ووتل :

پدے کښے د خالد بن ولید ﷺ دسته راغله. چه وے کتل دا کسان مقابلے ته ناست دی، خالد بن ولید ﷺ ورته وویل چه مقابلے مۀ کوئ ځان مۀ خرابوئ، مونږ رسول الله ﷺ ستاسو د قتال نه منع کړی یو کله چه تاسو زمونږ مقابله نۀ کوئ، او که توره مو را اُوچته کړه نو بیا مو وژنو. لیکن هغوی جاهلان وو جنګ ئې شروع کړو.

نو مسلمانانو څوانانو پرے حمله وکړه چه په دوئ کښے علی ﷺ هم دے، تردے چه د مشرکانو نه ئې دولس کسان قتل کړل او د مسلمانانو نه یو تن هم شهید نشو.

صرف دوه کسان د خالد بن ولید ﷺ د ملګرو نه جدا شوی وو او بله لاره ئې اختیار کړے وه، نو دغه مشرکانو دغه دوه کسان ولیدل نو دواړه ئې شهیدان کړل یو د هغوی نه کُرز بن جابر الفِهری ﷺ او بل خُنَیس بن خالد بن ربیعه ﷺ وو.

د ملګرو او د معسکراتو نه په شذوذ (جدا کیدو) کښے ډیر ضرر وی.

نو خالد بن ولید ﷺ ته الله تعالىٰ فتح ورکړه او مشرکان یو طرف او بل طرف ته وتختیدل، صفوان بن امیه په یو پردی کور کښے پټ شو (دا ئې د امان ځائے وګنړلو)،

او عکرمه بن ابی جهل د همدغه ځائے نه جدے علاقے ته لاړو او د هغه ځائے نه ئې اراده وه چه یمن ته وتښتی او دا ټول جزیرة العرب نبی ﷺ ته پریدی او دلته وسیدل خوښ نۀ کړی.

او سهیل بن عمرو هم په یوځائے کښې پټ شو او دغه شان نور مشرکان هم۔
پدے کښې حِمَاس بن قیس هم وتښتیدو کوم چه د مخکښې نه د رسول الله ﷺ د مقابلے دپاره وسله او غشي تیاره ول، کور ته په منډه راوتښتیدو او ښځې ته ئے وویل :

[اَغْلِقِیْ عَلَیَّ بَابِیْ]

ما پسے دروازه بنده کړه، نو ښځې ورپورے د مسخرو په طور وویل :

[فَاَیْنَ الْخَادِمُ الَّذِیْ وَعَدْتَّنِیْ بِهٖ]

ستا هغه خادم څه شو چه تا وئیل چه زۀ به د محمد ﷺ د ملګرو نه خادمان جوړوم۔
نو هغه دومره یرے نیولے وو چه ښځې ته ئے وویل : [دَعِیْ عَنْكِ]
دا خبرے پریده او بیا ئے اشعار وویل :

اِنَّكِ اِنْ شَهِدْتِّ يَوْمَ الْخَنْدَمَةْ	❁	اِذْ فَرَّ صَفْوَانٌ وَفَرَّ عِكْرِمَةْ
وَاسْتَقْبَلَتْنَا بِالسُّيُوْفِ الْمُسْلِمَةْ	❁	يَقْطَعْنَ كُلَّ سَاعِدٍ وَجُمْجُمَةْ
ضَرْبًا فَلَا تُسْمَعُ اِلَّا غَمْغَمَةْ	❁	لَهُمْ نَهِيْتٌ حَوْلَنَا وَهَمْهَمَةْ

لَا تَنْطِقِیْ فِی اللَّوْمِ اَدْنٰی كَلِمَةْ

که تۀ چرے خندمے ته حاضره شوے وے کله چه صفوان وتښتیدو او عکرمه هم وتښتیدو، او مونږ ته مسلمانے تورے مخامخ شوے چه هر مټ او کوپرۍ ئے پریکوله۔
داسے ګوزارونه وو چه د هغے دپاره صرف شرنګارے آوریدے کیدو۔
چه زمونږ نه ګیر چاپیره د هغوی دپاره چغے وے او د هغوی د آسونو آوازونه وو۔
نو تا به په ملامتیا کښې یوه کلمه هم نۀ وے وئیلے۔
(یعنی مونږ معذوره یو، د داسے فوج سره مقابله ډیره سخته وه)
(غمغمه هغه آواز ته وائی چه انسان پرے نۀ پوهیږی، نهیت آوسیلو ته وائی، او همهمه د سینے آواز ته وائی۔

(السیرة النبویة لابن کثیر، والسیرة الحلبیة والروض الانف)

خالد رضی الله عنه ته نبی ﷺ فرمائیلی وو چه تاسو ټول به په صفا غونډۍ راجمع کیږئ او

ما سره به دلته ملاویږئ، خالد بن ولید ﷺ لږ شان تاخیر وکړو بیا روستو صفاته ورسیدو، نبی ﷺ ترې تپوس وکړو چه ولې دې تاخیر وکړو نو هغهٔ ووېل چه مونږ سره جنګ وشو د هغې په وجه روستو شولو۔

څه کسان غرته پورته شول او د هغه ځائے نه ئې حمله وکړه، نو مسلمانان ورپسې شو، پدې کښې علی بن ابی طالب ﷺ د دوه کسانو پسې روان شو تردې چه هغه دواړه ترې د ام هانیء رضی الله عنها کورته ننوتل،

(ام هانئ رضی الله عنها د علی ﷺ خور ده او د مخکښې نه ئې ایمان راوړے او په مکه کښې دیره ده، هجرت ئې نهٔ وو کړے، رواياتو کښې راغلی دی چه دے رسول الله ﷺ ته د نکاح دعوت هم ورکړے وو لیکن رسول الله ﷺ ورسره پدے وجه نکاح ونکړه چه دے هجرت نهٔ وو کړے نو چا چه هجرت نهٔ وو کړے د هغوی سره نکاح هم نهٔ کیده اګرکه مسلمانه به وه،

دا ناشنا مسئله ده چه د مهاجر د هغه زنانه سره نکاح نهٔ کیږی چه هغه د کفارو په علاقه کښې پاتے وی او هجرت ئې نهٔ وی کړے)۔

دا دوه کسان د ام هانئ رضی الله عنها لیورونه وو، نو د هغې نه ئې پناهی طلب کړه، نو کله چه علی ﷺ راورسیدو نو ام هانیء رضی الله عنها ورته راووته چه دا به نهٔ وژنې ما دوی لره پناهی ورکړے ده۔

او ددې واقعې تفصیل د فتح د مکې نه روستو راځی۔

نور چا مقابله ونکړے شوه او رسول الله ﷺ سیده راروان وو مکې ته راننوتو، هیچا ئې مقابله ونکړے شوه۔ نو رسول الله ﷺ سیده مسجد حرام ته ننوتو او په طواف بانديے ئې شروع وکړه (عمره ئې ونکړه ځکه چه د عمرې دپاره ئې احرام نهٔ وو ترلے) ځکه چه د مسجد حرام تحیة المسجد په طواف سره دے، دا قانون د هغه چا دپاره دے چه اول کښې مسجد حرام ته راشی۔

الغرض: رسول الله ﷺ مکمل طواف وکړو، د طواف نه روستو ئې دوه رکعاته وکړل۔ د طواف نه روستو ئې سمدست د بتانو په ماتولو حکم وکړو ځکه چه دا ګندګی ترڅو پورې ختمه شوی نهٔ وی نو بیا خو فتح ناکامه ده، تول کوشش خو د

همدے دپاره دے۔

د رسول الله ﷺ معجزات ښکاره کیدل:

چونکه په مکه کښے نوی خلك وو که دوی د نبی ﷺ معجزے ونهٔ وینی نو د خلکو ایمان به جوړ نشی، ظاهره کښے به ډا ګمان کوی چه دا پیغمبر یو بادشاه دے او راغے علاقه ئے ونیوله او داسے طریقه خو د پخوا نه راروانه ده چه بادشاهان داسے غلبے کوی، نو پدے وجه الله تعالیٰ پدے موقعه کښے هم د رسول الله ﷺ ډیرے معجزے راښکاره کړے دے دپاره چه د خلکو ایمان مضبوط شی او الله تعالیٰ طرفته ئے توجه پیدا شی او د هغهٔ رسول ومنی۔

یوه **معجزه** دا ښکاره شوه چه ابوسفیان او نور مشرکان د خپلو کورونو نه راووتل ځکه چه اُوس سیل کوی، څوك په دیوالونو ناست دی او څوك په جَبَل اَبِیْ قُبَیْس (حرم ته نزدے غر دے) او څه مسجد ته راغلی دی چه مسجد ئے د صفونو نه ډك کړیدے، ګوری چه نبی ﷺ به څهٔ کوی،

نو پدے کښے ابوسفیان په یو ځائے کښے ناست وو او دا سوچ ئے کولو چه ددے سړی مقابله به بیا څه طریقے سره وکړو (سم ایمان ئے لا زړهٔ ته نهٔ وو پریوتے) نبی کریم ﷺ ته وحی وشوه چه ابوسفیان په داسے سوچ کښے ناست دے، نو نبی ﷺ پرے راتیر شو

[وَضَرَبَ بَیْنَ کَتِفَیْهِ]

او هغه ئے د دواړو اُوګو ترمینځ ووهلو او دا ئے ورته وویل:

[اِذًا یُخْزِیْكَ اللّٰهُ]

دغه وخت کښے به تا الله تعالیٰ وشرموی۔

(یعنی کله چه تهٔ د اسلام په خلاف دوباره فوجونه راپورته کوے نو الله به ډے هغه وخت هم وشرموي لکه څنګه ئے چه اُوس وشرمولے)

عام خلك پوهه نشو چه ددے څهٔ مطلب دے، ابوسفیان چه سر پورته کړو نو وے کتل چه نبی ﷺ دے نو ډیر شرمنده شو او تك زیړ شو، (چه دا خو زما د زړهٔ په اراده پوهه شو نو پته ورته ولګیده چه دا رشتینی نبی دے نو پدے معجزے سره د هغهٔ

ایمان په زړهٔ کښې پریواتهٔ، الله تعالیٰ ورته د خیر اراده کړې وه) او دائے وویل :

[مَا اَيْقَنْتُ اَنَّكَ نَبِيٌّ حَتَّى السَّاعَةِ]

[دلائل النبوة للبيهقي ۵/۱۰۲]

زما تر نن ساعت پورې دا یقین نهٔ وو چه تهٔ به د الله نبی ئے، شکی وم، اُوس زما یقین راغې چه تهٔ د الله حق نبی ئے۔

بتان ماتول او مکه د شرک نه پاکول

پدې کښې رسول الله ﷺ د بتانو په ماتولو شروع وکړه نو پدې ورځ ئے هم مات کړل او صبا له او راتلونکو ورځو کښې (چه نولس (۱۹) ورځې ئے په مکه کښې تیرې کړې وې) دائے کوشش وو چه بت پرستی ختمه کړی۔

(**فائده :** اسلام او توحید چه د دنیا نه ختم شویدے نو د دوه مرضونو د وجه نه، ددے وجه نه رسول الله ﷺ به ددے دواړو د ختمولو ډیر سخت کوشش کولو،

یو مرض قبر پرستی ده، د قبرونو تعظیم کول۔ د نوح علیه السلام په قوم کښې پنځه نیکان پیدا شو بیا چه کله مړهٔ شول نو شیطان خلکو ته وویل چه د دوئ قبرونو ته ورځئ، د دوی اکرام کوئ او ددے په وجه به تاسو ته الله یادیږی نو د قبرے حده تعظیم شروع شو۔

زمونږ په اسلام کښې د قبر تعظیم شته خو داسے نشته چه بنده هغې ته سر خکته کړی او سجدے ورته ولګوی او ګنبدونه پرے دپاسه جوړ کړی، یا قبر راوړی او په مسجد کښې ئے جوړ کړی، دا د مسلمانانو دین نهٔ دے، قبر او مسجد په دین اسلام کښې په یو ځائے هیڅکله نشی راجمع کیدے، خو تعجب دا دے چه زمونږ ډیرو مسلمانانو د توحید اصلی خبرے هیرے کړے او په شرکیاتو او خرافاتو کښې اخته شو، ډیر صوفیاء چه ځان ته موحدین هم وائی، مړی په مسجدونو کښې خخوی۔

امام یا د مسجد متولی یا د مدرسے مهتمم چه کله مړ شی نو په جُمات کښې ئے خخوی. دا بیخی د اسلام خلاف طریقه ده۔ دا صرف د پیغمبرانو خصوصیت وی چه کوم ځائے وفات شی هم هلته به خخولے شی، دبل چا دپاره دا قانون نشته۔

د قبر داسې تعظیم چه ګنبد پرې جوړ کړي، یا قبر پوخ کړي، یا په هغې باندې لیکل وکړي، دا هم د اسلام خلاف دي، رسول الله ﷺ ددې نه منع کړېده۔

او رسول الله ﷺ ددې نه هم منع فرمائیلې ده چه د قبر دپاسه کیني، یا د خپلو سره د هغې دپاسه وګرزي، یا هلته بول وبراز وکړي۔

د قبرونو د داسې تعظیم نه شرك پیدا کیږي۔

دویم شے تصویران دي، روستو زمانه کښې شیطان خلکو ته ووېل چه ددې نیکانو تصویرونه جوړ کړئ او په خپلو عبادت خانو کښې ئې کیږدئ نو تاسو ته به الله یادیږي۔ شیطان انسان ته د دین د طرف نه راتاویږي او په شرك کښې ئې اخته کوي۔

بیا لږ روستو زمانه کښې ورته شیطان دعوت ورکړو چه ستاسو مشرانو خو به د دوئ تعظیم کولو نو هغوئ ته سرونه خکته کول شروع شول بیا سجدې شروع شوې نو شرك کښې اخته شول، الله تعالیٰ پدې کار ډیر ناراضه شو نو الله ورته نوح علیه السلام راولیږلو، او په هغوی باندې ئې نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله خواري وکړه، د هغه وخت نه بت پرستي شروع شویده او اُوس هم ترې عامه دنیا ډکه ده۔

د رسول الله ﷺ په زمانه کښې عامه بت پرستي ختمه شوه خو هغهٔ فرمایلي وو چه روستو زمانه کښې به بیا شروع شي لکه اُوس تولې دنیا کښې بت پرستي شروع ده،

عائشه رضی الله عنها فرمائي : نبی ﷺ وفرمایل :

[لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتّٰى تُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزّٰى]

شپه او ورځ به نهٔ ختمیږي تردې چه د لات او عزیٰ عبادت به شروع شي۔

عائشه رضی الله فرمائي : ما عرض وکړو اے د الله رسوله ! زما خو دا ګمان وو کله چه الله دا آیت نازل کړو

﴿هُوَ الَّذِيْ أَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ﴾ [الصف : ۹]

(الله هغه ذات دے چه خپل رسول ئې په هدایت او حق دین باندې راولیږلو دے دپاره چه دا به تولو دینونو باندې غالبه کړي اګر که مشرکان ئې بد ګڼړي)

چه الله خپل دین پوره کړے دے۔ نبی ﷺ وفرمایل :

[إِنَّهٗ سَيَكُوْنُ مِنْ ذٰلِكَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ يَبْعَثُ اللّٰهُ رِيْحًا طَيِّبَةً فَتَوَفّٰى كُلَّ مَنْ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ

حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ اِيْمَانٍ فَيَبْقٰى مَنْ لَا خَيْرَ فِيْهِ فَيَرْجِعُوْنَ اِلٰى دِيْنِ آبَائِهِمْ]

الله چه څومره موده غواړی دین به پوره ساتی، بیا به الله یوه مزیداره هوا راولیږی، نو هر هغه څوك به وفات کړی چه د هغهٔ په زړهٔ کښې د اُوری د دانے په اندازه ایمان وی، بیا به هغه خلك پاتے شی چه هیڅ خیر به پکښې نهٔ وی نو دوئ به د خپلو پلارانو دینونو ته بیرته واپس شی۔ [مسلم : ۷٤۸۳]

او دا ئے هم فرمایلی دی:

[لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَضْطَرِبَ اَلْيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ عَلٰى ذِى الْخَلَصَةِ (حَوْلَ ذِى الْخَلَصَةِ)]

[بخاری : ۷۱۱٦، مسلم : ۷٤۸۲]

قیامت به نهٔ راځی تردے چه د دوس قبیلے د زنانو بدنونه په ذی الخلصه باندے وخوزیږی۔ یعنی پیړے پیړے زنانه مشرکے به د ذی الخلصه بت ته طوافونه شروع کړی۔

او ذی الخلصه یو بت وو چه دَوس قبیلے به په جاهلیت کښې د هغے عبادت کولو، او د رسول الله ﷺ په زمانه کښې ختم شوے وو۔

لکه چه واقعه ئے د حنین او د تبوك د غزا په مینځنئ زمانه کښې راپیښه شویده، کما فی السیرة النبویة عرض ووقائع (٤/۱۷۳)



د ذی الخلصه بت ماتیدل :

بخاري او مسلم روایت کړیدی جریر بن عبد الله بجلي ﷺ فرمائي : ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَلَا تُرِیْحُنِیْ مِنْ ذِی الْخَلَصَةِ ؟]

آیا ما ته د ذی الخلصه بت نه راحت نهٔ راکوې ؟

(دې الفاظو کښې اشاره ده چه رسول الله ﷺ په شرك د امت باندې ډیر زیات پریشانه وو او راحت ئې دا وو چه د دنیا نه د شرك اډې ختمې شي)۔

ما وویل : ولې نهٔ اې د الله رسوله ! نو ما ځان بسره د خپلې اَحْمَس قبیلې نه یو نیم سل (۱۵۰) شاهسواران راواخستل چه ټولو سره اسونه وو، او زهٔ په اس باندې مضبوط نشوم کیناستې، نو ما دا خبره رسول الله ﷺ ته ذکر کړه، نو رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك زما په سینه ووهلو تردې چه د هغهٔ د لاس یخوالې ما په خپله سینه کښې وموندو، او وې فرمایل :

[اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِیًا مَهْدِیًّا]

اې الله ! دا مضبوط کړه او هدایت کونکې او هدایت کړې شوې ئې وګرځوه۔

جریر ﷺ وائي : [فَمَا وَقَعْتُ عَنْ فَرَسٍ بَعْدُ]

ددې نه روستو زهٔ هیڅکله د اس نه نهٔ یم غورزیدلې۔

جریر ﷺ وائي : ذو الخلصه یوه کوټه وه په یمن کښې د خَثْعَم او بَجِیْلَه قبیلې چه په هغې کښې بت وو چه عبادتونه به ئې کیدل هغې ته به ئې کعبه یمانیه وئیله (او د مسلمانانو کعبې ته به ئې کعبه شِمالیه وئیله)

نو جریر ﷺ د خپلو ملګرو سره هغې ته راغلو او هغه ئې په اُور باندې وسیزله او ماته ئې کړه۔

د هغې خوا ته په یمن کښې یو منجور وو چه خلکو له به ئې په غشو باندې قسمتونه معلومول نو هغهٔ ته چا وویل چه دلته د رسول الله ﷺ یو استازې راغلې دې که هغه په تا باندې قادر شو نو څټ به درله ووهي، نو دې مابین کښې هغهٔ خلکو

لرد غشی وهل چه ناګهانه د هغهٔ په سر باندې جریر ﷺ ودریدو او دا ئې ورته وویل :

[لَتَكْسِرَنَّهَا وَتَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَوْ لَاَضْرِبَنَّ عُنُقَكَ]

خامخا دا غشی به ماتوې او کلمه د توحید به وائې یا به دِې څټ وهم۔

نو هغهٔ غشی مات کړل او کلمه د توحید ئې ووئیله۔

بیا جریر ﷺ د احمس قبیلې نه یو سړې رسول الله ﷺ ته د زیری ورکولو دپاره ولیږو چه د هغهٔ کُنیه ابو ارطاة وه، هغه رسول الله ﷺ ته راغلو او دا ئې وویل : قسم په هغه الله چه تهٔ ئې په حق سره رالیږلی ئې،

[مَا جِئْتُ حَتّٰی تَرَكْتُهَا كَاَنَّهَا جَمَلٌ اَجْرَبُ]

زهٔ تا ته داسې حال کښې راغلې یم چه ما ذی الخلصه بت داسې پریخودو لکه ګویا کښې هغه خارختی اُوښ دې (چه هیڅوك خوا له نهٔ ورځی)

نو دې وخت کښې رسول الله ﷺ د اَحْمَس قبیلې د شاهسوارانو او پیاده خلکو دپاره پنځه کرته د برکت دعاء وکړه۔ (چه (اې الله ! دې خلکو ته برکت او خیر ورکړه)

البخاری، المغازی (۱۳۲/۵/رقم (۴۳۵۷)

OOOO

ددې وجه نه رسول الله ﷺ د تصویرانو په باره کښې سخت وعیدونه بیان کړیدی فرمایلی ئې دی :

[مَنْ صَوَّرَ صُوْرَةً فَاِنَّ اللّٰهَ مُعَذِّبُهٗ حَتّٰی يَنْفُخَ فِيْهَا الرُّوْحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ فِيْهَا اَبَدًا]

[بخاری : ۲۲۲۵ مسلم : ۵۶۶۳]

چا چه یو صورت جوړ کړو نو الله تعالیٰ به هغهٔ ته عذاب ورکوی تردې چه هغه پکښې روح وپوکی او دې به په هغې کښې روح هیڅکله نشی پوکلې۔ (یعنی همیشه به په عذاب کښې وی)

او دا مرض اُوس څومره عام دې چه خلکو ته دا وړه ګناه ښکاره کیږی، علماء هم ددې بیان نهٔ کوی او امې هم ددې رد نهٔ کوی او خلکو برې هیڅ پرواه ونکړه۔

الغرض : په کعبه کښې درې سوه شپیته (۳۶۰) بتان لګیدلی وو، څه دننه وو او څه د کعبې نه بهر وو، او څه بتان په بهر علاقو کښې وو چه د هغې عبادت به کیدو

نو د ټولو نه مخکښې ئې اول د بتانو په ماتولو شروع کړه نو یو بت له به ورغې او په

لینده به ئے ووهلو او خکته به ئے راگوزار کړو او دا به ئے وئیل :

[جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا]

(حق راغئے او باطل ختم شو او باطل د حق په مقابله کښې نشی تینګیدے)۔

او دا ئے هم وفرمایل : [وَمَا یُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا یُعِیْدُ]

(باطل ابتدائی پیدائش نشی کولے او نهٔ ئے دوباره کولے شی)

او د رسول الله ﷺ **معجزه** دا وه چه بت له به ئے لینده وروړه او اشاره به ئے ورته وکړه نو هغه به خپله راګوزار شو او ذره ذره به شو چه بیرته به ئے هغه ټوټے جمع کیدے هم نشوے، حال دا چه هغه د مضبوطو کانړو نه جوړ وو چه داسے بت په ډیرو پلکونو او جبلونو سره هم زر نهٔ ماتیږی۔ خلکو ته به هم ددے نه تعجب کیدو۔

صحابه کرامو ته به ئے حکم کولو چه ددے دا ملبه د حرم نه بهر اُویاسئ، دا ټول بتان ئے ختم کړل، صرف هُبَل بت پاتے شو چه دا د مکے د مشرکانو غټ بت وو،

کله چه به سفر ته تلل، ددهٔ خوا ته به راتلل او په دهٔ باندے به ئے استقسامونه کول، ددهٔ منجوران وو هغوی ته به ئے حکم کولو چه زمونږ دپاره فال وګورئ چه زمونږ کار کیږی او که نهٔ، که منګی کښې به ئے لاس خکته کړو او غشے به ئے راویستو نو داسے به ئے وئیل چه اَمَرَنِیْ رَبِّیْ ما ته خپل رب حکم وکړو چه دا کار وکړه، کار کښې برکت شته دے۔

او که په غشی به ئے لیکلی وو چه [لَا تَفْعَلْ] دا کار مهٔ کوه، نو دهٔ به وئیل :

[نَهَانِیْ رَبِّیْ]

زهٔ خپل رب منع کړم او که غشے به تش راوختو نو بیا به ئے بل اچولو او پیسے به ئے منجور ته ورکولے چه پدے طریقه به منجورانو ته ډیر مال جمع کیدو۔

رسول الله ﷺ چه د هبل خوا ته ورغلو نو هغه غټ هم وو او د دواړو طرفونو نه په وسپنو تړلے شوے وو، ددهٔ ماتول سخت وو او ددهٔ په سترګو کښې ئے داسے بلورئ شان ایخودے وے چه رڼرا به ئے کوله۔

نو رسول الله ﷺ چه لینده ورمخامخ کړه نو هغه سره د وسپنو نه مات شو او خکته راپریوتو، ذره ذره شو،

دا د رسول الله ﷺ معجزه وه او الله تعالیٰ خپل حرم د شرك نه پاکولو،

نو الحمد لله چه د هغه ورځې نه پاك شوے تر نن پورے پاك دے لیكن اُوس پكښے د تصویرانو مرض بیا راغے۔

عبد الله بن عباس ؓ فرمائی : د بیت الله نه گیر چاپیره درے سوه شپیته بتان وو چه د هغوی خپے په قلعی باندے د كانړو سره ترلي شوی وو كله چه نبی كريم ﷺ مسجد حرام ته د فتح په كال ننوتو نو په يوه چوكه سره به ئے هغے طرفته اشاره كوله او هغے له به ئے نهٔ وړ وړه او داسے به ئے وئيل :

[وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا، (اسراء : ۸۱) فَمَا اَشَارَ اِلٰی وَجْهِ صَنَمٍ اِلَّا وَقَعَ لِقَفَاهُ وَلَا لِقَفَاهُ اِلَّا وَقَعَ لِوَجْهِهٖ حَتّٰی مَا بَقِیَ مِنْهَا صَنَمٌ]

نو ديو بت مخ ته به ئے اشاره نهٔ كوله مگر هغه به په شا راپريوتو او شا ته به ئے ورله اشاره نهٔ كوله مگر هغه به په مخ راپريوتو تر دے چه د هغے نه يو بت هم پاتے نشو۔

[صحيح مسلم :۱۲۶/۱۲/۱۳۳ وفتح الباری ۸/٤۰۰باب ۱۲ من كتاب التفسير حديث : ٤۷۲۰]

كعبے ته ننوتل :

ددغه وخت نه بتان ختم شول بيا رسول الله ﷺ اراده وكړه چه كعبے ته ننوځی او په هغے كښے مونځ وكړی نو د كعبے چابی د عثمان بن طلحه حجبی سره وه، نو هغهٔ پسے ئے بلال ؓ وليږلو چه چابی راوړی۔

(تاريخی رواياتو كښے دی چه دهٔ لا تر اُوسه ايمان نهٔ وو راوړے، او پخوا زمانه كښے رسول الله ﷺ دهٔ نه مطالبه كړے وه چه ما ته كعبه كولاوه كړه، نو هغهٔ انكار وكړو (ځكه چه واك د هغهٔ سره وو) نو د الله نبی ورته ووئيل :

[لَعَلَّكَ سَتَرٰی هٰذَا الْمِفْتَاحَ يَوْمًا بِيَدِیْ اَضَعُهٗ حَيْثُ شِئْتُ]

چه داسے وخت به راشی چه دا چابی به زما لاس ته راشی، بيا به زما خوښه وی چه ځائے چا له وركوم نو هغهٔ به دے خبرے پورے توقے كولے چه دا څنگه كيدے شی، او دا

ئې ووېل: [لَقَدْ هَلَكَتْ قُرَيْشٌ يَوْمَئِذٍ وَذَلَّتْ]۔

قریش به په هغه ورځ مړه وي او ذلیله به وي۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

[بَلْ عَمَرَتْ وَعَزَّتْ يَوْمَئِذٍ]

بلکه هغوی به ژوندي وي او په دغه ورځ به عزتمن وي۔

د عثمان بن طلحه حجبي رضی الله عنه اسلام

عثمان رضی الله عنه وائي چه د رسول الله ﷺ دے خبرے زما په زړهٔ باندے اثر وکړو نو ما د اسلام اراده وکړه لیکن قوم سخت راخکلم او زما د رایه پورے ئې توقے وکړے۔ نو ددے خبرے نه قلار شوم، نو هرکله چه رسول الله ﷺ مدینے ته هجرت وکړو نو قریش یریدل چه دا نبي چرته په مونږ باندے حمله ونکړي نو دوئ پدے یرو کښے وسیدل تردے چه د بدر غزا ته وتللو وخت راغے نو زهٔ د خپل قوم سره ووتم او په ټولو جنګونو کښے د قوم د طرف نه د رسول الله ﷺ په خلاف باندے شریك شوم،

بیا هرکله چه رسول الله ﷺ مکے ته د عُمرة القضاء په موقعه (یعني د صلح حُدَیبیه د یو کال نه بعد) راغلو، نو الله تعالیٰ زما زړهٔ د مخکښے حالت د شرك نه بدل کړو او زما په زړهٔ کښے ئې اسلام ننویستو او زهٔ شروع شوم چه ما به فکر کولو چه دا مونږ په کوم دین باندے روان یو، او دا مونږ د کوم څیزونو عبادت کوو، چه کاڼړي دي چه لیدل او آوریدل نشي کولے او نهٔ نفع او نهٔ ضرر ورکولے شي او ما به رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملګروته کتل چه د هغوی نفسونه د دنیا نه په یو طرف باندے وو،

(یعني دنیا سره ئې محبت نهٔ وو او ټول نظرئې په آخرت باندے لګیدو)

نو دے خبرے به په ما باندے ډیر اثر کولو، نو ما به په زړهٔ کښے وئیل چه دا خلك چه دا نیك عملونه کوي نو ددوئ غرض صرف د مرګ نه روستو ژوند کښے بدله او ثواب حاصلول دي۔

او ما دا غوښتله چه زهٔ رسول الله ﷺ ته وګورم تردے چه یوه ورځ ما ولیدو چه د مسجد حرام د یوے دروازے نه چه هغے ته باب بني شیبه وائي، (چه د مسجد یوه دروازه ده چه صفا مروه مینځ کښے ده) د هغے نه وتلو او په ابطح (خوړ) کښے خپل د

پراؤ اچولو ځائے ته ئے اراده وه۔ نو ما وغوښتل چه زهٔ ورته راشم او د هغهٔ لاس ونیسم او سلام پرے وا چوم، لیکن ما ته دا توفیق ملاؤ نشو۔ نو پدے کښے رسول الله ﷺ مدینے ته واپس روان شو،

بیا ما ته موقعه ملاؤ شوه چه زهٔ هغه طرف ته روان شوم نو بطن یاجُج ته د شپے لاړم نو هلته د خالد بن ولید سره ملاؤ شوم نو د هغهٔ سره ملګرے شوم تردے چه مونږ هده مقام کښے پراؤ واچولو نو مونږ عمرو بن العاص ولیدو نو هغه زمونږ نه پټ شو او مونږ د هغهٔ نه بیا هغهٔ تپوس وکړو تاسو چرته روان یئ نو مونږ ورته خبر ورکړو نو هغهٔ وویل چه زما هم دغه اراده ده نو مونږ ټول په شریکه مدینے ته راغلو او د رسول الله ﷺ سره مو په اسلام باندے بیعت وکړو او زهٔ مدینه کښے وم تردے چه د هغهٔ سره په غزا د فتح د مکه کښے راووتم او هغه مکے ته راننوتو نو ما ته ئے وویل چه اے عثمان ! د کعبے چابی راوړه۔

(الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله ۲/۱۲۸)

نو هغه لاړو مور ته ئے وویل چه چابی راکړه، هغے وویل : نهٔ ئے درکوم، دهٔ ورته وویل چه د الله رسول ئے غواړی، نو هغهٔ ترے پته کړه او دائے ورته وویل چه آیا تا ته دے سړی نهٔ وو وئیلیٰ چه داسے یو وخت به راځی چه دا چابی به زما لاس ته راځی او چه زهٔ چا له ورکوم زما خوښه ده، نو هسے نهٔ چه چابی درنه واخلی او بل له ئے ورکړی او مونږ خو د کعبے دربانچیان او څوکیداران یو او دا اُوچته مرتبه او عزت دے چه الله مونږ ته راکړیدے، دا به زمونږ د لاس نه ووځی۔

نو رسول الله ﷺ دوه صحابه کرام نور ورولیږل (ابوبکر وعمر رضی الله عنهما) نو مور ئے ویریده چه مرهٔ مو نکړی نو چابی ئے ورکړه۔

رسول الله ﷺ د عثمان ﷺ نه چابی واخسته او کعبے ته ننوتو۔

اول ئے عمر فاروق ﷺ ته حکم وکړو چه تهٔ ننوزه دا بتان راوارته وه (ځکه چه رسول الله ﷺ دا نهٔ خوښوله چه بتان په کعبه کښے وی او دے ورننوزی) عمر فاروق ﷺ ننوتو او ټول ئے ترے بهر راګوزار کړل، بیا نبی کریم ﷺ خپله ننوتو او ځان سره ئے بلال ﷺ او اسامه ﷺ او عثمان بن طلحه حجبی ﷺ واخستو دا څلور کسان صرف ننوتل۔

ابوبکر او عمر او عثمان او علی رضی الله عنهم په شان ټول خلك ئے ځان سره

داخـل نـکـړل، دے کـښـې هم د رسول الله ﷺ تواضع وه چه دا هغه بادشاه نهٔ دے چه دهٔ سره بـه غټ غټ خلك ناست وی بلکه غریبانان او کمزوری به ورسره وی۔ دا د بلال او اسامه رضی الله عنهما ډیر لوی منقبت دے۔

(دا هم د تواضع یوه طریقه ده، د غریبانانو او کمزورو سره کیناستل پاځیدل)

بلال رضی الله عنه خلکو ته سپك ښکاره کیدو ځکه چه یو غلام وو، او اسامه بن زید رضی الله عنه د یو غلام ځوی وو او قریشو ورته ډیر بد نسبتونه کول۔

پـه کـعبه کنبې ئے بعض بتان راوغورزول او پدے کنبے د ابراهیم او اسماعیل علیهما السـلام تـصـویرونه ئے ولیدل چه په دیوال باندے په چونے سره جوړ شوی او په لاسونو کنبے ئے ورله غشی ورکړی وو۔ (د خپل استقسام بالازلام صورت ئے جوړ کړے وو چه لاټری او استقسام کوی، په غشو سره خپل قسمت معلوموی)

رسول الله ﷺ وفرمایل :

[قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ اَمَا وَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمُوْا اَنَّهُمَا لَمْ يَسْتَقْسِمَا بِهَا قَطُّ]

[بخاری : ۱۶۰۱]

الله تـعـالٰی دے دا مشرکان هلاك کړی، قسم په الله ! دوئ ته معلومه ده چه ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام هیڅکله په غشو باندے استقسام نهٔ دے کړے۔

نـو رسـول الله ﷺ د هغـے د ورانولو حکم وکړو لیکن هغه کلك شکلونه وو، دیوال پـورے د چـونے په ذریعه کلك انبنتی وو، نو اُسامه رضی الله عنه تـه ئے حکم وکړو چه اُوبهٔ راوړه، نو هغهٔ اُوبهٔ راوړے او په دیوالونو ئے واچولے او هغه ئے په چوکے سره وگره ول او وران ئے کړل، او کعبه ئے پاکه کړه۔

هـرکـلـه ئے چـه کـعبه معظمه پاکه کړه نو پدے کنبے نبی کریم ﷺ مونځ وکړو، په دروازه چـه مخامخ ننوتو نو شپږ ستنے لگیدلے وے، نو داسے ځائے کنبے ودریدو چه یوه ستـنـه ئے ښی طرف ته راغله او دوه ستنے ئے گس طرف ته او درے ستنے ئے شا ته راغلے، او دیوال ته نزدے ودریدو،

(ددے وجـه نه امام بخاریؒ وائی چه ستره دومره ضروری ده چه په کعبه کنبے دننه هم نبی ﷺ سترے تـه ودریـدلے دے، مـگـر افسوس چه زمـونږ د زمانے ډیر ملیان پدے مسئله نهٔ پو هیږی او نهٔ پرے عمل کوی)۔

دوه رکعاته مونځ ئے وکړو او بیا د کعبے په ټولو ګوټونو کښے وګرزیدو او الله اکبر الله اکبر آواز ئے وکړو (تکبیر ئے ووئیلو) او د الله تعالیٰ توحید ئے بیان کړو۔ لا اله الا الله وحده، او دعاء ئے وکړه، او بیا بهر راووتو۔

اشکال او د هغے جواب

دلته بیا په روایت د اسامه رضی الله عنه کښے دی چه رسول الله ﷺ په کعبه کښے مونځ ونکړو صرف دعاء ئے وکړه، او د بلال رضی الله عنه په روایت کښے دی چه مونځ ئے وکړو نو ددے وجه دا ده چه د مانځه په وخت کښے اسامه رضی الله عنه رسول الله ﷺ د خدمت (اُوبو وغیره) دپاره بهر لیږلے وو نو هغهٔ په مانځه ونهٔ لیدو او هرچه بلال رضی الله عنه وو نو هغه ورسره دننه موجود وو نو د هغهٔ خبرے له به اعتبار وی ځکه چه هغهٔ سره زیاتی علم دے۔

په کعبه کښے یو بل بت وو چه د کونترے په شکل وو او هغه ئے د لرګی نه جوړ کړے وو نو هغه ئے هم مات کړو حال دا چه د کونترے عبادت لا چا کړے هم نهٔ وو لیکن دے خلکو باندے شیطان بنے کوبئ کړے وے۔

هرکله چه رسول الله ﷺ بهر راووتو نو عثمان بن طلحه حجبی رضی الله عنه ته ئے د کعبے چابی بیرته حواله کړه او دا ئے ورته ووئیل،

[خُذُوْهَا تَالِدَةً خَالِدَةً وَلَا يَنْزِعُهَا مِنْكُمْ اِلَّا ظَالِمٌ]

دا چابی واخلئ چه تاسو سره به همیشه وی او تاسو نه به ئے نهٔ اخلی مګر ظالم۔

او هرکله چه عثمان رضی الله عنه روان شو نبی ﷺ ورته آواز وکړو نو هغه راواپس شو او دا ئے ورته وفرمایل : چه آیا هغه کار ونشو چه ما تا ته د هغے په باره کښے خبره کړے وه، عثمان رضی الله عنه وائی چه ما ته هغه خبره رایاده شوه چه ما ته ئے په مکه کښے د هجرت نه مخکښے وئیلے وه چه شاید چه تهٔ به دا چابی زما په لاس کښے وینے چه زما خوښه به وی چه زهٔ ئے چاله ورکوم نو ما ورته ووئیل :

[بَلٰی اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ]

آؤ، زهٔ ګواهی کوم چه تهٔ د الله رسول ئے۔

[الاکتفاء، امتاع الاسماع، السیرة الحلبیة، السیرة النبویة عرض ووقائع، سبل الهدی]

کله چه رسول الله ﷺ راووتو او بهر لاړو نو روستو ئے دا خبره وکړه چه ما نه یو شے

پاتے شو ارمان چه هغه مے لرے کړے وے او حکم ئے وکړو چه هغه تاسو لرے کړئ۔

هغه دا چه د کعبے د دُرشلو په سر باندے دوه ښکرے لګیدلے وے، دا د هغه ګډ ښکرے وے چه ابراهیم علیه السلام ته الله تعالیٰ د اسماعیل علیه السلام د ذبح کولو په بدله کښے د جنت نه رالیږلے وو، نو د یادګار دپاره خلکو دغه ښکرے ساتلے وے او د هغه ګډ جُبیر نوم وو، نو د الله نبی وفرمایل چه په مسجد کښے داسے شے مهٔ پریدئ چه د مونځ کونکو زړونه مشغول کوی، خلك به ښکرو ته ګوری او د ذکر په ځائے به په ښکرو کښے بحث کوی لکه زمونږ د مسلمانانو مساجد همدغه شان جوړ شویدی چه خلك پکښے یو شی او بل شی ته ګوری چه دا کاڼړے او دا لرګے څنګه لګیدلے دے۔

ددے وجه نه ساده جماتونه جوړه ول د رسول الله ﷺ طریقه ده۔

بیا هغه ښکرے هم لرے کړے شوے۔

قریشو ته اولنے تقریر :

رسول الله ﷺ د کعبے په دروازه ودریدو او دواړه دُرشلے ئے ونیولے او لاندے خلك ناست دے نو یو مختصر بیان ئے هغوی ته وکړو او مهمے خبرے ئے بیان کړے چه خلکو ته په ژوند کښے فائده ورکوی :

اول ئے د توحید خبره وکړه داسے ئے وفرمایل : [لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ، لَا شَرِیْكَ لَهٗ]

اے خلکو ! د الله تعالیٰ د ذات نه سویٰ بل اِله نشته، بل څوك د عبادت حقدار او لائق نشته، د هغهٔ سره هیڅ شریك نشته۔

(توحید باندے ډیره خواری پکار ده ځکه چه د چا په توحید کښے معمولی نقصان وی نو غرق دے پدے وجه رسول الله ﷺ پدے باندے زور ولګولو)

[صَدَقَ وَعْدَهٗ وَنَصَرَ عَبْدَهٗ وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهٗ]

الله تعالیٰ د خپل بنده سره وعده رشتینی کړه چه الله ما ته وئیلی وو چه تا له به غلبه درکوم نو دا دے غلبه ئے راکړه او خپل بنده سره ئے مدد وکړو،

(رسول الله ﷺ به ځان ته بنده وئیلو، پدے کښے هم خلکو ته عقیده ښکاره کول دی چه زما په باره کښے به غلطے عقیدے نهٔ ساتئ، زهٔ یو بنده یم، ما به د اُلوهیت درجے ته نهٔ رسوئ، ځکه چه بعض کسان به د رسول الله ﷺ د محبت په باره کښے داسے غلو وکړی چه هغهٔ ته به د اُلوهیت صفات ورکړی)

او یواځې ئې د مشرکانو ټولو ډلو ته شکست ورکړو۔
(پدې کښې هم اشاره کوی چه دا ټول کارونه الله وکړل، خپل ځان ته نسبت نکوی پدې کښې هم د رسول الله ﷺ تواضع ده)
بیا ئې د جاهلیت د رواجونو ختمول بیان کړل ځکه چه رواجونه ختم نشی نو سنت طریقې نشی راتللې۔
[اَلَا كُلُّ مَأْثَرَةٍ اَوْ مَالٍ اَوْ دَمٍ فَهُوَ تَحْتَ قَدَمَيَّ هَاتَيْنِ اِلَّا مَا كَانَ مِنْ سَدَانَةِ الْبَيْتِ وَسِقَايَةِ الْحَاجِّ]
خبر شئ، هر د فخر خبره او هر مال او هره وینه چه د چا په چا باندې وی نو هغه زما د قدمونو نه لاندې شول۔
یعنی پخوا زمانه کښې چه د چا په چا باندې د مال یا د وینې او د قتلونو دعوې دی یا څوك په فخر کښې ځان په بل باندې اوچتول غواړی نو هغه به اوس نۀ کوئ، د جاهلیت خبرې ختمې، د نن نه به نوې خبرې شروع کیږی، نو د جاهلیت لانجې به نۀ راسپړئ، اوس به په نوی دین باندې عمل کوئ۔ البته د پخوا نه چه څوك د کعبې خدمتونه کوی او حاجیانو ته اوبۀ ورکوی نو هغه به په خپل حال باقی پاتې وی۔
دریمه خبره ئې دا وکړه :
[اَلَا وَقَتِيْلُ الْخَطَاِ شِبْهِ الْعَمْدِ بِالسَّوْطِ وَالْعَصَا فَفِيْهِ الدِّيَةُ مُغَلَّظَةً، مِائَةٌ مِنَ الْاِبِلِ، اَرْبَعُوْنَ مِنْهَا فِيْ بُطُوْنِهَا اَوْلَادُهَا]
[النسائی ٤٧٩١ وابوداود : ٤٥٩٠، باسناد صحیح]
دا خبره هم واورئ چه کوم شخص چه په خطاء شبه العمد سره ووژلې شی یعنی په امسا یا په چابك سره ئې قتل کړی (دا خطاء قتل دې مگر د قصدی قتل سره مشابه دې) نو پدې کښې مغلظ یعنی سخت دیت دې، (ځکه چه د انسان بیا د مسلمان وینه ډیره قیمتی ده، ضائع به نۀ ځی، کله د کافر دیت هم وی) او هغه دیت سل اوښان دی چه څلویښت د هغې نه به هغه وی چه په خیټو کښې ئې اولاد وی۔
څلورمه خبره ئې دا وکړه چه تعصب ختم کړئ، ځکه چه عربو کښې په خپلو قبیلو او نسبونو باندې فخرونه وو چه زۀ فلانکی خیل یم او زۀ د فلانی قبیلې یم او زما

پلاران نیکونه داسے سخیان او پهلوانان تیر شویدی نو دا فخرونه به نهٔ کوئ وے فرمایل :

[یَا مَعْشَرَ قُرَیْشٍ ! اِنَّ اللّٰهَ قَدْ اَذْهَبَ عَنْکُمْ نَخْوَةَ الْجَاهِلِیَّةِ وَتَعَظُّمَهَا بِالْآبَاءِ، اَلنَّاسُ مِنْ آدَمَ، وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآیَةَ : یَا اَیُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنَاکُمْ مِنْ ذَکَرٍ وَّاُنْثٰی وَجَعَلْنَاکُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوْا اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقَاکُمْ، اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌ خَبِیْرٌ] (الحجرات ۱۳)

اے د قریشو ډلے! یقیناً الله تعالیٰ ستاسو نه د جاهلیت تکبر ختم کړو او په پلارانو باندے ځان لوی گنړل، خلك ټول د آدم علیه السلام اولاد دے، او آدم علیه السلام د خاورے نه پیدا دے،

(نو زمونږ د ټولو انسانانو جنس یو دے، د خاورے نه پیدا یو نو د خاورے څه کار چه هغه په بله خاوره باندے تکبر او فخر کوی)

بیا ئے د قرآن کریم دا آیت ولوستلو، ترجمه : اے خلکو ! تاسو مونږ د نارینه او زنانه نه پیدا کړی یئ او مونږ تاسو وړے او غټے قبیلے جوړ کړی یئ دے دپاره چه یو بل وپیژنئ (یعنی دا د تعارف دپاره دی) یقیناً په تاسو کښے ډیر عزتمن د الله تعالیٰ په نیز هغه څوك دے چه په تاسو کښے ډیرے تقویٰ والا وی، یقیناً الله تعالیٰ پو هه خبردار دے۔

او رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقعه په ایام التشریق کښے په منیٰ کښے خطبه کښے وفرمایل:

[لَا فَضْلَ لِعَرَبِیٍّ عَلٰی عَجَمِیٍّ وَلَا لِعَجَمِیٍّ عَلٰی عَرَبِیٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلٰی اَسْوَدَ وَلَا لِأَسْوَدَ عَلٰی اَحْمَرَ اِلَّا بِالتَّقْوٰی]

(مسند احمد : ۲۳۵۳۶ اسناده صحیح)

د عربی دپاره په عجمی او د عجمی دپاره په عربی، او د سور په تور او د تور په سور باندے هیڅ غوره والے نشته مګر په تقویٰ سره به غوره والے راځی۔

شپږ مه خبره ئے دا وکړه قریشو ته متوجه شو:

[یَا مَعْشَرَ قُرَیْشٍ ! مَا تَرَوْنَ اَنِّیْ فَاعِلٌ بِکُمْ ؟]

اے د قریشو ډلے ! ستاسو څه خیال دے چه زهٔ به تاسو سره څه کوم ؟

[قَالُوْا : خَیْرًا، اَخٌ کَرِیْمٌ وَابْنُ اَخٍ کَرِیْمٍ]

نو هغوی وویل چه زمونږ په تا باندې د خیر ګمان دے، ته زمونږ عزتمن وروړئے او ستا پلار هم زمونږ عزتمن ورور وو۔ نو د تواضع خبرے ئے ورته وکړے او د هغهٔ د استعطاف (یعنی ځان ته مائله کولو) خبرے ئے وکړے۔

نو نبی ﷺ وفرمایل :

[فَاِنِّیْ اَقُوْلُ لَکُمْ کَمَا قَالَ یُوْسُفُ لِاِخْوَتِهٖ (لَا تَثْرِیْبَ عَلَیْکُمُ الْیَوْمَ]

زهٔ تاسو ته هغه خبره کوم کومه چه یوسف علیهٔ السلام خپلو ورونو ته کړے وه چه په تاسو نن ورځ ملامتیا نشته، الله دِے تاسو ته بخنه وکړی (د هغهٔ بخنے ته متوجه شئ) او هغه د هر چا نه ډیر رحم کونکے دے۔

دے ته کرم او شرف وائی چه په دشمن قادر شی او هیڅ خطره ورسره نهٔ وی او د الله دپاره ئے معاف کړی۔ او په حدیث کښے دی چه په معافئ سره د انسان عزت زیاتیږی۔

بیائے وفرمایل : [اِذْهَبُوْا فَاَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ]

ځئ لاړ شئ، تاسو آزاد یئ، (دے خلکو ته به ئے روستو طُلَقَاء وئیل)

د اکابر المجرمین حالات

مګر دا عفوه هغه کسانو ته نهٔ وه شامله چه هغوی اکابر المجرمین (مشران مجرمان) وو او رسول الله ﷺ د هغوی په باره کښے د قتل حکم کړے وو په هر حال کښے۔ چه د هغوی نوموونه مونږ مخکښے ذکر کړی وو، هغے ته یو ځل بیا رجوع وکړه،

دا کسان د خالد بن ولید سره په جنګ کښے ملاؤ شو لیکن وتښتیدل، او بعض کسان روستو ووژلے شول او بعضو ایمان راوړو۔

د عکرمه رضی الله عنه د اسلام واقعه

په دوئ کښے عکرمه بن ابی جهل جَدے ته وتښتیدو، دا د دریاب په غاړه باندے ده او د هغه ځائے نه ئے اراده وه چه یمن ته وتښتی، ځکه چه دا علاقه ټوله د مسلمانانو لاس

ته راغلے ده، د دوئ ځائے پکښے ورك شو نو كشتئ كښے كيناستو۔

دلته د هغه ښځے ام حكيم بنت الحارث بن هشام رضى الله عنها ايمان راوړو او رسول الله ﷺ ته ئے ووئيل چه زه عكرمه تا ته راولم نو آيا ته به ورله امان ورکړے؟

د الله نبي وفرمايل : بالكل به ئے وركړم۔ هغه ورپسے لاړه او رواياتو كښے راغلى دى چه رسول الله ﷺ ورلره خپل څادر د نښے په طور وركړو چه هغه يقين وكړى،

(د الله تعالىٰ په مخلوق كښے عجيبه نښے د قدرت وى، چا ته ئے چه د ايمان او د خير اراده کړی وی نو اسباب ورته جوړه وی)

دا چه كله د جدے نه كشتئ كښے كيناستو نو الله تعالىٰ په كشتئ باندے سختے هواگانے راوليږلے چه كشتئ پورته كوى او خكته كوى، په مرگ ئے يقين راغلو، نو دے وخت كښے كشتيبان خلكو ته ووئيل : [اَخْلِصُوا]

اے خلكو ! يواځے الله ته آواز وكړئ او د هغهٔ نه مدد وغواړئ، نورو بتانو ته چغه ونكړئ ځكه چه پدے ځائے كښے هغوى مدد نشى كولے،

نو عكرمه چه دا حالت وليدو نو زړهٔ كښے ئے ووئيل چه مونږ د محمد (ﷺ) نه د همدے مسئلے د وجه نه راتښتيدلى يو چه هغه وائى يو الله دے او مونږ وايو ډير دى، نو هركله چه زمونږ آلهه پدے سخت مقام كښے مونږ سره مدد نشى كولے نو بيا په دوى مونږ څه كوو؟ او وعده ئے وكړه كه الله تعالىٰ زهٔ ددے مصيبت نه خلاص كړم نو زهٔ به بيرته واپس كيږم او د محمد رسول الله ﷺ په لاس كښے به لاس ږدم او ايمان به راوړم،

(نو د كشتئ دے تكليفونو ايمان ته مجبوره كړو، انسان چه كله د راحت په حالت كښے وى نو زړهٔ ئے د الله نه غافل وى خو په سخته كښے د هغهٔ د زړه نه د غفلت پرده لرے شى او زړهٔ ئے بيرته فطرت ته واپس شى نو الله وپيژنى، ډير مشركان موحدين شويدى او ډير دهريه مسلمانان شويدى او ډير فاسقان نيكان شويدى، مصيبتونه او دردونه د بندگانو د اصلاح يوه طريقه ده)

نو دے بيرته جدے ته راواپس شو، دلته ورسره خپله بى بى ملاؤ شوه،

او بعض رواياتو كښے دى چه زنانه هم ورپسے يمن ته ورپورے وته۔

كله چه ورسره ملاؤ شوه نو هغهٔ ته ئے دعوت وركړو چه ما ستا دپاره د رسول الله

ﷺ نه امان اخستے دے، او راشه اسلام کښے داخل شه۔ (د خپل خاوند د هدایت غم او فکر ورسره وو) نو هغه ئے راروان کړو او رسول الله ﷺ ته ئے راوستو،

کله چه رسول الله ﷺ ولیدو نو په ډیره خوشحالئ او تازګئ سره هغهٔ ته راپاڅیدو تردے چه د هغهٔ د اوګو مبارکو نه څادر پریوتو او دا ئے ورته وفرمایل :

[مَرْحَبًا بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ]

مرحبا دے وی هغه سور انسان ته چه الله او رسول ته هجرت کونکے دے۔

د رسول الله ﷺ دے اخلاقو ته فکر وکړه چه داسے ئے ورته ونهٔ وئیل چه اے تښتیدلیه ! راغلے، اے د کافر ځویه، او ملامته ئے کړی، د داسے سړی سره اخلاق کوی چه دهٔ هم رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته ډیر ضررونه ورکړیدی،

او ددهٔ پلار ابوجهل هغه سړے دے چه همیشه ئے د اسلام دشمنی کړیده او په رسول الله ﷺ ئے د اوښ لری او پریوانونه غورزول،

نو عکرمه د رسول الله ﷺ پدے موقف او اخلاقو سره ډیر زیات متأثر شو او د هغهٔ احساسات وخوزیدل چه زهٔ ددهٔ دشمن وم او زما څومره صفت ئے وکړو نو په جلتئ سره ئے اسلام راوړو،

او بل طرفته په لاره کښے عکرمه د خپلے بی بی نه د نزدیکت اراده وکړه نو هغے ترے ځان منع کړو او دا ئے ورته ووېل چه تهٔ کافرئے او زهٔ مسلمانه یم، زهٔ ستا دپاره حلاله نهٔ یم، نو دهغهٔ په سترګو کښے د اسلام عظمت راغلو او دا خبره ئے معلومه کړه چه دے د یو عظیم دین سره مخامخ شویدے۔

د عکرمه ﷺ هجرت دا وو چه واپس مکے ته د رسول الله ﷺ خوا ته راتللو۔

نو د کافر په کور کښے الله تعالیٰ داسے شمعه بله کړه، د لوی دشمن ځوی مسلمان شو، بیا دا هغه عظیم سالار او غوره صحابی دے چه په ډیرو غزواتو کښے شریك شوے او د اسلام ډیر عظیم خدمتونه ئے کړی او په آخر کښے شهادت باندے رسیدلے دے۔

دهٔ د رسول الله ﷺ نه دنیا ونهٔ غوښته بلکه دا ئے وغوښتل چه الله تعالیٰ دهٔ ته مخکنی ټول ګناهونه معاف کړی،

بیا ئے د رسول الله ﷺ په مخامخ قسم وکړو چه زهٔ به د الله په لاره کښے دوچنده انفاق کوم، د هغے نه چه په جاهلیت کښے مے کول، او د الله په لاره کښے به د جاهلیت نه

دوچنده قربانی ورکوم، او دے پدے وعده کښے رشتینی راوختو، لهذا دے د الله په لاره کښے د ډیرو اُوچتو بهادرانو قائدینو نه وو په جنګونو د مرتدینو کښے او بیا د شام په فتح کښے، تردے چه په معرکه د یرموك کښے شهید شو پس د هغے نه چه خپل نفس او مال ئے د الله په لاره کښے خرچ کړے وو۔

[التاریخ الاسلامی ۲۲۳/۷-۲۲۵) السیرة النبویة عرض ووقائع لعلی محمد محمد الصلابی ٤/٩٩]

د فرعون په کور کښے ایمان والا پیدا شول نو دغسے د ابوجهل په کور کښے هم عظیم ایمان والا پیدا شو۔ دا د الله تعالیٰ طریقه ده چه څوك د حق سخت خلاف کوی نو دهغهٔ په کور کښے به حق والا پیدا کیږی۔

د صفوان بن امیه ﷺ قصه :

د صفوان د وژلو اعلان رسول الله ﷺ نهٔ وو کړے مګر دا د قریشو په سردارانو کښے دے نو دهٔ سره هم خطره پیدا شوه، دے هم پدے موقعه یو ځائے کښے پټ شو، او بیا شُعَیْبِیّه ته لاړو چه دا په جَدّه کښے د دریاب په غاړه یوه بندرګاه ده۔ ددهٔ هم یمن ته د تللو اراده وه۔

پدے کښے د هغهٔ دپاره دوه کسانو امان واخستو، یو د هغهٔ قومی او ملګرے عُمیر بن وهب (چه ددهٔ د اسلام واقعه مونږ ددے کتاب په دویم جلد کښے ذکر کړے چه د رسول الله ﷺ د قتل پسے صفوان لیږلے وو بیا ئے ایمان راوړو)

او د صفوان ښځے هم ایمان راوړے وو هغه هم ورپسے لاړه۔

عمیر رسول الله ﷺ ته وفرمایل :

[یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ سَیِّدُ قَوْمِیْ خَرَجَ هَارِبًا لِیَقْذِفَ نَفْسَهٗ فِی الْبُحْرِ وَخَافَ اَلَّا تُؤَمِّنَهٗ فَاَمِّنْهُ]

اے د الله رسوله ! زما د قوم سردار تښتیدلے او خپل ځان په دریاب کښے غورزوی، ددے نه یریږی چه تهٔ به ورته امان ورنکړے، نو زما عرض دے چه تهٔ ورته امان ورکړه۔

او عُمیر د نبی کریم ﷺ نه یوه نښه وغوښته نو هغهٔ ورله پټکے ورکړو چه دا ستا نښه شوه او صفوان ته ووایه چه ستا دپاره امان دے۔

عمیر روان شو چه صفوان رسول الله ﷺ ته راولی،

او د صفوان سره یو غلام وو د یسار په نوم باندے چه کله ئے ولیدل چه یو تن راروان دے، غلام ته ئے وویل څه درته ښکاری؟ وے وئیل : عمیر بن وهب راروان دے، هغهٔ وویل : عمیر دلته څه کوی؟ قسم په الله دا محمد (ﷺ) زما د مرګ دپاره رالیږلے دے، بیا ئے وویل : اے عمیره :

[مَا کَفَاكَ مَا صَنَعْتَ بِیْ؟]

آیا تا له هغه کارونه کافی نهٔ دی چه ما سره دے وکړل؟

ما ستا د قرض او د اهل بوج په ځان پورته کړو بیا تهٔ راغے او زما د قتل اراده لرے، نو هغهٔ ورته وویل : اے ابو وهب ! زهٔ دے تا نه قربان شم، زهٔ تا ته د هغه شخص د طرفنه راغلے یم چه د ټولو خلکو نه زیات نیکی کونکے او صله رحمی کونکے دے،

[مَجْدُهٗ مَجْدُكَ وَعِزُّهٗ عِزُّكَ وَمُلْکُهٗ مُلْکُكَ، اِبْنُ اُمِّكَ وَاَبِیْكَ، اُذَکِّرُكَ اللّٰهَ فِیْ نَفْسِكَ]

د هغهٔ شرافت ستا شرافت دے، او د هغهٔ عزت او غلبه ستا عزت او غلبه ده او د هغهٔ بادشاهی ستا بادشاهی ده، ستا د مور او پلار ځوی دے، تا ته الله یادوم چه د خپل ځان غم وکړه۔

هغهٔ وویل : [اَخَافُ اَنْ اُقْتَلَ] زهٔ یریږم چه زهٔ به قتل کړے شم۔

عمیر ورته وویل : هغهٔ تا ته دعوت درکړے چه اسلام ته راداخل شه، که دا دِے خوښ شو خو صحیح ده او که خوښ دِے نشو نو دوه میاشتے مهلت دے، او رسول الله ﷺ د خلکو نه ډیر وفادار او ډیر احسان کونکے دے،

[وَقَدْ بَعَثَ اِلَیْكَ بِبُرْدِهِ الَّذِیْ دَخَلَ بِهٖ مُعْتَجِرًا، تَعْرِفُهٗ؟، قَالَ : نَعَمْ]

او هغهٔ تا ته د نخے په طور هغه څادر رالیږلے دے چه مکے ته د راداخلیدو په وخت کښے ئے هغه په سر باندے اچولے وو، تهٔ ئے پیژنے ؟، هغهٔ وویل : آؤ،

نو عمیر بن وهب صفوان لره د ځان سره راروان کړو او رسول الله ﷺ په مسجد کښے خلکو ته د مازیګر مونځ کولو نو د سلام نه روستو صفوان آواز وکړے (اے محمد!) عمیر بن وهب وائی چه تا ما ته امان راکړے که زهٔ ایمان راوړم، او که نهٔ وی نو دوه میاشتے مهلت دے،

او په بل روایت کښے دی چه صفوان وویل چه زهٔ ایمان نهٔ راوړم تردے چه تهٔ ما ته دوه

میاشتے مهلت راکړے۔ رسول الله ﷺ وفرمایل :

[لَقَدْ اَمْهَلْتُكَ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ]

ما تا ته څلور میاشتے مهلت درکړو، نو لږے ورځے پس د حنین غزا ته رسول الله ﷺ ووتـو او د صفوان نه ئے زغرے عاریةً واخستے او هغه هم ورسره حنین ته په حالت د کفر کښے ووتـو بیا ورته رسول الله ﷺ د حنین په غنیمتونو کښے سل (۱۰۰) اُوښان او بیا سل (۱۰۰) او بیـا سل (۱۰۰) اُوښان ورکـړل تردے چـه اسلام او رسول الله ﷺ ورتـه محبوب شو او حال ئے برابر شو او بهترین مسلمان ترے جوړ شو،

لکه بعض قصه به ئے د حنین د غزا په تفصیلاتو کښے راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

دا واقعه د صفوان روستو راغلے ده یعنی دے وخت رسول الله ﷺ مدینے ته تلے وو۔

OOO

رسـول الله ﷺ پـه مکه کښے په حَجُون علاقه کښے دیره وو کوم ځائے کښے چه زبیر ﷺ ورلـه خیمه وهلے وه، کعبے ته نزدے ځای دے، اُوس په هغه ځائے کښے مسجد الفتح جوړ شوید ے۔

دلتـه رسول الله ﷺ یـوه خیـمـه کښے نـاست دے، ملګری ورسره دی، څوکیداری کوی،

د عبد الله بن سعد بن ابی السرح واقعه

عبد الله بـن سعد بن ابی السرح یو تن وو چه اسلام ئے راوړے وو او د رسول الله ﷺ وحی بـه ئے هم لیکله، بیا مرتد شو او مشرکانو سره پیوسته شو او خلکو ته به ئے دا شکـونـه اچول چه ما قرآن ګډوډ کړیدے او پیغمبر به نۀ پو هیدو، ما ورله ګډوډ لیکلے دے،

(مګر رسول الله ﷺ به وئیل چه سرے غلط دے خو لیکل ئے صحیح کړیدی)

پدے طریقه به ئے مشرکان نور ګمراه کول، د شکیانو شکونه به ئے نور هم زیاتول۔

دا امتـحـان وی، نو دا هم د وژلو لائق وو، دا د عثمان بن عفان ﷺ نزدے خپلوان وو، امام ابو داوّدؒ وائی : دا د عثمان ﷺ رضاعی ورور وو۔

نو دئے عثمان ؓ کره ورغے چه ما دپاره د رسول الله ﷺ نه امان واخله، نو کله چه رسول الله ﷺ د خلکو نه بیعتونه اخستل نو عثمان ؓ دے ځان سره بوتللو، تردے چه په نبی کریم ﷺ باندے ئے ودرولو،

او دے وخت کښے عبد الله بن ابی السرح خپل شکل پټ کړے وو او صورت ئے بدل کړے وو چه څوک ئے د اول نه ونۀ وژنی۔ نو عثمان ؓ وفرمایل: اے د الله رسوله! دا عبد الله بن سعد بن ابی السرح دے، راغلے دے، ایمانٔ راوړی نو دۀ سره بیعت وکړه۔

نو عبد الله زر لاس را اُوږد کړو دے دپاره چه رسول الله ﷺ ورسره بیعت وکړی لیکن رسول الله ﷺ ورته لاس اُوچت نکړو،

(دا اول ځل دے چه رسول الله ﷺ ئے ددے شخص سره کوی، چه یو تن ډے په اسلام باندے بیعت کوی او رسول الله ﷺ ډے ترے اعراض کوی)

ددے منظر په لیدو سره خلکو باندے هم ډیر رعب راغے چه دا شخص ئے خجالته کړو، رسول الله ﷺ ورته وکتل او سرئے خکته کړو، بیا عثمان ؓ وفرمایل: اے د الله رسوله! عبد الله تا سره بیعت کوی، نبی کریم ﷺ ورته لاس اُوچت نکړو، درے ځله ئے دا کار وکړو، څلورم ځل ئے بیا وویل نو نبی کریم ﷺ په نۀ زړۀ سره هغۀ ته لاس ورکړو۔ کله چه دۀ بیعت وکړو او دے لاړو خلاص شو، (ځکه چه د بیعت نه روستو د هغۀ توبه قبوله وی، او معاف وی)

او پدے کښے یو تن نذر منلے وو:

[لَئِنْ رَأَيْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ سَعْدِ بْنِ اَبِى السَّرْحِ لَاَقْتُلَنَّهٗ]

که ما عبد الله بن ابی السرح ولیدو نو زۀ به خامخا هغه وژنم۔ او هغه هم دلته د رسول الله ﷺ څوکیدارئ ته ولاړ دے، پدے کښے دا عبد الله بن ابی السرح هم راغلے دے،

نو کله چه هغه ددے مجلس نه ووتو نو رسول الله ﷺ ملګروته وفرمایل:

[اَمَا كَانَ فِيْكُمْ رَجُلٌ رَشِيْدٌ يَقُوْمُ اِلٰى هٰذَا حِيْنَ رَآنِىْ كَفَفْتُ يَدِىْ عَنْ بَيْعَتِهٖ فَيَقْتُلُهٗ]

آیا په تاسو کښے یو هوښیار سړے نۀ وو چه دے شخص پسے راپاڅیدلے وے کله ئے چه زۀ ولیدم چه ما د هغۀ د بیعت کولو نه لاس بند کړو چه دا ئے وژلے وے۔

(دین ته ئے ډیر ضرر ورکړے وو نو ځکه ددۀ وژل جائز وو)

او نبی کریم ﷺ هغه شخص ته اشاره ورکړه چه ما ددے دپاره دا کار وکړو چه ته خپل نذر پوره کړے۔ نو هغهٔ وویل: اے د رسول الله ﷺ:

[مَا نَدْرِیْ مَا فِیْ نَفْسِكَ]

مونږ ته ستا د زړهٔ خبره نهٔ وه معلومه۔ [فَهَلَّا اَوْمَأْتَ اِلَيْنَا بِعَيْنِكَ]

تا مونږ ته په سترګه سره ولے اشاره نهٔ راکوله؟ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل:

[لَا يَنْبَغِیْ لِنَبِیٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ خَائِنَةُ الْاَعْيُنِ]

[ابوداود: ٢٦٨٥] وانظر صحيح السيرة النبوية ص (٥٢٨)

دیو نبی دپاره دا مناسب نهٔ دی چه د هغهٔ دپاره خیانتګره سترګه شی، (اګرکه دا سړے کافر او منافق دے، د قتل لائق دے مګر رسول الله ﷺ کافر سره هم خیانت نهٔ کوی) ددے وجه نه په سترګو اشارے کول د مسلمانانو د عیب دپاره د منافقانو کار دے۔

نو عبد الله بن سعد پدے طریقه باندے خلاص شو۔

(دا هم د رسول الله ﷺ ډیر اُوچت اخلاق دی چه مرتد او ضرری انسان دے د وژلو قابل دے، خو چه کله هغه بیعت له راغے او سوال زاری کوی نو هغه ئے معاف کړو)

ابن هشام لیکی: چه ددے نه روستو د عبد الله بن سعد بن ابی السرح اسلام ډیر ښائسته شوے وو او عمر فاروق ﷺ په بعض کارونو باندے مقرر کړے وو، بیا عثمان ﷺ په خپل دور کښے د مصر ګورنر مقرر کړے وو۔

او حافظ ابن کثیر لیکی:

[وَمَاتَ وَهُوَ سَاجِدٌ فِیْ صَلَاةِ الصُّبْحِ اَوْ بَعْدَ انْقِضَاءِ صَلَاتِهَا فِیْ بَيْتِهٖ]

دے د سهار مانځه په سجده کښے وفات شو یا په کور کښے ئے د سهار مونځ وکړو بیا وفات شو۔ [البداية والنهاية ٤/٢٩٦]

د مقَیس بن صُبَابه حالت:

رسول الله ﷺ په فتح د مکه کښے د مقیس په باره کښے هم حکم کړے وو چه دے قتل کړئ۔

د مِقْیَس بن صبابه قصه مونږ ددې کتاب په دویم جلد کښې لیکلې ده۔

چه ددهٔ ورور هشام بن صبابه چا وژلے وو نو رسول الله ﷺ ورته دیت ورکړو، نو دهٔ دیت واخستو او د دیت اخستو باوجود ئې یو انصاری صحابی قتل کړو او مکے ته وتښتیدو او کافر شو۔

نو په فتح د مکه کښې ددهٔ پسے یو صحابی نُمَیلَه بن عبد الله ﷺ ورغے او هغه ئې په بازار کښې قتل کړو۔

د هبار بن الاسود ﷺ حالت :

هرکله چه زینب رضی الله عنها چه د رسول الله ﷺ لور ده مدینے ته هجرت کولو نو دے شخص د اُوښ نه غورزولے وه، او د هغے د خیټے نه حمل پریوتو، دے هم پدے موقعه چرته پټ شوے وو، لږ وخت روستو راغے کله چه رسول الله ﷺ په جعرانه کښې وو، او د رسول الله ﷺ سره ئې بیعت وکړو او اسلام ئې راوړو، رسول الله ﷺ ورته هیڅ ونهٔ وئیل، او بیا تر ډیر ښائسته مسلمان جوړ شو، او اسلام مخکښې تول گناهونه او عیبونه ختموی۔ بیا په زمانه د فتوحو کښې شام ته نقل شوے وو، او بیرته په خلافت د عمر بن الخطاب ﷺ کښې واپس راغلو۔

د حارث بن نُفیل حالت :

دهٔ به هم رسول الله ﷺ ته په مکه کښې ډیر زیات ضررونه ورکول نو علی ﷺ دهٔ پسے ورغلو او دا ئې قتل کړو۔

د ابن خطل حالت :

هرچه ابن خطل وو نو هغه اول مسلمان شوے وو او رسول الله ﷺ د زکاة راټولو دپاره د عامل په طور لیږلے وو او د هغهٔ سره ئې یو انصاری صحابی ولیږلو او د هغهٔ سره

یو غلام وو نو دۀ غلام ته حکم وکړو چه ما دپاره چیلے ذبح کړه او طعام راله تیار کړه نو دے اُوده شو چه رابیدار شو نو هغۀ طعام نۀ وو تیار کړے نو دۀ پرے ورمنده کړه او هغۀ ئے قتل کړو او هغه مسلمان وو، نو بیا دے مرتد شو او د مشرکانو سره ملګرے شو۔

د فتح د مکے په ورځ دے د کعبے د غلاف پورے انختے وو، خیال ئے دا وو چه ما به څوك نۀ وژنی، نو پدے کښے یو تن راغے رسول الله ﷺ ته ئے وفرمایل :

[اِبْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِاَسْتَارِ الْكَعْبَةِ]

ابن خطل د کعبے د غلاف پورے انښتے دے نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [اُقْتُلُهُ]

هغۀ لره قتل کړه۔ نو سعید بن حُریث مخزومی ﷺ او ابو بَرزه اَسلمی ﷺ دواړه ورپسے ورغلل او په حرم کښے دننه ئے قتل کړو۔

او هرچه ددۀ دوه **وینځے** وے نو یوه ئے مړه کړه ځکه چه ډیره ضررئ وه، او بلے دپاره چا امان واخستو نو هغۀ ئے معاف کړه، نو هغے ایمان راوړو۔

او دغه شان د **سارے** دپاره هم چا امان واخستو نو هغے هم روستو ایمان راوړو۔

او د **هندے** په باره کښے ئے حکم کړے وو مګر دا هم پټه شوے وه، روستو کله چه رسول الله ﷺ د زنانو سره بیعت کولو نو دا هم پکښے راغله او رسول الله ﷺ وپیژنده نو معاف ئے کړه۔

اکثر مجرمان هم معاف شو خو صِرف یو څو کسان پکښے ووژلے شو، چه هغوی ډیر مؤذین (ضرریان) وو او الله تعالیٰ هغوی دپاره د جهنم اراده کړے وه۔

ابن حجرؒ وئیلی دی چه ابو معشرؒ پدے کسانو کښے حارث بن طلاطل الخزاعی هم ذکر کړیدے چه دا هم علی ﷺ قتل کړو۔

او امام حاکمؒ وئیلی دی چه پدے مجرمانو کښے چه رسول الله ﷺ د هغوی وینه هدر کړے وه کعب بن زهیر هم دے چه د هغۀ قصه مشهوره ده۔ او دے روستو راغے اسلام ئے راوړو او ښائسته مسلمان شو او د رسول الله ﷺ په مدح کښے ئے اشعار وویل چه دا تول اته سړی او شپږ زنانه وے۔ (الرحیق المختوم)

د کعب بن زهیر د اسلام قصه روستو راځی۔

د سُهیل بن عمرو رضی الله عنه اسلام :

سهیل بن عمرو رضی الله عنه خپله قصه بیانوی وائی :

هرکله چه رسول الله ﷺ مکے ته داخل شو او مکه ئے فتح کړه نو زهٔ په کور کښے پټ شوم او ځان پسے مے دروازه بنده کړه، او خپل ځوی عبد الله بن سهیل پسے مے جواب ولیږلو چه زما دپاره د محمد (ﷺ) نه امان واخله ځکه چه ما ته خطره ده چه زهٔ به ووژلے شم، او زهٔ شروع وم چه ما به د محمد (ﷺ) او د هغهٔ د ملګرو سره خپلے زړے کارنامے یادولے ځکه چه زما نه بدو کارنامو والا به بل څوك نهٔ وو، او دا مے مخے ته وه چه زهٔ د حدیبیه په ورځ د رسول الله ﷺ سره په هغه خبرو ملاؤ شوے یم چه هیڅوك ورسره نهٔ دے ملاؤ شوے، او ما ورسره دغه صلحه لیکلے او په هغے کښے مے سختی کړے (لکه چه د بسم الله او د رسول الله د لفظ لیکلو نه ئے انکار کړے وو) او بله دا چه زهٔ د رسول الله ﷺ د مقابلے دپاره بدر او اُحد ته هم حاضر شوے یم، او هر ځل چه قریشو څه حرکت کړے نو زهٔ پکښے شریك شوے یم،

نو عبد الله بن سهیل رسول الله ﷺ خوا ته لاړو، او هغهٔ ته ئے وفرمایل : اے د الله رسوله ! آیا تهٔ به سهیل بن عمرو ته آمان ورکړے ؟ هغه وفرمایل : آؤ،

[هُوَ آمِنٌ بِأَمَانِ اللّٰهِ فَلْيَظْهَرْ]۔

هغهٔ ته د الله په امان باندے امان دے، هغه دِے راښکاره شی۔

بیا رسول الله ﷺ خپلو ګیر چاپیره ناستو ملګرو ته وفرمایل :

[مَنْ لَقِيَ سُهَيْلَ بْنَ عَمْرٍو فَلَا يَشُدُّ النَّظَرَ إِلَيْهِ، فَلْيَخْرُجْ، فَلَعَمْرِيْ إِنَّ سُهَيْلًا لَهٗ عَقْلٌ وَشَرَفٌ،

وَمَا مِثْلُ سُهَيْلٍ يَجْهَلُ الإِسْلَامَ، وَلَقَدْ رَأٰى مَا كَانَ يُوْضِعُ فِيْهِ أَنَّهٗ لَمْ يَكُنْ لَهٗ بِنَافِعٍ]

څوك چه د سهیل بن عمرو سره ملاؤ شی نو هغهٔ ته دِے نیغ نیغ نهٔ ګوری، بلکه هغه دِے (په خیریت سره) راوځی، قسم په الله، سهیل ډیر عقلمند او شرافت والا انسان دے، او د سهیل په شان څوك نشته چه هغه د اسلام نه ناخبره شی، او دهٔ ولیده چه دهٔ په کوم دین کښے تیزی کوله نو هغے ورته فائده ورنکړه۔

(یعنی د خپل دین باطلوالے ورته ښکاره شو، د ذوئ بتانو ورته هیڅ فائده ورنکړه)

نو عبد الله بن سهیل د خپل پلار خوا ته راغلو او دا قصه ئے ورته ذکر کړه نو پدے کښے سهیل بن عمرو وویل :

[كَانَ وَاللّٰهِ بَرًّا، صَغِيرًا وَ كَبِيرًا]

قسم په الله دا نبی ډیر احسان کونکے دے، کشرئ او مشرئ دواړو زمانو کښے۔

نو سهیل په ډیر شك کښے وو، مخکښے کیدو او روستو کیدو به، نو د شرك په حالت کښے د رسول الله ﷺ سره حنین ته روان شو (هلته ئے معجزات ولیدل) نو په جعرانه علاقه کښے ئے ایمان راوړو۔ رضی الله عنه وارضاه

[مغازی الواقدی ۲/ ۸٤٦) المستدرك للحاكم (۳/ ۳۸۱)

دے تربیتی کلماتو په سهیل بن عمرو رضی الله عنه عجیب اثر وکړو چه دهٔ د رسول الله ﷺ صفت وکړو چه دا په ټول عمر کښے احسان کونکے او نیك عمله دے۔ او بیا سهیل روستو په اسلام کښے داخل شو او ډیر بهترین مسلمان ترے جوړ شو او دے په ډیرو نیك اعمالو کولو باندے مشهور وو۔

زبیر بن بکارؒ فرمائی : سهیل بن عمرو رضی الله عنه د اسلام نه روستو ډیر مونځ، او روژو او صدقو والا وو، او شام ته د صحابه کرامو په جماعت کښے جهادونو ته وتلے وو، وئیلے شی چه دهٔ به دومره ډیرے روژے نیولے او ډیر تهجد کول چه ددهٔ رنګ متغیر شوے او خوار شوے وو، او هرکله چه به ئے قرآن کریم واوریدو نو ډیر زیات به ئے ژړل او دا په جنګ یرموك کښے په یوه لوه حصه د فوج باندے امیر مقرر کړے شوے وو۔

[سیر اعلام النبلاء ۲/ ۱۹۵) السیرة النبویة عرض ووقائع ٤/ ۹۲]

ooo

د عتبه او معتب رضی الله عنهما اسلام :

عبد الله بن عباس رضی الله عنه د خپل پلار نه روایت کوی چه هرکله رسول الله ﷺ مکے ته د فتح په موقعه راغلو نو ما ته ئے وویل : ستا دوه وریرونه عتبه او معتب چه د ابولهب ځامن دی چرته دی چه زهٔ ئے نهٔ وینم ؟ ما ورته وویل : د نورو قریشو مشرکانو سره یو طرف ته شوی دی، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه دواړه ما ته راوله، نو زهٔ دواړو

پسے لاړم چه هغه دواړه په عرنه کښے (عرفات خوا ته) وو،
نو ما دواړه راوستـل نو رسول الله ﷺ دواړو ته د اسلام دعوت ورکړو، هغوی دواړو اسلام قبول کړو او د رسول الله ﷺ سره ئے بیعت وکړو بیا رسول الله ﷺ راپاڅیدو او دا دواړه ئے د لاس نه ونیول او ملتزم ته ئے بوتلل نو ډیر ساعت ئے دعاء وکړه بیا راواپس شو او د هغهٔ په مخ مبارك کښے خوشحالی لیدلے کیده،
ما وویـل : اے د الله رسوله ! الله دِے تا خوشحاله کړی، زهٔ ستا په مخ کښے خوشحالی وینم، نو وے فرمایل : ما د خپل رب نه د خپل تره دا دواړه ځامن غوښتی وو نو هغهٔ ما تـه راکړل۔ یـعـنـی مـا سـوال کـړے وو چه الله دا دواړه مسلمانان جوړ کړی نو الله ورته د اسلام توفیق ورکړو۔ نو رسول الله ﷺ د هغوی په اسلام باندے خوشحاله وو،
[سبل الهدی والرشاد ۵/۲۵۰]
داعی له د چا په صحیح عقیده اختیاره ولو باندے دغه شان خوشحالی پکار ده۔

د عبد الله بن زبعریٰ سهمیٔ رضی الله عنه اسلام

عبـد الله بـن زبـعـریٰ یـو شاعر وو چه د رسول الله ﷺ بدی به ئے بیانوله او خپل ټول طاقت ئے د مسلمانانو او د اسلام په خلاف اچولے وو، او ډیر چالاك وو، قریشو ته به ئے اعتراضونه خودل او د قرآن په آیتونو کښے به ئے تعارضونه پیدا کول،
نـو عبـد الله بـن زبـعریٰ او د ام هانیء رضی الله عنها خاوند هبیره بن ابی وهب دواړه نـجـران تـه وتښتیـدل او هـلـتـه هـم پـرے ډیره یره وه تردے چه دواړه په نجران کښے یو مـضـبـوطـے قـلـعـه تـه نـنـوتـل نو د دواړو نه چا تپوس وکړو چه ستاسو څه خبر دے؟ نو دواړو وویـل چـه قـریـشـو اسلام قبـول کړو او رسول الله ﷺ مکے ته داخل شو او مونږ قسـم پـه الله محمد (ﷺ) وینو چه ستاسو دے قلعه ته هم راتلونکے دے، نو پدے کښے بلحارث او کعب شروع شو چه د خپلے قلعه زاړهٔ دیوالونه ئے برابرول او خپلے ګډے بزے ئے راجمع کولے، (دوئ هم په یره کښے شو)
نـو دے وخت کښے حسان بن ثابت رضی الله عنه وریسے شعرونه ور ولیږل چه ابن زبعریٰ ته ئے پیغور ورکولو چه هغے پرے ډیر اثر وکړو، د هغے اول شعر داسے دے :

لَا تَـعْـدِمَـنْ رَجُلًا اَحَلَّكَ بُـغْـضُـهٗ	❁	نَـجْـرَانَ فِـيْ عَيْـشٍ اَحَـذَّ لَـئِيْمِ

الله دې مونږ ته محمد ﷺ باقي وساتي چه دا هغه عظیم شخصیت دے چه ددهٔ بُغض او کینے تهٔ نجران ته ورسولے، او اے زبعریٰ! تا باندے دې الله تعالیٰ سپك او سپیرهٔ او ذلیله ژوند همیشه کړي۔

هرکله چه دا شعر اِبن زبعریٰ ته ورسیدو نو هغه رسول الله ﷺ طرف ته رااروان شو او اسلام ئے قبول کړو، او ددے په باره کښے ئے شعرونه ووئیل :

مَـنَـعَ الـرُّقَـادَ بَلَابِـلٌ وَهُـمُـوْمُ	❁	وَالـلَّيْـلُ مُـعْتَـلِجُ الـرِّوَاقِ بَهِيْـمُ
مِـمَّـا اَتَـانِـيْ اَنَّ اَحْـمَـدَ لَامَـنِـيْ	❁	فِيْـهِ فَبِـتُّ كَـاَنَّـنِـيْ مَحْمُـوْمُ
اِنِّـيْ لَـمُـعْتَـذِرٌ اِلَيْكَ مِـنَ الَّـذِيْ	❁	اَسْـدَيْـتُ اِذْ اَنَـا فِـي الـضَّلَالِ اَهِيْـمُ
اَيَّامَ تَأْمُرُنِيْ بِاَغْوٰى خُطَّةٍ سَهْـمٌ	❁	وَتَـأْمُـرُنِـيْ بِهَـا مَـخْـزُوْمُ
وَاَمُـدُّ اَسْبَـابَ الـرَّدٰى وَيَـقُـوْدُنِـيْ	❁	اَمْرُ الْـغُـوَاةِ وَاَمْرُهُمْ مَشْئُوْمُ
فَـالْيَـوْمَ آمَـنَ بِـالـنَّبِـيِّ مُـحَـمَّـدٍ	❁	قَـلْبِـيْ وَمُـخْطِـئُ هٰـذِهٖ مَـحْـرُوْمُ
مَـضَـتِ الْـعَـدَاوَةُ فَانْقَضَتْ اَسْبَابُهَا	❁	وَدَعَـتْ اَوَاصِـرُ بَيْـنَـنَـا وَحُـلُـوْمُ
فَـاغْـفِـرْ فِدًى لَكَ وَالِدَايَ كِلَاهُـمَـا	❁	زَلَـلِـيْ فَـاِنَّكَ رَاحِـمٌ مَـرْحُـوْمُ
وَلَـقَـدْ شَهِـدَتْ بِـاَنَّ دِيْـنَكَ صَادِقٌ	❁	حَـقٌّ وَاَنَّكَ فِـيْ الْـعِبَـادِ جَسِيْـمُ

غمونو او پریشانو زما خوب ختم کړو او شپے تکے تورے پردے رازوړندے کړے۔

پدے وجه چه ما ته دا خبره راورسیده چه محمد (ﷺ) زهٔ په خپل کار ملامته کړے یم نو ما شپه په داسے حال کښے تیره کړه لکه چه زهٔ تبے نیولے یم۔

(نو) زهٔ تا ته د هغه کارونو نه عذر پیش کوم چه ما کړیدی کله چه زهٔ په گمراهئ کښے حیران روان اُوم۔

دا هغه ورځے وے چه ما ته به سهم قبیلے او مخزوم قبیلے په ناکاره پروگرام باندے حکم کولو۔

او ما بـه د هـلاکـت اسباب اخـکـل، او د گـمـراهانو د خبرو تابعدار اُوم حال دا چه د هغوی کار ټول سپیرهٔ وو۔

نـو نن ورځ زما زړهٔ په نبی محمد رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړو او څوك چه ددے دین نه خطاء کیږی هغه خو پوره محروم دے۔

دشمنیـانـے تیرے شـوے او د هـغـے اسـبـاب ختم شو اُوس زمونږ او د هغـهٔ ترمینځ تعلقات او محبت او بردباری راغله۔

نـو زمـا مـور او پـلار دِے تـا نـه قربان شی، ما ته زما لغزشونه معاف کړه ځکه چه تهٔ رحم کونکے، رحم کړے شوے ئے۔

او یـقـیـنـاً زهٔ گـواهـی کـوم چـه ستا دین رشتینے او حق دے او تهٔ په بندګانو کښے ډیر لوی شخصیت ئے۔

[الاکتفاء ۲/ ۲۲۱ والروض الانف ٤/ ۱۸۱]

بیـا مـکے تـه راغلو او رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو او خپل اسلام ئے ښکاره کړو او د رسـول الله ﷺ نـه ئے مـطالبه وکړه چه دهٔ دپاره ښخنه وغواړی د هغه ټولو دشمنیانو نه چه ددهٔ سره ئے کړیدی او د اسلام سره ئے کړیدی، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

[اَلْاِسْلَامُ یَجُبُّ مَا کَانَ قَبْلَهٗ]

اسلام مخکنی ټول ګناهونه او خطایانے ختموی۔

بیـا رسـول الله ﷺ ځـان تـه نـزدے کـړو او مینه ئے ورسره وکړه او بیا ئے ورله یوه جوړه جَامه په تحفه کښے ورکړه۔ دے ته وائی رحیم پیغمبر۔

[الاعلام للزرکلی ٤/ ۸٤) الاصابة لابن حجر (۲/ ۳۰۸) والسیرة النبویة عرض ووقائع ٤/ ۱۰۵]

هـرکـلـه چـه ابن زبعریٰ رسول الله ﷺ ته راغلو نو رسول الله ﷺ چه ولیدو ملګرو تـه ئے وفـرمـایـل: دا ابـن زبـعـریٰ راروان دے چـه ددهٔ سره داسے مخ دے چه پدے کښے د اسلام رڼړا ښکاره کیږی، هرکله چه دے د رسول الله ﷺ په خوا کښے ودریدو نو سلام ئے واچولو او وے فرمایل:

[اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّكَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدَانِیْ لِلْاِسْلَامِ، لَقَدْ عَادَیْتُكَ.]

زهٔ ګواهي کوم چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه او تهٔ د الله بنده او رسول ئې، الله لره شکر دے چه ما ته ئې اسلام طرف ته هدایت وکړو، اے د الله رسوله ! ما تا سره ډیره دشمني کړیده او ستا په خلاف مې خلك راښکلي او په اسونو او اُوښانو سور شوے یم او په خپلو قدمونو باندے ستا په دشمنئ کښې ګرزیدلے یم، بیا تا نه نجران ته وتښتیدم، او زما اراده وه چه زهٔ به هیڅکله د اسلام اقرار ونکړم، بیا الله تعالیٰ ما ته د خیر اراده وکړه او اسلام ئې زما په زړهٔ کښې واچولو او ما ته ئې محبوب کړو، او ما خپله زړه ګمراهي رایاده کړه چه د هغه شي پسے روان وم چه د هغې پسے روانیدل مناسب نهٔ وو چه هغه کانړے وو، چه ددے دپاره به مو ذبح کوله او عبادتونه به مو کول، چه هغه ددے نه خبر هم نهٔ دے چه څوك ئې عبادت کوی او څوك ئې نهٔ کوی۔

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : الله تعالیٰ لره شکر دے چه تا ته ئې اسلام طرف ته هدایت وکړو، اسلام مخکني ټول ګناهونه ختموی۔

بیا به عبد الله بن زبعریٰ رضی الله عنه د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو په باره کښې ښکلے شعرونه وئیل او د اسلام او د مسلمانانو دفاع به ئې کوله۔

[سبل الهدی والرشاد ۵/ ۲۵۰]

ooo

پدے طریقه مکه مکرمه په آرام شوه او عامو خلکو کښې اسلام څه نا څه درجه کښې راغے۔

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم بله معجزه :

نو نبی کریم ﷺ پدے ورځ باندے دا کار وکړو چه کله د بیت الله خوا ته راغلو نو په دغه ځائے کښې درے کسان ناست دی، یو ابو سفیان، بل عتاب بن اسید او بل حارث بن هشام۔ دے درے واړو خپل مینځ کښې خبرے کولے ځکه چه لا سم ایمان ئې زړونو ته نهٔ دے پریوتے، ځکه چه دوی یو حالت لیدلے وو، هغه دا چه کله د ماسپښین د مانځه وخت شو نو بلال رضی الله عنه ته ئې حکم وکړو چه د کعبې سر ته وخیژی او په هغې اذان وکړی، نو بلال رضی الله عنه لاړو د کعبې سر ته وختلو او اذان ئې وکړو، (الله اکبر الله اکبر، اشهد ان لا اله

الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله) پس د هغے نه چه د محمد رسول الله ﷺ نوم دوی نهٔ منلو اُوس د کعبے په سر باندے دغه آواز کیږی، ډیر ناشنا حالت وو،

چا باندے دا آواز ډیر خوږ لګیدو او بعض کسانو باندے ډیر بد لګیدو، د کفر خبرے ئے هم وکړے لیکن نوی مسلمانان دی، لا ایمان پکښے پوره نهٔ دے راغلے، روستو ترے صحیح خلك جوړ شول۔

دے کښے یو زنانه وویل : د ابوجهل لور جُویره وویل :

[لَقَدْ اَکْرَمَ اللّٰهُ اَبِیْ اِذْ لَمْ یَسْمَعْ نَهِیْقَ هٰذَا الْعَبْدِ الْاَسْوَدِ فَوْقَ الْکَعْبَةِ]

زما پلار ته الله تعالیٰ ډیر عزت ورکړو بنه دے چه پخوا مړ دے چه ددۀ تور غلام د خرۀ په شان رمباړے ئے د کعبے دپاسه وانهٔ وریدے۔ اذان ته ئے د خرۀ رمباړے ووئیلے۔ والعیاذ بالله۔

پدے کښے عتاب بن اسید وویل :

[لَقَدْ اَکْرَمَ اللّٰهُ اَسِیْدًا اَنْ لَّا یَکُوْنَ یَسْمَعُ هٰذَا، فَیَسْمَعُ مَا یَغِیْظُهٗ]

الله تعالیٰ زما پلار اسید ته عزت ورکړو چه ددے غلام دا خبرے ئے وانهٔ وریدے ګنے دے به ډیر غصه کړے وے۔

او حارث بن هشام وویل : بنهٔ دے چه زما پلار مړ دے،

بل روایت کښے دی : [یَا لَیْتَنِیْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا]

ارمان چه زهٔ هم ددے حالت د لیدو نه مخکښے مړ وے۔

او بل لفظ کښ دی : چه داسے ئے وویل : [اَمَا وَاللّٰهِ لَوْ اَعْلَمُ اَنَّهٗ حَقٌّ لَاتَّبَعْتُهٗ]

که ما ته پته وے چه دا حق دے ما به ئے تابعداری کولے خو دا هسے ساحر او جادوګر دے۔

او ابوسفیان وویل (ځکه چه دهٔ مخکښے نه معجزے لیدلے وے) :

[لَا اَقُوْلُ شَیْئًا لَوْ تَکَلَّمْتُ لَاَخْبَرَتْ عَنِّیْ هٰذِهِ الْحَصْبَاءُ]

زهٔ هیڅ نهٔ وایم، او یو کاڼړے ئے راواخستو او وے وئیل که زهٔ څه ووایم نو دا کاڼړے به نبی ﷺ ته زما خبر ورکړی۔

او سهیل بن عمرو او نورو کسانو چه کله اذان واوریدو نو مخونه ئے پټ کړل۔

پډے کښې رسول الله ﷺ په دوئ باندے راتیر شو، ورته ئے ووېل :
تاسو څه وئیل ؟ هغوی ووېل : هسے ناست یو، دے حالاتو ته ګورو، بیا ورته نبی کریم ﷺ وفرمایل :

[لَقَدْ عَلِمْتُ الَّذِیْ قُلْتُمْ]

ما ته هغه خبرے معلومے شوے چه تاسو کومے وویلے. بیا ئے هغوی ته خپلے خپلے خبرے وکړے. دا معجزه د رسول الله ﷺ هغوی ته ښکاره شوه چه د هغوی پټے خبرے ئے هغوی ته د جبریل علیه السلام د خبر د وجه نه بیان کړے. نو پدے کښے د دوه کسانو په زړونو کښې ایمان سمدست ننوتو،

حارث او عتاب ووېل :

[نَشْهَدُ اَنَّکَ رَسُوْلُ اللّٰهِ، مَا اطَّلَعَ عَلٰی هٰذَا اَحَدٌ کَانَ مَعَنَا فَنَقُوْلُ أَخْبَرَکَ]

(مونږ ګواهی کوو چه ته د الله رسول ئے، مونږ سره هیڅوك نهٔ وو چه هغه درغلے وی او تا له ئے خبر درکړے وی، معلومیږی چه تا ته رب العالمین خبر درکړو).

او عتاب بن اسید ډیر ښهٔ مسلمان شو چه نزدے ورځو کښے رسول الله ﷺ په همدے مکه باندے ګورنر مقرر کړو،

او د ابوسفیان ایمان خو د مخکښے نه څه نا څه مضبوط شوید ے.

د ام هانئ رضی الله عنها کور ته ورتلل او صلاة الشکر کول :

دلته په مکه کښے د ام هانیء رضی الله عنها کور نزدے وو چه دا د علی بن ابی طالب ﷺ خور وه، کله چه رسول الله ﷺ مکه فتح کړه نو د چاشت (لس یولس بجو) وخت کښے د ام هانئ رضی الله عنها کور ته ورغلو هلته ئے غسل وکړو او یو څادر ئے ځان ته زوړند کړو چه فاطمے رضی الله عنها د هغے یو طرف نیولے وو او رسول الله ﷺ د هغے نه دننه غسل کولو.

نو ددے غسل په وخت کښې ام هانئ رضی الله عنها د بهر نه راغله، رسول الله ﷺ باندے ئے سلام واچولو نو رسول الله ﷺ د غسل په حالت کښے جواب ورکړو، (ځکه بیخی بربنډ نهٔ وو بلکه خپل عورت ئے پټ کړے وو) څوك ئے ؟ هغے ووېل : ام هانئ

یم۔

رسول الله ﷺ وفرمایل: [مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ]

مرحبا دې وي ام هانئ لره۔ ورته ئې ووېل: څه چل دې؟ هغې عرض وکړو ما دوه ليورونو ته پناه ورکړېده او علي ﷜ د هغوئ پسې انښتې دې هغوي وژني،

نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

[قَدْ اَجَرْنَا مَنْ اَجَرْتِ، وَاَمَّنَّا مَنْ اَمَّنْتَ]

تا چه چا ته پناه او امان ورکړې مونږ هم هغوی ته پناه او امان ورکړې۔

(بعض وائي: دا دواړه حارث بن هشام او زهير بن ابي اميه وو د ام سلمې ورور، چه دې دواړو روستو ښکلې اسلام راوړې)۔

په اسلام کښې د زنانه پناهي ورکول هم صحيح دي، کله چه د جنګ په ميدان کښې پناهي نۀ وي۔ لکه چه ددې خبرې تفصيل مخکښې ذکر شويدې۔

[الدرر في اختصار المغازي والسير، والروض الانف وسيرت ابن هشام]

رسول الله ﷺ چه کله د غسل نه فارغ شو نو يوه کپړه ئې ځان نه تاؤ کړه او اته (۸) رکعاته مونځ ئې وکړو۔ بعض خلك دې ته صلاة الضحیٰ (څابښتي مونځ) وائي، او بعض ورته صلاة الفتح (د فتح مونځ) وائي۔ د الله تعالیٰ د شکر دپاره دا مونځ کوی۔

ام هانئ رضي الله عنها وائي: ما داسې مختصر مونځ د رسول الله ﷺ مخکښې نۀ وو ليدلې، قراءت ئې لنډ وکړو مګر رکوع او سجده ئې کامله کوله۔

کله چه ددې نه فارغ شو نو خپلې خيمې ته واپس لاړو کومه چه په حَجُون کښې وهلې شوې وه۔

د فتح د مکې دويمه ورځ او بله معجزه ښکاره کيدل:

کله چه د مکې د فتح دويمه ورځ شوه نو نبي کريم ﷺ راغې د بيت الله نه ئې طواف وکړو، په دې طواف کښې د يو مشرك اراده وه چه رسول الله ﷺ قتل کړي او قصه ختمه کړي، د هغۀ نوم فضاله بن عمير الليثي دې۔ هغۀ په ترخ کښې پټ يو خنجر نيولې وو او رسول الله ﷺ ته په طواف کښې نزدې راغې، موقعه ګوري چه حمله

وکړی، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : فضاله ئې ؟ هغه وویل : اې د الله رسوله ! فضاله یم۔
وې فرمایل : [مَاذَا كُنتَ تُحَدِّثُ بِهِ نَفسَكَ ؟]
تا په زړهٔ کښې کومې خبرې تیرولې ؟ یعنی د څه اراده دې کړې ؟ هغهٔ وویل :
[لَا شَيْءَ، كُنتُ اَذكُرُ اللّٰهَ]
هیڅ شے نشته، د الله تعالیٰ ذکر کوو۔
نو رسول الله ﷺ ورته وخاندل او ورته ئې وفرمایل : [اَستَغفِرُ اللّٰهَ لَكَ]
تا غلطه اراده کړیده د الله نه بخنه وغواړه۔ او زهٔ تا له د الله نه بخنه غواړم۔
نو هغهٔ پوهه شو چه نبی ﷺ په ما باندې پوهه شو، نبی ﷺ خوا له ورغلو د هغهٔ نه نهٔ یریدو، او د هغهٔ په سینه باندې ئې لاس کیخودو او دا ئې ورته وویل چه استغفر الله ووایه۔ نو هغه وائی :
[وَاللّٰهِ مَا رَفَعَ يَدَهُ عَن صَدرِيْ حَتّٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ شَيئًا اَحَبَّ اِلَيَّ مِنهُ]
چه نبی ﷺ لا زما د سینې نه لاس نهٔ وو اوُچت کړے چه الله تعالی زما په زړهٔ کښې ایمان واچولو او ما ته د ټولو خلکو نه هغه زیات محبوب شو۔
پدې طریقه باندې د هغهٔ د شر نه الله تعالیٰ خپل نبی محفوظ کړو، او هغهٔ ته ئې د ایمان توفیق ورکړو، دا د رسول الله ﷺ معجزه وه۔

د نبی ﷺ دویمه خطبه :

ددې طواف نه روستو نبی ﷺ د صفا غونډئ ته وختلو او هلته ئې خلکو ته بیان وکړو، دا دویم بیان دے۔ او پدې ورځ باندې ئې هم نور ډیر کارونه کړیدی۔
د ټولو نه مخکښې ئې د مکې مکرمې د عزت په باره کښې بیان وکړو، وې فرمایل:
اول ئې د الله حمدونه او ثناء ګانې وویلې کومه چه مشهوره خطبه ده۔
بیا ئې وفرمایل : [اَيُّهَا النَّاسُ، اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ مَكَّةَ يَومَ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالاَرضَ، وَلَم يُحَرِّمهَا النَّاسُ فَهِيَ حَرَامٌ بِحُرمَةِ اللّٰهِ اِلٰى يَومِ القِيَامَةِ، فَلَا يَحِلُّ لِامرِئٍ يُؤمِنُ بِاللّٰهِ وَاليَومِ الآخِرِ اَن يَّسفِكَ بِهَا دَمًا اَو يَعضِدَ بِهَا شَجَرَةً، فَاِن اَحَدٌ تَرَخَّصَ لِقِتَالِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَقُولُوا

اِنَّ اللّٰهَ اَذِنَ لِرَسُوْلِهٖ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ، وَاِنَّمَا اُحِلَّتْ لِيْ سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، وَقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْاَمْسِ، فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ]

اې خلکو! الله تعالیٰ مکې ته د آسمانونو او د زمکې د پیدائش د ورځې نه عزت ورکړې او خلکو دې ته عزت نۀ دې ورکړې (یعنی دا آسمانی عزت دې د خلکو د طرف نه نۀ دې) نو دا د الله تعالیٰ په حرمت سره تر قیامته پورې حرامه ده، نو هیڅ یو تن چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لري له دا جائز نۀ دی چه پدې کښې وینه توی کړي، یا پدې کښې ونې پریکړي، که یو تن د رسول الله ﷺ د قتال نه رخصت نیسی نو تاسو ورته داسې ووایئ چه الله تعالیٰ خپل رسول ته ددې اجازه ورکړې وه او تاسو ته ئې اجازه نۀ ده درکړې، او ما دپاره هم د ورځې لږ وخت اجازه وه (ځکه چه ضرورت وو) نو ددې نن داسې عزت دې لکه څنګه چه پرونئ ورځ ئې عزت وو۔

(صرف ما په پرونئ ورځ کښې لږ قتال وکړو ځکه چه هغه ما ته د الله رب العزت امر وو) نو حاضر خلك دې غائبو ته دا خبره ورسوی۔

او په یو روایت کښې داسې الفاظ دی :

[لَا يُعْضَدُ شَوْكُهٗ وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهٗ، وَلَا تُلْتَقَطُ سَاقِطَتُهٗ اِلَّا لِمَنْ عَرَّفَهَا، وَلَا يُخْتَلٰى خَلَاهُ]

ددې ازغی به نشی شوکولې، او ددې ښکار به نشی شړلې، او دې کښې د چا نه غورزیدلې شې به نشی راپورته کولې مګر هغه څوك چه د هغې اشتهار کوی (نو د حرم لقطه همیشه دپاره حرامه ده، دا د انسان دپاره نۀ حلالیږي، که چا څه وموندل نو د هغه ځائې ادارې ته به ئې سپاری، په نورو ځایونو کښې چه یو قیمتی شې مونده کړې نو کال پورې به ئې ساتې، که مالك ئې پیدا نشو نو خپله ئې استعمالول جائز دی) او ددې ګیاه به نشی شوکولې۔

پدې کښې عباس رضی الله عنه پاڅیدو وې فرمایل : [اِلَّا الْاِذْخَرَ]

اې د الله رسوله ! د سرګړی استثناء وکړه۔ ځکه چه دا زمونږ ډیر د ضرورت شې دې، په درې ځلورو ځایونو کښې ئې استعمالوو، یو د کورونو په چهتونو دپاسه ئې اچوو، دویم لوهاران ئې د بنئ د ګرمولو دپاره اُور ته اچوی، (او په مکه کښې ددې نه غیر نور ډیرې ګیاه ګانې نشته) دریم زرګران ئې استعمالوی، څلورم په قبرونو کښې ئې اچوو۔ او دا سنت طریقه ده چه مړی ته به په قبر کښې لاندې ګیاه (سرګړې، بروزې وغیره) اچولې

شي۔ کپړې او بستره خوره ول د سنت خلاف دي۔ پدې باندې اکثر خلك عمل نهٔ کوي۔

نو نبي ﷺ وفرمايل: [اِلَّا الْاِذْخَرَ] تاسو ته سرګړې جائز دې۔

پدې کښې يو تن د خزاعه قبيلې نه رالګيدلې وو او د بنو ليث نه ئې يو تن وژلې وو او د جاهليت د قتل قصاص ئې اُوس واخستو، نو نبي ﷺ پدې باندې ډير خفه شو او وې فرمايل:

[يَا مَعْشَرَ خُزَاعَةَ ! اِرْفَعُوْا اَيْدِيَكُمْ عَنِ الْقَتْلِ، فَلَقَدْ كَثُرَ الْقَتْلُ اِنْ نَفَعَ، وَلَقَدْ قَتَلْتُمْ قَتِيْلًا لَّاَدِيَنَّهُ، فَمَنْ قُتِلَ بَعْدَ مُقَامِيْ هٰذَا فَأَهْلُهٗ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ، اِنْ شَاءُوْا فَدَمُ قَاتِلِهٖ، وَاِنْ شَاءُوْا فَعَقْلُهٗ]

اې خزاعه قبيلې!، لاسونه د قتلونو نه پورته کړئ، تاسو کښې ډير قتلونه وشول نو څه فائده ئې درکړه، اينده کښې قتلونه مهٔ کوئ او اُوس به ددې قتيل ديت زهٔ ورکړم، ليکن ددې نه پس که چا قتل وکړو نو دوه کاره به ورسره کيږي يا به قصاص ترې اخستې کيږي او که ورثه د مقتول د قصاص معافي وکړي نو ديت به ترې اخستې کيږي۔

په يو روايت کښې دي: د يمن والو نه يو تن پاڅيدو چه هغهٔ ته ئې ابو شاه وئيلو۔ هغهٔ ووېل: [اُكْتُبْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ] اې د الله رسوله! ما دپاره دا مسئلې وليکه۔ نو رسول الله ﷺ ملګرو ته حکم وکړو:

[اُكْتُبُوْا لِاَبِيْ شَاهٍ] تاسو ابوشاه دپاره زما دا خبرې وليکئ۔

(**فائده**: دې ته د علم شوق وائي، چا سره چه د علم شوق وي، نو هغه خبره نهٔ ضائع کوي، يا ئې په ذهن کښې اچوي يا ئې په کتاب او کاپئ کښې جمع کوي،

فائده۲: – ددې حديث نه امام بخاريؒ دا خبره ثابته کړې ده چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم ډير احاديث ليکلې شوي وو، د ډيرو صحابه کرامو کتابچې وې چه په هغې کښې ئې څانله د رسول الله ﷺ احاديث جمع کړي وو، د يادولو او په هغې کښې د نظر اچولو او عمل کولو دپاره،

تقريباً څوارلس کتابونه ليکلې شوي وو، عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما يوه رساله ليکلې وه، الرسالة الصادقه۔ (رشتينې رساله)

سمره بن جندب ؓ یوه رساله لیکلې وه هغې ته ((رسالة سَمُرَه)) وائي۔ ابو هریره ؓ روستو زمانه کښې کتاب لیکلې وو، بشیر بن نهیك صحابي ؓ لیکل کړی وو، سعد ؓ لیکل کړی وو۔

نبي کریم ﷺ خپله د زکاتونو او دیاتو مسئلې لیکلې وې او هغه د ابوبکر صدیق ؓ سره پرتې وې، چه کله به ئې څوك د زکاة د راتولو دپاره لیږلو نو هغهٔ کتاب به ئې ورله ورکولو چه ددې مطابق تاسو فیصلې کوئ۔

نو د رسول الله ﷺ د احادیثو حفاظت په هغه زمانه کښې په درې طریقو سره شوې دې، یو **حِفظ فی الصُّدُوْر**۔ (په سینو کښې هغه یادول)، ځکه چه دا ئې د خپل محبوب کلام وو، او دا ئې د جنت د داخلیدو او د جهنم نه د نجات ذریعه ګنړله او د جاهلیت او د جهل او فساد نه پرې خلاصیږي نو هغه خبره به څنګه نهٔ یادوي۔

او صحابه کرامو ته الله تعالیٰ ډیر مضبوط ذهنونه ورکړی وو، ددین حفاظت ئې پرې کوو، ډیرې غټې غټې خطبې او په سلګونو اشعار به ئې زر یادیدل،

دویمه طریقه : **اَلتَّعَامُل** : کله به ئې چه حدیث واوریدو نو سمدست به ئې پرې عمل کولو نو کله چه یوه خبره په عمل کښې راشي هغه هیڅکله نهٔ هیریږي، ددې وجه نه مونږ نه اُوس د دیاتو او قصاصونو او غلامانو او میراثونو مسئلې هیرې دي ځکه چه عمل پرې نشته۔

او دریمه طریقه : **اَلْکِتَابَةُ**۔ لیکل د هغې په کاغذونو او کتابچو کښې۔ مګر په صحابه کرامو کښې اوله او دویمه ماده زیاته وه نو ځکه پکښې کتابت کم وو۔

ددې وجه نه د احادیثو منکرین عوامو ته شکونه اچوي او د خپل نبي د احادیثو نه ئې منکر کوي، او د خپل دین نه ئې اړه وي، او دا وائي چه احادیث خو یو سل شل کاله پس لیکلې شویدي نو دا د کوم ځائې نه ولیکلې شول۔ او عوام خو ددې تمیز نهٔ لري، نه، بلکه احادیث دین دې چه پدې باندې جنت او جهنم بناء دې، د الله تعالیٰ حجت په انسان باندې هله قائمیږي چه هغهٔ ته صحیح خبرې راورسیږي، او الحمد لله هغه خبرې اُوس هم په صحیح شکل کښې مونږ سرهٔ موجودې دي، خو دوئ د خپلو خواهشاتو تابعدار دي، د دین نه آزادي غواړي، او ډیر خلك ددې پرواه نهٔ کوي چه چا د احادیثو نه انکار وکړو او که نهٔ۔

د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیعت اخستل

هر کله چه خلکو ته پته ولګیده چه د اسلام نه په غیر زمونږ بله چاره نشته، که کفر کوو نو خرابیږو او بار بار معجزات ئې هم ولیدل،

(نو چا په خپل بصیرت سره ایمان راوړو او چا تقلیدی انداز کښې ایمان راوړو، یو بل ته ئې وکتل چه فلانے فلانے ایمان راوړی نو راشه تهٔ هم اسلام راوړه، ددے وجه نه څوك چه په بصیرت ایمان راوړی نو هغه بیا نهٔ خرابیږی او څوك چه د ایمان خوند ونهٔ څکی نو هغهٔ باندے چه کله لږ تکلیف راشی نو بیا تښتی).

نو ددے وجه نه رسول الله ﷺ امر وکړو چه راشئ ما سره په اسلام باندے بیعت وکړئ او دین اسلام کښې داخل شئ.

نو پدے کښې نوی مسلمانان راغی او رسول الله ﷺ د صفا په غونډئ ولاړ دے او بیا په یو اُوچت ځائے کښې کیناستو او عمر فاروق ﷺ ترے لاندے کیناستو، د خلکو رش زیات وو نو رسول الله ﷺ به خبره کوله او عمر ﷺ به خلکو ته هغه آوره وله، چه د الله نبی تاسو نه پدے خبره باندے بیعت اخلی نو خلك به راتلل او بیعتونه به ئې کول، پدے کښې د زنانو نمبر راغے هغوی هم ډیرے راجمع شوے وے، نو پدے کښې هنده رضی الله عنها راغله چه د ابوسفیان ﷺ بی بی او د سیدنا معاویه ﷺ مور ده، چه دا هم په کفر کښې سخته وه، نو هغے ځان پټ کړے وو ځکه چه رسول الله ﷺ ددے د قتل هم حکم کړے وو، نو یریده، چه څوك ئې ونهٔ پیژنی نو د الله رسول ونهٔ پیژانده نو رسول الله ﷺ د یو څو خبرو بیعت اخستو چه هغے ته بیعة النساء وائی. خو دغه خبرے به ئې د سړونه هم اخستے. نو دا ئې ورته وفرمایل :

تاسو به ما سره پدے خبرو بیعت کوئ :

[اُبَایِعُکُنَّ عَلٰی اَنْ لَّا تُشْرِکْنَ بِاللّٰهِ شَیْئًا]

زهٔ تاسو سره بیعت کوم پدے خبره چه تاسو به د الله تعالیٰ سره هیڅ شے نهٔ شریکوئ.

نو هندے پکښې وویل :

[قَدْ عَلِمْتُ اَنَّهٗ لَوْ کَانَ مَعَ اللّٰهِ غَیْرُهٗ، لَاَغْنٰی عَنَّا]

زهٔ پوهه شوم چه که د الله تعالیٰ سره بل څوك معبود وے نو مونږ ته به ئے فائده راکړے وے، خو مونږ ته دے بتانو څه فائده راکړه۔

[وَلَا تَسۡرِقۡنَ] او غلا به نهٔ کوئ نو پدے کښے هندے ووئیل :

[اِنَّ اَبَا سُفۡيَانَ رَجُلٌ شَحِيۡحٌ]

اے د الله رسوله ! ابوسفیان زما خاوند دے او هغه بخیل (په خرچه کښے سخت) سړے دے، ماله او زما بچو له سمه نفقه نهٔ راکوی نو زهٔ د هغهٔ د مال نه لږ لږ څه بغیر د هغهٔ د اجازت نه اخلم، نو آیا دا به ما دپاره حرامه وی او که حلاله ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[خُذِيۡ مَا يَكۡفِيۡكِ وَوَلَدَكِ بِالۡمَعۡرُوۡفِ]

اخله د هغهٔ د مال نه هغه اندازه چه ستا او ستا د بچو کافی کیږی خو د عرف مطابق۔ او زیاته به تربے نهٔ اخلے، نو د ښځے دپاره د خاوند مال هم حرام دے بغیر د اجازت د هغهٔ نه، صرف د نفقے په اندازه تربے اخستے شی کله چه هغه ورله نفقه نهٔ ورکوی۔

(ددے نه بله مسئله معلومیږی چه هغے ته مسئله د ظَفر بالحق وائی، یعنی خپل حق باندے کامیابی، مثلاً یو تن پورے ستا حق دے، او هغه ئے نهٔ درکوی نو تهٔ کولے شے چه د خپل حق مطابق د هغهٔ نه یو شے پټ کړے، یا ئے تربے په زوره ونیسے چه زما حق ادا کړه بیا به دا شے درکړم)

دلته رسول الله ﷺ هنده وپیژنده ورته ئے ووئیل : [اِنَّكِ لَاَنۡتِ هِنۡدٌ ؟]

تهٔ خو هنده ښکاره کیږے؟ هغے ووئیل : آؤ اے د الله رسوله :

[اُعۡفُ عَنِّيۡ عَفَا اللّٰهُ عَنۡكَ]

ما ته معافی وکړه، الله تعالیٰ دے تا ته معافی وکړی۔ (الروض الانف)

بیا ئے وفرمایل : [وَلَا تَزۡنِيۡنَ]

او زنا به نهٔ کوئ نو هندے جواب ورکړو :

[اَوَ تَزۡنِي الۡحُرَّةُ ؟!]

اے د الله رسوله ! آیا حُره ښځه گنے زنا کوی؟!، د عربو عادت دا وو چه په هغوی کښے

بـه آزادو ښـځـو د غیـرت د وجـه نه زنا نهٔ کوله، غیرت ئې زیات وو۔ زنا په وینځو کښې عـامـه وه۔ او ځـرو ښـځـو بـه ډیر شاذ او نادر زنا کوله، ځکه چه د وینځو تربیت نهٔ وی شوې، او اخلاق ئې خراب وی، او غیرت پکښې دومره نهٔ وی۔

نـو دې هـم دا تـعجب وکړو او مطلب ئې دا وو چه تهٔ مونږ نه د هغه خبرې بیعت اخلې چه هغه په مونږ کښې نشته۔

څلورمه خبره : [وَلَا تَقْتُلْنَ اَوْلَادَكُنَّ]

او خپل بچی به نهٔ وژنئ، نو دې وخت کښې هندې یوه مزاحیه خبره وکړه :

[رَبَّيْنَاهُمْ صِغَارًا وَقَتَلْتُمُوْهُمْ كِبَارًا]

مـونږ خو ماشـومـان راغټ کـړی وو او پـه بـدر کښې تاسو ووژل۔ (په بدر کښې اویا کسانو وژلو ته ئې اشاره وکړه چه په هغې کښې ددې ځوی حنظله بن ابی سفیان هم وو) رسول الله ﷺ پدې خبره مسکې شو او عمر ﷺ وخندل۔

(السیرة الحلبیة، الرحیق)

پنځمه خبره : [وَلَا تَأْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ]

تـاسـو بـه بهتـانـونه نهٔ تړئ، او په چا به بدنامې نهٔ لګوئ (په زنانو کښې د بهتان تړلو ماده زیاته وی نو ددې نه ئې منع کړل) نو هندې وویل :

[وَاللّٰهِ، اِنَّ الْبُهْتَانَ لَأَمْرٌ قَبِيْحٌ وَمَا تَأْمُرُنَا اِلَّا بِالرُّشْدِ وَمَكَارِمِ الْاَخْلَاقِ]

قسـم په الله بهتان خو یو قبیح کار دې او تهٔ خو مونږ ته په هدایت او عزتمنو اخلاقو حکم کوې۔

شپږمه خبره : [وَلَا تَعْصِيْنَ فِيْ مَعْرُوْفٍ]

تاسو به په نیکئ کښې زما نا فرمانی نهٔ کوئ۔ نو هندې وویل :

[وَاللّٰهِ مَا جَلَسْنَا مَجْلِسَنَا هٰذَا وَفِيْ اَنْفُسِنَا اَنْ نَّعْصِيَكَ]

قسـم پـه الله مـونږ چه دې مجلس ته حاضر شوی یو نو پدې نیت نهٔ یو چه مونږ به ستا نافرمانی کوو، بلکه په همدې نیت راغلی یو چه ستا خبره به منو۔

هرکله چه هنده رضی الله عنها ددې مجلس نه کور ته لاړه نو هغې خپل یو بت مات کړو او دا ئې ورته وویل : [كُنَّا مِنْكَ فِيْ غُرُوْرٍ]

مونږ په تا باندې دهوکه شوي وو چه ته به د عبادت لائق ئې، او زمونږ حاجتونه به پوره کوې.

او په صحیح کښې دي: هنده بنت عتبه رضی الله عنها راغله او وې فرمایل:

[یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا کَانَ عَلٰی ظَهْرِ الْاَرْضِ مِنْ اَهْلِ خِبَاءٍ أَحَبُّ اِلَیَّ اَنْ یَذِلُّوْا مِنْ اَهْلِ خِبَائِكَ، ثُمَّ مَا اَصْبَحَ الْیَوْمَ عَلٰی ظَهْرِ الْاَرْضِ أَهْلُ خِبَاءٍ أَحَبَّ اِلَیَّ اَنْ یَعِزُّوْا مِنْ أَهْلِ خِبَائِكَ]

[بخاری: ۳۸۲۵]

اې د الله رسوله! په مخ د زمکه هیڅ خیمې والا ما ته خوښ نهٔ وو چه هغوی ذلیله شي ستا د خیمې والو نه اُوس حالت دا دې چه نن ورځ په مخ د زمکه باندې زهٔ هیڅ خیمې والا ستا د خیمې والو نه ډیر عزتمن نهٔ غوارم.

(**فائده**: دا د صحابه کرامو طریقه وه چه کله به په کفر کښې سخت وو بیا کله به چه د هغې نه اسلام ته راغلل نو بیا به په اسلام او په اتباع کښې هم دغه شان کلك وو، بین بین او درمیانه به نهٔ پاتې کیدل چه د کفر نه راوځي او بیا په اسلام کښې پوره داخل نشي، په خلاف زمونږ د طریقې نه چه د کفر نه خو ووځي لیکن همغه فسادونه او رواجونه کوي او د حلال او حرامو تمیيز نهٔ کوي، په ودونو او غمونو کښې په خرافاتو او بدعاتو باندې روان وي نو دا د صحابه کرامو نقش قدم نهٔ دې)

بیا زنانو ووېل: چه مونږ ته لاس راکړه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

[اِنَّمَا قَوْلِیْ لِاِمْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ کَقَوْلِیْ لِمِائَةِ امْرَأَةٍ]

زما خبره یوې ښځې ته داسې ده لکه سلو ښځو ته، (یعني زما په خبره کښې هیڅ فرق نشته)

عائشه رضی الله عنها فرمائي:

[وَاللّٰهِ مَا مَسَّتْ یَدُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ یَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ]

[بخاری: ۲۷۱۳]

قسم په الله د رسول الله ﷺ لاس هیڅکله د هیڅ پردئ زنانه د لاس نه نهٔ دې لګیدلې.

(اګر که رسول الله ﷺ مأمون وو، زړهٔ ئې پاك وو، او د امت پلار دې، لیکن پدې

طریقے سره ئے امت ته تعلیم ورکولو چه پردو زنانو ته به لاس نهٔ ورکوئ۔ د ماما، کاکا بنځے او ورندار ته به لاس نهٔ ورکوی۔

او په یو بل روایت کښے دی: [مَا كَانَ يُبَايِعُهُنَّ إِلَّا كَلَاماً]

رسول الله ﷺ به د زنانو سره په خبرو سره بیعت کولو۔

په حدیث د عباده بن صامت ؓ کښے راغلی دی (کوم چه په بیعت د عقبه کښے ذکر شویدے) صحابه کرامو وفرمایل: چه که مونږ دا کارونه وکړل نو مونږ ته به څه ملاویږی؟ وے فرمایل:

[فَمَنْ وَفٰى فَلَهُ الْجَنَّةُ]

چا چه ددے کارونو وفاداری وکړه نو هغهٔ دپاره به جنت وی او چا چه ددے کارونو نه څه شے مات کړو او الله پرے پرده واچوله (په دنیا کښے) نو ددهٔ کار الله ته سپارلے شویدے، د هغهٔ خوښه ده، عذاب به ورکړی یا به ئے معاف کړی۔

او دا ګناهونه چه پدے حدیث کښے ذکر شول نو دا افحش الذنوب (ډیر ناکاره ګناهونه) دی، اکبر الکبائر او د ګناهونو بنیاد دے، او د نبی ﷺ د سنتو خلاف د لعنت سبب دے، نبی کریم ﷺ فرمائی:

[سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ وَكُلُّ نَبِيٍّ يُجَابُ]

شپږو کسانو باندے ما لعنت وئیلے دے او د هر نبی ښیرے قبلیږی، یو په هغوی کښے [اَلتَّارِكُ لِسُنَّتِيْ] هغه شخص چه زما سنت طریقے پریدی۔

(الترمذی: ٢١٥٤)

او بل صحیح حدیث کښے دی:

[فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ]

[بخاری: ٥٠٦٣، مسلم: ٣٤٦٩]

څوك چه زما د سنت نه اعراض وکړی هغه زما نه نهٔ دے۔

بیا دا بیعت لکه څنګه چه د صحابه کرامو سره وو نو دغه شان زمونږ سره هم دے، اګرکه رسول الله ﷺ ژوندے نهٔ دے مګر مونږ به د هغهٔ د احادیثو سره بیعت کوو، او په دغه خبرو به عمل کوو، او د پیرانو او بزرګانو سره بیعتونه کول په دین کښے نهٔ دی راغلی، د هغوی نه لاس نیوکے کول بدعت دے، بلکه ټول امت به د نبی ﷺ سره

بیعت کوی۔

الغرض: د زنانو سره بیعت وشو، او نور کارونه وشو یو د هغې نه د رسول الله ﷺ په باره کښې یره او بیا د رسول الله ﷺ هغوی ته تسلی ورکول۔

د انصارو ویره:

هر کله چه رسول الله ﷺ مکه فتح کړه، نو انصارو سره خطره پیدا شوه د وجه د ډیر محبت نه چه رسول الله ﷺ خو خپله علاقه ونیوله او د خپلو خپلوانو سره ملاؤ شو نو دا به زمونږ نه دلته خپل کلی کښې پاتے شی او مونږ به د خپل خوږ محبوب نه محروم شو، او مدینه به د رسول الله ﷺ په شان عظیمے هستۍ نه محرومه شی۔

نو دے وخت کښې رسول الله ﷺ د صفا په غونډۍ ولاړ وو، لاسونه ئے پورته کړی وو، دعاء ئے کوله، هر کله چه د دعاء نه فارغ شو نو دوی ته ئے وویل: [مَاذَا قُلْتُمْ؟]

تاسو څه وویل؟ هغوی وویل: هیڅ نشته اے د الله رسوله! نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: وواییٔ څه خبره خو مو وکړه۔ نو هغوی ورته خپله دغه خطره ذکر کړه چه تا مکه فتح کړه کیدے شی چه دلته پاتے شے۔

نو رسول الله ﷺ د هغوی د تسلۍ دپاره وفرمایل:

[مَعَاذَ اللّٰهِ، اَلْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ]

د الله پورے پناه هی طلب کوم (چه زۀ دلته پاتے شم، ځکه چه څوك د یو ځائے نه هجرت وکړی نو بیا هغې ته د دیره کیدو دپاره نۀ واپس کیږی)

زما ژوند به هم ستاسو سره وی او مرگ به مے هم تاسو سره وی۔ نو پدے خبره آوریدو باندے انصار ډیر زیات خوشحاله شو۔

د رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کې کارونه:

رسول الله ﷺ چه کله د دغه کارونو نه فارغ شو نو په مکه کښې ئې نولس (١٩) ورځې تیرې کړې لکه دا په روایت د ابن عباس کښې په بخاري (٤٢٩٨) کښې راغلي دي، چه پدې وخت کښې د هغهٔ کار دا وو:

[يُجَدِّدُ مَعَالِمَ الْإِسْلَامِ]

د اسلام احکام او د اسلام شعائرئې راتازه کول، خلکو ته به ئې مونځونه، زکاة، روژه، حج او ایمانیات او عقیدې او نظریې او اعمال خودل، او خلکو کښې به ئې سنت طریقې رائج کولې او خرافات به ئې ختمول، ځکه چه خلك نوي دي، او خلك به ئې هدایت او تقویٰ ته رابلل، او دلته عملي تعلیم هم شروع دې، چه نوي مسلمانان نورو مسلمانانو ته وګوري چه کوم اعمال کوي نو دوئ ئې هم هغسې کوي، او بل طرفته قولي تعلیم هم حاصلوي، لکه د نبي ﷺ د دعوت دوه طریقې وې، عملي او قولي.

نو اسلام پدې طریقه باندې خور شو، عملي تعلیم په ذهن کښې ډیر ښه واقع کیږي.

دلته رسول الله ﷺ یو صحابي ابو اُسَید الخزاعي ﷺ ته حکم وکړو چه ته لاړ شه او د حرم حدود نوي او تازه کړه (لکه د حرم خاص حدود دي) یعني هلته کاڼي وغیره ولګوه چه خلکو ته پته لګیږي چه ددې ځائې نه حرم شروع کیږي او اُوس د پنځو طرفونو نه په هغې باندې د یو میټر په اندازه د هغې په لارو کاڼ لګیدلي دي چه په هغې باندې په عربئ او نورو ژبو لیکل شویدي چه ددې ځائې نه حدود د حرم مکي شروع کیږي.

نو د شمال (یعني د مدینې نه) ددې حد تنعیم دې چه دې ته مسجد عائشه هم وائي ددې او د کعبې ترمینځ (٦) کیلو میټره فاصله ده. او د جنوب د طرف نه (یعني یمني طرف) اضاة لبن دې چه ددې او د مکې ترمینځ (١٢) کیلو میټره فاصله ده. او د مشرق د طرف نه جعرانه چه ددې او د مکې ترمینځ (١٦) کیلو میټره ډي.

او د شمال مشرقی د طرف نه وادی نخله ده چه ددے او د مکے ترمینځ (۱٤) کیلو میټره دی۔ او د مغرب د طرف نه ئے شُمَیسی حد دے چه ددے او د مکے ترمینځ (۱۵) کیلو میټره فاصله ده۔

علامه طبریؒ د زهریؒ نه هغه د عبید الله بن عبد الله بن عتبهٔ نه روایت کوی چه ابراهیم علیه السلام ته جبریل علیه السلام دا ځایونه خودلی وو چه دلته نخے ودروی، بیا روستو زمانه کښے قُصی بن کلاب راتازه کړل، بیا نبی کریم ﷺ تازه کړل د تمیم بن اسید الخزاعی رضی الله عنه په لاس باندے او بیا د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښے بیا معاویه رضی الله عنه تازه کړل بیا عبد الملك بن مروانؒ د هغے په تجدید باندے حکم وکړو۔

او د حرم خپل خصوصی احکام دی۔

پدے کښے د جمعے ورځ راغله نو خطبه ئے ورکوله او هغهٔ تور پټکے په سر کړے وو۔

حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد کښے لیکی: بیا رسول الله ﷺ همیشه تور پټکے نهٔ دے په سر کړے، او دا د جمعے د ورځے دپاره خاص کول هم ضروری نهٔ دی بلکه دا د یوے ورځے عمل وو، نور پټکے په سر کول یو بهتر عمل دے، بغیر د پټکی نه هم مونځ کیږی، او یوائے د ملاصاحب دپاره هم خاص نهٔ دے۔

پدے نولس (۱۹) ورځو کښے به رسول الله ﷺ په مسجد حرام کښے قصر کولو یعنی څلور رکعاتی او درے رکعاتی مونځ به ئے دوه رکعاته کول، او جمع بین الصلاتین به ئے نهٔ کوله، ځکه چه د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه کله به مسافر وو او یو ځائے کښے به دیره شو نو بیا به ئے دوه مونځونه نهٔ یو ځائے کول۔ البته په روان سفر کښے به ئے جمع کول۔

په عرفات او مزدلفه کښے ئے جمع بین الصلاتین کړیده ځکه چه هغه روان سفر دے، لیکن د حج په دوران کښے چه به کله په منیٰ کښے درے ورځے دیره وو نو دوه مونځونه به ئے نهٔ جمع کول۔ دا د نبی کریم ﷺ عادت مبارك وو۔

سوال دا دے چه رسول الله ﷺ نولس یو ځائے کښے دیره دے او بیا هم قصر مونځ کوی، حال دا چه هغه خو مقیم دے؟

جواب دا دے چه سفرونه دوه قسمه دی، یو جهادی سفرونه دی، او بل عام سفرونه

دی، جهادی سفرونو کښې د اقامت نیت نهٔ کیږی، ځکه چه هلته د هغهٔ نیت یقیني نهٔ وی، کیدے شی چه د جنګ حالت جوړ شی او ددے ځائے نه بل ځائے ته نقل شی، نو بنده بین القرار والفرار وی. د انسان خپل اختیار نهٔ وی،

عبد الله بن عمر ﷛ آذربیجان ته تلے وو او شپږ میاشتے ئے مسافرانه مونځ کولو، انس بن مالك ﷛ د عبد الملك بن مروان سره دوه کاله په شام کښې تیر کړل او مسافرانه مونځ به ئے کول ځکه چه جهادی سفر وو او خپل اختیار ئے نهٔ وو، د بل چا د حکم د لاندے وو.

او په اختیاری سفر کښې راجح قول دا دے چه یو تن څلور ورځے مکملے تیره وی یا ددے نه زیاتے نو هغهٔ به پوره مونځ کوی، او که ددے نه کمے اراده لری نو بیا دِے قصر کوی.

او دلته رسول الله ﷺ جهاد له راوتلے دے، سمدست پسے بل جهاد شروع کیږی. یعنی غزا د حنین.

رسول الله ﷺ مکے ته په اولسم (۱۷) رمضان داخل شو او په شپږم (۶) د شوال ووتلو.

نو په مکه کښې به رسول الله ﷺ تعلیم ورکولو او په ډیره ښه آسانئ سره چه خلك به ئے په هغے نهٔ تنګول.

پدے کښې یوه ورځ رسول الله ﷺ یو تن ته حکم وکړو چه په مکه کښې داسے آواز وکړی:

[مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلَا يَدَعُ فِيْ بَيْتِهٖ صَنَمًا اِلَّا كَسَرَهٗ]

څوك چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری نو هغه دِے په خپل کور کښې هیڅ بت نهٔ پریدی مګر هغه دِے مات کړی.

(ځکه چه دا د شرك لویه ذریعه ده او ایمان ته د نقصان رسولو ذریعه ده)

ددے مفهوم دا دے چه که الله او آخرت نهٔ مني نو بیا د هغهٔ خپله خوښه ده چه څه کوی.

نو د چا په کور کښې چه څه بتات وو هغه ئے مات کړل او مکه مکرمه د بتانو نه صفا شوه پس د هغے نه چه په سوونو کلونو دلته بت پرستی او د غیر الله عبادت

شوی، او الله تعالیٰ داسې حلیم ذات دې چه د الله په کور کښې او د هغهٔ په حرم کښې خلك په سوونو کلونو د غیر الله عبادت کوی او د الله سره شریکان جوړه وی او هغه ورته هیڅ هم نهٔ وائی بلکه رزقونه او دولتونه هم ورکوی. دا عجیبه حلم او صبر د الله تعالیٰ دې.

د عُزیٰ او د خالد بن الولید ﷺ قصه:

اُوس بهر علاقو کښې چه کوم شرك دې، نو رسول الله ﷺ سره د هغې درد هم وو، چه دا به کله ختمیږی نو پدې وجه رسول الله ﷺ دلته سرایا او د فوج دستې مقرر کړې د بتانو د ماتولو دپاره، نو پدې کښې رسول الله ﷺ خالد بن ولید ﷺ د رمضان په (۲۵) تاریخ ولیږلو چه بطن نخله علاقې ته لاړ شی او هلته یوه ونه ده چه د هغې عبادت کیږی او پدې ونه کښې یوه پیریٔ وه چه درې موسمونو کښې به راښکاره کیده چه د هغې عزیٰ نوم وو، او د مشرکانو د گمراه کولو دپاره به ئې خلکو ته آوازونه کول.

نو خالد بن ولید ﷺ ځان سره دیرش (۳۰) مجاهدین واخستل او په اسونو سوارهٔ شول او هلته ئې ځان ورسولو.

قریشو، او بنو کنانه او هوازن او ثقیف قبیلو به د عزیٰ عبادت کولو،

او مفسرینو لیکلی دی چه چونکه بطن نخله د مکې نه وړاندې ځائې وو، (د طائف او د مکې ترمینځ دې د مکې نه (٤۳) کیلو میټره جدا دې)

نو پدې وجه قریشو د عزیٰ یو بت هم جوړ کړې وو او هغه ئې په کعبه کښې ایخودې وو چه د لنډ نه ئې عبادت کوی،

ددې وجه نه سورة النجم کښې الله تعالیٰ دوئ ته فرمایلی دی:

﴿ أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ ﴾ (آیت :۱۹)

لات منات او عزیٰ دا بتان د مکې نه بهر وو، لیکن د مکې مشرکینو په کعبه کښې هم ددې بتان جوړ کړی وو (دوه دوه شکلونه وو) او عبادت به ئې ورله کولو، نو دلته خو ختم شو لیکن رسول الله ئې اُوس بهر هم ختموی.

د سعید بن جبیرؒ وینا ده چه [الْعُزّٰى] یو سپین کاڼړې وو چه خلقو به ددې عبادت

کولو۔

او په روایت د نسائیؒ کښې دی چه په بطن نخله کښې د کیکر درے ونے وے، او یوه کوټه وه (چه په هغې کښې به د عُزیٰ عبادت کیدو) خالد بن الولید ﷺ هغه ونے پریکړے او کوټه ئے ونړوله، بیا رسول الله ﷺ ته راغے خبرئے ورکړو نو هغهٔ ورته وفرمایل: آیا تا څه ولیدل؟ هغه وویل: نه، ورته ئے وفرمایل:

واپس لاړ شه تا هیڅ کار نهٔ دے کړے (عزیٰ درنه پاتے شویده) هغه چه واپس راغے نو د عـزیٰ منجوران ورته راجمعه شو او چغے ئے کړے، یَا عُزّیٰ یَا عُزّیٰ (چه پدے سره ئے خالد بن الولید یره ولو)

په بعض روایاتو کښې دی چه داسے اشعارئے وویل:

اَعُزَّاءُ شُدِّیْ شِدَّةً لَا تُكَذِّبِیْ	❁	عَلٰی خَالِدٍ اَلْقِی الْخِمَارَ وَشَمِّرِیْ
فَاِنَّكِ اِنْ لَا تَقْتُلِی الْیَوْمَ خَالِدًا	❁	فَبُوْئِیْ بِذُلٍّ عَاجِلٍ اَوْ تَنَصَّرِیْ

اے عزیٰ سخته رشتینی حمله په خالد وکړه، لوپټه گوزار کړه او بډے ووهه، که تهٔ نن ورځ خالد لره قتل نهٔ کړے نو بیا په لوی تیز ذلت سره واپس شه یا بدله واخله۔

نو پدے کښې یوه توره زنانه بربنډه ببر سرے راښکاره شوه، او په سرئے خاورے اچولے نو خالد ﷺ هغه په توره سره ووهله او هغې ته ئے وویل:

یَا عُزّٰی كُفْرَانَكِ لَا سُبْحَانَكِ	❁	اِنِّیْ رَاَیْتُ اللّٰهَ قَدْ اَهَانَكِ

اے عزیٰ مونږ په تا باندے کفر کوو، ستا هیڅ پاکی نهٔ بیانوو، زهٔ الله وینم چه تهٔ ئے ذلیله کړے ئے۔

پدے کښې ئے نورو خلقو ته دعوت ورکړو چه دا هیڅ نشی کولے۔

هلته چه کومه خزانه وه چه منجورانو ته به نذرانے او منښتے راجمع کیدے (ځکه چه داسے شرکی ځایونه منجورانو د تجارت مرکزونه جوړ کړی وی لکه تاسو د باباگانو زیارتونه وگورئ) نو خالد ﷺ ورله دغه کوټه د خزانے ورانه کړه لیکن څه پکښې پراتهٔ نهٔ وو۔ د نبی ﷺ طریقه دا وه چه کله به ئے یو صحابی د بو بت د ماتولو دپاره ولیږلو نو په خزانه کښې چه به کوم سرهٔ او سپین وو هغه به ئے راوړل او نبی ﷺ به بیا چا ته

ورکړل، دا غنیمت وو۔

ددې ځائے نه بعض علماؤ دا دلیل نیولے دے چه که چا یو بابا او بت ته څه شے نذر کړو نو هغه خوړل جائز دی، ځکه چه دلته ناذر نقصان کړے او په دغه منذور شی کښې هیڅ نقصان نشته، لکه داخبره مفتی الدیار السعودیه علامه ابن بازؒ لیکلے ده مګر دا خبره ضعیفه ښکاره کیږی د وجه د ډیرو دلائلو نه۔

او ددې ځائے نه دلیل نیول په محل د نظر کښې دی ځکه چه دا باب د غنیمت دے، او په غنیمت کښې قانون دا دے چه که کافر په هره ناروا طریقه سره مال پیدا کړے وی، په شرك، زنا، غلا سره خو چه کله ئے ترے مسلمانان ونیسی نو هغه حلال ګرزی۔

قریشو او بنو کنانه به دا په دویمه مرتبه کښې معبوده ګنړله، او د هغې د کوټې نه به ئے طوافونه کول، او د هغې په نوم به ئے نذرونه ورکول او بنو شیبان به ددې نګرانی کوله۔
کله چه خالد ﷺ واپس راغلو او نبی ﷺ ته ئے خبر ورکړو نو نبی ﷺ وفرمایل :

[نَعَمْ، تِلْكَ الْعُزّٰى وَقَدْ اَيِسَتْ اَنْ تُعْبَدَ فِیْ بِلَادِكُمْ اَبَدًا]

آؤ، همدغه عزیٰ وه او هغه ددې نه همیشه نا امیده شوه چه ستاسو په ښارونو کښې ددې عبادت وکړے شی۔

نو الحمد لله تر اُوسه پورې څوارلس سوه اته دیرشتم (۱٤۳۸ هـ) کال دے چه په دغه علاقو کښې د عزیٰ عبادت نۀ کیږی، او تر قیامته پورې به ددې عبادت نۀ کیږی۔



سریه د عمرو بن عاص ﷺ بنو هذیل طرف ته
(رمضان ۸ هجری)
یا
د "سُواع" بت ماتیدل او عمرو بن العاص ﷺ :

د خالد بن ولید ﷺ د سریه نه روستو یوه ورځ نیمه پس رسول الله ﷺ یوه بله ډله تیاره کړه چه عمرو بن العاص ﷺ ئے ورله مشر کړو او دا حکم ئے ورته وکړو چه تاسو رُهاط علاقے ته لاړ شئ هلته د سواع په نوم یو بت دے چه دا د هُذیل قبیلے بت دے، او د مکے مکرمے نه تقریباً (۸۵) کیلو میټره وړاندے دے، د مکے په شمال مشرقی طرف کښے واقع دے۔

هرکله چه عمرو بن العاص ﷺ هلته ورسیدو نو منجورانو ورته ووئیل : [مَا تُرِيدُ ؟] ستا څه اراده ده ؟ هغهٔ ووئیل : ما ته رسول الله ﷺ حکم کړے چه ستاسو دا سواع بت زهٔ وران کړم۔ نو منجور ورته ووئیل :

[اِنَّكَ لَا تَقْدِرُ عَلٰى ذٰلِكَ]

تهٔ پدے کار قادر نهٔ ئے، عمرو بن العاص ﷺ ورته ووئیل : [لِمَ ؟] ولے؟، هغهٔ ووئیل : [تُمْنَعُ] تهٔ به ددے کار نه منع کړے شے، یعنی دے بت کښے داسے طاقت دے چه څوك خوا له ورځی نو ځان ته ئے نهٔ پریدی او لاس ورله ماتوی۔

(د مشرکانو همدا یوه پیکو ده چه غروی ئے)

نو عمرو ﷺ ورته ووئیل : [وَيْحَكَ حَتَّى الْآنَ أَنْتَ عَلَى الْبَاطِلِ]

هلاك شے، تر اُوسه پورے تهٔ په باطل او شرك باندے روان ئے، او د غیر الله په باره کښے داسے غلطه نظریه لرے، او دا ئے هم ورته ووئیل :

[وَيْحَكَ فَهَلْ يَسْمَعُ أَوْ يُبْصِرُ ؟]

هلاك شے، آیا دا آوریدل او لیدل کولے شی؟ نو وروړاندے شو او سواع ئے مات کړو او ملګروته ئے حکم وکړو چه د خزانے کوټه هم ورله ورانه کړئ نو هغے کښے ئے څه ونهٔ موندل، نو هرکله چه منجور دا حالت ولیدو، نو عمرو ورته ووئیل : [كَيْفَ رَأَيْتَ ؟]

څنګه سُواع بابا دې ولیدو؟ (څنګه مو درله مات کړو او هیڅ ضرر ئې رانکړو) نو هغهٔ وویل : [اَسۡلَمۡتُ لِلّٰهِ]

زهٔ په الله ایمان راوړم او د الله دپاره تابعدار او مسلمان کیږم،

(طبقات ابن سعد ۱٤٦/۲)

څکه چه زمونږ خو دا ګمان وو چه ددې خوا ته څوك ورشي دا ورله تکر ورکوي او تا ته ئې هیڅ ونهٔ وئیل نو زهٔ د الله دپاره تابعداریم۔

(ددې روایت نه معلومه شوه چه اسلامي حکومت کښې بتان ماتول پکار دي، او بله دا چه عمرو بن العاص ﷺ ددې منجور سره آساني کړیده، دهٔ ته ئې کوم ضرر نهٔ دې ورکړې بلکه د اسلام دعوت ئې ورته ورکړو، د هغهٔ په ذهن کښې چه د باطل کومې وسوسې وې نو پدې عملي دعوت سره د هغې اصلاح وشوه او مسلمان شو۔

فائده : دا د هذیل بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان د اولادو نه وو، د دوئ علاقې په سروات، جبل غزوان، د طائف سره نزدې، نجد، تهامه (د مکې او د مدینې ترمینځ) وې۔

د مَنَاة بت ماتیدل :
یا
سریه د سعد بن زید اَشۡهَلی ﷺ
د مُشَلَّل په طرف (رمضان ۸ هجري)

رسول الله ﷺ دریمه دسته تیاره کړه د شلو (۲۰) کسانو او د هغوی مشرئې سعد بن زید الاشهلی ﷺ وګرزولو او "مناة" بت طرفته ئې ولیږلو چه دا دتور کاڼي نه جوړ یو بت وو په قُدید علاقه کښې، چه د مکې نه د مدینې په لاره (۱۲۰) کیلو میټره جدا ځائې دې۔ [مَنَاة] د بنو هلال قبیلې د بُت نوم وو۔

او ابن هشامؒ وئیلي دي چه دا د هُذیل او خُزاعه قبیلې د بُت نوم وو۔

صاحب د محاسن التنزیل لیکلي دي چه دا د مکې اومدینې ترمینځه د قُدید علاقې خواته په مُشَلَّلۡ علاقه کښې یو کاڼې وو، چه خزاعه او اَوۡس او خزرج والو به د جاهلیت

په زمانه کښې ددې تعظیم او ادب کولو، او د همدغه ځائے نه به ئے د بیت الله د حج دپاره تکبیرونه وئیل شروع کړل، او دا به ئے وئیل چه صفا مروه ته تلل جائز نهٔ دی، ولې که مونږ لاړ شو نو مناة بابا خفه کیږی، هغه وائی چه ما له مو احرام وتړلو نو هلته به نهٔ ځئ، دائے د ځان نه وَهم جوړ کړے وو.

د مشرکانو ټولے عقیدے وهمی او بکواسات وی.

دارنګه غسان قبیلے به هم ددے بت عبادت کولو.

هرکله چه سعد ﷺ مناة بت ته ورسیدو نو د هغے منجور ورته وویل : [مَا تُرِيْدُ ؟] ستا څه اراده ده ؟ هغه ورته وویل : دا بت (مناة) ورانوم. منجور وویل : [أَنْتَ وَذَاكَ ؟]

تهٔ او بت سره پو هه شئ، یعنی تهٔ بت له ګوتے وروړه چه پته درے ولګی، یعنی تهٔ ددے طاقت نهٔ لرے، نو کله چه سعد ﷺ هغے ته وروړاندے شو نو د هغے نه یوه توره برېنډه ببر سرے زنانه راووته چه دا پیرئ وه او مشرکانو ته به ئے آوازونه کول.

[تَدْعُوْ بِالْوَيْلِ وَتَضْرِبُ صَدْرَهَا]

پداسے حالت کښې راووته چه د هلاکت چغے ئے وهلے او خپله سینه ئے وهله چه لاړم تباه شوم.

پدے کښې ورته منجور آواز وکړو : [دُوْنَكَ يَا مَنَاةُ بَعْضَ عُصَاتِكَ]

اے مناة بابا ! دا خپل بعض نافرمان درے راونیسه. (تا چه نهٔ منی)

نو سعد ﷺ ورمخکښې شو او په توره باندے ئے ووهله او قتل ئے کړه، او بت ئے ورله وران کړو او خزانه ئے ورله وکتله خو هغه هم خالی شوے وه، هیڅ شے پکښې نهٔ وو.

خپل دے کار نه چه فارغ شو نو سیده رسول الله ﷺ ته راغلل او خبرئے ورکړو.

طبقات ابن سعد ۱٤٦/۲ وغیره)

دا درے بتان خو په همدے میاشت د رمضان کښې په دے موقعه د فتح کښې الله تعالیٰ ددے سرایاو په ذریعه ختم کړل.

سعد بن زید اشهلی اوسی انصاری صحابی دے ﷺ، بیعت عقبه، بدر او نورو غزواتو کښې د رسول الله ﷺ سره شریک شویدے.

بنی جَذِیمَه ته د خالد بن الولید رضی الله عنه لیږل:

د شوال په ابتداء کښې په سنه (۸ هـ) رسول الله ﷺ یوه بله سریه ولیږله بنو جَذِیمه ۇ ته۔

جَذِیمَه یوه قبیله وه چه نږدې علاقه کښې وسیدله، دا خلك د مکې په نشیبی علاقه کښې د یلملم په طرف آباد وو۔

(یَلَمْلَم د حاجیانو میقات دې چه ددې ځائې نه احرام تړی ددې او دا د مکې مکرمې نه جنوب طرفته د دوه مرحلو (پړاوونو) په مسافت باندې واقع د تهامې د غرونو نه د یو غرۀ نوم دې۔ ددې او د مکې ترمینځه تقریبًا (۹۲) کیلو میټره مسافت دې۔ اوس وخت کښې ورته [اَلسَّعْدِیَّة] وائی،

بنو جذیمه ۇ لا تر اُوسه اسلام نۀ دې راوړې نو رسول الله ﷺ هغوی ته د اسلام دعوت ورکول وغوښتل

(د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه ملګری به ئې د جهاد دپاره لیږل او دعوت به پکښې عارضی وو) او دلته ئې دا سریه اول د دعوت دپاره ولیږله او جهاد پکښې عارضی وو)

خالد بن الولید رضی الله عنه ته ئې درې نیم سوه (۳۵۰) مجاهدین دُعاة ورکړل چه دې کښې مجاهدین او انصار او د بنو سلیم قبیلې کسان وو، او تورې ئې هم ځان سره ویوړې،

(لکه د رسول الله ﷺ د زمانې دعوت همداسې وو، او نن صبا چه کومه طریقه بعض خلك د دعوت دپاره اختیاره وی، چه د یو یو تن کور وهی او جمات ته ئې رادعوت کوی نو دا طریقه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې نۀ وه، روستو یو ترتیب خلکو جوړ کړیدې، دا په خلکو باندې لازمول یو بدعت دې او دا د رسول الله ﷺ طریقه ګنړل بل بدعت دې)

خالد بن ولید رضی الله عنه چه کله بنو جذیمه ۇ ته ورسیدو نو بنو جذیمه ۇ وسله راواخسته او د دوئ مخې ته راووتل او د خالد بن ولید رضی الله عنه ځه خپلوان (ترونه) په جاهلیت کښې بنو جذیمه ۇ وژلی وو، نو خالد بن ولید هغوی ته وویل چه وسلې وغورزوئ نو هغوی د اسلام په اراده سره خپلې وسلې کیخودې، لیکن هغوی ته د اسلام راوړو طریقه نۀ

ورتله نو هغوی داسے الفاظ استعمال کړل :

[صَبَأْنَا صَبَأْنَا]

مونږ هم ستاسو په شان صابیان یو، مونږ هم صابیان یو۔ دا طریقه نۀ ورتلله چه داسے ووائی : [اَسْلَمْنَا لِلّٰهِ تَعَالٰی] مونږ د الله دپاره اسلام راوړو۔ یا لا اله الا الله یا اشهد ان لا اله الا الله ووائی۔

نو د خالد بن ولید ﷛ گمان دا شو چه دا خلك خو مونږ پورے توقے کوی او صابیان خو یوه کنځله ده چه خلك ئے مونږ ته کوی۔

(لکه د قریشو به رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملگرو ته صابیان وئیل) (اَوَيْتُمُ الصُّبَاةَ)

نو خالد بن ولید ﷛ ملگرو ته وویل چه دوئ ونیسئ او قتل ئے کړئ، دوی خو لا اُوسه پورے ایمان نۀ دے راوړے۔ نو ډیر کسان ئے ووژل،

پدے کښے بعض کسان الله ته په سجده پریوتل او مسلمانانو ته ئے دا خبره ښکاره کوله چه مونږ ستاسو په شان مسلمانان یو، الله ته سجدے لگوو۔

نو بعض ملگرو وویل چه دا کسان وژل نۀ دی پکار، دوی الله ته سجدے هم کوی، او صبأنا لفظ وائی کیدے شی چه د دوئ مطلب ښۀ وی، او تاسو د دوی په وژلو جلتی وکړه، نو خالد بن ولید ﷛ او ملگرو د هغوی نه لاس پورته کړو او د دوئ نه ئے ډیر کسان ونیول، او قید ته ئے واچول، او هر یو تن ته ئے یو یو قیدی ورکړو۔

هرکله چه ماښام شو نو خالد بن ولید ﷛ حکم وکړو چه دے کسانو ایمان نۀ دے راوړے دا قیدیان هم مړۀ کړئ، هر یو تن دِے خپل خپل قیدی قتل کړی، نو د بنو سُلیمو نه کسان راولگیدل هغه قیدیان ئے هم مړۀ کړل، (دوئ سره انصار او مهاجرین پدے وژلو کښے شریك نۀ وو، هغوی ددے نه انکار کولو)

عبد الله بن عمر ﷛ او بعض انصار او مهاجرینو دغه خلك منع کړل چه دوئ مۀ وژنئ، دوئ باندے زمونږ د اسلام گمان دے، پدے کښے عبد الرحمن بن عوف ﷛ خالد بن ولید ددے کار نه په سختئ سره منع کړو نو د دواړو بحث راغلو، او لږ ساعت پس ختم شو، واپس چه کله راغلل نو رسول الله ﷺ ته قصه بیان شوه نو اول ئے خالد بن ولید ﷛ ته وفرمایل :

[مَهْلًا يَا خَالِدُ، دَعْ عَنْكَ اَصْحَابِىْ، فَوَاللّٰهِ لَوْ كَانَ لَكَ اُحُدٌ ذَهَبًا ثُمَّ اَنْفَقْتَهٗ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَا

اَدْرَكْتَ غُدْوَةَ رَجُلٍ مِنْ اَصْحَابِیْ وَلَا رَوْحَتَهٗ]

صبر کوه اے خالد ! زما (مشرانو) صحابه کرامو ته تکلیف مهٔ ورکوه، (کومو چه په ما باندے پخوا ایمان راوړے) قسم په الله که ته د اُحد غر هومره سرهٔ زر د الله په لاره کښے خرچ کړے نو د هغوی د یو تن سهار یا مازیگر کښے د الله په لاره کښے وتل به هم لاندے نکړے۔

[الرحيق المختوم ص (۳۹۵) والسيرة النبوية لابن كثير۳/۵۹۳ الروض الانف ۱۹٦/٤]

دے حدیث کښے ډیره مبالغه ده چه رسول الله ﷺ یو کشر صحابی ته داسے خبره کوی، نو د نور امت به څه حال وی۔

او صحابه کرام مسلمانان دی، انسانان دی، کله نا کله ئے خپل مینځ کښے اختلاف واقع کیدے شی۔

او کله چه د بنو جذیمه د قصے نه خبر شو نو نبی ﷺ پدے باندے ډیر خفه شو او دواړه لاسونه ئے اُوچت کړل او داسے وفرمایل :

[اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَبْرَاُ اِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ]

اے الله ! زهٔ تا ته د خالد ددے کار نه بیزاره یم، (ما ورته داسے حکم نهٔ دے کړے، څکه چه د چا په باره کښے شك وی نو د هغوی وژل نهٔ وی، لکه اُوس چه بعض خلك یو تن وژنی او دا وائی چه که مسلمان وی نو جنت ته به ځی او که کافر وی نو جهنم ته به ځی او د ځان غم ورسره نهٔ وی چه دے به چرته ځی؟ چه مسلمان دے مړ کړو نو تهٔ جهنم ته روان شوے، مسلمان د الله دوست او ولی دے، څوك چه د الله دوستان وژنی نو الله تعالیٰ په هغهٔ باندے خپل هدایت بندوی، د مؤمن وژل څه وړه خبره نهٔ ده،

یو تن د قتل لائق دے او تا مړ نکړو نو دے کښے دومره ضرر نشته او چه یو سړے د قتل لائق نهٔ دے او تا قتل کړو نو پدے کښے ډیر ضرر دے لکه په حدیث د عائشه رضی الله عنها کښے دی رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِدْرَءُوْا الْحُدُوْدَ عَنِ الْمُسْلِمِیْنَ مَا اسْتَطَعْتُمْ فَاِنْ وَجَدْتُّمْ لِمُسْلِمٍ مَخْرَجًا فَخَلُّوْا سَبِیْلَهٗ فَاِنَّ الْاِمَامَ اَنْ یُّخْطِیَٔ فِی الْعَفْوِ خَیْرٌ مِنْ اَنْ یُخْطِیَٔ بِالْعُقُوْبَةِ]

[رواه الحاكم (٨١٦٣) وقال هذا حديث صحيح الاسناد]۔

تاسو د مسلمانانو نه حتی الوسع حدود دفع کړئ که تاسو د یو مسلمان دپاره څه مخرج (لاره) ومونته نو هغه پریدئ، ځکه چه یو حاکم که په معافی کولو کښې خطاء شي دا غوره ده ددے نه چه په سزا ورکولو کښې خطاء شي۔

او رسول الله ﷺ خالد ﷺ ته څه ونهٔ وئیل ځکه چه هغهٔ دا کار قصداً نهٔ وو کړے بلکه هغهٔ اجتهاد کړے وو، او په اجتهاد او سوچ کښې خطاء شو۔

بیا رسول الله ﷺ د هغه کسانو دیت ورکړو، چه تاسو په خطاء کښې وژل شوی یئ نو د قتل خطاء دیت وی۔ او پدے کار باندے ئې علی بن ابی طالب مقرر کړو او وے لیږلو، او څو مره مال چه د هغوی ضائع شوے وو او کوم لوښی ئې چه مات شوی وو،

[حَتّٰی مِيْلَغَةِ الْكِلَابِ] تردے چه که د سپی یو لوښے چه هغه پکښې اُوبه څکی او هغه چا مات کړے وو نو د هغے بدله ئې هم ورکړه۔

او علی رضی الله عنه سره بعض هغه مال پاتے شو چه هغوی ته ئې د هغے نه تاوان ورکړونو هغه ئې هم ورته زیاتی ورکړو او دا ئې وویل چه دا د رسول الله ﷺ د طرف نه ستاسو ددے کار جبیره کښې واخلئ، بیا راواپس شو او رسول الله ﷺ ته ئې خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: [أَصَبْتَ وَأَحْسَنْتَ] تا حق او ښکلے کار وکړو۔

(السيرة النبوية لابن كثير والروض الانف)

او بعض کتابونو د سیرت کښې لیکی چه بیا رسول الله ﷺ خالد ﷺ طرفته متوجه شو او دا ئې وفرمایل:

[لَا تَسُبُّوا خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ، فَإِنَّمَا هُوَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوْفِ اللّٰهِ سَلَّهٗ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ]

تاسو خالد ته بد رد مهٔ وایئ ځکه چه دا خو د الله تعالیٰ توره ده چه په مشرکانو ئې راویستلے ده۔

[امتاع الاسماع بما للنبى من الاحوال والاموال والحفدة والمتاع لتقى الدين احمد بن على المقريزى متوفى ٨٤٥) (ج٢/٧)]

د بلې غزوې اراده

غزوه د حُنَین :

هرکله چه رسول الله ﷺ په مکه کښې نولس (۱۹) ورځې تیرې کړې نو د یوې بلې غزا اراده ئې وکړه، او ددې ارادې وجه دا وه چه بهر ثَقِیف او هَوازن قبیلې دی، چه دا ډیر متکبران خلك وو او د قریشو سره د پخوا نه وران راروان وو، د دوئ تربوران کیدل، هوازن غته قبیله ده او ثقیف په هغوی کښې وړه قبیله ده۔

(اقامة الحجة علی العالمین)

او بعض نورې قبیلې هم د هغوی سره ملګرې شوې چه ډیر سرکشه وو، دوئ ووئیل چه محمد (ﷺ) مکه فتح کړه او خلك ئې تابع شول مګر مونږ داسې کمزوری نهٔ یو چه مونږ به ددهٔ تابع کیږو، دهٔ ته تسلیمیدل نشو کولې بلکه ددې سرې به مقابله کوو، مکه ئې فتح کړه نو دا خو څه ضروری نهٔ ده چه مونږ به هم ووهی،

نو پدې کښې ثقیف او هوازن قبیلو سره بنو سعد او بنو بکر او هلال او نصر او جشم وغیره قبیلې راجمع شوې او شل زره (۲۰۰۰۰) فوج ئې تیار کړو چه مونږ به مقابله کوو، او دا ټولې ډلې د قَیسِ عَیلان نه وې۔

د ثقیف اصلی سردار خو کِنَانه بن عَبدِیَالِیل وو، د هغهٔ سره قارب بن اسود بن مسعود بن معتب هم اَهم شخص وو، لیکن د ټولو خلکو د خپل ځان دپاره جنګی مشر مالك بن عوف نصری مشر مقرر کړو، او دا د ځلیریشتو (۲٤) کالو په عمر ځوان هلك وو، دا ئې پدې وجه مقرر کړو چه دا په علاقه کښې د ملکانو او مشرانو د کورنۍ نه وو او د جنګ په ترتیب ډیر ښهٔ پو هیدو۔

نو د قریشو نه جنګ دوئ ته واوریدو او دوئ د قریشو خالی ګاه ډکه کړه۔

مالك بن عوف خپل فوج له تربیت ورکړو او دا فیصله ئې وکړه چه مونږ به د نبی ﷺ مقابلې ته ځو او ځان سره به خپلې ښځې هم بوځو او ماشومان او خپلې ګډې بزې او مالونه به هم وړو، ددې راز دا دې چه زمونږ جنګیان ونهٔ تښتی، ځکه چه کله د

سړی شاته ښځه وی او مال ئے دلته وی نو بیا به چرته تښتی۔

لیکن دے کښے د الله تعالیٰ عجیب حکمت وو چه دا ټول مالونه او زنانه ئے مسلمانانو ته ورکول۔

د هغه طرف نه هغوی جاسوسان رالیږل او د رسول الله ﷺ احوال ئے معلومول، دلته رسول الله ﷺ هم تجسس کولو، نو خبر شو چه دا خلك په مکه باندے حمله کول غواړی۔ نو رسول الله ﷺ د مکے نه بهر ور اُووتو، داسے ئے ونۀ وئیل چه په مکه کښے به کینو او هغوی به راشی او مقابله به ورسره وکړو، (لکه په اُحد کښے ئے داسے مشوره کړے وه) لیکن رسول الله ﷺ یو اعلیٰ قائد او حکیم انسان وو۔

بهر وتو کښے حکمت دا وو چه که په مکه کښے دننه جنګ شروع شی نو دلته خلك نوی مسلمانان دی، په دوئ کښے ډیر داسے خلك دی چه اسلام ئے زړۀ ته نۀ دے ننوتے، نو که د بهر نه څوك حمله وکړی نو دلته به مکے والا هم ورسره ملګری شی او دغه صحابه کرام خو مسافر دی، نو د جرندے د دوه پلونو ترمینځ به ګیر شی، او دا د ناکامئ لویه ذریعه ده۔

دلته مکه مکرمه کښے رسول الله ﷺ اعلان وکړو چه جهاد ته به اُوځئ او دا شپږم د شوال د خالی ورځ وه اتم (۸) کال د هجرت دے، او دولس زره فوج ورسره دے۔

لس زره هغه فوج دے چه مدینے نه ورسره راغلے وو او دوه زره (۲۰۰۰) هغه خلك دی چه په مکه کښے ئے تازه ایمان راوړے، دا ئے هم جهاد ته روان کړو۔

(دا دلیل دے چه د جهاد دپاره دا ضروری نۀ ده چه انسان به اول ایمان جوړ وی او د دین نه به ځان مکمل خبروی بیا به جهاد ته وځی، دا خلك لا د ډیرو ایمانیاتو او فرضی اعمالو نه دومره خبر نۀ دی او جهاد ته ئے روان کړیدی،

ددے حکمت دا دے چه جهاد خپله د ایمان د تقویت او مضبوطوالی ذریعه ده، خاصکر چه محمد رسول الله ﷺ ئے قائد وی او د امت تربیت کوی)۔

او په مکه باندے ئے د خپل ځان نائب عتاب بن اسید رضی الله عنه مقرر کړو، دۀ هم نوے ایمان راوړے مګر رسول الله ﷺ په دۀ پوهه شوے وو چه ایمان ددۀ زړۀ ته کوز شویدے۔

(پدے کښے هم ډیر حکمت وو چه د مکے سړے په مکه نائب مقرروی، ځکه چه که ابوبکر رضی الله عنه یا عمر رضی الله عنه وغیره مقرر کړی نو د مکے دننه خلك به ورسره موافقت ونکړی

نو مخالفت به ورسره شروع کړی)۔

فوج تیارول :

رسول الله ﷺ سهار کښې خپل فوج تیار کړو او وړې او غټې جنډې ئې د فوج په دستو باندې تقسیم کړې، د مهاجرینو جنډې ئې علي بن ابی طالب او سعد بن ابی وقاص او عمر بن الخطاب رضي الله عنهم ته ورکړې او د انصارو جنډې ئې حباب بن منذر ته ورکړې، او بعض وائی : د خزرج لویه جنډه ئې سعد بن عباده ؓ ته ورکړه او د اَوس لویه جنډه ئې اُسید بن حُضیر ؓ ته ورکړه او د هرې وړې قبیلې سره به خپله خپله جنډه وه، د مهاجرینو غټې جنډې تورې وې او وړې جنډې ئې سپینې وې، او د انصارو جنډې شنې او سرې وې، او د عربو په نورو قبیلو کښې خپلې خپلې جنډې وې، او بنو سلیم د ټول فوج نه مخکښې روان شو چه دوئ سره اسونه وو او په دوئ باندې ئې خالد بن ولید ؓ امیر مقرر کړې وو۔ (امتاع)

رسول الله ﷺ د مکې نه ووتو او خَیف بنی کنانه علاقې ته لاړو چه دا د منیٰ او د مکې ترمینځ علاقه ده چه هغې ته اُوس عزیزیه وائی۔

د دشمن اوطاس ته رسیدل :

بل طرفته مالك بن عوف نصری ځان سره فوجونه راروان کړل چه مالونه او زنانه او ماشومان ورسره دی، تردې چه اَوطاس علاقې ته راورسیدل چه دا حنین ته نزدې یوه وادی ده په علاقو د هوازن کښې، لیکن وادی اَوطاس غیر دې د وادی حنین نه، حنین د ذی المجاز طرفته یوه وادی ده چه ددې او د مکې ترمینځ اولس (۱۷) میله د عرفات طرف نه مسافت دې۔

د یو تجربه کار بوډا رایه :

هرکله چه فوجونو په اوطاس کښې پړاؤ واچولو نو د دوئ سره یو بوډا دُرید بن الصِمَّه هم راغلې وو چه دا ډیر بوډا شوې وو د جنګونو کولو نۀ وو لیکن ډیرې رشتینی رائې والا او د جنګونو ماهر بهادر تجربه کار شخص وو، پدې وخت کښې ړوند شوې هم وو۔ نو دلته هغۀ ته خلك راجمع شو نو هغۀ تپوس وکړو چه دا کوم ځائے تاسو پړاؤ

اچولے دے؟ ورته وویل شو : اوطاس دے۔ وے وئیل :

[نِعْمَ مَجَالُ الْخَيْلِ، لَا حَزْنٌ ضَرِسٌ، وَلَا سَهْلٌ دَهِسٌ]

د اسونو د زغلولو ډیر ښه ځائے دے، نۀ داسے کلك دے چه د سری خپے پکښے خوږیږی او نۀ ډیر نرم دے چه انسان پکښے خوئیږی۔ د جنګ دپاره مو ډیره صحیح علاقه غوره کړیده۔ بیا ئے وویل :

[مَالِيْ اَسْمَعُ رُغَاءَ الْبَعِيْرِ وَنُهَاقَ الْحَمِيْرِ وَبُكَاءَ الصَّبِيِّ، وَثُغَاءَ الشَّاءِ ؟]

ما له څه وجه ده چه زۀ د اُوښانو او د خرو او د ماشومانو او د ګډو بزو آوازونه آورم؟ .چا ورته وویل چه مالك بن عوف نصری (مشر) داسے وئیلی دی چه دا هر څه ځان سره راروان کړئ۔

وے وئیل : تاسو ما له هغه راوغواړئ نو هغه ئے راطلب کړو، تپوس ئے وکړو : دا ډے ولے راوستی دی؟ نو هغۀ وویل : دا ما پدے وجه راوستی دی چه د هر سړی شا ته به د هغۀ اهل او مال وی نو د هغوی د طرف نه به جنګ کوی، او تښتی به نۀ۔

نو هغۀ وویل : [رَاعِيْ ضَأْنٍ وَاللّٰهِ، وَهَلْ يَرُدُّ الْمُنْهَزِمَ شَيْءٌ ؟]

قسم په الله تۀ خو هسے شپونکے ئے، د ګډو بزو څرونکے ئے، (د جنګ په چل نۀ پو هیږے، ساده ئے) یو سړی چه شکست وخوړو نو کوم یو شے به ئے راستون کړی؟

یعنی کله چه تۀ شکست وخورے نو آیا تا خپله ښځه او ګډے بزے او مالونه راواپس کولے شی۔ کله چه دربانډے شکست راغلو نو دا هر څه به دشمن ته پاتے وی۔

بیا ئے ورته وویل : که تۀ په دشمن غالبه شے نو تا ته هغه سړے فائده درکوی چه توره او نیزه ورسره ده، ستا شا ته به ولاړ وی، او که تا بانډے شکست راشی،

[فُضِحْتَ فِيْ اَهْلِكَ وَمَالِكَ]

نو په خپل اهل او مال کښے به وشرمیږے، (یعنی ښځه به ډے ولاړه وی او تۀ به منډے وهے) نو تا خو د خپل قوم تخم راوړو او دشمن له ډے لاس کښے ورکړو، د دشمنانو د اسونو سینو ته ډے د خپل قوم ټول تخم راوړو، نو داسے وکړه چه دا ماشومان او زنانه او کمزوری خلك محفوظ ښارونو ته واپس کړه،

[ثُمَّ الْقَ الصُّبَاةَ عَلٰى مُتُوْنِ الْخَيْلِ فَاِنْ كَانَتْ لَكَ لَحِقَ بِكَ مَنْ وَرَاءَكَ وَاِنْ كَانَتْ عَلَيْكَ

كُنْتَ قَدْ اَحْرَزْتَ اَهْلَكَ وَمَالَكَ]

بیا ددے صابیانو سره د اَسونو په شاگانو باندے ملاؤ شه، که تا ته فتح ملاؤ شوه نو ستا نه روستو خلك به تا سره یو ځائے شي او که په تا ته شكست ورسیدو نو تا به خپل اهل او مال محفوظ کړے وې۔

نو ډیره صحیح کار آمده مشوره ئے ورکړه او ډیره د تجربے نه ډکه وه۔ لیکن الله د مسلمانانو په حق کښے د خیر اراده کړے وه نو ځکه دا مشوره ونۀ منلے شوه۔

نو هغۀ د دُرید بن صمه خبره ونۀ منله، او دا ئے ورته وویل :

[اِنَّكَ قَدْ كَبِرْتَ وَكَبِرَ عَقْلُكَ]

تۀ هم بوډا شوے ئے او عقل دِې هم كمزورے شویدے۔

او دا ئے بده وګڼړله چه پدے جنګ کښے د دُرید بن صِمه څوك تذكرے وكړى او د هغۀ رأى پكښے استعمال كړى، بس چه یوائے زما نوم او شهرت وشى چه مالك دا جنګ وكړلو۔

(بعض مشرانو کښے دغه شان د نوم او نمود ډیر شوق وى، او بعض مسلمانان هم دا شوق لرى چه که دین زما په لاس عام کیږى صحیح ده که نۀ وى نو دے ئے نۀ منى، او دا د اخلاص خلاف خبره ده)

نو هوازن او ثقیف حیران شو چه د دُرید تجربه كار خبره ومنى او که د مالك؟۔ نو مالك پو هه شو چه خلك رانه وانۀ وړى نو هغۀ د خبرے د مضبوطولو دپاره د خود كشئ صورت اختیار كړو، توره ئے راواخسته او سینے ته ئے تكیه كړه او دا ئے وویل :

[وَاللّٰهِ لَتُطِيْعُنِيْ هَوَازِنُ اَوْ لَاَتَّكِئَنَّ عَلٰى هٰذَا السَّيْفِ حَتّٰى يَخْرُجَ مِنْ ظَهْرِيْ]

قسم په الله ! هوازن به زما خبره منى، یا به زۀ پدے توره تكیه لګوم تردے چه زما د شا نه وخى۔ نو خلكو ورته وویل : [اَطَعْنَاكَ] مونږ به ستا خبره منو۔ (ځكه چه په دۀ باندے ئے اعتماد وو)

بیا دُرید ارمان وكړو، وے ویل : دا یوه داسے ورځ ده چه نۀ ورته زۀ حاضر شوے یم او نۀ رانه فوت شوے ده۔ او داسے ئے وویل :

يَا لَيْتَنِيْ فِيْهَا جَذَعُ اَخُبُّ فِيْهَا وَاَضَعُ

ارمان چه زۀ ددے جنګ په وخت مضبوط ځوان وے چه پدے کښے مے توپونه وهلے او په دشمنانو کښے مے توره کیخوستے۔
ابن اسحاقؒ وئیلی دی چه دُرید پدے وخت کښے د یوسل شپیته (۱٦۰) کالو وو، او ابو صالح کاتب اللیثؒ د لیثؒ نه نقل کړی چه د (۱۲۰) کالو وو۔

ثقیف تجسس کوی :

هوازن او ثقیف قبیلے د اوطاس نه جاسوسان راولیږل چه وګوری چه محمد ﷺ او د هغۀ ملګری څه کوی، او څه احوال دی؟ (جاسوس په وجه ډیر کار کیږی)
جاسوسان نزدے علاقے ته راغلل نو څه نا څه احوال ئے معلوم کړل او بیرته واپس لاړل نو الله رب العالمین هغوی ته ملائك وخودل، کله چه واپس لاړل نو داسے ستومانه وو لکه چا چه په تورو باندے وهلی وی : [وَقَدْ تَفَرَّقَتْ اَوْصَالُهُمْ]
او اندامونه ئے ورله مات کړی وی۔ مالك ترے تپوس وکړو :
[وَيْلَكُمْ، مَا شَأْنُكُمْ ؟]
خوار شئ څه چل دے ؟، دوئ ووئیل :
[رَأَيْنَا رِجَالًا بِيْضًا عَلٰى خَيْلٍ بُلْقٍ، وَاللّٰهِ مَا تَمَاسَكْنَا حَتّٰى اَصَابَنَا مَا تَرٰى]
مونږ داسے سپین سپین سړی ولیدل چه په برګ اسونو باندے سوارۀ وو، قسم په الله چه مونږ ټینګ نشو او داسے رعب راباندے راغے چه اندامونه مو د یو بل نه وختل کوم چه تا ته ښکاره کیږی۔
(الله تعالیٰ کله کله کافرو ته هم ملائك ورښکاره کوی، هغوی ته ئے اشاره ورکوله چه تاسو نشئ غالبه کیدے، ددے نبی سره ملائك دی، جنګونه مۀ کوئ راشئ ایمان راوړئ، او دا تنبیهات الله تعالیٰ اُوس هم کافرانو ته ورکوی، دے دپاره چه په آخرت کښے د دوئ حجت نۀ وی، چه الله ته ووائی چه اے الله ! مونږ د هیڅ نه خبر نۀ وو، او په خوب کښے اُودۀ وو، یو کافر چه ملائك وینی او بیا هم ایمان نۀ راوړی نو دا ځان خپله جهنم ته تیاره وی)
لیکن بیا هم هغوی په خپل ضد او سرکشئ باندے ولاړ وو۔

د نبی کریم ﷺ جاسوسان:

نبی کریم ﷺ هم جاسوسان ولیږل، دریے کرته، یو چه کله د مکے نه وتلو نو عبد بن ابی حَدْرَد اسلمی ﷺ ئے ولیږلو او دا ئے ورته وویل چه ته لاړ شه او په خلکو کښے ننوزه او په هغوی اووه سیږه او د خلکو احوال معلوم کړه او ما ته ئے راوړه، هغه لاړو دوه دریے ورځے ئے تیرے کړے او د هغوی وسله او طاقت او ټول حالات ئے معلوم کړل او راغے او رسول الله ﷺ ته ئے خپل لیدلے حال بیان کړو چه هغوی د حملے اراده لری۔

خو عجیبه دا وشوه چه کله عبد الله بن ابی حدرد ﷺ د هغوی سره وو نو مالك بن عوف هیڅ حکم نهٔ وو صادر کړے لیکن کله چه دے راوتو نو مالك حکم صادر کړو چه حنین ته لاړ شئ ځکه چه دا علاقه جنګ ته ډیره برابره ده، او فعلاً راروان شول، لیکن دا صحابی پدے خبره خبر نشو ځکه چه دا ترے لرِ مخکښے راوتے وو۔

نبی ﷺ ته ئے احوال بیان کړل خو ددے نه ئے خبر نکړو چه فوجونه د اوطاس نه حنین ته راروان شویدی ځکه چه خپله ورته معلومات نهٔ وو۔

دلته رسول الله ﷺ هم د مکے نه وتلے دے نو په بله ورځ ئے سهار کښے بل جاسوس ولیږلو، هغه مازیګر وخت کښے واپس راغے، په اس باندے ئے مزل وکړو ځکه چه علاقه عرفات طرفته نزدے ده۔ نو د ثقیف حالات ئے بیان کړل چه زهٔ فلانی فلانی غر باندے وختلم:

[فَإِذَا أَنَا بِهَوَازِنَ عَلٰى بِكْرَةِ آبَائِهِمْ بِظُعُنِهِمْ وَنَعَمِهِمْ وَشَائِهِمْ اِجْتَمَعُوْا اِلٰى حُنَيْنٍ]

نو ما هوازن او ثقیف قبیله ولیده چه ټول په ټوله راوتی دی، زنانه او اُوښان او ګډے بزے ورسره دی او حنین کښے راجمع شویدی۔

نو رسول الله ﷺ مسکے شو او وے فرمایل:

[تِلْكَ غَنِيْمَةُ الْمُسْلِمِيْنَ غَدًا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ]

دغه به ان شاء الله صبا له د مسلمانانو غنیمت وی۔

(دے پیشنګوئی کښے ډیره فائده وی چه ملګری دے سره مضبوط شی، ځکه چه د

دویٔ عقیده وه چه د الله رسول نهٔ خطاء کیږی چه هغه وائی غنیمت دے نو مونږ ته به الله غلبه راکوی، نو دے کښے مسلمانان مضبوط شول او د نبی ﷺ معجزه پکښے ښکاره شوه چه هغهٔ وویل : دا به مونږ ته الله راکوی نو الله ورله ورکړه، او د کافر په شکست باندے خوشحالیدل او مسکے کیدل سنت طریقه ده، رسول الله ﷺ به داسے موقعه کښے سجده د شکر کوله)

د رسول الله ﷺ وتل :

رسول الله ﷺ د مکے نه په (٦) شپږم شوال (سنه ٨ هـ) د خالی په ورځ د مکے نه اول خَیْفِ بنی کنانه ته ووتهٔ چه دے وخت کښے ورته عزیزیه وائی.

(دلته ئے پړاؤ پدے وجه واچولو چه مشرکانو پخوا زمانه کښے قسم کړے وو چه د نبی ﷺ او د هغهٔ د خپلوانو سره به مونږ بائیکاټ کوو (یعنی شعب ابی طالب) کښے چه رسول الله ﷺ بندی وو نو قریشو په دغه ځائے کښے د هغوی په خلاف قسم کړے وو. نو دلته رسول الله ﷺ مشرکانو ته وخودل چه دا هغه ځائے دے چه تاسو به زمونږ مقابله کوله نو اُوس الله تعالیٰ مونږ له لاس ته راوستو، او بل د الله شکریه ئے کوله چه دا د دشمن علاقه وه اُوس زمونږ لاس کښے راغله).

کله چه ددے علاقے نه روان شول نو په لاره کښے دوه واقعات راغلل.

د ذات انواط واقعه :

یوه واقعه دا وه چه کله دویٔ حنین ته ورتلل نو په لاره کښے یوه لویه شنه د بیرے ونه ئے ولیده، د مشرکینو ونه وه چه پخوا زمانه کښے به مشرکان کله جنګونو ته تلل نو دے ونے ته به ئے د برکت دپاره تورے زوړندولے او ډیرو خلکو به د ونے د تعظیم دپاره د هغے نه لاندے ذبحے کولے، او دلته به خلکو اعتکافونه هم کول، او هغے ته به ئے ذات انواط وئیله. (ونے ئے د الله سره شریک کړیدی)

نو پدے فوج کښے نوے مسلمانانو چه لا ایمان ئے زړونو ته پوره نهٔ دے ننوتے او د توحید د احکامو او حقوقو نه پوره خبر نهٔ دی، نو هغوی رسول الله ﷺ ته وویل :

[اِجْعَلْ لَنَا ذَاتَ اَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتُ اَنْوَاطٍ]

مونږ دپاره هم یوه ونه د تورے زوړندولو مقرر کړه لکه څنګه چه ددے مشرکانو دا ونه شته۔

نو رسول الله ﷺ پدے خبره خفه شو او غصه ئے وکړه او وے فرمایل:

[اَللّٰهُ اَكْبَرُ، قُلْتُمْ وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوْسٰی لِمُوْسٰی : اِجْعَلْ لَنَا اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ، قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ]

الله اکبر، تاسو خو د موسیٰ علیه السلام د قوم په شان خبره وکړه چه موسیٰ علیه السلام کله د دریاب نه واوړیدو او په یو قوم ورتیریدو چه هغوی د بتانو عبادت کولو نو قوم ئے ووئیل مونږ دپاره یو اِله (/بابا) وګرزه وه لکه څنګه چه دوئ دپاره معبودان شته، نو موسیٰ علیه السلام ورته وفرمایل : تاسو خو جاهلان قوم یئ۔

[اِنَّ هٰٓؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَا هُمْ فِیْهِ وَبَاطِلٌ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ]

ددے خلکو کښے دا کار خو بربادیدونکے دے او باطل عمل کوی۔

او ورته ئے وفرمایل : [أَغَیْرَ اللّٰهِ اَبْغِیْكُمْ اِلٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَی الْعَالَمِیْنَ]

آیا سوئ د الله تعالیٰ نه زۀ تاسو له معبود طلب کړم حال دا چه الله تعالیٰ تاسو په مخلوقاتو غوره کړی یئ۔ (یعنی تاسو د شرك خبر وکړه)

بیا نبی ﷺ وفرمایل : [اِنَّهَا السُّنَنُ، لَتَرْكَبُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ]۔

دا هغه طریقے دے چه ما تاسو ته وئیلی وو چه تاسو به د پخوانو قومونو د طریقو پسے روانیږئ۔ پخوانو چه کوم شرك او فساد کړے نو هغه به زما امت کښے هم څه کسان کوی۔ (د یهودو چه څه صفات وی نو ددے امت په څه کسانو کښے به ضرور راځی، لکه شرك، بت پرستی، تقلید، خیانتونه، د محارمو سره نکاح)، نو خلك پو هه شول۔

(**فائده** : دا قانون دے چه یو تن د ناپو هئ د وجه نه د شرك خبره وکړی نو هغه به ګناهګار نۀ وی. ددے وجه نه دے کسانو ته رسول الله ﷺ ونۀ وئیل چه تاسو کافر شوئ او ښځے دربانده طلاقے شوے بیا کلمه ووایئ۔

بیا ناپو هه انسان په دوه قسمه دے، یو هغه دے چه نوے مسلمان دے، یا چا ورته بیان نۀ دے کړے، داسے علاقه کښے وسیږی چه څوك نشته چه دے پو هه کړی، نو دۀ د

جهل د وجه نه د کفر کار وکړو یا ئے د کفر یوه خبره وکړه، نو کله چه دهٔ ته تنبیه ورکړے شي او دے سمدست توبه وباسي او په خپل کار باندے خپیمانه شي نو دے گناهګار نهٔ دے، اګرکه د شرك عقیده ئے هم د جهل د وجه نه ساتلې وي، دے به معاف وي، ځکه چه دے معذور دے۔

خو پدے شرط چه کله پوهه شو نو په خپله خبره به کلك نهٔ ودریږي، ددے ډیر مثالونه دي یو پدے مقام کښے ددے ملګرو دا حالت شو۔

دویم د بني اسرائیلو خبره چه بیرته ئے رجوع وکړه، او دریم مثال د حوارینو دے چه عیسیٰ علیه السلام ته ئے وئیلي وو:

[هَلُ يَسُتَطِيُعُ رَبُّكَ] آیا ستا رب د مائدے د نازله ولو طاقت لري؟۔

او څلورم دا چه په حدیث د بخاري کښے دي چه یو کفن کش چه کله مړ کیدو نو بچو ته ئے وصیت وکړو چه ما به وسیزئ او ایرے به والوزوئ۔

[لَئِنُ قَدَرَ اللّٰهُ عَلَيَّ لَيُعَذِّبَنِيُ مَا عَذَّبَهُ اَحَدًا مِنَ الْعَالَمِيُنَ]

ځکه که الله په ما قادر شو نو ما ته به داسے سخت عذاب راکړي چه هیچا ته به ئے نهٔ وي ورکړے۔

نو الله تعالیٰ د هغهٔ ذرات راپورته کړل او په برزخ کښے ئے خپلے مخے ته ودرولو او دا ئے ورته وویل: [مَا حَمَلَكَ عَلٰى مَا فَعَلْتَ ؟]۔ دا کار دے ولے کولو؟۔

نو هغهٔ وویل: [خَشُيَتَكَ يَا رَبِّ وَاَنْتَ اَعْلَمُ]

ستا یره راباندے غالبه وه اے ربه! او تهٔ ښهٔ پوهه ئے۔ نو نبي ﷺ فرمائي چه الله تعالیٰ وبخښلو۔

[بخاری: ۳۴۷۹ والموطأ: ۵۷۰]

دا حدیث دلیل دے چه دا یو بني اسرائیلي مسلمان دے، نورے عقیدے ئے صحیح دي لیکن دا یوه عقیده ئے خرابه ده، که الله په ما قادر شو یعنی ګمان ئے دا وو چه الله ګنے دا ذرات نشي راجمع کولے، د الله تعالیٰ د قدرت په باره کښے ئے شك شان وو۔

حقیقي انکار ئے هم نهٔ کولو چه زهٔ د الله قدرت نهٔ منم خو شکي وو، ځکه چه د الله په قدرت کښے شك کولو سره انسان کافر کیږي۔ لیکن دلته الله تعالیٰ دا شخص بخښلے دے، وجه دا وه چه د الله تعالیٰ یره پړے دومره غالبه شوے وه چه د الله تعالیٰ

قدرت ئې ترې هېر کړېدې، کله انسان باندې يو طرف دومره غالب شي چه بل طرف ئې هېر شي، لکه سړی کښې کله يره ډېره شي نو د الله د رحمت په باره کښې ئې شك شي، چه په ما به رحم وکړي او که نهٔ، کله انسان نا اميدئ ته ورسيږي.

نو دا شخص ناپوهه وو، که دا چا پوهه کړې وې چه الله ددې ذراتو په راجمع کولو هم قادر دې، او بيا هم دهٔ شك کولې نو دا به حقيقي کافر کيدې.

دويم حالت : دويم هغه جاهل دې چه ځان نهٔ پوهه کوي، په ملك د مسلمانانو کښې وسيږي، مدرسې او علماء او مساجد او دُعاة او اهل حق موجود دي، او دهٔ ته دعوت رسيدلې دې چه فلانی داسې وائي، او دې همدغسې د شرك په عقيده ولاړ دې، لکه چوړې (نصراني) چه په نصرانيت باندې کلك دې، شيعه دې، په شيعه توب کلك دې، بريلې دې په خپل شرکي عقيده باندې کلك دې، بلکه که څوك ورته خبره وکړي نو دې وائي چه زما د پلار نيکه دين ما له کافي دې، نو دا انسان معذور نهٔ دې، ولې که معذوره شي نو بيا خو ټول کفار معذور دي، ځکه چه هغوی ته خپل مشران د اسلام بدی بيانوي او د مسلمانانو او د رسول الله ﷺ سپکوالې ورته په زړونو کښې اچوي بيا خو به هغه عوام هم معذوره وي، بيا خو به ټول هندوان او يهود او نصارئ جنت ته لاړ شي. الغرض: دا مسئله د نوئ مسلمان په باره کښې ده.

او ددې نه دا مسئله هم معلومه شوه چه څوك د کفر کلمه ووائي نو سمدست ئې نکاح نهٔ ماتيږي، نکاح هله ماتيږي چه دې په خپل کفر کلك پاتې شي او درې مياشتې پرې تيرې شي. ډيرو خلکو نه په شك سره کلمه د کفر ووئيلې شي نو ناپوهه مفتيان ورته وائي چه ستا نکاح ماته شوه، بيرته نکاح وتړه. دا غلطه خبره ده.

دويمه واقعه:

مخکښې چه تير شو نو د بعض نوی کسانو د خولې نه يوه بله خبره غلطه وختله، کله ئې چه د مسلمانانو د فوج کثرت وليدو نو وې وئيل :

[لَنْ نُغْلَبَ الْيَوْمَ]

مونږ به نن ورځ نهٔ مغلوبه کيږو، نو نظر ئې په کثرت د فوج ولګيدو، او د مؤمن دپاره هر وخت دا د عبرت خبره ده چه د هغهٔ نظر به په الله لګيږي، نهٔ په ظاهري اسبابو. دا خبره د توحيد خلاف وه.

(او نبي ﷺ هم په عامو اوقاتو کښې فرمایلي دي :

[وَلَنْ يُّغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ اَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ]

[مسند احمد : ۲۷۱۸، صحیح ابن خزیمة ۲۵۳۸، صحیح]

دولس زره (۱۲۰۰۰) کسان به د کم والي د وجه نه هیڅکله مغلوب نشي.

که مغلوب کیږي نو بله وجه به وي، یا به د دوئ د جنګ ترتیب خراب وي، په شرعي اصولو به ئې جهاد نۀ وي شروع کړے).

نو پدے خبره سره رسول الله ﷺ خفه شو او دا پرے ګرانه تمامه شوه، ځکه چه دا د توحید خلاف خبره وه چه انسان په ځان او په خپل فوج او مال باندے اعتماد وکړي، دا اسباب به بنده استعمالوی لیکن د الله تعالیٰ طاقت ته به ځان سپاری، توکل به په الله کوی.

د یو تفسیر مطابق : یوسف علیه السلام په جیل کښې به ډیر ذکر کولو، خو په یوه موقعه کښې ترے یو ملګرے رها کیدو نو دۀ هغۀ ته وویل چه [اُذْكُرْنِيْ عِنْدَ رَبِّكَ]

ما د خپل مولیٰ په دربار کښے یاد کړه چه یو تن په جیل کښے بے ګناه قیدي دے.

﴿فَاَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ﴾ (یوسف : ۴۲)

نو شیطان د هغۀ نه د خپل رب ذکر هیر کړو نو په جیل کښې ئې څو کاله تیر کړل.

انبیاء علیهم السلام د الله تعالیٰ په نیز ډیر عزتمن دي او ډیره اُوچته مرتبه ئې ده، لیکن الله تعالیٰ نۀ غواړي چه د هغوی په زړونو کښے دے د الله تعالیٰ نه په غیر په هیڅ وخت کښے بل چا ته توجه پیدا شي، او په هغوی دے لږ ساعت دپاره غفلت راشي. دا د الله تعالیٰ غیرت دے چه په خپلو بعض دوستانو ئې کوی، نو په معمولي غفلت سره هغوی ته تنبیه ورکوی، او پدے خبره ډیر خلك نۀ پو هیږي.

نو ددے خبرے د وجه نه الله تعالیٰ پرے دا امتحان راوستو چه په حنین کښے اوله کښے شکست راغلو او ډیر پکښې زخمیان او شهیدان شول او بیرته الله تعالیٰ غلبه ورکړه.

او بیا روستو آیتونه نازل شول. بعض مسلمانانو وویل چه د الله تعالیٰ مونږ سره د مدد وعده ده، نو مونږ سره ولے مدد ونشو؟ نو الله ورته وفرمایل :

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ۝ ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ ......﴾ [التوبة : ۲۵/۲۶]

الله تعالیٰ تاسو سره په ډيرو ځايونو کښې مدد کړيدے، او د حنين په ورځ ئے هم درسره کړيدے، کله چه تاسو حيران کړئ خپل ډير والی، نو تاسو ته ئے هيڅ فائده درنکړه، (او اول کښې درباندے دشمن غالب شو) او په تاسو باندے زمکه تنګه شوه سره د فراخئ د هغے نه (د زمکے د تنګوالی شکل روستو ذکر کيږی)

بيا تاسو شا وګرځوله، بيا الله تعالیٰ خپل نبی باندے آرام راوليږلو او په مومنانو باندے هم، او داسے لښکرے ئے راوليږلے چه تاسو نهٔ ليدلے (چه کافرانو ته ښکاره کيدلے) او کافرانو ته ئے عذابونه ورکړل (لکه ددے نه روستو کافران ډير په پريشانئ کښے وو تر څو چه ايمان ئے نهٔ وو راوړے لکه روستو به راشی)

بيا الله په بعض خلکو مهربانی کوی (د ايمان توفيق به ورکوی) او بعضو ته به عذاب ورکوی۔

دا آيتونه نازل شول او مطلب ئے دا وو چه په الله بد ګمانی ونکړئ بلکه د الله مدد ستاسو ددے خبرے د وجه نه روستو شو، که تاسو د خولو نه دا خبره نهٔ وے وتلے نو الله به درسره د اول نه مدد کړے وے۔

نبی کريم ﷺ روان شو تردے چه د بدهـ (چارشنبے) په شپه حنين ته ورسيدو (د خالی په ورځ وتلے وو)

دلته رسول الله ﷺ يو بل جاسوس او څوکئ کونکے مقرر کړو،

اول کښے رسول الله ﷺ وفرمايل : [مَنْ يَّحْرُسُنِى اللَّيْلَةَ ؟]

نن شپه به زمونږ څوکيداری څوك وکړی؟ نو انس بن ابی مرثد الغنوی ﷺ راپاڅيدو او وے وئيل چه زهٔ ايے د الله رسوله ! نو هغه ئے وليږلو او دا ئے ورته وويل چه تهٔ به په اس باندے سوريږے او يواځے به ځے، نو هغه د مابنام نه روان شو او ټوله شپه ئے مزل وکړو او د دشمن احوال او علاقے ئے معلومولے چه کوم دشمنان خو دلته پټ نهٔ دی۔

رسول الله ﷺ په دغه ځائے کښے شپه تیره کړه، سهار مانځه ته راغے دوه رکعاته ئے وکړل بیا ئے صحابه کرامو ته وفرمایل :

[هَلُ اَحُسَسُتُمُ فَارِسَكُمُ ؟]

آیا تاسو خپل شاهسوار محسوس کړے۔

هغوی وویل : مونږ نۀ دے لیدلے۔ پدے کښے اقامت وشو او د سهار په مانځه باندے وردیدو چه مخے ته ئے باغ وو،

(په مانځه کښے د کتلو په باره کښے د رسول الله ﷺ دوه طریقے دی یو دا چه په مانځه کښے به مخے ته ګورے، دویم سجدے ځائے ته، امام بخاریؒ مخے ته کتل غوره ګرزولی دی، مګر دیوال یا امام ته کتل جائز عمل دے، او ځائے د سجدے ته کتلو کښے خشوع زیاته وی)۔

نو رسول الله ﷺ چه د مانځه نه فارغ شو نو وے فرمایل :

[اَبُشِرُوُا فَقَدُ جَاءَ فَارِسُكُمُ]

خوشحاله شئ یقیناً ستاسو شاهسوار راغلو۔ رسول الله ﷺ په ونو کښے دننه د وړاندے نه ولیدو چه هیڅا نۀ لیدو، (یا ئے دا خبره معجزةً وکړه)

نو لږ ساعت پس هغه راورسیدو، او رسول الله ﷺ ته ئے د دشمن حالات بیان کړل، چه زۀ پدے کنډوونو کښے لاړم او بره طرف ته ورسیدم نو نظر مے واچولو، هیڅوك مے ونۀ لیدل۔ نو رسول الله ﷺ ترے تپوس وکړو :

[هَلُ نَزَلُتَ اللَّيُلَةَ ؟]

آیا تۀ نن شپه خوب دپاره راکوز شوے ئے؟ هغه وفرمایل :

[لَا، اِلَّا مُصَلِّيًا اَوُ قَاضِيَ حَاجَةٍ]

نه، زۀ صرف مانځه ته یا قضاء حاجت دپاره کوز شوے یم نور توله شپه مزل مے کړے، نو رسول الله ﷺ ورله دیر غټ زیرے ورکړو۔ ورته ئے وفرمایل :

[قَدُ اَوُجَبُتَ، فَلَا عَلَيُكَ اَنُ لَا تَعُمَلَ بَعُدَهَا !]

[رواه ابوداود رقم : ۲۵۰۳ باسناد صحیح]

تا ځان له جنت واجب کړو نو تا باندے هیڅ ضرر نشته که ددے نه روستو بل هیڅ

نیك عمل ونکړے۔ ددے یوے شپے څوکیداری ستا دپاره کافی ده۔
او دا ډیره لویه بهادری ده چه یواځے تن باندے انسان ددشمن خطرناکے علاقے ته د شپے ورځی۔

د لخکرو ترتیب کول :

رسول الله ﷺ حنین علاقے ته ورسیدو نو دلته ئے ملګری ځائے په ځائے کول، د لښکر په ښی طرف ئے یو ملګرے مقرر کړو او په ګس طرف ئے بل مقرر کړو، مخے ته ئے خالد بن ولید ﷜ مقرر کړو او د هغهٔ سره زر (۱۰۰۰) فوجیان دی چه شاهسواران او پهلوانان دی،
او رسول الله ﷺ په خپله دُلدُل نومے قچره باندے سور وو، او دوه زغرے او د وسپنے تهوپئ ئے اغوستے وه او ملګرو ته ئے په قتال باندے تیزی ورکړه او د فتح زیرے ئے ورکړو که دوئ رشتینے حمله وکړی او د دشمن په مقابله کښے مضبوط شی۔ (امتاع)

جنګ شروع کیدل :

دلته مالك بن عوف نصری حنین ته مخکښے رارسیدلے وو نو د شپے نه ئے خپل فوجونو ته ترتیب ورکړے وو،
حنین یوه داسے وادی ده چه خکته ډیره ده، او اخوا دیخوا ترے وړے وړے کندے دی، نو ویشتونکی کسان ئے پدے کندو کښے د هر طرف نه کینول څه مخکښے او څه روستو او څه ښی او ګس طرفونو ته، کمین ئے ورته ونیولو، او دلته مسلمانانو ته دا پته نشته چه ګنے دوی دلته دے کندو کښے پټ دی، بلکه د هغوی ګمان دا وو چه دوی د حنین نه شا ته دی، هلته به دوئ ورځی۔
نبی ﷺ حکم وکړو چه ورځئ پرے او دا د صبا تیارهٔ وخت وو، (عِمَايَةُ الصُّبحِ) نو هرکله چه دوئ پدے کندو ورخکته شو نو د مالك بن عوف فوجونه پرے ناڅاپی د کندو نه راووتل او د غشو ګوزارونه ئے پرے د هر طرف نه شروع کړل تردے چه د غشو باران پرے جوړ شو، او نورو فوجونو پرے داسے حمله وکړه لکه یو تن چه حمله کوی،

په یو ځل پرے راجمع شول، نو دا سے سخته حمله ئے وکړه چه مسلمانان ئے سم راګیر کړل چه پدے کښے ډیر مسلمانان شهیدان شول، او خالد بن ولید ﷺ هم پکښے زخمی شو او د عامو مسلمانانو په زړونو کښے رعب واقع شو،

(الله تعالیٰ ورله د مخکښئ خبرے په وجه لږه تنبیه ورکوله)

نو دشمن ورپسے وو او دوئ ترے منډے وهلے، او په واپسئ کښے دلته نور مسلمانان مخے ته راروان دی، نو مسلمانان خپل مینځ کښے یو بل سره وجنګیدل، تیل جوړ شو، اُوښان او اسونه راواپس کیږی او دے خوا نه نور مسلمانان روان دی، ځکه چه دے روستنو مسلمانانو ته خو دا پته ونۀ لګیده چه مخکښے څه وشول، او دلته د هغه طرف نه حمله شروع ده، نو هر سړی د خپل ځان د خلاصی کوشش کولو، هیچا هیچا ته نۀ کتل، رسول الله ﷺ ته پته ولګیده چه په ملګرو شکست ولګیدو نو هغه په بنی طرف باندے روان شو چه دا د دشمن طرف وو، شا ته لاړ نشو، او دا د رسول الله ﷺ انتهائی بهادری وه۔

دے ملګرو کښے څه کسان شهیدان شول او زیات پکښے زخمیان شول او زیات په شا وتښیدل او دے تیښته کښے هم مسلمانانو دپاره فائده وه چه د دشمن د لاس نه نور ونۀ وژل شی۔

پدے کښے رسول الله ﷺ سره لږ شان ملګری پاتے شول،

ابن اسحاقؒ وائی نهه (۹) کسان وو، او امام نوویؒ وائی : دولس (۱۲) کسان وو۔

یو عباس ﷺ، بل ابو سفیان بن الحارث ﷺ چه دا ئے د ترۀ ځوی دے، او د هغۀ ورور ربیعه بن الحارث بن عبد المطلب ﷺ او علی بن ابی طالب ﷺ او ایمن بن ام ایمن ﷺ او اسامه بن زید ﷺ، او فضل بن عباس ﷺ، او بعض پکښے قُثَم بن عباس ﷺ زیاتوی، او لږ کسان د مهاجرینو نه چه د هغوی نه ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ هم وو۔

مګر امام احمدؒ، او حاکمؒ په مستدرك کښے د ابن مسعود ﷺ حدیث راوړے چه د رسول الله ﷺ سره اتیا (۸۰) کسان د مهاجرینو او انصارو نه پاتے شول)

(الرحیق المختوم ومرویات غزوة حنین ص ۱۷۵ وهو اسناد حسن)

زرقانیؒ د خپل استاذ نه د ټولو روایاتو جمع پدے طریقه نقل کړیده چه څلور کسانو نه مراد هغه دی چه د رسول الله ﷺ د اُوښے رکاب ئے نیولے وو، او دولس او لس کسان

هغه وو چه زر رارسیدلی وو، او اتیا کسانو نه مراد هغه کسان وو چه هغوی لړ روستو شوی وو مګر تښتیدلی نهٔ وو چه بیخی شائے راړه ولی وی۔

دلته د نبی کریم ﷺ بهادری راښکاره شوه چه په قچره باندے سور وو او دشمن طرف ته روان وو نو ابوسفیان بن حارث ؓ د هغهٔ د قچرے جیلب رانیولے وو او دائے وئیل : چه اے د الله رسوله ! مخکښے مهٔ ځه تا ته به تکلیف ورسی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : څوك ئے ؟ هغهٔ ووئیل : ستا د مور ځوی یم، او دے وخت کښے نبی کریم ﷺ دا آواز هم وکړو :

[اَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبَ ۞ اَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ]

اے خلکو ! زهٔ د الله نبی یم، او پدے کښے څه دروغ نشته، زهٔ د عبد المطلب ځوی یم۔

(یعنی لکه څنګه چه زما د عبد المطلب په ځوی کیدو کښے شك او دروغ نشته نو دغه شان زما په نبوت کښے هم هیڅ دروغ نشته)

او عبد المطلب مشهور وو نو ځکه ئے د هغهٔ نوم واخستو۔

او پدے خبره کښے ډیرے فائدے وے، یو دا چه که زما ملګرو شکست وخوړو او مونږ ته تکلیف ورسیدو نو پدے سره په نبوت کښے هیڅ نقصان نهٔ راځی، لکه مثلاً یو حق پرست عالم د چا سره بحث شو او مخالف پرے چالاکی وکړه او دے ئے غلے کړو نو ددے دا مطلب نهٔ دے چه قرآن او حدیث پدے سره خکته شو)

۲- او دویم په جنګی میدان کښے فخر په پلارانو باندے کول جائز دی، لکه سلمه بن الاکوع ؓ وئیلی وو (خُذْهَا وَاَنَا ابْنُ الْاَكْوَعِ) زهٔ د اکوع ځوی یم۔

۳- دلته رسول الله ﷺ انتهائی ډیره بهادری راښکاره کړیده چه په داسے موقعه کښے خلك د دشمن نه ځان پټوی چه څوك پرے ګوزار ونکړی مګر رسول الله ﷺ دشمن ته ځان ښکاره کولو۔ ددے وجه نه د براء بن عازب نه چا تپوس وکړو :

[يَا اَبَا عُمَارَةَ ! هَلْ فَرَرْتُمْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ حُنَيْنٍ]

اے ابو عماره ! آیا تاسو د رسول الله ﷺ سره د حنین په ورځ تښتیدلی وئ ؟ نو هغهٔ جواب ورکړو :

[وَاللّٰهِ مَا وَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ، وَلٰكِنَّهٗ خَرَجَ شُبَّانُ اَصْحَابِهٖ وَاَخِفَّاؤُهُمْ حُسَّرًا لَيْسَ بِسِلَاحٍ

فَأَتَوْا قَوْمًا رُمَاةً جَمْعَ هَوَازِنَ وَبَنِي نَصْرٍ مَا يَكَادُ يَسْقُطُ لَهُمْ سَهْمٌ فَرَشَقُوهُمْ رَشْقًا مَا يَكَادُونَ يُخْطِئُونَ فَأَقْبَلُوا هُنَالِكَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَابْنُ عَمِّهِ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَقُودُ بِهِ فَنَزَلَ وَاسْتَنْصَرَ ثُمَّ قَالَ: أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبَ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ] [بخاری: ۲۹۳۰]

قسم په الله چه رسول الله ﷺ دشمن ته شا نۀ وه اړولے لیکن وجه دا وه چه د هغۀ بعض ځوانان ملګری او سپك دسته کسان بغیر د وسلے نه راوتلی وو نو دوئ په داسے قوم باندے راغلل چه هغوی ډیر غشی ویشتونکی وو چه هغه د هوازن او د بنو نصر ډلے وے، چه نزدے نۀ وه چه د هغوی یو غشے همداسے پریوزی نو دا ملګری ئے په داسے غشو سره ویشتل چه نزدے نۀ وه چه ترے خطاء شی، نو دے وخت کښے صحابه کرام رسول الله ﷺ ته راواپس شول او هغه په خپله سپینه قچره باندے ناست وو او د هغۀ د ترۀ ځوی ابوسفیان بن الحارث د هغے جیلب نیولے وو راخکلو ئے،

نو رسول الله ﷺ راکوز شو او د ملګرو نه ئے مدد طلب کړو او دا ئے وویل چه زۀ نبی یم دا دروغ نۀ دی، زۀ د عبد المطلب ځوی یم۔

دلته رسول الله ﷺ ملګرو ته آواز وکړو: [إِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ !]

اے د الله بندګانو ! ما طرف ته راشئ، لیکن ملګرو دا آواز وانۀ وریدو او عباس ﷜ هغه کس وو چه ددۀ آواز به د زرو (۱۰۰۰) کسانو د آوازونو په ځائے کار ورکولو،

او ضحاك بن عثمان الحزامیؒ وائی: عباس ﷜ به په سِلع غر ودریدو او خپلو بعض غلامانو ته به ئے د څه ضرورت دپاره آواز کولو نو د هغۀ آواز به غابه ته رسیدو چه دا نهه (۹) میله د مدینے نه واړندے علاقه ده۔ (حاشية امتاع الاسماع)

نو عباس ﷜ ته ئے حکم وکړو چه ملګرو ته آواز ورکړی نو هغۀ آواز وکړو:

[يَا أَصْحَابَ الشَّجَرَةِ]

اے هغه خلکو چه تاسو په مرګ باندے د رسول الله ﷺ سره د ونے لاندے بیعت کړے په حدیبیه کښے چه مونږ به نۀ تښتو۔ نو خپله زره خبره ئے ورته رایاده کړه۔

[يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ، يَا لَلْمُهَاجِرِينَ، يَا لَلْخَزْرَجِ]

اے د انصارو ډلے! اے مهاجرینو اے خزرج ډلے ! نو هغوئ ورته لبیك لبیك آوازونه

وکړل، او نزدې خلك زر راواپس شول،

عباس ﷺ فرمائي:

[وَاللّٰهِ لَكَأَنَّ عَطْفَتَهُمْ حِيْنَ سَمِعُوْا صَوْتِيْ عَطْفَةُ الْبَقَرِ عَلٰى اَوْلَادِهَا]

قسم په الله! کله ئې چه زما آواز واوریدو نو داسې راواپس شول لکه څنګه چه غواګانې خپلو بچو ته دتې ورکولو دپاره راواپس کیږي۔

او صحابه کرامو به اُوښان راواپس کول نو که هغه به نۀ راواپس کیدو نو د هغې نه به ئې زغره او وسله راخسته او راکوزیدو به او دې آواز ته به ئې رامنډه وهله۔

نو د مسلمانانو ډلې یو بل پسې را روانې شوې،

د نبی کریم ﷺ په خوا کښې سل (۱۰۰) کسان جمع شول نو دې وخت کښې رسول الله ﷺ دعاء وکړه: [اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْ نَصْرَكَ] اې الله! خپل مدد رانازل کړه۔

نو دغه وخت کښې دې سلو (۱۰۰) کسانو د کفارو سره جنګ شروع کړو، او نور مسلمانان هم په آرام آرام سره راواپس کیږي، پدې کښې عام مسلمانان راواپس شول او جنګ انتهائي ګرم شو، نبی علیه السلام وفرمایل:

[اَلْآنَ حَمِيَ الْوَطِيْسُ]

اُوس د جنګ تنور ګرم شو۔ (ځکه چه دشمن هم ډیر تیر انداز او قوی او ډیر وو او وسلې هم ورسره ډیرې وې) او مسلمانان هم ورته قوی شول۔ او دا جمله ډیره فصیحه ده چه د رسول الله ﷺ نه مخکښې چا نۀ وه استعمال کړې۔

نو دلته د رسول الله ﷺ معجزه راښکاره شوه، د قچر نه راکوز شو او په موټی کښې ئې خاورې راواخستې او دشمن طرف ته ئې ورګوزار کړې او وې فرمایل:

[شَاهَتِ الْوُجُوْهُ]

الله دې د دوی مخونه بد رنګ کړي۔ نو دا شړې د دشمن د هر انسان په سترګو کښې واقع شوې، نو خپلې سترګې ئې مږلې او داسې پریشانه شو چه څه ئې نۀ لیدل، نو رعب پرې راغې او سمدست شکست پرې ولګیدو او منډه ئې کړه او مسلمانان ورپسې شول همداسې روان وو چه خپلو ښځو او مالونو ته ئې نۀ کتل، نو ښځې او مالونه هرڅه ترې پاتې شول، سهار کښې د هغوی زور وو، او مازیګر کښې د مسلمانانو زور وو۔

کله چه په ابتداء کښې مسلمانانو شکست وخوړو نو دلته بعض نوی مسلمانانو دوه خبرې وکړې یو تن (گَلْدَه بن جَبَلَة بن حَنْبَل) چه دا د صفوان د مور د طرف نه ورور وو، داسې ووېل : [اَلَا بَطَلَ السِّحْرُ الْيَوْمَ]

خبردار نن ورځ د رسول الله ﷺ جادو ختم شو۔

(ددهٔ گمان دا وو چه محمد رسول الله ﷺ اُوسه پورې کوم کارونه وکړل نو دائې په جادو سره وکړل او نن ئې ورله جادو ختم کړو)

نو پدې وخت کښې دهٔ ته صفوان بن امیه ووېل (چه دا لا اُوس هم مشرك دې، او نبی ﷺ ځان سره دې جنگ ته بوتلے دې) نو هغهٔ ورته ووېل :

[اُسْكُتْ فَضَّ اللّٰهُ فَاكَ، لَأَنْ يُرَبِّيَنِیْ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَحَبُّ إِلَیَّ مِنْ أَنْ يُرَبِّيَنِیْ رَجُلٌ مِنْ هَوَازِنَ]

چپ شه (دا خبرې مهٔ کوه) الله دِې ستا خوله ماته کړی، که زما مشری د قریشو یو سړې وکړی دا ما ته ددې نه زیاته خوښه ده چه د هوازن او ثقیف نه یو سړې زما مشری وکړی۔ یعنی دا خو زمونږ قومی دې،

(کله نا کله قوم پرستی هم په داسې موقعه کښې انسان ته فائده ورکوی، یعنی په قومی شخص خو غیرت پکار دې)

دلته ابوسفیان هم نوې مسلمان دې، نو هغهٔ هم ووېل :

[لَا تَنْقَطِعُ هَزِيْمَتُهُمْ دُوْنَ الْبَحْرِ الْأَحْمَرِ]

ددې مسلمانانو شکست به دریابه پورې نهٔ ختمیږی۔ (یعنی مسلمانانو خو داسې منډه کړه چه نزدې ده چه دریاب ته ورسیږی) د دوئ سپکوالے ئې بیانولو۔

(دا ابتدائی زمانه ده روستو د دوئ نه ډیر لوی اولیاء الله جوړ شویدی)

د صفوان قصه :

رسول الله ﷺ دې جهاد ته مشرك هم بوتللے دې۔ بلکه روایاتو کښې راغلی دی چه اتیا مشرکان ئې بوتلی وو۔ (امتاع الاسماع)

صفوان به د زغرو تجارت کولو، رسول الله ﷺ ددې جهاد په موقعه د صفوان نه د

عاریه په طور سل (۱۰۰) زغرې، او بعض روایاتو کښې دي چه درې زره (۳۰۰۰) زغرې واخستې، (نو اول کښې سل بيا به ئې ډيرې اخستې وي) نو دهٔ ووېل:

[أَغَصْبًا يَا مُحَمَّدُ اَمْ عَارِيَةً ؟]

آيا دا په زوره اخلې او که د سوال په طريقه نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

[بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُوْنَةٌ]

دا مې درنه په سوال واخستل که ضائع شو نو زهٔ ئې ذمه واريم.

(**شرعي مسئله**: سوالي شي کښې قانون دا دې چه که چا چا ته يو شے په سوال ورکړو، او د هغهٔ په لاس کښې هلاك شي، مثلًا چا ته دې گاړے ورکړو د يو چکر دپاره او هغه ئې وجنګوی، يا خراب شو نو ددې تاوان نهٔ وي، البته که قصداً هغه دا کار کړے وو نو بيا پکښې تاوان شته، دارنګه که عاريه مضمونه وي، يعني داسې ورته ووائي چه داشې درکوم خو که خراب دې کړو نو تاوان به ئې راکوې، نو که هغهٔ خراب کړو نو بيا ترې تاوان اخستې شي لکه دلته نبي ﷺ ورته وفرمايل: چه ددې زغرو زهٔ ذمه واريم).

(**بله فائده**: د مشرکانو نه په باب د جهادونو کښې مدد اخستل دوه قسمه دي، يو د هغوی د ذات نه مدد اخستل دي چه هغوی باندې جنګ وکړي نو. هغې کښې علماؤ په اته (۸) شرطونو سره اجازه ورکړيده، چه کافر به د مسلمانانو په باره کښې ښائسته رائې والا وي، د بل دشمن سره به ئې لاره نهٔ وي، کمان به د مسلمان په لاس کښې وي، د اسلام غلبه به په دې باندې راځي، د مشرك نه به يره نهٔ وي، د هغه نوم او شهرت به يوائې نهٔ کيږي، نو بيا مدد اخستل جائز دي، لکه په اُحد کښې رسول الله ﷺ د مدينې يهوديانو ته ووېل چه مونږ سره وجنګيږئ، او دلته ئې صفوان او دغه شان نور مشرکانو ځان سره بوتلي دي.

او دويم د کفارو نه پيسې او وسله اخستل چه د هغوی هر نيت وي او د هغوی پکښې فائده وي او که نهٔ، يا د هغوی نه مشوره او رهنمائي واخلي نو دا د اسلام خلاف نهٔ ده، کله چه د مجاهدينو خپل واك وي، په هر جهاد کښې د بعض کافرانو فائده وي لکه څنګه چه د مسلمانانو فائده وي. دلته د صفوان خپله فائده وه، د هغهٔ نوم او مشري پکښې راغله او د رسول الله ﷺ خپله فائده وشوه.

رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملګرو چه کله دا مشرکان مغلوبه کړل نو دوئ کښې درې ډلې جوړې شوې، یوه ډله بطن نخلې ته وتښتیدل او بله ډله اوطاس ته او ډیر کسان سره د خپل مشر (مالك بن عوف) نه طائف ته وتښتیدل۔

په طائف کښې مضبوطې قلعه ګانې وې نو هغې ته ننوتل، او ځان پسې ئې دروازې رابندې کړې چه په هغې کښې د هغوی سره د یو کال خوراك موجود وو۔ که یو کال پورې محاصره شي نو په هغوی هیڅ اثر نهٔ پریوځي۔

په جنګ کې د صحابه کرامو بعض حالات او مختلفې خبرې

❁ د سیرت کتابونه لیکې چه په غزا د حنین کښې خالد بن ولید ؓ هم زیات زخمي شو، په غشو ولګیدو او په نیزو باندې لړه لړه حصه د هغهٔ زخمي شوه چه روستو د رسول الله ﷺ د معجزې په وجه الله تعالیٰ ښهٔ کړو،

روستو رسول الله ﷺ تپوس وکړو چه خالد څه شو ؟ چا ووېل : هغه زخمي دې او یوې اُوښې ته ئې ډډه لګولې ده، او وینه ترې روانه ده، نو رسول الله ﷺ ورغې او د هغهٔ نه ئې جامې ویستلې او چه کوم زخم وو په هغې ئې دم اچولو او چُپ به ئې کاوه، او لاړې به ئې پرې راخکلې نو ددې مبارکو لاړو په وجه به وینه ودریده او زخم به سمدستي جوړیدو۔ دې ته معجزه وائي چه خلکو ولیده۔

هغه روغ شو او دوباره ئې د دغه مشرکانو پسې ورولیږلو ځکه چه دا د الله د تورو نه یوه توره وه چه الله تعالیٰ د مشرکانو په مقابله کښې راویستلې وه۔

❁ پدې غزا کښې رسول الله ﷺ د ځان سره زنانه هم بوتللې وې،

د رسول الله ﷺ په سفرونو کښې طریقه دا وه چه ځان سره به ئې یوه یا دوه او کله ډیرې بیبیانې بوتللې، او د مشرانو صحابه کرامو عادت هم دا وو چه کله به خطره نهٔ وه او د هغوی د حفاظت انتظام به کیدې شو نو ځان سره به ئې بوتللې، ددې حکمت دا دې چه په زنانه باندې د انسان زړهٔ راتول وي، او وسوسې او غلط فکرونه ئې نهٔ راځي، نظر ئې بد نهٔ استعمالیږي۔

نو رسول الله ﷺ پدې غزا کښې ځان سره خپله بی بی ام سلمه رضی الله عنها بوتلې

وه۔

او ام سُلیم رضی الله عنها د انس بن مالك ﷺ مور او د ابو طلحه ﷺ ښځه هم ورته حاضره شوې وه چه دا یوه نیکه سخاوت والا او نرم مزاج والا خدمتګاره او د رسول الله ﷺ ډیره تابعداره زنانه وه۔ او بعض علماء وائی چه رضاعی ترور ئے کیده،

او دارنګه ام عماره رضی الله عنها هم دے جنګ کښے حاضره وه۔ کومے چه په اُحد غزا کښے هم شرکت کړے وو او د هغے شجاعت او بهادری راښکاره شوے وه۔

ابو طلحه ﷺ خپله ښځه ام سلیم رضی الله عنها ولیده چه د هغے سره خنجر دے، ورته ئے وویل : دا تا سره څه دی؟، پدے څه کوے؟ هغے وویل :

[اِنُ دَنَا مِنِّیُ بَعُضُ الْمُشُرِکِیُنَ اَبُعَجُ بَطُنَهٗ]

(السیرة النبویة لابن کثیر)

که ما ته یو مشرك رانزدے شی نو دا به ورله په خیټه کښے ورکوم۔ نو ابو طلحه ﷺ رسول الله ﷺ ته وفرمایل :

[اَمَا تَسۡمَعُ مَا تَقُوۡلُ اُمُّ سُلَیۡمٍ؟]

اے د الله رسوله ! آیا ته د ام سلیم خبرے نهٔ آورے (چه د بهادرئ خبرے کوی) ؟ نو رسول الله ﷺ وخندل۔ نو ام سلیمؓ دے وخت کښے مطالبه وکړه :

[یَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ ! اَقۡتُلُ مَنۡ بَعۡدَنَا مِنَ الطُّلَقَاءِ، اِنۡهَزَمُوۡا بِكَ]

اے د الله رسوله ! ما ته اجازه راکړه چه زهٔ هغه کسان په دے خنجر ووهم کوم چه نوی مسلمانان دی (چه دوی رسول الله په مکه کښے آزاد کړی وو او دوئ ته ئے طلقاء وئیل) چه دوئ تا نه وتښتیدل او تهٔ ئے یواځے په میدان کښے پریخودے؟،

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ اللّٰهَ قَدۡ کَفٰی وَاَحۡسَنَ یَا اُمَّ سُلَیۡمٍ]

اے ام سلیم ! الله تعالیٰ زمونږ کافی شو او ډیر ښه پروګرام ئے وکړو۔

(خیر دے که یوه موقعه کښے ملګری وتښتی) نو داسے مهٔ کوه۔

او په زنانو کښے ام سلیط رضی الله عنهما هم وه۔

❁ د ملائکو راتلل :

الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې فرمایلی وو: [وَاَنۡزَلَ جُنُوۡدًا لَّمۡ تَرَوۡهَا]
الله تعالیٰ داسې لښکرې راولیږلې چه تاسو نهٔ لیدلې۔

صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی چه مونږ په آسمان کښې د مچو د چلك په شان یو شے ولیدو چه هغه په وادی حنین کښې خکته راپریوتو، چه ومو کتل نو هغه غټ غټ میږان وو تردے چه دډیر والی په وجه هغه زمونږ په جامو او بدنونو باندے روان وو، چه مونږ د ځان نه جدا کول، دا ملائك وو د میږانو په شکل، (ځکه الله پدے آیت کښې فرمائیلی دی چه تاسو ددغه لښکر(ملائکو) شکل ونهٔ لیدو)

لیکن دغه میږان ملائك وو د انسانانو په شکل راغلی وو چه په برگ بروق اسونو باندے سوارهٔ وو، چه کافرانو لیدل او مسلمانانو نهٔ لیدل، پدے کښې هم راز دے چه د مؤمنانو ایمان بالغیب مضبوط شی او کافرانو باندے رعب راشی۔

دلته ملائکو جنگ نهٔ وو کړے لیکن په دشمن باندے ئے رعب اچولو، پدے وجه ابتداء کښې سلو کسانو د شل زره فوجونو سره مقابله شروع کړه، ځکه چه د دشمن په زړونو کښې رعب پریوتو۔

او داسې مددونه همیشه په صحیح اسلامی جهادونو کښې ښکاره کیږی، کله ئے مجاهدین هم وینی۔

❁۔ ډیره سخته معرکه وشوه چه د مشرکانو پکښې څه دپاسه اویا (۸۰) کسان ووژل شول۔

❁ پدے ورځ باندے ابو طلحه ﷺ شل کسان د مشرکانو نه قتل کړل۔

د شَیۡبَه بن عثمان ﷺ اسلام:

شیبه بن عثمان بن ابی طلحة دا هغه شخص دے چه په غزا د اُحد کښې ددهٔ پلار او ددهٔ ترهٔ د صحابه کرامو د لاسونو نه وژل شوی وو،

دے هم د رسول الله ﷺ سره په حالت د شرك کښې د مجبوریٔ نه حنین غزا کښې شریك شویدے،

شیبه او صفوان بن امیه دواړو خپل مینځ کښې دا عهد کړے وو چه که دے دواړو

رسول الله ﷺ په غفلت کښې وموندو نو قتلوی به ئے، شیبه وائی : مکر الله تعالیٰ زمونږ په زړونو کښې اسلام راننویستو، ځکه چه ما به کله هم د رسول الله ﷺ د قتل اراده وکړه نو زما زړهٔ به په څه کار باندې مشغول شو، نو زما طاقت به نهٔ کیدو، نو ما ته پته ولګیده چه دې زما نه محفوظ دې، او په یو روایت کښې دی :

[غَشِيَتْنِيْ ظُلْمَةٌ حَتّٰى لَا اُبْصِرَ فَعَرَفْتُ اَنَّهٗ مُمْتَنِعٌ مِنِّيْ وَاَيْقَنْتُ بِالْاِسْلَامِ]

چه ما به کله اراده وکړه نو زما مخې ته به تیارهٔ راغله تردې چه ما به هیڅ نهٔ لیدل نو ما ته پته ولګیده چه دې زما نه محفوظ دې او په اسلام باندې مې یقین راغلو۔

او په یو بل روایت کښې دی : شیبه وائی : ما چه کله نبی ﷺ ولیدو چه په مکه ئے حمله وکړه او هغه ئے فتح کړه او بیا هوازن ته ووتلو نو ما وویل : زهٔ به هم ورسره لاړ شم کیدې شی چه زهٔ خپله بدله واخلم، او ما ته خپل پلار یاد وو چه په احد کښې حمزه وژلے وو او خپل ترهٔ چه علی وژلے وو، نو کله چه په حنین کښې د رسول الله ﷺ ملګرو شکست وخوړو نو زهٔ هغهٔ پسې د ښی طرف نه راغلم نو ومې کتل چه عباس ؓ ئے خوا ته ولاړ وو چه سپینه زغره ئے اغوستې وه نو ما زړهٔ کښې وویل چه دا خو ئے ترهٔ دې او ددهٔ مدد به ضرور کوی، نو بیا زهٔ کس طرف نه راتاؤ شوم نو هلته ابو سفیان بن حارث ؓ ولاړ وو، نو ما وویل : دائے د ترهٔ ځوی دې، دې به ئے هم مدد نهٔ پریدی، نو زهٔ ورته د شا طرف نه راغلم نو صرف دومره فاصله پاتې شوه چه زهٔ ورپسې توره راپورته کړم نو دې وخت کښې زما او د هغهٔ ترمینځ د اُور یوه لمبه راپورته کړې شوه لکه ګویا کښې بریښنا ده، نو زهٔ ویریدم چه ما به وسیزی، نو ما خپل لاس په خپلو سترګو کیخودو او په شا باندې لاړم نو رسول الله ﷺ ما ته وکتل او وې فرمایل :

[يَا شَيْبُ ! اُدْنُ مِنِّيْ! فَوَضَعَ يَدَهٗ عَلٰى صَدْرِيْ وَقَالَ : اَللّٰهُمَّ اَذْهِبْ عَنْهُ الشَّيْطَانَ فَرَفَعْتُ رَأْسِيْ اِلَيْهِ وَهُوَ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ سَمْعِيْ وَبَصَرِيْ وَقَلْبِيْ]

اے شیبه ! رانزدې شه، نو هغهٔ زما په سینه باندې لاس مبارك کیخودو او دائے وویل : اے الله ! ددهٔ نه ددهٔ شیطان بوځه، نو ما سر راپورته کړو پداسې حال کښې رسول الله ﷺ ما ته د خپل غوږ او سترګو او زړهٔ نه هم زیات محبوب شو۔

بیا ئے ما ته وفرمایل : اے شیبه ! کافرانو سره جنګیږه۔ نو قسم په الله زهٔ د هغهٔ نه

مخکښې شوم او ډیره په مینه مې د هغهٔ حفاظت کولو په خپل نفس سره او په خپل هر څه سره، نو هرکله چه هوازن شکست وخوړو نو رسول الله ﷺ خپل کور ته واپس شو، زهٔ هم ورغلم، نو ما ته ئې وویل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَرَادَ بِكَ خَیْرًا مِمَّا اَرَدْتَّ]

الله تعالیٰ لره شکر دې چه تا ته ئې د خیر اراده وکړه د هغې نه چه تا کومه ورانه اراده کړې وه۔

بیا ئې ما ته هغه خبرې ذکر کړې د کومو چه ما اراده کړې وه۔

[امتاع الاسماع ۲/۱۷]

❁ د مشرکانو نه څلور جماعته جوړ شول، یو جماعت د مشرکانو زنانه، ماشومان او حیوانات او مالونه دی، دا په ځائې پاتې شول۔ لکه څنګه چه دوئ ته دُرید بن صمه وئیلی وو چه شکست خوړلی انسان ته هیڅ شې فائده نهٔ ورکوی۔

نو دا ډله خو غنیمت جوړه شوه۔ نبی ﷺ د هغوی په باره کښې حکم وکړو چه دا راجمع کړئ او بیا جعرانه علاقې ته ویوړې شول، چه دا د مکې نه په شمال مشرقی طرف کښې تقریباً پنځه ویشت (۲۵) کیلو میټره وړاندې علاقه ده۔

او یو صحابی ئې پرې مقرر کړو مسعود بن عمرو الغفاری رضی الله عنه،

او بعض علماء وائی : بُدیل بن ورقاء الخزاعی ئې مقرر کړو چه ددې زنانه او ماشومانو او مالونو حفاظت کوه، نو هغوی ئې یو ځائې کښې جمع کړل او تقسیم ئې نکړل ځکه چه د جنګ لمبې لا نهٔ دی سړې شوی، او دا بادشاهی ده، د دوئ دپاره د خوراك څکاك او د شپې د اُوده کیدو او نورو حالاتو او د خرچې انتظام کول عجیبه خبره ده۔

او په مشرکانو کښې یوه ډله اوطاس ته او بله ډله بطن نخلې ته او اکثر مشرکان طائف ته لاړل سره د مالك بن عوف نصری نه او هلته په خپله لویه قلعه کښې داخل شول۔

OOOO

غزا د اوطاس :

د اوطاس والو پسے رسول الله ﷺ یو صحابی ابوعامر الاشعری رضی الله عنه چه د ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه تره وو د څه کسانو سره ورولیږلو، چه په هغے کښے ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه او سلمه بن اکوع رضی الله عنه هم وو، رسول الله ﷺ دوئ له جنډه وتړله او ورئے کړه نو دے ورغیے، دۀ پرے حمله وکړه نو څه کسان پکښے ووژل شو او باقی کسان د هغه ځائے نه هم وتښتیدل او څه پکښے ونیول شو۔

چه یو په هغوی کښے هغه مشرك هم دے چه د رسول الله ﷺ پسے ئے د هجرت په موقعه په اس باندے منډه کړے وه، سُراقه بن مالك الجعشمی چه روستو صحابی گرزیدلے دے۔ دا هم په قیدیانو کښے ونیولے شو او قیدیانو سره یو ځائے شو۔

دۀ وویل چه ما پریدئ ځکه چه ما سره ستاسو د نبی خط موجود دے، خلکو ورته وویل چه تا سره د نبی خط څه کوی؟

(تا سره خو ملاؤ شوے نۀ دے نو تا له څنګه خط درکړی، ځکه چه عامو خلکو ته پته نۀ وه) هغۀ دعوه کوله، چه ما سره خط دے، نو نبی ﷺ ته شکایت وشو چه سراقه داسے دعوه کوی چه ما سره خط دے، نو هغه ئے راطلب کړو او د هغۀ سره یو هډوکے وو چه په هغے ئے لیکلی وو چه د سُراقه بن مالك دپاره امان دے،

(دا امن ئے د هجرت په موقعه ورکړے وو، کله چه ددۀ اس په زمکه خښ شو او د رسول الله ﷺ نه ئے امان غوښتے وو او هغۀ ورله امان ورکړے وو ځکه چه عرب ډیر هوښیار وو د آینده دپاره به ئے سوچ کولو، دۀ ته پته لګیدلے وه چه دا نبی به غالبه کیږی)

نو نبی ﷺ وفرمایل : [اَلْيَوْمَ يَوْمُ بِرٍّ وَّوَفَاءٍ]

نن د نیکئ او احسان او وفادارئ ورځ ده۔ بالکل مونږ دۀ ته امان ورکړے نو هغه ئے معاف کړو د دغه خط د وجه نه۔ (اته کاله مخکښے ورسره دا لوظ شوے وو)

ooo

ابوعامر ﷺ د مشرکانو د طرف نه په غشي ويشتلے شو چه غشے د هغهٔ په زنگون کښې ننوتو د هغې د وجه نه شل شو او پريوتو،

ابوموسیٰ اشعري ﷺ وائي چه ما ته ئې وويل چه دا غشے راکاږه، ما چه غشے راخکلو نو ددهٔ د زنگون نه هغه اُوبه وبهيدلے چه په زنگون کښې وې نو ددې په وجه وفات شو او ما ته ئې وويل چه تهٔ لاړ شه او د رسول الله ﷺ نه مطالبه وکړه چه د الله عز وجل نه زما دپاره بخنه وغواړي۔

نو ابو موسی اشعري ﷺ وائي چه زهٔ د رسول الله ﷺ خوا ته راغلم، ما وويل : اے د الله رسوله ! ابوعامر په غشي ويشتلے شو نو هغهٔ په خپله د ځان نه غشے راويستلو نو د هغې په وجه مړ شو نو آيا ددهٔ په مرګ کښې خو به خلل نهٔ وي راغلے (يعني د ځان قاتل خو به نهٔ وي) او دا تپوس ئې ددې وجه نه کولو چه بعض خلکو ددهٔ په باره کښې بد ګمان کړے وو چه دهٔ ځان وژلے دے، او شهادت ئې خراب شويدے، او بعض کسانو ددهٔ د جنازې نه ځان ساتلو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

[اِنَّهٗ لَجَاهِدٌ مُجَاهِدٌ]

دے خو د الله په لاره کښې ډير کوشش کونکے مجاهد دے۔ (او شهيد دے)

ما ورته وويل : چه اے د الله رسوله ! هغه خو د بخنې مطالبه کړيده۔ نو رسول الله ﷺ اودس وکړو او لاسونه ئې پورته کړل او دعاء ئې ورته وکړه :

[اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ اَبِيْ عَامِرٍ وَاجْعَلْهُ فَوْقَ كَثِيْرٍ مِنْ خَلْقِكَ]

اے الله ! عبيدٌ ته چه ابوعامرئې کنيه ده بخنه وکړه او د قيامت په ورځ ئې ستا د ډيرو بندګانو دپاسه کړه۔ ابوموسیٰ اشعري ﷺ وائي ما وويل : يا رسول الله ! ما ته ئې هم وکړه نو هغهٔ ما ته هم وکړه، وے فرمايل :

[اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قَيْسٍ ذَنْبَهٗ وَاَدْخِلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُدْخَلًا كَرِيْمًا]

اے الله عبد الله بن قيس (يعني ابو موسی ﷺ) ته ګناهونه معاف کړه او دے د قيامت په ورځ عزتمن ځائے (جنت) ته داخل کړه۔

[بخاري :٢٨٨٤ومسلم : ٢٤٩٨]

(دے حديث نه معلومه شوه چه رفع اليدين په دعاء کښې ثابت دی)

ابن اسحاقؒ لیکی : د اوطاس په ورځ ابوعامر ؓ لسو (۱۰) مشرکانو سره مقابله وکړه چه هغه ټول ورونه وو نو یو تن پرے حمله وکړه نو عامر هم پرے ورودانګل او هغه ته ئے پدے وخت کښے هم د اسلام دعوت ورکړو او دا به ئے وئیل چه [اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ] اے الله تهٔ ګواه شه ! بیا ئے هغه قتل کړو. بیا پرے بل یو تن حمله وکړه نو دهٔ هم پرے حمله وکړه او اسلام ته ئے دعوت ورکړو او دا ئے وویل :

[اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ عَلَيْهِ]

اے الله ! تهٔ په دهٔ باندے ګواه شه، هغهٔ ئے هم قتل کړو، بیا به یو یو رامخکښے کیدو او حمله به ئے کوله او ابو عامر ؓ به اول دعوت ورکولو بیا به ئے پرے حمله کوله تردے چه نهه کسان ئے قتل کړل او لسم پاتے شو هغهٔ په ابو عامر حمله وکړه نو دهٔ هم پرے حمله وکړه او د اسلام دعوت ئے ورکړو او دا ئے وویل : [اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ عَلَيْهِ]

اے الله ! په دهٔ بندے ګواه شه، نو هغه سړی وویل :

[اَللّٰهُمَّ لَا تَشْهَدْ عَلَيَّ]

اے الله ! په ما باندے مهٔ ګواه کیږه، نو دے وخت کښے ابوعامر ؓ د هغهٔ نه لاس بند کړو،

نو هغه وتښتیدو او روستو ئے اسلام راوړو او ډیر ښائسته مسلمان ترے جوړ شو، بیا نبی ﷺ چه به کله هغهٔ لره ولیدو نو داسے به ئے وئیل :

[هٰذَا شَرِيْدُ اَبِيْ عَامِرٍ]

دا هغه تن دے چه د ابو عامر ؓ نه راتښتیدلے او هغهٔ راشړلے دے.

بیا د دُرید بن صمه بوډا یو ځوی سلمه بن درید راغے او ابوعامر ؓ ئے په غشی باندے په زنګون ویشتو او داسے اشعار ئے وویل :

اِنْ تَسْأَلُوْا عَنِّيْ فَاِنِّيْ سَلِمَهْ	❁	اِبْنُ سَمَادِيْرِ لِمَنْ تَوَسَّمَهْ

اَضْرِبُ بِالسَّيْفِ رُؤُوْسَ الْمُسْلِمَةْ

که تاسو زما په باره کښے پوښتنه کوئ نو زهٔ سلمه یم د سمادیر ځوی یم (سمادیر ئے د مور نوم وو) په توره باندے د مسلمانانو سرونه وهم.

نو پدے کښې ابو عامر ﷛ سخت زخمي شو۔

هر کله چه ابو عامر ﷛ زخمي شو نو د هغهٔ نه جنډه پریوته نو زر ابو موسیٰ اشعري ﷛ راپورته کړه او جنګ ئې شروع کړو او د سلمه بن دُرید پسې ورغلو او هغه ئې قتل کړو او جنګ ئې کولو تردے چه الله تعالیٰ ورته فتح ورکړه او اوطاس والائې څه وتښتول او څه ئې قتل کړل او څه ئې قیدیان کړل۔

(الروض الانف)

بیا ابو موسیٰ ﷛ خپل تره خوا ته راغې او هغهٔ ته ئې وویل چه الله تعالیٰ ستا قاتل مړ کړو۔

ابو موسیٰ اشعري ﷛ وائي: هر کله چه الله تعالیٰ د حنین په ورځ مشرکانو ته شکست ورکړو نو رسول الله ﷺ د هغوی پسې په اسونو باندے طلب ولیږلو او د هغوی مشرئې ابو عامر ﷛ مقرر کړو او زهٔ هم ورسره وم، نو ابن دُرید ابو عامر ﷛ لره قتل کړو نو زهٔ ورپسے ورغلم ما هغه قتل کړو او جنډه مے راواخسته۔

[الطبراني في الاوسط باسناد حسن وانظر فتح الباري۸/۴۲-۴۳]

بیا دغه مخکښې خبره راغله یعني د غشي ویستلو او ددعاء وغیره۔

ددے حدیث نه بعض خلکو غلطه فائده اخستے ده چه کله مړے وشي نو کټونه واچوي او په تعزیه کښې لاسونه پورته کوي او داسے وائي دعاء وکړئ۔

دا طریقه بدعت دے، په تعزیه کښې هر قسم دعاء کولے شي لیکن داسے رواجي دعاء کول چه دعاء به وکړو او لاسونه په مخ راکاږي، دا په اسلام کښې یو نوے کار دے، خلك درے ورځے د مړي کور والا ته جمع کیږي او په دریمه ورځ خلك ډیر ورځي، دا ټولے ګمراهیانے دي چه مسلمان له ترے ځان ساتل پکار دي۔

صحیح طریقه دا ده چه جنازه وکړه او سیده خپل کور ته څه، او که یو ځائے کښې دے د مړي کور والا په خفګان کښې ولیدل نو تعزیه ورته وکړه، که بازار کښې وي او که په دکان کښې وي۔

او ددے ځائے نه دلیل نیول غلط دي، ځکه چه دلته ابو عامر صحابي ﷛ وصیت کړے وو چه رسول الله ﷺ دِے ما تهَ دعاء وکړي، او رسول الله ﷺ ابو موسیٰ ﷛ ته

تعزیه نهٔ کوله چه زهٔ تا ته تعزیه کوم، ددے وجه نه هغهٔ ته ئے د تسلی هیڅ لفظ نهٔ دے استعمال کړے بلکه د رسول الله ﷺ د دعاء نه دواړو فائده واخسته، نو دا د تعزیه صورت نهٔ دے۔

بله واقعه دا راغله :

ابوقتاده ﷺ فرمائی : د حنین په غزا کښے ما یو مشرك ولیدو چه ډیر پهلوان وو، د یو مسلمان پسے ورغے او هغه ئے راڅملولو او په خیټه ورته کیناستو نو ما ولیدو زهٔ ورپسے ورغلم [فَضَرَبْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ عَلٰى حَبْلِ عَاتِقِهِ بِالسَّيْفِ]

نو ما د شا ته نه په اُوګه باندے په توره سره ووهلو نو زغره مے ورله ماته کړه نو هغه مسلمان ئے پریخودو او ما پسے ئے رامنده کړه

[فَضَمَّنِيْ ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيْحَ الْمَوْتِ]

زهٔ ئے داسے کلك ونیولم چه ما د مرګ بوئی د هغے نه مونده کړو، نزدے وه چه زهٔ ئے وژلے وے، لیکن د زخم نه ئے وینه روانه وه، هغے کمزورے کړو، لاسونه ئے سست شول او زهٔ ئے پریخودم او هغه مړ شو، او د هغهٔ سره چه کومه وسله او زغره وه نو یو مسلمان راغے هغه ئے ځان سره ویوړه۔

[فَلَحِقْتُ عُمَرَ فَقَالَ : مَا لِلنَّاسِ ؟ فَقُلْتُ اَمْرُ اللّٰهِ]

نو زهٔ د عمر فاروق ﷺ سره ملاؤ شوم نو هغهٔ ووپل : پدے خلکو څه وشو ؟ چه داسے شکست ئے وخوړو نو ما ووپل : چه د الله کار (او امتحان) وو۔

کله چه معرکه ختمه شوه نو رسول الله ﷺ یو ځائے کښے کیناستو او دا ئے وفرمایل :

[مَنْ قَتَلَ قَتِيْلًا وَلَهٗ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهٗ سَلَبُهٗ]

چا چه څوك وژلے وی او ددهٔ پرے ګواه وی نو مال ئے ددے مجاهد دے،

(دا خبره ئے د مجاهدینو د تیزولو دپاره وکړه، او ډیر کرت په مال باندے تیزی راځی او مال طلب کول بد کار نهٔ دے، بلکه حلال مال بهتر شے دے)

ابوقتاده ﷺ وائی : زهٔ پاڅیدم او ومے وئیل : اے د الله رسوله !

[مَنْ يَّشْهَدُ لِيْ؟]

ما دپاره به څوك ګواه شی؟ بیا کیناستم، بیا پاڅیدم چه ما له به څوك ګواهی

وکړی، رسول الله ﷺ به دغه اعلان بار بار کولو، نو رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل: څنګه کینې او پاڅیږې؟ نو ما وویل: اے د الله رسوله! ما هم یو تن وژلے دے، او د هغهٔ زغرے او مالونه بل چا اخستے دی، نو پدے کښے چه چا اخستی وو، هغه تن راپاڅیدو او دائے وویل چه ابوقتاده ﷺ رشتیا وائی، دغه کافر دهٔ وژلے دے او وسله ئے ما راوړے ده، لیکن

[فَارْضِهِ عَنِّیْ]

ابوقتاده راضی کړه چه وسله ئے زما شی، نو پدے وخت کښے ابوبکر صدیق ﷺ (چه د رسول الله ﷺ وزیر وو) پدے سړی ئے رد وکړو،

(او وزیر له جائز وی چه د بادشاه په مخامخ خبرے وکړی، دا د الله او د رسول نه مخکښے کیدل نهٔ دی، بلکه مشوره ورکول دی، ډیر کرته ځوك پدے مسئلو نهٔ پوهیږی نو د هغوی د ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ د بعض واقعاتو نه تعجب کوی چه دوئ ولے د نبی ﷺ په مخامخ داسے خبرے کوی)

نو هغهٔ وفرمایل:

[لَاهَا اللّٰهِ، اِذًا لَا یَعْمِدُ اِلٰی اَسَدٍ مِنْ اُسُدِ اللّٰهِ، یُقَاتِلُ عَنِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَیُعْطِیْكَ سَلَبَهٗ]

هیڅکله داسے نشی کیدے، قسم په الله، یو تن د الله زمرے به راپاڅیږی، د الله او د رسول د طرف نه به جنګ کوی او ځان به قربانوی او وسله به ئے تا ته درکوی،

بیا خو به یو مجاهد په جهاد کښے ډیر کوشش نهٔ کوی او وائی به چه وسله هسے هم بل ته ملاویږی، څه ضرورت دے چه زهٔ دومره کوشش کوم.

نو رسول الله ﷺ د ابوبکر صدیق ﷺ تصدیق وکړو او وے فرمایل:

[صَدَقَ، فَاَعْطِهٖ]

دے رشتیا وائی، ورشه دهٔ ته هغه وسله ورکړه.

ابوقتاده ﷺ وائی: نو هغه ئے ما ته راکړه نو ما هغه خرڅه کړه

[فَابْتَعْتُ بِهٖ مَخْرَفًا فِیْ بَنِیْ سَلِمَةَ فَاِنَّهٗ لَاَوَّلُ مَالٍ تَاَثَّلْتُهٗ فِی الْاِسْلَامِ]

نو ما په هغے سره په بنو سلمهٔ کښے یو غټ باغ واخستو، دا اولنے مال وو چه ما ته په اسلام کښے ملاؤ شو.

[بخاری: ٣١٤٢ ومسلم: ٤٦٦٧]

د دې نه زیاته **عجیبه واقعه** دا راغله :

د دُرید بن صِمّه قتل

چه کوم کسان بطن نخلې ته تلي وو نو څه صحابه کرام د هغوی پسې لاړل، نو پدې کښې یو کشر صحابي رَبِیْعَه بن رُفَیْع السُّلمي ﷺ وائي (دا د شپاړس یا اولسو کالو په عمر وو) چه زهٔ پلاره روان وم نو یو اُوښ مې ولیدو چه په هغې باندې یوه کجاوه پرته وه او په هغې کښې یوه ډولۍ وه نو زما ګمان شو چه دا یوه زنانه ده، نو اُوښ مې راونیو او دا مې وویل چه دا د مشرکانو یوه زنانه ده زما دپاره به غنیمت شي، (وینځه به شي)

نو مې چه د اُوښ واګې ونیولې نو دننه پکښې د سړي آواز وو، چه پرده مې ترې لرې کړه نو ومې کتل چه یو بوډا شان سړی پکښې ناست دې چه دا درید بن صمه بوډا وو کوم چه تجربه کار مشرك دې او مالك بن عوف ته ئې مشورې ورکولې چه زنانه لرې کړه او دې صُباتو (صابیانو) سره سخت جنګ وکړه، پدې وخت کښې دې هلك دُرید نهٔ پیژندو۔

نو دُرید ورته وویل : [مَا ذَا تُرِیْدُ بِیْ؟] ما باندې څه کوې ؟ هغهٔ ورته وویل :

زهٔ تا وژنم۔ درید ورته وویل : تهٔ څوك ئې ؟ هغهٔ وویل : زهٔ ربیعه بن رفیع سُلمي یم۔

نو دې صحابي توره راپورته کړه او په اُوګه باندې ئې ووهو لیکن هغه دومره مضبوط هډوکی وو چه هیڅ کار ئې پرې ونکړو (د دُرید پدې وخت کښې یو سل شپیته کاله عمر وو– مغازي الواقدي) نو درید ورته وویل :

[بِئْسَ مَا سَلَحَتْكَ اُمُّكَ]

مور درته د جنګ ډیر ناکاره چل خودلې دې۔ د جنګ چل به زهٔ دروښایم، ستا توره کمزورې ده، زما توره د کجاوې د آخر نه راواخله او زما د غوړونو په مابین کښې ځائې ووهه یعني د هډوکو نه پورته او د دماغو نه خکته ځائې۔

[فَاِنِّیْ كَذٰلِكَ كُنْتُ اَضْرِبُ الرِّجَالَ]

ځکه چه ما به سړي په دغه ځایونو باندې وهل۔

(نو هله به ما مړ کړې) بیا لاړ شه او مور ته خبر ورکړه چه ما درید بن صمه وژلې دې۔

[فَرُبَّ وَاللّٰهِ یَوْمٍ مَنَعْتُ فِیْهِ نِسَاءَ كَ]

قسم په الله ډیرے داسے ورځے راغلی دی چه ما په هغے کښے ستا د قوم د زنانو حفاظت کړیدے۔

(داسے د فخر خبرے ئے وکړے، بعض خلك د کفر کړ کوی او د مرګ په وخت هم خپل نوم او شهرت غواړی چه روستو خلکو کښے زما یو نوم پاتے شی)

نو دغه ځوان درید په همغه ځائے په توره وهلو او مردارئے کړو۔

بنو سلیم وائی چه ربیعه وئیلی دی چه هرکله ما درید بن صِمه ووهلو نو هغه بربنډ شو او د هغهٔ د ورنونو او کناتو لاندے طرف داسے نری او هموار شوی وو لکه د کاغذونو په شان، ځکه چه په خپل ټول ژوند کښے ئے ډیر زیات په بربنډه باندے اسونه زغلولی وو، ځکه چه دا د عربو یو مشهور پهلوان وو چه خپل یو دورئے تیر کړیدے۔

هرکله چه ربیعه ﷺ کور ته راغے نو مور ته ئے خبر ورکړو چه ما درید بن صمه قتل کړو نو هغے وژړل او دائے وویل چه دُرید بن صمه یو مشرك سړے وو خو په جاهلیت زمانه کښے زهٔ او زما خویندے او څه زنانه د کور بعض خلکو قیدیان کړی وو نو د درید بن صِمه په لاس مونږ راخلاص شوی یو، نو دهٔ مونږ سره دغه احسان کړے وو۔

نو دهٔ وویل که ما ته پته وے چه تاسو سره ئے داسے احسان کړے نو ما به نهٔ وژلے لیکن زهٔ ددے واقعے نه نهٔ وم خبر۔

لیکن دا الله مرداره ولو، سره د دومره هوښیارتیا او عقلمندئ او تجربے نه اسلام اُوسه پورے نهٔ پیژنی، د محمد رسول الله ﷺ دشمنئ ته راوتے دے، لوی الله نهٔ پیژنی کوم ئے چه په سر ولاړ دے،

(السیرة النبویة لابن کثیر، وسیرت ابن اسحاق واسد الغابة)



ذو الکفین بت ماتیدل
یا
سریه د طفیل بن عمرو دوسی ﷺ ذو الکفین طرف ته
(شوال ۸ هجری)

کله چه رسول الله ﷺ طائف غزا ته روانیدو نو دے وخت کښے ئے طفیل بن عمرو بن دوسی ﷺ راوغوښتو چه ته لاړ شه د ذو الکفین بت مات کړه، چه دا د عمرو بن حُمَمه دوسی بت وو، او د لرګی نه جوړ وو، او هغه ته ئے حکم وکړو چه ته ځان سره د خپل قوم افراد واخله، او کله چه دے دغه بت مات کړو نو بیا به مونږ سره په طائف کښے ملاؤ شوے، او دا وصیت ئے ورته وکړو چه

[اَفْشِ السَّلَامَ، وَابْذُلِ الطَّعَامَ وَاسْتَحْيِ مِنَ اللّٰهِ كَمَا يَسْتَحْيِ الرَّجُلُ ذُو الْهَيْئَةِ مِنْ اَهْلِهٖ، اِذَا اَسَأْتَ فَاَحْسِنْ، اِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذَّاكِرِيْنَ﴾] (هود : ۱۱٤)

سلامونه عام کړه او خلکو باندے طعام خوره وه، او د الله نه داسے حیاء کوه لکه چه یو مرتبے والا سړے د خپل اهل نه حیاء کوی، او کله چه ته څه بدی وکړے نو بیا احسان کوه، ځکه چه نیکیانے بدیانو لره ختموی دا نصیحت دے دپاره د نصیحت اخستو۔

نو طفیل ﷺ ډیر په تیزئ سره خپلے علاقے طرفته روان شو او ذو الکفین بت ئے تار په تار کړو او هغے ته ئے اُور ولګولو،

او داسے شعرونه ئے ورته وئیل :

يَا ذَا الْكَفَّيْنِ لَسْتُ مِنْ عُبَّادِكَا	مِيْلَادُنَا اَكْبَرُ مِنْ مِيْلَادِكَا

اِنِّيْ حَشَوْتُ النَّارَ فِيْ فُؤَادِكَا

اے ذو الکفین ! زهٔ ستا د عبادت کونکو نه نهٔ یم، زمونږ پیدائش ستا د پیدائش نه مخکښے دے، (یعنی تهٔ د عبادت لائق نهٔ ئے ځکه چه تهٔ خو روستو راپیدا شوے ئے).

یقیناً ما ستا په زړهٔ باندې اُور ولګولو (یعنی که څه کولے شے نو لاس دِې راخلاص) بیا ددهٔ سره ددهٔ د قوم نه څلور سوه (٤٠٠) کسان ملګری شول او تول طائف ته راغلل چه دے وخت کښې د رسول الله ﷺ د طائف په محاصره کښې څلور ورځے شوے وے،

او دوئ ځان سره دبّابه (د ټینك په شان یو شے) او منجنیق (ټال) هم راوړل۔
(امتاع، طبقات ابن سعد ۱۵۷/۲ والاستیعاب لابن عبد البر)



غزا د طائف

(شوال ۸ هجری)

دا غزا هم د حنین د غزا یوه حصه ده۔

پدے کښے اکثر مشرکان طائف ته وتښتیدل سره د مالك بن عوف نصری نه او هلته قلعه بند شو، رسول الله ﷺ خپله سره د عامو مجاهدینو نه د دوئ پسے روان شو، او دا د شوال میاشت ده او (۸ هـ) کال د هجرت دے،

رسول الله ﷺ د ځان نه مخکښے خالد بن ولید ته زر (۱۰۰۰) مجاهدین ورکړل چه مخکښے لاړ شی او د قوم حالات معلوم کړی، او خپله هم راروان شو تردے چه په نخلة الیمانیه ورتیر شو بیا په قرن المنازل باندے تردے چه لیّة علاقے ته ورسیدو نو په لیة کښے د مالك بن عوف نصری یوه غټه قلعه وه نو حکم ئے وکړو چه دا ورانه کړئ،

نو بیا ئے د هغه ځائے نه متواتر مزل وکړو تردے چه طائف ته ورسیدل او د هغوی د قلعه ګانو خواته ئے نزدے پړاؤ واچولو او هلته ئے فوجونه ځائے په ځائے کړل او هغوی نه ئے ګیره واچوله۔

محاصره د طائف :

دلته دا خلك تهول قلعه ګانو ته ننوتل۔ (چونکه یهودیان مرعوب قوم وو، نو کله چه هغوی نه رسول الله ﷺ ګیره واچوله نو رعب پرے راغے او زر راکوز شول، او دا عرب قوم ډیر مضبوط او جنګونو سره اموخته خلك وو) دوئ سره د مخکښے نه د یو کال خرچه دننه په قلعه ګانو کښے موجوده وه، ډیر مالداره وو۔

وسلے او غشی هم ورسره ډیر زیات وو او د هغه زمانے چه کوم وسائل وو هغه تهول ورسره وو۔ کله چه رسول الله ﷺ دلته معسکر جوړ کړو نو دا مشرکان ډیر تکړه وو نو

دوئ بـه د قـلـعه ګانو د دیوال سرونو ته راختل او مسلمانان به ئے په غشو ویشتل او په غشـو ویشتلو کښې انتهائی مهارت وو، غشي به ئے ډیر رسا لګیدل، نو ډیر مسلمانان ئے دلته شهیدان کړل، دولس پکښې شهیدان وشو او ډیر زخمیان شو۔

نـو رسول الله ﷺ حکم وکړو چه ددے ځائے نه پورته شئ نو وړاندے لاړو، کوم ځائے چه اُوس مسجد الطائف جوړ شوید ے۔

دلتـه رسـول الله ﷺ دوه خیمے ولګولے او دوه بیبیانے ورسره وے، یوه ام سلمه رضی الله عنها او یوه بله۔

یا دا یوه خیمه د میلمنو دپاره وه او یوه کښې ورسره خپله بی بی وه۔

او په حدیث د مسلم کښې دی چه دا محاصره څلویښت ورځے وه۔

نـو رسـول الله ﷺ د حـنیـن پـه تـولـه غـزا بانـدے تقریباً څه دپاسه دوه میاشتے تیرے کړیدی۔

دلتـه بـه رسـول الله ﷺ د طائف د قـلـعـه ګـانـو مـقابله کوی لیکن دلته یوه واقعه راغله۔

د هیت واقعه:

دلتـه په یوه خیمه کښې نبی ﷺ ناست دے او ام سلمه رضی الله عنها او د هغے ورور عبد الله بن ابی امیه ﷺ هـم نـاسـت دے، نو پدے کښې یو بل ناشنا سړے ناست وو چه د هغهٔ هیت نوم، او دا خنثیٰ مشکل وو۔

(خـنـثیٰ مـشـکـل هـغــه شـخـص دے چـه نـهٔ د زنانو شهوت لری او نـهٔ د سړو، هیڅ خـواهشـات ئے نـهٔ وی چـه دے تـه قرآن کریم غیر اولی الاربة وئیلی دی چه ددے نه هم سـتـر نـهٔ وی، دوئ تـه زنـانه مواضع الزینة ښکاره کولے شی لکه د ماشومانو او د زنانو مثال ئے وی)

نو دے شخص عبد الله بن ابی امیه ته یوه ناشنا خبره وکړه:

[يَا عَبْدَ اللّٰهِ اِنْ فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ غَدًا الطَّائِفَ، فَاِنِّيْ اَدُلُّكَ عَلَى ابْنَةِ غَيْلَانَ]

اے عبـد الله ! کـه الله تـاسو تـه صبا له طائف فتح کړو نو په طائف کښې یو مَلَك دے د هـغـهٔ غیلان الثقفی نوم دے، او د هغهٔ یوه لور ده د هغے بادیه نوم دے، زهٔ به درته هغه

وښایم چه دا درنه څوك ونهٔ نیسی ځکه چه هغه ډیره چاقه ده :

[فَاِنَّهَا تُقْبِلُ بِاَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ]

هغه چه مخامخ راروانه وی، نو په خیټه کښې ئې څلور کندے جوړیږی او د شا ته نه چه ورته ګورے نو اته کندے جوړیږی، دا په عربئ کښې کنایه وی د ډیر چاق والی او مزیدار والی نه۔

نبی ﷺ چه کله دا خبره واوریده نُو ام سلمه رضی الله عنها او نورو ته ئې وفرمایل :

[لَا يَدْخُلَنَّ هٰؤُلَاءِ عَلَيْكُمْ]

دا سړے وباسئ داسے خلك خیمو او کورونو ته مهٔ پریدئ

(ځکه چه دا خو د زنانو خبرے کوی، پدے پوهیږی چه دا زنانه ښائسته او څربه ده او دا بله بدرنګه ده، او پدے کښے دلچسپی اخلی، معلومیږی چه دا خلك په زړهٔ کښے شهوت لزی او د شهوت والا نه خو ستر ضروری دے) نو هغه ئې بهر کړو۔

(دا زمونږ د اسلام سماحت او آسانی هم ده او بل طرفته احتیاط هم دے، آسانی دا ده چه د کمزورو او د نزدے خپلوانو نه ئې ستر نهٔ دے لازم کړے، لکه پلار، ورور، سخر، ورارهٔ، خورئی نه۔ او احتیاط دا دے چه داسے سړے ئې بند کړے چه شهوت والا وی، او د خلکو ذهنونه خرابوی)

په بعض روایاتو کښے دی چه خوله بنت حکیم السُلَمیه چه د عثمان بن مظعون ﷺ بی بی ده، رسول الله ﷺ ته عرض وکړو : که تا ته الله تعالیٰ د طائف فتح درکړه نو ما ته به د بادیه - چه د غیلان ثقفی لور ده - ګانړه راکوے، یا به د فارعه بنت عقیل ګانړه راکوے چه دا زنانه د ثقیف په زنانو کښے ډیرے ګانړے والا وے۔

نو رسول الله ﷺ هغے ته وفرمایل : اے خوله ! اګرکه ما ته د ثقیف د فتح اجازه نهٔ ده راکړے شوے؟ یعنی دا نهٔ فتح کیږی۔

[الروض الانف ٤/٢٥٦]

غَیلَان بن سَلمه ثقفی هم روستو ایمان راوړو او د هغهٔ سره لس ښځے په نکاح کښے وے نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : څلور پکښے غوره کړه او باقی پریده۔ (الروض)

دلته رسول الله ﷺ ملګرو ته حکم وکړو چه په دے قلعه باندے حمله وکړئ نو خالد

بن ولید ﷺ او د هغهٔ ملګری ورغلل او د طائف په قلعه ئے حمله کوله، نو هغوی پرے بیا د غشو باران وکړو نو هیڅ فائده ونشوه، مسلمانان بیرته راواپس شول، ځکه چه قلعه بنده ده۔

بیا ئے څه ترتیب جوړه ولو چه یا خو دا خلك راکوز شی یا مونږ دے قلعه ته په څه چل ورواوړو، نو خالد بن ولید ﷺ وویل چه زهٔ به دا خلك په غیرت کښے راولم۔

نو دے او څه ملګری د قلعه خوا ته ورغلل، او میدان ته ئے راودانګل او دا ئے وویل :

[مَنۡ يُبَارِزُ ؟]

په تاسو کښے څوك غیرتی شته چه میدان ته مقابلے دپاره راوځی؟، نو یو تن هم راونهٔ وتو، بیا ئے اعلان وکړو چه څوك مقابلے ته راوتلے شئ؟ نو هیچا مقابله نهٔ کوله۔

نو د دوئ یو مشر عبدیالیل وویل :

اے خالده که تهٔ یو کاله پورے د مقابلے چغے وهے نو مونږ نهٔ در کوزیږو،

پدے وخت کښے د طائف والو مشر عبدیالیل بن کلال دے، او مالك بن عوف نصری د دوئ سره په دے قلعه کښے نهٔ دے بلکه بله قلعه کښے دے،

او اصل کښے د ثقیف قبیلے مشر عروه بن مسعود ثقفی وو، او دا یو هوښیار سړے وو او په عربو کښے مشهور او مخوریز سړے وو، چه قرآن کریم کښے هم هغه ته اشاره راغلے ده، مشرکانو وئیلی وو چه الله دا قرآن په محمد رسول الله ﷺ نازلوی نو په عروه بن مسعودِ ثقفی باندے ئے ولے نهٔ نازلوی

﴿ لَوۡلَا نُزِّلَ هٰذَا الۡقُرۡاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيۡمٍ ﴾ [الزخرف ۳۱]

(ولے نشی نازلولے دا قرآن په یو لوی سړی د دواړو کلو باندے) چه په مکه کښے ولید بن مغیره مشهور دے او په طائف کښے عروه بن مسعود۔

پدے وخت کښے عروه بن مسعود حنین او طائف ته نهٔ وو حاضر شوے، وجه دا وه چه دے اُردن ته تلے وو او هلته ئے د رسول الله ﷺ د مقابلے دپاره د نوے غتے وسلے چل زده کولو، د دبّاباتو (ټینکونو) چل۔

او ددے واقعے نه لا خبر نهٔ دے چه زما قبیله وهلے شویده او لړه شان پاتے ده او هغه هم ختمیدو والا ده۔

او روستو ددهٔ ډیره عجیبه واقعه راځی۔

نو نبی ﷺ دلته د هغوی د راکوزولو یوه بله لاره اختیاره کړه چه د هغوی د انګورو باغونه او فصلونو وهلو حکم ئے وکړو (چه په طائف کښې دا ډیر دی) دے دپاره چه دوئ پدے سره درد مند شی او مونږ ته راکوز شی او تسلیم شی۔

کله چه دوی د باغونو او فصلونو په وهلو شروع وکړه نو هغوئ باندے سخت درد راغے، (لکه یو دهقان نه ددے په باره کښې تپوس وکړه) نو هغوی جواب راولیږلو چه اے محمد! تهٔ دا فصلونه ولے وهے که تهٔ په مونږ غالب شوے خو ستا به شی او که په مونږ غالب نشوے [فَلِلّٰهِ وَلِلرَّحِمِ] نو دا د الله دپاره پریده او خپلولئ ته وګوره۔

نو رسول الله ﷺ ډیر شفقت والا انسان وو، هغه ئے پریخودل۔

رسول الله ﷺ به د الله د نوم او د خپلولئ ډیر سخت لحاظ کولو، او چه چا به د سوال شان صورت اختیاره ولو نو په زړهٔ کښې به ئے ډیر سخت شفقت راتللو۔

دلته رسول الله ﷺ یو تن وروليږلو چه د هغوی نه ئے د دوه درے خبرو مطالبه کوله، زید بن زمعه صحابی ؓ ئے ولیږلو چه یا خو ایمان راوړئ همداسے به مو پریدو، یا جزیه قبوله کړئ لکه څنګه چه دا د جهاد اصول دی، او که دا نهٔ وی نو دریمه درجه کښې جنګ دے نو دغه دوه کارونو ته تیار شئ نو مونږ به مو پریدو او درنه ځو به۔

زید بن زمعه ؓ چه کله د هغوی قلعه ته نزدے شو نو هغوی ته ئے وویل چه آیا زما دپاره امان شته چه د نبی ﷺ یوه خبره تاسو ته در ورسوم، هغوی وویل چه آؤ امان دے، خو چه دے قلعه ته ورنزدے شو نو په غشی باندے ئے اُوویشتو او شهید ئے کړو۔

(استازی قتلول ډیر لوی جرم دے، او دا په ټولو قوانینو او جنګونو کښې او د ټولو عقلاؤ په نیز ددے وژل جائز نهٔ دی، لیکن دے خلکو کښې ډیره بی حیائی وه) او دا بُدیل بن ابی الصلت قتل کړے وو۔

نو الله تعالیٰ د هغهٔ نه نزدے بدله واخسته، پدے طریقه چه هغه د خپلے قلعه نه راکوز شو او په اس باندے سور شو، د مسلمانانو حال ئے معلومولو چه دوئ په کوم حال کښې دی، ګمان ئے دا وو چه ما سره خو اس دے که دوی رامنډه کړی نو زهٔ به په اس راتښتیدلے شم، نو دے چه راکوز شو نو د زید بن زمعه ؓ ورور یعقوب بن زمعه ؓ د

مسلمانانو د معسکر نه جدا شوی وو او د قلعه خوا ته ورغلی وو، نو مشرك چه کله راووتو نو یعقوب ﷺ پریے د شا ته نه حمله وکړه نو دیے خو شا ته نشو تللے نو مخکښے په مسلمانانو ورغے نو هغوی راونیولو او اس ئے تری واخستو او دیے ئے وتړلو نو یعقوب ﷺ راغے ویے وئیل چه یارسول الله دا زما د ورور قاتل دیے، دا ما لره راکړئ چه زۀ ئے قصاص کوم، نو هغۀ ته ئے ورکړو نو هغه په څټ باندیے ووهلو او مردار ئے کړو۔

نو الله ددۀ نه د استازی د وژلو په وجه نزدیے بدله واخسته۔

بیا د احادیثو په کتابونو کښے راځی چه نبی ﷺ په دوئ باندیے غټه اسلحه هم استعمال کړه چه هغے ته منجنیق وائی، تالونه او په هغے کښے غټے غټے کمرے او کټے کیخودل او د هغوی دیوالونه پریے ویشتل، لیکن کار ونشو۔

الله د فتح اراده نۀ وه کړه ۔

نو دوئ بله وسله تیاره کړه چه هغے ته دبّابه وائی چه دا د هغه زمانے د ټینك مثال وو، شکل ئے دا وو چه د لرگی یوه پوړئ به ئے جوړه کړه او مخے ته به ئے په هغے باندیے څرمنے ولګولے ددیے دپاره چه د خلکو غشی راځی په څرمنه لګیږی او لاندیے کسان به تری بچ وی، او دا به څه کسانو لسو (۱۰) یا شلو (۲۰) د شا ته نه نیولے وه او روستو به تری نور کسان روان وو او قلعه ته به نزدیے کیدل، او دا ټینك به دومره اُوچت وو چه ددیے په ذریعه به قلعه ته آوړیدلے شول،

کله چه دوی داسیے شے تیار کړو او سلو (۱۰۰) کسانو هغه بار کړو او څه کسان تریے شا ته روان دی، او څه پکښے لاندیے دی، او دیے قلعه ته ځان نزدیے کوی نو هغه مشرکانو د دوئ د مقابلے دپاره دوه کارونه اختیار کړل،

یو خو دا چه پدیے دبابه باندیے غشے نکوی نو هغوی د بره نه لوی لوی کمرے پریے راګوزار کړیے، په هغوی باندیے ئے ویشتل،

او دویم دا چه میخونه او وسپنه ئے په اُور باندیے ګرم کړل او هغے ئے پریے راګوزار کړل چه ډیر مسلمانان د هغے په وجه وسوزیدل، او ددیے کمرو د وجه نه هغه ټینك ئے ورله مات کړو، او بیا ئے په غشو ویشتل چه دلته ئے نور ډیر مسلمانان شهیدان او زخمیان کړل، بیا هم کار ونشو ځکه چه الله تعالیٰ د فتح اراده نۀ ده کړیے۔

دوئ بیا راواپس شول، دلته مسلمانان هم په انتظار کښے ناست دی، او مشرکان هم

دغهٔ شان قلعه کښې ایسار دی،

رسول الله ﷺ دے کښې یو خوب ولیدو چه ما ته یو کاسه راوړے شوه چه هغه د کُوچو (مکهن) نه ډکه ده نو پدے کښې یو چرګ راشی او په هغے کښې ټونګه ووهی نو ټول کُچ واړهٔ وی او کاسه ضائع شی۔

دا خوب ئے سهار کښې ابوبکر صدیق ﷺ ته بیان کړو (ځکه چه یو خو دا ډیر نیك ملګرے وو او خوبونه به نیك ملګرو ته بیانولے شی، دویم ابوبکر صدیق ﷺ د رسول الله ﷺ نه روستو د خوبو په معنیٰ ډیر ښه پو هیدو، او په تابعینو کښې محمد بن سیرینؒ ښه پو هیدو،

حافظ ابن قیمؒ لیکی: د خوبونو په تعبیر هغه څوك ښه پو هیږی چه په قرآن او حدیث ډیر عبور او مهارت لری او بل ډیر رشتینی وی، دروغجن نهٔ وی)

نو ابوبکر صدیق ﷺ ددے خوب تعبیر داسے ورکړو چه زما ګمان دا دے چه الله تعالیٰ په تا باندے طائف نهٔ فتح کوی، نبی کریم ﷺ وفرمایل: زما هم دغه ګمان دے، او د قرآن په بعض آیتونو کښې دے ته اشاره ده۔

﴿ وَأُخرٰی لَم تَقدِرُوا عَلَیهَا قَد اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا﴾ [الفتح: ۲۱]۔

چه نورے علاقے ئے تاسو ته درکړے چه تاسو په هغے قادر نهٔ وئ۔

نو هرکله چه دا نهٔ فتح کیږی نو رسول الله ﷺ ملګرو ته وویل چه واپس کیږو، نو ابوبکر صدیق ﷺ لاړو ملګرو ته ئے اعلان کولو چه واپس کیږو،

عمر فاروق ﷺ په قلعه کښې دننه د یو کافر ابو مِحجَن سره د بهر نه د غصے خبرے کوی چه مونږ به تاسو ته بهر تر یو کال پورے ناست یو، او رانه خلاصیدے نشئ، پدے خبرو اترو کښې ورپسے ابوبکر صدیق ﷺ ورغلو چه رسول الله ﷺ فرمائی:

[اِنَّ اللّٰهَ لَم یَأذَن لِی فِی فَتحِ الطَّائِفِ الآنَ]۔

الله تعالیٰ ما ته د طائف د فتح اُوس اجازه نهٔ ده راکړے، (دا نهٔ فتح کیږی)

نو عمر ﷺ وویل: دا د نبی ﷺ خبره ده؟

هغهٔ وویل: آؤ، نو وے فرمایل: بیا خو د واپسئ اعلان کول پکار دی،

(مرویات غزوة حنین والطائف ۱/۳۱۷)

نو د رحیل (تللو) اعلان وشو۔ نو پدے کښې ډیر ځوانان په واپسئ باندے ډیر خفه

شو او دا ئے وویل چه یا رسول الله ﷺ فتح لا نۀ ده شوے او دا ظالمان به مونږه همداسے پریدو، (ځوانانو کښے جذبات زیات وی او سوچ ئے کم وی)

نبی ﷺ دلته یو سړی سره مشوره هم کړے وه، د نوفل بن معاویه الدِّیلیُ سره ئے مشوره وکړه چه دے خلکو سره څه وکړو؟ نو هغۀ وویل : یا رسول الله ! ددے خلکو مثال د یو ګیدړ دے چه سوړی ته ننوزی که تۀ ورته ولاړ ئے هغه راوځی نۀ، او که تۀ ترے لاړ شے نو تا له ضرر نشی درکولے۔

نو نبی ﷺ دا مشوره هم واخسته او خوب ئے هم لیدلے وو نو اعلان د رحیل وشو چه ځئ، مګر دلته ځوانانو مجاهدینو د مشورے په طور وویل چه مونږ د فتح نه بغیر نۀ ځو نو رسول الله ﷺ وفرمایل : چه ستاسو خوښه ده، بس مۀ ځئ، نو صبا له ئے په جنګ باندے ورواچول چه په قلعه باندے ورځئ، نو د کافرانو د طرفنه پرے د غشو داسے باران وشو چه هریو مسلمان زخمی واپس شو، (کوم کسان چه پرے ورغلی وو) کله چه دوئ راواپس شول نو هیڅ فائده ونشوه،

نو پدے کښے رسول الله ﷺ بیا اعلان وکړو چه رحیل (تګ) پکار دے، نو ټول غلی شول، نو رسول الله ﷺ وخاندل چه ما خو درته پرون وئیلی وو چه ځو او دا نۀ فتح کیږی، خو تاسو دے ته نۀ تیاریږئ خو اُوس مجبورًا تیار شوئ۔

په واپسئ کښے ورته رسول الله ﷺ دعا وخودله چه داسے وایئ :

[آیِبُوْنَ تَائِبُوْنَ، عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ]

(مونږ واپس کیدونکی یو، او الله ته توبه ویستونکی یو، د خپل رب عبادت او د هغۀ حمدونه ویونکی یو)

او د هغه ځائے نه راواپس شول او طائف ئے په ځائے پریخودو، او ددے په نۀ فتح کیدو کښے د رب العالمین ډیر حکمتونه وو۔

کله چه صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین د طائف نه راروانیدل نو دے وخت کښے ئے رسول الله ﷺ ته یو درخواست وکړو چه یا رسول الله ! ثقیف قبیلے مونږ ته ډیر تکلیف راکړو، ډیر مسلمانان ئے شهیدان کړل او د دوئ د لاس نه په مونږ کښے زخمونه دی، نو دوئ ته ښیرے وکړه،

(څکه چه کله خبره سخته شی نو بیا کافرو او ظالمانو ته بد دعائی او ښیرے پکار

وی) نو رسول الله ﷺ د امت دپاره رحمت وو نو هغهٔ به بغیر د ضرورت نه ښیرے نهٔ کولے، نو رسول الله ﷺ دعاء وکړه، وے فرمایل :

[اَللّٰهُمَّ اهْدِ ثَقِیْفًا وَائْتِ بِهِمْ]

اے الله ! ثقیف قبیلے ته هدایت وکړه او دوئ ټول مونږ ته راوله۔

[الترمذی : ۳۹۴۲، واحمد : ۱۴۷۴۳، اسناده قوی علی شرط مسلم- شعیب]

نو د رسول الله ﷺ دا دعاء الله تعالیٰ ضائع نهٔ کړه نو لږ زمانه بعد ددے خلکو نه اکثرو ایمان راوړو کوم چه ډیر سخت ضدی نهٔ وو، او کوم چه ضدیان وو هغه الله هلاك کړل، لکه د دوئ قصه راځی۔

❁ د حنین په غزا کښے څلور کسان مسلمانان شهیدان شو او زیات پکښے زخمیان شو، او د هوازن قبیلے مشرکان دوه اویا (۷۲) په میدان کښے، او درے سوه (۳۰۰) کسان په وخت د تیښته او شکست خوړلو کښے ووژلے شو۔

او بیا په محاصره د طائف کښے دولس (۱۲) مسلمانان شهیدان شول او درے مشرکان قتل شول۔ (اقامة الحجة علی العالمین ۴۳/۱)

❁ د رسول الله ﷺ یو آواز کونکی آواز وکړو چه کوم غلام د قلعے نه راکوز شو او زمونږ خوا ته راغلو نو هغهٔ به آزاد وی۔ پدے اعلان باندے (۲۳) غلامان راکوز شو، چه په هغوی کښے یو ابوبکره نُفَیع بن الحارث ثقفی ﷺ هم وو،

دے د قلعے په دیوال باندے وختلو او په یو څرخه باندے راکوز شو د کوم په ذریعه چه د ارټ نه اُوبه راویستلے کیږی، د هغے پورے ونختو او خکته راکوز شو پدے وجه رسول الله ﷺ ورله د ابوبکره کنیه کیخوده۔ قلعه والو ته د غلامانو دا راکوز یوه لویه ضربه وه۔

د حنین غنیمتونه تقسیمول :

نو پدے کښے رسول الله ﷺ جعرانے علاقے ته راغے کوم ځائے چه غنیمتونه تیار پراته دی، دا غنیمتونه : ګډے بزے، اُوښان، زنانه او ماشومان او سرهٔ او سپین زر دی،

رسول الله ﷺ دلته غنیمتونه سمدست تقسیم نکړل بلکه لس ورځې انتظار وکړو پدې نیت چه دې کسانو ته به الله تعالیٰ په زړهٔ کښې ایمان واچوی او ایمان به راوړی او رابه شی مونږ نه به مطالبه وکړی، مونږ به دا هرڅه واپس ورکړو۔

(ځکه چه زمونږ د دوئ اسلام پکار دے، مالونو او زنانو ته ئې په طمع نهٔ یو) نو د الله د رضا دپاره ئې دوئ ته لس ورځې انتظار وکړو او دا د دوئ سره لوی احسان وو۔

دلته رسول الله ﷺ په جعرانه کښې وو چه یوه شپه ئې اراده وکړه چه بیت الله ته لاړ شی او عمره وکړی نو د شپې د شپې روان شو او عمره ئې وکړه او بیرته د شپې راغې نو ددې وجه نه ډیرو خلکو گمان وکړو چه رسول الله ﷺ د شپې نه دلته وو او سهار کښې هم وو نو عمره ئې نهٔ ده کړې، نو ډیرو صحابه کرامو به ددې نه انکار کولو، ځکه چه هغوی نهٔ وو لیدلې،

او جعرانې نه عمره کول مستقل سنت عمل نهٔ دے، بلکه دا اتفاقی طور سره شویده، ددې وجه نه دا میقات هم نهٔ دے گرزول شوے۔

لس ورځې بعد رسول الله ﷺ اعلان وکړو چه اُوس به غنیمتونه تقسیمیږی ځکه چه دا خلك رانغلل، رسول الله ﷺ د غنیمت د تقسیم نه مخکښې ددې غنائمو نه خُمس (پنځمه حصه) بیله راواخسته،

او دا ئې مُؤَلَّفَةُ الْقُلُوب له ورکوله او ددې غنیمتونو نه ئې هم ډیره حصه مؤلفة القلوب ته ورکوله۔ او دا نبی ﷺ له جائز وه۔

(مؤلفة القلوب : هغه خلك دی چه نوے ایمان ئې راوړے، لا ایمان ئې زړهٔ ته دننه نهٔ دے ننوتے، خو صرف کلمه ئې وئیلې ده، دویم هغه مشرکان چه لا په شرك باندې باقی دی خو امید شته چه ایمان راوړی، ځکه چه نرم خلك وی)

نبی ﷺ ډیر ناشنا تقسیم وکړو چه پدې کښې د رسول الله ﷺ ډیر ناشنا هوښیارتیا او بصیرت ښکاره شوے وو۔

د لسو ورځو نه بعد ثقیف قبیلې خپل مابین کښې مشوره وکړه چه زمونږ نه مالونه او گډې بزې او ښځې ماشومان لاړل، (د سړی په کور کښې ښځه او بچی نهٔ وی، او بل چا ترې نیولی وی او مالونه هم ترې ویسی نو دا ډیر سخت حالت دے، ډیره لویه

پریشانی ده، که دغه خلکو کښې د غیرت ماده نۀ وي نو وختی به دوئ راغلي وي، خو غیرت پکښې ډیر زیات وو نو زر نۀ راتلل) نو بیائې مشوره وکړه چه راځئ یو وفد به ولیږو او ددې سړی نه به خپل مالونه او اهل واپس واخلو۔

لیکن دلته رسول الله ﷺ ته وویل شو چه خلك د غنیمت دې مالونو ته محتاج دی، او نوی مسلمانان په انتظار کښې دی چه دا به کله تقسیمیږی، نو دا ډې تقسیم شي نو رسول الله ﷺ هغه مالونه د ثقیف قبیلې د وفد د راتګ نه مخکښې تقسیم کړل۔

د حنین د غنیمتونو خمس (پنځمه حصه) اته زره (۸۰۰۰) ګډې بزې، څلور زره اته سوه (۴۸۰۰) اُوښان، او اته زره (۸۰۰۰) د سپینو زرو اُوقیه، او یو زر دوه سوه (۱۲۰۰) ښځې او ماشومان او قیدیان وو۔

[سعید حوی : الرسول ﷺ ص:۱۱/۲۵]

او ټول قیدیان شپږ زره (۶۰۰۰) وو، او اوښان څلیریشت زره (۲۴۰۰۰)، او ګډې بزې د څلویښتو زرونو (۴۰۰۰۰) نه زیاتې وې او څلور زره (۴۰۰۰) اُوقیه سپین زر وو۔

(الرحیق المختوم)

د تقسیم طریقه دا وه چه اول کښې ئې مؤلفة القلوب ته ورکړه وکړه (یعنی هغه خلکو ته چه زړونه ئې اسلام ته مائله وو، خو د اسلام خوند ئې لا نۀ وو څکلې) نو دوئ ته ئې اول مالونه ورکړل دې دپاره چه اسلام د دوئ په زړونو کښې مضبوط شي، او کومو خلکو چه اسلام نۀ دې راوړې لیکن اسلام ورته بد نۀ ښکاره کیږی نو هغوی له ئې هم مالونه ورکړل دې دپاره چه په اسلام کښې داخل شي، او دا د رسول الله ﷺ ډیر حکمت وو، ځکه چه مال یو محبوب شے دے، د انسان زړۀ مائله کوی،

او د ډیرو انسانانو طریقه دا ده چه هغه حق ته نۀ راځي مګر په مال سره، بیا چه حق وپیژني نو مال ورته هیڅ شے نۀ ښکاره کیږی لکه څنګه چه دغه مسلمانان ډیر لوی اولیاء د الله تعالیٰ جوړ شو۔

علماء ددې مثال داسې ورکوی چه ګډې بزې اول شپول ته نۀ راداخلیږی ترڅو چه تا هغوي ته ګیاه نۀ وی نیولې۔ نو دغه شان به بعض نوی کسانو ته مال مخې ته

شي دے دپاره چه هغوی دین ته راشي او چه کله ئے د اسلام خوند وڅکلو نو د دنیا مال به ورته د دین په مقابله کښې سپك ښکاره کیږي۔

اول ئے شروع په ابوسفیان وکړه نو هغهٔ ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل، او د سیرت کتابونه لیکي چه څلویښت (۴۰) اوقیه سرهٔ زرئے ورکړل، او بعض روایاتو کښې دي چه سل (۱۰۰) اوقیه ئے ورکړل۔

او بعضو کښې دي چه څلویښتو نه تر سلو پورے ئے ورله ورکړل، او یو اوقیه څلویښت درهمه وي او دوه سوه درهمه د زکاة نصاب دے۔ یعني دوه سوه درهمه د (۵۔۵۲) دوه پنځوس نیمو تولو چاندئ سره برابر دي۔ نو د څلویښتو درهمو اندازه څلور سوه شل (۴۲۰) توله چاندي جوړیږي۔

کله چه هغهٔ ته ئے دا ورکړل نو هغه پوهه شو چه رسول الله ﷺ بے حده سخي او کریم دے، نو هغهٔ وویل: [يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِبْنِيْ يَزِيْدُ]

اے د الله رسوله! زما یزید ځوی ته هم ورکړه۔

(یزید د ابوسفیان ځوی وو او صحابی دے، او بل یزید د معاویه رضی الله عنه ځوي دے، هغه تابعي دے)

نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته هم دغه اندازه ورکړل۔

نو بیا ئے وویل: [اِبْنِيْ مُعَاوِيَةُ] زما معاویه ځوی ته هم ورکړه نو هغهٔ ته ئے هم اُوښان او سره زر ورکړل۔

نو ابوسفیان وویل:

[اِنَّكَ لَكَرِيْمٌ، فِدَاكَ اَبِيْ وَاُمِّيْ! وَاللّٰهِ لَقَدْ حَارَبْتُكَ فَنِعْمَ الْمُحَارِبُ اَنْتَ! ثُمَّ سَالَمْتُكَ فَنِعْمَ الْمُسَالِمُ اَنْتَ] [معجم الصحابة رقم: ۱۲۹۱]

اے د الله رسوله! تهٔ خو خامخا ډیر عزتمن انسان ئے، زما مور او پلار دے ستا نه قربان شي، قسم په الله ما تا سره جنګونه وکړل نو تهٔ ډیر ښه جنګ کونکے وے بیا ما تا سره صلحه وکړه نو تهٔ ډیر ښه صلحه پالونکے وے چه هیڅ خیانت دے نهٔ دے کړے۔

(سیرت کتابونه لیکي چه کله رسول الله ﷺ د حنین غنیمتونه مخے ته اچولي وو نو دغه وخت کښې ابوسفیان راغے او دا ئے وویل:

[يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! اَصْبَحْتَ اَكْثَرَ قُرَيْشٍ مَالًا]

اے د الله رسوله ! تهٔ خو د ټولو قریشو نه زیات مالداره شوے۔

(امتاع الاسماع، الواقدی)

او دا مؤلفة القلوب د قوم مشران او د عربو اشراف وو نو رسول الله ﷺ د دوئ او د دوئ د قوم زړونه دین ته مائل کول۔ (سبل الهدی)

نو پدے کښے صفوان بن امیه ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل، (چه دا لا تر اُوسه مشرك دے، او رسول الله ﷺ ددهٔ نه قرض کښے زغرے راخستے وے) بیا ئے سل (۱۰۰) نور ورکړل او بیا ئے سل (۱۰۰) نور ورکړل (درے سوه اُوښان)

(صحیح مسلم)

ځکه چه دا اسلام ته ډیر مائل نهٔ وو او پلارئے هم یو خبیث سړے تیر شوے وو، نو رسول الله ﷺ پدے مال سره دے اسلام ته مائل کولو۔

حدیث د مسلم (۶۱۶۲) کښے دی: صفوان وائی:

[مَازَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُعْطِيْنِيْ مِنْ غَنَائِمِ حُنَيْنٍ وَهُوَ اَبْغَضُ النَّاسِ اِلَيَّ حَتّٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ شَيْئًا هُوَ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْهُ]

رسول الله ﷺ ما ته د حنین غنیمتونو نه مالونه راکول راکول حال دا چه هغه ما ته د ټولو خلقو نه زیات مبغوض وو تردے چه هغه ما ته د ټولو خلکو نه زیات محبوب شو۔

نو ایمان ئے راوړو او ډیر رشتینی صحابی ترے جوړ شو او د رسول الله ﷺ ډیر احادیث ئے اُمت ته نقل کړیدی۔

محمد بن عمر الواقدیؒ لیکلی دی چه صفوان ﷛ د رسول الله ﷺ سره ګرزیدو چه غنیمتونه ئے کتل نو دے وخت کښے په یو کنډوو باندے ورتیر شو چه هغه د اُوښانو او ګډو بزو او د هغوی د شپونکیانو نه ډك وو، نو صفوان د هغے نه تعجب وکړو او هغے ته ئے کتل نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

[أَعْجَبَكَ هٰذَا الشِّعْبُ يَا اَبَا وَهْبٍ، قَالَ نَعَمْ]

آیا تهٔ دے کنډوو په تعجب کښے واچولے اے ابو وهب! هغهٔ وویل: آؤ۔

رسول الله ﷺ وفرمایل: [هُوَ لَكَ بِمَا فِيْهِ]

دا ټول ستا شو سره د هغه څه نه چه پدے کښے دی۔

نو صفوان ووئیل : [اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ! مَا طَابَتْ بِهٰذَا نَفْسُ اَحَدٍ قَطُّ اِلَّا نَبِیٌّ]

زۀ ګواهی کوم چه تۀ د الله رسول ئے، ځکه چه داسے کار د نبی نه سوئ د هیچا زړۀ نۀ برداشت کوی۔

حکیم بن حزام ﷺ چه پدے وخت کښے نوے مسلمان دے، او مالداره صحابی دے، نو دۀ ته ئے هم سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل، بیائے ترے سوال وکړو چه نور راکړه نو سل (۱۰۰) ئے نور ورکړل، بیائے دریم کرت ترے سوال وکړو نو بیائے ورکړل۔

بیا رسول الله ﷺ هغۀ ته وفرمایل :

[یَا حَکِیْمَ بْنَ حِزَامٍ ! اِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَمَنْ اَخَذَهٗ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُوْرِكَ لَهٗ فِیْهِ، وَمَنْ اَخَذَهٗ بِاِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ یُبَارَكْ لَهٗ فِیْهِ، وَكَانَ كَالَّذِیْ یَأْكُلُ وَلَا یَشْبَعُ، وَالْیَدُ الْعُلْیَا خَیْرٌ مِنَ الْیَدِ السُّفْلٰی، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُوْلُ]

اے حکیمه ! دا مال په سترګو شین او تازه لګی او انسان ته خوند ورکوی، نو چا چه دا د نفس په سخاوت سره واخستو نو هغۀ له به پکښے برکت واچولے شی او چا چه دے ته خپل نفس راپورته کړو او په حرص سره ئے واخستو نو دۀ له به پکښے برکت وانۀ چولے شی، او دا به د هغه شخص په شان وی چه خوراك کوی او نۀ مړیږی، او پورته لاس (ورکونکے لاس) غوره دے د لاندے لاس نه، او خرچه چه کوے نو اول ئے په خپل اهل وعیال کوه) [بخاری : ۱٤۷۲]

او علامه واقدیؒ د ابن ابی الزنادؒ نه نقل کړی چه ددے نه روستو حکیم سل (۱۰۰) اوښان واخستل او باقی ئے پریخودل د ډیر اُوچتو اخلاقو د وجه نه،

بیا حکیم ووئیل :

[وَالَّذِیْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا اَرْزَاُ بَعْدَكَ اَحَدًا شَیْئًا اَبَدًا]

قسم په هغه ذات چه تۀ ئے په حق سره رالیږلے ئے زۀ به ستا نه روستو د هیچا نه څه شے نۀ کموم۔ (یعنی سوال به نۀ کوم)

او حکیم پدے خبره باندے تر مرګه کلك پاتے شو۔ بیا به حکیم روستو زمانه کښے تر مرګه پورے د هیچا نه څه نۀ غوښتل تردے چه عمر فاروق ﷺ به ورته د بیت المال

برخه ورکوله هغهٔ به ئے هم نهٔ اخسته نو هغهٔ ملګروته وویل چه تاسو ګواه شئ چه حکیم ته زهٔ د هغهٔ برخه مال د بیت المال نه ورکوم لیکن هغهٔ ئے نهٔ اخلی۔

[بخاری، ومرویات غزوة حنین ص ۳۹۹]

او حُوَیطِب بن عبد العزیٰ القرشی العامری ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل۔

او عُیینه بن حِصن فزاری ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل،

او د بنو تمیمو سردار اقرع بن حابس ﷺ ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل۔

او حارث بن الحارث بن کلدة ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل، او حارث بن هشام ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل، او سهیل بن عمرو ﷺ ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل، او علاء بن الجاریه الثقفی ته ئے سل (۱۰۰) اُوښان ورکړل،

او علقمه بن عُلاثه عامری ته ئے (۱۰۰) اُوښان ورکړل۔

او داسے نورو کسانو د قریشو وغیره ته ئے د سلو نه کم ورکړل،

لکه مَخرَمه بن نوفل الزهری ته او عُمیر بن وهب الجُمَحی ته او هشام بن عمرو ته ئے د سلو (۱۰۰) نه کم ورکړل، او سعید بن یربوع ته ئے پنځوس (۵۰) اُوښان ورکړل۔

او عدی بن قیس السهمی ته ئے پنځوس (۵۰) ورکړل۔

او د بنو سُلیمو مشهور شاعر عباس بن مِرداس ته ئے پنځوس (۵۰) اُوښان ورکړل نو هغه خفه شو او شعرونه ئے وویل :

كَانَتْ نِهَابًا تَلَافَيْتُهَا	○	بِكَرِّيْ عَلَى الْمُهْرِ فِي الْأَجْرَعِ
وَإِيْقَاظِيَ الْقَوْمَ اَنْ يَّرْقُدُوْا	○	اِذَا هَجَعَ النَّاسُ لَمْ اَهْجَعِ
فَاَصْبَحَ نَهْبِيْ وَنَهْبُ الْعَبِيْدِ	○	بَيْنَ عُيَيْنَةَ وَالْأَقْرَعِ
وَمَا كَانَ حِصْنٌ وَلَا حَابِسٌ	○	يَفُوْقَانِ شَيْخِيْ فِي الْمَجْمَعِ
وَمَا كُنْتُ دُوْنَ امْرِئٍ مِنْهُمَا	○	وَمَنْ تَضَعِ الْيَوْمَ لَا يُرْفَعِ

دا لوټ شوی مالونه ما په خپل اُوښ سره (د نورو اوښانو په ملګرتیا کښے) په کلکه شړلنه زمکه رانیولی دی۔

او خلك ما رابیدار کړیدی، او چه کله خلك اُوده شوی نو زهٔ نهٔ یم اُودهٔ شوې.
مګر بیا هم زما برخه د عُیینه بن حصن او اقرع بن حابس نه کمه شوه، حال دا چه د دوئ پلاران زما د پلار نه په مجمع کښې پورته نهٔ وو. او زهٔ هم د دوی دواړو نه خکته سړې نهٔ یم، او نن ورځ چه تهٔ چا لره خکته کړې نو هغه نهٔ پورته کیږی.

رسول الله ﷺ وفرمایل : [اِقْطَعُوْا عَنِّیْ لِسَانَهٗ] ما نه ددهٔ ژبه واړوئ ورشئ دهٔ له ئے هم ورکړئ نو دهٔ ته ئے هم سل (۱۰۰) اُوښان پوره کړل. (امتاع الاسماع ۲۹/۲)
دا د غنیمت د تقسیم نه مخکښې ئے دوی له یو زیاتی شے ورکړو، عامو قبائلو د عربو ته ئے دا مالونه ورکړل کوم چه پدې موقعه باندې حاضر وو.
تردې چه د یوې علاقې نه یو اعرابی راغې چه هغه خلکو لا ایمان نهٔ وو راوړې، خبر شوی وو چه نبی ﷺ مالونه تقسیموی، کیدې شی چه مونږ ته هم پکښې څه ملاؤ شی. نو هغهٔ سوال وکړو چه یارسول الله ما له هم پکښې څه راکړئ!
رسول الله ﷺ وفرمایل : چه په دغه کنده کښې چه کومې ګډې بزې دی، دا ټولې ستا شوې، هغهٔ په ډیر تعجب کښې ووېل :
[یَا مُحَمَّدُ اَتَسْتَهْزِءُ بِیْ؟]
اې محمد تهٔ ما پورې توقې کوې؟ (هغهٔ ته دا خبره ډیره ناشنا ښکاره کیده چه دومره ډیرې ګډې بزې چه کنده پرې ډکه ده، یو تن ته ورکړې شی، کوم بادشاه ئے په داسې صدقه نهٔ وو لیدلې)
نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : توقې نهٔ کوم، دا واخله، نو هغهٔ ګډې بزې روانې کړې، شا ته شاته ئے کتل چه اُوس به ئے رانه څوك واخلی آواز به وکړی چه دا واپس کړه خو چه کله ئے یقین راغې نو تعجب ئے وکړو او لاړو خپل قوم ته ئے دعوت ورکړو چه
[یَا قَوْمِ اَسْلِمُوْا فَاِنَّ مُحَمَّدًا یُعْطِیْ عَطَاءً لَا یَخْشَی الْفَاقَةَ]
[مسلم : ٦١٦٠]
اې قومه! اسلام کښې داخل شئ ځکه چه محمد (ﷺ) داسې مالونه ورکوی چه د فقر او فاقې نه بیخی یریږی نهٔ.

انس بن مالك ﷺ ددے قصے نه روستو فرمائی : یو سړے به نبی ﷺ ته راتللو چه صرف د دنیا د حاصلولو اراده به ئے وه

[فَمَا يُمْسِيْ حَتّٰى يَكُوْنَ دِيْنُهٗ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا]

نو لا بیگاه کړے به ئے نۀ وو چه هغۀ ته به د هغۀ دین د دنیا او مافیها نه ډیر محبوب شوے وو۔ [مسند ابی یعلی ۳۳۰۲ باسناد صحیح]

(ددے نه دا فائده راووته چه یو تن ته مال هم ملاؤ شو او حق ته هم راغے نو پدے کښے هیڅ عیب نشته، البته کۀ څوك د پیسو په وجه باطل طرفته ځی نو دا جرم دے، او کله چه تۀ په حق باندے عمل کوے، او یو تن راغے تا ته ئے مال درکړو نو دا مال اخستل جائز دی، دے کښے هیڅ نقصان نشته)

دا مخکښے مالونه د خُمس تقسیم شول۔

د غنیمت تقسیم :

ددے نه روستو ئے غنیمت تقسیم کړو :

رسول الله ﷺ زید بن ثابت ﷺ ته حکم وکړو چه غنیمتونه او خلك حاضر کړی۔ بیا ئے خلکو ته تقسیم کړل : نو یو یو مجاهد ته څلور (٤) اُوښان او څلویښت (٤٠) ګډے بزے ورسیدے، او چا سره چه اس وو نو هغۀ ته دولس (١٢) اُوښان او یو سل شل (١٢٠) ګډے بزے ورسیدے، او دغه شان سپین زر او سرۀ زر ملاؤ شول، ځکه چه ثقیف ډیره مالداره قبیله وه۔

پدے کښے اعراب خبر شول چه دلته مالونه تقسیمیږی، رسول الله ﷺ د عامو بادشاهانو په شان نۀ وو چه په یو خصوصی ځائے کښے وی او ځان ته ئے څوکیداران ودرولی وی، بلکه په یو عام میدان کښے وو او تقسیم ئے کولو،

باندچیانو تیل جوړ کړو چه ما له راکړه او ماله راکړه، د یو بل نه مخکښے کیدل، نو رسول الله ﷺ شا ته کیدو او دوئ ورپسے همداسے ور روان وو، تردے چه هغه ئے تنګ کړو، او یوے ونے ته ئے مجبوره کړو نو ونے ترے څادر ونیولو نو د نبی ﷺ بره بدن برېنډ شو نو دوئ ته ئے وویل چه

[اَعۡطُوۡنِیۡ رِدَائِیۡ، (فَوَاللّٰهِ) لَوۡ کَانَ لِیۡ عَدَدُ هٰذِهِ الۡعِضَاهِ نَعَمًا لَقَسَمۡتُهٗ بَیۡنَکُمۡ ثُمَّ لَا تَجِدُوۡنِیۡ بَخِیۡلًا، وَلَا کَذُوۡبًا وَلَا جَبَانًا]

[بخاری : ۲۸۲۱]

اے خلکو ! ما ته زما څادر راکړئ، (قسم په الله) که چرته ما سره دومره ګډے بزے راشی لکه څنګه چه په دے علاقه کښے دا ونے ولاړے دی، نو خامخا به ما ستاسو ترمینځ تقسیمولے او بیا به تاسو زۀ بخیل او دروغجن او بزدله نۀ موندلے۔

(لکه ډیر خلك د صدقے په وخت بزدلی کوی، بلکه ډیر خلك زکاة ورکولو ته پریشانه وی، دا د مؤمن صفت نۀ دے) او مطلب ئے دا وو چه تاسو ما ولے تنګوئ۔

بیا د اُوبن شا ته ورپاڅیدو او د هغے نه ئے ویښته راواخستۀ او وے فرمایل :

[اَیُّهَا النَّاسُ، وَاللّٰهِ مَا لِیۡ مِنۡ فَیۡئِکُمۡ قَدۡرَ هٰذِهِ (الۡوَبَرَةِ) اِلَّا الۡخُمُسَ وَالۡخُمُسُ مَرۡدُوۡدٌ عَلَیۡکُمۡ]

اے خلکو ! قسم په الله زما دپاره ستاسو د غنیمتونو نه ددے ویښته په اندازه څه شے نۀ دے جائز سویٰ د خمس نه او خمس به هم بیرته تاسو ته واپس کیږی۔

[ابو داود : ۲۶۹۶، النسائی ۴۱۳۸] (الرحیق)

غنیمتونه تقسیم شول تردے چه زنانه هم تقسیمے شولے۔

نو پدے ځائے کښے دوه لنډے واقعے راغلے :

د شیماء بنت حارث سعدیه واقعه :

په دے زنانو کښے یوه زنانه وه چه هغے صحابه کرامو ته وویل چه ما د محمد رسول الله ﷺ سره ملاؤ کړئ [اَنَا اُخۡتُ نَبِیِّکُمۡ] ځکه چه زۀ ستاسو د نبی خور یم۔

هغوی حیران شو چه دے وخت کښے د نبی خوینده څۀ کوی، هغے وویل : ما ورسره ملاؤ کړئ، دوئ رسول الله ﷺ ته بوتله، نو هغے ورته وویل : زۀ ستا خور یم۔ (مقصد ئے دا وو چه ما باندے احسان وکړه، ما په وینځو کښے مۀ راوله)

نو نبی ﷺ وفرمایل : [مَا عَلَامَةُ ذٰلِكَ ؟]

ددې خبرې څه نښه ده؟ نو هغې ووېل:

[عَضَّةٌ عَضَضْتَنِيهَا فِي ظَهْرِيْ وَاَنَا مُتَوَرِّكَتُكَ]

تـهٔ وړوکـے وے او ما په غېږه کښې اخستے وې نو تا زما په شا باندې چك لګولے وو، او د هغې اثر دا دے اُوس هم شته، نو رسول الله ﷺ ته دا خبره رایاده شوه۔

نو بیا رسول الله ﷺ خپل څادر د هغې د اکرام دپاره خور کړو او هغه ئې پرے کېنوله۔

(رسـول الله ﷺ بـه د خپـلـولـئ ډېـر لـحاظ ساتلو تردے چه د ډېرے وړاندے خپلولئ هم، لـکـه دا ئـے فـرمـایلي وو چه تاسو د مصر والو اکرام وکړئ ځکه چه دا زما سخرانه کېږی)

بیـا ئـے ورلـه اختیـار ورکړو چه که ما سره ځے نو زما خورئے زهٔ به دِے اکرام کوم او که غـواړے چه تهٔ خپل قوم ته واپس لاړه شے او څه تحفه درله درکړم؟ نو هغې ووېل چه زهٔ خپل قوم ته واپس کېږم، (ځکه چه بوډئ ښځه یم، بال بچ مے دے)

(نو رسول الله ﷺ هغې ته تحفے هم ورکړے او هغه ئې قوم ته واپس کړه،

سیـرت کتـابـونـه لـیـکـی: بـنـو سعد به وئیل چه رسول الله ﷺ هغې ته یو غلام د مـکحول په نوم او یوه وینځه ورکړه، کله چه دے دواړه خپل کلی ته راوستل نو د دواړو یو بل سره ئې نکاح وکړه نو د هغوی نه په هغوی کښې ډېر نسل باقي پاتے شو۔

(الاکتفاء بما تضمنه)

دلته بله واقعه دا راغله:

چه سراقـه بـن مـالك پـکښې دعوه وکړه چه ما له رسول الله ﷺ امان راکړے، او بیا رسول الله ﷺ ته پیش کړے شو چه تا ما له ستا د هجرت په موقعه امان راکړے، ځکه چه ابوبکر صدیق ؓ ورله په یو چاری باندے لیکل ورکړی وو، او دا ئے هم ورته وئیلی وو چه ستا به څه حالت وی چه د کسرئ بنګری به ستا په لاسونو کښې واچولے شی۔

بیـا د عـمـر رضی الله عنه په زمانه کښې هغه بنګری راوړے شو نو دهٔ هلته هم دعوه وکړه چه دا بنګری زما دی، او د رسول الله ﷺ لیکل ئے وربښکاره کړل۔

نو پدے وخت کښې رسول الله ﷺ وفرمایل: [اَلْيَوْمُ يَوْمُ بِرٍّ وَوَفَاءٍ]

نن د احسان او د وفادارئ ورځ ده، نو هغه ئې هم همداسے پرېخودو۔

(ددے نه معلومه شوه چه په اسلام کښې د وعدے ډېره سخته پابندی ده)

بله واقعه د زنانه :

دا راغلـه چه په قیدیانو کښې یو زنانه وه چه د هغې نه بچے ورك شوے وو نو د هغې د سینے پیۍ بهیدل، (زنانه چه کله ماشوم ته تے ورکوی او ماشوم ترے جدا شی نو سینه ئے ډکـه شی بیا ترے پیۍ بهیږی) نو هغه گرزیده ماشوم ئے کتلو چه خپل پیۍ ورکړی، نـو هغے خپـل بـچے وموندو او خپلے سینے سره ئے جوخت کړو او تے ئے ورکړو، نو نبی ﷺ ددے نه عبرت واخستو او ملگرو ته ئے وویل :

[اَتُرَوْنَ هٰذِهٖ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ]

آیا تاسو پدے گمان کوئ چه دا به خپل بچے اُور ته گوزار کړی؟

عمر بن خطاب رضی الله عنه راوی دے چه مونږ وویل :

[لَا وَهِيَ تَقْدِرُ عَلٰى اَنْ لَّا تَطْرَحَهٗ]

هیڅکله نهٔ، هرکله چه دا په نهٔ غورزولو د هغے باندے قادره وی۔

(یعنی چه وسه ئے کیږی نو هیڅکله به ئے اُور ته ونهٔ غورزوی)

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَللّٰهُ اَرْحَمُ بِعِبَادِهٖ مِنْ هٰذِهٖ بِوَلَدِهَا]

الله تعـالیٰ پـه خپـلـو بـنـدگـانـو بـانـدے ددے زنانه نه په خپل بچی باندے هم زیات مهربانه دے۔

[بخاری : ۵۹۹۹، مسلم : ۷۱۵٤]

بندگان د هغهٔ نافرمانی کوی او بیا هم الله تعالیٰ روغ صحت او رزقونه ورکوی، ورنه دا ټول بندگان د عذاب مستحق دی۔

دلتـه رسـول الله ﷺ د خـلـکـو ذهـن سازی وکـړه د الله تعالیٰ د رحم پـه باره کښې او هـغـوی تـه ئے ددے خبرے یقین ورکړو چه د الله په رحم یقین وکړئ چه د الله تعالیٰ سره مو محبت پیدا شی۔

د غـنـیـمـتـونـو د تقسیمولو نه بعد زنانه د خلکو لاس کښې راغلے نو په حدیث کښې راغـلـی دی : صـحـابه کرام وائی چه زمونږ زنانو ته توجه پیدا شوه (ځکه چه پنځوس شپیتـه ورځے وشـوے نـو ضـرور ئے خپـل اهـل ته توجه پیدا کیږی، بیا خاصکر هغه خلك چه د گناهونو نه ځان ساتی او د نظر حفاظت کوی)

[فَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزُوْبَةُ]

نو په مونږ باندے دا خبره سخته شوه چه زنانه راسره نهٔ وے۔

او دلته دا ښځے زمونږ لاسونو کښے راغلے او دا زمونږ دپاره حلالے دی، نو مونږ د دوئ سره د نزدیکت اراده وکړه نو خپل مینځ کښے مو وویل چه د دوئ خو خاوندان ژوندی دی، (څه په طائف او څه په اوطاس وغیره کښے دی) نو ددے سره نزدیکت به حرام وی، نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو :

﴿ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ كِتَابَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ﴾ [النساء : ٢٤]

او تاسو باندے حرام دی هغه زنانه چه خاوندان لری مگر هغه چه ستاسو ښی لاسونه ئے مالکان شی (نو اګرکه د وینځے خاوند موجود وی نو هم تا له روا ده)، ځکه چه خاوند ئے کافر دے، دے ته مال فیء وائی، یعنی هغه مال دے چه بیرته خپل مستحق ته راواپس شو (فیء رجوع ته وائی) مسلمان ددے حقدار دے، کافر ئے حقدار نهٔ وو، کافر ئے صرف عارضی مالك وو، نو کله چه مسلمان لاس ته راغله نو ددهٔ دپاره په غیر د نکاح او د مهر او د ولی نه جائز ده۔

او کافر الله تعالیٰ ولے داسے ذلیله کوی؟ نو وجه دا ده چه کافر د الله تعالیٰ د غلامی نه تښتیدلے دے نو الله تعالیٰ دهٔ لره د مخلوق غلام کړو لکه حافظ ابن قیمؒ فرمائی :

هَرَبُوْا مِنَ الرِّقِّ الَّذِىْ خُلِقُوْا لَهٗ	٥	فَبُلُوْا بِرِقِّ النَّفْسِ وَالشَّيْطَانِ

دا خلك چه د چا د غلامئ دپاره پیدا وو نو د هغے نه وتښتیدل، د الله غلامی نهٔ کوی نو د نفس او د شیطان په غلامئ کښے اخته شول۔

مگر د دغه زنانو سره ئے سمدست نزدیکت بیا هم روا نکړو بلکه وے فرمایل :

[لَا تُوْطَؤُ حَامِلٌ مِنَ السَّبْيِ حَتّٰى تَضَعَ حَمْلَهَا وَلَا غَيْرَ ذَاتِ حَمْلٍ حَتّٰى تَحِيْضَ]

حامله وینځے سره به نزدیکت نهٔ کیږی تردے چه حمل وزیګوی او عامے زنانه سره به نزدیکت نهٔ کیږی تردے چه یو حیض ئے راشی او تیر شی،

(وجه دا ده چه کیدے شی چه د هغے په رحم کښے د مخکنی خاوند نه بچے په خیټه وی نو د بل چا په نزدیکت سره د هغے د بچی نسب خرابیږی بیا به پته نهٔ لګی چه دا د

اول خاوند نه دے او که ددے بل نه۔

او هرچه پیغله ده نو هغه بغیر د حیض نه جائز ده۔

صحابه کرام د حیض نه روستو هغوی سره نزدے شول، لیکن اراده ئے وکړه چه د هغوی نه عزل وکړی ځکه چه که دا حاملے شی نو بیا به نهٔ خرخیږی او د دوئ د خرخولو اراده وه۔

(عزل دے ته وائی چه داسے طریقه اختیاره کړی چه بچے پیدا نشی، منصوبه بندی، نسل بندی) نو دوئ د رسول الله ﷺ نه د عزل په باره کښے تپوس وکړو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[مَا عَلَيْكُمْ اَنْ لَّا تَفْعَلُوْا]

(په تاسو باندے هیڅ باك نشته چه دا ونکړئ۔ یعنی په نهٔ کولو کښے ئے باك نشته، یعنی دے کښے یو قسم اجازه وه چه ستاسو خوښه ده کوئ او که نهٔ)

بیا ئے وفرمایل :

[مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ اِلَّا هِيَ كَائِنَةٌ]

[مسلم : ۲٦۱۹]

نشته یو نفس چه قیامته پورے ئے الله غواړی چه پیدا ئے کړی نو هغه به خامخا پیدا کیږی، (یعنی الله تعالیٰ ئے د یو څاڅکی نه هم پیدا کولے شی او دا سبب د بچو د نهٔ پیدا کیدو نهٔ دے)

ددے روایت نه د منصوبه بندی دپاره استدلال صحیح نهٔ دے، په اسلام کښے په کلی طور سره نسل بندی نشته بلکه دا د کفارو دعوت دے چه وائی نسل کم کړئ رزق به ښوك درکوی، په اسلام کښے زیات نسل طرفته دعوت دے، په بچو کښے علی کل حال خیر دے، ځکه چه که یوه سبحان الله ووائی، نو هم ستا دپاره خیر دے، البته د بچو تربیت هم ضروری دے، او د خه وخت دپاره چه د بچو تربیت وشی د عزل په طریقه یا بله طریقه د بندش اختیارول جائز دی۔

د وفد هوازن راتلل :

هرکله چه غنیمتونه تقسیم شول نو پدے کښے د هوازن قبیلے په زړونو کښے د اسلام جذبه راغله نو یو وفد ئے تیار کړو د څوارلس (۱٤) کسانو چه مشرئے زهیر بن صُرد وو او په دوئ کښے د رسول الله ﷺ رضاعی تره ابو بُرقان هم وو،

نو هغوی اسلام راوړو او بیعت ئے وکړو، او بیا ئے ووئیل : یارسول الله ! تاسو زمونږ میندے، خویندے او ترینده او ماسیګانے نیولے دی، او دا د قومونو شرم وی، او مونږ ته د نفسونو او مالونو مصیبت رارسیدلے دے،

او زهیر بن صُرد د هغوی خطیب وو هغهٔ پکښے ووئیل : که مونږ نه چرته ابن ابی شمر یا نعمان بن منذر بادشاهانو دا نیولی وے نو مونږ د هغوی نه د هغے د واپس کولو او د مهربانی کولو امید ساتلو او ته خو د الله رسول ئے، خیر المکفولین ئے، ستا کفالت الله تعالیٰ کړیدے۔

او بیا ئے اشعار ووئیل چه د رسول الله ﷺ زړهٔ ئے نرمولو، او ډیرے دلسوزے خبرے ئے وکړے چه د رسول الله ﷺ زړهٔ ئے هم نرم کړو او د خلکو زړونو ئے هم نرم کړل :

اُمْنُنْ عَلَيْنَا رَسُوْلَ اللهِ فِيْ كَرَمٍ	○	فَاِنَّكَ الْمَرْءُ نَرْجُوْهُ وَنَنْتَظِرُ
يَا خَيْرَ طِفْلٍ وَمَوْلُوْدٍ وَمُنْتَخَبٍ	○	فِي الْعَالَمِيْنَ اِذَا مَا حُصِّلَ الْبَشَرُ
اِنْ لَمْ تُدْرِكْهُمْ نَعْمَاءُ تَنْشُرُهَا	○	يَا اَرْجَحَ النَّاسِ حِلْمًا حِيْنَ يُخْتَبَرُ
اُمْنُنْ عَلٰى نِسْوَةٍ قَدْ كُنْتَ تَرْضَعُهَا	○	اِذْ فُوْكَ تَمْلَؤُهُ مِنْ مَحْضِهَا الدُّرَرُ
اِذْ كُنْتَ طِفْلًا صَغِيْرًا كُنْتَ تَرْضَعُهَا	○	وَاِذْ يُزَيِّنُكَ مَا تَأْتِيْ وَمَا تَذَرُ
لَا تَجْعَلْنَا كَمَنْ شَالَتْ نَعَامَتُهُ	○	وَاسْتَبْقِ مِنَّا مِنْهُ مَعْشَرٌ زُهَرُ
اِنَّا لَنَشْكُرُ آلَاءً وَاِنْ كُفِرَتْ	○	وَعِنْدَنَا بَعْدَ هٰذَا الْيَوْمِ مُدَّخَرُ
اِنَّا نُؤَمِّلُ عَفْوًا مِنْكَ تَلْبَسُهُ	○	هٰذِي الْبَرِيَّةُ اِذْ تَعْفُوْ وَتَنْتَصِرُ

فَاغْفِرْ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا اَنْتَ رَاهِبُهٗ	○	يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِذْ يُهْدٰى لَكَ الظَّفَرُ

(الروض الانف والبداية والنهاية)

اے د الله رسولـه ! په مونږ باندے احسان وکړه ځکه چه تا نه زمونږ هم دا امید دے او مونږ د همدے انتظار کوو. ○ تـهٔ په ټولو مخلوقاتو کښے بهترین انسان وے، او تهٔ د هر چا نه په حلم او بردبارئ کښے غوره ئے، ○ تـهٔ خلکو ته نعمتونه راخوروے، نو په هغه زنانو باندے احسان وکړه چه تا به د هغوی نه تے رودلو، او هغوی به تا ته په وړوکوالی کښے تے درکولو، او تـهٔ بـه ئے ښائستـه کولے، مونږ مهٔ محرومه وه، مونږ د نعمتونو شکریـه کوو اګرکـه نـور خلك به ئے ناشکری کوی، او مونږ به دا احسان یاد ساتو، ○ مونږ ستا نه ددے خلکو دپاره د معافئ امید ساتو، ○ تهٔ دوی معاف کړه، الله تعالیٰ دِے تا د قیامت په ورځ د یرونه بچ وساتی کله چه به تا ته کامیابی درکوی.

رسول الله ﷺ وفرمایل : مونږ لس ورځو پورے صرف ستاسو دپاره په انتظار کښے ناست وو چه تاسو بـه راځئ او ایمان به راوړئ، نو اُوس خو مالونه او هر څه تقسیم شول زما په واك کښے نهٔ دی، اُوس دا د مؤمنانو مال شو زما نهٔ دے،

[وَاَحَبُّ الْحَدِيْثِ اِلَيَّ اَصْدَقُهٗ]

او ما تـه په خبرو کښے رشتینے خبرے خوښے دی. نو تاسو داسے وکړئ چه ستاسو خوښـه ده چه خپلے ښځے او ځامـن اخلئ او که مالونه ؟ نو هغوی وویل : اے د الله رسوله ! تا مونږ ته د عزت او د مال ترمینځ اختیار راکړو نو

[لَا نَعْدِلُ بِالْاَحْسَابِ شَيْئًا]

مونږ د بچو او ښځو سره هیڅ شے نهٔ برابره وو. مال خو به بیا هم راشی خو مونږ ته عزت ډیر محبوب دے.

او نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[اَمَّا مَا كَانَ لِيْ وَلِبَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَهُوَ لَكُمْ]

مونږ ته او د عبد المطلب بچو ته چه کوم څه رارسیدلی دی هغه به تاسو ته درکړم.

بیا ئے ورته وفرمایل کله چه زهٔ صبا له مونځ وکړم نو تاسو به پاڅیږئ او داسے اعلان به وکړئ :

[إِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ إِلَى الْمُسْلِمِيْنَ وَبِالْمُسْلِمِيْنَ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِي أَبْنَائِنَا وَنِسَائِنَا]

مونږ رسول الله ﷺ مومنانو ته سفارشي کوو او مؤمنان رسول الله ﷺ ته سفارشي کوو چه مونږ ته دې زمونږ بچي او ښځې راواپس شي.

نو بيا به زۀ ستاسو دپاره مؤمنانو ته سوال وکړم.

صبا له رسول الله ﷺ چه د ماسپښين مونځ وکړو نو دوی دغه شان خبره وکړه:

نو رسول الله ﷺ تقرير وکړو او وې فرمايل:

[فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ جَاؤُوْنَا تَائِبِيْنَ وَإِنِّيْ قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَطِيْبَ بِذٰلِكَ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَكُوْنَ عَلٰى حَظِّهِ حَتّٰى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يَفِيْءُ اللّٰهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ]

ستاسو دا ورونه توبه ويستونکي راغلي دي، او زما اراده ده چه دوئ ته د دوئ قيديان واپس کړم، نو څوك چه دا په خپله خوښه ورکوی نو ورديے ئے کړي او که څوك په خپله برخه کلك ولاړ وی نو هغه دے ئے هم ورکړی تر دے چه مونږ ته که اول کوم غنيمت راغلو نو مونږ به ئے هغۀ ته ورکړو.

بيا رسول الله ﷺ د خلکو مخامخ ترغيباً ووېل:

[أَمَّا مَا كَانَ لِيْ وَلِبَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَهُوَ لَكُمْ]

زما او د بني عبد المطلب چه کومه برخه رسيږي نو هغه ستاسو شوه.

نو مسلمانان خو د رسول الله ﷺ تابعدار وو، هغوی بيا چرته بخل کولو، نو پدے کښے مهاجرينو اعلان وکړو:

[وَمَا كَانَ لَنَا فَهُوَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

زمونږ چه کوم مال دے نو هغه د رسول الله ﷺ دپاره شو، (يعنی چه هغه ئے ورکوی نو مونږه ئے هم ورکوو)

دلته انصارو هم اعلان وکړو:

[وَمَا كَانَ لَنَا فَهُوَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

زمونږ چه کوم څيزونه دی هغه هم د رسول الله ﷺ شو.

پدے کښے عُيينه بن حصن فزاری (چه تازه ئے ايمان راوړے دے) ووېل:

[مَا كَانَ لِیُ وَلِفَزَارَةَ فَلَیسَ لَكُمُ]

زما چه کوم مال او زما د قبیلے دے، نو هغه ستاسو دپاره نهٔ دے، هیځ نهٔ درکوو۔

او اقرع بن حابس (نوی مسلمان) هم وویل :

[مَا كَانَ لِیُ وَلِبَنِیُ تَمِیمٍ فَلَیسَ لَكُمُ]

زما او د بنو تمیمو مال هم مونږ تاسو ته هیڅ نهٔ درکوو،

پدے کښے عباس بن مرداس السلمی پاڅیدو او وے وئیل :

[مَا كَانَ لِیُ وَلِبَنِیُ سُلَیمٍ فَلَیسَ لَكُمُ]

زما او د بنو سلیمو مالونه هم مونږ تاسو ته نهٔ درکوو۔

نو بنو سلیم د هغهٔ په خلاف پاڅیدل او وے وئیل :

[مَا كَانَ لَنَا فَهُوَ لِرَسُولِ اللّٰهِ ﷺ]

زمونږ چه کوم غنیمتونه دی نو هغه د رسول الله ﷺ دپاره شو۔

نو خپل مشر عباس بن مِرداس سُلمی ورته وویل :

[وَهَنتُمُونِیُ ؟]

تاسو زهٔ وشرمولم۔ د عیینه او اقرع سره خپل قومونه ملګری شول او تاسو زما ملګرتیا ونکړه۔

نو هغوی وویل : مونږ د رسول الله ﷺ سره هیڅوك نهٔ برابره وو، چه هغه ئے ورکوی نو مونږ به ئے هم ورکوو۔

مګر رسول الله ﷺ دا کسان هم راضی کړل او دا ئے ورته وویل چه تاسو دا د الله دپاره دوی ته ورکړئ او که نهٔ ئے ورکوئ نو مونږ به ددے عوض درکړو، بل ځائے کښے چه غنیمت وشو نو اول به تاسو ته د هغے نه د یو په ځائے شپږ برخے درکړو۔ لکه عیینه بن حصن وویل : [بِکُمُ ؟] د یو په سر به څومره راکړے؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[بِكُلِّ فَرِیضَةٍ سِتُّ فَرَائِضَ]

د هرے برخے په عوض کښے به شپږ برخے درکړم۔

[فَرُدُّوا اِلَی النَّاسِ نِسَائَهُمُ وَاَبنَائَهُمُ]

نو هغوی هم دے خلکو ته د دوئ زنانه او بچی ورکړل. (ځکه چه رسول الله ﷺ ورسره لوظ وکړو او ګویا کښے قرض ئے ترے واخستو په عوض سره)

پدے کښے ټولو مسلمانانو وویل: [قَدْ طَيَّبْنَا ذٰلِكَ]

مونږ ددے قیدیانو په واپس کولو خوشحاله یو.

رسول الله ﷺ وفرمایل:

[إِنَّا لَا نَدْرِيْ مَنْ اَذِنَ مِنْكُمْ فِيْ ذٰلِكَ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ]

مونږ نهٔ پوهیږو چه چا اجازه کړیده او چا نهٔ ده (دا خو دولس لس زره فوج دے، لس زرو به اجازه کړی وی او دوه زرو به نهٔ وی وئیلی نو چرته پردے مال بل چا ته ورنکړو، بغیر د اجازت د چا مال بل ته ورکول حرام دی، لکه بعض پلاران داسے کار کوی چه د یو بچی مال راواخلی بل ته ئے ورکړی دا حرام کار دے، یا د یتیمانو د مال نه خیرات کوی، دا حرامه ده، که د چا نه ئے د حیاء په وجه یو مال واخستو دا هم حرام شو)

نو زهٔ دا همداسے نهٔ اخلم: [حَتّٰى يَرْفَعَ إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ اَمْرَكُمْ]

تردے چه ستاسو مشران ما ته ستاسو خبره راپورته کړی، یعنی تاسو لاړ شئ دغه قیدیان مشرانو ته وسپارئ هغوی به ئے مونږ ته راکړی.

نو دوئ د شپے لاړل، هر یو مشر د خپل قوم نه اجازه واخسته، او مشران راغلل چه ټولو اجازه وکړه نو دغه زنانه او ماشومان هغوی ته واپس شول.

[فتح الباری ٤/٦٠٩، کتاب الوکالة]

او بیا ئے هغوی ته هدیه هم ورکړه: (رسول الله ﷺ خلیفه دے، الله ورله پدے سفر کښے دومره فراخی ورکړه) نو هرے زنانه او ماشومانو ته ئے یوه یوه جوړه جامه هم ورکړه چه دا شپږ زره کسان وو. (زنانه په کپړو ډیرے خوشحالیږی)

عمر رضی الله عنه سره یوه وینځه وه مکے ته ئے بوتلے وه، نو په کوڅه کښے ئے شور محسوس کړو نو عبد الله بن عمر رضی الله عنه ته ئے وویل چه دا څنګه شور دے؟؛ هغهٔ وویل: رسول الله ﷺ هوازن ته د هغوی زنانه واپس کړے، نو وے فرمایل: ورشه په فلانی ځائے کښے په مکه کښے زما وینځه ده هغه هم ورواپس کړئ.

ټولے زنانه هغوی ته واپس شوے او هغوی په خیریت سره خپلو علاقو ته لاړل.

دے خلکو ته خو زنانه واپس شوے او مالونه ترے لاړل لیکن دے قوم بیا هم ایمان

رانۀ وړو بلکه دغه یو راغلی وفد پکښې ایمان راوړو۔
ډیره موده روستو (یعنی په نهم کال) مدینې ته بیا د ثقیف وفد راغے او اسلام ئے راوړو چه د هغے بیان به روستو د وفدونو په بیان کښې راشي ان شاء الله تعالیٰ۔

بله واقعه :

عبد الله بن ابی بکر صدیق ﷺ د یو صحابی واقعه نقل کوی چه هغه وائی :
زۀ د رسول الله ﷺ په اړخ کښې په خپله اُوښه باندے سور روان وم، او زما په خپه کښې سخت پیزار وو نو پدے کښې ناڅاپې زما اُوښه د رسول الله ﷺ د اُوښے سره جوخته شوه نو زما د څپلۍ طرف د رسول الله ﷺ په پنډۍ باندے ولګیدو نو هغۀ ئے خوږ کړو نو هغۀ زما قدم په چابك سره ووهلو او دائے وفرمایل :

[اَوْ جَعْتَنِیْ فَتَأَخَّرْ عَنِّیْ]

زۀ ډیر خوږ کړم لږ روستو شه۔ نو زۀ واپس شوم، نو هرکله چه صبا شو خبر شوم چه رسول الله ﷺ ما پسے ګرځي چه ما پیدا کړي، نو ما وویل: قسم په الله ما پرون د رسول الله ﷺ پونډۍ خوږ کړیده کیدے شي چه د هغے په باره کښې به څه خبره وي، نو زۀ ورته راغلم او زۀ یریدم، نو ما ته ئے وویل : تا پرون زما پونډۍ خوږ کړے وه بیا ما ستا قدم په چابك وهلے وو نو ما دے دپاره راوغوښتے چه زۀ تا ته د هغے بدله درکړم۔
دے وائي : ما ته ئے د دغه ګوزار په بدله کښې اتیا (۸۰) ګډے راکړے۔
السیرة النبویة لابن کثیر (۶۷۳/۳)

دا هم د رسول الله ﷺ طریقه وه چه یو چا ته به ئے معمولی شان تکلیف ورکړو اګرکه هغه شخص به پرے خوږ شوے هم نۀ وو، لیکن رسول الله ﷺ سره د آخرت د ورځے ډیر زیات احساس او استحضار او یره وه، نو په دنیا کښې به ئے د هغے بدله ختموله، او دپاسه به ئے ورسره احسان هم کولو۔ دے ته اخلاق وائي۔

د انصارو ګیله او د رسول الله ﷺ تسلی :

انصارو کښې ځوانانو وویل :

[يَغْفِرُ اللّٰهُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يُعْطِيْ قُرَيْشًا وَصَنَادِيْدَ نَجْدٍ وَيَدَعُنَا وَسُيُوْفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ]

الله تعالیٰ دې رسول الله ﷺ ته بخنه وکړي، قریشو ته او د نجد مشرانو ته مالونه ورکوي او مونږه پریدي حال دا چه زمونږ تورې د کفارو د وینو نه بهیږي، رسول الله ﷺ خپل قوم وموندو او مونږ ترې هیر شو چه مونږ ته ئې هیڅ رانکړل۔

(مال یو عجیب شے دے، که یو انسان ډیر نیك وي، په هغهٔ کښې هم تغیر پیدا کیږي، طبعي طور سره انسان پدے کار خفه کیږي، مګر کمال دا دے چه سړے دا خبرے ورِوکے وګڼړي)

نو سعد بن عباده ﷺ راغلو او نبي ﷺ ته ئې عرض وکړو: چه انصارو په تا خفګان کړیدے، خفه شویدي چه تا خلکو ته زیاتي مالونه ورکړل او دوئ ته څه ملاؤ نشول،

(دلته هغه سل سلو اُوښانو کښې برخه مقصود وه ورنه دوئ ته خو خپل غنیمت رسیدلے وو)

پدے کښې رسول الله ﷺ وفرمایل: ستا څه رایه ده؟ نو هغهٔ وویل:

[مَا اَنَا اِلَّا رَجُلٌ مِنْ قَوْمِيْ] زهٔ د قوم نه یو تن یم۔

(ددے یو مطلب دا دے چه زما د قوم خفګان دے نو زما هم دے، دویم دا چه زهٔ د قوم یو تن یم، زما خبره دومره اثر نکوي لکه چه تهٔ ورته خبره وکړے او تسلي ورکړے)

رسول الله ﷺ ته پته ولګیده چه دے خبرے په مشرانو باندے هم اثر کړیدے نو د یو حکمت نه ئې کار واخستو، دوئ ته ئې غصه ونکړه ځکه چه دا خو ملګري دي او ډیر اُوچت مؤمنان دي، نو دهٔ ته ئې امر وکړو چه انصار ما دپاره یو بند ځائے (پنغاړي) کښې راجمع کړه چه د دوئ نه علاوه به بل هیڅوك نهٔ وي۔

نو دهٔ انصاروته اعلان وکړو هغوی راجمع شول، رسول الله ﷺ ورغے او په یو اُوچت ځائے باندے کیناستو او انصار د هغهٔ نه لاندے ناست دي، ورته ئې وفرمایل:

[مَا حَدِيْثٌ بَلَغَنِيْ عَنْكُمْ؟]

دا څه خبره ده چه ما ته ستاسو نه رارسیدلے ده؟ هغوی وویل: (او د صحابه کرامو طریقه دا وه چه همیشه به ئې حقیقت وئیلو او د دروغو بهانے به ئې نهٔ کولے)

نو وے وئیل: مونږ کښې چه کوم مشران دي، هغوی هیڅ نهٔ دي وئیلي او مونږ

کښې چه کوم کشران دی نو هغوی دغه خبره ذکر کړه (چه الله دِې رسول الله ﷺ ته بخنه وکړی الخ) ۔ نو د الله نبی ورته وفرمایل :

[یَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ ! اَلَمْ آتِکُمْ ضُلَّالًا فَهَدَاکُمُ اللّٰهُ بِیْ، وَعَالَةً فَاَغْنَاکُمُ اللّٰهُ بِیْ، وَاَعْدَاءً فَاَلَّفَ اللّٰهُ بَیْنَ قُلُوْبِکُمْ]

اے د انصارو ډلے ! آیا زهٔ تاسو ته نهٔ وم راغلے چه تاسو ګمراهان وئ نو الله تاسو ته زما په وجه هدایت وکړو۔ (دینی نعمتونه ورته مخکښې یادوی) او تاسو فقیران وئ نو الله زما په وجه مالداره کړئ (په غنیمتونو سره) او دشمنان وئ نو الله ستاسو د زړونو ترمینځ اُلفت او محبت پیدا کړو۔

نو هغوی به جواب کوو :

[بَلٰی، اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَمَنُّ وَاَفْضَلُ]

آؤ، د الله او د هغهٔ د رسول په مونږ باندے احسان او مهربانی ده۔

بیا نبی ﷺ هغوی ته وویل :

[وَلَئِنْ شِئْتُمْ لَقُلْتُمْ فَلَصَدَقْتُمْ ثُمَّ صَدَقْتُمْ، اَتَیْتَنَا مُکَذَّبًا فَصَدَّقْنَاكَ، وَمَخْذُوْلًا فَنَصَرْنَاكَ، وَطَرِیْدًا فَآوَیْنَاكَ وَعَائِلًا فَآسَیْنَاكَ]

که ستاسو خوښه وی نو داسے به وواییٔ او رشتیا به وواییٔ او بیا به رشتیا وواییٔ چه تهٔ مونږ ته په داسے حال کښې راغلے وے چه ستا خلکو تکذیب کولو نو مونږ ستا تصدیق وکړو او ستا چا مدد نهٔ کولو نو مونږ ستا مدد وکړو، او تهٔ خلکو شړلے وے نو مونږ درله ځائے درکړو او تهٔ فقیر وے نو مونږ ستا غمخورګی او همدردی وکړه۔ یعنی دا ستاسو په ما باندے احسان دے، او خپل احسان ئے په هغوی یاد کړو لیکن ددے سره سره به هغوی وئیل : [لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهِ الْمَنُّ]

خاص د الله او د رسول په مونږ باندے احسان دے۔

بیا نبی ﷺ وفرمایل :

[اَوَجَدْتُّمْ عَلَیَّ یَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ فِیْ اَنْفُسِکُمْ فِیْ لُعَاعَةٍ مِنَ الدُّنْیَا تَأَلَّفْتُ بِهَا قَوْمًا لِیُسْلِمُوْا]

آیا تاسو ما نه پدې خبره خفه کیږئ اې د انصارو ډلې! چه د دنیا یو معمولی شے (مال) څه خلکو ته ورکوم چه د هغوی زړونه پرې اسلام ته مائل کوم.

بیا ئے وفرمایل : [وَوَكَلْتُكُمْ إِلَى إِسْلَامِكُمْ]

او ما تاسو ستاسو اسلام ته وسپارلئ چه که دے خلکو ته مال ورنکړے شی نو دوئ نهٔ خفه کیږی، او نورو خلکو کښې سم اسلام نهٔ وو.

(دے ته علو الهمة وائی چه رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته ورکولو، مسلمان به داسے وړوکے فکر نهٔ کوی، پیسے لاندے یا باندے دی، او فلانی ځائے کښې ما ته چا دعوت وکړو او زما خبره ئے واوریده یا نهٔ، دا ډیرے وړے خبری دی، پدے سره د یو بل نه خفه کیدل د مسلمان صفت نهٔ دے، پکار دا ده چه د مؤمن سړی په غټو خبرو کښې سوچ وی، د الله ددین ترقیٔ او د اسلام د غالبه کولو سوچ کوی. د هغهٔ په رضا کولو کښې لګیا وی، کوم علم او صحیح عقیده چه الله ورکړے وی په هغې خوشحاله وی، نبی ﷺ او اسلام ورله الله ورکړے وی په هغې خوشحاله وی)

بیا ئے ورته وفرمایل :

[أَلَا تَرْضَوْنَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ ! أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالشَّاءِ وَالْبَعِيرِ وَتَرْجِعُوْنَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ إِلَى رِحَالِكُمْ ؟]

اې د انصارو ډلې ! آیا تاسو پدے نهٔ خوشحالیږئ چه خلك به خپلو کورونو ته ګډے بزے او اُوښان بوځی او تاسو به خپلو کورونو ته د الله رسول بوځئ.

(د محمد رسول الله ﷺ په شان هستی ستاسو کلی ته ځی، که ټوله دنیا ستاسو نه فوت شی او یو د الله رسول ستاسو کور ته درغلو نو تا ته هرڅه ملاؤ شول.

یو تن ته ټوله دنیا ملاؤ شوه او تا د قرآن یو آیت زده کړو نو والله چه تا غوره شے حاصل کړو. هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ)

بیا ئے وفرمایل : [لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَءً مِنَ الْأَنْصَارِ]

که چرته هجرت نهٔ وے نو زهٔ به هم د انصارو نه یو سړے وے (لیکن د هجرت ډیر فضیلت دے، که دا نهٔ وے نو ما به هم ځان ته انصاری وئیلے)

[وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ شِعْبًا وَوَادِيًا وَسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ شِعْبًا وَوَادِيًا لَسَلَكْتُ شِعْبَ الْأَنْصَارِ وَوَادِيَهَا]

که خلك په یوه لاره او کنده روان شي او انصار په بله لاره او کنده نو زهٔ به خامخا د انصارو په لاره او کنده باندے روانیږم۔

[اَلْاَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ]

د انصارو مثال داسے دے لکه د دننه جامے چه بدن پورے انښتي وي، او د عامو خلکو مثال د څادر په شان دے چه بهر نه اچولے شي،

(یعني انصارو خو د اسلام ژور خدمت کړے او د اسلام پورے کلك انښتي دي)

بیا ئے دعا وکړه:

[اَللّٰهُمَّ ارْحَمِ الْاَنْصَارَ وَاَبْنَاءَ الْاَنْصَارِ وَاَبْنَاءَ اَبْنَاءِ الْاَنْصَارِ]

اے الله! په انصارو رحم وکړه او د هغوی په اولاد او د هغوی د اولادو په اولادو باندے۔

کله چه رسول الله ﷺ دا خبرے وکړے نو انصارو سرونه خکته کړي وو او دومره ډیر ئے وژړل: [حَتّٰی اَخْضَلُوْا لُحَاهُمْ]

تردے چه خپلے ګیرے مبارکے په ژړا لمدے کړے۔

او دائے وویل: [رَضِیْنَا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قِسْمًا وَحَظًّا]

مونږ په رسول الله ﷺ باندے په تقسیم او حصه کښے راضي یو، چه دا زمونږ په برخه کښے ورسیدو۔

او په یو روایت کښے دي:

[اِنَّکُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِیْ اَثَرَةً فَاصْبِرُوْا حَتّٰی تَلْقَوْنِیْ عَلَی الْحَوْضِ]

یقیناً تاسو به زما نه روستو د داسے حالت سره ملاؤ شئ چه بادشاهان به نور خلك په تاسو باندے غوره کوي نو صبر به کوئ تردے چه ما سره به په حوض کوثر ملاؤ شئ۔

بیا رسول الله ﷺ د دوی نه راروان شو او هغوی هم خوارهٔ شول۔

بیا رسول الله ﷺ د هغه ځائے نه مدینے ته راروان شو او مکے ته لاړ نشو۔

مکه مکرمه کښے ئے دلته عتاب بن اَسِید والي او ګورنر مقرر کړو چه دا لا اُوس مسلمان شویدے، هغهٔ ته ئے حکم وکړو چه اُوس حج نزدے راروان دے، په خلکو به حج تهٔ وکړے۔

نبی ﷺ د ذی القعدې په شلیریشتم (۲۴) باندې مدینې ته واپس شو چه حج ته تقریباً څوارلس (۱۴) ورځې پاتې وې۔
د الله نبی حج ته پاتې نشو بلکه عمره ئې وکړه او سیده مدینې ته ورسیدو، حج ئې ولې ونکړو؟ پدې کښې ډیر حکمتونه وو،
یو د هغې نه دا وو چه نبی ﷺ د مشرکانو سره شریك حج نۀ غوښتو، ځکه چه مشرکانو به په بربنډه طوافونه هم کول، او بل طرفته د الله د امر هم منتظر وو، بیا کال له (یعنی په نهم کال) ابوبکر صدیق ؓ حج وکړو او په لسم (۱۰) کال باندې بیا محمد رسول الله ﷺ خپله حج ته رااروان شویدې۔
نو دا کال هم مکه د مسلمانانو سره ده او راتلونکی کال کښې هم ده، او دریم کال باندې رسول الله ﷺ خپله حج کړیدې او تر قیامته پورې مکه د مسلمانانو په لاس کښې راغله۔
دلته لنډې دوه واقعې راغلي دی چه پدې سره واقعه د حنین ختمیږی۔

د عروه بن مسعود ثقفی ؓ اسلام :

عروه بن مسعود ثقفی د ثقیف قبیلې منلې شوې مشر او سردار وو، او دا مالداره او په عربو کښې مشهور وو لکه مخکښې مونږ آیت ذکر کړې وو چه مشرکانو وئیلی وو چه قرآن په دۀ باندې ولې نۀ نازلیږی، چه مخوریز او مالداره سړې او د قبیلې سردار دې۔
عروه بن مسعود ثقفی پدې موقعه د حنین کښې غائب وو، اُردن ته تلې وو دې دپاره چه غټه وسله زده کړی او د رسول الله ﷺ مقابله پرې وکړی،
دې چه کله واپس راغې نو حالات ئې بدل ولیدل، طائف او خواوشا علاقې فتح شویدی، او مکه فتح شویده او عام کلی په اسلام کښې داخل شویدی، نو ددۀ په زړۀ کښې هم الله رب العالمین د اسلام محبت واچولو، او دا فکر ئې وکړو چه که دا په باطله وې نو دومره غلبه او ملګری به الله تعالیٰ نۀ ورکولې، نو په ځائې ددې چه طائف ته لاړ شي نو سیده د رسول الله ﷺ پسې مدینې ته روان شو،
(ابن اسحاق وائی چه د مکې او د مدینې ترمینځ د رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو) او

اسلام ئې راوړو۔

او عروه بن الزبیرؓ او موسی بن عقبهٔ وائي چه مدینې ته راغلې وو چه پدې وخت کښې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما دِ حج نه واپس شوی وو۔

او همدا قول غوره دې۔

رسول الله ﷺ ددهٔ په اسلام ډیر زیات خوشحاله شو ځکه چه دا په قوم کښې منلې شوې، او د رنګ نه ښائسته او د عقل نه هوښیار سړې وو او مالداره او د علاقې خان هم وو۔

(رسول الله ﷺ چه په معراج شپه کښې عیسیٰ علیه السلام لیدلې وو نو هغه ئې د عروه بن مسعود ثقفي سره مشابه کړې وو چه عروه بن مسعود ورسره زیات مشابهت لرلو)۔

نو دهٔ وویل : یارسول الله ما ته اجازه راکړه چه زهٔ طائف والو ته لاړ شم او هغوی ته به د اسلام دعوت ورکړم،

[فَوَاللّٰهِ مَا رَاَيْتُ مِثْلَ هٰذَا الدِّيْنِ ذَهَبَ عَنْهُ ذَاهِبٌ]

ځکه چه قسم په الله ما داسې دین نهٔ دې لیدلې چه څوك ددې نه بل خوا لاړ شي۔

(ځکه چه د مسلمان دا جذبه وی چه کله په حق پوهه شی غواړی چه نور خلك هم پوهه شي، افسوس چه نن صبا باطل والا دعوتونه کوی او زمونږ سره صحیح آسمانی دین دې او مونږ په یو مجلس کښې د چا سره ددې په باره کښې خبره هم نهٔ کوو، خپله په یو سنت طریقه عمل نشو کولې، د خلکو د ملامتیا نه یریږو)

نبی ﷺ ورته وفرمایل : [اِنَّهُمْ اِذًا قَاتِلُوْكَ] که لاړې نو دا خلك دې وژنی ځکه چه د دوئ ضد او تکبر ما ته معلوم دې، اګرکه ته ئې مشرئې، نو هغهٔ وویل :

[يَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَاَنَا اَحَبُّ اِلَيْهِم مِنْ اَبْكَارِ اَوْلَادِهِمْ]

یا رسول الله ! زهٔ هغوی ته د پیغلو جینکو نه هم زیات محبوب یم۔

رسول الله ﷺ ورته بیا وفرمایل : [اِذًا قَاتِلُوْكَ]

هغوی دې وژنی۔ دهٔ بیا وویل : اې د الله رسوله ! هغوی زما داسې خبره منی چه که زهٔ اُودهٔ یم نو ما نهٔ راویښه وی۔

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ستا خوښه ده۔ نو طائف ته روان شو۔

د طائف والو عادت دا وو چه دوئ به د لات عبادت کولو (دارنگه مکے والو به هم کولو) او هغے ته به ئے ربّه وئیله۔

(ربّه مؤنث دے، یعنی هغه زنانه چه زمونږ معبوده او آلهه او تربیت کونکے ده)

دوئ چه به کله د بهر نه راتلل نو اول به بت خانے ته ورتلل، لات ته به ئے سجده وکړه او لاس به ئے پرے راښکلو او بیا به کور ته تلل، لکه مونږ ته اسلام وائی چه کله د سفر نه راشے نو اول مسجد ته لاړ شه، دوه رکعاته وکړه۔ بیا کور ته ځه۔

لکه دا د رسول الله ﷺ طریقه وه او ملګروته به ئے هم وئیل چه تاسو لا مسجد کښے انتظار وکړئ تردے چه زنانه خپل ځان پاك راپاك کړی بیا کور ته ورشئ، په ګنده حالت کښے مهٔ ورځئ د زنانو نه به مو نفرت پیدا شی)

نو ثقیف قبیله د عروه بن مسعود نه خبر نهٔ وو چه دهٔ اسلام راوړے، نو دوئ ورته راووتل او د هغهٔ استقبال ئے وکړو، چه نوے وسلے ئے زده کړیدی، نو دهٔ د رے (لات) نه مخ واړه ولو او سیده کور ته لاړو۔ خلکو تعجب وکړو چه دے سړی خو د عادت خلاف وکړو چه بابا له اول لاړ نشو، بیا ورله هغوی عذر پیش کړو:

[لَعَلَّهٗ یَکُوْنُ مُرْهَقًا]

شاید چه سړے به ستړے وی، د سفر نه راغلے دے، بابا ته به نشی ورتللے، روستو به ورله راځی۔

خلکو ورله طعام راوړو او اعزاز او اکرام ئے وشو او ددهٔ کورته راغلل نو دهٔ هغوی ته د اسلام دعوت ورکړو نو خلکو پرے تهمت ولګولو او رد بد ئے ورته وویل او دا ئے وویل چه کله تهٔ ربّه (لات) ته ورنغلے مونږ په تا شکیان شو چه سړے صابی شویدے،

(په یو روایت کښے دی چه خلکو دهٔ ته د شرك سلام وکړو نو دهٔ ورته وویل چه دا سلام مهٔ اچوئ بلکه په تاسو لازم دی چه د جنتیانو سلام وکړئ (السلام علیکم) بیا ئے هغوی اسلام ته راووبلل۔ او دا ئے ورته وویل :

اے زما قومه ! آیا تاسو ما په کومه خبره تهمت کوئ، آیا تاسو ته پته نشته چه زهٔ ستاسو نه په نسب کښے غوره یم، او ډیر مال والا او ډیرے نفرئ والا یم، خو ما چه اسلام قبول کړو نو ددے وجه دا وه چه ما یو داسے دین ولیدو چه ددے نه هیڅ عقلمند انسان نهٔ لرے کیږی۔

نو زما نصیحت قبول کړئ او اسلام کښې داخل شئ او زما نافرمانی مۀ کوئ، قسم په الله یو خبر راوړونکے په یو قوم باندے یو خبر نۀ دے راوړے غوره د هغے نه چه ما تاسو ته راوړے،

نو خلکو ورته ردے بدے ووئیلے او دا ئے وویل چه قسم په لات چه زمونږ زړونو ته دا خبره راغله کله چه تۀ ربّه ته نزدے نۀ شوے۔ او تا د هغے په خوا کښې سر ونۀ خرئیلو چه تۀ صابی شوے ئے، نو هغۀ ته ئے ضرر ورکړو او بے عزتی ئے ورله وکړه چه د پلار نیکه دین دِے پریخودو نو دۀ د هغوی نه صبر وکړو، هیڅ ئے ورته ونۀ وئیل۔

بیا هغوی د هغۀ د کور نه راووتل او ددۀ په باره کښې ئے مشوره وکړه چه ددۀ سره څه وکړو نو کله چه د سهار د مانځه وخت راغے نو دے د خپلے کوټے سر ته وختلو او د مانځه دپاره ئے اذان وکړو نو د شا ته نه یو تن (اَوس بن عوف د بنو مالکو نه) په غشی ویشتو،

(او بعض وائی: وهب بن جابر چه د احلافو نه وو، هغۀ ویشتو، مگر اول قول غوره دے)

او په اکحل رگ باندے ولگیدو او وینه ترے روانه شوه۔ خپلوانو ئے بدله اخستله او دۀ ته ئے وویل چه ستا د خپلے وینے په باره کښې څه خیال دے؟، نو دۀ ورته وویل:

[لَا تَقْتَتِلُوْا فِیَّ، فَاِنِّیْ قَدْ تَصَدَّقْتُ بِدَمِیْ عَلٰی صَاحِبِهٖ]

زما په باره کښې جنگ مۀ کوئ ما خپله وینه قاتل ته بخښلے ده، دا یو کرامت وو چه الله تعالیٰ پرے زما عزت وکړو، دا شهادت دے چه الله تعالیٰ ما ته راچولے دے۔

زۀ گواهی کوم چه محمد ﷺ د الله رسول دے، قسم په الله هغۀ ما ته خبر راکړے وو چه تاسو به ما وژنئ، بیا ئے خپلے کورنئ ته وویل چه ما د هغه شهیدانو سره خخ کړئ چه د رسول الله ﷺ په ملگرتیا کښې شهیدان شویدی مخکښې ددے نه چه هغه ستاسو نه کوچ وکړو،

بیا عروه وفات شو او خلکو په طائف کښې د هغه شهیدانو سره خخ کړو۔

رسول الله ﷺ چه کله ددۀ د قتل نه خبر شو نو وے فرمایل:

[مَثَلُ عُرْوَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ مَثَلُ صَاحِبِ یَاسِیْنَ، دَعَا قَوْمَهٗ اِلَی اللّٰهِ تَعَالٰی فَقَتَلُوْهُ]

د عروه بن مسعود ﷺ مثال د هغه سړی دے چه په سورت یس کښې ئے واقعه راغلے

ده چه هغهٔ خپل قوم الله ته راوبللو نو هغوی هغهٔ لره شهید کړو۔

(امتاع الاسماع)

(**فوائد** : ۱- د مشرکانو دغه دوستي او محبت وی چه یو تن ئے مشر او محبوب وی لیکن کله چه حق قبول کړی نو بیا ئے سمدست دشمن شی، د حق سره دا خبرے ترلے شویدی۔

۲- په اذان کښے شهادت ډیره لویه مرتبه ده، ځکه چه دا د دعوت مقام دے، الله اکبر الله اکبر آوازونه کوی، او بیا داسے انسان چه گناهونه ئے هم معاف شوی وی د اسلام په وجه، او دے شخص په اسلام کښے دومره وخت هم نهٔ دے تیر کړے لیکن بعض کسانو کښے اهلیت وی او الله پکښے خیر لیدلے وی، د جنت اهل ئے گرزوی، غواړی چه ما سره په جنت کښے اُوه وسیږی)

هرکله چه عروه ﷺ قتل شو نو د هغهٔ ځوی ابو مَلیح بن عروه او د هغهٔ ورارهٔ قارب بن الاسود بن مسعود طائف والو ته وویل :

[لَا نُجَامِعُكُمْ عَلٰى شَيْءٍ اَبَدًا وَقَدْ قَتَلْتُمْ عُرْوَةَ]

هرکله چه تاسو داسے د عروه په شان بهترین مشر قتل کړو نو مونږ به تاسو سره په هیڅ خبره کښے نهٔ شریك کیږو۔

او دواړه راروان شو رسول الله ﷺ ته راغلل او په اسلام کښے داخل شول، او د مغیره بن شعبه ثقفی ﷺ کره دیره شول اُوسیدل تردے چه په رمضان میاشت کښے په نهم (۹) کال کښے د ثقیف قبیلے وفد راغے او اسلام ئے راوړو۔

د ثقیف قبیلے وفد او اسلام :

لږه موده (یو څو میاشتے) چه تیرے شوے نو طائف والا تنگ شو، ځکه چه دے خوا هم مسلمانان دی او دے خوا هم، فکرئے وکړو چه زمونږ مثال خو داسے شو چه لکه یوه جزیره په دریاب کښے، زمونږ خو زندگی تنگیږی، زمونږ طاقت د جنگ د گیر چاپیره عربو سره نشته، نو داسے کوو چه ایمان راوړو،

(او دا فکر ورته عمرو بن امیه چه د بنو علاج نه یو تن وو، ورکړو۔ امتاع)

نو داسے کوو چه یو سړے دے نبی ته ورلیږو چه خبره ورسره وکړی نو دوئ په خپل مشر چه عبدیالیل بن عمروئے نوم وو پسے جواب ولیږلو او دا خبره ئے پرے پیش کړه چه ته لاړ شه نو هغۀ ووېل: چه زۀ دا کار نشم کولے (یریدو چه دۀ سره به هم ثقیف قبیله داسے کار وکړی لکه چه عروه بن مسعود ﷺ سره ئے وکړو)

نو بیائے ووېل:

[لَسْتُ فَاعِلًا حَتّٰی تُرْسِلُوْا مَعِیَ رِجَالًا]

زۀ دا کار نشم کولے تردے چه تاسو ما سره نور سړی ولیږئ نو دوئ یو وفد تیار کړو او دا مشوره ئے وکړه چه ایمان به راوړو خو مشروط ایمان۔

شرطونه ئے مقرر کړل چه نبی ﷺ ته به دا بیانوو که اول شرط ئے ونۀ منلو نو دویم ته به راکوزیږو او که هغه ئے نۀ منلو نو دریم ته به راځو الخ۔

نو مدینے ته ئے وفد ولیږلو چه تقریباً دیارلس (۱۳) کسان وو چه په هغوی کښے عبدیالیل بن عمرو بن عُمیر، او حکم بن عمرو بن وهب، او شرَحْبیل بن غَیْلان او عثمان بن ابی العاص وو (چه دا پکښے د تولو کشر وو)

او اَوس بن عوف (قاتل د عُروه ﷺ) او نمیر بن خرشة او کنانه بن عبدیالیل وو،

دوی راروان شو هرکله چه "قناة" علاقے ته راورسیدل نو دلته ئے مغیره بن شعبه ﷺ ولیدو چه د رسول الله ﷺ د ملګرو اُوښان په خپل نمبر کښے څره وی، او د هغے حفاظت کوی، نو کله چه دۀ ولیدل نو منډه ئے کړه چه رسول الله ﷺ ته د دوی د اسلام زیرے ورکړی،

نو په لاره کښے ورسره ابوبکر صدیق ﷺ ملاؤ شو نو هغۀ ته ئے خبر ورکړو چه د ثقیف قبیلے قافله راغلے ده په شرطونو سره اسلام قبلول غواړی نو ابوبکر صدیق ﷺ مغیره ﷺ ته ووېل:

[اَقْسَمْتُ عَلَیْكَ لَا تَسْبِقْنِیْ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ حَتّٰی اَکُوْنَ اَنَا اُحَدِّثُهٗ]

تا له په الله قسم درکوم چه ته به ما نه رسول الله ﷺ ته مخکښے نۀ ځے تردے چه زۀ به اول خبر ورکوم۔

(دے ته اِدْخَالُ السُّرُوْرِ عَلَی الْمُسْلِمِ وائی، د خوشحالئ خبره مسلمان ته کول، دا هم لوی اجر لری) نو مغیره ﷺ وومنله۔

دا وفد مدینے ته راورسیدو نو رسول الله ﷺ د دوئ دپاره په مسجد کښے یوه خیمه ووهله (دے دپاره چه دلته ئے د عبادتونو په لیدلو سره زړونه نرم شی)،
(السیرة النبویة لابن کثیر)

او خالد بن سعید بن العاص ؓ به د دوی او د رسول الله ﷺ ترمینځ تللو (یعنی هغه ئے خدمت ته مقرر کړے وو)

نو کله چه به دوئ ته طعام راوړے شو نو دوی به نۀ خوړلو تردے چه خالد به اول وخوړلو او بیا خالد دوئ دپاره د معاهدے خط هم لیکلے وو۔

د ثقیف قبیلے د اسلام شرطونه

دوئ رسول الله ﷺ ته ووبل: مونږ ایمان راوړو خو په شرطونو سره، نبی ﷺ وفرمایل: وایئ کوم شرطونه دی؟ دوئ ووبل: مونږ په تا ایمان راوړو او اسلام منو خو [لَا نَتْرُكُ الزِّنَا] مونږ به زنا نۀ پریږدو، ددے اجازه به راکوے۔

نبی ﷺ وفرمایل: [دِيْنٌ وَفِيْهِ الزِّنَا] دا به څنګه دین وی چه په هغے کښے د زنا اجازت وی۔ داسے دین زۀ نۀ قبلوم۔ نو دوئ ووبل چه مونږ ایمان نۀ راوړو چه دا شرط نۀ منے، رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه اسلام زۀ نۀ قبلوم۔ دوئ جدا شول مشوره ئے وکړه او وے وئیل چه دا شرط به ورته پریږدو، بل باندے به ئے راونیسو، بیا راغلل چه ایمان به راوړو او د زنا پابندی هم راباندے ولګوه لیکن

[لَا نَتْرُكُ شُرْبَ الْخَمْرِ]

د شرابو څکل نۀ پریږدو۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: [إِسْلَامٌ وَفِيْهِ الْخَمْرُ]

اسلام او په هغے کښے دے د شرابو اجازت وی،

(څوك چه دا په دنیا کښے څکی الله به ئے په آخرت کښے محروم کړی، که څوك د شرابو په حالت کښے مړ شو نو الله به ئے جنت ته نۀ بوځی، شراب خو یو عظیم جرم دے)

بیا جدا شو او مشوره ئے وکړه چه تیك ده شراب به هم نۀ څکو، لیکن:

[لَا نَدَعُ الرِّبَا]

مونږ به سود نهٔ پریدو (ځکه چه ثقیف قبیلے به سود ډیر کولو)

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [دِيْنٌ وَفِيْهِ الرِّبَا]

داسے دین هم قبول نهٔ دے چه په هغے کښے دِے سود جائز وی۔ (سود خو الله سره د جنګ اعلان دے)

(**فائده** : ددے نه معلومه شوه چه یو سړے حق ته راځی نو په ګناه باندے به ئے نهٔ راولے، لکه د بعض صوفیانو طریقه دا ده چه یو تن تبلیغ ته بوځی نو هغهٔ دپاره د ګیرے خرئیلو اسباب اخلی او چرس ورله اخلی چه دا ځکئ خو تبلیغ کښے چلیږئ، دا د اسلام طریقه نهٔ ده، که اسلام ته راځی نو ډیره ښه ده او که نهٔ راځی نو الله ئے ذمه وار دے، البته اخلاقو سره به هغهٔ ته د ګناه بد والے ذکر کړے، ددے متبادل بل شے ورته وښایه، رسول الله ﷺ دلته دا ونهٔ وئیل چه دے خلقو ته به د زنا او د شرابو او د سود اجازه ورکړو او روستو به ښهٔ شی خپله به ئے پریدی، بلکه د اولے ورځے نه ئے پدے ګناهونو پابندی ولګوله چه دا په اسلام کښے جائز نهٔ دی، ایمان راوړو سره به سمدست دا څیزونه پریدی،

نو اصول دا دی چه د بل چا د هدایت دپاره به خپل دین او مونځ او عقیده نهٔ خرابوے، البته مستحب ورته پریخودے شے)

هغوی ووېل : چه دا درے واړه به ومنو خو یو بل شرط دے هغه دا چه :

[لَا تَهْدِمُ الرَّبَّةَ]

تهٔ به زمونږ ربه (لات) نهٔ نړه وے، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا مونږ نشو پریخودو، (په اسلام کښے بت پرستی نشته)

هغوی ووېل : چه صحیح ده خو زمونږ په لاس به ئے نهٔ نړوئ بلکه تهٔ او ستا ملګری به ئے ماتوی۔ نو نبی ﷺ ورسره دا شرط ومنلو۔

بعض روایاتو کښے دی : چه دوئ ووېل : زمونږ شرط دا دے چه درے کالو پورے به زمونږ ربّه نهٔ ماتوئ، نبی ﷺ دا ونهٔ منلو، بیا دوی یو یو کال ذکر کړو نبی ﷺ به ترے انکار کولو بیا دوی یوه میاشت ذکر کړه نو نبی ﷺ ورسره دا هم ونهٔ منله (دوئ دا وختونه ددے دپاره غوښتل چه د ثقیف د بیوقوفانو او ماشومانو او زنانو نه یریدل چه ددے په وجه به ماحول خراب شی)

نو په آخر کښې ئے وویل چه صحیح ده خو په مونږ باندې به ئے نهٔ ماتوې. نو رسول الله ﷺ ورسره دا خبره ومنله.

نو دوئ اسلام قبول کړو.

په روایت د ابن ماجه کښې په جید اسناد سره راغلی دی چه دا وفد په رمضان کښې راغلې وو نو رسول الله ﷺ دوئ له په مسجد کښې خیمه ووهله هرکله چه دوئ اسلام راوړو نو دوئ د میاشتې باقیمانده روژې ونیولې.

اوس بن حذیفه ﷺ وائی: مونږ د رسول الله ﷺ خوا ته د ثقیف په وفد کښې راغلو (نو کله چه مونږ اسلام راوړو) نو هره شپه به رسول الله ﷺ د ماسخوتن مانځه نه پس زمونږ خیمې خوا ته راتللو او مونږ سره به ئے په ولاړه خبرې کولې تردې چه د اُوږد ودریدو په وجه به ئے خپې ستړې شوې نو اړه ولې راړه ولې به ئے، نو زیاتې خبرې چه به ئے مونږ سره کولې نو هغه به د قریشو د طرف نه چه کوم مصیبتونه او حالات ورته رسیدلی هغه به ئے بیانول. (احمد، ابوداود وابن ماجه- ابن کثیر)

د عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه امیر کیدل

او هرکله چه دوئ اسلام قبول کړو نو رسول الله ﷺ په دوئ باندې کشر صحابی عثمان بن ابی العاص ﷺ امیر مقرر کړو،

او ددې وجه دا وه چه دې وفد دلته خیمې وهلې وې او دوئ به عثمان بن ابی العاص ﷺ په خپلو خیمو کښې پریخودو او اُوښان به ئے پرې څرول او هغه به ئے د نبی ﷺ خوا ته نهٔ راپریخودو نو هغه به د غرمې په وخت کښې د ملګرو نه څانله د نبی ﷺ خوا ته دوه درې ورځو کښې راتللو نو کله چه راغې، د نبی ﷺ سره ملاؤ شو نو د هغهٔ نه ئے اول دا سوال وکړو چه د الله نه وغواړه چه ما له علم راکړی.

نو د نبی ﷺ پدې خبره باندې ډیر خوښ شو، او بیا دهٔ د تفقه فی الدین په باره کښې تپوسونه وکړل چه په دین باندې انسان څنګه پوهیږی او د قرآن په باره کښې ئے تپوسونه کول تردې چه پدې موده کښې ئے د قرآن کریم زده کړه د رسول الله ﷺ نه وکړه، او کله چه به رسول الله ﷺ د غرمې په وخت کښې اُودهٔ وو (قیلوله به ئے کوله) نو

بیا به دے تللو او د ابوبکر صدیق ﷛ نه به ئے زده کړه کوله، او د دین معلومات به ئے حاصلولو او د تللو وخت پورے دهٔ ډیره حصه د قرآن زده کړے وه، او دهٔ مطالبه وکړه

[یَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! اِجْعَلْنِیْ اِمَامَ قَوْمِیْ]

اے د الله رسوله ! ما د خپل قوم امام جوړ کړه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[أَنْتَ إِمَامُهُمْ، وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ، وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلٰى أَذَانِهٖ أَجْرًا]

تهٔ د هغوی امام شوے، او د مقتدیانو د ضعیفانو لحاظ ساته په اقتداء کښے او داسے مؤذن څانله ونیسه چه په اذان باندے مزدوری نهٔ اخلی۔

[احمد ۱۶۳۷۹/۲۱/٤ ابوداود رقم : ۵۳۲، نسائی رقم : ۶۷۲ واسناده جید]

په روایت د طبرانی کښے دی : عثمان ﷛ رسول الله ﷺ ته دا وویل :

[أُدْعُ اللّٰهَ أَنْ يُّفَقِّهَنِیْ فِی الدِّيْنِ وَيُعَلِّمَنِیْ]

د الله نه وغواړه چه ما ته په دین کښے پوهه راکړی او علم رانصیب کړی۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [مَاذَا قُلْتَ ؟] تا څه وویل ؟ (یعنی دا خبره بیا وکړه، رسول الله ﷺ باندے دے خبرے ډیر اثر وکړو چه دا شخص ئے هسے وائی او که د زړهٔ نه) نو دے وائی چه ما ورته دوباره وکړه۔ نو وے فرمایل :

[لَقَدْ سَأَلْتَنِیْ عَنْ شَیْءٍ مَا سَأَلَنِیْ عَنْهُ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِكَ، اِذْهَبْ فَأَنْتَ أَمِيْرٌ عَلَيْهِمْ وَعَلٰى مَنْ تَقْدَمُ عَلَيْهِ مِنْ قَوْمِكَ]

[مجمع الزوائد: ۱۵۹۹۰] ورجاله رجال الصحيح غير حكيم بن حكيم بن عباد وَقَدْ وُثِّقَ]۔

تا ما نه داسے شے وغوښتو چه ما نه ستا هیڅ یو ملګری ونهٔ غوښتو، څه لاړ شه تهٔ د هغوی امیر شوے او په هغه چا چه تهٔ په هغوی باندے ورځے د خپل قوم نه۔

(یعنی په خپل ټول قوم باندے مشر شو۔ نو دے به روستو هم د خپل قوم امام وو)

بیا په یو وخت کښے په دهٔ باندے پیریان ناست وو، نو رسول الله ﷺ ته راغے او شکایت ئے وکړو چه

[يَارَسُوْلَ اللّٰهِ عَرَضَ لِیْ شَیْءٌ فِیْ صَلَوَاتِیْ، حَتّٰى مَا أَدْرِیْ مَا أُصَلِّیْ]

اے د الله رسوله ! ما ته زما په مونځونو کښے څه شے راپیښیږی، تردے چه زهٔ نهٔ

پو هیریم چه ما خو مره مونځ وکړو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : رانژدې شه، نو هغه وائي : زۀ رانژدې شوم رسول الله ﷺ زما په سینه کښې په لاس سره گوزار وکړو او زما په خوله کښې ئې لاړې توکړې او وې فرمایل :

[اُخْرُجْ عَدُوَّ اللّٰهِ]

اې د الله دشمنه بهر وځه۔ او دا کارئې درې کرته وکړو بیا ئې وویل :

[اِلْحَقْ بِعَمَلِكَ]

لاړ شه خپله وظیفه ډېر سنبالوه۔

عثمان ﷺ وائي : [فَلَعَمْرِيْ مَا اَحْسِبُهٗ خَالَطَنِيْ بَعْدُ]

قسم په الله زما گمان نۀ دې چه بیا ما سره هیڅکله یوځائې شوې وي۔

[مسلم : ۹۸۳ وابن ماجه : ۳۵٤۸]

دا عثمان ﷺ بیا د ډېرو ښکلو صفاتو خاوند وو، انتهائي **سخاوت** والا وو۔

طبراني د ابونضرةؓ نه روایت راوړیدې هغه فرمائي :

زۀ عثمان بن ابي العاص ﷺ خوا تـه راغلم په ایام العشر (لسو ورځو د ذي الحجه) کښې او هغه په یو کور کښې وو چه د خبرو دپاره ئې وزگار کړې وو، نو هغۀ باندې یو گډ تیر شو، نو د هغې مالك ته ئې وویل : دا گډ دې په څو واخستو ؟ هغۀ وویل : په دولس (۱۲) درهمو۔ نو ما وویل : که ما سره دولس (۱۲) روپئ وې ما به هم یو گډ اخستې وې او قرباني به مې پرې کړې وې او خپل اهل ته به مې خوراك ورکړې وې،

نو هرکله چه زۀ د عثمان ﷺ د خوا نه راپاڅیدم نو ما پسې ئې یو استازې راولیږلو او هغۀ له ئې یوه بټوه ورکړې وه چه په هغې کښې پنځوس (۵۰) درهمه وو۔

ابونضرةؓ وائي : ما هیڅکله داسې دراهم نۀ وو لیدلي چه ډېر برکت والا وي ددې نه۔ دائې ما ته د ثواب په نیت راکړې او زۀ ورته ډېر محتاج وم۔

[رواه الطبراني ورجاله رجال الصحیح، مجمع الزوائد : ۱۵۹۹۳]

OOO

هرکله چه دا وفد بیرته خپل قوم ثقیف ته واپس شو نو په لاره کښې کنانه بن عبدیالیل وویل : ما ته ثقیف قبیله ستاسو نه ډېره ښه معلومه ده، (چه ډېر سخت ضدیان دي) نو تاسو د هغوی نه خپل اسلام پټ کړئ او د جنگ او قتال نه ئې ویره

ویٔ۔ نو کله چه دویٔ طائف ته رانزدے شو نو دویٔ خپلے جامے د قوم په شان کړے او اُوښان ئے تیز کړل او په اُوښانو باندے ئے تیل ولګول لکه یو قوم چه غم یا خفګان ورته رسیدلے وی۔

نو هرکله چه دویٔ قوم ته رانزدے شو، ثقیف ورته استقبال ته راووتل نو ثقیف قبیلے خپل مینځ کښے ووېل : [مَا جَاءَ وُكُمْ بِخَيْرٍ] دا خلك تاسو ته په خیر سره نهٔ دی راغلی۔ (څه د خیر خبر ورسره نشته) نو هرکله چه خپل کلی ته ننوتل نو سیده لات خواته ورغلل او هلته لږ ساعت کیناستل (لکه چه دا د هغوی په جاهلیت کښے عادت وو) بیا هر یو سړے خپل خپل کور ته واپس شو نو د ثقیف هر سړے په ډیر جوش کښے راغلو او دا ئے ووېل چه تاسو څه وکړل ؟

دویٔ ووېل : مونږ د یو داسے سړی د خوا نه راغلو چه ډیر سخت دے، هیڅ خبره نهٔ منی، په خپله مرضیٔ کار کوی، ځکه چه په توره سره ئے په خلکو غلبه کړیده او عرب ئے تابع کړیدی او تولو خلکو ورته غاړه ایخودے ده نو هغهٔ مونږ ته ډیرے ګرانے خبرے پیش کړے، یو دا چه لات به نړه ویٔ، او سود به نهٔ کویٔ او شراب او زنا حرام دی۔

نو ثقیف اول کښے جذبه کښے وو دا ئے ووېل چه

[وَاللّٰهِ لَا نَقْبَلُ هٰذَا اَبَدًا]

قسم په الله مونږ دے خبرو منلو ته تیار نهٔ یو، نو دے وفد ورته ووېل چه خپلے وسلے تیرے کړیٔ او جنګ ته تیارے ونیسیٔ او خپلے قلعه ته وخیژیٔ۔ [وَرُمُّوا حِصْنَكُمْ]

نو ثقیف قبیله اول کښے جذباتو کښے وو کله چه دوه یا درے ورځے تیرے شوے چه د جنګ اراده ئے کوله نو الله تعالیٰ د هغوی په زړونو کښے رعب واچولو او دا ئے ووېل : قسم په الله مونږ دهٔ د جنګ طاقت نهٔ لرو، تول عرب ئے تابع شویدی۔

نو بیرته واپس شیٔ او دغه خبرے ورسره ومنیٔ او په همدغے ورسره صلح وکړیٔ۔

نو هرکله چه وفد ولیدل چه ثقیف په یره کښے شو او امن ئے په خوف او جنګ باندے غوره کړو نو بیا ئے ورته خبره ښکاره کړه چه مونږ ورسره دا تولے خبرے منلی دی، او مونږ اسلام راوړیدے او تاسو ته هم دعوت درکوو چه اسلام راوړیٔ۔

او مونږ دا نبی د تولو نه زیات پرهیزګار او ډیر وفادار او ډیر رحم کونکے او ډیر رشتینے موندلے دے او مونږ ډیر په خیریت او برکت سره راواپس شوی یو۔

نو هغوئ ورته وویل: تاسو مونږ ته دا خبره ولې پټه کړه او مونږ مو په سخت غم کښې واچولو نو دوئ ورته وویل:

[اَرَدْنَا اَنْ یَّنْزِعَ اللّٰهُ مِنْ قُلُوْبِکُمْ نَخْوَةَ الشَّیْطَانِ]

مونږ دا غوښتل چه الله تعالیٰ به ستاسو د زړونو نه د شیطان وسوسے او تکبر وباسی۔ نو دوئ هم اسلام راوړو او خبره ئے ومنله۔

د لات بُت ماتیدل او ختمیدل:

بیا څه ورځے پس رسول الله ﷺ د دوئ سره د ربه (لات) د ماتولو دپاره مغیره بن شعبه ؓ او ابو سفیان بن حرب ؓ ولیږل چه دوئ دغه بت مات کړی،

لات یو بت وو چه دوئ د هغے سره ئے یوه کوټه جوړه کړے وه چه هلته به د لات عبادت کیدو، او خلکو به هلته خپلے نذرانے او هدایا وړاندے کولے او پدے سره به ئے د بیت الله مشابهت کولو۔

ددے دواړو د ثقیف قبیلے سره تعلق د محبت او رشته داریٔ وو۔ نو کله چه دا دواړه ورغلل نو ټوله ثقیف قبیله ورته راووته او زنانه ئے سر تور سرونه راووتل او لات پسے ئے ژړل او په هغه باندے ئے ایر کولو، او سړی او زنانه پدے انتظار کښے وو چه که چرته زمونږ بابا راولګیدو او دا کسان ئے مړهٔ کړل نو ایمان نهٔ راوړو ځکه چه مونږ به په حقه یو او که دے سړی زمونږ بابا ختم کړو نو بیا به ایمان راوړو بیا به مونږ په غلطه یو۔

لیکن د هغوی دا خیال نهٔ وو چه هغه به څوک وران کړی، بلکه دا عقیده ئے وه چه هغه به د خپل ځان حفاظت کوی، او د ورانونکی لاسونه به ماتوی،

نو مغیره بن شعبه ؓ ورمخکښے شو او کوداله او تبرګے ئے راواخستو او ګوزار ئے پرے وکړو نو په سر ئے ووهلو بیا ئے لاسونه مات رامات کړل او ذره ذره ئے کړو او علاقه ئے ورله هموار کړه، او د هغے نه ئے خزانه راویسته چه مالونه او سرهٔ او سپین وو۔

بعض روایاتو کښے راغلی دی چه مغیره بن شعبه ؓ خپلو ملګروته وویل:

[لَاُضْحِكَنَّكُمُ الْيَوْمَ مِنْ ثَقِيْفٍ]

چه نن زهٔ تاسو د ثقیف پسے خندوم، (یو ګپ ورسره لګوم) نو دهٔ ګورز راواخستو نو

پـه هغې باندې ئې لات ووهلو بیا ئې لړه منډه کړه او ځان ئې راوغورزولو، او ځان ئې داسې جوړ کړو لکه پیریان چه پرې راغلي وي چه لاسونه ئې هم وهل او خپې هم.

نو ثقیف قبیلې په یو آواز چغه کړه او دائې وویل:

[اَبعَدَ اللّٰهُ الْمُغِيْرَةَ قَدْ قَتَلَتْهُ الرَّبَّةُ]

چـه الله دې مـغیـره هـلاك کړي، ربې (لات) ووژلو، او کله ئې چه مغیره ﷺ ولیدو چه راپریوتو نو ډیر خوشاله شو او دائې وویل:

[مَنْ شَاءَ مِنْكُمْ فَلْيَقْتَرِبْ وَيَجْهَدْ عَلٰى هَدْمِهَا فَوَ اللّٰهِ لَا تُسْتَطَاعُ اَبَدًا]

چـه کـه څوك غواړي نو ددې خوا ته دې رانزدې شي، او دا دې مات کړي (که نر وي)، قسـم پـه الله ددې د مـاتـولو طاقت هیڅوك نهٔ لري، نو مغیره بن شعبه ﷺ پرې راټوپ کړې او ویې فرمایل:

[قَبَّحَكُمُ اللّٰهُ يَا مَعْشَرَ ثَقِيفٍ اِنَّمَا هِيَ لُكَاعٌ، حِجَارَةٌ وَمَدَرٌ]

الله دِې تاسو تباه کړي اې ثقیف قبیلې ! دا ربّه خو رذیله ده، کاڼړي او ختې نه جوړه ده، (دا چا تـه څـه وئیـلې شي، نهٔ چا له ضرر ورکولې شي او نهٔ فائده) نو پدې کنبې دومره طاقـت کـوم ځـائې نه راغې. بیا ئې د لات دروازه ووهله نو هغه ئې ماته کړه بیا په دیوال وختلو او ملګري هم ورسره وختل نو پدې طریقه ئې د هغې نه یو یو کاڼړې غورزولو او ثقیف قبیلې ورته کتل تردې چه هغه کوټه ئې د زمکې سره همواره کړه،

نو دې وخت کنبې د هغې منجور (صاحب المفاتیح) کوم سره چه ددې کوټې چابي وه وویل:

[لَيَغْضَبَنَّ الْاَسَاسَ فَلَيَخْسِفَنَّ بِهِمْ]

چه که مغیره ﷺ بـنیادونو تـه ورسیدو نو لات بـه ئې په زمکه ننباسي، (لکه دا خبرې مشـرکـان پـه هر دور کنبې کوي) هرکله چه مغیره ﷺ دا خبره واوریـده نو ملګرو تـه ئې وویـل چـه زهٔ ددې بـنیاد هم راکولاووم، نو بنیادونه ئې هم ورله وسپړدل تردې چه د هغې خاورې ئې راویستې او د هغې نه ئې ګاڼړې او سرۀ او کپړې راواخستې،

[فَبُهِتَتْ ثَقِيفٌ]

نـو دغـه وخت کنبې ثـقیف قبیـلـه حیرانـه شوه، او د خلکو په زړونو کنبې د اسلام

شمعه بله شوه۔

نو وفد د هغه ځائے نه راروان شو او د هغې ګانړه او جامے ئے رسول الله ﷺ ته راوړسول نو رسول الله ﷺ په همدغه ورځ تقسیم کړل او د الله حمد ئے ووئیلو چه هغهٔ د خپل نبی مدد وکړو او خپل دین ئے عزتمن کړو۔

[الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله والثلاثة الخلفاء ۲/۲۴۳) والدرر فی اختصار المغازی والسیر: ۱/۲۴۷]

او بعض کتابونه لیکی چه ابو ملیح بن عروه بن مسعود رضی الله عنه مطالبه وکړه چه د لات د خزانے نه دے زما د پلار (عروه) قرض ادا کړے شی، نو رسول الله ﷺ ابوسفیان او مغیره رضی الله عنه ته حکم وکړو چه ددهٔ قرض ادا کړئ نو دے وخت کښے قارب بن اسود بن مسعود رضی الله عنه ووئیل: چه یا رسول الله! زما د پلار (اسود) قرض هم ادا کړه،

رسول الله ﷺ وفرمایل: اسود خو مشرك مړ شوید ے، نو قارب رضی الله عنه ووئیل:

[یَارَسُوْلَ اللّٰهِ لٰکِنْ تَصِلُ مُسْلِمًا ذَا قَرَابَةٍ]

لیکن تهٔ خو صله رحمی د یو رشته مسلمان سره کوے۔

ځان ئے یاده ولو او دائے ووئیل چه د اسود قرض په ما باندے دے، او ما نه ئے مطالبه کیږی، نو رسول الله ﷺ ددهٔ دپاره هم حکم وکړو چه د اسود قرض هم ددے مال نه ادا کړئ۔ نو ابوسفیان رضی الله عنه او مغیره رضی الله عنه د هغوی قرضونه ادا کړل۔

(الدرر فی اختصار المغازی والسیر)

(د بت خانو نه چه کوم مالونه حاصل شی پس د ورانولو د هغے نه نو هغه غنیمت وی او د مسلمانانو مجاهدینو دپاره د هغے استعمالول جائز دی)

نو پدے طریقه سره د لات قصه ختمه شوه چه ددے ډیره اُوږده زمانه عبادت شوے وو۔ نبی ﷺ چه ثقیف ته کومه دعاء کړے وه نو هغه پدے ځائے کښے قبوله شوه چه ټول الله تعالیٰ په ایمان کښے داخل کړل او طائف پدے طریقه باندے فتح شو او دا علاقے الله تعالیٰ خپل نبی ته ورکړے۔

طائف پدے طریقه فتح شو او علاقه ټوله د رسول الله ﷺ په تسلط کښے راغله۔

دا واقعه د حنین ده چه الله سبحانه وتعالی د قرآن کریم د سورة التوبه تقریباً په یوه

رکوع کښې ذکر کړیده، او سورة الفتح کښې ئې دے ته اشاره کړیده۔

دا اتم کال د هجرت وو چه پدے واقعه باندے ختم شو، او پدے طریقه د عربو سره جنګونه ختم شو چه ابتداء ئې د بدر نه شوے وه او اختتام ئې په حنین باندے وشو، دا دواړه جنګونه ډیر اهم دی، پدے وجه دا عموماً یو ځائے ذکر کیږی، او وئیلے شی چه بدر او حنین۔

بیا د حج وخت راغے او عتاب بن اسید ﷛ په ملګرو حج وکړو او مشرکان هم حج ته راغلی وو۔

د هجرت نهم کال داخلیدل

ددے نه روستو نهم کال داخل شو، چه هغے ته عام الوفود وائی، عامو قبیلو د عربو اُوسه پورے ایمان نهٔ راوړو، پدے انتظار وو چه محمد رسول الله ﷺ به په مکے والو غالبه کیږی او که نهٔ، که غالبه شو نو دے به په حقه وی، او که مکے والا پرے غالب شول نو دے به په حقه نهٔ وی، اُوس چه هر کله غلبه وشوه نو معلومه شوه چه دے حق نبی دے، نو دغه وخت کښې : [وَرَاَیۡتَ النَّاسَ یَدۡخُلُوۡنَ فِیۡ دِیۡنِ اللّٰهِ اَفۡوَاجًا]

خلك د الله دین کښې په ډلو ډلو داخلیدل شروع شول۔ د هر طرف نه فوجونه راروان دی، او اسلام کښې په خپله خوښه داخلیږی، یو قوم دے او بل قوم دے چه په دوه کالو کښې یو لاکه څلویښت زره (۱٤۰۰۰۰) مسلمانان تیار شو۔

یو وخت داسے وو چه نبی ﷺ د خلکو نه پټیدو او په یره او تکلیف حالت کښې ئې زندګی تیره وله، خلکو د هغهٔ او د ابوبکر صدیق ﷛ د رانیولو او وژلو پسے انعامات مقرر کړی وو، او اُوس داسے وخت راغلو چه رسول الله ﷺ خلیفه او بادشاه دے، او مکه کښې د هغهٔ ګورنران مقرر شول، او په مدینه او په مختلفو علاقو د حجاز باندے د هغهٔ بادشاهی راغله، عام کافران په یره کښې دی،

نبی ﷺ د حنین او طائف نه په ډیره خوشحالئ راواپس شو او الله چه ورسره کومه وعده کړے وه هغه ئې رشتینی وخودله۔

او دا یو عجیب تاریخ وو چه پدے تاریخونو سره ټول تاریخونه بدل شول۔

د حنین او د طائف د فتح نه روستو ابوبکر صدیق ﷛ هم حج وکړو،
بیا نهم کال داخل شو

د نهم کال کارونه :

دے کال کښې راتلونکې کارونه وشول،

(۱) بعث المصدقین۔ (د زکاة او جویه راټولونکو لیږل)

په اسلامی حکومت کښې دا یو ضروری قانون دے چه زکاة به حکومت ته ورکړے کیږی، ځکه چه د زکاة په وجه باندے جهاد کیږی او د زکاة په وجه د مسلمانانو نور رفاهی د خیر کارونه کیږی، لکه لارے او سړکونه او پُلونه جوړه ول او د یتیمانانو او د کنډو او مسکینانو او د مجاهدینو تنخواه، او دا پروګرامونه په زکاة باندے حل کیږی، ددے وجه نه په سورة التوبه کښې الله تعالیٰ د زکاة مسئله راوړیده ځکه چه دا د جهاد سورت دے، او په جهاد کښې د زکاة ډیر ضرورت دے،

نو په اسلامی حکومت کښې به دا قانون وی چه د زکاة مالونه به حکومت ته جمع کیږی، بیا کوم مالونه به ورکړے کیږی، نو صرف اموال ظاهره، یعنی ګډے بزے، اُوښان، غوا میخے، او غنمو وریشو او وریژو او کجورو وغیره زکاة به حکومت ته ورکړے کیږی، وجه دا ده چه ددے څیزونو حفاظت حکومت کوی، نو زکاة به ئے هم هغوی ته ورکړے کیږی، لکه په عسل (ګبین) کښې زکاة نشته مګر که حکومت ئے د حفاظت پروګرامونه کول نو بیا به هغوی ته عشر ورکولے شی،

او که حکومت ئے حفاظت نهٔ کولو نو بیا په هغے کښې زکاة نهٔ وی،

بل دی اموال باطنه۔ لکه سرهٔ او سپین او د هغے په ځائے نوټونه، ددے زکاة به هر شخص په خپله خوښه ورکوی، ځکه چه د پیسو حفاظت حکومت نهٔ کوی، ددے وجه نه رسول الله ﷺ به صرف د ظاهری مالونو زکاة د حکومت دپاره اخستو، دے دپاره چه حکومت پدے سره فراخه شی۔

نو رسول الله ﷺ پدے کال زکاة راټولونکی ولیږل، تقریباً شپاړس (۱۶) عاملان ئے مختلفو علاقو ته ددے خدمت دپاره ولیږل، ورسره کله جزیه راټولول هم وو اګر که

جزیه ددے کال په آخر کښے د غزا د تبوك نه پس په کافرو مقرر شوے وه،

(٢) اَلسَّرَايَا وَالْبُعُوْثُ لِلْجِهَادِ۔

د جهاد دپاره ئے فوجونه او سرایا او دستے لیږلے دی،

(٣) دریم وفود راتلل۔

دا وفود ډیر اُوږده دی، لږ شان مخکښے هم راغلی او بیا اُوږده شویدی تردے چه د نبی ﷺ د وفات پورے بلکه د وفات نه بعد به هم راتلل، څکه په سیرت کښے دا لږ روستو کولے شی، د وفود معنیٰ دا ده چه عامو خلکو ته پته ولګیده چه اسلام د الله تعالیٰ حق دین دے او دا نبی حق پیغمبر دے، وګوره یواځے تن سَره د کمزورتیا نه په ټولو عربو باندے الله غلبه ورکړه، دا دلیل دے چه ددهٔ سره الله تعالیٰ مدد کوی، او دا ئے حق نبی دے۔

نو پدے کښے به قومونو او قبیلو خپل وفدونه رالیږل چه اسلام قبول کړی او دوئ به دین هم زده کولو او بیا به واپس تلل او خپلو قومونو ته به ئے هغه بیانول، نو پدے وجه الله تعالیٰ په لږ وخت کښے اسلام لرے دنیا ته ورسولو۔

د وفد معنیٰ هغه میلمانهٔ چه قوم د یوے خبرے دپاره رالیږلی وی او د مشرانو سره ملاویږی۔

(٤) څلورم: د رسول الله ﷺ خپل غزوات چه خپله پکښے شریك شویدے۔


ددے نه روستو رسول الله ﷺ خپله یوه غټه غزوه کړیده چه هغے ته غزا د تبوك وائی، او د هغے نه بعد ئے ابوبکر صدیق ؓ په همدے نهم کال باندے د حج امیر مقرر کړو او په لسم کال باندے خپله حج ته لاړو چه هغے ته حجة الوداع وائی، او د هغے نه روستو نبی ﷺ وفات شویدے۔

او ددے ترمینځ نور ډیر کارونه شویدی چه د هغے تفصیل به راشی لکه :

(٢) رَجْمُ الْمَرْأَةِ الْغَامِدِيَّة (٢) وفات د نجاشی بادشاه، (٣) د رئیس المنافقین وفات۔

(٤) غزا د تبوك۔ (٥) عام الوفود ۔ (٦) د جبریل علیه السلام د تعلیم د دین دپاره راتلل۔ (٧) د مسجد ضرار نړیدل پس د واپسئ د تبوك نه۔

لویه غزا به مخکښے ذکر کړو بیا به دا نور راځی۔


The site of the battle
Mu'tah (629A.D.)

غزوة تبوک

یا

غزوهٔ عُسره

(رجب سنه ۹ هـ)

دا غزا په قرآن کریم کښې په سورة التوبه کښې ذکر شویده، او دے ته ئې سَاعَةَ الْعُسْرَه وئیلے ده۔ یعنی هغه ساعت چه د سختئ وو۔

او د احادیثو په اصطلاح کښې ورته جَیْشُ الْعُسْرَةِ وائی۔ یعنی د سختئ فوج۔

غزوهٔ تبوك ورته پدے وجه وائی چه رسول الله ﷺ سره د ملګرو نه تبوك علاقے ته تلے وو۔

تبوک : د مدینے نه په شمال جانب کښې دے، او د دمشق نه په نیمائی لاره کښې دے، کله چه یو تن خیبر طرفته ځی نو بیا بنی طرف ته لاره تبوك ته ستنه شی، د مدینے او د تبوك ترمینځ تقریباً اُوه سوه (۷۰۰) کیلو میټره لاره ده، او شام پورے نهه سوه (۹۰۰) ده۔ (جدید معلومات سره (۶۲۶) کیلو میټره ده)۔

دا ډیره لاره ده، پیاده مزل پکښې ډیر وخت اخلی ددے وجه نه رسول الله ﷺ دا سفر په شپاړس (۱۶) ورځو کښې د یو طرف نه او شپاړس (۱۶) د بل طرف نه کړیدے، (۳۲) ورځے، او شل (۲۰) ورځے ئې هلته تیرے کړیدی نو په غزا د تبوك باندے (۵۲) ورځے ولګیدے۔

او دا اعصابی جنګ وو، بدنی معرکه په کښې ونشوه، بلکه الله سبحانه وتعالیٰ په مومنانو باندے امتحان راوستے وو، چه دوی تیاریږی او که نهٔ، لکه اکثرو اوقاتو کښې الله تعالیٰ په بندګانو امتحان راولی چه زما حکم ته تیاریږی او که نهٔ، او کله چه تیار شی نو آسانی پکښې راشی۔ نو پدے امتحان کښې هم الله تعالیٰ عام مؤمنان کامیاب

کړل، سوئ دیو څو منافقانو نه چه هغوی ناکام شو.

غزا د تبوك په نهم (۹) کال د هجرت کښے د رجب په میاشت کښے واقع شویده، رسول الله ﷺ په جمادی الثانیه کښے ددے غزا دپاره تیارے کولو نو عربو به وئیل چه دا څنګه پدے میاشت کښے تیارے کوی حال دا چه دا خو عزتمنه میاشت ده او پدے کښے خو جنګ حرام دے، (لکه چه هغوی په خپله طبع باندے میاشتو له عزت ورکولو نو دے میاشتے ته ئے پدے کال باندے عزت ورکړے وو) نو الله رب العالمین په سورة التوبه کښے آیت نازل کړو:

﴿ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِیْ كِتَابِ اللّٰهِ ﴾ [۳٦]

یقیناً د الله په نیز باندے د میاشتو شمار دولس میاشتے دے د الله په کتاب کښے، چه څلور د هغے نه عزتمنے میاشتے دی.

او هرچه جمادی الثانیه ده نو هغه عزتمنه میاشت نهٔ ده، بلکه خلکو پکښے نسیء کړے وه او د رجب عزتمنے میاشتے عزت ئے دے ته رانقل کړے وو، لهذا دوی ورله د خپل طرفنه عزت ورکړے وو.

دا د عربو بدعت وو چه الله تعالیٰ خاصو څلورو میاشتو ته عزت ورکړے وو نو دوئ به دا عزت دیوے میاشتے نه په خپله طبع بلے ته نقل کولو، د خپلو حاجتونو او ضرورتونو د وجه نه، ځکه چه په دے کښے د دوئ جنګونه بند شو نو بیا به ئے تجارتونه کول، او خپل معیشت به ئے برابرولو.

نو قرآن کریم ذهن سازی وکړه چه د تبوك غزا دپاره تیاری د دوه وجونه بیخی صحیح ده، یوه وجه دا چه جمادی الثانیه میاشت د الله په نیز عزتمنه نهٔ ده، (جنګ پکښے جائز دے) او دویمه وجه دا ده چه دا خو دفاعی جنګ دے، نهٔ اقدامی، یعنی د کافرانو د طرف نه حمله ده نو مسلمانان ئے دفاع کوی، او په دفاعی جنګ کښے دا قانون وی چه که یو کافر تا سره په جمات کښے جنګ کولو نو تهٔ به ئے هم ورسره په جمات کښے کوے، او که په مسجد حرام کښے وو او که په عزتمنه میاشت کښے وو نو تا دپاره د هغوی سره دفاعی جنګ جائز دے. نو الله وفرمایل:

﴿ اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ ﴾

(بقره: ۱۹٤).

کـه څوك درسره پـه عـزتـمـنـه میاشت کښې قتال کوی او هغوی ئې د عزت خیال نهٔ ساتی نو تاسو لـه هم د هغوی سره قتال جائز دے۔

دا ډیره ناشنا غزوه ده چه الله تعالیٰ پکښې مؤمنان بیل جدا کړیدی او منافقان جدا، څکه چه د الله تعالیٰ طریقه دا ده چه امتحانات راولی :

[لِيَمِيزَ اللّٰهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ]

دے دپاره چه الله تعالیٰ پلیت د پاك نه جدا کړی، چه څوك مؤمن دے، څوك منافق او کـافر، څوك په دین خفه کیږی او څوك نهٔ خفه کیږی، څوك دنیا والا دے، څوك آخرت والا۔

سبب د غزا :

ددے غـزا سبب دا وو چـه عـامـه علاقه د عربو فتح شوے وه، د مسلمانانو لاس کښے راغلے وه سوئ د شام او د هغے د ماحول نه چه دا عرب وو خو د رومیانو په دوئ باندے تسلط وو۔ هغـوی پـه خپـل لاس کښے نیولی وو او د هغوی سره ملګری شوی وو، د هغوی په اشارو چلیدل،

غسـان قبیـلـه ئې ورته وئیله چه دا بادشاهان وو د شام لیکن د روم د بادشاه تابعدار وو۔ او د روم بادشاه په دغه زمانه کښے هرقل وو، او د روم حکومت په هغه زمانه کښے داسے حیثیت لرلو لکه زمونږ پدے زمانه کښے د امریکے حیثیت، چه ظاهری قوتونه ورسره زیات وو، عامو خلکو به دوئ له مالونه او جزیے ورکولے،

کـلـه چـه الله تـعالیٰ مختلفے علاقے فتح کړے او خصوصاً غزا د مُؤته وشوه چه درے زره (۳۰۰۰) مـجـاهـدینو په دوه لاکهه (۲۰۰۰۰۰) فوج د کفارو باندے غلبه کړے وه، نو دے پـه عـامـه دنیا کفارو باندے یو اثر کړے وو، او د مسلمانانو یو ښائسته شهرت او عزت جوړ شوے وو، نـو رومیانو اراده وکړه چه د مسلمانانو دا عزت بیرته ختم کړی، چه د دوئ نوم ختم شی،

او دا یـره هـم ورسره وه چه دوئ ته نزدے کوم عرب چه د دوئ تابع دی چه دا د دوئ نه آزادی وانخلی او د رسول الله ﷺ سره بیرته ملګری نشی،

نـو هـغـه دا خبره لازمـه وګـنـړلـه چـه د مسلمانانو قوت پـه خپـل ځای ختم کړی مـخـکښے ددے نـه چـه د دوئ دپاره یو لوی خطر جوړ شی چه بیا به د هغے ختمول ډیر

مشکل شی، او مخکښې ددې نه چه په گاونډي عربي علاقو کښې پریشانۍ او انقلاب او تزلزل او تحریك راپورته شي۔

نو اراده ئې وکړه چه په مدینه حمله وکړي، خپله ئې هم اراده وکړه او ځان سره ئې د شام غساني بادشاه ملګرے کړو، (شرحبیل بن عمرو غساني)

(او غساني بادشاه چونکه مدینې ته نزدے وو نو پدے وجه چه په مدینه کښې به لړ کش وشو، او ناشنا حال به راغے، نو خلکو به وئیل چه غساني راغلو او که بل څه چل وشو) په مدینه کښې یره وه، ځکه چه د کفارو حمله چه په یو ځائے کښې کیږي نو ډیره یره وي، خاصکر چه مضبوطه بادشاهي وي۔

تردے چه حدیث کښې راغلي دي: عمر فاروق ﷺ زما په مدینه کښې یو کور او بل په عوالي المدینه (باندې) کښې کور وو، نو یوه ورځ به زۀ مدینې ته راتلم او یوه ورځ به زما ګاونډي راتللو،

[كُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُوْلَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

مونږ به په نوبت باندې رسول الله ﷺ ته راتللو۔

(ولې ئې د رسول الله ﷺ مجلس پریخودو؟ وجه دا ده چه د بچو رزق هم ورپه غاړه دے، څه محنت به کوي، نو هلته به ئې په پټو وغیره کښې کارونه کول،

نو عمر ﷺ فرمائي چه مونږ به علم نۀ پریخودو، نو یوه ورځ به ما زده کولو او انصاري به خپل کار کولو، او په بله ورځ به انصاري تللو چه کوم خبره به ئې واوریده نو ماته به ئې بیان کړه،

امام بخاريؒ وئیلي دي: بَابُ التَّنَاوُبِ فِي الْعِلْمِ۔ په علم کښې نوبت پکار دے، یعنی که هره ورځ علم له وخت نشي ورکولے نو نوبت پکار دے، سهار او ماښام ورکړه۔ د علم د زده کړې مختلفې طریقې دي۔

نو انصاري لاړو واپس راغے، او دا هغه زمانه ده چه رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو نه د خفګان په وجه په یوه مَشْرُبه (بالخانه) کښې جدا شوے وو، د خپلو بیبیانو خوا ته نۀ راتللو۔ او دا د مدینې د مسجد نبوي نه لرې ورانده ده چه عامو خلکو ته نۀ ده معلومه۔ اُوس پکښې دے وخت کښې د هغې نه ګیر چاپیره دیوال تاو دے، او په هغې کښې مقبره ده، او دغه کوټه اُوس راپریوتے ده او لږ لږ آثار ئې شته۔

دلته رسول الله ﷺ نهه ویشت (۲۹) ورځې تیرې کړې او پدې وخت کښې د اس نه هم پریوتې وو، خپه مبارکه ئې ختلې وه۔

(د الله نبی بشر وو انسانی عوارض به پرې راتلل)

نو خلکو کښې غلطه خبره بې تحقیقه مشهوره شوه چه رسول الله ﷺ خپلې تولې بیبیانې طلاقې کړېدی، نو دې انصاری هم بغیر د تحقیق نه د خلکو نه دا خبره واوریده او ما ښام باندې ته راغې، عمر بن الخطاب ﷺ وائی ما ته ئې په ډیره سختئ سره دروازه ووهله، نو زهٔ راوتلم نو ما ورته وویل :

[أَجَاءَ الْغَسَّانِيُّ ؟]

آیا غسانی بادشاه حمله وکړه چه داسې هیبت سره دې زما دروازه ووهله؟ نو هغهٔ وویل : [بَلْ اَعْظَمُ وَاَکْبَرُ مِنْ ذٰلِكَ] بلکه ددې نه غټه او لویه خبره واقع شویده،

هغه دا چه نبی ﷺ خپلې تولې بیبیانې طلاقې کړېدی، نو ما وویل چه ما به خپلې لور حفصې ته وئیل چه د رسول الله ﷺ اکرام کوئ ورنه تاسو به طلاقې کړی، او زهٔ یریدم چه داسې وخت به راځی، نو زهٔ سهار وختی لاړم او اول خپلې لور کره ورغلم نو هغې ته مې وویل چه آیا تاسو نبی ﷺ طلاقې کړی یئ؟ نو هغې وویل چه نه، ما ته خو پته نشته، بیا رسول الله ﷺ ته ورغلم، یو غلام په دروازه کښې ولاړ وو چه څوکیداری ئې کوله نو ما ورته وویل چه ما دپاره د رسول الله ﷺ نه اجازه واخله، هغه ورغې اجازه ئې طلب کړه نو د الله نبی ورته هیڅ ونهٔ وئیل، غلې شو۔ نهٔ ئې ورته د راتللو او نهٔ د نهٔ راتللو خبره وکړه، بیرته راغې او عمر ﷺ ته ئې خبره وکړه، نو عمر ﷺ واپس مسجد نبوی ته راغې،

هغه فرمائی : ما دوه دوه درې کرته اراده وکړه چه بیرته ورځم آخر دا چه روان شوم، نو ما پسې ئې سړې راولیږلو چه راځه، نو ننوتم په کوټه کښې هیڅ نهٔ وو سوئ د یو وړوکې کټ نه چه د الله نبی بغیر د بسترې نه په بوزر باندې ناست وو، او د څرمنې یو بالخت وو، نو ما وویل چه یارسول الله ! د الله نه دعا وغواړه چه ستا په امت باندې فراخی راولی، فارس او رومیان کافر دی او دنیا کښې ئې مزې وکړې، نو رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل :

[وَفِيْ هٰذَا اَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ]

اے د خطاب ځویه! آیا ستا پدے خبرو کښې ذهن دے، چه د دنیا فراخی غواړے،
وے فرمایل :

[اِنَّهُمْ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِى الْحَيَاةِ الدُّنْيَا]

دا خو داسے خلك دے چه الله تعالىٰ ورله په دنیا کښې مزے ورکوی، د دوئ آخرت نشته۔ [اَمَا تَرْضٰى اَنْ تَكُوْنَ لَنَا الاٰخِرَةُ وَلَهُمُ الدُّنْيَا]

آیا ته پدے راضی نهٔ ئے چه دوی دپاره دنیا وی او زمونږ دپاره د آخرت مزے شی۔

نو ددے حدیث د آوریدو نه بغد په عمر فاروق ﷺ کښې انتهائی زهد پیدا شوے وو، په دنیا کښې ډیرے رغبته شوے وو۔ دا د الله د نبی تربیت وو چه ددے خلکو ئے کړے وو۔

بیا مے د رسول الله ﷺ د خوشحالولو دپاره یو دوه خبرے وکړے چه یارسول الله! مونږ به په خپلو ښځو باندے زوړه ور وو، او کله چه مونږ انصارو له راغلو نو مدینے والا داسے نرم خلك دے چه د دوئ ښځے په سرو باندے غالبے دی، نو زمونږه زنانو هم د دوئ نه چل زده کړو چه خاوندانو ته کله نا کله خبره راواپس کوی۔

نبی ﷺ پدے باندے لږ مسکے شو۔

(دا ئے غیبت نهٔ کولو بلکه د رسول الله ﷺ د خوشحالولو دپاره ئے خبره وکړه)

بیا ما وویل : اے د الله رسوله! تا بیبیانے طلاقے کړیدی؟ وے فرمایل : نه، نو ما الله اکبر ووئیلو چه الحمد لله ښهٔ کار وشو (ځکه چه د بیبیانو طلاقولو سره ډیره پریشانی جوړیږی)

OOO

الغرض : د رومیانو په مدینه باندے داسے هیبت وو چه لږ کار به وشو نو خلکو به وئیل چه [جَاءَ الْغَسَّانِیُّ] غسانی حمله وکړه۔ ځکه چه د هغوی کلکه اراده وه۔

منافقان پدے باندے پو هه شوی وو چه په رسول الله ﷺ باندے څوك غلبه نشی کولے لیکن د هغوی دا طمع پیدا شوه چه رومیان ډیر قوی خلك دی کیدے شی چه رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملګری د دوئ په وجه وو هل شی،

لکه د یے ایمانه خلکو په زړونو کښې د کفارو هیبت پروت وی، نو دوئ دا وویل که چرے رومیان راشی او دلته ورسره مونږ هم ملګری شو نو دا سرے به ختم کړو، (د رسول الله ﷺ او د حق د ختمولو سوچونه ئے کول او ددے ارمان کونکی وو چه کله به

ختمیږی)

نو پدے کښې یو تن ابوعامر وو چه پخوا به ئې ورته الراهب وئیلو، دا د حنظله رضي الله عنه پلار وو، پخوا نصرانی شوے وو او بزرگ وو، عبادتونه به ئې کول، انصارو به د رسول الله ﷺ د راتګ نه مخکښې ددهٔ ډیر زیات اکرام کولو چه دا زمونږ د علاقې پیر او بزرګ صیب دے، هرے خبرے ته به ئې لبیك وئیلو، بیا روستو ورته رسول الله ﷺ د الفاسق (د الله غټ نافرمانه) نوم ورکړو، نو هرکله چه رسول الله ﷺ مدینے ته راغلو او خلك هغهٔ ته متوجه شو نو دے پیر له پدے کار باندے قهر ورغے چه څنګه ما نه د خلکو توجه کټ شوه او دے نبی ته متوجه شول،

(ډیر خلك د مشرئ د طلب په وجه کافر او منافق شی، حال دا چه مشری خو مصیبت دے،

رسول الله ﷺ فرمائی :

[بِحَسَبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ اَنْ يُّشَارَ اِلَيْهِ بِالْاَصَابِعِ فِيْ دِيْنٍ اَوْ دُنْيَا اِلَّا مَنْ عَصَمَهُ اللّٰهُ]

[الترمذی : ۲٤۵۳، حسن]

د بنده دپاره دا شر کافی دے چه هغهٔ ته په ګوتو اشارے کیږی که په دین کښې وی او که دنیا کښې مګر هغه څوك چه الله تعالیٰ ئې محفوظ کړی۔

مطلب دا چه د شهرت په وجه انسان په نقصان کښې واقع کیږی، مګر هغه څوك چه الله تعالیٰ ئې بچ وساتی، پدے وجه ګمنامی ډیره بهتره ده)

نو هغهٔ د رسول الله ﷺ خلاف شروع کړو، تردے چه خیبر ته لاړو یهود ئې راپاڅول، او قریشو ته به تللو هغوی به ئې راپاڅول، د اُحد په غزا کښې د مشرکانو سره د مکے نه راغلے وو او کندے ئې کنستے وے او دپاسه ئې پرے ډکی او خاورے اچولے وے دے دپاره چه نبی ﷺ پکښې راپریوزی، او همدغسے وشوه چه د الله رسول په کښې وغورزیدو، او ډیر تکلیف ورته ورسیدو، لیکن خوی ئې اُوچت صحابی دے، حنظله غسیل الملائکه، په اُحد کښې شهید شونو ملائکو ورته غسل ورکړے وو۔ (يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ)۔

نو دهٔ منافقانو ته ځواب راولیږلو چه په مدینه کښې یوه مورچه جوړه کړئ (لیکن دلته خو دار اسلام او دار الخلافه ده، نو ظاهری مورچه څوك چرته جوړه ولے شی)،

نو داسې وکړئ چه نوم ورله د مسجد کېږدئ او مينځ کښې به مورچه وي چه تاسو به په هغې کښې مشورې کوئ او زهٔ روم ته ځم او د هرقل بادشاه نه فوجونه غواړم، او په مدينه باندې حمله کوم، نو ما دپاره دا مکان تيار کړئ چه مونږ فوجونه دلته راولو.

نو منافقانو فعلًا پدې باندې عمل وکړو چه د مسجد قُباء په خوا کښې ئې يو مسجد جوړ کړو چه مخې ته مسجد قباء دې او بيا مخې ته يوه وړه شان مقبره ده، او د هغې نه شا ته بيا دوئ دغه مسجد جوړ کړې وو.

کله ئې چه مسجد تيار کړو نو د هغوی دپاره ئې يو کشر صحابي امام جوړ کړو چه د هغهٔ نوم مُجَمِّع بن جاريه ﷺ وو،

(په روستو زمانه کښې مُجمع بن جاريه ﷺ د عمر فاروق ﷺ نه د امام جوړيدو مطالبه وکړه نو هغهٔ ورته ووئيل : چه تا زهٔ نهٔ امام کوم ځکه چه تهٔ د مسجد ضرار امام وې،

نو هغهٔ ورته ووئيل : چه زهٔ ځوان هلك وم ما ته پته نهٔ وه چه دې بو ډاګانو کومه اراده کړې وه، مونږ ته ئې حال نهٔ وئيلو، او پټې مشورې به ئې کولې، او زهٔ ئې په هغې کښې نهٔ وم شريك کړې. که زهٔ خبر وې چه دا منافقان دي نو ما به د دوئ امامت نهٔ کولې. ډير کرته مشران کشران ځوانان د خپلو اغراضو دپاره استعمالوي، ځکه چه ځوانانو کښې تقویٰ او اخلاص وي او مشران ئې غلطو اغراضو دپاره استعمالوي، ددې وجه نه هوښيارتيا پکار ده)

که چا به دوئ ته ووئيل چه د مسجد قباء په خوا کښې مسجد ته څه ضرورت دې؟ نو دوئ به داسې وئيل لکه چه قرآن وئيلي دي : ﴿ وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَا اِلَّا الْحُسْنٰى ﴾

(او دوئ به قسمونه کوي چه زمونږ د خير اراده ده)،

هغه دا ده چه کله به باد او باران وي نو خلك به مسجد قباء ته نشي تللې نو دې مسجد ته به راځي نو د چا نه به جمع نهٔ قضاء کيږي، مونږ سره د خلکو د جَمعو غم دې، نو دا د منافقانو طريقه ده چه د اسلام نوم اخلي او ځانله فساد کوي)

پدې مسجد باندې د څادر او پردې اچولو دپاره ئې رسول الله ﷺ ته جواب وليږلو چه يارسول الله ! تهٔ راشه او زمونږ ددې مسجد افتتاح وکړه چه برکت پکښې راشي،

(د مسجد افتتاح سنت طريقه ده)

نو رسول الله ﷺ خو په غيبو نهٔ پوهيدو نو دوئ ته ئې ووئيل چه تيك ده، زهٔ به

درشم، نو هغوئ مطالبه کوله چه اُوس راشه، نبی ﷺ وفرمایل: اُوس نشم درتللے،

[اَنَا عَلٰی جَنَاحِ السَّفَرِ]

زهٔ د سفر په وزر یم، تبوك ته روان یم. کله چه د سفر نه راستون شوم نو ستاسو د مسجد افتتاح به کوم.

دے مسجد ته قرآن کریم مسجد ضرار وئیلے دے،

(یعنی هغه مسجد چه مسلمانانو ته د ضرر ورکولو دپاره جوړ شوے وو، پدے ځاله کښے څلور ضررونه وو، نو هر هغه مسجد چه په هغے کښے دا څلور صفات وی، یا یو ددے نه وی نو هغه به د مسجد ضرار په حکم کښے وی،

لکه چه قرآن ذکر کړیدی،

﴿وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾

[التوبة: ۱۰۷]

یو دا چه د مؤمنانو د ضرر ورکولو دپاره ئے جوړ کړے چه د هغوی په خلاف به ئے مشورے ورکولے، نو کوم مسجد کښے چه ایمان والو ته ضرر ورکړے کیږی نو دا به مسجد ضرار وی، مسجد خو د امن او صلح او عافیت او د عبادت او د ایمان ځائے دے)

دویم: [وَكُفْرًا] یعنی په هغے کښے به د کفر خبرے کیدلے، د الله او د رسول په خلاف، نو کوم جُمات کښے چه د کفر خبرے کیږی، او خلکو ته پته وی او بیا ئے هم نهٔ منع کوی نو دا به مسجد ضرار وی.

دریم: [وَتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ] (سبب د جدائی راوستو د مؤمنانو ترمینځ)

نزدے ځائے کښے ددے دپاره جمات جوړول چه د مسلمانانو خپل مینځ کښے تفریق راشی او اختلافات جوړ شی، او د یو بل نه جدا شی، ځکه چه په ظاهری جدا والی سره زړونه جدا کیږی، پدے وجه خو اسلام د جَمعے او جُمعے مونځونه لازم کړیدی چه زړونه یو شی، او پدے کښے د یو بل سره ملاقات او مینه محبت زیاتیږی، او دا د ایمان والو ترمینځ ډیر ضروری شے دے،

حدیثونو کښے راغلی دی چه زمونږ ددے امت یوه بیماری به دا پیدا کیږی چه آخره زمانه کښے به د یو بل نه نفرت او یو بل سره حسد او بغض وی تردے چه د یو بل نه به

لری شی، نزدے خلك به وی او یو بل به نهٔ پیژنی۔

رسول الله ﷺ فرمائی : [سَيُصِيبُ أُمَّتِي دَاءُ الْأُمَمِ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّهِ ! وَمَا دَاءُ الْأُمَمِ ؟ قَالَ : اَلْاَشَرُ وَالْبَطَرُ وَالتَّكَاثُرُ وَالتَّنَاجُشُ فِي الدُّنْيَا وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ حَتّٰى يَكُوْنَ الْبَغْیُ]

[المستدرك ۷۳۱۱، صحیح]

زما امت ته به خامخا د پخوانو امتونو بیماری رسیږی، صحابه کرامو عرض وکړو اے د الله رسوله ! د پخوانو امتونو بیماری څه ده ؟ وے فرمایل : نفرت، کبر او تکبر، د یو بل نه په مالونو طلب کولو کښے ډیر والے (سیالی کول) او د دنیا د حاصلولو دپاره یو بل ته دهوکه ورکول، او یو بل سره بغض (کینه) ساتل او یو بل سره حسد کول، تردے چه ددے نه روستو به ظلم شروع شی۔

او په بل روایت د طبرانی فی الاوسط کښے دی :

[اَلْاَشَرُ وَالْبَطَرُ وَالتَّدَابُرُ وَالتَّنَافُسُ فِی الدُّنْيَا وَالتَّبَاغُضُ وَالْبُخْلُ حَتّٰى يَكُوْنَ الْبَغْیُ ثُمَّ يَكُوْنُ الْهَرْجُ]

تکبر، او یو بل نه مخ اړه ول، یو بل سره په دنیا طلب کولو کښے سیالی کول، یو بل سره کینه ساتل او بخل کول، تردے چه ظلم به پیدا شی بیا به قتل وقتال ته خبره ورسیږی۔ [المعجم الاوسط رقم : ۹۰۱٦]

خلورم : [وَإِرْصَادًا لِمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ]

او چونړئ (مورچه) وه د هغه چا دپاره چه د الله او د رسول سره جنګ کوی،

یعنی د ابوعامر الفاسق دپاره ئے جونړئ جوړه کړه چه د الله او د رسول پخوانے دشمن وو۔

نو مسجد ضرار به هغه وی چه هغے له مبتدعین او ګمراهان راوستلے کیږی او هغوی پکښے تقریرونه کوی، او بیا چیلنج ورکوی چه څوك قرآن او حدیث اُوچتولو والا دے چه مونږ ورسره مقابله وکړو او خپل امام پرے اُوچت کړو، لکه دا د هغوی د چیلنج مقصد وی۔ نو کوم خلك چه په یو مسجد کښے خلك د قرآن او حدیث نه اړه وی، او دا کوشش کوی چه خلك زمونږ نه وانهٔ وړی، او قرآن او حدیث قبول نکړی، نو دا به خامخا مسجد ضرار وی۔

ابوعامر الفاسق لاړو شام ته او هرقل بادشاه ته ئې ووېل چه ما په مدينه کښې ملګرى تيار کړى نو فوج راکوه چه حمله کوو، نو هغوى هم خوشحاله شو چه مدينه کښې زمونږ مرکز پيدا شو، نوك به مو ونښلي،

دا ابوعامر الفاسق مخکښې د رسول الله ﷺ سره ملاؤ شوے وو چه ځان ئې په حق ګڼړلو او رسول الله ﷺ ئې په باطل ګڼړلو، (والعياذ بالله) نو دهٔ ښيرے کړے وے چه کوم يو په مونږ کښې په باطله وى نو الله دے هغه هلاك کړى،

[طَرِيْدًا فَرِيْدًا وَحِيْدًا]

يواځې ځائے کښې دے ئې الله هلاك کړى۔

نو رسول الله ﷺ پرے آمين ووئيلو چه صحيح ده۔

دے چه کله شام ته لاړو نو قضاءِ حاجت ته بهر يوه صحراء ته راووتو نو په هغه ځائے کښې يوے ناشنا اژدها وچيچلو چه سمدست ئې مردار کړو نو خپلې ښيرے پرے ولګيدلے۔

(د سفر په حالت کښې يواځې ځائے کښې مردار شو چه هيڅوك ورسره نهٔ وو)

د روميانو او غسان تيارى :

ليکن هرقل بادشاه خپله اراده لرله۔ نو دهٔ څلويښت زره فوج جمع کړو او غساني ئې هم ځان سره راواخستو،

او دلته مدينے ته اَنْبَاط الشام (يعني د شام تاجرانو، زميدارانو) خبر راوړو،

(کوم چه به د شام نه مدينے ته د خرڅ دپاره تيل وغيره راوړل او دلته به مدينے والو د هغوى سره بيع السَّلَم کوله چه مخکښې به ئې پيسے ورکړے چه مونږ له به مالونه په فلانى وخت کښې راوړئ)

نو هغوى خبر راوړو چه هرقل بادشاه څلويښت زره فوج جمع کړيدے او د لخم او جذام وغيره (قبيلو) عرب نصارئ ئې هم ځان سره ملګرى کړيدى او د هغوى مخکښَ دستے بلقاء علاقے ته رارسيدلى او په مدينه باندے حمله کوى۔

نو دلته نبى ﷺ ملګرى راجمع کړل او هنګامى اجلاس او مشوره ئې وکړه چه دغه

خلکو له د مقابلے دپاره ورتلل پکار دی، او دلته کیناستلو کښے ډیر نقصانات دی، او دا د رسول الله ﷺ ډیر لوی حکمت او دُور اندیشی او باریك نظر دے،

ولے که دشمن دے علاقو ته رانږوزی کوم باندے چه د اسلام غلبه ده، نو دا به په اسلامی دعوت او د مسلمانانو په عسکری شهرت باندے بد اثر وکړی،

حنین کښے چه کومو خلکو خطرناك ګوزار وخوړو د دوئ به جاهلیت دوباره ژوندے شی، او دلته منافقان هم په مسلمانانو د حوادثو انتظار کوی، او تیار ابوعامر الفاسق د رومیانو سره په رابطو کښے دے، نو دوئ به مسلمانان د شا ته نه په خنجرونو سره په خیتو کښے ووهی،

نو کوم شهرت چه دوئ حاصل کړے او کومه خواری چه دوئ د اسلام د خوره ولو دپاره کړے هغه به خراب شی، نو پدے وجه فیصله ئے وکړه چه بهر ورپسے ورځو او د هغوی په حدودو او علاقو کښے ورسره فیصله کونکے جنګ کوو، اګرکه پدے غزا کښے تنګدستی او تکلیفونه ډیر زیات دی۔ (الرحیق المختوم)

تبوک ته د وتلو اعلان :

دلته رسول الله ﷺ ملګرو کښے اعلان وکړو چه تبوك ته به د قتال فی سبیل الله دپاره ځو، ځانونه تیار کړئ۔ او دلته ئے مکے ته او نورو عربی قبائلو او اعرابو ته کسان ولیږل چه هغوی هم راشی۔ دا جهاد په هر چا فرض عین وو۔ ددے وجه نه ددے غزا په باره کښے الله قرآن کښے داسے فرمایلی وو :

﴿ اِنۡفِرُوۡا خِفَافًا وَّثِقَالًا ﴾ [التوبة : ٤١]

سپك او درانهٔ تول وځی، ځوانان او بوډاګان، (سوئ د هغه بوډاګانو نه چه طاقت د جنګ نهٔ لری) مالداره او فقراء۔ (سوئ د هغه فقراؤ نه چه قرآن ترے مستثنیٰ کړیدی چه د هغوی ذکر روستو کیږی) دارنګه اصحاب الضیعة، (پټے او باغ) ډے شته او که نهٔ، وادهٔ والا او غیر شادی شده، قرضداری او غیر قرضداری۔

دے ته نفیر عام وائی، چه د مسلمانانو امیر حکم وکړی چه ټول راوځئ نو بیا به ټول راوځی۔

ددے وجه نه چه څوك به د غزا د تبوك نه پاتے كيدو نو هغه به ښكاره منافق ګڼړلے كيدو، سوئ د يو څو مسلمانانو نه۔

چه هغه په يو څو قسمه دى، يو اصحاب الاعذار۔ هغه ډير بو ډاګان چه كمزورى وو او په امسا باندے ګرزيدل،

دويم هغه ړاندۀ او ګوډ چه د جهاد طاقت نۀ لرى۔

دريم : هغه خلك چه ډير فقراء وو، دا اُوه (۷) مؤمنان وو چه ډير سخت فقراء وو چه هيڅ هم ورسره نۀ وو۔

نبى ﷺ ته راغلل دا ئے ورته ووئيل چه تۀ غزوے ته روان ئے، مونږ هم درسره ځو خو مونږ سره نۀ اُوښان شته او نۀ خرچه شته، او د غزا دپاره خو د مال ضرورت دے، نو اے د الله رسوله ! تۀ مونږ له خرچه راكړه نو د الله نبى ورته وفرمايل :

﴿ قُلْتُ لَا اَجِدُ مَا اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ﴾ [التوبة : ۹۲]

زۀ نۀ مونده كوم هغه سورلى چه تاسو پرے سوارۀ كړم۔

بيت المال كښے هيڅ نشته، او كومه چنده چه وشوه، هغه ايله د لږو كسانو كيږى، لكه په يو اُوښ باندے به اتلس (۱۸) كسان نمبر په نمبر سوريدل، دا څومره غربت دے، او د غربت نورے واقعے په لاره باندے روستو راروانے دى،

بعض مفسرينو ليكلى لكه زاد المسير وغيره چه مونږ ته دِے څپلئ يا چپړے ملاؤ شى اګركه ډير اُوږد سفر دے، تقريباً اُوه سوه (۷۰۰) كيلوميټره لاره ده، او دشتے او بيابانونه او صحراوو نه دى،

[طَلَبُوا الزَّادَ وَالدَّوَابَّ ثُمَّ النِّعَالَ]

اول ئے توښه او سورلى وغوښته، بيا ئے كيړئ او څپلئ۔

نو د دغه كسانو په باره كښے الله قرآن كريم كښے فرمايلى دى

﴿ تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ ﴾ [التوبة : ۹۲]

هغوى واپس شو چه د سترګو نه ئے اُوښكے بهيدلے چه دوئ سره ولے پيسے نشته چه د الله په لاره كښے ئے ولګوى،

ارمان چه مونږ سره مال وے نو پدے عظيم جهاد كښے به مونږ شركت كړے وے، او د جهاد فضائل او خيرونه ورته معلوم وو چه دغه خيرونه مونږ حاصل كړى وے، او د

غربت د وجه نه ترے مونږ محرومه کیږو۔

نو الله په خپل کتاب کښے دا خلك معذوره وګڼړل بلکه روستو به راشي چه رسول الله ﷺ د دوئ په باره کښے په لاره وویل :

[اِنَّ بِالْمَدِیْنَةِ اَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِیْرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِیًا اِلَّا کَانُوْا مَعَکُمْ قَالُوْا وَهُمْ بِالْمَدِیْنَةِ ؟

قَالَ : حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ اَوْ قَالَ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ]

[بخاری : ٤٤٢٣]

په مدینه کښے څه خلك دی چه تاسو په هیڅ لاره نهٔ یئ تلی او نهٔ په یوه کنده مګر هغوی تاسو سره دی، صحابه کرامو عرض وکړو : اے د الله رسوله ! او هغوی په مدینه کښے دی او مونږ سره دی؟، (سره ددے چه مونږ تکلیفونه تیره وو)، وے فرمایل :

مرض یا عذر بند کړیدی۔

نو د عذر د وجه نه چه څوك پاتے شی، الله تعالیٰ ئے د مجاهدینو سره حسابوی، صرف یوه درجه د مجاهد پرے غوره ده، لکه چه قرآن کریم کښے راغلی دی۔

دے کسانو ته ئے بکائین (ژړا کونکی) وئیل، ترڅو چه رسول الله ﷺ دوئ ته نهٔ وو واپس شوے دوئ پنځوسو (۵۰) ورځے ژړل، ددے غزوه پسے ئے ارمان کولو۔

(د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو چه یو جهاد ته به تللو نو حال به ئے نهٔ وئیلو چه فلانی ځائے ته ځو ځکه چه جهادی امور همیشه پټول پکار دی، بیا کامیابی نهٔ راځی، کله چه به یو ځائے ته تللو نو توریه به ئے د بل ځائے کوله۔ مثلاً بارے ته به تللو نو د نوښار او مردان تپوسونه به ئے کول دے دپاره چه څوك ورته په لاره کښے کمین ونهٔ نیسی)۔

نو پدے غزا او په خیبر کښے ئے توریه نهٔ وه کړے بلکه

[فَجَلّٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ اَمْرَهُمْ لِیَتَاَهَّبُوْا اُهْبَةَ غَزْوِهِمْ]

مسلمانانو ته ئے ښکاره وویل چه د هرقل بادشاه مقابله ده او تبوك ته تګ دے، ځکه چه دا سفر سخت دے، او لرے هم دے، او مشکلات په کښے ډیر دی نو دے دپاره دوئ پوره تیاری وکړی او خپله پوره توښه راواخلی۔

(او پدے کښے دا امتحان غرض وو چه دا خلك الله او رسول غوره کوی او که خپل آرام، ځکه چه دا زمانه د سختے ګرمئ وه او دلته په مدینه کښے باغونه او فصلونه تیار

وو، چه راشوکولو ته نزدے دی، او کله چه میوے پخے شی او سوری مزیدار وی، او گرمی ډیره وی نو خلکو خپلو باغونو راشوکولو ته جذبه وی، دے وخت کښے خلك سفرونه نهٔ کوی او بل طرفته د غتے امپراطورئ (بادشاهئ) سره مقابله ده)

هرکله چه د رومیانو سره د جهاد اعلان وشو نو مسلمانانو سمدست تیاری شروع کړه، او د رسول الله ﷺ په آواز باندے ئے په ډیر شوق سره لبیك ووئیلو (ځکه چه ایمانونه ئے ډیر مضبوط وو) او د هر طرف نه ورے او غتے قبیلے مدینے ته راکوزیدل شروع شو، او هیڅ د مسلمانانو نه دا نهٔ غوښتل چه ددے غزا نه روستو پاتے شی،

صرف منافقان پاتے شو، په مدینه کښے اتیا (۸۰) کسان منافقان وو هغوی تول پاتے شو،

هغوی چل ول او بهانے وکړے او عذرونه ئے پیش کړل چه زما دا فلانے فلانے کار دے، عذرئے هم نهٔ کولو لیکن د مؤمنانو او د رسول الله ﷺ نه یریدل، گنے پته شوی به وے۔

رسول الله ﷺ ډیر نرم انسان وو چه د چا نه به ئے تحقیق نهٔ کولو چه تهٔ ولے پاتے کیږے، ستا څه عذر دے، آیا دا واقعی عذر دے او که نهٔ، نو الله تعالیٰ ورله تنبیه ورکړه :

﴿ عَفَا اللّٰهُ عَنكَ لِمَ اَذِنتَ لَهُمۡ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيۡنَ صَدَقُوۡا وَتَعۡلَمَ الۡكٰذِبِيۡنَ ﴾

[التوبة : ٤٣]

الله دِے تا ته معافی وکړی تهٔ ولے منافقانو ته اجازه ورکوے تردے چه تا ته رشتینی او دروغجن ښکاره معلوم شی، یعنی لږئے راگیر کړه چه ولے پاتے کیږی؟ څه چل دے؟، بیا ئے روستو وفرمایل :

﴿ لَا يَسۡتَاۡذِنُكَ الَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ﴾

[٤٤]

د جهاد نه په پاتے کیدو کښے ایمان والا اجازے نهٔ غواړی (بلکه منافقان ئے غواړی)۔

نو پدے کښے یو څو مسلمانان هم پاتے شو چه د درے کسانو واقعه په احادیثو کښے مشهوره ده، یو کعب بن مالك ﷺ، هِلال بن امیه ﷺ او مراره بن الربیع العامری ﷺ دے، او د سیرت په کتابونو کښے نور هم راغلی دی لکه ابوخیثمه ﷺ چه ددهٔ واقعه د تبوك په قصه کښے دننه راځی، او ابوذر غفاری ﷺ هم، او داسے نور چه دوئ بیا روستو

روستـو راغلل او د مجاهدینو سره یو ځائے شو سوئ د مخکنو دریے کسانو نه چه دوئ بیخی رانغلل۔

چـه د هـغـوی قـصـه بـه په آخر کښے راشی ان شاء الله تعالیٰ چه په هغے کښے زمونږ دپاره ډیرے فائدے او دینی فقهی مسائل پراتهٔ دی۔

په دے کښے بیا د سیرت والو اختلاف دے چه آیا دے غزا ته منافقان تلی وو او که نهٔ ؟

نـو محـققـیـن عـلـماء وائی چه یو منافق هم د تبوك غزا ته نهٔ وو تلے ځکه چه قرآن کریم کښے دی :

﴿ لَوْخَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ ﴾

کـه دوئ تاسو سره وتلی وے نو دوئ به په تاسو کښے نهٔ زیاتولے مگر فساد او ستاسو ترمینځ به ئے فتنے او شر برپا کولے۔

او روستو فرمائی :

﴿ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ ﴾

نو الله ذوئ منع کړل او دوئ ته وویل چه د ناستو خلکو سره کینئ۔

دوئ ئے پـدے وجـه ونـهٔ ویستـل چه دوئ نور ساده مسلمانان خراب نکړی، ځکه چه ساده مسـلـمـان پـه مـنـافـقـانـو ښهٔ گمان لری، ځکه چه د منافق په تندی خو ئے نهٔ وی لیـکـلـی چـه دا منافق دے بلکه هغه ښائسته گیره، ښکلے شکل، او د اسلام غټے غټے دعوے کوی، د آخرت خبرے کوی لیکن مینځ کښے د الله د دین ورانونکے وی۔

لـکه الله فرمائی : ﴿ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ ﴾

پـه تـاسـو کـښـے داسـے مؤمنان شته چه د منافقانو خبرے ته غوږ ږدی، نو که منافقان تـاسـو کـښـے وتـلـی وے نو دغه عوام مسلمانان ئے گډوډ کول، نو ښهٔ دے چه منافقان الله تعالیٰ د دوئ سره ونهٔ ویستل۔

دویـم قول د سیرت والو دا دے چه لږ شان منافقان غزا د تبوك ته وتلی وو، خو هغوی کشـران وو، ډیـر ورانے ئے نښو کولے، او واپسئ کښے دوئ اراده وکړه چه نبی ﷺ ځانله روان دے، حمله به پرے وکړی او قتل به ئے کړی لکه دا روستو راځی۔

او الله فرمائی :

﴿وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا ﴾

دوئ د هغه کار اراده کړے وه چه ورته ونهٔ رسیدل، چه هغه د رسول الله ﷺ قتل دے، په عقبه علاقه کښے ئے قتلولو۔

دا دویم قول ظاهر ښکاره کیږی، چه لږ شان کشران منافقان تلی وو، او مشران داعیان منافقان نهٔ وو تلی، لکه د راتلونکو واقعاتو د مینځ نه اشارات ملاویږی۔

د تبوک دپاره د چندے اعلان او د صحابه کرامو قربانی :

ددے غزوے دپاره مال ته ډیر سخت ضرورت وو ځکه چه جهادونه په مال چلیږی، د مال نه بغیر جهاد نهٔ کیږی، ددے وجه نه قرآن کریم کښے شپږ مه حصه پدے خبره لګیدله چه اے خلکو ! مال ورکړئ۔

(**فائده** : مؤمن باندے درے قسمه انفاقونه دی، یو فرضی انفاق لکه زکاة، عشر، خپل کور والو ته نفقه، د میلمه میلمستوب، سوالګر له څه ورکول، ورور پلار وغیره ناجوړه وی نو هغوی ته خرچه ورکول۔

دویم : د خپل نفس تزکیه (پاکئ) دپاره نفلی صدقات کول۔ لکه چه دا د نفس تزکیه دپاره لازمی شرط دے چه مال به لګوے۔

دریم : په هنګامی حالاتو کښے انفاق، او دا دے ته وائی چه امیر د مسلمانانو حکم وکړی چه بیت المال کښے څه شے نشته، او شا بئ چنده راوړئ نو پدے وخت کښے هم چنده ورکول په خلکو فرض کیږی، د خپل طاقت مناسب۔

نو دے وخت کښے رسول الله ﷺ هنګامی چنده وکړه، او پدے چنده کښے ډیرے فائدے وی، یو دا چه خپله هم د الله په دین مال لګول، او بل هم دے ته تیارول چه د هغهٔ هم ثواب وشی، او پدے کښے د الله د دین د ترقئ نیت وی،

رسول الله ﷺ مسجد کښے کیناستو او مالونه راوړل شروع شو، (ځکه چه دیرش زره (۳۰۰۰۰) مجاهدین فوج تیار شو) نو دوئ دپاره خرچه او د لارے سورلئ پکار ده۔

هرچا د خپل طاقت مناسب خرچه وکړه لیکن په هغے هم کار نهٔ کیدو نو نبی ﷺ مالدارو ته توجه وکړه او ترغیب ئے ورکړو چه الله تعالیٰ تاسو ته مال درکړیدے، او ستاسو په مالونو باندے کار کیږی نو ورکړئ،

نو پدے کښې عثمان ﷛ د ټولو نه زیات انفاق وکړو هغه پاڅیدو او وے وئیل :
یارسول الله زما دوه سوه (۲۰۰) اُوښان د تجارت دپاره تلی دی، هغه ټول دِے د الله په لاره کښې وی [بِاَقْتَابِهَا وَاَحْلَاسِهَا] د هغې په شا چه کومه کته ده او څه سامان دے، دا ټول د الله دپاره شو۔ چه دا ډیر مال دے، او دوه سوه (۲۰۰) اوقیه سپین زرئے ورکړل لیکن پدے باندے بیا هم کار نهٔ کیدو، بیا نبی ﷺ اعلان وکړو چه مال ورکړئ، عثمان ﷛ بیا پاڅیدو او سل (۱۰۰) اُوښان ئے نور ورکړل، بیا اعلان شو بیا عثمان ﷛ پاڅیدو سل (۱۰۰) ئے نور ورکړل تقریباً لس کرته پاڅیدو او سل سل اُوښان به ئے ورکول، تردے چه نهه سوه (۹۰۰) اُوښان او سل (۱۰۰) اسونه ئے ورکړل سوئ د نقودو نه، چه د هغې نه پاکستانی (۲۲) کروړه روپئ جوړیږی۔

بیا پاڅیدو او زر (۱۰۰۰) دیناره (د سرو زرو روپئ) ئے راوړے (چه دا (۳۷۵) تولے جوړیږی) دا ئے راوړل او د رسول الله ﷺ په غیږه کښے ئے وا چول نو رسول الله ﷺ هغه اړه ول راړه ول او ډیر لوی زیرے ئے ورکړو وے فرمایل :

[مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ]

عثمان (﷛) کـه د نـن ورځے نه بعد هره گناه کوی هیڅ به ورته ضرر ورنکړی۔ (نو دا یـقـینـی جـنـتـی شـو) دا دومره اُوچت نیك عمل دے چه الله ورته د راتلونکے زمانے ټول گناهونه معاف کړل۔

(دوئ داسے انسانان نهٔ وو چه دوئ به قصدًا گناهونه کول چه هسے هم معاف دی، بلکه په مخ د زمکه د دوئ په شان متقیان نهٔ دی تیر شوی، او دا د الله تعالیٰ طریقه ده چه کله د بندگانو نه داسے رضا شی چه د هغهٔ بد عمل ته بیا نهٔ گوری، د بدریانو نه داسے رضا شوے وو چه هغوی ته ئے وئیلی وو :

[اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ]

تاسو چه څه عمل وکړئ نو تاسو وبخښلے شوئ،
مونږ له هم داسے یو عمل پکار دے چه انسان پرے همیشه دپاره وبخښلے شی)
پدے کښې عبد الرحمن بن عوف ﷛ دوه سوه (۲۰۰) اُوقیه فضه (سپین زر) راوړل۔
یو بل صحابی عاصم بن عدی ﷛ نوی (۹۰) وسقه کجورے راوړے،
(یو وسق شپیته صاعه وی او یو صاع تقریباً پاؤ باندے دوه کیلو وی، نو دا دولس زره

یو سل پنځوس (۱۲۱۵۰) کیلو (یا ۲٤۳ منه) جوړیږي۔

پدې باندې هم د مجاهدینو ډیر کار کیدو۔

پدې ورځ باندې عمر فاروق رضی الله عنه وویل چه زۀ به نن ورځ د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه په نیکۍ کښې مخکښې کیږم (په نیکو کښې دغه شان سیالي پکار ده) نو کور ته لاړو او نیمائي مال ئې راوړو، او نیمې ئې کور ته پریخودو، نو پدې کښې ابوبکر صدیق رضی الله عنه لاړو هغۀ هم مال راوړو، نبي ﷺ ته د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د کور احوال معلوم وو ځکه چه سخرئې دې، نو پوهه شو چه ټول مال ئې راوړیدې، نو ورته ئې وفرمایل:

[مَا تَرَكْتَ لِأَهْلِكَ ؟]

تا د خپل کور والو دپاره څه پریخودل؟ نو هغۀ وویل:

[تَرَكْتُ لَهُمُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ]

ما د هغوی دپاره الله او رسول پریخودو، دومره اُوچت توکل د چا کیدې شي۔

(ټول مال لګول د هر چا دپاره ټیك نۀ دی، خو چه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په شان توکل پکښې وی چه بیا د بل چا نه سوالونه نۀ کوی او شکایتونه نۀ کوی)۔

عمر فاروق رضی الله عنه وویل: مونږ وویل چه د ابوبکر رضی الله عنه نه به پدې مقام کښې مخکښې شو، هرکله چه پدې مقام کښې ترې مخکښې نشو نو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه هیڅوك نشي مخکښې کیدې۔ دې ته سابق بالخیرات وائي۔ چه هرې نیکۍ ته مخکښې کیږي، صحابه کرامو کښې دا جذبه زیاته وه۔

او عباس رضی الله عنه هم پدې موقعه کښې ډیر مال راوړو۔

او طلحه او سعد بن عباده او محمد بن مسلمه رضی الله عنهم پدې ورځ ډیر مالونه راوړل۔

تردې چه پدې ورځ باندې هیچا لاس بند نکړو سوئ د منافقانو نه۔

یو صحابي ابوعقیل رضی الله عنه یوه یا دوه کیلو کجورې راوړې،

او بعضو د هغې نه لږې زیاتې، نو د منافقانو د ژبو نه څوك نۀ بچ کیږي،

هغوی وویل: عاصم رضی الله عنه او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه او نورو چه کوم مال راوړو نو دوئ ریاکار دی، او د ابو عقیل رضی الله عنه او نورو پورې ئې دا مسخره وکړه چه

[اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هٰذَا]

الله تعالیٰ ددهٔ ددے صدقے نه غنی دے، یعنی الله په یوه کیلو یا دوه کیلو کجورو څه کوی، نو الله د هغوی په باره کښې داسې آیتونه نازل کړل:

﴿ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ﴾ (التوبه: ۷۹)۔

منافقان هغه خلك دی چه په صدقو کښې په هغه مومنانو عیب لګوی چه په خپله خوښه صدقه کوی او هغه کسان چه خپل کوشش مطابق مونده کوی نو دوی د هغوی پورے مسخرے کوی نو الله به د دوئ پورے مسخرے وکړی)۔

(نو مؤمن به د منافقانو د خبرو هیڅ پرواه نهٔ کوی بلکه خپل کار به جاری ساتی)

او پدے چنده کښې زنانو هم برخه واخسته، هغوی هم د خپل وس مطابق چا چه څه مونده هغه ئے راولیږل، چا د سرو زرو والئ او چا ګوتمے او چا بنګړی او چا څرمنے او چا پانزیبونه او چا امیلونه او هارونه راولیږل،

ډیرے قربانئ والا خلك وو، د داسے خلکو نه به الله سبحانه ولے نهٔ راضی کیږی۔

(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَاَرْضَاهُمْ وَجَزَاهُمْ عَنَّا وَعَنِ الْاِسْلَامِ وَالْمُسْلِمِيْنَ خَيْرًا، اَللّٰهُمَّ احْشُرْنَا مَعَهُمْ)

دلته یو بل صحابی دے (عُلبه بن زید اَحَدُ البکائین ﷺ) چه د شپے مونځ ئے وکړو او وے ژړل او دا ئے وویل: اے الله! تا د جهاد حکم کړے او پدے کښې دِے ترغیب ورکړے خو ما سره دومره څه نشته چه زهٔ په هغے باندے خپل ځان قوی کړم او ستا د رسول سره اُوځم، نو زهٔ په هر مسلمان باندے خپل ظلم صدقه کوم چه ما ته چا په بدن کښې یا په عزت کښې ضرر راکړے وی، هغه ورته معاف کوم، نو نبی کریم ﷺ سهار له دهٔ ته خبر ورکړو چه الله تعالیٰ دهٔ ته بخنه وکړه۔

[وَرَدَتْ مِنْ طُرُقٍ ضَعِيْفَةٍ وَلَهَا شَاهِدٌ صَحِيْحٌ وَهِيَ بِالْجُمْلَةِ تَصْلُحُ لِلشَّاهِدِ التَّارِيْخِيِّ، انظر المجتمع المدنی للعمری ص ۲۳۵، السیرة النبویة عرض ووقائع للصلابی ٤/ ۱۵۸]

نو دلته مالونه جمع شول او په مسلمانانو باندے تقسیم کړے شول، یو یو اُوښ اتلسو (۱۸) کسانو ته ورسیدو، اتلس (۱۸) کسان به نوبت په نوبت په یو اُوښ سوریدل، دومره غربت دے، او مالونه او خرچه هم کمه ده، لیکن بیا هم ذ الله حکم ته تیار شو۔

تبوک ته روانیدل :

رسول الله ﷺ او د هغۀ ملګری روان شول، دومره ډیر وو چه یو کتاب نشو راګیرولے، که څوک به پټیدل نو پټیدے شول، پدے وجه د بعض ملګرو تذکره رسول الله ﷺ نۀ وه کړے مګر کله چه تبوك ته ورسیدو چه فلانے فلانے څه شو۔
عبد الله بن اُبی رئیس المنافقین هم دلته په یو ځائے کښے خیمه لګولے وه او خلك ئے ځان ته راجمع کړی وو او دا ئے ورته وئیل :

﴿وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ﴾

ګرمی سخته ده، جنګ ته مۀ ووځئ، ځان مۀ تباه کوئ۔ نو الله وفرمایل :

﴿قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ﴾ [التوبة : ۸۱]

اُووایه ! د جهنم اُور خو ډیر سختے ګرمئ والا دے، که دا خلك پوهیدے (نو داسے خبرے به ئے نۀ کولے) د جهنم د اُور سره به څه کوئ۔
نو الله تعالیٰ صفا مؤمنان ویستل او عام منافقان ئے پاتے کړل۔

د ابوخیثمه رضی الله عنه واقعه :

ددۀ نوم عبد الله بن خیثمة السالمی دے، دے د رسول الله ﷺ نه د غزا د تبوك نه په اول کښے پاتے شو، ددۀ دوه ښځے وے، د کجورو میوے رارسیدلے وے، نو زنانو ورته کجورے هم تیارے کړے او د زنانو چه په باغ کښے کوم عریش (څپر/ کوټه) وه هغه ئے هم ښائسته کړیدے،
(لکه چه د باغ د پخیدو په وخت کښے به دوئ زنانه په باغ کښے اُوسوه ولے)،
او دلته ئے اُوبۀ چړکاؤ کړے وے او یخے اُوبه دی، نو دے چه کله خپلو دواړو ښځو ته راغلو او دا ښائسته حالت ئے ولیدو نو ددۀ زړ توجه پیدا شوه (لکه چه د مؤمنانو داسے حالت قرآن ذکر کړیدے چه کله دوئ ته شیطان وسوسه واچوی نو خبره رایاده کړی او دغه وخت کښے دوی لیدونکی شی)

نو دهٔ ځان سره وویل : [رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِی الضَّحِّ وَالرِّیْحِ وَالْحَرِّ وَاَبُوْخَیْثَمَةَ فِیْ ظِلٍّ بَارِدٍ وَطَعَامٍ مُهَیَّاً وَامْرَاَةٍ حَسْنَاءَ فِیْ مَالِهِ مُقِیْمٌ، مَا هٰذَا بِالنَّصَفِ]

رسول الله ﷺ به په نمر کښې او هواګانو او ګرمئ کښې وی او زهٔ (ابوخیثمه) به په یخ سوری او تیار طعام او ښائسته ښځې سره ناست یم، دا خو انصاف نهٔ دے۔

بیا ئے وویل :

[وَاللّٰهِ لَا اَدْخُلُ عَرِیْشَ وَاحِدَةٍ مِنْکُمَا حَتّٰی اَلْحَقَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

قسم په الله زهٔ ستاسو د دواړو یوے کوټے ته هم نهٔ داخلیږم تردے چه د رسول الله ﷺ سره پیوسته شم۔

نو ماله توښه تیاره کړئ، بیا ئے خپل ناضح (هغه اُوښ) تیار کړو (کوم باندے ئے چه ارتې کولو) او روان شو، د خپل خوږ محبوب محمد رسول الله ﷺ په طلب کښے یواځے ووتو۔ تردے چه هغه ئے رالاندے کړو په هغه وخت کښې چه رسول الله ﷺ په تبوك کښې پړاؤ اچولے دے، ملګرو سره ناست دے، ګوری چه په دشته کښې یو تن راروان دے، چا وویل چه دا څوك راروان دے؟، نو چا یو تن یاد کړو چا بل نو د رسول الله ﷺ معجزه ښکاره شوه،

(لکه پدے سفر کښې د رسول الله ﷺ ډیرے زیاتے معجزے ښکاره شویدی ځکه چه کومه غزا سخته وی نو د مؤمنانو د ایمان مضبوطولو دپاره به د هغهٔ نه ډیرے معجزے ښکاره کیدلے، او الله همیشه دپاره د مومنانو د ایمان حفاظت کوی)

نو هغهٔ وفرمایل : [کُنْ اَبَا خَیْثَمَةَ] (اے سریه تهٔ ابوخیثمه شه)

یعنی زما ګمان دے چه دا به ابوخیثمه وی، هغه چه رانزدے شو نو په رشتیا ابوخیثمه ﷺ وو۔ ددهٔ صرف جثه ښکاره کیده او شکل ئے نهٔ ښکاره کیدو مګر د نبی ﷺ خبره پرے رشتینے شوه۔ صحابه کرام حیران شو۔

دے چه راغے نو په رسول الله ﷺ ئے سلام واچولو، نو هغهٔ ورته وفرمایل :

[اَوْلٰی لَكَ یَا اَبَا خَیْثَمَةَ]

خوار شے، دا څه چل وو اے ابا خیثمه ! نو ټوله قصه ئے ورته وکړه نو رسول الله ﷺ ورته د خیر دعاء وکړه۔ نو دے خو الله تعالٰی کامیاب کړو، فکر نه روستو۔

(السیرة النبویة لابن کثیر والروض الانف)

یوه واقعه روستو د ابوذر ؓ راځي چه هغه په لاره کښې پاتې شوې وو۔
نو دا پنځه (۵) صحابه کرام مشهور او اُوه (۷) کسان بَکائین (ژړیدونکي) او څه معذور مسلمانان پاتې شو، د انصارو یعني د مدینې د اُوسیدونکو نه یو اتیا (۸۱) یا دوه اتیا (۸۲) منافقان پاتې شو، او یو اتیا (۸۱) دوه اتیا (۸۲) تقریباً د د بنو غفارو نه او څه د اعرابو نه وو، نو د منافقانو ډیره ډله پاتې شوه، او الله د مؤمنانو او د منافقانو ترمینځ تمییز راوستو۔ لږ شان منافقان دې غزوې ته وتلي وو۔
هرکله چه رسول الله ﷺ اعلان وکړو چه تبوك دپاره تیارې وکړئ نو عبد الله بن اُبی ابن سلول رئیس المنافقین او د هغهٔ ملګري د یو یهودي کور ته لاړل چه د هغه سُویلم الیهودي نوم وو او نورو منافقانو ته ئې دعوتونه ورکول چه دې غزا ته مه ځئ۔
چه قرآن کریم ددې نه داسې تعبیر کړیدې:

﴿وَقَالُوا لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ﴾

یو بل ته ئې وویل چه په سخته ګرمئ کښې مهٔ وځئ۔
ګرمي ده او ډیر غټ فوج والا دشمن دې، (منافقانو کښې ایمان نهٔ وو نو دا کار ورته بې فائدې ښکاره کیدو، او څوك چه د الله د حکم نه متأثره وي نو هغوی ته دا ډیر لوی حکم ښکاره کیږي، نو الله ورته وفرمایل: چه د جهنم د اُور سره به څه کوئ۔
نو پدې کښې رسول الله ﷺ د دوئ نه خبر شو، نو طلحه بن عبید الله ؓ ئې د څه ملګرو سره د دوئ پسې ولیږل چه د دوئ کور وسیزي نو هغه ورغلو او د هغوی کورئې وسیزلو، چه پدې کښې منافقان وتښتیدل او چا په دیوالونو باندې ودانګل،
یو منافق الضحاك بن خلیفه پکښې په دیوال باندې ودانګل نو راپریوتو او خپه ئې ماته شوه، او ابن اُبیرق منافق هم د دوئ سره وو۔

د جدّ بن قَیس منافق قصه

رسول الله ﷺ د جهاد په تیارئ کښې لګیا وو نو جد بن قیس منافق ته ئې وویل چه دا د بني سلمه نه وو چه [یَا جَدُّ، هَلْ لَكَ الْعَامَ فِيْ جِلَادِ بَنِي الْأَصْفَرِ؟]
اې جد! آیا ستا سږ کال د رومیانو د مقابلې دپاره مینه شته؟ مونږ سره جهاد ته لاړ

شه، نو هغهٔ وویل :

[يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَوَتَأْذَنُ وَلَا تَفْتِنِّیْ]

یا رسول الله ! ما ته اجازه راکړه او ما په فتنه کښې مهٔ غورزه وه۔

[فَوَ اللّٰهِ لَقَدْ عَرَفَ قَوْمِیْ اَنَّهٗ مَا مِنْ رَجُلٍ بِاَشَدَّ عَجَبًا بِالنِّسَاءِ مِنِّیْ، وَاِنِّیْ اَخْشٰی اِنْ رَأَيْتُ نِسَاءَ بَنِی الْاَصْفَرِ اَنْ لَا اَصْبِرَ]

قسم په الله زما قوم ته پته ده چه زما نه په ښځو باندې بل څوك دومره سخت عاشق نشته، او زهٔ یریږم چه که د رومیانو ښځې وګورم نو صبر به ترې ونکړې شم، (نو په ګناه او فتنه کښې به واقع شم)

نو رسول الله ﷺ د هغهٔ نه مخ وګرزولو، او دا ئې ورته وویل چه ما تا ته اجازه درکړه، (داسې ګنده خلك بوتلل نهٔ دی پكار)

نو ددهٔ او ددهٔ د ملګرو په باره کښې دا آیت نازل شو :

﴿وَمِنْهُمْ مَنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّیْ وَلَا تَفْتِنِّیْ اَلَا فِی الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ بِالْكَافِرِيْنَ﴾

[التوبة : ٤٩]

او بعض د منافقانو نه هغه دی چه وائی : ما ته اجازه راکړه او ما فتنه کښې مهٔ غورزوه، خبر شئ دوئ په فتنه کښې وغورزیدل او جهنم خامخا د کافرانو راګیرونکې دې۔

یعنی دوئ دروغ وائی چه زهٔ په ښځو عاشق کیږم، هیڅ عشق ئې نشته، بلکه په کومه فتنه کښې چه وغورزیدل چه هغه د نبی ﷺ او د الله د حکم مخالفت دې، او بل منافقت دې، نو هغه ډیر لوی دې۔

(الروض الانف وسیرة ابن هشام)

(فائده : ددې آیت نه دا فائده راوځی چه کله یو دینی کار وی او تا ته حکم متوجه شی، او خطره شته چه تهٔ به ګناه کښې هم واقع شې نو د ګناه د خطرې په وجه به دغه نیك عمل نهٔ پریدې، نو د ګناه نه ځان ساته او دغه نیك عمل کوه، لکه یو تن جماعت ته پدې وجه نهٔ ځی چه هلته به چا سره شور او بحث وکړی، یا به ترې بله کومه ګناه وشی، نظر به ئې غلط استعمال شی، نو دا طریقه به غلطه وی، دهٔ ته به وئیلې شی چه مسجد ته ځه او دا ګناه مهٔ کوه،

دارنګه ډیر خلك وائي پدے سنت طریقو عمل نۀ کوو ځکه چه ددے نه به په علاقه کښے فتنه پیدا شي، نو د نبي ﷺ حکم پریخودل لویه فتنه او شر دے، دلته دا شخص په ځومره لویه فتنه کښے وغورزیدو چه د هغۀ په باره کښے قرآن نازل شو چه همیشه لوستلے کیږي، او الله ورته کافر وویل)

الغرض: ابن سلول منافق او د هغۀ ملګري پاتے شول۔

او عام اهل ایمان په ډیره خوشالئ سره تیار شو چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښے د دوئ ډیر صفت وکړو:

﴿لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِنْهُمْ﴾ [التوبة:۱۱۷]

یقیناً الله توفیق ورکړو نبي (ﷺ) او مهاجرینو او انصارو ته هغه کسان چه د نبي تابعداري ئے وکړه په سخت ساعت کښے پس د هغے نه چه نزدے وه چه د یو ے ډلے د دوئ نه زړونه کاږۀ شوي وے، لیکن الله پرے مهرباني وکړه دے دپاره چه د الله په بندګئ کښے استعمال شي ځکه چه الله په دوئ مهربانه دے۔

(د توبے معنیٰ ده په بندګئ کښے استعمالول)

د لارے واقعات:

نبي ﷺ روان شو د زیارت (یوم الخمیس) په ورځ د مدینے نه ووتو شمال طرف ته چه د تبوك اراده ئے وه، او په مدینه باندے ئے محمد بن مسلمه ؓ

او بعض وائي: سباع بن عرفطة ؓ خلیفه مقرر کړو، او په خپل کور والو باندے ئے علي بن ابي طالب ؓ مقرر کړو، نو دلته منافقان خپله پاتے شویدي او د بل پسے خبرے کوي، چه علي ؓ ئے ځکه پریخودو

[إِنَّمَا تَرَكَهُ اِسْتِثْقَالًا لَهُ وَاسْتِخْفَافًا مِنْهُ]

چه دا ئے بوج ګڼړلو او ددۀ نه ئے ځان سپکولو،

(بعض سړے په مجالسو او سفرونو کښے خلکو باندے بوج وي، انسان غواړي چه هغه ورسره نۀ وي، ځکه چه د هغۀ اخلاق خراب وي، بد عمله وي نو د دوئ په علي

ﷺ هم دا گمان راغلو، غټ ظالمان وو)

دا خبره علي ﷺ ته ورسیده، نو توره ئې واخستــه او نبي ﷺ پسې ووتو، چه زهٔ هم په جهـاد کښې برخه اخلم، کله چه په لاره ورسره ملاو شو نو هغهٔ ته ئې وویل : ولې راغلې؟ تهٔ خو مَا د خپل اهل دپاره پریخودې وې؟

نـو هغـهٔ وویل چه منافقان ما پسې خبرې کوي چه دا رسول الله ﷺ د بوج ګنړلو په وجه پریخودو نو د الله نبي وفرمایل : [کَذَبُوا]

دوئ دروغـجـن دي، نـو هغهٔ وویل چه اے د الله رسوله ! آیا تهٔ ما د ماشومانو او زنانو سره پاتې کوې ؟ (زهٔ درسره ځم) نو نبي ﷺ ورته زیرے ورکړو وې فرمایل :

[اَمَا تَرْضٰی اَنْ تَکُوْنَ مِنِّیْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسٰی، اِلَّا اِنَّهٗ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ]

آیا تـهٔ پـدې خـوشـحـالـه نـهٔ ئې چه تهٔ زما نه داسې شې لکه هارون علیه السلام چه د مـوسیٰ عـلیـه الـسلام خـلیـفـه جـوړ شوے وو۔ لیکن دومره ده چه زما نه روستو نبي نشتـه۔

(دا ئې ځکه وویل چه څوك دا گمان ونکړي چه علي ﷺ هم پیغمبر دے)

[بخاري : ٤٤١٦، مسلم : ٦٣٧١]

تردې چه وادي القریٰ علاقې ته ورسیدو نو دلته یوه واقعه راغله ۔

(۱) د خرص واقعه :

هـغـه دا چـه د یـوې زنـانـه سـره ملاؤ شو چه د هغې د باغ کجورې پخې شوې وې، او هغې لا راشو کولې نهٔ وې، بلکه اُوس ئې راشو کولې، او دغه زنانه مسلمانه وه۔

(د زکاة په باب کښې دا قانون دے چه کجورې کله پنځو وسقو ته ورسیږي نو په هغې کښې بـه عشر وي، او چه ددې نه کم وي نو په هغې کښې زکاة نهٔ وي، پنځه وسقه تقریباً دیـارلـس نیـم (۵۔۱۳) مـنـه جـوړیـږي، نو طریقه دا ده چه د اسلامي حکومت والي او مُـصـدق بـه پـه بـاغ والو باندې خرص (تخمیني اندازه) لګوي چه پدې باغ کښې تقریباً دومـره کـجـورې دي، نو د مسلمانانو حکومت ته به تاسو په زکاة کښې دومره کجورې ورکوئ)

نـو دلتـه رسـول الله ﷺ مـلـګرو ته معجزه ښکاره کوله، او بله دا مسئله هم پکښې

وه. نو ملګرو ته ئے وویل چه تاسو ددے باغ اټکل اندازه وکړئ نو چا پنځلس (۱۵) او چا دولس (۱۲) او چا اته (۸) وسقه یاد کړل د خپلے اندازے مطابق، نو نبی ﷺ وفرمایل :

چه زهٔ وایم چه پدے کښے به لس (۱۰) وسقه وی. او زنانه ته ئے وویل چه مونږ تبوك ته ځو چه واپس راغلو نو تا چه کجورے راشوکولے نو اندازهٔ ئے ولګوه چه څومره دی؟ نو کله چه د غزا د تبوك نه واپس په دغه لاره راتیر شو نو د دغه زنانه ئے تپوس وکړو چه ستا په باغ کښے څومره کجورے شوے وے؟ هغے وویل : لس (۱۰) وسقه. [خَرَصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ] د نبی ﷺ د اټکل مطابق وختل. دا معجزه وه.

[بخاری : ۱٤۸۱]

دے سره د مؤمن ایمان ډیریږی ځکه چه رسول الله ﷺ خو په غیبو نهٔ پوهیدو، یا د باغونو زیاته تجربه ورسره وه، بلکه نبی ﷺ فرمائی :

[اَنْتُمْ اَعْلَمُ بِاَمْرِ دُنْيَاكُمْ] [مسلم : ٦٢٧٧]

تاسو په دنیاوی کارونو ښهٔ پوهیږئ. دلته الله تعالیٰ خبر ورکړو.

(۲) واقعه : په دیار ثمود کی :

کله چه په لاره کښے دیارِ ثمود (حِجر) علاقے ته ورسیدو چه دا په وادی القریٰ کښے ده، چه اُوس ورته مدائن صالح هم وائی، دا هغه ځائے دے چه الله تعالیٰ دلته ثمودیانو ته صالح علیه السلام نبی رالیږلے دے.

نو دلته صحابه کرامو دمه کړے وه نو د ثمودیانو د پاتے شوی کوهی نه ئے اُوبهٔ راوخکلے وے او په هغے باندے ئے اُوړهٔ اغږلی وو، او په خپلو بتکونو (مشکونو) کښے ئے اُوبهٔ اچولے وے، چه ماښام وخت شو نو نبی ﷺ وفرمایل : چا چه د دغه کوهی نه اُوبهٔ راویستلی وی نو دغه اُوبهٔ هم واړه وئ او اَودس هم پرے مهٔ کوئ او څکئ ئے هم مهٔ، او کوم اُوړهٔ چه تاسو اغږلی دی، نو دا به هم نهٔ خورئ بلکه دا اُوښانو ته ورکړئ.

دا یو سخت حکم وو ځکه چه مسلمانان د فقر او د لوږے په حالت کښے دی او دا تیار اُوړهٔ هم پرے بند شو.

(کله کله به داسے حکم راځي چه د انسان طبیعت او مزاج او عقل به ئے نهٔ مني لیکن هغے ته به تیاریږی، پدے کښے جنت دے، مؤمن به خپل مزاج د رسول الله ﷺ د حکم مطابق جوړه وي، الله چه دهٔ له کوم عزت او کوم جنت ورکوی نو هغه ددے لږے سختیے په مقابله کښے ډیر مزیدار او زیات دے۔

(**فائده** : مکروه شے خپله خوړل نهٔ دی پکار بلکه په خیواناتو او په ادنیٰ خلکو باندے خوړل پکار دی، او داسے به هم نهٔ کوی چه مال ضائع کړی)۔

او دا حکم ئے وکړو چه د کوم کوهی نه به د صالح علیه السلام اُوښے اُوبهٔ څکلے نو هغه مبارك کوهے دے، لاړ شئ د هغے نه اُوبهٔ راوړئ، نو مسلمانان ورغلل د هغے نه ئے اُوبهٔ راواخستے او ویسکلے او خپل حاجتونه ئے د هغے نه پوره کړل۔

بیا صحابه کرامو اراده وکړه چه د ثمودیانو د هلاکت چه کومه علاقه وه چه هغے ته ننوځی او دا کورونه وګوری، (لکه د هغوی کورونه اُوس هم شته چه په غرونو کښے ئے جوړ کړیدی، غرونه ئے تراشلی دی) نو رسول الله ﷺ منع وکړه او وے فرمایل :

[لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ، أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ]

[بخاری : ۳۳۸۱، مسلم : ۷۶۵٦]

تاسو د ظالمانو کورونو ته مهٔ ننوزئ مګر که تاسو ژړیدونکی یئ، هسے نهٔ چه تاسو ته د هغوی په شان عذاب ورسیږی۔

(ځکه چه د عذاب په ځایونو کښے غفلت کول هم د عذاب سبب دے، البته که یو تن د تذکیر او د ژړا په حالت کښے داسے ځایونو ته ورځی نو بیا خیر دے)

(دلته د الله تعالیٰ دے غِنیٰ ته وګوره چه صحابه کرام ډیر اُوچت خلك او د الله اولیاء دی، او هغوی ته وائی چه تاسو ته به د غفلت په وجه عذاب ورسیږی، اګرکه الله تعالیٰ ډیر مهربان دے، په داسے بندګانو الله تعالیٰ چرته عذاب راولی، لیکن الله تعالیٰ صمد ذات دے، هیچا ته ئے ضرورت نشته، هغهٔ سره به په ډیر احتیاط چلیږے)۔

[ثُمَّ تَقَنَّعَ بِرِدَائِهِ وَهُوَ عَلَى الرَّحْلِ، وَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى أَجَازَ الْوَادِيَ]

بیا رسول الله ﷺ په خپل سر باندے څادر راواچولو او په اُوښ باندے وو او مزل ئے تیز کړو تردے چه اُوښه ئے ددے علاقے نه تیره کړه او دا ئے شا ته پریخوده۔ (بخاری)

معلومه شوه چه په عذابی ځایونو کښې به ډیر نهٔ ایساریږی، کله چه به رسول الله ﷺ د حج په موقعه په وادی مُحَسر (د مزدلفې او د منیٰ ترمینځ علاقه) باندې راتیریدو نو دلته ئې هم اُوښه تیزه کړه۔ دا زمونږ دپاره سبق دے، مګر په داسې عذابی ځایونو کښې زمونږ امت ګناهونه کوی، تصویرونه اخلی، سیلفیانې جوړه وی۔

بله معجزه : د یواځې نهٔ تللو حکم

هرکله چه رسول الله ﷺ ددے ځائے نه تیر شو نو د هغهٔ بله معجزه دا ښکاره شوه چه دوه خبرے ئے وکړے چه نن بیګاه شپه چه کوم ځائے مونږ دمه کوو نو هر یو تن که تقاضا له وړاندے ځی نو ځان سره به خامخا ملګرے اخلی، بغیر د ملګری نه به نهٔ ځی۔ نو پدے کښې یو تن ددے خبرے نه غفلت وکړو (دا کیدے شی منافق وو، یا یو مسلمان دے چه دے خبرے ته ئے سوچ نهٔ وو)

نو کله چه دا مسلمان یواځے بهر ووتو [فَإِنَّهٗ خَنِقَ عَلٰى مَذْهَبِهٖ]

نو د قضائے حاجت په ځائے کښې پرے مرګی راغلل۔ (غنق بیماری پرے ولګیده چه دماغوئے کار پریخودو او سترګے ئے نیغې نیغې راووتے لکه پیریان چه پرے ناست وی)

نو هلته راپریوتو۔ نبی ﷺ ته خبر وشو نو هغهٔ وفرمایل : چه آیا ما تاسو ددے کار نه نهٔ وئ منع کړی چه یواځے به نهٔ ځئ، بیا مهربان وو نو په هغهٔ باندے ئے دم واچولو او دعائے ورله وکړه نو الله ورته شفاء ورکړه۔

(دهٔ باندے کیدے شی چه پیریان ناست وو او پیریانو وهلے وو، پیریان په انسان باندے کله ناکله کینی او دا د قرآن او حدیث نه ثابته ده، مګر بعض خلك هسے اعصابی او دماغی بیمار وی نو هغے ته پیریان وائی)

(السیرة النبویة لابن کثیر، ودلائل النبوة لابی نعیم)

بله معجزه : د هواء رالوتل

پدے شپه یا په بله شپه باندے رسول الله ﷺ یو ځائے کښې دمه وکړه او ملګرو ته ئے

دا اعلان وکړو چه

[اَمَا اِنَّهَا سَتَهُبُّ عَلَیْکُمُ اللَّیْلَةَ رِیْحٌ شَدِیْدَةٌ، فَلَا یَقُوْمَنَّ اَحَدٌ، وَمَنْ کَانَ لَهٗ بَعِیْرٌ فَلْیُوْثِقْ عِقَالَهٗ]

خبر شئ! بیګاه شپه به سخته هوا رالوزی، نو که څوك ناست وی هغه به نهٔ ودریږی، او د چا چه اُوښ وی نو هغه دِ یے وتړی۔ (دائے د الله د طرف نه خبره وکړه په طریقه د معجزے سره) د ورځے هیڅ هوا نهٔ وه خو چه شپه شروع شوه نو سخته عذابی هوا شروع شوه نو مسلمانانو عام څملاستل او اُوښان ئے چوکړل نو هیچا ته ئے ضرر ورنکړو صرف یو کس پکښے پاڅیدو نو هواء اُوچت کړو :

[حَتّٰی اَلْقَتْهُ بِجَبَلَیْ طَیِّءٍ (اَللَّذَیْنَ یُقَالُ لَهُمَا اَجَا وَیُقَالُ لِلآخَرِ سَلْمٰی)]

[بخاری ۸/۱۲۵ (۴۴۱۹) ومسلم (۲۲۸۶) والسیرة النبویة لابن کثیر]

تردے چه هواء د طی قبیلے په دوه غرونو ګوزار کړو چه هغے ته اَجا او سلمیٰ وائی۔ داسے انسان به څومره هیبت کښے وی، او څومره تکلیف به ورته پیښ شوے وی۔ د صحیحینو روایت د جَبَلَیْ طَیِّءٍ پورے دے۔

بیا د سیرت په کتابونو کښے ورسره دا اضافه راغلے ده چه کله رسول الله ﷺ د تبوك نه واپس مدینے ته راغلو نو طیء قبیلے رسول الله ﷺ ته دغه شخص راوستو او ورته ئے هدیه کړو۔ نو دا کیدے شی چه معجزه وی، چه دهٔ ته به ددے خبرے نه د غفلت کولو په وجه دغه سزا او تکلیف رسیدلے وی لیکن د معجزے په طور به الله تعالیٰ ژوندے ساتلے وی۔ والله اعلم بحقیقة الحال۔

[السیرة الحلبیة، والسیرة النبویة لابن کثیر، ومختصر زاد المعاد للشیخ محمد بن عبد الوهاب رحمه اللّٰه]

(ددے روایت نه د سنتو د اتباع تائید کیږی او د سنت په مخالفت کښے انتهائی ډیر ضرر ونه دی)۔

بله واقعه : د سنتو مخالفت

رسول الله ﷺ چه کله تبوك ته ورسیدو نو یوے ونے ته ئے مونځ کولو (د الله د نبی طریقه دا وه چه هغهٔ به بغیر د سُترے نه مونځ نهٔ کولو، یا به دیوال یا کټ، یا ونے یا

ستنے یا اُوښانو ته مونځ کولو، په مسجد کښې د سترې دپاره لرګی جوړه ول سنت طریقه نۀ ده البته یو جائز عمل دے، د خلکو د تیریدو دپاره هغه کیخودلے شي لیکن دا به سنت طریقهٔ نۀ ګڼړی)

نو پدے کښې یو ځوان د سُترې او د نبی ﷺ په مینځ کښې راتیریدو نو هغۀ منع کړو (او دا منع کول به په سبحان الله وئیلو سره وی، یا به ورته لاس نیسی، که بیا هم نۀ منع کیږی نو جنګ هم ورسره کولے شی لکه چه په حدیث کښې دی) لیکن هغه منع نشو، نو رسول الله ﷺ هغۀ ته ښیرے وکړے : [اَللّٰهُمَّ اقۡعُدۡهُ] اے الله ! دا شل کړه۔

(رسول الله ﷺ به چا ته بے ځائے ښیرے نۀ کولے، بلکه هغه ډیر مهربانه نبی دے، لیکن دا جرم ډیر زیات سخت دے، د الله او د بنده تعلق دے سره کټ کوی، او کوم انسان چه ستا تعلق د الله سره خراب کړی نو هغۀ ته ښیرے پکار دی، رسول الله ﷺ نه په غزا د خندق کښې د مشرکانو د لاس نه د مازیګر مونځ قضاء شو نو هغوی ته ئے ښیرے وکړے چه اے الله قبرونه او سینے ئے د اُور نه ډکے کړه ځکه چه مونږه ئے د بهتر مونځ نه مشغول کړو)۔

نو دغه سړے شل شو۔

دا سړے مسلمان وو او روستو زمانه کښې ئے خپل شاګرد ته دا روایت بیانولو، بیا ئے ورته وویل چه دا زما خپے چه وینے نو دا د نبی ﷺ ښیرو وهلی دی، لیکن دا خبره یاده کړه چه دا حال مے تا ته ووئیلو خو تۀ ئے چا ته پدے علاقه کښې مۀ بیانوه، یا ئے زما د مرګ نه روستو بیانوه (ځکه چه ډیرو خلکو ته ددے پته نشته) بیا به ما ته خلك وائی چه دا د رسول الله ﷺ ښیرو وهلے دے نو څوك به خوا له نۀ راځی۔ (نو د نبی ﷺ مخالفت دومره ضرر دے)

بله معجزه : پیرانی ماشوم دمول

کله چه رسول الله ﷺ د وادی القرئ او دیار ثمود نه واوړیدو یا په دغه ځائے کښې وو نو یوه زنانه راغله او رسول الله ﷺ ته ئے شکایت وکړو چه یارسول الله زمونږ یو ماشوم دے چه په هغۀ باندے جنون (او پیرانی توب) دے،

[وَاِنَّهٗ يَأْخُذُهٗ عِنْدَ غَدَائِنَا وَعَشَائِنَا فَيُفْسِدُ عَلَيْنَا]

چه مونږ کله د ماښام او د سهار روټئ ته کینو نو دے وخت کښے پرے راځي نو مونږ باندے هر څه خراب ګډوډ کړي (شیطانان د انسانانو شمنان دي نو دغه شان پریشانه کول کوي، او ماشوم چه چا ته ژاړي نو خوراك مزه نهٔ ورکوي)

نو رسول الله ﷺ هغه ماشوم دم کړو او هغهٔ دپاره ئے دعا وکړه او د هغهٔ په سینه ئے لاس کیخودو او شیطان ته ئے داسے وویل:

[اُخْرُجْ عَدُوَّ اللّٰهِ، اَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ]

د الله دشمنه اُووځه، زهٔ د الله رسول تا سره خبرے کوم۔ (دا ډیره درنه کلمه وه) نو هغه شیطان ویریدو او ذلیله شو او د ماشوم نه ووتو۔ (لکه د تور سپی د بچی په شان) نو هغه روغ جوړ شو۔ [رواه احمد ورجاله رجال الصحیح مجمع الزوائد :٦ ١٤١٠ بروایة یعلی بن مرة ونحوه فی الدارمی ١/ ١٠ بروایة جابر]

نبی ﷺ چه ددے ځائے نه لاړو نو واپس چه کله په دغه زنانه راتیر شو نو تپوس ئے ترے وکړو چه ستا د بچی څه حال دے؟ هغے وویل چه الله جوړ کړو،

[اَصَابَتْهُ بَرَكَتُكَ]

ستا د دم برکت ورته رسیدلے دے۔ نو دغه زنانه نبی ﷺ ته دوه ګډان او پنیر او غوړی ورکړل (دے ته شکرانه وائی) نو نبی ﷺ یعلی بن مره ته وویل چه پنیر او غوړی او یو ګډ ترے واخله او یو ورته واپس کړه۔

(سبل الهدی والرشاد ۲۸/۱۰)

(دا ئے ولے واخستل؟ ځکه چه پدے کښے تعظیم د قرآن کریم راتللو، دلته دا خبره زده کول پکار دی چه دم باندے پیسے اخستو په باره کښے به بنده افراط او تفریط نهٔ کوی، بعض خلك په دم باندے پیسو اخستو د جواز نه دا کاروبار جوړ کړی او ظلم کوی، درے او څلور زره په یو دم باندے اخلی، نو دا هم صحیح نهٔ ده،

او بعض خلك دم باندے پیسے اخستو ته ډیر بد ګوری نو دا هم صحیح نهٔ ده، دلته د شکرانے په طور اخستے شویدی، په خپله خوشحالئ باندے، کله کله د کافرو سره شرط هم لګولے شویدے چه مونږ له به دیرش ګډے راکوئ، دا کار جائز دے لیکن دے کښے مبالغه نهٔ ده پکار)۔

بله ناشنا معجزه...... اوښه ورک کیدل :

قصه دا وه چه نبي ﷺ روان وو نو شپه پرے راغله، نو پدے کښے د رسول الله ﷺ اُوښه ورکه شوه. (ځکه چه د دوئ طریقه دا وه چه کوم ځائے به ئے دمه وکړه نو اُوښه به ئے کولاوه کړه او هغه به ئے څروله او دا به ډیر وخت دمه وه ځکه چه دیرش زره (۳۰۰۰۰) فوج چه یو ځائے کښے دمه کوی نو ډیر وخت پرے تیریږی).

صحابه کرام ئے د هغے پسے ولیږل چه وګوری چرته تلے ده، نو یو صحابي دے د هغه عُماره بن حزم ؓ نوم دے، دا بدری صحابي دے، دهٔ یوه خیمه لګولے وه نو پدے کښے یو تن زید بن لُصَیت قَیْنُقَاعِی یهودی چه اسلام ئے راوړے وو او بیا منافق شوے وو دا د عُماره په خیمه کښے د نورو ملګرو سره ناست دے، او عُماره ؓ د رسول الله ﷺ سره په بل مجلس کښے ناست دے، نو دے منافق د نورو خلکو غلط ذهن جوړه ولو (لکه دا د منافقانو طریقه ده) وے وئیل :

[يَزْعُمُ اَنَّ مُحَمَّدًا اَنَّهٗ نَبِيٌّ يُخْبِرُكُمْ بِخَبَرِ السَّمَاءِ وَلَا يَدْرِیْ اَيْنَ نَاقَتُهٗ] .

محمد (ﷺ) دا ګمان کوی چه دے نبي دے، تاسو ته د آسمان خبرونه بیانوی او خپله نهٔ پو هیږی چه اُوښه ئے چرته تلے ده؟

(د خلکو په زړونو کښے ئے د رسول الله ﷺ په نبوت کښے شك اچولو، پدے ځانده د مؤمنانو شك نهٔ پیدا کیدو خو هغهٔ خپل خباثت راښکاره کړو)

نبي ﷺ دهٔ د خبرو نه خبر نهٔ دے، پدے کښے الله ورته خبر راولیږلو. نو نبي ﷺ خپلو ناستو ملګرو ته ووېل چه زمونږ پدے معسکر کښے یو سړے دے او هغهٔ دا خبره وکړه چه محمد رسول الله تاسو ته د آسمان خبرونه بیانوی او د خپلے اُوښے ځائے هم ورته نهٔ دے معلوم. او دا ئے وفرمایل :

[وَاللّٰهِ لَا اَعْلَمُ اِلَّا مَا عَلَّمَنِیْ رَبِّیْ وَقَدْ اَعْلَمَنِیْ اَنَّهَا فِی الْوَادِیْ فِیْ شِعْبِ كَذَا حَبَسَتْهَا سَمُرَةٌ بِزِمَامِهَا]

قسم په الله زهٔ خو نهٔ پو هیږم مګر په هغه خبرو چه الله ئے ما ته وښائی (یعنی په علم الغیب نهٔ پو هیږم) او الله تعالیٰ ما ته اُوس خبر راکړو چه هغه پدے میدان کښے په

فلانئ کنده کښې ده او هلته د کیکر یو ے ونے نیولې ده او د هغې مهار په ونه کښې انښتے دے، نو هغه نشې راتللې۔

[فَبَادَرَ النَّاسُ فَوَجَدُوهَا كَذٰلِكَ فَأَتَوهُ بِهَا]

صحابه کرام ورپسے په جلتئ ورغلل نو په همدغه حالت کښې ئے وموندله او هغه ئے نبی ﷺ ته راوسته۔

نو پدے کښې عماره ﷺ خپلې خیمے ته راغلو نو خلکو ته ئے وویل چه ما د رسول الله ﷺ نه یوه ناشنا خبره واوریده چه زمونږ په معسکر کښې یو سړے دے او داسے داسے خبره ئے وکړه، او پوره واقعه ئے ورته سناؤ کړه۔

نو په دغه مجلس کښې یو مؤمن ناست وو، هغۀ وویل: دا خبره خو اُوس زید بن لُصیت وکړه، نو عُماره ورته وویل: چه ظالمه! تۀ زما سره وسیږے او زۀ په تا باندے خبر چه هم کوم او تۀ د رسول الله ﷺ په باره کښې داسے داسے خبرے کوے نو ورپسے ورپاځیدو او په څټ کښې ئے ورله سوکونه ورکړل، او دا ئے ورته وویل:

[إِنَّكَ لَدَاهِيَةٌ فِي رَحْلِي أُخْرُجْ عَدُوَّ اللّٰهِ مِنْهُ]

تۀ خو زما په خیمه کښې یو لوی مصیبت ئے، د الله دشمن نه ددے نه بهر شه۔

(اعلام النبوة لابی الحسن الماوردی ۱۲۱/۱) وسبل الهدی)

ابن اسحاق وائی: بعض خلك وائی چه زید وویل: چه زۀ اُوسه پورے د رسول الله ﷺ په باره کښې شکی وم اُوس ما ته پته ولګیده چه دا خو د الله نبی دے، او توبه ئے اُوخکله۔

او بعض وائی چه تر مرګه پورے به ئے دغه شان شرونه کول۔ والله اعلم۔

(سبل والسیرة النبویة لابن هشام وابن کثیر)

نو ددۀ منافقت الله تعالیٰ راښکاره کړو او قتل ئے نکړو ځکه چه ظاهره کښې مسلمان وو۔

جمع بین الصلاتین:

نبی ﷺ روان وو نو په لاره به د هغۀ طریقه دا وه چه په مونځونو کښې به ئے جمع بین الصلاتین کوله، جمع تقدیم او جمع تاخیر، یعنی کله به ئے د مازیګر مونځ د

ماسپخین سره کولو او کله به ئے د ماسپخین مونځ د مازیګر سره کولو۔
دغه شان د ماښام او ماسخوتن به هم وو۔ ځکه چه ډیرش زره فوج هر مانځه ته کوزه ول ګران وی، نو کله چه به ئے د ماسپخین وخت کښې سفر شروع کولو نو د مازیګر مونځ به ئے هم ورسره وکړو نو ماښام ته به کوزیدل، او بیا به ئے د ماښام د مانځه سره د ماسخوتن مونځ هم کولو ۔ (مګر وتر به ئے نۀ کول، هغه به په خپل وخت کوی)
او طریقه ئے دا وه چه کله به کوز شول نو ملګری به خوارۀ شول، قضائے حاجت به ئے وکړو، بیا به ئے تیمم ووهلو ځکه چه صحراوونه وو، د اُوبو درك پکښې نۀ وو، بیا به ئے یو مونځ وکړو او د هغې نه روستو به ئے اذکار وکړل بیا به ئے بل مانځه دپاره اقامت وکړو۔ او دا حقیقی جمع بین الصلاتین وه۔
او دا جمع صوری نۀ وه لکه بعض ملیان دا خبره کوی چه هر یو مونځ ئے په خپل خپل وخت کړیدے، خو د یو مونځ آخر وخت او د بل مونځ اول وخت کښې به ئے جمع کړل نو هر یو به خپل وخت کښې ادا شو، دا هسې تکلف دے۔
جمع صوری خو هغه څوك کولے شی چه نقشه ورسره وی او علاقه هم ورته معلومه وی چه دلته پدے وخت د ماسپخین وخت ختمیږی او مازیګر شروع کیږی۔ او دا کار که نبی ته آسان وی نو امت دپاره ګران کار دے۔ نو د مذهب د خاطره په احادیثو کښې داسې تاویلات کول د یو رشتینی مسلمان کار نۀ دے۔

بله معجزه --د ابوذر رضی الله عنه قصه

رسول الله ﷺ روان دے نو په یو ځائے کښې ئے دمه وکړه نو ګوری چه یو انسان ډیر وړاندے نه راروان دے، او دا پته نۀ لګی چه څوك دے؟ نو نبی ﷺ ملګرو ته وویل چه دا څوك دے؟ چا یو تن یاد کړو چا بل،
نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [کُنْ اَبَا ذَرٍّ]
ابوذر شه۔ (یعنی دا ابوذر رضی الله عنه دے) نو کله چه رانزدے شو په رشتیا ابوذر رضی الله عنه وو، او پیاده راروان دے چه اُوښه هم ورسره نشته، او سامان ورسره دے هغه ئے په شا باندے راوړه

ولے دے، نبی ﷺ وفرمایل:

[مَرْحَبًا بِاَبِیْ ذَرٍّ]

ابوذره ستا دپاره ډیر مرحبا وی۔ (په خیر راغلے) بیائے تپوس وکړو په تا څه چل شوے؟ هغهٔ وویل: اے د الله رسوله! زهٔ خو ستاسو نه روستو پاتے شوم، اُوښه راته مانده شوه (یا ترے مړه شوه یا ترے ورکه شوه) نو د هغے سامان مے په شا باندے راواړه وو او دا دے راغلم۔

یو روایت کښے دی چه ما خپلے اُوښے ته څو ورځے گیاه ورکړه چه زهٔ به پدے باندے د رسول الله ﷺ پسے تبوك ته ځم، نو څو ورځے گیاه مے ورکړه بیا پرے راووتم دے دپاره چه د رسول الله ﷺ پسے پیوسته شم لیکن هرکله چه زهٔ ذو المروه علاقے ته راورسیدم (چه د مدینے نه درے سوه (۳۰۰) کیلو میټره جدا علاقه ده او د وادی القریٰ او ذی خشب په مینځ کښے ده) نو زما اُوښے کار پریخودو، چه هیڅ حرکت پرے نهٔ وو نو ما سامان راواخستو او په خپله اوګه مے رابار کړو بیا د رسول الله ﷺ پسے پیاده راروان شوم چه ډیره سخته گرمی وه، (دا ډیره سخته قربانی ده، یواځے تن په داسے دشتو او بیابانو کښے په سخته گرمئ کښے سامان په سر باندے روان وی، دا کار د قوی ایمان نه بغیر ډیر گران دے) کله چه زهٔ ور ورسیدم نو رسول الله ﷺ ما ته مرحبا ووئیله،

بیا نبی ﷺ ورته دا پیشنگوئی ورکړه:

[رَحِمَ اللّٰهُ اَبَا ذَرٍّ يَمْشِيْ وَحْدَهٗ وَيَسْكُنُ وَحْدَهٗ وَيَمُوْتُ وَحْدَهٗ]

الله دِے په ابوذر باندے رحم وکړی، دا یواځے راروان دے، او یواځے به وسیږی او یواځے به مری۔

(ډیر گران کار دے) دا غزا وشوه او خلك واپس خپلو خپلو علاقو ته راغلل۔

روستو د صحابه کرامو په زمانه کښے د ابوذر رضی الله عنه یوه رایه جوړه شوے وه چه مال ساتل حرام دی، چه څه درسره وی هغه به تول په یوه ورځ ختموے، او صبا ته مال ساتل حرام دی، او دین کښے د پیسو ساتل جائز دی، لیکن هغهٔ به دبعض عامو دلیلو نه استدلال کولو لکه د نبی ﷺ دا قول به ئے پیش کولو چه که ما سره د اُحد د غر هومره سرهٔ زر وے نو ما په درے ورځو کښے ختمول، نو هغهٔ به وئیل چه رسول الله ﷺ ئے ختموی او تاسو ئے نهٔ ختموئ۔

ددې جواب دا دې چه نبي ﷺ خپله زاهد وو ليکن امت ته ئې د مال د ساتلو اجازه ورکړې ده، خو ابوذر ﷺ اجازې والا خبرې ته فکر نۀ وو، ددې رائې د وجه نه به ئې د خلکو سره اختلافات راتلل نو خلکو به تنګولو نو پدې وجه عثمان ﷺ په خپل دور خلافت کښې ورته وويل چه د مدينې نه چرته بهر لاړ شه، خلك درسره بحثونه کوي، او هغۀ به هم خلکو سره بحث کولو، چه اې پيسو والو! جهنم ته روان يئ۔

نو عثمان ﷺ ورته مشوره ورکړه چه ربذې علاقې ته لاړ شه، (چه دا د مدينې نه د درې ورځې فاصله باندې لرې يوه شاړه دشته علاقه ده ذات عرق ته نزدې ده د مدينې نه۔ (۱۵۰) کيلو ميټره جدا ده)

نو هغۀ دا مشوره ومنله او هلته لاړو۔ بيا چه کله د مرګ وخت ئې راغلو نو د الله نبي ورته دا خبره هم کړې وه چه تۀ به يواځې مرې او په تا باندې به يو جماعت د مسلمانانو جنازه کوي چه هغه به مسافر وي،

نو ابوذر ﷺ ناجوړه شو، صرف يوه ښځه او يو غلام ئې وو، هغوي ته ئې وويل چه کله زۀ مړ شوم، نو زما جنازه واخلئ او د لارې په غاړه ئې کيږدئ، د الله رسول ما ته وئيلي دي چه په تا باندې به د مؤمنانو مسافرو يو جماعت جنازه کوي، نو څوك به خامخا راځي، نو دې وخت کښې لا مړ نۀ دې چه د عبد الله بن مسعود ﷺ او د هغۀ ملګري د کوفې نه مکې ته عمرې دپاره روان وو نو پدې ربذه باندې راتير شو، دا غلام ورغلو اشاره ئې ورته وکړه چه دې خوا راستانۀ شئ، هغوي وويل:

څه چل دې؟ هغه وويل: دلته د نبي ﷺ يو صحابي دې، هغه مړ کيږي، تاسو راشئ کله چه مړ شي جنازه پرې وکړئ نو عبد الله بن مسعود ﷺ او د هغۀ ملګري ورستانۀ شول ويې کتل چه ابوذر ﷺ دې، نو ابوذر ﷺ پدې وخت کښې د زنکدن په سختو کښې دې نو دې مؤمنانو ته ئې زيرې ورکړو، او دا ئې ورته وويل چه [اَبْشِرُوْا]

خوشحاله شئ چه تاسو مؤمنان يئ ځکه چه ما د نبي ﷺ نه آوريدلي چه ابوذر ﷺ کله مړ کيږي او جنازه پرې څوك کوي، هغه به مومنان وي، نو لږ وخت کښې هغه وفات شو، نو عبد الله بن مسعود ﷺ پرې وژړل او دا حديث ئې رایاد کړو چه د الله رسول رشتيا وئيلي دي: ما ترې په تبوك کښې واوريدل چه ابوذر ﷺ يواځې روان دې، يواځې به وسيږي او يواځې به مړ کيږي۔ هم دغه خبره پرې رشتينې شوه۔ نو دوئ پرې جنازه

وکړه او همدغه ربذه علاقه کښې ئې خخ کړو او دا د هجرت (۲۳ هـ) کال دے۔

ددے واقعے نه مونږ ته دا سبق ملاویږی چه د الله او د رسول په هره خبره به یقین لرے، کله به یوه خبره ستا د مشاهدے او تجربے خلاف وی، خو چه الله او رسول خبر ورکړے وی نو په هغے یقین کوه۔

د منافقانو خبرے:

د سیرت د کتابونو نه ښکاره کیږی چه څه نا څه منافقان غزا د تبوك ته تلی وو، لکه ودیعه بن ثابت د بنی عمرو بن عوف نه، مَخُشِیُ بن حُمَیِّر اشجعی حلیف بنی سلمه، جُلاس بن سُوید بن الصامت، ثعلبه بن حاطب۔

○ دوئ په لاره او په ابتداء کښې د مؤمنانو په زړونو کښې د کافرانو رعب اچولو (لکه دا د منافقانو طریقه ده چه خپله خراب وی نو نور هم ځان سره خرابول غواړی، چه نور خلك هم د دوئ په شان شی) نو هغوی ساده مسلمانانو ته (کومو چه دا منافقان نهٔ پیژندل) وویل:

[تَحۡسَبُوۡنَ قِتَالَ بَنِی الۡاَصۡفَرِ کَقِتَالِ غَیۡرِهِمۡ ؟]

تاسو د رومیانو قتال لیدلے نهٔ دے، دا د نورو عربو د جنګ په شان نهٔ دے، هغه ډیر سخت دے، ډیر تیر انداز، او په توره استعمالولو کښې ډیر قوی دی:

[وَاللّٰهِ لَکَاَنَّا بِکُمۡ غَدًا مُقَرَّنِیۡنَ فِی الۡحِبَالِ]۔

قسم په الله مونږ تاسو لره وینو چه صبا به په پړو کښې تړلے شوی یئ او په روم کښې به پراته یئ۔ (جیلونه به ئے درنه ډك کړی وی)

مؤمنان ئے یره ول او سړے چه په داسے تکلیف او ګرمئ کښې روان وی، چه غریبی هم وی، او سفر هم لرے وی، او بیا داسے خبرے وکړے شی، نو د سړی په زړهٔ کښې رعب راځی۔ منافقانو دا خبرے وکړے لیکن بیا یریدل چه چرته قرآن نازل نشی۔

یو بل روایت دے چه یو منافق (مخشی بن حمیّر) اُووئیل چه آرمان چه سل (۱۰۰) کوړے وهلے شوے وے خو چه زمونږ په باره کښې قرآن نهٔ نازلیدلے کوم چه زمونږ راز ښکاره کوی۔

نو د دوئ په رد کښې آیتونه راغلل :

﴿ يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ط قُلِ اسْتَهْزِءُ وْا ج اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿٦٤﴾ (سورة التوبة)

(يريږي منافقان ددې نه چه نازل شي په دوی (مسلمانانو) باندې يو سورت چه خبر به ورکړي دوی لره په هغه څه په زړونو د دې (منافقانو) کښې دی اُووايه ! ټوقې کوئ تاسو يقيناً الله تعالیٰ راويستونکے دے هغه څه لره چه يريږئ تاسو (د هغې نه)).

او الله دوئ ته دهمکی ورکړه چه د اسلام او د مسلمانانو پورے ښې ټوقې اُوکړئ، ليکن پدې پوهه شئ چه الله به ستاسو ټول خباثتونه او منافقتونه ښکاره کوی.

(ابن ابی شيبه او ابن المنذر)

○ ابونعيم په ((حليه)) کښې د شُريح بن عبيدٌ نه او ابن جريرؒ، ابن ابی حاتمؒ او ابن مردويہؒ وغيرهم د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه ددې آيت د شان نزول په باره کښې چه کوم روايت نقل کړيدے د هغې خلاصه دا ده چه يو سړی د غزوۀ تبوك په موقعه په يو مجلس کښې اُووئيل : (دا سړے وديعه بن ثابت وو- امتاع)

[مَا رَأَيْنَا مِثْلَ قُرَّاءِ نَا هٰؤُلَاءِ اَرْغَبَ بُطُوْنًا وَلَا اَكْذَبَنَا اَلْسِنَةً، وَ لَا اَجْبَنَ عِنْدَ اللِّقَاءِ]

چه مونږ ددې قُرّاؤ (قاريانو) نه زيات د خيټې سره مينه کونکی او دروغجن او بزدل نهٔ دی ليدلی، رسول الله ﷺ ته ددې خبر اُوشو او قرآن نازل شو،

﴿ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ط قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ط اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةً بِاَنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿٦٦﴾ (سورة التوبة)

(که تهٔ د دوئ نه تپوس وکړې چه تاسو څه وئيل : نو دوئ وائی چه مونږ کپ شپ لګولو (او لاره مو لنډه وله) تهٔ ورته ووايه : آيا د الله او د هغهٔ د آيتونو او د هغهٔ د رسول پورے تاسو ټوقې کوئ)

نو هغه سړی د رسول الله ﷺ د اُوښې مهار نيولے وو او مندې ئې وهلے او خلقو هغه په کانړو ويشتلو، او وئيل به ئې چه يارسول الله ! مونږ خو هسے کپ شپ ويشتلو او نبی

کریم ﷺ به وئیل چه آیا تاسو د الله، د هغهٔ د آیتونو او د هغهٔ د رسول پورے توقے کوئ۔ (ابن کثیر)

دا د منافق خوئی دے چه د الله د کتاب والو پورے توقے کوی، ددے وجه نه د علماء او د قرآن قاریانو بے عزتی کول کفر دے کله چه د قرآن د وجه نهٔ ئے کوی او ذاتی بیعزتی نهٔ وی۔ دارنگه د الله تعالیٰ د آیت پورے گپ لگول او توقے کول هم په اتفاق د علماؤ کفر دے۔

○ او ابن المنذرؒ او ابن ابی حاتمؒ او ابو الشیخؒ د قتادهؒ نه نقل کړیدی چه رسول الله ﷺ تبوك ته روان وو او د هغهٔ نه د منافقانو څه کسان مخکښے روان وو نو دوئ خپل مینځ کښے وویل :

[أَيَرْجُوْ هٰذَا الرَّجُلُ اَنْ يُّفْتَحَ لَهٗ قُصُوْرُ الشَّامِ وَحُصُوْنُهَا ؟ هَيْهَاتَ، هَيْهَاتَ]

آیا ددے سړی دا گمان دے چه دهٔ ته به د شام بنگلے او قلعه گانے فتح شی، ډیره لرے خبره ده، ډیره لرے خبره ده۔

نو الله تعالیٰ خپل نبی ته اطلاع ورکړه، نبی ﷺ وفرمایل : دا کسان راونیسئ، بیا ورته راغے ورته ئے وفرمایل: آیا تاسو دا دا خبرے وکړے ؟ هغوی وویل : اے د الله نبی ! مونږ خو ځان مشغوله کولو او گپ شپ مو لگولو نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل۔

(تفسیر المنار)

او مخشی بن حُمیر پکښے وویل : زما دا خوښه ده چه ما ته سل کوړے راکړے شی خو چه زمونږ په باره کښے قرآن نازل نشی۔

نو کله چه دا آیتونه نازل شو نو په هغوی کښے دغه مخشن (یا مخشی) بن حمیر صحیح توبه اُوخکله او صحیح مؤمن شو، او د الله نه ئے دعاء وکړه چه اے الله ! تا ته پته ده چه زهٔ مخلص یم په خپله توبه کښے نو ما ته د شهادت مرگ راکړه او ما داسے ځائے کښے وفات کړه چه هیچا ته پته ونهٔ لگی نو الله تعالیٰ ددهٔ دعا قبوله کړه نو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کښے په جنگ یمامه کښے د مُسیلمة الکذاب په مقابله کښے شهید شو [فَلَمْ يُرَ لَهٗ اَثَرٌ] نو د هغهٔ د جسم پته هم ونهٔ لگیده چه کوم ځائے پروت دے۔

منافقان په هره زمانه کښے او په هر صف کښے موجود وی۔

بله معجزه...... اچانک باران راتلل

پدې سفر کښې ډیر زیات مشکلات وو، گرمي ده، صحراوونه دي، لوږه تنده ده، چه په لاره کښې به ئې د ونو پاڼړې خوړلې، او اُوبهٔ هم نهٔ ملاویدې۔

نو حدیث کښې دي چه ملگري دومره تږي شول چه بعض کسانو به خپل اُوښان حلالول (حال دا چه د اتلسو (۱۸) کسانو په سر یو اُوښ وو چه په هغې به ئې نوبت په نوبت سورلي کوله) او بیا به ئې د هغې لړې راویستلو او د لړی نه به ئې اُوبهٔ وزبیښلې او دغه اُوبه به ئې څکلې، (د لړی اُوبهٔ څو مره ترخې او بد بویه وي؟!) او د هغې خوشیان به ئې رلواخستل په خپله سینه به ئې واچول چه سینې ته یخوالې راشي۔

(دا ټول د الله اولیاء وو او د محمد رسول الله ﷺ په شان هستي ورسره ده، الله کولې شو چه ټولو ته ئې ائرکنډیشن لگولې وې او په هغې کښې روان وې، لیکن الله داسې ونکړل ځکه چه الله تعالیٰ په ایمان والو باندې سختئه تیره وي، او دنیا د اسبابو او د مشکلاتو عالَم دې په نیکانو خلکو، بل د روستو امت دپاره یو قانون او سبق جوړه ول وو، چه د الله تعالیٰ نبي او صحابه کرام دومره سختئه تیره وي، نو تاسو به هم ددین دپاره سختئه تیره وئ، جنت خو سرائې نهٔ دې چه هر سړې به ورته بغیر د تپوس نه ورځي، بلکه د جنت دپاره به څه مشکلات تیره ول وي لکه دا د الله تعالیٰ اصول دي۔

یو مسلمان به روان وو په لاره کښې به ئې په خپل سر باندې خپل لاس ایخودې وو، ځکه چه د نمر ډیره سختئه تیزي وه چه په سر کښې به دننه ننوتو، نژدې به مړ کیدو، څه اسباب د چترئ هم ورسره نهٔ وو۔

پدې کښې ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغې عرض ئې وکړو اې د الله رسوله !

[اِنَّ اللّٰهَ قَدْ عَوَّدَكَ فِي الدُّعَاءِ خَيْرًا، فَادْعُ اللّٰهَ]

تهٔ الله په دعاء عادت کړې ئې چه تا ته خیرونه درکوي، نو د الله نه دعاء وغواړه۔

رسول الله ﷺ وفرمایل : [اَوَتُحِبُّ ذٰلِكَ؟] آیا تهٔ دا غواړې؟۔

هغهٔ وویل : آؤ،

نو رسول الله ﷺ لاسونه پورته کړل۔ نو لاسونه ئې لا ښکته کړي نهٔ وو چه وریځ

راپورته شوه او ډیر باران ئے وکړو، چه ملګرئ ئے خړوبه کړل او دوئ خپل مشکونه ډک کړل او حاجتونه ئے پوره شو، بیا مونږ لاړو وریځ مو کتله نو هغه د معسکر نه اخوا نهٔ وه۔

[ابن حبان كتاب الجهاد باب غزوة تبوك رقم: ۱۷۰۷ قال ابن كثير: واسناده جيد]

دے ته معجزه وائی۔

(**فائده** : د الله نبی کښے جلتی نهٔ وه، کله چه به مصیبت راغلو نو سمدست به ئے د هغے د لرے کولو دعاء نهٔ کوله بلکه د الله دپاره به ئے صبر کولو او دغه مصیبت به ئے برداشت کولو لکه دا خبره قرآن کریم کښے إشارةً راغلے ده د ایوب علیه السلام په واقعه کښے۔

(۲- د رسول الله ﷺ معجزه او د صحابه کرامو کرامت دا وو چه سمدستی او زر به ئے دعاء قبلیده، ددے معجزو نه بعض خلك عبرت اخلی او بعض نهٔ،

ابن اسحاق ذکر کړیدی چه پدے سفر کښے یو سړے وو چه هغه په منافقت باندے خلکو کښے معروف (مشهور) وو، د منافقانو سره کینی پاڅی، او رسول الله ﷺ باندے سم ایمان نهٔ لری، نو کله چه دا معجزه ښکاره شوه، نو بعض مؤمنانو دے منافق ته وویل :

[وَيُحَكَ هَلُ بَعُدَ هٰذَا مِنُ شَيُءٍ ؟!]

خوار شے ددے معجزے نه روستو به ستا څه شك وی؟، (چه لاس اُوچتولو سره سمدست باران وشو، معلومیږی چه الله ورسره ملګرے دے) نو یو تن چه د هدایت اراده نهٔ لری نو هغهٔ لره ډیرے بهانے ورځی۔

هغهٔ وویل : [سَحَابَةٌ مَارَّةٌ !] دا خو څه دلیل نهٔ دے، بلکه دا یوه وریځه وه تیریدله نو باران ئے وکړو۔ (یعني دے کښے خو د نبی ﷺ څه کمال نهٔ وو، (العیاذ بالله)

خو دے ته نهٔ ګوری چه دے وریځے ولے پدے ځائے کښے دا اُوبهٔ وغورزولے او بل ځائے کښے ئے ولے نهٔ غورزولے، او ددے دعاء وخت کښے څنګه راغله او په بل ځائے باندے ولے نهٔ کیده، خو د منافق نظر سرسری وی، ظاهری اسبابو باندے ئے اول نظر لګیږی، زلزله وشی نو زر ئے اسبابو ته ذهن لاړ شی، دا نهٔ ګوری چه دا چا وکړه او په دغه قوم ولے وشوه ؟ په بل طرف ئے ولے دغه بخار نهٔ ویستلو، منافق خپل ایمان نهٔ جوړه وی)

[السيرة النبوية لابن كثير ٤/١٦]

بله معجزه :

وادی اَلمُشَقَّق کښې د رسول الله ﷺ د اوبو نه منع او د منافقانو مخالفت :

په دې سفر روان دی، نو نبی ﷺ وفرمایل : صبا له به مونږ یوه وادی ته رسیږو چه هغې ته وادی المشقق وائی او په هغې کښې یو کمر دې چه د هغې نه لږې لږې اُوبهٔ راروانې دی، چه یو کس دوه کسان درې کسان پرې مړیږی، او دا خو غټ فوج دې، نو داسې نهٔ چه څوك مخکښې ورشئ او هغهٔ اُوبهٔ وڅکی ترڅو چه زهٔ نهٔ یم درغلې، اول به هیڅوك ګوتې نهٔ وروړی، صبا له په همغه وخت کښې مسلمانان دغه اُوبو ته ورسیدل نو څه کسان مخکښې اُوبو ته ورسیدل، او د نبی ﷺ دغه امرئې مات کړې وو،

او سیرت کتابونه لیکی چه دا کسان منافقان وو معتب بن قشیر، حارث بن یزید الطائی حلیف بنی عمرو بن عوف، ودیعه بن ثابت، او زید بن اللصیت وو.

نو نبی ﷺ پو هه شو چه څه کسانو مخکښې اُوبو ته لاسونه وړیدی، څکه چه اُوبه وچې شوې وې، نو وې فرمایل : [اَلَمْ اَنْهَکُمْ ؟] آیا ما تاسو ددې نه نهٔ وئ منع کړی.

نو هغوی سرونه ښکته کړل، ذلیله شول.

[وَلَعَنَهُمْ وَدَعَا عَلَيْهِمْ]

نو رسول الله ﷺ دوئ ته ښیرې وکړې. (څکه چه دې اوبو کښې الله ډیر والې پیدا کولو لیکن ددې ظالمانو په وجه نقصان وشو، د غلطو خلکو لاس وروړلو په وجه اُوبهٔ بې برکته شوې او د نبی ﷺ امر مات شو)

بیا رسول الله ﷺ خپله هغه کاڼړی له ورغې او ګوتې ئې پرې ووهلې او د هغې نه لږې څاڅکې اُوبه ئې ترې راواخستې او په مخ او لاسونو باندې ئې راخکلې او په هغه ځائې کښې ئې خپلې لاړې تو کړې او د الله نه ئې دعا طلب کړه، او دغه ځائې کښې ئې دغه لږې اُوبه بیرته واچولې

[فَانْخَرَقَ مِنَ الْمَاءِ وَسَمِعْنَا لَهُ حِسًّا كَحِسِّ الصَّوَاعِقِ]

نو دغه کمر وچودلو او په هغې کښې د اوبو په وجه داسې آوازونه وشو چه مونږ د هغې د تندر په شان آوازونه واوریدل نو ډیرې اوبه ترې رارَوانې شوې، او مسلمانانو ترې اودسونه وکړل او خپل حاجتونه ئې ترې پوره کړل۔

معاذ بن جبل ﷺ دا قصه نقل کوی چه بیا رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل :

[يَا مُعَاذُ ! إِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ أَنْ تَرٰى مَا هٰهُنَا قَدْ مُلِئَ جِنَانًا]

اے معاذ ! که تا له چرته الله ژوند اوږد کړو نو دلته به وینې چه دا علاقه به د باغونو نه ډکه شوی وی۔

[صحیح مسلم : ۱۵/۴۱، معجزات النبی من کتاب الفضائل، دلائل النبوة للبیهقی ۲۳۶/۵ والبدایة والنهایة ۲۱/۵/۱۱۶/۶]

صاحب د "اقامة الحجة علی العالمین بنبوة سید المرسلین" لیکی چه ددې حدیث تصدیق زمونږ په زمانه کښې په ابتداء د پنځلسم هجری کال کښې لیدلے شویدے چه دلته اوس باغونه دی۔

د مولانا مودودیؒ شریك سفر ملګرے محمد عاصم الحدادؒ لیکی :

مونږ تبوك ته لاړو نو ډیرے زیاتے اوبهٔ مو ولیدلے چه د رسول الله ﷺ په لاس راوتلے اوبه په پنځه ویشت (۲۵) ټیوب ویلونو کښې تقسیم شوې وې، مونږ یو ټیوب ویل ته ورغلو نو مونږ هلته ولیدل چه څلور انچی یو پائپ لګیدلے وو او بغیر د څه مشین نه د هغې نه په پوره زور سره اوبهٔ رارَوانې دی، نزدې نزدې همدا کیفیت د نورو ټیوب ویلونو هم مونږ ته ووئیلے شو۔

دا د نبی ﷺ د معجزې برکت دې چه نن په تبوك کښې دومره زیاتے اوبه موندے کیږی چه د مدینې او د خیبر نه سوا مونږ هیچرته دومره اوبه ونهٔ لیدلے، بلکه حقیقت دا دې چه د تبوك اوبهٔ ددې دوارو ځایونو نه هم زیاتے دی۔

ددې اوبونه فائده اخستو سره اوس په تبوك کښې هر طرف ته باغونه لګولے کیږی او د نبی ﷺ د پیشنګوئی مطابق د تبوك علاقه د باغونو نه ډکه شویده او ورځ په ورځ ډکیږی۔

(سفرنامه ارض القرآن ص : ۲۲۰/۲۲۴)

صاحب د "السیرة الحلبیة" لیکی چه دا واقعه د تبوك نه په واپسئ کښې راغلې وه۔

تبوک ته رسیدل :

پدې طریقه رسول الله ﷺ تبوك ته ورسیدو چه دا یوه قریه ده، نو هلته ئې ملګری کوز کړل او معسکرات ئې جوړ کړل او ملګری ئې په ترتیب کړل چه که جنګ کیدو نو داسې داسې طریقې سره به جنګ کوو، نو یوه ښکلې خطبه ئې ووئیله چه په هغې کښې ئې جوامع الکلم پیش کړل، او د دنیا او د آخرت په خیرونو ئې تیزی ورکړه او د الله د عذابونو نه ئې خلك ویره ول، او ایمان والو دپاره ئې زیری بیان کړل تردې چه د ملګرو معنویات ئې راپورته کړل او دوئ ته چه کوم نقصان د توښې د کموالی په وجه رسیدلې او مشقتونه ئې برداشت کړی وو نو هغه ئې ترې هیر کړل،

هرکله چه رومیانو د مسلمانانو جرأت ولیدو چه دومره لرې مسافت باوجود دلته راغلی دی نو الله تعالیٰ په هرقل بادشاه باندې سخت رعب واچولو،

(ځکه چه دا د نبی ﷺ معجزه وه چه دشمن به یو میاشت لرې وو نو په هغهٔ به رعب راتللو۔

[وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيْرَةَ شَهْرٍ]

او دا رعبٔ الله تعالیٰ د هغهٔ په ملګرو کښې، او بیا په ټولو نیکانو کښې اچولې وی، د هغوی د تقویٰ په اندازه۔ دا د الله اصول دی چه څوك د خالق نه یریږی نو مخلوق به د هغهٔ نه یریږی، او څوك چه د الله نه نهٔ یریږی نو بیا به د مخلوق نه یریږی)

او هرقل ته د مخکښې نه هم پته لګیدلې وه چه دا خو د الله حق نبی دے،

[تَفَرَّقُوْا فِيْ بِلَادِهِمْ دَاخِلَ حُدُوْدِهِمْ]

نو هغوی د خپلو ښارونو په حدودو کښې تقسیم شول، وتښتیدل، نو جنګ ونشو خو دا اعصابی جنګ وو، د مخکښې نه یره وه چه سخت جنګ به کیږی، لیکن صرف د لارې تکلیفونه او مشقتونه ئې تیر کړل۔

او پدې جنګ نهٔ کیدو کښې ډیره فائده وه ځکه چه که جنګ شوے وے نو د مسلمانانو سُمعت او شهرت ته به نقصان رسیدلې وے، خلکو به وئیلې چه یو دشمن د

بل دشمن مخې ته ورغې نو هغوی دومره پهلوانان وو چه مخې ته ورته راووتل، خو هرکله چه وتښتیدل او رعب پرې راغې نو دې سره د مسلمانانو نور ډیر ښه شهرت وشو، په جزیرة العرب او شام او یمن او عامو علاقو کښې تردې چه په رومیانو باندې هم دا رعب واقع شو، او کوم عرب چه د رومیانو تابع شوی وو او نصاریٰ شوی وو په تولو رعب پریوتو،

او هغه منافقان او مشرکان چه اُوسه پورې د هغوی په زړونو کښې شك وو او دا امید ئې وو چه رومیان به راځي او مونږ به د هغوی سره ملګری کیږو او دا نبی به وهو، نو د هغوی د زړونو وسوسې هم ختمې شوې چه دا نبی خو نهٔ وهلې کیږي، دا خو هغه شخصیت دې چه رومیانې ترې یریږي، بهر غټ غټ ملکونه او طاقتونه ترې یریږي، نو ډیر لوی سیاسي مقاصد حاصل شول، او د اسلام ډیره لویه فائده وشوه. او پدې باندې خوشحالي پکار ده چه الله تعالیٰ زمونږ نبی ته دا فتح ورکړه.

رسول الله ﷺ په دغه ځائے کښې شل (۲۰) ورځې تیرې کړې،

[صحیح السیرة النبویة ص ۶۰۳]

او بعض اهل علم یویشت (۲۱) ورځې ذکر کوي،

پدې موده کښې به رسول الله ﷺ قصر مونځ کولو،

بعض علماؤ ددې نه دا دلیل نیولے دې چه څوك یو ځائے کښې یویشت (۲۱) ورځې تیره وي نو قصر به کوي او که زیاتې تیره وي نو پوره مونځ به کوي، ځکه چه نبی ﷺ نه د یویشت (۲۱) ورځو نه زیات سفر نقل نهٔ دې چه په یو ځائے کښې دیره وي، سویٰ ددې سفر نه. لکه دا استدلال حافظ ابن حزمؒ کړیدې،

لیکن دا خبره کمزورې ښکاره کیږي، ځکه چه دا جهادي سفر دې او په جهادي سفر کښې نیت نهٔ برابریږي، پته نهٔ لګیږي چه جنګ کیږي او که نهٔ، او دا علاقه څو ورځو کښې فتح کیږي؟.

نبی ﷺ دلته ولې دیره وو؟ نو یوه وجه دا ده چه د الله امر ته ئې کتل چه الله ورته حکم وکړي نو ځي به، نبی ﷺ هر کار د الله په امر کولو.

دویمه وجه دا ده چه پدې طریقه سره ئې په مختلفو علاقو کښې په دشمنانو باندې یره راوستله، ځکه چه که یو ځائے ته مجاهدین ورشي او بیرته رامنده کړي نو دشمن

باندے دومره رعب نهٔ پریوزی۔ دغسے کار خو عام خلك هم كولے شی، خو چه یو ځائے كښے دیره وی او مقابلے دپاره نـاسـت وی نو دا كفارو ته یو لوی چیلنج دے چه مونږ راغلی یو، كه نران یئ مقابلے ته راوځئ۔

د عمر ؓ د واپسئ مشوره :

روایاتو كښے راځی چه رسول الله ﷺ ملگرو سره مشوره وكړه چه دشمن پسے ورځو او كه نهٔ ؟ نو عمر بن الخطاب ؓ وفرمایل : كه الله تا ته امر كړے وے [اَنْ تَسِيْرَ فَسِرْ] چه ته لاړ شه نو بیا لاړ شه۔ نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[اِنِّیْ لَوْ اُمِرْتُ مَا اسْتَشَرْتُكُمْ]

كه ما ته د الله حكم وے نو بیا ما تاسو سره مشوره نهٔ كوله۔

(د الله په حكم كښے به مشورے نهٔ كوے، حكم نشته نو ځكه مشوره كوو)،

نو عمر فاروق ؓ وفرمایل : چه هر كله د الله امر نهٔ دے نو زما خوښه دا ده چه په روم كښے زمونږ كوم مسلمانان ملگری نشته او ددے خلكو ډلے ډیرے زیاتے دی، مونږ كمزوری یو، (اسبابو ته هم كتل پكار دی)، كه مونږ په دشمن كښے دننه ورننوزو نو دشمنان به رانه تاؤ شی نو خراب به شو، پدے وجه كه سږ كال واپس شو او كال له چه الله تا ته څه حكم كولو د هغے مطابق به بیا پدے خلكو پسے راشو۔

وئیلے شی چه په دغه وخت كښے د رومیانو دوه نیم لاكهه (۲۵۰۰۰۰) فوج وو۔

(غزوة تبوك باشمیل، ص (۱۷۶، ۱۷۷)

(د رسول الله ﷺ دا مشوره خوښه شوه او د واپسئ پروگرام ئے وكړو۔ مشوره كښے الله تعالیٰ ډیر خیر اچوی پدے وجه رسول الله ﷺ به په داسے موقعو كښے مشوره كوله)

بعض تاریخونو والو دا هم لیكلی دی چه هرقل بادشاه خپل ملگری راجمع كړل او مشوره ئے وكړه چه دا معلومه وو چه دا سړے په رشتیا په پیغمبر دے او كه نهٔ، (مخكښے نه هم ورته معلومات وو) یو تن به ولیږو،

نو یو تن ئے راولیږو او دا ئے ورته ووئیل چه ددے سړی نه تپوسونه وكړه او ددهٔ نبوت

معلوم کړه، یو دا چه دهٔ نه چه تهٔ سوال کوئے نو آیا دهٔ له غصه ورځی او که نهٔ، که غصه ورتلله دا به نبی نهٔ وی،
(د باطل پرستو طریقه دا وی چه کله تریے د مسئلے تپوس کوے نو قهر ورځی ځکه چه دلیل ورته نهٔ وی معلوم)
بل دا معلومات وکړه چه په پخوانو کتابونو کښے راغلی دی چه ددهٔ په شا باندے خاتم النبوة دے، نو هغه وګوره چه شته او که نهٔ،
او بل دا تپوس وکړه چه جنت د آسمانونو او د زمکے نه ډیر فراخه دے او ستا په کتاب کښے هم دا خبره شته نو بیا دا اُور چرته دے؟
نو دغه استازے د رسول الله ﷺ خوا ته راغلو، ډیر سوالونه ئے کول نو وے پیژندل چه سړے خو نهٔ غصه کیږی، او دا سوال ئے هم پرے واچولو چه هرکله جنت دومره فراخه دے نو بیا جهنم چرته دے؟،
رسول الله ﷺ ورته علمی جواب ورکړو چه هغهٔ ته ووایه :
[سُبْحَانَ اللّٰهِ، اَیْنَ النَّهَارُ اِذَا جَاءَ اللَّیْلُ؟]
ورځ چرته ځی کله چه شپه راشی؟ (او ورځ چه راشی نو شپه چرته ځی؟)
یعنی الله ئے یو ځائے ته بوځی چرته ئے چه وغواړی، نو دغه شان جنت الله فراخه پیدا کړیدے نو د اُور دپاره ئے هم ځائے پیدا کړے۔
ددے جواب حاصل دادے چه دے ته ستا ذهن نهٔ رسیږی نو د اُور ځائے هم شته هغه د نورو دلائلو نه معلومیږی چه جنت بره دے او اُور د زمکے لاندے دے۔
نو پدے کښے دغه سړے یوه ورځ دوه دلته ګرزیدو راګرزیدو چه په څه طریقه ددهٔ خاتم النبوة معلوم کړی بیا تریے هیر شو، نو همداسے روان شو،
نو د الله نبی ورته آواز وکړو چه راشه تهٔ چه څه له رالیږلے شوے ئے هغه وګوره (د وحی په ذریعه ورته معلومه شوه، او دا معجزه ده) نو دے وائی زهٔ د هغه شا ته وګرزیدم نو ما خاتم النبوة وکتلو چه د هغه په شا کښے د اُوګے خوا ته غونډارے غوښه وه۔
[قال الحافظ ابن کثیر فی السیرة النبویة ۵/۱٦ هذا حدیث غریب، واسناده لا بأس به
رواه الامام احمد]
واپس دغه سړے هرقل ته لاړو او هغه ددے سړی تصدیق وکړو چه دا حق نبی دے،

خپل قوم ته ئے بیا دعوت ورکړو چه راځئ ایمان به راوړو، لیکن د هغوئ اَسَاقِفَه او مشرانو باپانو وویل چه مونږ به نصرانیت پریدو او د حجاز نه راغلی یو اعرابی تابعداری به کوو۔ (العیاذ بالله) دا مونږ نشو کولے، او تهٔ لاړے صابی ته مائل شوے، نو په خپل کفر باندے باقی پاتے شول،

خو دومره وه چه د هغوی بادشاهی ډیره موده پورے باقی پاتے وه ځکه چه دوئ د نبی ﷺ د خطوطو او رسائلو ډیر احترام کولو، او کوشش ئے دا کولو چه د نبی ﷺ سره جنګ ونکړی۔

(سبل الهدی والرشاد ۵/۴۵۹)

د رسول الله ﷺ په تبوک کی صلح :

د رسول الله ﷺ پدے فوج کشئ سره عامو خلکو باندے رعب راغے، نو د "اَیْلَه" علاقے مشر او بادشاه یُوحَنَّا بن رُؤْبَه خپله رسول الله ﷺ خوا ته تبوك ته راغے او دائے وویل چه ما سره صلح وکړه نو رسول الله ﷺ ورسره صلح وکړه او په هغهٔ باندے ئے جزیه کیخوده، چه هر کال به تاسو مسلمانانو ته درے سوه (۳۰۰) دیناره جزیه ادا کوئ۔

(په لویه علاقه باندے دا معمولی شے دے، او کفارو باندے جزیه ولے کیخودے شی؟ نو وجه دا ده چه دوئ د الله تعالیٰ د زمکے نه خوراك کوی، او د الله تعالیٰ د مخلوق نه فائده اخلی او د الله تعالیٰ بندګی نکوی نو الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته وائی چه دوئ زما بندګی نهٔ کوی، تاسو ئے ترے واخلئ او تاسو ئے خپل غلامان جوړ کړئ)

او پدے جزیه کښے هغوئ ته دا فائده حاصله شی چه په امن وامان کښے به ګرزی او د دنیا مزے به کوی او یو مسلمان به هم ورته څه نهٔ وائی۔

نو نبی ﷺ هغوی دپاره خط ولیکلو چه مضمون ئے دا دے :

[بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، هٰذِهٖ اَمَنَةٌ مِنَ اللّٰهِ وَمِنْ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ لِيُحَنَّةَ بْنِ رُؤْبَةَ وَاَهْلِ اَيْلَةَ سُفُنُهُمْ وَسَيَّارَتُهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ، لَهُمْ ذِمَّةُ اللّٰهِ وَذِمَّةُ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ وَمَنْ كَانَ مَعَهُمْ

مِنْ اَهْلِ الشَّامِ وَالْيَمَنِ وَأَهْلِ الْبَحْرِ، فَمَنْ اَحْدَثَ مِنْهُمْ حَدَثًا فَاِنَّهُ لَا يَحُولُ مَالُهُ دُوْنَ نَفْسِهِ، وَاِنَّهُ طَيِّبٌ لِمَنْ اَخَذَهُ مِنَ النَّاسِ، وَاَنَّهُ لَا يَحِلُّ اَنْ يَّمْنَعُوْا مَاءً يَرِدُوْنَهُ وَلَا طَرِيْقًا يُرِيْدُوْنَهُ مِنْ بَرٍّ اَوْ بَحْرٍ]

دا د الله او د محمد رسول الله ﷺ د طرفنه یُحَنه بن رؤبه او د ایله والو دپاره امان دے، د دوئ کشتـو او قافلو ته به په اُوچه او دریاب کښې امن وی، دوئ دپاره د الله او د محمد نبی ﷺ امان او لوظ دے او د هغه چا چه د هغوی سره دی د شام او یمن او بحر والو نه۔ نو چا چه د دوئ نه فساد پیدا کړو نو د هغهٔ مال به د هغهٔ نفس نشی بچ کولے (یعنی که قتل ئے وکړو نو قصاص به ترے اخستے کیږی او په دغه مال باندے نشی خلاصیدے)،

او دوئ دپاره به دا جائز نهٔ وی چه د دوئ چینو او اُوبو خوا ته ځوك راځی چه هغوی منع کړی یا د دوئ په لاره ځوك تیریږی چه هغوی منع کړی په اُوچه وی او که په دریاب کښې۔

او د ایلے بادشاه نبی ﷺ ته سپینه قچره او د یمن کپړے په تحفه کښې راولیږلے۔ نو پدے طریقه صلح وشوه۔

د اَذرُح او جرباء والا سره صلح :

په شام (اردن) کښې دوه علاقے اَذرُح او جَربَاء والا هم راغلل او نبی ﷺ سره ئے په تبوك کښې صلح وکړه، نو رسول الله ﷺ په هغوی باندے سل سل (۱۰۰) دیناره مقرر کړل چه دا به په هر رجب کښې ورکوی او سل (۱۰۰) اوقیه صفا سپین زر به ورکوی، او دوئ به د مسلمانانو سره احسان او خیر خواهی کوی۔

او هغوی دپاره ئے هم داسے خط ولیکلو :

[بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، هٰذَا كِتَابٌ مِنْ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ لِاَهْلِ جَرْبَاءَ وَاَذْرُحِ، اَنَّهُمْ آمِنُوْنَ بِاَمَانِ اللّٰهِ وَاَمَانِ مُحَمَّدٍ، وَاَنَّ عَلَيْهِمْ مِائَةَ دِيْنَارٍ فِيْ كُلِّ رَجَبٍ، وَمِائَةَ اُوْقِيَّةٍ طَيِّبَةٍ، وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَيْهِمْ كَفِيْلٌ بِالنُّصْحِ وَالْاِحْسَانِ اِلَى الْمُسْلِمِيْنَ، وَمَنْ لَجَاَ اِلَيْهِمْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ]

دا خط د محمد رسول الله ﷺ د طرفنه دے د جرباء او اذرح والو دپاره چه دوئ به په امن وی د الله او د رسول په امان سره، او دوئ باندے به سل (۱۰۰) دیناره په هر رجب کښے لازم وی او سل (۱۰۰) اوقیه، او الله په دوئ باندے ذمه وار دے چه دوئ به د مسلمانانو خیرخواهی او هغوی سره احسان کوی او کوم مسلمانان چه دوئ ته پناه راوړی هغوی ته هم۔

[السیرة النبویة لابن کثیر]

اکیدر ته د خالد بن ولید رضی الله عنه لیږل :

دلته رسول الله ﷺ مناسب وګڼړله چه یوه سریه دُوُمَةَ الجندل علاقے ته ولیږی،

دُومة الجندل داسے زمکه ده چه په هغے کښے کجورے او فصلونه دی، چه خلك په اُوښانو باندے اُوبه راوړی، او د هغے نه ګیر چاپیره کمے چینے دی، او ددے خلکو فصلونه اُوربشے دی، او دا یوه داسے ښار دے چه د هغے نه دیوال چاپیر دے، او د هغے یوه اُوچته چونړئ ده چه په عربو کښے مشهوره ده او د هغے نوم مَارِدُ دے۔

(فتوح البلدان ص: ۸٤) تاریخ دمشق (۱/۳۸۵)

د دُومة الجندل علاقے مشر او بادشاه اُکیدر بن عبد الملك الکندی دے، نبی ﷺ خالد بن ولید رضی الله عنه ته څلور سوه شل (٤۲۰) کسان مجاهدین ورکړل چه تاسو لاړ شئ او اُکیدر ونیسئ او ماله ئے راولئ، خالد بن ولید رضی الله عنه شکایت وکړو چه اے د الله رسوله! مونږ دا لږ کسان به څنګه یو بادشاه ونیسو حال دا چه هغه به په خپله شاهی قلعه کښے ناست وی، او فوجونه به ترے تاؤ وی؟ او دلته د هغه نه اخوا دیخوا کلب قبیلے دی، نو نبی ﷺ وفرمایل: تاسو لاړ شئ هغه به تاسو ته الله تعالیٰ راوخکلے وی، او د ښکار پسے به راوتے وی چه د صحرائے غواګانو ښکار به کوی نو تاسو ته به مخے ته درشی او تاسو به ئے ونیسئ، (دا هم معجزه وه چه الله ورته داسے خبر ورکړو)

خالد بن ولید رضی الله عنه ملګرو سره روان شو، دُومة الجندل علاقے ته د شپے ورسیدو، د نورو دشمنانو نه ئے ځانونه پټول۔

نو د اُکیدر یوه قلعه وه "مَارِدُ" د هغے نوم وو، د هغے نه د نظر د لګیدو په اندازه

وړاندے کیناستل او دا د سپوږمۍ والا شپه وه، اوړے وو، چه کوری نۀ ښکار شته او نۀ اُکیدر شته، شاړه شنګړه ده، خالد ﷛ وویل چه نبی ﷺ خو رشتیا وائی، هغه خلاف الحقیقة خبره نۀ کوی۔

(کله به یو ځائے کښے د انسان تجربه او نظر غلطیږی لیکن د نبی خبره نۀ غلطیږی)

نو په انتظار کښے ناست دی، پدے کښے د صحراء نه وحشی غواګانے راغلے، کلی طرفته رانږدے کیدے، تردے چه ددے سرې د قلعه خوا ته راغلے، او هغه ددے قلعه په سر باندے پروت وو او ښځه هم ورسره وه، ځکه چه ګرمی وه، غواګانو ته ئے وکتل لیکن زړۀ ئے نۀ کیدو چه ددے ښکار ته راکوز شی، ویریدو چه ځوك مے مړ نکړی، نو پدے کښے الله تعالیٰ دا غواګانے نور هم ورنږدے کړے تردے چه هغوی په خپلو خکرو باندے د هغۀ د قلعه دروازه ووهله،

(هغے پورے ئے خپلے خکرے مړلے لکه دا د غواګانو عادت وی)

نو ښځے ورله پیغور ورکړو چه داسے غواګانے نژدے راغلی دی او تۀ ښکاری سړے ئے او دے پسے نۀ ورکوزیږے، [مَنْ يَّتْرُكُ هٰذَا ؟] کوم ښکاری داسے غواګانے پریدی؟

نو هغه پدے خبره غیرت کښے راغے او راکوز شو۔

او په یو روایت د اعلام النبوة د ماوردیؒ کښے دی چه اُکیدر وویل:

[وَاللّٰهِ مَا رَأَيْتُ بَقَرًا جَاءَ تْنَا لَيْلًا غَيْرَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ لَقَدْ كُنْتُ اُضْمِرُ لَهَا الْخَيْلَ اِذَا اَرَدْتُّهَا شَهْرًا وَاَكْثَرَ]

قسم په الله چه د نن شپے نه علاوه خو ما کله داسے غواګانے نۀ دی لیدلی چه دلته راغلی وی، ما خو به چه کله ددے ښکار کولو نو اسونه به مے یوه میاشت یا زیات ددے پسے خواره ول، او منډے به مے وهلے۔

نو راکوز شو او اس ئے راواخستو او آله د ښکار هم، او خپل ورور حسّان په نوم باندے وو هغه ئے هم ځان سره کړو، او د هغۀ دوه غلامان وو هغه هم ورسره شو، کله چه راووتو نو غواګانے ترے مخکښے روانے شوے دے ورپسے وو تردے چه د خالد ﷛ د اسونو خوا ته ورسیدل،

(او پدے وخت کښے د خالد ﷛ اسونو هیڅ هنړارے نۀ کولو نو دویٔ نۀ لیدل)

نو هغوی پرے راودانګل او اُکیدر ئے ونیولو، او حسان پسے ئے منډه کړه لیکن هغۀ

تکبیر وکړو چه زهٔ تاسو له ځان نهٔ درکوم او جنګ ئے شروع کړو نو خالد بن ولید ﷺ پرے حمله وکړه هغه ئے په همدغه ځائے د قلعه د دروازے سره مردار کړو، او د هغهٔ دوه غلامان وتښتیدل او اکیدر ئے ونیولو،

نو پدے کښے اُکیدر یو مزیدار کوټ (قباء) اغوستے وو چه په ټټو کښے ئے سرهٔ زر لګیدلی وو او د وریښمو وو، [قَبَاءُ دِيبَاجٍ مُخَوَّصًا بِذَهَبٍ]

نو خالد بن ولید ﷺ ترے دا جامه لرے کړه، او نورے خپلے جامے هغه ته ورکړے شوے، او دا ډیر قیمتی مال وو نو دا غنیمت شو۔

نو نبی ﷺ ته ئے د عمرو بن امیه الضمری ﷺ په لاس مخکښے راولیږلو چه دا مزیدار غنیمت د نبی ﷺ لاس ته ورشی، کله چه دا کوټ راوړے شو نو صحابه کرام ترے چاپیر شو او هغه ئے په لاسونو کښے اړه وړل راړه ول او د هغے د ښائست او مزیدار والی او نرم والی نه ئے تعجب کولو

(داسے د بادشاهانو جامه ئے کله نهٔ وه لیدلے)۔

نو نبی ﷺ دے وخت کښے آخرت ته متوجه کړل وے فرمایل :

[تَعْجَبُوْنَ مِنْ هٰذَا ؟ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَمَنَادِیْلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِی الْجَنَّةِ اَحْسَنُ (وَفِیْ رِوَایَةٍ اَلْیَنُ) مِنْ هٰذَا !]

[صحیح البخاری : ۲٦۱۵ ومسلم : ٦۵۰۲ بروایة البراء]

آیا تاسو ددے نه تعجب کوئ، قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس کښے دے، خامخا د سعد بن معاذ ﷺ رومالونه او تولیاګانے (چه هغه پرے لاس وچوی) په جنت کښے ددے نه ډیر ښائسته او ډیرے نرمے دی۔

نو پدے کښے د سعد بن معاذ ﷺ فضیلت هم راښکاره شو او د انصارو فضیلت هم شو او د ملګرو جنت ته شوق هم پیدا شو۔

بیا اکیدر د نبی ﷺ خوا ته راوستے شو، نو نبی ﷺ ورته هیڅ ونهٔ وئیل او معاف ئے کړو او د اسلام دعوت ئے ورکړو لیکن هغه نصرانی وو ایمان ئے نهٔ راوړو، په خپل کفر باندے کلك پاتے شو، بیا رسول الله ﷺ ورته ووئیل : چه جزیه به قبلوئ، او ما سره صلح وکړئ خو فی الحال به دوه زره (۲۰۰۰) اُوښان ورکوئ او اته سوه (۸۰۰) غلامان او څلور سوه (٤۰۰) زغرے او څلور سوه (٤۰۰) نیزے به مجاهدینو ته

ورکوئ نو هغه پدے رضا شو او صلح ئے وکړه۔
(دے ته صلح علی المال وائی یعنی په مال باندے صلح کول)
او هر کال دپاره ئے پرے جزیه مقرر کړه چه مسلمانانو ته به ئے رالیږی (جزیه د هر یو تن په سر باندے په کال کښے څلیریشت (۲٤) روپئ جوړیږی)۔
هغه پدے رضا شو نو هغه ئے خپلے بادشاهئ ته ورولیږلو چه خپله بادشاهی دِے کوه، تهٔ د مسلمانانو د حکومت تابع شوے، خو دومره ده چه مسلمانانو سره به هیڅ قسم جنگ نهٔ کوے ستاسو سره وعده شوه، او جزیه به رالیږے،
(اسلام د چا نه بادشاهی نهٔ اخلی کله چه ایمان راوړی نو دا ورله ډیره غوره ده او که ایمان نهٔ راوړی نو جزیه ته به تیاریږی د خلافتِ اسلامی تابع به وی)
اکیدر په دے حالت باندے وو، پدے کښے رسول الله ﷺ وفات شو او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت راغلو نو ډیر خلك مرتد شو نو اُکیدر هم پکښے لوظ مات کړو چه زهٔ جزیه نهٔ ورکوم، خپله پهلوانی ئے بیا رابشکاره کړه چه زهٔ خو ډیر تکړه یم، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورپسے همدغه خالد بن ولید رضی الله عنه بیا راولیږلو (همغه سړے چا چه نیولے وو) دے ورغے او علاقه ئے ورله محاصره کړه او په جنگ کښے دا د خالد بن ولید رضی الله عنه د لاسه مشرك او نصرانی مردار شو، ځان ئے جهنم ته ورسولو۔
بیا په احادیثو کښے راغلی دی چه رسول الله ﷺ هغه کوټ یوه ورځ واچولو (دے وخت کښے وریښم د سړو دپاره حلال وو) او په مانځه باندے ودریدو، نو د مانځه نه چه فارغ شو دا کوټ ئے اُوخکلو او د بد ګنړونکی په شان ئے اخوا ګوزار کړو او وے فرمایل:
[لَا يَنْبَغِيْ هٰذَا لِلْمُتَّقِيْنَ]
دا قسم لباس د متقیانو دپاره مناسب نهٔ دے۔
[بخاری: ۳۷۵]
(دے وخت کښے وریښم حلال دی لیکن رسول الله ﷺ د خپل پاك فطرت په وجه دا بد وګنړلو، لکه ډیر څیزونه انسان په خپل صحیح فطرت باندے پیژنی۔
بیا ددے نه دا قانون حاصلیږی چه هر هغه قسم لباس، څپلئ، څادر، ویښته چه ستا په مزاج کښے ئے فرق پیدا کولو، او ستا زړهٔ کښے دا راتلل چه خلك ما ته ګوری، او زړهٔ کښے دِے خرابی راتلله، بعض خلکو سره بادی ګاډو او یو طرف او بل طرف ته

کلاشینکوف والا وی او خلك ورته گوری نو د هغهٔ په زړهٔ کښې یوه بله نشه پیدا کیږی، دا د ایمان خرابولو والا حالت وی، کله غټ وښتنه پریخودل د ایمان د خرابولو باعث وګرزی، کله ښه سورلئ او ښه جامه، او پدې خبره ډیر خلك نهٔ پوهیږی، او چه پدې نهٔ پوهیدې نو تکذیب ئې مهٔ کوه، نبی ﷺ فرمائی :

[إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ]

[ابو داود : ٤١٦٣]

ساده لباس استعمالول د ایمان نښه ده (یعنی تواضع کول)

صاحب د "اِمتاع الاسماع" وائی چه د اکیدر ورور حُرَیث بن عبد الملك اسلام راوړو او رسول الله ﷺ ته ئې مالونه راوړل، هغهٔ ته ئې وسپارل.

(امتاع۲/۶۳)

په تبوک کی د ذو البجادین رضی الله عنه وفات

رسول الله ﷺ په تبوك کښې وسیدو نو پدې کښې یوه بله واقعه راغله، چه یو بهترین صحابی ذو البجادین المزنی رضی الله عنه په خپل مرګ باندې وفات شو.

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : زهٔ د شپې په یوه برخه کښې راپاڅیدم او زهٔ د رسول الله ﷺ سره په غزا د تبوك کښې وم نو ما د عسکر په یو اړخ کښې د اُور شعله ولیده چه بلیږی، نو زهٔ هغې خوا ته ورغلم چه وګورم څه دی؟ نو ما وکتل چه رسول الله ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه راجمع دی او ذو البجادین رضی الله عنه وفات شوې وو.

رسول الله ﷺ خپله خخولو او د شپې ئې خخولو (د مړی د شپې خخول جائز دی پدې شرط چه جنازه ئې پوره کولې شی، او که جنازه کښې خلك کمیدل یا کفن وغیره کښې نقصان راتلو نو بیا د شپې خخولو نه منع راغلې ده، او نبی ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه دواړه د خپې خخ شویدی)

واقدیؒ وائی : عبد الله ذو البجادین رضی الله عنه هغه صحابی دې چه په خپل قوم کښې ئې یواځې ایمان راوړې وو، او دې د مُزَینه قبیلې نه وو، او دې یتیم شوې وو چه پلار ئې ورته

هیڅ مال نهٔ وو پریخودے، او ددهٔ ترهٔ مالداره وو، نو هغهٔ ئے کفالت وکړو تردے چه دے هم مالداره شو او ددهٔ اُوښان اوګډے بزے او غلامان لاس ته راغلل،

هرکله چه رسول الله ﷺ مدینے ته راغلو نو ددهٔ په زړهٔ کښے اسلام ته شوق پیدا شو، لیکن د ترهٔ د وجه نه په هغے قادر نهٔ وو، تردے چه ډیر کلونه تیر شو او غزوات تیر شو، نو رسول الله ﷺ د مکے د فتح نه مدینے ته راواپس کیدونکے وو، نو ذو البجادین رضی الله عنه خپل ترهٔ ته وویل : اے زما ترهٔ !

[قَدِ انْتَظَرْتُ اِسْلَامَكَ فَلَا اَرَاكَ تُرِيْدُ مُحَمَّدًا فَأْذَنْ لِيْ فِي الْإِسْلَامِ]

ما ستا د اسلام ډیر انتظار وکړو خو زما خیال نهٔ دے چه تهٔ په محمد ﷺ ایمان راوړے نو ما ته په اسلام کښے د داخلیدو اجازه راکړه،

نو هغه ورته وویل : قسم په الله که تهٔ د محمد (ﷺ) تابع شوے نو زهٔ به ستا په لاس کښے هیڅ پرینږدم کوم مالونه چه ما درکړی هغه ټول مالونه به درنه اخلم تردے چه ستا دواړه کپړے به هم درنه واخلم۔

نو دے څوان وویل : قسم په الله زهٔ خو د محمد (ﷺ) تابع یم او مسلمان یم، او د کاڼو او د بتانو عبادتونه پریږدم او دا زما په لاس کښے چه هر څه دی نو دا تهٔ واخله، نو ټول مال ئے ترے واخستو تردے چه بربنډ ئے کړو چه هیڅ ورسره نهٔ وو، نو مور ته راغلو هغه مشرکه وه لیکن رحم ئے پرے راغلو، هغے ورته خپل یو څادر ورکړو چه هغه ئے په مینځ دوه ټکړے کړو، د یو نه ئے لنګ ووهلو او بل نه ئے څادر جوړ کړو۔

او دا په ورقان علاقه کښے وو (چه دا په مدینه کښے یو غر دے) نو دے د شپے مسجد نبوی ته راغلو او ډډه ئے ولګوله تردے چه رسول الله ﷺ سهار مانځه ته راغلو،

د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه کله به ئے د سهار مانځه نه سلام وګرزولو نو د ذکر اذکار نه روستو به ئے خلك تالاش کول نو دهٔ ته ئے وکتل نو دا ئے ناشنا وګڼړلو وے وفرمایل : [مَنْ اَنْتَ ؟]

تهٔ څوك ئے ؟ نو هغهٔ ورته وویل : عَبْدُ الْعُزّٰى بن عَبْدِ نَهْم ۔ د مُزینه قبیلے نه۔ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تهٔ عبد الله شوے او ذو البجادین لقب ئے ورکړو۔

(یعنی دوه څادرونو والا) بیا ورته رسول الله ﷺ وفرمایل :

ما ته نزدے کینه،

نو دے به د رسول الله ﷺ په میلمنو کښے شمار وو، او هغهٔ به ورته د قرآن کریم تعلیم ورکولو تردے چه ډیر قرآن ئے ولوستلو، نو پدے موقعه کښے رسول الله ﷺ د تبوك دپاره تیاری کوله او دا ډیر غټ آواز والا وو، نو دے به په مسجد نبوی کښے وردیدو نو په قراء ت باندے به ئے آواز پورته کړو،

یوه ورځ عمر فاروق ﷺ وفرمایل : یارسول الله ! آیا تهٔ دے اعرابی ته نهٔ گورے چه په قرآن باندے دومره آواز پورته کوی تردے چه خلك د قراء ت نه منع شی،

نو نبی ﷺ وفرمایل :

[دَعْهُ يَا عُمَرُ فَإِنَّهُ خَرَجَ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ]

پریده اے عمره ! ځکه چه دے الله او د هغهٔ رسول ته هجرت کونکے راوتلے دے۔

بیا هرکله چه رسول الله ﷺ تبوك ته وتلو نو دهٔ وویل : یارسول الله ! ما دپاره د الله نه شهادت وغواړه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُحَرِّمُ دَمَهٗ عَلَى الْكُفَّارِ]

اے الله ! زهٔ ددهٔ وینه په کافرانو باندے حراموم (یعنی چه دهٔ لره کافران قتل نکړی)

نو دهٔ وویل : اے د الله رسوله ! زما خو دا اراده نهٔ وه۔

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : کله چه تهٔ د الله په لاره کښے غزا ته اُوځے او تا باندے تبه راشی او د هغے په وجه مړ شے نو تهٔ به شهید ئے، یا تهٔ د اُوښے نه راپریوزے نو تهٔ به شهید ئے۔

نو هرکله چه نبی ﷺ تبوك کښے پړاؤ واچولو نو دے هم ورسره وو، نو پدے کښے په دهٔ باندے وفات راغلو۔

نبی ﷺ دهٔ ته اَوَّاه وئیلے وو، اَوَّاه هغه بنده ته وائی چه زړهٔ ئے د الله د یرے د وجے نه هر وخت آوسیلی کوی، د الله نه ډیره یره کوی،د هغهٔ د عذاب او د هغهٔ د جهنم او د هغهٔ د رانیولو نه یره۔

کله چه دے وفات شو نو نبی ﷺ خپله قبر ته کوز شو او ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ ئے په سر باندے ولاړ وو، او دے دواړو ته ئے وویل چه دا ورور مو ما ته راکړئ، دوئ ورکړو، او رسول الله ﷺ ورله قبلے ته مخ واړه ولو، او سرته ئے ورله د خاورو بالخت جوړ کړو او وے سپارلو او بیا ئے دا وفرمایل :

[اَللّٰهُمَّ اَمْسَيْتُ عَنْهُ رَاضِيًا فَارْضَ عَنْهُ]

[مسند البزار: ١٧٠٦، معرفة الصحابة لابی نعیم ١٦٣٦/٣]

اے الله! زهٔ ددهٔ نه راضي یم، نو تهٔ هم ترے راضي شه۔

(د الله نبی چه چا نه راضي وی، الله به هم ترے خوشحاله وی، او هغه جنتي وی)۔

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: ما ارمان وکړو:

[يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ صَاحِبَ هٰذَا اللَّحْدِ]

ارمان چه زهٔ ددے قبر والا وے۔ (یعنی زهٔ مړ وے او د الله نبی ما ته دا دعاء کړے وے چه اے الله! زهٔ ترے راضي یم، تهٔ ترے راضي شه، وجه دا ده چه د الله رضا ډیر قیمتي شے دے، په مخ د زمکه د الله د رضا نه لوی شے نشته)

د رسول الله ﷺ په تبوک کی وعظ او تقریر:

رسول الله ﷺ به په تبوك کښے د ملګرو تربیت کولو، عبادتونه به کیدل، ملګری به راجمع شول، هغوی ته به وعظ نصیحت کیدو، دین به ورته بیانیدو، ځکه چه رسول الله ﷺ روانه مدرسه وه، د هغهٔ کیناستل پاڅیدل، او خبره او هر عمل ئے دین وو۔

دلته رسول الله ﷺ داسے تقریر وکړو:

[أَمَّا بَعْدُ: فَإِنَّ أَصْدَقَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللّٰهِ، وَأَوْثَقَ الْعُرٰى كَلِمَةُ التَّقْوٰى، وَخَيْرَ الْمِلَلِ مِلَّةُ إِبْرَاهِيْمَ، وَخَيْرَ السُّنَنِ سُنَّةُ مُحَمَّدٍ، وَأَشْرَفَ الْحَدِيْثِ ذِكْرُ اللّٰهِ، وَأَحْسَنَ الْقَصَصِ الْقُرْآنُ وَخَيْرَ الْأُمُوْرِ عَوَازِمُهَا وَشَرَّ الْأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَأَحْسَنَ الْهَدْيِ هَدْيُ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفَ الْمَوْتِ قَتْلُ الشُّهَدَاءِ، وَأَعْمَى الْعَمٰى الضَّلَالَةُ بَعْدَ الْهُدٰى، وَخَيْرَ الْأَعْمَالِ مَا نَفَعَ، وَخَيْرَ الْهُدٰى مَا اتُّبِعَ، وَشَرَّ الْعَمٰى عَمَى الْقَلْبِ، وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلٰى]

پس د حمد او ثناء نه، رشتینی خبرے د الله کتاب دے، مضبوطه کړئ د تقوی کلمه ده، او غوره د ملتونو نه د ابراهیم علیه السلام ملت دے، او غوره د طریقو او سنتونو نه د محمد ﷺ سنت دی، او بهترینه خبره د الله ذکر دے، او ښائسته د بیانونو نه قرآن دے، او بهتر د کارونو نه فرضي کارونه دی، او ناکاره په کارونو کښے بدعات دی، او

بهترینه طریقه د روانیدو طریقه د انبیاء علیهم السلام ده، او عزتمن مرګ د شهیدانو مرګ دے، او د ټولو نه زیات ړوند والے د هدایت نه روستو ګمراه کیدل دی، او بهترین اعمال هغه دی چه فائده ورکوی، او بهترین هدایت، د حق تابعداری کول دی، او ناکاره ړوندوالے د زړهٔ ړوند والے دے، او پورته لاس د خکته لاس نه ډیر بهتر دے،

دارنګه وے فرمایل :

[وَمِنْ اَعْظَمِ الْخَطَايَا اللِّسَانُ الْكَذُوْبُ، وَخَيْرُ الْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ، وَخَيْرُ الزَّادِ التَّقْوٰى، وَرَأْسُ الْحِكْمَةِ مَخَافَةُ اللّٰهِ، وَخَيْرُ مَا وَقَرَ فِي الْقُلُوْبِ الْيَقِيْنُ، وَالنِّيَاحَةُ مِنْ عَمَلِ الْجَاهِلِيَّةِ، وَالْغُلُوْلُ مِنْ حَثْيِ جَهَنَّمَ، وَالْخَمْرُ جُمَّاعُ الْإِثْمِ، وَالنِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ، وَشَرُّ الْمَكَاسِبِ كَسْبُ الرِّبَا وَشَرُّ الْمَاكِلِ أَكْلُ مَالِ الْيَتِيْمِ، وَالسَّعِيْدُ مَنْ وُعِظَ بِغَيْرِهٖ]

د ټولو نه لویه ګناه دروغجنه ژبه ده، او بهترینه مالداری د زړهٔ مالداری ده، او بهترینه توښه تقویٰ ده، او د حکمت سر د الله نه یره کول دی، او بهترین هغه شے چه په زړونو کښے ځائے نیسی هغه یقین کول دی، او په مړو باندے ویرونه کول د جاهلیت عمل دے، او خیانت کول د جهنم خاورے دی،

او شراب ګناهونو لره راجمع کونکے دے، او زنانه د شیطان رسئ دی،

او ناکاره د کسبونو نه د سود کاروبار دے، او ناکاره د خوراکونو نه د یتیم مال خوړل دی، او نیکبخته انسان هغه دے چه د بل نه نصیحت اخلی۔

دارنګه وے فرمایل :

[وَإِنَّمَا يَصِيْرُ اَحَدُكُمْ إِلٰى مَوْضِعِ اَرْبَعَةِ اَذْرُعٍ، وَسِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهٗ كُفْرٌ، وَأَكْلُ لَحْمِهٖ مِنْ مَعْصِيَةِ اللّٰهِ، وَحُرْمَةُ مَالِهٖ كَحُرْمَةِ دَمِهٖ، وَمَنْ يَّتَأَلّٰى عَلَى اللّٰهِ يُكَذِّبْهُ، وَمَنْ يَّسْتَغْفِرْهُ يَغْفِرْ لَهٗ، وَمَنْ يَّعْفُ يَعْفُ اللّٰهُ عَنْهُ، وَمَنْ يَّكْظِمْ يَأْجُرْهُ اللّٰهُ، وَمَنْ يَّصْبِرْ عَلَى الرَّزِيَّةِ يُعَوِّضْهُ اللّٰهُ، وَمَنْ يَّبْتَغِ السُّمْعَةَ يُسَمِّعُ اللّٰهُ بِهٖ، وَمَنْ يَّصْبِرْ يُضْعِفِ اللّٰهُ لَهٗ، وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ يُعَذِّبْهُ اللّٰهُ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَلِأُمَّتِيْ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَلِأُمَّتِيْ قَالَهَا ثَلَاثًا]

او یقیناً ستاسو هر یو تن به د څلورو ګزونو په اندازه ځائے (قبر) ته ورځی، او مسلمان ته کنځل کول فسق دے، او د هغهٔ سره جنګ کول د کافرانو عمل دے، او د هغهٔ غوښه خوړل (یعنی غیبت کول) د الله نافرمانی ده،

او د هغه مال داسې حرام دې لکه چه وینه ئې حرامه ده۔
(یا د هغهٔ د مال به داسې احترام کولې شي لکه د هغهٔ د وینې په شان)
او څوك چه په الله باندې قسمونه کوي (چه چا ته به بخنه نکوي) نو الله به هغهٔ لره دروغجن کوي، او څوك چه د هغهٔ نه بخنه غواړي، هغه ورته بخنه کوي، او څوك چه معافي کوي، الله به هغهٔ ته معافي کوي، او څوك چه غصه خوري الله به ورته ډیر اجر ورکوي،
او څوك چه په یو مصیبت باندې صبر کوي الله تعالیٰ به خامخا عوض ورکوي، او څوك چه شهرت او ریاء کاري غواړي نو الله به ئې خلکو کښې غلط مشهور کړي، او څوك چه صبر کوي، الله به ورته دوچنده (زیات) اجر ورکړي، او څوك چه د الله نافرماني کوي الله به عذاب ورکړي، اې الله ! ما ته او زما امت (مؤمنانو) ته بخنه وکړه۔ درې کرته ئې دا خبر وکړه۔ [السيرة النبوية لابن كثير ٤/٢٥]

د اهل کتابو خوراک :

عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ته په تبوك کښې پنیر راوړې شو نو دغهٔ چاړه راوغوښته او هغه ئې پریکړو۔
[ابوداود رقم : ٣٨٢١ وصحيح ابن حبان ٥٢٤١ واسناده حسن]
دا پنیر ورته اهل کتابو تحفه کښې رالیږلې وو۔
دا حدیث دلیل دې چه د اهل کتابو څیزونه استعمالول جائز دي اگرکه هغه ذبیحه هم وي۔

په تبوک کښې معجزات :

١- محمد بن عمر الواقديؒ د خپلو شیوخو نه نقل کړیدي چه یو تن د بنو سعدِ هُذَیم ووئیل : زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم او هغه په تبوك کښې د څه کسانو سره ناست وو نو وې فرمایل : [يَا بِلَال ! اَطْعِمْنَا]

اے بلاله ! مونږ ته خوراك راوړه۔

نو بلال ﷺ راغـلـو دسترخوان ئے خور کړو بیا شروع شو چه دیو کوډی نه ئے څه شے راویستلو نو د هغے نه ئے په لاس سره کجورے راویستلے چه هغه د غوړو او د پنیر سره اغړلے شوے وے، یعنی یو حلواء شان وه نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[كُلُوْا] خوراك شروع كړئ۔

(فائده : دا سـنـت طـريقه ده چه کله په يو مقام کښے د انسان سره مشر يا عالم ناست وی نـو هـغـه به خوراك نۀ شروع كوی ترڅو چه مشر نۀ وی شروع کړے یا ئے اجازت نۀ وی ورکړے)

نـو مـونـږ خـوراك شروع کـړو، تـردے چـه مـونـږ بـنۀ ماړۀ شو، بیا ما وویل : اے د الله رسوله ! دا خوراك خو ما یواځے کولو۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَلْكَافِرُ يَأْكُلُ فِيْ سَبْعَةِ اَمْعَاءٍ وَالْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِيْ مِعىً وَاحِدٍ]

[بخاری : ۵۳۹۳، مسلم : ۵۴۹۳]

کافر په اُوه کولمو خوراك كوی او مؤمن په یوه کولمه کښے۔

یـعـنـی کـافـر تـه پکښے الله تعالیٰ برکت نۀ اچوی او د مؤمن په طعام کښے الله تعالیٰ برکت اچوی۔

(ددے جـمـلـے ډیـر مطلبونه دی، يو دا چه دا يو مثال دے چه مؤمن د حلال نه خوراك کـوی او د حـرامـو او شبهـاتـو نـه ځـان ساتی، او کافر باك نۀ كوی چه څه ئے وخوړل او د کـوم ځـائے نـه ئے وخـوړل او څـنګه ئے وخوړل- الصحاح فی اللغة، یا دا په خپل ظاهر بـانـدے بـنـاء دے چه کافر ډیره خوری او مسلمان په لږه هم ګوزاره کیږی، لکه چه عبد الله بن عمر ﷺ نه په بخاری کښے دے ته اشاره شوے ده)

دے وائـی زۀ صبا بیا راغلم دے دپاره چه د هغۀ سهار کښے خوراك وګورم او پدے سره مے پـه اسلام کښے یقین زیات شی، نو څه ګورم چه دغه وخت د رسول الله ﷺ نه ګیر چاپیره لس (۱۰) کسان ناست دی، نو نبی ﷺ حکم وکړو :

[هَاتِ اَطْعِمْنَا يَا بِلَالُ]

بلاله ! مونږ ته خوراك راوړه۔

نو هغه شروع شو چه د یو توشه دان (کسوړے) نه ئے کجورے یو یو موټے په لاس سره راویستلے نو نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[أُخْرِجْ وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِیْ الْعَرْشِ اِقْلَالًا]

اے بلاله ! راویاسه، او د عرش د مالك نه د کموالی نه مهٔ یریږه۔ (الله به پکښے برکت اچوی)

دے وائی : ما دغه کجورے اندازه کړے نو تقریباً دوه لپے (یعنی یو کیلو) وے۔

نو رسول الله ﷺ په هغه کجورو باندے لاس کیخودو او وے فرمایل :

[کُلُوْا بِاسْمِ اللّٰهِ] شروع وکړئ په نوم د الله سره۔

(په احادیثو کښے د خوراك په وخت صرف بسم الله راغلے ده، او پوره (بسم الله الرحمن الرحیم) وئیل پدے مقام کښے نهٔ دی نقل)۔

نو خلکو د هغے نه خوراك شروع کړو او ما هم د هغوی سره دومره خوراك وکړو چه ما په خیټه کښے لاره نهٔ مونده۔

نو مونږ چه وکتل نو په دسترخوان باندے همغه کجورے پرتے وے کومے چه بلال مونږ ته راوړے وے

[کَأَنَّا لَمْ نَأْکُلْ مِنْهُ تَمْرَةً وَاحِدَةً]

گویا که مونږ د هغے نه یوه کجوره هم نهٔ ده خوړلے۔ (دے ته معجزه وائی)

بیا زهٔ په بله ورځ سهار کښے راغلم نو د رسول الله ﷺ سره همغه شان لس (۱۰) کسان یا د لسو نه یو تن دوه زیات وو ناست وو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[یَا بِلَالُ اَطْعِمْنَا]

اے بلاله ! مونږ ته خوراك راوړه۔ نو بلال ﷺ همغه توشه دان (کسوړه) راوړه چه ما پیژندلو، نو هغه ئے خور کړو او رسول الله ﷺ په هغه کجورو باندے لاس کیخودو او وے فرمایل : د الله په نوم سره خوراك شروع کړئ، نو مونږ په ډکه خیټه خوراك وکړو بیا همغه شان کجورے پاتے شوے څنګه چه بلال د کسوړے نه راوړه ولے وے۔

دا کارئے درے ورځے وکړو۔ (سبل الهدی)

۲- بله معجزه --- د کجورو زیاتیدل

عرباض بن ساریه ﷺ وائی : زۀ بـه د رسول الله ﷺ په دروازه باندے په حضر او سفر کښے ولاړ وم نـو یـوه شپه مونږ په تبوك کښے د څه ضرورت دپاره لرے لاړو بیا د رسول الله ﷺ ځائے تـه راواپس شـو پـداسے وخت کښے چه رسول الله ﷺ او د هغۀ میلمنو خوراك کړے وو، او دے وخت کښے رسول الله ﷺ خپلے خیمے ته ننوتو او د هغۀ سره د هغۀ بی بی ام سلمه رضی الله عنها هم وه،

هرکله چه زۀ په رسول الله ﷺ باندے ورښکاره شوم نو ما ته ئے وویل :

[اَیْنَ کُنْتَ مُنْذُ اللَّیْلَةِ ؟]

نـن شپه چرته وے؟ نو ما ورته خبر ورکړو نو پدے کښے جَعال بن سراقه ﷺ او عبد الله بن مغفل مُزنی ﷺ هم راغلل نو مونږ درے کسان شو چه درے واړه وږی وو،

مونږ د رسول الله ﷺ دروازے ته راغلی وو، نو رسول الله ﷺ خپلے کوټے ته ننوتو، زمونږ د خوراك دپاره ئے څه شے طلب کړو لیکن وے نۀ مونده، نو بهر راووتو او بلال ته ئے آواز وکړو :

[یَا بِلَالُ ! هَلْ مِنْ عَشَاءٍ لِهٰؤُلَاءِ النَّفَرِ ؟]

اے بلاله ! ددے کسانو دپاره څه خوراك شته ؟

نـو هغـۀ وویل : قسم په هغه ذات چه تۀ ئے په حق رالیږلے ئے، مونږ خو خپل گوډی او کسوړے تـولے خالی کړیدی، وے فرمایل : تۀ بیا وگوره کیدے شی چه څه به مونده کړے. نـو هغـۀ یوه یوه کسوړه راخستله او هغه به ئے څنډله نو یوه یا دوه کجورے به راپریوتے تـردے چـه ما د هغۀ په لاس کښے اُوه (۷) کجورے ولیدلے، نو بیا ئے یوه کاسه راوغـوښتـه او پـه هغـے کښے ئے کجورے کیخودے، بیا ئے په هغه کجورو باندے لاس کیخودو او د الله نوم ئے پرے یاد کړو.

بیـا ئے وفـرمایـل : د الله پـه نوم خوراك شروع کړئ. نو مونږ خوراك وکړو نو ما ځان سره څلور پنځوس (٥٤) کـجـورے وشمارلے، چه ما بۀ ئے هډوکی په بل لاس کښے اچـول، او زمـا دواړو ملگرو هم زما په شان کار کولو، نو هریو زمونږ نه پنځوس (٥٠)

پنځوس (۵۰) کجورې وخوړلې،

[وَرَفَعْنَا اَيْدِيَنَا فَإِذَا التَّمَرَاتُ السَّبْعُ كَمَا هِيَ]

او چه کله مونږ لاسونه پورته کړل نو اُوه کجورې همغه شان په پلیټ کښې پرتې وې.

بیا نبی ﷺ وفرمایل: اے بلال! دا پورته کړه، ځکه چه ددے نه به هیڅوك خوراك نهٔ کوی مگر په مړه خیټه به ترے واپس کیږی.

بیا هرکله چه رسول الله ﷺ صبا کړو او د سهار مونځ ئے وکړو او خپلے خیمے ته راغلو نو کیناستو او مونږ هم د هغهٔ نه گیرچاپیره کیناستو نو رسول الله ﷺ د سورة المؤمنون لس (۱۰) آیتونه ولوستل.

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: [هَلْ لَكُمْ فِي الْغَدَاءِ؟]

آیا خوراك ته مو شوق کیږی؟ عرباض ﷺ فرمائی: ما په زړهٔ کښے وویل چه کوم خوراك به وی، (د رسول الله ﷺ سره خو هیڅ شے نهٔ وو)

نو هغهٔ د بلال نه هغه کجورے راوغوښتے نو د هغے دپاسه ئے په کاسه کښے لاس کیخودو بیا ئے وویل: د الله په نوم سره خوراك شروع کړئ، نو قسم په الله چه مونږ دومره خوراك وکړو چه ماړهٔ شولو او مونږ لس (۱۰) کسان وو، بیا هغوی د موږ والی نه پس د هغے نه لاسونه پورته کړل نو کجورے همغه شان پرتے وے.

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: که ما ته د خپل رب نه حیاء نهٔ راتلے نو مونږ به ددے کجورو نه همداسے خوراك کولے تردے چه مونږ تول مدینے ته رسیدلی وے.

بیا د باندے نه یو هلك راغلو نو رسول الله ﷺ هغه کجورے راواخستے او هغهٔ ته ئے ورکړے نو هغه روان شو او هغهٔ ئے په خوله کښے اچولے.

[المغازی للواقدی: ۳/۱۰۱۷]

بله واقعه: تقریر کول

عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی: مونږ د رسول الله ﷺ سره په تبوك کښے وو نو یوه شپه تهجدو ته راپاڅیدو، او هغهٔ به د شپے ډیر تهجد کول او هرکله چه به راپاڅیدو نو

مسواك بـه ئـے وهـلـو، نو یوه شپـه راپاڅیدو، هرکله چه د مانځه نه فارغ شو نو د هغهٔ سره خوا ته موجودو خلکو ته ئے مخ راواړه ولو کومو چه د هغهٔ څوکیداری کوله او دا ئے وفرمایل :

[اُعْطِیْتُ اللَّیْلَةَ خَمْسًا مَا اُعْطِیَهُنَّ اَحَدٌ قَبْلِیْ : بُعِثْتُ اِلَی النَّاسِ كَافَّةً، وَكَانَ النَّبِیُّ یُبْعَثُ اِلٰی قَوْمِهٖ، وَنُصِرْتُ عَلَی الْعَدُوِّ بِالرُّعْبِ وَلَوْ كَانَ بَیْنِیْ وَبَیْنَهُمْ مَسِیْرَةُ شَهْرٍ لَمُلِئَ مِنْهُ رُعْبًا، وَجُعِلَتْ لِیَ الْاَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُوْرًا، اَیْنَمَا اَدْرَكَتْنِی الصَّلَاةُ تَیَمَّمْتُ وَصَلَّیْتُ، وَكَانَ مَنْ قَبْلِیْ لَمْ یُعْطُوْا ذٰلِكَ، وَكَانُوْا لَا یُصَلُّوْنَ اِلَّا فِی الْكَنَائِسِ وَالْبِیَعِ وَاُحِلَّتْ لِیَ الْغَنَائِمُ آكُلُهَا، وَكَانَ مَنْ قَبْلِیْ یُحَرِّمُوْنَهَا، وَالْخَامِسَةُ هِیَ مَا هِیَ؟، هِیَ مَا هِیَ؟ هِیَ مَا هِیَ؟، ثَلَاثًا قَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! وَمَا هِیَ ؟ قَالَ : قِیْلَ لِیْ سَلْ فَكُلُّ نَبِیٍّ قَدْ سَأَلَ فَأَخَّرْتُ مَسْأَلَتِیْ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ فَهِیَ لَكُمْ وَلِمَنْ شَهِدَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ]

مـا تـه نـن شپـه پنځه خصوصیتونه راکړے شو، چه زما نه مخکښے هیچا ته نهٔ دی ورکړے شوی، (یو) دا چـه زهٔ ټولو خلکو ته رالیږلے شوے یم، او هر نبی به خپل قوم ته رالیږلے کیدو، (دویم) او زما مدد کړے شویدے په رعب سره په دشمن باندے، که زما او د دشمنانو ترمینځ یوه میاشت مزل وی نو خامخا دشمن به د رعب نه ډکیږی، (دریم) او زما دپاره ټوله زمکه ځائے د مانځه او د پاکئ دے، کوم ځائے چه ما مونځ لاندے کړی زهٔ بـه تیـمـم کـوم او مـونـځ بـه کـوم۔ او زما نه مخکښو خلکو ته دا نهٔ وو ورکړے شوی، هغـوی بـه مـونځونه صرف په خپلو ګیرجو او عبادتخانو کښے کولو، (یعنی بل ځائے کښے ئے مونځ نهٔ کیدو، او ددے امت دپاره دا جائز شوه چه دوئ به مونځ په مسجدونو کښے کوی او که مونځ ترے قضاء شی نو بیا ورله د مسجد نه بهر هم جائز دے، یا په یو میدان کښے جمعه کوی هم جائز ده)۔

(څلورم) او زما دپاره غنیمتونه جائز شویدی چه زهٔ ئے خوړے شم، او زما نه مخکښے خلك ددے نه محروم وو، او (پنځم) دا چه څه شے دے؟ څه شے دے ؟ څه شے دے ؟ (درے کرته ئے وویل) صحابه کرامو عرض وکړو : اے د الله رسوله ! څه شے دے ؟

وے فـرمـایـل : ما ته وویل شو چه ما نه یو سوال وکړه (خامخا به قبلیږی) نو هر نبی سوال کـړیـدے او هـرچـه زهٔ یم نو ما خپل سوال د قیامت ورځے ته روستو کړیدے نو دا

ستاسو دپاره او د هر هغه چا دپاره دے چه کلمه د توحید وائی۔ یعنی شفاعت کول۔
[مسند احمد : ۷۰٦۸، صحیح وهذا اسناد حسن ومغازی الواقدی : ۱۰۳٤/۳]

بله معجزه -- د طعام زیاتیدل

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : په تبوك کښے خلکو ته ډیره لوږه ورسیده نو دوئ وویل : اے د الله رسوله ! که ستا اجازت وی مونږ به خپل اُوښان ذبح کړو او ددے نه به خوراك وکړو او ددے نه به غوړی حاصل کړو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : وکړئ،

راوی فرمائی :

دے کښے عمر فاروق رضی الله عنه راغلو عرض ئے وکړو، اے د الله رسوله ! که دوئ دا کار وکړو نو سورلئ به کمے شی، لیکن دوئ ته حکم وکړه چه خپلے زیاتی توښے راجمع کړی بیا په هغے باندے د الله نه د برکت دعاء وغواړه، (لکه څنګه چه تا دا کار د حدیبیه نه په واپسئ کښے کړے وو کله چه مونږ سره خرچه ختمه شوے وه) امید دے چه الله به پدے کښے برکت واچوی، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : صحیح ده، نو هغهٔ یو دسترخوان راوغوښتو او هغه ئے خور کړو او بیا ئے د خلکو نه زیاتی توښے راطلب کړے،

راوی وائی : یو سړی به په یو لاس کښے جوار راوړل، بل سړی به یو ورغوے کجورے او بل به د روټئ یوه قطره راوړه تردے چه معمولی شے په دسترخوان باندے جمع شو،

نو دے کښے رسول الله ﷺ د برکت دعاء وکړه او بیا ئے وفرمایل :

[خُذُوا فِيْ اَوْعِيَتِكُمْ]

په خپلو لوښو کښے ددے نه اخستل شروع کړئ۔

راوی وائی : صحابه کرامو په خپلو لوښو کښے د هغے نه واخستل تردے چه دوئ په فوج کښے هیڅ لوښے پرینخودو مگر هغه ئے ډك کړو۔

راوی وائی : نو هغوی تر مړخ پورے خوراك وکړو او زیاتی طعام پاتے هم شو۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ]

زهٔ گواهی کوم چه نشته حقدار د بندگئ سوئ د الله نه او زهٔ د الله رسول یم۔

پدے دواړو باندے یو بنده د الله سره نهٔ ملاویږی په داسے حال کښے پدے کښے شك

کونکے نۀ وی مګر جنت ته به داخلیږی۔ [مسلم : ۱٤۷/۱٤۸]

په واپسئ کی واقعات :

۱- د منافقانو مکر :

یوه واقعه دا راغله چه رسول الله ﷺ یوے عقبے (کنډو) ته راوسیدو چه دا د مدینے او د تبوك ترمینځ وه، نو وے فرمایل تاسو په لاندے خوړ باندے لاړ شئ ځکه چه دا ستاسو دپاره آسانه او فراخه ده، اوزۀ په عقبه باندے ورځم او په یو تن باندے ئے اعلان وکړو چه ما پسے به هیڅوك نۀ راځئ۔ صرف ځان سره ئے دوه کسان واخستل یو عمار بن یاسر ﷺ او بل حذیفه بن یمان ﷺ چه اولنی د رسول الله ﷺ اُوښه د مخکښے نه نیولے وه او دویم د روستو نه شړله۔

(پدے کنډو باندے ختلو کښے څه حکمت وو؟ یو د هغے نه دا وو چه د بره طرف نه ملګری وګوری چه په کومه طریقه مزل کوی، د دوئ نظم او ترتیب ئے کتلو او دے کښے به نور حکمتونه هم)

نو پدے کښے یو څو منافقانو اراده وکړه چه دا نبی تاسو په داسے حالت کښے هیڅکله نشئ موندلے (هر وخت کښے ورسره ملګری وی او اُوس یواځے دے) نو د قتل ښه موقعه ده، نو د دولسو نه تر څوارلسو منافقانو اراده وکړه چه رسول الله ﷺ په پټه سره قتل کړی، نو خپلو سورلو باندے سوارۀ وو او په مخونو باندے ئے لِثَام ووهلو۔

(یعنی مخونه ئے پټ کړل سوئ د سترګو نه، تربوزك ئے ووهلو)

نو دغه منافقان د رسول الله ﷺ پسے په همغه لاره روان شو کوم نه چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے وه چه پدے به نۀ راځئ، اراده ئے دا وه چه نبی ﷺ به د کنډو سر ته وخیژی نو مونږ به ئے د هغه ځائے نه خکته راورغړه وو او دا تکۀ توره شپه وه۔

نو پدے کښے رسول الله د څه کسانو د اسونو شور واوریدو چه هغوی د رسول الله ﷺ سورلئ وتره وله او د هغے نه بعض سامان پریوتو۔

نو پدے کښے حمزه بن عمرو الاسلمی ﷺ وائی زۀ هم د رسول الله ﷺ پسے په دغه کنډو ورغلم نو الله زما په پنځو ګوتو کښے رڼړا پیدا کړه تردے چه ما هغه سامان

راپورته کړو کوم چه غوږزیدلي وو چه هغه چابك او رسۍ وغيره وو.
نـو پـدې کښې رسول الله ﷺ په دوئ پو هه شو او غصه شو نو حذيفه بن اليمان ﷺ ته ئې وفرمايل : چه ددې کسانو سورلۍ زمانه بل طرفته واړه وه.
حذيفه ﷺ وائـي : زهٔ ور روستو شوم او ما سره يوه وړوکې امسا وه چه کړه وه نو ما په هـغـې سره دوئ ته اشاره وکړه، نو د هغوی د سورلو مخونه په بل طرف واوړيدل (د نبی ﷺ معجزه وه) او دا ئې ورته وويل :
[اِلَيكُمُ اِلَيكُم يَا اَعدَاءَ اللّٰهِ]
ورانـدې شئ، وراندې شئ اې د الله دشمنانو!.
نـو د دوئ پـه زړونـو کښې الله رعـب واچـولو، پو هه شو چه رسول الله ﷺ د دوئ په مـکـر بـانـدې خبر شو نو منډه ئې کړه او عام مسلمانان چه په کومه لاره روان وو هغې ته ورکوز شول تردې چه خلکو سره ګډوډ شو.
او حذيفه ﷺ بيرته رسول الله ﷺ ته راغلو نو هغهٔ ورته وفرمايل : چه دا اُوښه ووهه او اې عَمار ! تهٔ مخکښې روان اُوسه، تردې چه رسول الله ﷺ د کنډو بره سر ته ورسيدو او بيا د کنډو نه رابهر شو او د خلکو انتظار کښې ودريدو.
حذيفه ﷺ وائـي : مـا ته رسول الله ﷺ وفرمايل : دا کسان څوك وو کوم چه تا واپس کـړل؟ مـا وويـل : يارسول الله ما هغوی ونهٔ پيژندل (ځکه چه مخونه ئې پټ وو او د شپې تيـارهٔ وه) خـو دومـره وه چـه مـا د هـغـوی سورلۍ وپيژندې چه دوئ د بنو تـميمو نه څه کسان وو ځکه چه دا سونو ننبې ئې د هغوی په شان وې.
(او دا نوی هغه خلك وو چه په ظاهره کښې ئې ايمان راوړې وو او زړهٔ ته ئې ايمان نهٔ وو پـريـوتـې، نفاق پکښې وو نو د رسول الله ﷺ سره دشمنی ئې لا اُوس هم په زړهٔ کښې وه او تبوك ته هسې د مجبورتيا د وجه نه تلی وو)
رسـول الله ﷺ وفـرمـايـل چـه زهٔ بـه ئې دروښايم چه دا څوك دی؟ نو رسول الله ﷺ د مـعـجـزې پـه طـور د هغوی نومونه واخستل چه فلانې فلانې وو، او تا ته پته شته چه د دوئ څه اراده وه ؟ ما وويـل : نه، وې فرمايل :
[فَاِنَّهُم مَکَرُوا لِيَسِيرُوا مَعِيَ فَاِذَا طَلَعتُ العَقَبَةَ زَحَمُونِي فَطَرَحُونِي مِنهَا]
دوئ دا چـل جـوړ کـړې وو چه دوئ ما سره شريك روان شي تردې چه کله زهٔ کنډو ته

وخیژم نو دوئ ما له دیکه راکړی او ما د کنډو نه خکته راوغورزوی،
(یعنی زما د مرګ اراده ئے کړے وه)
(د رسول الله ﷺ د قتل ارادے هم ډیر کرته شویدی، او د دوئ په باره کښے الله تعالیٰ د سورتِ توبه دا آیت (۷٤) هم نازل کړیدے :
﴿ وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا ﴾
چه دے منافقانو ارادے کړی د هغه څه چه هغے ته ئے رسیدل نهٔ دی کړی۔
(یعنی د قتل د نبی ﷺ)
نو دوئ ورته وویل : اے د الله رسوله ! کله چه خلك راشی نو د دوئ په باره کښے حکم وکړه چه دا څټونه ورله ووهه ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : زهٔ دا بده ګڼړم چه خلك به وائی چه محمد ﷺ خپل ملګری وژنی۔
او په یو روایت کښے دی چه رسول الله ﷺ دا ګیله اُسید بن حُضیر ته وکړه چه منافقانو ما باندے داسے اراده کړے وه نو هغهٔ ورته وفرمایل : تهٔ د دوئ نه هر یو خپلے خپلے قبیلے ته ورکړه چه هغوئ ئے خپله قتل کړی او که تهٔ غواړے چه ما ته ئے نوم نه واخلے نو زهٔ به درله د هغوی سرونه راوړم، نو نبی ﷺ وفرمایل :
اے اُسیده ! زهٔ بده ګڼړم چه خلك به وائی چه محمد (ﷺ) په خلکو باندے جنګ وکړو تردے چه غالبه شو نو اُوس هغوی ته متوجه شو چه هغوی وژنی۔ (ځکه چه عام خلك خو دوی لره مسلمانان ګڼړی)
دا وجه ده د کفارو دا دسیسه ده چه په مسلمانانو کښے منافقان پیدا کوی او خپل مینځ کښے ئے جنګوی نو په عوامو مؤمنانو کښے دا خوره شی چه دا مجاهدین خپل مابین کښے جنګونه او قتلونه کوی، دا څنګه جهاد شو، نو د جهاد نه ئے نفرت پیدا شی او مینځ کښے یو طرف مفسدان وی، ورانے ئے غرض وی، نو پدے وجه نبی ﷺ ونهٔ وژل چه په خلکو کښے زمونږ غلط شهرت ونشی، نو خپل ښه نوم ساتل په دین کښے دا هم یو ضروری خبره ده، ځان به په فسادونو او ډاکه ماریٔ باندے غلط نهٔ مشهوره وے)
دویم رسول الله ﷺ پدے وجه نهٔ وژل چه په اراده د قتل باندے بدله د قتل نهٔ وی۔
[رواه احمد رقم : ۲۳۸٤۳، اسناده قوی علی شرط مسلم، والبزار رقم : ۲۸۰۰،

والبیهقی فی الکبری رقم: ۱۸۳۲٤، وابن ابی خاتم وابو الشیخ)

لیکن دا کسان ئے همداسے پرے هم نخودل بلکه په الله باندے ئے ووهل،

(بعض کسانو ته څوك څه نشي وئیلے چه وهے ئے شر جوړیږی نو هغه په الله باندے وهل پکار دی، هغه دا چه رسول الله ﷺ دوئ ته ښیرے وکړے چه اے الله! په دوئ باندے دُبیله (دانه) راوخیژه وه۔

په صحیح مسلم کښے د حذیفه بن الیمان ؓ نه مرفوعاً روایت دے: زما په امت کښے دولس (۱۲) منافقان دي، چه جنت ته به نهٔ داخلیږی او د هغے خوشبوئی به نهٔ مونده کوی تردے چه رسئ د ستنے په سُم (سوری) کښے ننوزی،

[ثَمَانِيَةٌ مِنْهُمْ تَكْفِيكَهُمُ الدُّبَيْلَةُ سِرَاجٌ مِنَ النَّارِ يَظْهَرُ فِيْ اَكْتَافِهِمْ حَتّٰى يَنْجُمَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ]

د دوئ نه د اتو (۸) دپاره دُبیله کافی کیږی چه دا د اُور یوه شعله ده چه د دوئ په اُوګو کښے به راخیژی تردے چه د هغوی په سینو کښے به د هغے تاؤ راښکاره شی۔ (چه انسان ترے کینسر شی او ددے نه خامخا مړ کیږی)

[مسلم: ۷۲۱۳]

نو بد نامی هم ونشوه او څه شر هم پیدا نشو او الله دغه کسان هلاك هم کړل۔ (خو ډیر کرته مونږ خپل طاقت مخکښے کوو او د الله سبحانه وتعالیٰ طاقت رانه هیر وی)

نبی ﷺ چه کله مدینے ته رانزدے شو نو یوه (۲) بله **واقعه** راغله:

د عبد الرحمن بن عوف ؓ امامت

هغه دا چه رسول الله ﷺ یو ځائے کښے شپه وکړه نو د سهار مانځه نه مخکښے رسول الله ﷺ د خپل قضائے حاجت دپاره وړاندے لاړو، مغیره بن شعبه ؓ وائی زهٔ هم ورسره لاړم، لوټه مے واخسته، اُوبو نه مے ډکه کړه چه نبی ﷺ به پدے باندے اَودس وکړی نو هغه یو کندے ته لاړو زهٔ ورته بهر ناست وم، نو واپس راغے، رسول الله ﷺ اودس کولو نو ما ورته اُوبه اچولے،

(او دا طریقه د مشرانو او مور او پلار دپاره بهتره طریقه ده، البته په اندامونو به ورله

لاس نهٔ راخکاړی، هغه به خپله کوی، خو اُوبهٔ ور اچول شته)

لاسونه ئے درے کرته وینځل بیا ئے مخ وینځلو بیا شروع شو چه لاسونه ئے د جُبے (کوټ) نه بهر وهل لیکن د جبے دواړه لوستونړی تنگ وو نو دواړه لاسونه ئے په جُبه کښے ننویستل او لاندے د جُبے نه ئے راویستل بیا ئے لاسونه تر څنګلو پورے وینځل بیا ئے باقی اَودس وکړو، نو ما اراده وکړه چه زهٔ د رسول الله ﷺ نه موزے وباسم، نو نبی ﷺ وفرمایل:

[دَعْهُمَا فَاِنِّیْ اَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَیْنِ]

پریده دا ځکه چه زما خپے پاکے وے (د اَودس په حالت کښے) ما دا موزے په خپو کښے ننویستی دی، نو وینځلو ته حاجت نشته نو دواړه لاسونه ئے په هغے باندے یوځل راخکل او خپے ئے ونهٔ وینځلے۔ (دے ته مسح وائی)

پدے کښے ډیر وخت تیر شو، نزدے ده چه نمر راوخیژی نو دلته د صحابه کرامو شك شو چه نبی ﷺ ته انتظار وکړو او که مونځ ترے اُودره وو، که صبر کوو نمر راخیژی او که صبر نهٔ کوو او مونځ کوو نو د نبی ﷺ نه مخکښے والے راځی۔

نو ذهن ئے پدے باندے کولاو شو چه مونځ خو د الله د طرف نه فریضه ده، رسول الله ﷺ به ژوندے وی یا به وفات وی، مونځ پریخودل خو نشته نو په جَمعه باندے ودریدل۔ او عبد الرحمن بن عوف ؓ ئے جَمعے ته مخکښے کړو، پدے کښے رسول الله ﷺ چه راورسیدو نو هغوئ یو رکعت کړے وو، نو رسول الله ﷺ په دویم رکعت کښے شامل شو، پدے کښے عبد الرحمن بن عوف ؓ ته خلکو اشاره ورکړه تسبیح ئے ورته ووئیله چه نبی ﷺ راغلے دے، روستو شه، هغهٔ چه وکتل د الله رسول موجود دے، نو هغه راروستو کیدو چه نبی ﷺ به رامخکښے شی،

(ځکه چه یو امتی ته وګوره او پیغمبر ته مونځ ورکولو ته، دا ډیره عجیبه خبره ده، ځکه چه د دغه خلکو په زړونو کښے د رسول الله ﷺ ډیر زیات وقار او عزت وو)

نو رسول الله ﷺ ورته په مانځه کښے اشاره وکړه چه مهٔ راروستو کیږه، نو هغه په ځائے ودریدو۔

(**فائده:** دوه کسان دی چه د الله رسول ورپسے مونځ کړیدے، یو ابوبکر صدیق ؓ او بل عبد الرحمن بن عوف ؓ۔ په بل ځائے کښے په یوه موقعه کښے ابوبکر صدیق ؓ

تـه رسول الله ﷺ اشاره وکړه چه مهٔ روستو کیږه نو هغه روستو شو او دلته پدے سفر کښے ئے عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه تـه اشاره وکړه چـه مهٔ روستو کیږه نو هغه په ځائے ودریـدو، ددے وجـه دا وه چـه پـه ابوبکر صدیق رضی الله عنه کښے د رسول الله ﷺ ډیر زیات احترام وو خصوصی ملګرے وو ددے وجه نه روستو ئے وویل :

[مَا كَانَ لِابْنِ اَبِیْ قُحَافَةَ اَنْ يُّصَلِّيَ بَيْنَ يَدَیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

د ابوقحافه ځوی له دا څه پکار دی چه د رسول الله ﷺ مخے ته مونځ کوی)

نـو دهٔ ادب مـخکښے کړو په امر باندے او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه په زړهٔ کښے هم د رسول الله ﷺ ډیر زیات عزت دے لیکن هغهٔ امر ته وکتل، چه د الله رسول وائی چه ودریږه بس دا منل فرض دی۔

او دا د هر چا مـختـلف مزاج وی څوك ادب ته ګوری او څوك امر ته، په بعض ځائے کښے به ادب مخکښے کوے او په بعض ځائے کښے امر۔ موقعے او محل ته به ګورے۔

او دلتـه بـلـه وجه هم شته هغه دا چه دلته عبد الرحمن رضی الله عنه یـو رکعت مونځ کړے نو که هغه روستو شی بیا مونځ ګډوډ کیږی، او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ځکه روستو شوے وو چه هغهٔ لا رکعت نهٔ وو کړے، د مانځه ابتداء وه)۔

کله چه عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه سلام وګرزولو نو نبی ﷺ او مغیره بن شعبه رضی الله عنه دواړه پاڅیدل او یو رکعت ئے ځانله پوره کړو۔

(دا د عبـد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ډیر لـوی فـضیـلـت دے چه یو امتی پسے د محمد رسول الله ﷺ په شان هستی مونځ کوی)۔

د مـانـځـه نـه روستـو خلك ګبراؤ شو چه دا مونږ څه وکړل؟ نو نبی ﷺ ته ئے وویل چه اے د الله رسولـه ! مـونږ ستـا نـه جَـمعه ودروله ؟ (دا خو مونږ ډیر نقصان وکړو) نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [اَحْسَنْتُمْ اَوْ قَالَ : اَصَبْتُمْ] تاسو ښه او حق کار کړیدے۔

[صحیح مسلم : ۹۷۹]

دوئ ته ئے ددے ترغیب ورکولو چه مونځ په خپل وقت کوئ۔

(**مسئله** : کلـه چـه د مـانـځـه وخت راشی او امـام په ځائے باندے حاضر نهٔ وی، په مسجد کښے دننه نهٔ وی یا وخت قضاء کیږی، نو بیا به هغهٔ ته انتظار نهٔ کوے، او کله چه امام پـه مسجد کښے وی یا ئے نزدے کور وی او تا ته پته وی چه امام په کور کښے

دے نو بیا به هغهٔ ته انتظار کولے شي، اگرکه لس پنځلس منټه تیر شي، دا د هغهٔ حق دے، زمونږ په دے زمانه کښے د ادب د کموالي د وجه نه خلکو ته د امام حالت نه معلوم وي خو چه یو منټ واوړي نو جَمعه ئے ترے ودرولی وي)

او د سیرت کتابونو کښے ورسره دا اضافه راغلے ده چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ما تاسو ته وئیلی وو چه

[اِنَّهٗ لَمْ یُتَوَفَّ نَبِیٌّ حَتّٰی یَؤُمَّهٗ رَجُلٌ صَالِحٌ مِنْ اُمَّتِهٖ]

نبی به نهٔ وفات کیږی تردے چه هغهٔ ته به د هغهٔ د امت نه یو نیك سړے إمامت ورکوی. [طبقات ابن سعد : ۳/۶۱، امتاع الاسماع ۲/۵۷ مغازی الواقدی ۳/۱۰۱۲]

نو هغه دا نن تاسو خپل نبی ته مونځ ورکړو.

بیا رسول الله ﷺ دلته ځان ته ستره نهٔ ده ودرولے نو ددے نه دا معلومیږی چه په مسبوق سړی باندے ستره نهٔ وی، صرف د جَمعے د شرکت غم کوه، نهٔ د سترے.

او کله چه تا یواځے مونځ کولو یا دِے جَمعه ورکوله نو بیا به خامخا سترے ته مونځ کوے، بغیر د سترے نه مونځ کول گناه ده. په مسبوق او څوك چه په سورلئ مونځ کوی نو هغوی دپاره ستره معاف ده.

(او معلومه شوه چه رسول الله ﷺ بشر دے او هغهٔ باندے به انساني عوارض راتلل چه کله به ترے رکعت هم لاړو)

۲- بله واقعه :-- د ملګرو پوښتنه کول

پدے کښے رسول الله ﷺ د هغه ځائے نه راروان شو چه کله مدینے ته بنهٔ قریب شو نو دلته یوه بله واقعه راغله :

نبی ﷺ د ابورهم (کلثوم بن الحُصین) الغفاری ﷺ نه تپوس وکړو، ابورهم وائی : ما نه رسول الله ﷺ د بنو غفار د څه کسانو په باره کښے پوښتنه وکړه :

[مَا فَعَلَ النَّفَرُ الْحُمْرُ الطِّوَالُ الثِّطَاطُ؟]

څه وکړل هغه کسانو چه سرهٔ سرهٔ او اُوږده دي، او د گیرو کمو ویښتو والا دي؟،

نو ما ورته ووېل چه هغوی خو دے غزوے ته نهٔ دي حاضر شوی.

بیائے تپوس وکړو: [فَمَا فَعَلَ النَّفَرُ السُّوْدُ الْجِعَادُ الْقِصَارُ ؟]
هغه کسانو څه وکړل چه تورو کوړئ ویښتو والا او لنډو قدونو والا دی؟۔
ما ورته ووېل: یارسول الله! دوئ څو زهٔ نهٔ پیژنم، دا خو زمونږ په قبیله کښې نشته،
بیائے ووېل:
[بَلٰی، اَلَّذِیْنَ لَهُمْ نَعَمٌ بِشَبَکَةِ شَدْخٍ]
ولے نهٔ، هغه کسان چه هغوی په شدخ علاقه کښې اُوښان څره وی، نو ما ته راياد شو، ما ورته ووېل چه اے د الله رسوله! هغوی خو زمونږ نه نهٔ دی:
[اِنَّهُمْ رَهْطٌ مِنْ اَسْلَمَ کَانُوْا حُلَفَاءَ فِیْنَا]
هغوی خو د اسلم قبیلے دی او زمونږ حلفاء دی۔
(نبی ﷺ ته دومره معلومات وو، ددے نه معلومه شوه چه مشر له د قومونو پیژندل ډیر ضروری دی)
ما ورته ووېل چه هغوی خو د جنګ نه پاتے شویدی، نهٔ دی راغلی،
بیائے وفرمايل: د دوئ تپوس زهٔ څکه کوم چه:
[اِنَّ اَعَزَّ اَهْلِیْ عَلَیَّ اَنْ یَّتَخَلَّفَ عَنِّیْ الْمُهَاجِرُوْنَ وَالْاَنْصَارُ وَغِفَارٌ وَاَسْلَمُ]
دا خبره ما ته ډیره سخته ده چه زما خواص ملګری چه هغه مهاجرین او انصار او غفار او اسلم قبیله دی، د جهاد نه پاتے شی، یعنی دا خو خواص خلك دی چه دوئ د جهادونو نه پاتے کیږی بیا به بل څوك جهاد څنګه وکړی؟
او پدے کښې مقصد دا وو چه هغوی ته دا خبر ورسوه چه تاسو رسول الله ﷺ ته محبوب یئ او ښهٔ مؤمنان یئ او بیا هم د جهادونو نه پاتے کیږئ، چه ښه مؤمن ئے نو پکار ده چه هره غزوه کښې حاضر شے۔
بیائے وفرمايل:
[مَا مَنَعَ اَحَدَ اُولٰئِكَ حِیْنَ تَخَلَّفَ اَنْ یَّحْمِلَ عَلٰی بَعِیْرٍ مِنْ اِبِلِهٖ اِمْرَاً نَشِیْطًا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ؟]
دوئ له پکار وو چه هرکله خپله پاتے شو چه په خپل یو اُوښ باندے ئے یو نشیط مجاهد سور کړے وے، او هغهٔ ته ئے اُوښ ورکړے وے۔
(څکه چه مسلمان به په خپل نفس او مال دواړو سره جهاد کوی، خو کله چه په

نفس سره د څه مجبورتیا د وجه نه نشي کولے نو مال به لګوي)
(ددے نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ ډیر زیرکه او هوښیار، د معاشرے په خلکو او قومونو ډیر پوهه وو، د غافلانو لیډرانو نه نهٔ وو)
او ددے نه د رسول الله ﷺ ډیر علم او ډیر معلومات معلوم شو۔

د مسجد ضرار حالت:

مدینے ته چه کله رانزدے شو او ذی اَوان علاقے ته راورسیدل (ذو د مدینے نه د یوے ګینټے په فاصله باندے دے)
نو دلته ئے پړاؤ واچولو، دمه ئے وکړه سره د ټولو ملګرو نه، نو په دے کښے الله تعالیٰ آیتونه نازل کړل چه په مدینه کښے د مسجد قباء په خوا کښے کوم مسجد جوړ شویدے، دا مسجد نهٔ دے بلکه د کافرانو دپاره ژاله ده، نوم ئے د مسجد دے او مینځ کښے مورچه ده، تر اُوسه پورے رسول الله ﷺ ته پته نهٔ وه چه دا جُمات دے خلکو د ورانئ دپاره جوړ کړیدے،
نو رسول الله ﷺ د خپل ځان نه صرف دوه کسان مخکښے ولیږل چه یو مالك بن الدُخشم ﷺ د بنو سالم نه او بل مَعن بن عدی ﷺ چه تاسو سیده لاړ شئ او مسجد ضرار ته اُور واچوئ، دا دواړه ورغلل، منافقان په دغه جمات کښے ناست وو، نو دے دواړو ګیاه راوړه او دے جمات ته ئے اُور واچولو نو په منافقانو باندے رعب راغے او وتښتیدل۔
ابن اسحاقؒ وائی: دا دولسو (۱۲) منافقانو جوړ کړے وو، یو خذام بن خالد وو چه ددهٔ د کور په اړخ کښے ئے دا مسجد جوړ کړے وو، بل ثعلبه بن حاطب، معتب بن قشیر، ابوحبیبه بن الازعر، عباد بن حُنیف د سهل بن حنیف ﷺ ورور، او جاریة بن عامر، او نبتل بن الحارث، بحزج، بجاد بن عثمان د بنی ضُبَیعه نه، ودیعه بن ثابت)
نو هغوی وویل دا ولے سیزئ دا خو جمات دے؟، نو هغوی وویل: مونږ ته د رسول الله ﷺ امر دے، او تاسو منافقان یئ نو خلکو باندے رعب راغے، الله خپل نبی ته ډیر رعب ورکړے وو۔

(ددې نه دا معلومه شوه چه یو آبادې چه نوم ئې د جمات وی او مینځ کښې د شرك ژاله وی، د هغې سیزل هم روا وی، او په داسې ځائې کښې مونځ کول هم ناروا دی لکه الله خپل نبی منع کړو: ﴿لَا تَقُمْ فِيهِ اَبَدًا﴾ هیڅکله پدې جمات کښې د مانځه دپاره مه ودریږه. ﴿لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ﴾[التوبة :۱۰۸]

ته په مسجد قباء کښې ودریږه چه ددې بنیاد په تقوىٰ کیخودې شوې د اولې ورځې د هجرت نه، دا لائق دې چه ته پکښې اودریږې.

(ددې مسجد قباء بُنیاد عمار بن یاسر ؓ ایخودې وو) او احادیثو کښې ددې ډیر فضائل راغلی دی چه څوك په هغې کښې دوه رکعاته وکړی نو د عمرې هومره ثواب ئې دې، او رسول الله ﷺ به د هر خالی په ورځ هغې ته ورتللو کله پیاده او کله په سورلئ او په هغې کښې به ئې دوه رکعاته کول.

او دې ته الله تعالىٰ د تقوىٰ مسجد وئیلې دې، او د هغه کسانو صفت ئې کړې چه دلته وسیدل ﴿فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا﴾

پدې کښې داسې سړی دی چه دا خوښوی چه ځان پاك کړی.

نبی ﷺ د دوئ نه تپوس وکړو چه اې صحابو! الله ستاسو صفت کړې په تاسو کښې څه کمال دې؟ هغوی ووئیل: یارسول الله مونږ په اوبو استنجاء کوو د کاڼو نه په غیر (لکه عربو به صرف کاڼې استعمالول)

او کوم روایت کښې چه د دواړو جمع والې ذکر دې نو هغه ضعیف دې، اګرکه دغه عمل هم جائز ې، خو سنت به ورته نهٔ وائی.

او بل کله چه مونږ جنب شو نو غسل د جنابت کوو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: آؤ، دا کوئ پدې باندې الله تعالىٰ ستاسو صفت کړیدې. نو دې خلکو کښې ظاهری او باطنی دواړه قسمه پاکی وه.

هرکله چه د منافقانو دا جمات وسیزلې شو نو د هغوی شکونه نور هم ډیر شو. لکه چه الله فرمایلی دی:

﴿لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِىْ بَنَوْا رِيْبَةً فِىْ قُلُوْبِهِمْ اِلَّا اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ﴾ [التوبة : ۱۱۰]

د دوئ دا آبادې چه دوئ جوړ کړې دا به همیشه د دوئ په زړونو کښې شکونه پیدا کوی، مګر دا چه د دوئ زړونه وچوی او مړهٔ شی.

یعنی ترمرګه پورې به دا خلك په شكونو كښې پراته وي، وجه دا ده چه چا د حق په مقابله كښې یوه جاله جوړه كړه نو الله ورته هدایت نهٔ كوي، هدایت خو هغه چا ته كیږي چه خالي ذهن والا وي، او چه كله د حق په دشمنئ او ضد كښې ودریږي نو هغوي ته هدایت نهٔ كیږي۔

پدې غزوه كښې الله تعالىٰ د منافقانو د شرمولو اراده كړې وه۔ په هره طریقه خړپړ شول۔ او دا كسان جدا جدا معلوم شو۔

رسول الله ﷺ چه كله مدینې ته رانزدې شو نو دلته ئې ملګرو ته دا خبره وكړه:

[اِنَّ بِالْمَدِيْنَةِ اَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيْرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا اِلَّا كَانُوْا مَعَكُمْ، قَالُوْا: وَهُمْ بِالْمَدِيْنَةِ؟ قَالَ: وَهُمْ بِالْمَدِيْنَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ]

[بخاري: ٤٤٢١، مسلم: ٥٠٤١]

یقیناً په مدینه كښې څه كسان دي چه تاسو په كومه كنده او لاره تلي یئ نو هغوي تاسره وو؟ هغوي ووېل: اې د الله رسوله! هغوي په مدینه كښې وو بیا مونږ سره څنګه وو؟، وې فرمایل: آؤ، هغوي په مدینه كښې وو خو عذر بند كړي وو۔

او په بل روایت كښې دي: [اِلَّا شَرَكُوْكُمْ فِي الْاَجْرِ]

یعني تاسو سره كیدو معنىٰ دا ده چه تاسو سره په اجر كښې شریك دي۔

(فائده: دا حدیث دلیل دې چه د عذر یا د بیمارئ د وجه نه یو تن د جهاد یا د بل نیك عمل نه پاتې شي او نیت ئې د هغوي سره وي، نو الله ورله په نیت اجر وركوي، صرف یو اجر باندې به مجاهدین ترې اُوچت وي۔

۲- دا حدیث رسول الله ﷺ ددې دپاره ووئیلو چه پدې كښې ذهن سازي كوي د خپلو ملګرو چه تاسو چرته په هغه كسانو باندې فخر ونكړئ چه هغوي د عذر د وجه نه پاتې شویدي، بلكه هغوي ته هم الله اجر وركړو۔

دویم: د نیت ډیر لوي فضیلت پكښې ښكاره شو، چه په صحیح نیت باندې پوره اجر ملاویږي۔ نو كه آینده كښې تاسو چرته د عذر د وجه نه پاتې شوئ نو تاسو ته به هم الله تعالىٰ داسې اجر دركوي۔ نو دا مسئله هم پكښې ښكاره شوه۔

۳- دا حدیث دلیل دې چه د (مَعَ) لفظ معنىٰ هر خت دا نهٔ ده چه یو تن به د ذات په لحاظ د بل سره وي، بلكه معیت كله په اعتبار د ذات سره وي، او كله په اعتبار د علم

او قدرت سره وی، او کله په اعتبار د شرکت فی الاجر سره وی۔ او کله شرکت په اعتبار د رائے سره وی۔ نو د الله په باره کښې چه راځی: ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ﴾
هغه الله تاسو سره دے۔ نو ددے معنیٰ وضاحت وشو، چه الله د ذات په لحاظ سره د بندګانو سره نۀ دے بلکه په اعتبار د علم او قدرت سره دے، او د ذات په اعتبار سره د آسمانونو دپاسه د عرش نه بره په عرش باندے مُستوی دے۔

مدینے ته داخلیدل :

بیا رسول الله ﷺ د دغه ځائے نه روان شو تردے چه مدینے ته رانزدے شو نو پدے کښې زنانه او ماشومان او کمزوری سړی د رسول الله ﷺ استقبال ته راووتل، او د رسول الله ﷺ په راتګ باندے انتهائی خوشحاله وو تردے چه بعض ماشومانو جینکو چمبے وهلے، د رسول الله ﷺ په روغ راتګ باندے خوشحالی کول هم یو عبادت دے، او داسے اشعار ئے وئیل :

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوَدَاعِ	۞	وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعِ

رسول الله ﷺ چه د سپوږمۍ په شان حیثیت ئے دے په مونږ باندے د ثنیة الوداع نه راښکاره شو، او په مونږ باندے شکر لازم دے ترڅو چه الله ته دعوت ورکړے کیږی۔
حافظ ابن القیمؒ وائی چه دا اشعار د غزا د تبوك نه د واپسۍ په موقعه وئیلے شویدی، او کله چه رسول الله ﷺ مدینے ته هجرت کولو نو هغه وخت کښې هم وئیلے شویدی۔
ثنیة الوداع یو وړوکے غر او غونډۍ ده چه هلته نه به مسافر رخصتولے شو او په راتللو کښې به هغه ځائے پورے استقبال ته وروتل۔
تردے چه رسول الله ﷺ په ډیره خوشحالۍ او رونق حالت کښې مدینے ته راننوتو۔
د نبی ﷺ عادت مبارك دا وو چه هغۀ به د مدینے نه بهر شپه کوله، دے دپاره چه خپل کور ته په دمه حالت کښې ننوزی او د ستړی والی حالت کښې نۀ وی، او کورته به د ورځے نهه لس بجے تللو او کله به مابنام ته نزدے او کله به د مابنام نه روستو، او ددے

نه ئے منع کړے چه کله تاسو د سفر نه راشئ او کور ته مو مخکښے خبر نهٔ وی ورکړے نو د شپے به نهٔ داخلیږئ، په هغے کښے ډیر نقصانات پیدا کیږی، څوك به دربانديے د اغل گمان وکری، قتل به ډیے کری، دارنگه ستا کور والا به په بد حالت کښے وی نو نفرت به ډیے پیدا شی۔

نو ددیے وجه نه ښځه چه کله د خاوند د راتگ نه خبره شی نو هغه به صفائی او ډول او سینگار وکړی لکه دا په ښځه باندیے لازمه ده چه خاوند ته به ډول کوی او پدیے کښے به د چا نه شرمونه نهٔ کوی، دا په هغے باندیے د خاوند حق دیے، لیکن ډیریے ښځے دا حقونه ضائع کوی، مطلب ئے دا وی چه زما خاوند ډیے گناهونه کوی او نظر ډیے ئے بد استعمالیږی خو چه زهٔ خپله ښنتو پوره کرم۔

البته که یو تن د تیلفون په ذریعه کور ته خبر ورکړی نو بیا د شپے راتگ هم جائز دیے۔ نو حدیث کښے چه کومه خبره راغلے ده هغے سره دغه شر ختمیږی۔

نو نبی ﷺ شپه وکړه او سهار وخت کښے سیده مسجد نبوی ته ننوتو او دوه رکعاته ئے وکړل، دیے ته تَحِيَّةُ الْقُدُوْمِ مِنَ السَّفَرِ وائی او صلاة المسافر عِنْدَ قُدُوْمِهٖ وائی یعنی مسافر چه کله کلی ته راشی نو دا مونځ به کوی۔

په مسجد باندیے شروع ولے کوی؟ ددیے یو راز دا دیے چه پدیے کښے د الله تعالیٰ محبت دیے چه ما ته د الله کور د خپل کور نه زیات محبوب دیے، گویا که اول د الله ملاقات او د هغهٔ کور ته راتلل او بیا خپل کور۔ پدیے سره د زړهٔ حالت جوړیږی۔

دویمه فائده پکښے دا وه چه کوم کسان په مدینه کښے پاتے وی نو هغه به ملاقات ته راشی نو په مسجد کښے به ئے ټول په یو ځل وینی او ټولو نه به فارغ شی بیا به خپل کور ته په آسانئ باندیے لاړ شی، څوك به ئے نهٔ په تکلیف کوی، مگر زمونږ په دیے زمانه کښے که یو تن د عمریے یا د حج نه راشی هغه ستړیے وی، او خلکو خپل کاروبار د ورځے ختم کړیے وی، د شپے گیاره باره بجے راشی ځکه چه حاجی صیب راغلے دیے، د هغهٔ حالت ته نهٔ گوری، موقعه او محل نهٔ پیژنی، پدیے نهٔ پو هیږی چه د بل مسلمان مزاج او د هغهٔ ستړی والی لحاظ پکار دیے، دا تربیت نهٔ دیے ورکړیے شویے۔

د نبی ﷺ پدیے سیرت او سنت کښے د دین او د دنیا فائده ده۔

د منافقانو عذرونه :

کوم خلك چه ددے غزوے نه روستو پاتے شوی وو نو د هغوی سره به څه کیږی؟ نو منافقانو له چلونه ورځی، نبی ﷺ په مسجد نبوی کښے ناست دے، منافقان شروع شو چه ډله ډله راروان دی چه رسول الله ﷺ ته ئے عذرونه کول، څه منافقان راغلل چه اے د الله رسوله ! زما دا عذر او دا عذر وو نو مونږ پاتے شو نو ته مونږ معاف کړه، او د الله نه زمونږ دپاره بخښنه وغواړه۔

نو رسول الله ﷺ به هغوی معاف کول او د الله نه به ئے ورله بخښنه غوښته چه اے الله! دوئ معاف کړه [وَوَكَلَ سَرَائِرَهُمْ إِلَى اللّٰهِ]

او د هغوئ د زړهٔ رازونه به ئے الله ته سپارل، دا به ئے ورته نهٔ وئیل چه ته دروغ وے یا رشتیا۔ تقریباً څه دپاسه اتیا (۸۰) کسان راغلل چه دے ټولو نبی ﷺ ته د دروغو عذر وکړو، او د الله رسول ورته هیڅ ونهٔ وئیل، او دے منافقانو به ددے دپاسه قسمونه هم کول، یو ځل ئے دا قسم وکړو چه قسم په الله مونږ معذوره وو، مقصد ئے دا وو چه مسلمانان په مونږ باندے ملامتیا ونهٔ وائی چه تاسو ولے جهاد ته نهٔ وئ تلی؟،

او دا د منافقانو طریقه ده چه د انسان ملامتیا ورته ډیره بده ښکاره کیږی او د الله ملامتیا ته نهٔ ګوری۔ الله فرمائی :

﴿ سَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ﴾

[التوبة :۹۵]

دوئ به خامخا تاسو ته په الله باندے قسمونه کوی کله چه تاسو دوی ته واپس شئ دے دپاره چه تاسو د دوئ د ملامتیا نه مخ واړه وئ نو مخ واړه وئ د دوئ نه، یقیناً دوی پلیتان دی، او ځائے د وسیدو د دوئ جهنم دے۔

بیا ئے دوباره قسمونه کول چه مونږ خپل ملګری وګنړئ۔

﴿ يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضَى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴾

[التوبة : ۹٦]

دوئ به تاسو ته قسمونه دے دپاره کوی چه تاسو د دوئ نه راضی شئ (او ملامتیا پرے ونۀ وایئ) خو که تاسو د دوئ نه راضی (هم) شوئ نو الله ددے نافرمانه قوم نه نۀ راضی کیږی۔

او الله په لاره آیتونه نازل کړی وو :

﴿يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ، قُلْ لَا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللّٰهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ﴾ [التوبة: ٩٤]

دوئ به د دروغو عذرونه کوی تاسو ته کله چه تاسو دوئ ته واپس شئ، تۀ ورته ووایه ! د دروغو عذرونه (مونږ ته) مۀ کوئ، مونږ هیڅ کله ستاسو په خبره باور نۀ کوو، یقیناً مونږ ته الله ستاسو خبرونه راکړیدی۔

دا خو د قرآن خبره وه لیکن د الله رسول د دوئ سره نرمی وکړه او د دوئ د زړۀ رازونه ئے الله ته وسپارل، او په ظاهره کښے ئے ورله استغفار طلب کړو، او دا ئے ورته وویل چه تاسو به معذوره یئ۔

(ددے نه مونږ ته دا فائده راوځی چه یو تن چا ته معلوم هم وی چه فلانے ورانکارے فسادی دے، لیکن په ظاهره کښے هغه اقرار کوی چه ما د عذر د وجه نه دا کار کړے او بیا به داسے نۀ کوم نو هغۀ سره ډیره نکته چینی او چیرچاړ نۀ دے پکار، ځکه چه ددے نه شر پیدا کیږی، که داسے ورته ووائی چه نه، تۀ چه هرڅه وائے زۀ ستا خبره نۀ منم او تۀ دروغجن ئے او زۀ به تاسو سره ګورم، دے سره ډیر شر پیدا کیږی،

د معاشرے د جوړه ولو طریقه دا ده چه بعض کسانو باندے به خزلے اچوے، او همداسے به ئے خپل حال ته پریدے چه هر څه کوی، کوی دِے، زمونږ پدے زمانه کښے بعض خلك پدے وجه په پریشانئ کښے واقع کیږی چه د هر چا د حال په باره کښے پریشانه وی چه دا فلانے پدے حال باندے ولے دے؟، او داسے ولے کوی؟ ددے وجه نه ډیر انتشارونه اواختلافات پیدا کیږی، د هر چا په کار کښے به کار نۀ لرے، که څوك ښه وی ځانله به ښه وی او که څوك بد وی نو ځانله به بد وی۔

نو دے منافقانو باندے الله تعالیٰ سخت رد وکړو او کافران او فاسقان ئے ورته وویل، او جهنم ئے ورله تیار کړو، نو په دنیا کښے چه ورته الله تعالیٰ څه ونۀ وئیل نو د آخرت سزاګانے ئے ورله تیارے کړے مګر په دنیا کښے هم ورته روستو زمانه کښے الله تعالیٰ

سزاگانے ورکړے، یوه سبزا دا وه چه الله خلکو ته وشرمول او بیل معلوم شول۔

د ابولبابه بن مُنذِر ؓ قصه

پدے کښے څه کسان مؤمنان وو چه زړهٔ کښے ئے ډیر قوی ایمان دے خو هغوی هم ددے جهاد نه پاتے شوی وو، ابولبابه بن المنذر ؓ او پنځه مؤمنان نور هم پاتے شوی وو۔

رسول الله ﷺ چه کله راغے نو دوئ پریشانهٔ شو چه مونږ به رسول الله ﷺ ته څه عذر کوو، نو سخت خپیمانه شو، نو ابولبابه ؓ سره د ملګرو نه په مسجد نبوی کښے ځان وتړلو او دائے وویل چه تر هغه وخت پورے به مونږ ځان نهٔ کولاوه وو تردے چه رسول الله ﷺ مونږ په خپل لاس کولاؤ کړی، (نو مونږ به الله معاف کړی)

دا د ایمان تقاضا ده چه کله ترے یوه ګناه وشی نو بیا دغه شان پریشانه وی، لکه روستنۍ واقعه د کعب بن مالك ؓ کښے راځی۔

رسول الله ﷺ چه راغے دا حالت ئے ولیدل چه دوئ تړلے شویدی وے فرمایل :

دا څوك دی؟ خلکو وویل چه ابولبابه ؓ او د هغهٔ ملګری دی چه تا نه روستو پاتے شویدی۔

نو نبی ﷺ وفرمایل :

[وَاَنَا اُقْسِمُ بِاللّٰهِ لَا اُطْلِقُهُمْ وَلَا اُعْذِرُهُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هُوَ الَّذِىْ يُطْلِقُهُمْ]

زهٔ په الله قسم کوم چه دوئ به نهٔ کولاوم او نهٔ ئے معذوره ګنړم تردے چه الله ئے راکولاو کړی، دوئ زما نه رغبت کړے او د مسلمانانو سره شریك د غزا نه پاتے شویدی۔ د الله نبی ډے یو جهاد ته ځی او مسلمانان ډے ورسره وی او یو مؤمن ډے ترے پاتے شی، دا ګرانه خبره وه۔

نو الله په دوئ باندے رحم وکړو او دا آیتونه ئے راولیږل :

﴿وَآخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾

[التوبة : ۱۰۲]

او نور خلك دي چه هغوي په خپلو ګناهونو اقرار کړے، د نيك عمل سره ئے ګناهونه يو ځائے کړي، نزدے ده چه الله به مهرباني وکړي په دوئ باندے يقيناً الله بخنه کونکے رحم کونکے دے۔

(يعني دے خلکو جهادونه هم کړي ليکن يوه خطاء ترے وشوه چه تبوك ته لاړ نشو)۔

عسیٰ لفظ چه الله استعمال کړي نو هغه کار خامخا کيږي،

او علماء وائي چه دا آيت يواځے ددے کسانو په باره کښے نهٔ وو بلکه دا د ټول امت د ګناهګارو په باره کښے دے، تر قيامته پورے چه هر مؤمن راځي او ګناه ئے هم کړے او نيکي ئے هم کړے نو د الله د ذات نه اميد دے چه دوئ به معاف کړي، خو شرط پکښے دا دے چه د خپلو ګناهونو اقرار کوي، نو دا آيت په قرآن کريم کښے د هغوي دپاره ډير د اميد آيت دے۔

(د احنف بن قيس تابعيؒ په باره کښے راځي چه هغه وائي ما په قرآن کريم کښے خپل ځان کتلو چه زهٔ به کوم ځائے کښے يم نو هغه آيتونه مے وکتل چه په هغے کښے د کافرانو بد صفات وو نو هغه ما کښے نهٔ وو الحمد لله، بيا مے د مومنانو صفات وکتل چه مؤمنان دے ته وائي ﴿قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ﴾ الى آخر الآيات) ﴿اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ﴾ الخ۔

نو ما ويل چه دا صفات هم راکښے نشته، نو زهٔ به څوك يم، نو قرآن کښے ګرزيدم چه دا آيت مے مخے ته راغے ﴿وَآخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ﴾ نو ما ويل چه اُوس مے ځان پيدا کړو۔ دا زما حال دے چه ګناهونه هم شته او نيکيانے هم۔ او د عام مؤمنانو هم دا حال دے۔

بيا رسول الله ﷺ ورغے او دغه مؤمنان ئے راکولاو کړل، او دا آيتونه ئے پرے ولوستل نو هغوي ډير ښه مؤمنان وو، هغوي رسول الله ﷺ ته خپل مالونه پيش کړل او وائے وويل چه مونږ ددے مال په وجه په فتنه کښے غورزيدلي وو،

[هٰذِهٖ اَمْوَالُنَا فَتَصَدَّقْ بِهَا عَنَّا وَاسْتَغْفِرْ لَنَا]

دا زمونږ مالونه دي، تهٔ ئے زمونږ د طرف نه صدقه کړه (په جهاد کښے ئے ولګوه) او مونږ دپاره بخنه وغواړه۔

رسول الله ﷺ وفرمايل: چه ما ته دا حکم نهٔ دے شوے چه زهٔ ستاسو مالونه

واخلم۔

نو هغوی زور کولو چه خامخا ئے واخله۔ نو ددے نه پس الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو:

﴿ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ [التوبة : ۱۰۳]

د دوئ نه د دوئ بعض مالونه واخله (نۀ ټول) د صدقے په طور چه پدے سره دوئ پاك شي او د نفس تزکیه ئے وشي او دوئ دپاره دعا غواړه ځکه چه ستا دعاء د دوئ د آرام ذریعه ده (زړۀ ته ئے پدے سره اطمینان رسیږی).

نو نبی ﷺ د ابولبابه رضی الله عنه نه ثُلث (دریمه حصه مال) واخستو۔

[السیرة النبویة لابن کثیر ٤/٤٩]

دا ډیر رشتینی مؤمنان دی چه د ګناه د مغفرت دپاره ټول مال ورکوی، او دا ډیر ګران کار دے، صرف د ایمان په وجه آسان دے۔ معلومیږی چه ددے خلکو په زړونو کښے د الله لوئی او د ګناه ډیره بدی پرته وه نو ځکه داسے قربانئ ته تیار وو۔

د آدابو د تویے نه دا ده چه د خپلے تویے نه مخکښے صدقه ورکړه نو پدے سره به ستا تویه الله ته ډیره ښه قبوله شی۔

پدے کښے یوه بله ډله د مؤمنانو ده چه هغوئ ددے مخکنو کسانو نه لږ لاندے درجه کښے وو (اګرکه مرتبه ئے ډیره اُوچته ده) لیکن کارئے د سستوالی وو، نو دوئ ځانونه د ستنو پورے ونۀ تړل، ځانله ئے سزا ورنکړه چه دا درے کسان وو۔

کعب بن مالك رضی الله عنه او مراره بن ربیع العامری رضی الله عنه او هلال بن اُمیه الواقفی رضی الله عنه او دا درے واړه د انصارو نه دی، او ډیر رشتینی مؤمنان دی، روستنی دوه پکښے بدریان صحابه دی لکه امام زهریؒ وئیلی دی، او کعب بن مالك رضی الله عنه پکښے عقبی دے، لیلة العقبه کښے ئے د رسول الله ﷺ سره بیعت کړے او ډیر پخوانے مسلمان دے۔ او په اول کښے ئے اسلام ته غاړه ورکړے او د اسلام مدد ئے کړے۔

دا کسان پدے آیت کښے ذکر دی:

﴿ وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ﴾ [التوبة : ۱۰٦]

او نور کسان دی چه هغوی د الله حکم ته روستو شویدی، یا به دوی ته عذاب

ورکړي یا به پرې رحم وکړي۔

نو د دوئ په باره کښې رسول الله ﷺ هیڅ فیصله ونکړه او الله ته ئې وسپارل او د دوئ سره ئې خبرې بندې کړې تردې چه د دوئ توبه الله تعالیٰ خپله نازله کړي۔

دې درې کسانو د منافقانو په شان د دروغو عذر ونکړو، او ځان ئې هم ونه تړلو بلکه درمیانه پاتې شو۔ نو د دوئ سره څه وشو د هغې تفصیل په روستو واقعه د کعب بن مالك ﷺ کښې راغلې دې۔

فائده : د غزا د تبوك نه پاتې کیدونکې څلور قسمه خلك وو،

(۱) مَأْمُوْرُوْن مَأْجُوْرُوْن۔ هغه خلك چه د رسول الله ﷺ په امر باندې پاتې شوی وو نو دوئ ته خو به اجرونه پوره پوره ملاویږي لکه علي بن ابي طالب، محمد بن مسلمه او ابن ام مکتوم رضی الله عنهم۔

(۲) دویم : معذوره خلك دي۔ یعني ضعیفان او مریضان، او هغه خلك چه هیڅ ئې نۀ موندل او په ژړا او خفګان کښې پاتې شول۔

(۳) هغه خلك چه هغوی بغیر د اجازت نه پاتې شوی وو او مخالفت ترې د سستوالي د وجه نه شوې وو او ځان ئې ګناهګار ګڼړلې وو مګر عذر ئې نۀ وو پیش کړې، دې خلکو کښې دغه درې کسان او ابولبابه ﷺ او د هغۀ ملګري داخل دي۔

(٤) او نور خلك مَلُوْمُوْن مَذْمُوْمُوْن دي، یعني ملامته او بد وئیلې شویدي چه دا خلك منافقان وو۔ [السیرة النبویة لابن کثیر ٤/٥٠]

د کعب بن مالك رضی الله عنه دلچسپ قصه

دا قصه په صحیحینو او سننو کښې ذکر ده۔

کعب بن مالك ﷺ خپله د تبوك د غزا نه د پاتې کیدو واقعه بیانوي :

کعب بن مالك ﷺ په آخره زمانه کښې ړوند شوې وو، د هغۀ یو ځوی عبد الله وو، هغۀ به د لاس نه نیولې وو، او مسجد ته به ئې بوتلو رابوتلو، نو عبد الله وائي کله چه زما پلار ړوند شو نو ما ترې دا واقعه واوریده۔

کعب ﷺ وائی : زهٔ د رسول الله ﷺ نه په هیڅ غزا کښې روستو نهٔ یم پاتې شوې سوئ د غزا د تبوک نه، آؤ، په غزا د بدر کښې روستو پاتې شوې یم، لیکن رسول الله ﷺ په هیچا باندې ملامتیا نهٔ وه وئیلې چه د بدر نه پاتې شوې وو، او د هغې وجه دا وه چه رسول الله ﷺ د قریشو د تجارتی قافلې په نیت باندې وتلې وو، تردې چه الله تعالیٰ بغیر د وعدې نه د دشمن سره ملاؤ کړو،

(نو رسول الله ﷺ د قتال په نیت نهٔ وو وتلې)

او یقیناً زهٔ د رسول الله ﷺ سره لیلة العقبه ته حاضر شوې یم کله چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په اسلام باندې لوظ کولو، او زهٔ دا نهٔ خوښوم چه زما دپاره دې د هغې په بدله کښې غزا د بدر حاصله شي، اګرکه بدر په خلکو کښې د عقبې د شپې نه زیات مشهور دې۔

(او ددې وجه دا ده چه لیلة العقبه هغه شپه ده چه رسول الله ﷺ سره د مدینې دولس صحابه کرامو چه یو په کښې کعب بن مالك ﷺ دې- بیعت کړې وو په اسلام او بیا په مدد د نبی باندې او د هغهٔ په کلی ته راوستلو باندې)

کعب ﷺ فرمائی : زما قصه دا وه چه هیڅکله دومره ډیر قوی او مالداره نهٔ وم په کوم وخت چه ددې غزوې نه پاتې شوم، په نورو جهادونو کښې ما سره دوه سورلئ نهٔ وې او پدې غزوه کښې ما دوه سورلئ هم تیارې کړې وې، (چه په یو باندې به ځم او په بله باندې به د نورو مسلمانانو خدمت کوم، که کمزوری شي نو پدې به سورلي کوم)۔

د نبی ﷺ عادت مبارك دا وو چه کله به یو جهاد ته تللو نو توریه به ئې کوله او تبوك ته چه تلو نو خلکو ته ئې ښکاره خبره وکړه (لکه دا خبره مونږ مخکښې ذکر کړه) دې دپاره چه خلك پوره تیاری وکړی، ځکه چه دا غزا رسول الله ﷺ په سخته ګرمئ کښې کوله، او د لرې سفر سره مخامخ وو او د ډیر شمار والا دشمن سره،

او مسلمانان د رسول الله ﷺ سره دومره ډیر وو چه یو لوی دفتر (رجسټر) نشو راګیره ولې۔

کعب ﷺ وائی : که یو تن به د غائبیدو اراده وه نو دا ګمان به ئې کولو چه په رسول الله ﷺ باندې به پټ پاتې شي ترڅو چه د هغهٔ په باره کښې د الله وحی نهٔ وی نازله شوی،

او رسول الله ﷺ دا غزا په هغه وخت کښې کوله چه میوې او سورې مزیدار شوې وو۔

نو رسول الله ﷺ او د هغهٔ سره مسلمانانو تیاری وکړه، نو زما کلکه اراده وه چه دې جهاد ته به ځم، نبی ﷺ چه کله د تبوك د تللو اعلان وکړو نو نزدې سفر ئې شروع کړو نو زهٔ بازار ته لاړم چه ځان دپاره څه واخلم چه په سفر کښې پکاریږی نو د الله کار وو چه هیڅ شے مې وانهٔ خستو، بیرته کورته راغلم چه صبا به لاړ شم،

(علماءِ کرامو لیکلی دی : [لَا تَدْفَعَنَّ عَمَلًا عَنْ وَقْتِهٖ]

یو عمل د خپل وخت نه مهٔ دیکه کوه چه دا به بیا وکړو ځکه چه د هغه وخت دپاره خپل کارونه وی نو د نیکئ کار کښې تاخیر مهٔ کوه)

بله ورځ بیا بازار ته لاړم، نو نبی ﷺ په سفر روان شو، او د هغهٔ عادت مبارك دا وو چه هغه به سفر ته د یوم الخمیس (زیارت) په ورځ وتلو،

(څوك چه د سنتو اهتمام کوی نو الله هغهٔ له برکت ورکوی، لکه حدیث کښې وختی وتلو دپاره د برکت دعاء شویده، د صخر په نوم باندې یو تاجر وو هغهٔ به چه د تجارت مال لیږلو نو سهار وختی به ئې لیږلو او د زیارت په ورځ به ئې لیږلو نو الله ورله مال ډیر کړو، الله ورله ددې وجه نه برکت واچولو)

ما ویل چه زهٔ به سامان واخلم او زهٔ به د رسول الله ﷺ پسې ورځم، یو یا دوه ورځو کښې به ځان تیار کړم او بیا به ورپسې ور ورسیږم، زهٔ پدې قادر یم،

زهٔ به همیشه دغه شان بازار ته تلم او بیرته به تش راواپس کیدم تردې چه د رسول الله ﷺ قافله لرې لاړه او ما اراده وکړه چه زهٔ به سفر شروع کوم -خو ارمان چه ما شروع کړې وې- لیکن زما دپاره دا مقرر نشوه۔

نو کله چه به د رسول الله ﷺ د وتلو نه روستو زهٔ د کور نه بهر راووتلم نو زهٔ به دې خبرې غم کښې اچولم چه ما به صرف هغه سړې لیدلو چه هغه په نفاق باندې بدنام وو یا هغه سړې چه الله تعالیٰ معذوره ګڼړلے وو د ضعیفانو نه۔

او د خلکو د ډیر والی د وجه نه رسول الله ﷺ زما هیڅ تذکره په لاره باندې ونکړه تردې چه تبوك ته ورسیدو نو هلته په تبوك کښې د ملګرو سره ناست وو نو وې فرمایل :

[مَا فَعَلَ کَعُبُ بُنُ مَالِكٍ ؟]

کعب بن مالك ﷺ څه وکړل؟ (هغه نۀ ښکاره کیږی)

(نو د بعض خلکو عادت دا وی چه د مشرانو مخامخ ے ځایه خبره کوی او غیبت کوی، مسلمان د خلکو په سترګو کښے بد ښکاره کوی)

نو یو سړی د بنی سلمه ؤ نه وویل :

[یَا رَسُوُلَ اللّٰهِ ! حَبَسَهٗ بُرُدَاهُ وَالنَّظَرُ فِیُ عِطُفَیُهِ]

یارسول الله ! هغه دوه کپړو (قمیص پړتوګ، یا لنګ او څادر) بند کړیدے (یعنی مالداریٔ) او خپلو دواړو اړخونو کښے ګوری یعنی تکبر کوی، د تکبر د وجه نه جهاد ته نۀ دے راغلے۔

نو پدے وخت کښے معاذ بن جبل ﷺ پرے رد وکړو :

[بِئُسَ مَا قُلُتَ، وَاللّٰهِ یَا رَسُوُلَ اللّٰهِ مَا عَلِمُنَا عَلَیُهِ اِلَّا خَیُرًا]

تا ډیره بده خبره وکړه، او یارسول الله ! مونږ ته په هغۀ کښے صرف خیر معلوم دے۔

نو رسول الله ﷺ غلے پاتے شو۔

(دلته رسول الله ﷺ ورته بد ونۀ وئیل ځکه چه مؤمن دے، او ښه ئے هم ورته ونۀ وئیل ځکه چه غزا د تبوك ته ولے نۀ دے راغلے، داسے وخت کښے سکوت پکار دے)۔

کعب ﷺ وائی : هرکله چه ما ته دا خبره راورسیده چه رسول الله ﷺ مدینے ته راواپس کیږی، نو ما ته غمونه حاضر شو، چه د الله رسول ما نه تپوس وکړی نو زۀ به څه وایم،

[وَطَفِقُتُ اَتَذَکَّرُ الُکَذِبَ]

او شروع شوم چه دروغ مے رایادول او دا به مے وئیل چه صبا له به زۀ د رسول الله ﷺ د غصے نه په څه شی سره اُوځم، او زما په کور کښے چه به څوك عقلمند وو (لکه مور او ښځه) نو د هغوی سره به مے مشورے کولے چه رسول الله ﷺ ته څه جواب ورکړم، هرکله چه وویل شو چه رسول الله ﷺ دا دے راورسیدو نو زما زړۀ کښے الله دا خبره واچوله چه خامخا به رشتیا وایم چه هر څه وشو، او په دروغو سره زۀ د رسول الله ﷺ د غصے نه نشم وتلے۔

او سهار کښے رسول الله ﷺ راغلو او د هغۀ عادت دا وو چه کله به د یو سفر نه

راتللو نو اول به مسجد ته تللو او دوه رکعاته به ئے کول، بیا به خلکو ته کیناستو، نو پدے کښے دا تهول کارونه رسول الله ﷺ وکړل او مسجد کښے کیناستو،

پدے کښے ورته منافقان راغلل او د دروغو عذرونه ئے ورته وکړل او قسمونه ئے ورته وکړل او دوی څه دپاسه اتیا (٨٠) کسان وو، نو رسول الله ﷺ د دوئ ښکاره حالت قبول کړو او هغوی سره ئے بیعت وکړو او هغوئ دپاره ئے بخنه وغوښته

[وَوَکَلَ سَرَائِرَهُمْ اِلَی اللّٰهِ]

او د هغوئ پټ رازونه ئے الله ته وسپارل۔ (ددے فائده مخکښے ذکر شوه)

نو پدے کښے زهٔ راغلم [فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ تَبَسَّمَ تَبَسُّمَ الْمُغْضِبِ]

نو هرکله چه ما په هغهٔ باندے سلام واچولو نو داسے مسکے شو لکه چه یو غصه ناك سړے مسکے کیږی، بیا ئے وویل:

[تَعَالِ فَجِئْتُ اَمْشِیْ حَتّٰی جَلَسْتُ بَیْنَ یَدَیْهِ]

(یعنی زهٔ چه کله مسجد ته راننوتم نو ما ته ئے وویل) راشه نو زهٔ راغلم پیاده راروان وم تردے چه د هغهٔ مخے ته کیناستم۔

(ددے روایت نه امام نسائیؒ دا مسئله معلومه کړے ده (بَابُ الرُّخْصَةِ فِیْ تَرْكِ تَحِیَّةِ الْمَسْجِدِ) چه کله نا کله تحیة المسجد پریخودل جائز دی،

(تحیة المسجد: د مسجد تحفه او ډالئ دا ده چه په هغے کښے مونځ وکړی، ادنیٰ ئے دوه رکعاته دی، دا ډیر بهتر عمل دے، پریخودل ئے نهٔ دی پکار مگر کله د سختے مجبورئ په وجه پریخودل ئے جائز وی، لکه وخت تنگ وی، یا یوے خبرے له راغلے وی، او ودس ئے نهٔ وی او بیرته زر اوځی، نو کوم خلك چه دا وائی چه تحیة المسجد واجب دی نو د هغوی وینا کمزورے ده، او دلته کعب رضی الله عنه دا دوه رکعاته پدے وجه پریخودل چه د الله نبی ورته وفرمایل: راشه، نو "راشه" امر ډیر قوی وو)

نو ما ته ئے وفرمایل:

[مَا خَلَّفَكَ؟ اَلَمْ تَکُنْ قَدِ ابْتَعْتَ ظَهْرَكَ؟]

ولے روستو پاتے شوے؟ آیا تا گنے ځانله سورلی نهٔ وه اخستے؟

نو ما ورته وویل:

[بَلٰی اِنِّیْ وَاللّٰهِ لَوْ جَلَسْتُ عِنْدَ غَیْرِكَ مِنْ اَهْلِ الدُّنْیَا لَرَاَیْتُ اَنْ سَاَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهٖ بِعُذْرٍ۔

وَلَقَدْ اُعْطِيْتُ جَدَلًا۔]

همداسې وه لیکن زهٔ قسم په الله که ستا نه سوئ د بل چا سره د دنیا والو نه کینم نو زما یقین دے چه زهٔ به د هغهٔ د غصے نه په یوه دروغجنه بهانه سره وځم ځکه چه ما ته د خبرو چالاکي راکړے شویده۔

[وَلٰكِنِّيْ وَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَئِنْ حَدَّثْتُكَ الْيَوْمَ حَدِيْثَ كِذْبٍ تَرْضٰى بِهٖ عَنِّيْ لَيُوْشِكَنَّ اللّٰهُ اَنْ يُّسْخِطَكَ عَلَيَّ]

لیکن قسم په الله ما ته پته ده چه که زهٔ تا ته نن دروغ ووایم نو تهٔ خو به ما نه راضی شے لیکن قریبه ده چه الله تعالیٰ به تا په ما باندے غصه کړی؛ (ځکه چه د دروغو انجام خراب وی)

[وَلَئِنْ حَدَّثْتُكَ حَدِيْثَ صِدْقٍ تَجِدُ عَلَيَّ فِيْهِ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ فِيْهِ عَفْوَ اللّٰهِ]

او که زهٔ درته رشتیا ووایم تهٔ خو به ما ته غصه شے (ځکه چه زما څه عذر نشته) لیکن زهٔ پدے کښے د الله د معافئ امید لرم۔ (نو تا به ما نه الله راضی کړی)

لنډه دا ده چه [لَا، مَا كَانَ لِيْ مِنْ عُذْرٍ] زما دپاره هیڅ عذر نهٔ وو، او قسم په الله زهٔ هیڅکله دومره قوی او دومره مالداره نهٔ وم کله چه تا نه روستو پاتے شوم۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَمَّا هٰذَا فَقَدْ صَدَقَ]

هرچه دا سړے دے نو دهٔ رشتیا وویل۔ بیا ئے ما ته وفرمایل :

[فَقُمْ، حَتّٰى يَقْضِيَ اللّٰهُ فِيْكَ]

پاخیږه تردے چه الله تعالیٰ ستا په باره کښے څه فیصله نازله کړی۔

(غزا د تبوک ته نهٔ حاضریدل کبیره گناه وه دا وجه ده چه رسول الله ﷺ بیا د دوئ سره خبرے هم بندے کړے او د الله فیصلے ته ئے وسپارل، نو الله معاف کړل)

دے وائی : زهٔ راپاڅیدم نو ما پسے بعض کسان د بنو سلمه ؤ نه په جلتئ راغلل او ما ته ئے وویل : قسم په الله مونږ ته نهٔ ده معلومه چه تا ددے نه مخکښے کومه گناه کړی وی،

[وَلَقَدْ عَجَزْتَ اَنْ لَّا تَكُوْنَ اعْتَذَرْتَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِمَا اعْتَذَرَ اِلَيْهِ الْمُخَلَّفُوْنَ ؟]

تهٔ ددے نه عاجز شوے چه تا رسول الله ﷺ ته عذر پیش نکړو کوم چه روستو پاتی

کړے شوی کسانو پیش کړو۔ (گناه خو به شوے وے)

[وَقَدْ كَانَ كَافِيَكَ ذَنْبَكَ اِسْتِغْفَارُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَكَ]

خو ستا دپاره د رسول الله ﷺ بخنه غوښتل کافی کیدل۔ (لکه چه منافقانو له ئے بخنه وغوښته، نو ستا گناه به معاف شوے وے)

[فَمَازَالُوْا يُؤَنِّبُوْنَنِيْ حَتّٰى هَمَمْتُ اَنْ اَرْجِعَ فَاُكَذِّبَ نَفْسِيْ]

نو دوئ ما پورے انښتی وو او ما ته ئے زورنے راکولے تردے چه ما اراده وکړه چه زهٔ واپس لاړ شم او خپل ځان دروغجن کړم (چه رسول الله ﷺ ته ووایم چه ما ته عذر نهٔ وو یاد لیکن اُوس رایاد شو) (لیکن بیا مے ووئیل چه رشتیاؤ کښے کامیابی ده)

نو د هغوی نه مے تپوس وکړو چه

[هَلْ لَقِيَ هٰذَا مَعِيَ اَحَدٌ ؟]

آیا داسے کار بل چا کړے کوم چه ما وکړو؟ نو هغوی وَویل : آؤ، دوه کسان نورو هم ستا په شان خبره وکړه او هغوی ته هم هغه جواب ملاؤ شو کوم چه تا ته ووئیل شو۔

ما وویل : هغه څوك دی؟ هغوی وویل : یو مُراره بن ربیع عامری رضی الله عنه دے او بل هلال بن امیه واقفی رضی الله عنه دے۔

نو دوئ ما ته د دوه نیکانو سړو نوم واخستو چه هغوی بدر ته هم حاضر شوی وو، نو ما وویل : [فِيْهِمَا اُسْوَةٌ] پدے دواړو کښے زما اقتداء ده۔

(که د هغوی سره څه فیصله کیده نو هغه دِے ما سر هم وشی)

(او دا ډیر اُوچت ایمان دے پدے انسان کښے لکه د حدیث د آخر نه معلومیږی)

نو پدے کښے رسول الله ﷺ تولے مدینے والو مسلمانانو ته حکم وکړو چه ددے درے کسانو سره خبرے بندے کړئ۔

(مونږ سره مقاطعه عامه وشوه چه په هیڅ ځائے کښے مونږ سره هیڅوك خبرے نهٔ کوی)

(**فائده** : ددے نه دا معلومه شوه چه زمونږ په دین کښے د هِجران مسئله هم شته یعنی د بعض کسانو سره خبرے نهٔ کول، په هغوی باندے سلام نهٔ اچول لکه په کافر او مبتدع او فاسق به سلام نهٔ اچوے، لیکن دا خبره ډیر تفصیل غواړی،

اشاره دا ده چه که یو تن ستا په ورانولو سره په هغهٔ باندے پریشر راتلو او پریشانه

کیدو او دین ته مجبوره کیدو نو بیا به ورسره خبرے بندے کړے دے دپاره چه دین طرفته راشی، او که ستا د ورانولو په وجه نور خرابیدو نو بیا به خبرے اترے ورسره کوے پدے شرط چه هغه پدے خبرو اترو جوړیدو، او دعوت ورته کیدو، او امید وو چه الله به ئے جوړ کړی، نو بیا ورسره راشه درشه کوه،

او کله چه ستا یقین راغے چه هغه اوس خبره نهٔ منی او ضد کښے راغلے دے نو بیا د الله دپاره هغه هم پریده، دا اصول دی، د نبی ﷺ په زمانه کښے خیر والا خلك ډیر وو نو د مؤمنانو دے غټے مَجمعے به چه د یو تن سره ورانه کړه نو هغه به مجبوراً حق ته راتللو او زمونږ زمانه کښے فساد والا ډیر دی او خیر والا کم دی، نو که تهٔ د چا سره ورانه کړے نو ستا د ورانولو په وجه هغه نهٔ سمیږی بلکه نور ضد کښے راځی، او تا ته لارے او شرونه او فسادونه ګوری نو بیا په هغه وخت کښے ورانول نهٔ دی پکار بلکه راشه درشه کوه دے دپاره چه الله ئے اصلاح وکړی، که بیا هم نهٔ کیده نو روستو زمانه کښے ئے د الله دپاره پریده، لیکن دے زمانه کښے هم بعض کسان د خبرو په پریخودو سمیږی لکه شاګرد سره استاذ خبرے بندے کړی یا پلار د بچی سره یا خاوند د ښځے سره، نو هغهٔ باندے خامخا بوج راځی، لکه دلته نبی ﷺ ددے درے صحابه کرامو اصلاح د خبرو په پریخودو سره کوله۔

خو دا خبره یادول پکار دی چه دا مقاطعه او هجران به د الله دپاره وی، دے کښے به خپل خواهش له دخل نهٔ وی، لکه نن صبا ډیر خلك د چا سره ئے په دنیا باندے لانجه راشی او د هغهٔ سره ورانه کړی نو بیا ئے روستو دین ته فکر شی چه فلانے خو ګیره خریوی او مونځ نهٔ کوی نو ځکه ورسره خبرے نهٔ کوم، حال دا چه د لانجے نه مخکښے هم دغه سړی دا بد عملونه کوی او دے ورسره نهٔ ورانه وی۔ نو دا د خواهش تابعداری ده۔ الله ته ددے انسان نیت او زړهٔ معلوم دے۔

بلکه د الله دپاره به دغه انسان پریدی، لکه عبد الله بن عمر ؓ خپل ځوی سره خبرے بندے کړے وے پدے وجه چه هغه نه د حدیث مخالفت شوے وو چه مونږ به زنانه جمات ته نهٔ پریدو۔

عبد الله بن مسعود ؓ یو سړے پریخودے وو چه په جنازه پسے روان وو او خندا ئے کوله، نو هغهٔ ورته وویل : آیا تهٔ پدے مقام کښے خاندے، قسم په الله که تاسره خبرے

وکړم۔ عبد الله بن عمر ﷺ د یو بدعتئ په باره کښې وئیلی وو چه دهٔ باندې زما سلام مهٔ وایه، د سلام جواب ورله مهٔ ورکوه ځکه چه ما ته دا خبره رارسیدلې ده چه دهٔ بدعت کړیدې نو داسې هجران جائز دې چه د الله دپاره دې،

نو ددې نه مونږ دپاره دا فائده راووته چه چا سره کله کله خبرې پریخودې شی د الله د دین د خاطره، اګرکه صله رحمی هم په اسلام کښې شته لیکن د صله رحمئ سره سره ورانولې شي، وجه دا ده چه صله رحمی به په دین کښې طلب کیږی، په بې دینئ کښې به صله رحمی نهٔ وی)

(کعب ﷺ وائی) نو خلك زمونږ نه جدا شول او مونږ ته ئې شکلونه بدل کړل تردې چه په زمکه کښې ما ته خپل نفس ناشنا ښکاره شو نو دا هغه زمکه نهٔ ده چه زهٔ ئې پیژنم، نو مونږ پدې حالت کښې پنځوس (۵۰) شپې تیرې کړې۔

[فَأَمَّا صَاحِبَایَ فَاسْتَكَانَا وَقَعَدَا فِیْ بُیُوْتِهِمَا یَبْکِیَانِ،]

هرچه زما دواړه ملګری وو نو هغوی بوډاګان وو او په کورونو کښې ناست وو او (تر پنځوس ورځو پورې ئې) ژړل۔

(او مسجد ته به د ډیر خفګان او د ضعف د وجه نه نهٔ راتلل)۔

او هرچه زهٔ وم نو زهٔ ځوان وم او مضبوط وم، نو زهٔ به بهر راوتلم او د مسلمانانو سره به مونځونو ته هم حاضریدم او په بازارونو کښې به هم ګرزیدم او هیچا به ما سره خبرې نهٔ کولې۔

او رسول الله ﷺ ته به راتلم او په هغهٔ به مې سلام اچولو او هغه به د مانځه نهٔ روستو په خپل ځائې کښې ناست وو، هغهٔ به هم ښکاره سلام نهٔ اخستو، نو ما به په زړهٔ کښې وئیلې :

[هَلْ حَرَّكَ شَفَتَیْهِ بِرَدِّ السَّلَامِ عَلَیَّ اَمْ لَا؟]

آیا د سلام په جواب باندې شونډې خوزوی او که نهٔ؟ بیا به ما د هغهٔ خوا ته نزدې مونځ کولو نو ما به پټ شان نظر هغهٔ طرف ته کولو، نو کله چه به زهٔ مانځه ته متوجه شوم هغهٔ به ما ته کتل او کله چه به ما هغهٔ طرفته وکتل نو هغهٔ به مخ واړه ولو، (دې پریشانئ کښې مونږ وو)

تردې چه په ما باندې دا حالت اوږد شو چه خلکو راسره جفاء کوله نو زهٔ یوه ورځ د

ابو قتاده ﷺ باغ ته لاړم چه دا زما د تره ځوی دے، [وَاَحَبُّ النَّاسِ اِلَیَّ] او د نورو خلکو نه ما ته زیات محبوب دے) نو زهٔ د هغهٔ باغ ته ورغلم ما پرے سلام واچولو،

[فَوَ اللّٰهِ مَا رَدَّ عَلَیَّ السَّلَامَ،]

نو قسم په الله هغهٔ ما ته د سلام جواب رانکړو۔

(حال دا چه یواځے ځائے کښے دے، هیڅوك ئے نهٔ وینی لیکن د الله او د رسول د وجه نه خپل ورور پریږدی، د رسول الله ﷺ د حکم داسے تابعدار دے)

نو ما ورته وویل :

[یَا اَبَا قَتَادَةَ ! اَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ هَلْ تَعْلَمُنِیْ اُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؟ فَسَكَتَ]

اے ابو قتاده ! تا له په الله قسم درکوم چه آیا تاته معلومه ده چه زهٔ د الله او د رسول سره مینه کوم؟ نو هغه غلے شو۔

نو ما بیا دا خبره وکړه او قسم مے ورکړو، نو هغهٔ غلے شو بیا مے ورته وکړه او قسم مے ورکړو درے کرته۔ آخر دا چه تنګ مے کړو نو هغهٔ صرف داسے وویل :

[اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ]

الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی، (چه هغوی مونږ منع کړی یو نو دے کښے به حکمت وی، دا د خبرے حاصل دے)

نو زهٔ د باغ نه راووتم او ډیر زیات مے وژړل (چه دا څومره پریشانی ده)

نو پدے مابین کښے زهٔ د مدینے په یو بازار کښے روان وم، نو (یو بل مصیبت راغے)

[فَاِذَا نَبَطِیٌّ مِنْ اَنْبَاطِ الشَّامِ]

دغه وخت یو تاجر دے د تاجرانو د شام نه چه غله ئے راوړے ده، او په مدینه کښے ئے خرڅوی، (خلکو نه تپوسو نه کوی) وائی: چه کعب بن مالك څوك دے؟

نو خلکو ورته وویل چه دغه سړے روان دے، نو هغه سړے زما خوا ته راغے او ما ته ئے یو خط راکړو چه د وریښمو په ټوټه کښے تاو وو، او د غسان بادشاه د طرف نه وو (او زهٔ کاتب وم، لوستل مے کولے شول)

(کافران په داسے وخت کښے د موقعے نه فائده اخلی)، نو په هغے کښے ئے دا لیکلی وو :

[اَمَّا بَعْدُ : فَاِنَّهٗ قَدْ بَلَغَنِیْ اَنَّ صَاحِبَكَ قَدْ جَفَاكَ وَلَمْ یَجْعَلْكَ اللّٰهُ بِدَارِ هَوَانٍ وَلَا مَضِیْعَةٍ،

فَالۡحَقُ بِنَا نُوَاسِكَ]

(یقیناً ما ته دا خبره رارسیدلے ده چه ته خپل ملګری پریخودے ئے، (او ستا بے عزتی ئے کړے) او الله ته د ذلت او د ضائع کیدو په کور کښے نهٔ ئے جوړ کړے۔

(یعنی ته خو ډیر قیمتی او عزتمن انسان ئے، ستا بے عزتی او ضائع کول خو ډیره بده خبره ده) نو زمونږ خوا ته راشه مونږ به ستا سره خمخورګی (همدردی) وکړو۔

(یعنی دلته به درله مال، ښځه او جائیداد درکړو۔

(دے وخت کښے د انسان د ایمان پته لګی چه دلته ورسره ټولو خلکو خبرے پریخودی دی، او هلته ورته بادشاه آفر رالیږی چه مونږ تا ته هر قسم مالونه او جائیدادونه درکوو، زمونږ مسلمانانو کښے خو دا مرض دے چه د چانه لږ خفه شی نو بیا حق پریدی، او داسے خلك ډیر لیدلے شویدی، دا به څه ایمان وی چه د یو څو روپاتو دپاره قرآن او حدیث پریدی، د یو ملګری د ضرر او د هغهٔ د بد اخلاقئ د وجه نه تهٔ څنګه حق پریدے، داسے خلکو په حقیقت کښے حق نهٔ وی پیژندلے۔ او دے خلکو کښے حقیقی ایمان وو نو سره د دومره پریشانئ نه هغهٔ د ایمان د پریخودو سوچ هم ونکړو بلکه پدے خط باندے سخت خفه شو)

نو هرکله چه ما خط ولوستلو نو ما وویل: [وَهٰذَا اَيۡضًا مِنَ الۡبَلَاءِ]

دا هم یو بل مصیبت دے!۔ نو دا خط ما ونشو کولو بلکه کور ته مے ویوړو او (د ډیرے غصے نه مے) په تنور کښے وسیزلو۔

(ټیك ده اُوس به ما نه نبی ﷺ او ملګری خفه وی خو داسے وخت به الله راولی چه دوئ به راضی شی نو ایمان خو زهٔ نشم پریخودے)

مونږ پدے حالت وو تردے چه څلویښت (٤٠) ورځے تیرے شوے بیا رسول الله ﷺ جواب راولیږلو چه تهٔ د ښځے نه جدا شه نو ما هغه سړی ته وویل (کوم ئے چه رالیږلے وو) چه طلاقه ئے کړم او که بل څه وکړم ؟

نو هغهٔ وویل: صرف ترے جدا شه او نزدیکت ورسره مهٔ کوه۔

او زما دواړو ملګرو ته ئے هم دغه جواب ولیږلو۔

نو ما خپلے ښځے ته وویل (چه تهٔ هم ځوانه او زهٔ هم ځوان یم نو کیدے شی چه مونږ نه ګناه وشی نو تهٔ داسے وکړه) چه خپل پلار کره لاړه شه، د هغوی سره وسیږه

تردې چه الله تعالیٰ زما پدې کار کښې فیصله وکړی.

کعب ﷺ وائی : پدې کښې د هلال بن امیه ﷺ ښځه رسول الله ﷺ ته لاړه او دا ئې وویل : یارسول الله هلال بن امیه بوډا سړے دے، ددهٔ څوك خادم نشته، ضائع کیږی، نو آیا تهٔ دا بده ګڼړے چه زهٔ د هغهٔ خدمت وکړم؟ نبی ﷺ وفرمایل :

[لَا، وَلٰکِنُ لَا یَقُرُبُكِ]

نه، خو تا سره به نزدیکت نهٔ کوی.

هغې وویل :

[وَاللّٰهِ مَا بِهٖ حَرَكَةٌ اِلٰی شَیْءٍ، وَاللّٰهِ مَا زَالَ یَبُکِیُ مُنُذُ کَانَ مِنُ اَمُرِهٖ مَا کَانَ اِلٰی یَوُمِهٖ هٰذَا]

قسم په الله په هغهٔ کښې خو هیڅ شی ته حرکت نشته، (هیڅ شی له ګوتے نشی وړے د ډیرے پریشانئ نه)

قسم په الله هغه خو د هغه وخت نه چه دا قصه راغلې ده تر نن ورځے پورے همیشه ژاړی.

نو ما ته بعض کور والو وویل چه که تهٔ د رسول الله ﷺ نه اجازه وغواړے د خپلے ښځے په باره کښې لکه څنګه چه هلال بن امیه ﷺ اجازه وغوښته چه ښځه ئې خدمت وکړی؟ نو ما وویل : قسم په الله زهٔ پدے باره کښې د رسول الله ﷺ نه اجازه نهٔ غواړم،

[وَمَا یُدُرِیُنِیُ مَا یَقُوُلُ رَسُوُلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اسُتَأُذَنُتُهٗ فِیُهَا وَاَنَا رَجُلٌ شَابٌّ]

ما ته څه پته ده چه رسول الله ﷺ به څه وائی کله چه زهٔ د هغه نه دے باره کښے اجازه وغواړم او حال دا چه زهٔ یو ځوان سړے یم.

(یعنی رسول الله ﷺ به ووائی چه تهٔ خو ځوان سړے ئے تا ته اجازه نشته نو بیا به ملامته شم، نو اجازه نهٔ اخلم یا به بل کوم سخت حکم راپسے راشی نو غرق به شم)

(دوئ باندے داسے سخته تیره شوه چه قرآن کریم د هغے نه داسے تعبیر کریدے :

﴿وَضَاقَتُ عَلَیُهِمُ الْاَرُضُ بِمَا رَحُبَتُ وَظَنُّوُا اَنُ لَّا مَلُجَاً مِنَ اللّٰهِ اِلَّا اِلَیُهِ﴾

[التوبة :۱۱۸]

او دوئ باندے زمکه سره د فراخوالی نه تنګه شوه او دوئ ګمان وکړو چه ځائے د پناهی د الله نه سوئ بل هیڅ نشته.

دا ډیره مزیداره جمله ده چه د هر مؤمن دپاره ضروری ده چه مونږ که هر څومره

گناهونه وکړونو د الله نه بل هیڅوک نشو تللې بلکه همدغه الله ته به ورګرزو، او دا د هوښیارو ګناهګارو مؤمنانو طریقه ده چه د مؤمن نه کله ګناه وشي نو دے د الله نه نور نۀ باغي کیږي چه د هغۀ نه مره ورشي، بلکه د هغۀ طریقه دا وي چه همیشه الله ته راګرځي چه زمونږ د الله نه بغیر بل ځائے د پناهي شته نۀ، که زۀ زر ګناهونه وکړم او که کروړ وکړم نو همدغه الله مے دے، د هغۀ نه زمونږ خلاصے نشته،

ددے مثال داسے دے لکه یو ماشوم بچے چه مورئے ووهي او د ځان نه ئے وشړي هم بیرته د هغے غیږے ته رامنډے وهي، ځکه چه هغۀ ته پته وي چه ما باندے زیات مهربان په خلکو کښے بغیر د مور نه بل څوك نۀ دے۔

نو دا صحابه کرام هم الله تعالیٰ ته ئے خپل ځان وړاندے کولو چه اے الله! تۀ زمونږ رب ئے، چه تۀ په مونږ هرڅه کوے، دا خبره د الله ډیره خوښه وه نو ځکه ئے قرآن کریم کښے رانقل کړه د الله نه سوئ بل څوك ډیر مهربانه کیدے شي)

کعب ﷺ وائي: مونږ پدے حالت کښے پنځوس (۵۰) ورځے تیرے کړے تردے چه الله سبحانه وتعالیٰ زمونږ توبه راولیږله۔

(دے خلکو خو د اولے ورځے نه توبه ویستلے وه لیکن الله في الحال قبوله کړے نۀ وه، او دوئ له ئے لږه تنبیه ورکوله چه تاسو خو د الله پاك اولیاء یئ تاسو ولے داسے کول، نیکانو ته زر زورنه ورکړے کیږي۔

دا خبره هم یادول ضروري دي چه الله تعالیٰ د بنده په توبه ډیر خوشحالیږي، او توبه ډیر لوي عبادت دے او ډیر ښکلے نعمت دے چه الله په مونږ بندګانو باندے راکولاوه کریده، لیکن دا خبره یادول پکار دي چه الله غني ذات دے، دا هم ګناه ده چه یو سړي په ځوانئ کښے ګناهونه کړي وي او بیا په بوډا والي کښے توبه وباسي، د توبے تاخیر بیل جرم دے، ددے نه به بیله توبه وباسے چه اے الله! ولے ما نه دا دومره ورځے ستا په نافرمانئ او غفلت کښے تیرے شوے،

او په توبه کښے بله خبره دا پیژندل ضروري دي، چه دا یره به کوے چه ما خو توبه اُوخکله خو کیدے شي چه قبوله به شي یا نۀ، البته نا امیدي به هم نۀ کوے، لیکن یره به کوے، ځکه چه کله انسان د منافقت توبه وباسي او د خولے توبه وي، او د زړۀ هغه درد پکښے نۀ وي کوم چه پکار دے، د الله نه یره او د هغۀ محبت پکښے نۀ وي،

د سلفو داسے تویے وے چه څلویښت (۴۰) کاله مخکښے به ئے یوه ګناه کړے وه نو څلویښت کاله پس به ئے پرے ژړلے، داسے اُوچت خلك تیر شویدی، او مونږ سهار کبیره ګناهونه کړی وی، مازیګر رانه هیر وی۔ دا مرض زمونږ د عامو مسلمانانو دے)۔

کعب ﷛ وائی : هرکله چه ما د سهار مونځ وکړو

(په کور کښے، څکه چه ددۀ کور د جبل سِلع خوا ته وو، او دا د مسجد نبوی نه ډیر جدا ځائے دے)

او زۀ د خپل کور د کوټے دپاسه وم، او په هغه حالت کښے وم کوم چه الله ذکر کړیدے چه زمکه راباندے تنګه وه۔ (او د خفګان نه مو سترګے پریوتے وے)

نو پدے کښے نبی ﷺ ملګرو ته اعلان وکړو چه الله تعالیٰ د دغه درے ملګرو توبه نازله کړه او قبوله ئے کړه نو دے خبرے په عامو مؤمنانو باندے هم ډیر اثر وکړو او ډیر خوشحاله شو څکه چه هغوی ددے خبرے قدر پیژندو چه توبه قبلیدل ډیر لوی شے دے) تردے چه دوه کسان د مسجد نبوی نه راووتل چه ما ته ئے زیرے راکولو، او نور کسان لاړل چه زما نورو دواړو ملګرو له ئے زیرے ورکولو، نو یو تن په اس باندے سور شو چه زما خوا ته راتللو او بل یو تن د اسلم قبیلے نه سِلع غر ته وختلو او آواز ئے وکړو

[أَبْشِرْ يَا كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ !]

خوشحاله شه اے کعب بن مالك ! نو دا آواز ما ته مخکښے راورسیدو او اس والا روستو راورسیدو، کله ئے چه اَبْشِرْ ووئیلو نو ما ته پته ولګیده چه د الله د طرف نه څه خوشحالی راغلے ده، نو د زیری نه مخکښے مخکښے زۀ الله ته په سجده باندے پریوتم

(پس د سهار مانځه نه، دے ته سجده د شکر وائی، او دا سنّت عمل دے چه یو نوے نعمت راشی، دا سجده کولے شی لکه فتح راشی، د کفارو مغلوبیت واورے، بل یو نعمت راشی، عام خلك ددے سنت نبوی نه خبر نۀ دی پدے وجه چه په بعض مذهبونو کښے دا سجده شکر نشته، هغه علماؤ ته دا حدیثونه نۀ دی رسیدلی)

نو پدے کښے هغه سړے هم راورسیدو چه کوم آواز کړے وو او اس والا هم راورسیدو دواړو زیرے راکړو نو ما خپلے دوه کپړے (لنګ او څادر) ویستل او هغه آواز والا زیری ورکونکی ته مے په زیری کښے ورکړے او ځان دپاره مے د بل چا نه په سوال کپړے واخستے، قسم په الله زۀ ددے دوه کپړو نه د بل څه مالك نۀ وم په دغه وخت کښے،

(ددې نه دا مسئله معلومه شوه چه د زیری بدله به اول خبر ورکونکی ته ورکولے شی، په زیری کښې چا له یو شے ورکول هم مضبوط سنت دی)

او نبی ﷺ د سهار مونځ کولو نه پس زمونږ د توبے اعلان کړے وو،

او زهٔ رسول الله ﷺ خوا ته راروان شوم، نو خلك به ما سره په لارو کښې ډلے ډلے ملاویدل او په توبه باندے به ئے مبارکی راکوله او دا به ئے وئیل:

[لِيَهْنِكَ تَوْبَةُ اللّٰهِ عَلَيْكَ]

مبارك دِے وی ستا دپاره د الله توبه چه ستا توبه ئے قبوله کړه. (خلکو ته هم ددے احساس وو چه دا ډیره لویه خبره وشوه او د مسلمان په خوشحالئ باندے خوشحالی کول د ایمان شعبه ده)

کعب ﷺ وائی: تردے چه زهٔ مسجد نبوی ته راغلم نو دغه وخت د رسول الله ﷺ نه گیرچاپیره (د هغهٔ مشران) ملگری ناست وو، نو دے وخت کښې طلحه بن عبید الله ﷺ ما ته راپاځیدو او ما ته ئے رامنډه کړه تردے چه ما سره ئے مصافحه وکړه او ما ته ئے مبارکی راکړه، قسم په الله د هغهٔ نه سویٰ نور مهاجرین پانهٔ څیدل

[وَلَا اَنْسَاهَا لِطَلْحَةَ]

او دا کار د طلحه ﷺ به هیڅکله نهٔ هیروم.

(او دا د انسانانو مزاج دے چه څوك ئے زیات اکرام وکړی، او دلجوئی ورله وکړی نو هغه ورته ډیر گران وی په نسبت د هغه چا د هغهٔ خوشامند ئے نهٔ وی کړے)

کعب ﷺ وائی: هرکله چه ما په رسول الله ﷺ باندے سلام واچولو او د هغهٔ مخ د خوشحالئ نه پړقیدو نو ما ته ئے وویل:

[اَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ اُمُّكَ]

خوشحاله شه په غوره ورځ چه الله په تا باندے راوستے ده د هغه ورځ نه چه تهٔ مور زیږولے ئے. یعنی د مور د پیدائش نه روستو په تا باندے دومره د خوشحالئ او بهتره ورځ نهٔ ده راغلے.

(چه رب العالمین د عرش نه اعلان وکړو چه کعب بن مالك ﷺ زما په نیز مقبول بنده وگرزیدو، دا ډیره لویه خبره ده)

نو ما وویل: [أَمِنْ عِنْدِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَمْ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؟]
اے د الله رسوله ! دا اعلان ستا د طرف نه دے او که د الله د طرف نه؟
رسول الله ﷺ وفرمایل: [لَا بَلْ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ]
نه، بلکه دا د الله د طرف نه دے۔
(او دا خو د نصاراؤ او د گمراه صوفیاؤ عقیده ده چه کله یو تن گناه وکړی نو خپل پاپاگانو او پیرانو ته واپس شی چه ما گناه کړے نو هغوی ورته ووائی چه څه ما معاف کړے، د توبے واك هم دوئ په لاس کښے واخستو)
او رسول الله ﷺ به چه کله خوشحاله شو نو د هغهٔ مخ مبارك به پرقیدو، گویا کښے د سپوږمئ ټکړه ده او مونږ به د هغهٔ نه دا حالت پیژندلو۔
کعب ﷺ وائی: هرکله چه زهٔ د رسول الله ﷺ مخے ته کیناستم نو ما وویل:
[إِنَّ مِنْ تَوْبَتِيْ أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِيْ صَدَقَةً إِلَى اللّٰهِ وَإِلَى رَسُوْلِهِ]
اے د الله رسوله ! زما د توبے نه دا شوه چه زهٔ به د ټول مال نه اُوځم، دا به صدقه وی الله او د هغهٔ رسول ته۔
(یعنی کوم پوله پتے دے، یا نور څیزونه دی دا ټول د الله دپاره شو، دے خبره باندے سوچ وکړه دا انسان ولے داسے انفاق کوی، او ډیره جذبه پیدا شوه دا د ایمان د وجه نه، او توبه ورته ډیره لویه ښکاره کیده چه الله زما توبه قبوله کړه نو دا ټول مال دِے د هغهٔ رضا دپاره شی)
نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:
[أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ]
تهٔ ځان سره بعض مال وساته ځکه چه دا ستا دپاره غوره ده۔
(ددے تشریح ئے ورته ونکړه چه دا ولے؟، ابوبکر صدیق ﷺ نه رسول الله ﷺ په تبوك غزا کښے ټول مال قبول کړو، او دلته رسول الله ﷺ د کعب ﷺ نه ټول مال وانخستو وجه دا ده چه د انسانانو په نفسونو کښے فرق دے، د ابوبکر ﷺ په شان انسان صبر کولے شی، سوال ته نهٔ محتاج کیږی او عام مؤمن پریشانه کیږی، که دے خپله پریشانه نشی نو ښځه او بچی ئے پریشانه کیږی، خرچه به غواړی او دهٔ سره به نهٔ وی نو بیا به د بل نه قرضونه کوی، نور خلك به پریشانه کوی)

نو دهٔ وویل چه زهٔ به خپله هغه برخه وساتم چه زما دپاره په خیبر کښې ده. (په غنیمت کښې ورته ملاؤ شوې وه) او د ابولبابه بن عبد المنذر رضی الله عنه او د هغهٔ د ملګرو نه ئې هم توبه مالونه وانخستل، لکه چه مخکښې ذکر شو)

کعب رضی الله عنه وائی : او ما وویل یارسول الله !

[اِنَّ اللّٰهَ اِنَّمَا نَجَّانِیْ بِالصِّدْقِ، وَاِنَّ مِنْ تَوْبَتِیْ اَنْ لَّا اُحَدِّثَ اِلَّا صِدْقًا مَا بَقِیْتُ]

یقیناً الله ما ته په رشتیاؤ نجات راکړو نو زما د توبې بل شرط دا دې چه زهٔ چه ترڅو ژوندې یم صرف رشتیا خبره به کوم.

(ددې رشتیاؤ ډیره ښکلې نتیجه راووتله اګرکه لږه سخته پکښې ملاؤ شوه، الله زمونږ صفت وکړو او منافقانو دپاره ئې ډیره بده سزا بیانه کړه)

نو قسم په الله د رشتیاؤ په باره کښې الله تعالیٰ په ما باندې داسې احسان وکړو چه ما ته هیڅ مسلمان نهٔ دې معلوم چه هغهٔ سره الله تعالیٰ داسې احسان کړې وی، نو ددې وجه نه ما تر نن ورځې پورې هیڅکله په ټول ژوند کښې دروغ نهٔ دی وئیلی او زهٔ د الله نه امید ساتم چه الله به ما په باقی ژوند کښې هم د دروغو نه محفوظ ساتی.

او الله تعالیٰ په خپل رسول باندې دا آیتونه نازل کړل :

﴿لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ﴾ تر ﴿وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ﴾ پورې.

[التوبة :۱۱۷/۱۱۹]

نو قسم په الله په ما باندې الله تعالیٰ هیڅ داسې احسان نهٔ دې کړې د اسلام نه روستو چه هغه زما په نفس کښې ډیر لوی وی زما د رشتیاؤ نه رسول الله ﷺ ته، ښه دې چه ما هغهٔ ته دروغ ونهٔ وئیل ګنې زهٔ به هم داسې هلاك شوې وې لکه څنګه چه هغه کسان هلاك شو چه هغوی دروغ وویل. ځکه چه الله دغه دروغجنو ته داسې سختې خبرې وکړې چه هیچا ته ئې نهٔ دی کړی. الله وفرمایل :

﴿سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ﴾ تر ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ﴾ پورې. [التوبة :۹۵/۹٦]

بیا ئې وفرمایل : چه پدې آیت کښې چه ﴿وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا﴾ (الله مهربانی وکړه په هغه درې کسانو چه روستو کړې شوی وو).

ددے نه مراد دا نهٔ دے چه دویٔ د غزا د تبوك نه روستو پاتے شوی وو، بلکه د خُلِّفُوا معنیٰ دا ده چه الله‌ﷻ مونږ توبه قبلول روستو کړی وو۔ او د منافقانو نه ئے زمونږ کار روستو کړو، او د الله فیصلے ته ئے روستو کړو۔

[صحيح بخاری : ٤٤١٨ ومسلم :٧١٩٢]

غزا د تبوك کښے الله تعالیٰ د منافقانو شرمول او د هغوی رابښکاره کول وغوښتل نو ددے وجه نه رسول الله ﷺ هم ددےؔ نه روستو د منافقانو تعیین وکړو۔

د رسول الله ﷺ په مسجد نبوی کی خلك راجمع کول :

رسول الله ﷺ چه کله د تبوك نه راواپس شو نو هغهٔ په مسجد نبوی کښے خلك راجمع کړل، په دغه ورځ یا ددے نه روستو ورځو کښے (خو نزدے ورځو کښے)

عام خلك راجمع شو، عمر ﷺ په دویٔ کښے نهٔ وو حاضر هغه لږ روستو راغے، په منبر باندے کیناستو او دائے وفرمایل : په تاسو کښے منافقان موجود دی، نو چه زهٔ چا ته ووایم چه پاڅیږئ هغه به پاڅیږی،

زهٔ نن د منافقانو تعیین کوم چه خلکو ته معلوم شی چه د دویٔ شر ختم شی، نو نبی ﷺ د یو تن نوم واخستو چه اے فلانیه پاڅیږه، نو پاڅیدو بهر ووتو، بیائے د بل نوم واخستو تقریباً شپږ دیرش (٣٦) کسان ئے ددے مجلس نه پاڅول او بهرئے ویستل،

اشاره ئے وکړه دے ته چه دا خلك شریان دی، منافقت کوی او د مسلمانانو معاشره او ماحول خرابوی، نو دے خبرے په منافقانو باندے ډیر رعب راوستو،

یو منافق بهر ناست وو د مسجد نبوی په دروازه او سر باندے ئے څادر اچولے وو، عمر فاروق ﷺ ناوخته راغے ورته ئے وویل : ولے بهر ناست ئے ؟ نو هغهٔ وویل : چه ستاسو ملګری وویل چه تاسو منافقان یئ بهر وځئ۔ نو هغهٔ ورته وویل :

[بُعْدًا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ]

الله دے تول ورځ هلاك کړه ۔(چه منافق ئے درته وویلو نو الله ته توبه ویاسه)

[مسند احمد ٣٦٧/٦ رقم : ٢١٨٤٣ من حديث ابی مسعود عقبة بن عمرو الانصاری وفيه عياض مجهول ويؤيده روايات اخری ورواه فی المعجم الاوسط (٧٩٢)]

لیکن د منافقانو په زړهٔ کښې ایمان نهٔ وو نو دې خبرې پرې هیڅ اثر ونکړو۔

د تبوک نه بعد پیشنګویانې :

پدې کښې رسول الله ﷺ یوه بله معجزه ښکاره کړه او ملګروته ئې پیشنګوئی ورکړه د فتح او نصرت چه د الله مددونه به روستو نور هم راځی او د اسلام غلبه به راځی، رسول الله ﷺ په منبر کیناستو وې فرمایل :

[هٰذِهِ الْحِيْرَةُ الْبَيْضَاءُ رُفِعَتْ لِيْ]۔

الله حِیره علاقه ما ته راښکاره کړه (چه دا په عراق کښې یوه علاقه ده) ګویا کښې زهٔ هغې ته اُوس ګورم (لکه یو تن چه تی وی او سکرین ته ګوری او دا د رسول الله ﷺ معجزه وه چه الله ورته د مخکښې نه ډیر روستو راتلونکې حالت راښکاره کړو) چه دغه علاقې ته مؤمنان ورغلی دی او دغه علاقه فتح کوی،

[وَهٰذِهِ الشَّيْمَاءُ بِنْتُ بُقَيْلَةَ الْأَزْدِيَّةُ عَلٰى بَغْلَةٍ شَهْبَاءَ مُعْتَجِرَةً بِخِمَارٍ اَسْوَدَ]

نو د هغوی د قلعه نه یوه زنانه راووته چه د هغې شیماء نوم دې د نُقیله لور ده او د ازد قبیلې نه ده، په سپینه قچره باندې سوره ده، او د ځان نه ئې توره لوپټه تاؤ کړیده۔

(پدې خبره کښې یو مقصد د رسول الله ﷺ معجزه ښکاره کول وو چه شکیان خلك د هغهٔ په نبوت یقین وکړی،

دویم : مسلمانانو ته به الله تعالیٰ فتحې او غلبې راولی، اسلام به نهٔ ختمیږی بلکه نوره ترقی به کوی)

نو دلته د صحابه کرامو یقین ته وګوره پدې کښې یو تن نوې مسلمان وو د تبوك نه روستو ئې رسول الله ﷺ ته هجرت کړې وو لیکن یقین ئې مضبوط وو۔

د هغهٔ نوم خُریم بن اَوس بن حارثه بن لام الطائی دې، هغه پاڅیدو او دا ئې وویل :

[يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! إِنْ نَحْنُ دَخَلْنَا الْحِيْرَةَ فَوَجَدْتُهَا كَمَا تَصِفُ فَهِيَ لِيْ ؟]

یارسول الله ! که مونږ چرته حیره ته لاړو او ما دغه زنانه وموندله نو هغه به زما وی؟

(یعنی ما ته ئے راکړه) نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [هِیَ لَکَ] هغه ما تا ته درکړه۔
(ددې شخص پدې یقین وو چه د الله رسول څه وائی همدغه شان به واقع کیږی)۔
هغه وائی: بیا د ابوبکر صدیق ﷛ په خلافت کښې خلك مرتد شو، خو د طیء قبیلے نه هیڅوك مرتد نشو،
او مونږ به د نزدې عربو سره په اسلام باندې جنگ کولو، نو قَیس قبیلے سره مونږ جنگ وکړو چه د هغوی سره عُیَینَه بن حِصن فَزاری هم وو، (دې هم مرتد شوې وو) او مونږ د بنو اَسد سره جنگ وکړو چه په هغوی کښې طلیحه بن خویلد وو۔ (دهٔ د نبوت دعوه کړې وه)
او خالد بن ولید ﷛ به په اشعارو کښې زمونږ صفت کولو چه دا ښه خلك دی چه په اسلام کلك ولاړ دی۔
بیا ابوبکر صدیق ﷛ خالد بن ولید ﷛ ته حکم وکړو چه هغه د مُسیلمة الکذاب سره قتال دپاره لاړ شی نو مونږ هم د هغهٔ سره لاړو ترڅو چه د مُسیلمه د قتال نه فارغ شو۔
بیا مونږ بصرې طرفته د نصاراؤ د مقابلے دپاره روان شو، نو هلته مونږ سره هُرمز نصرانی ملاؤ شو چه داسې فوجونه ئے راجمع کړی وو چه زمونږ د لښکر نه ډیر زیات وو، او دا هُرمُز د عربو او د اسلام ډیر غټ دشمن وو، نو خالد بن ولید ﷛ ور اُووتو او هغهٔ ته ئے د مقابلے دپاره میدان کښې چیلنج ورکړو نو هغهٔ ورته راووتو نو خالد پرې حمله وکړه او هغهٔ ئے قتل کړو، او ابوبکر صدیق ﷛ ته ئے خبر ولیږلو چه هُرمز هلاك شو نو صدیق اکبر ﷛ هغهٔ ته د هغهٔ نه اخستے شوې مال په تحفه کښې ورکړو نو د هرمز یوه توپۍ وه چه یو لاکھ (۱۰۰۰۰۰) درهم قیمت ئے وو، او فارس والو کښې چه به څوك مشر شو نو هغهٔ به د یو لاکھ درهمو توپۍ اچوله۔
خُریم ﷛ وائی : بیا مونږ حیرې ته راغلو نو د هغه علاقے نه مو ګیره واچوله نو پدې کښې همغه شان وشوه څنګه چه رسول الله ﷺ وئیلی وو، یوه زنانه راووته چه په سپینه قچره سوره وه او توره لوپټه ئے اغوستے وه نو تپوس وشو چه ته څوك ئے؟ هغې وویل : زهٔ شیماء بنت نُفیله یم۔ نو خالد بن ولید ﷛ ونیوله (څکه چه دا غنیمت دې، ددې نه وینځه جوړه شوه)

خُریم ﷛ وائی چه زهٔ ددے ښځے پسے ونښتم چه دا زما ده۔ خالد ﷛ ورته وویل چه دا خو په غنیمت کښې نیولے شویده او د ټولو مسلمانانو شریکه ده۔
نو ما وویل چه دا ما له نبی ﷺ راکړے، هغهٔ وویل: رسول الله ﷺ کوم دے؟ نو دهٔ وویل: چه ما ته رسول الله ﷺ دا یاده کړے وه،
نو خالد ﷛ ترے ګواهان وغوښتل، پدے کښې دوه کسانو د هغهٔ دپاره ګواهی وکړه چه یو محمد بن مسلمه ﷛ او بل محمد بن بشیر الانصاری ﷛ وو، چه آؤ، مونږ دا خبره د رسول الله ﷺ نه آوریدلے وه کله چه د تبوك د غزا نه واپس راغلے وو، نو خالد بن ولید ﷛ دا زنانه هغهٔ ته ورکړه۔
پدے کښې ددے جینئ ورور وو عبد المسیح نوم ئے وو، هغه راغے خالد بن ولید ﷛ ته ئے د صلح پیغام ورکړو نو د صلحے په باره کښې خبرے اترے وشوے۔
نو پدے کښې دا عبد المسیح راغے او دے صحابی (خُریم) ته ئے وویل چه دا وینځه نهٔ خرڅوے؟ هغهٔ ورته وویل: ولے نهٔ، هغهٔ وویل: په څو باندے؟
نو دهٔ وویل: [عَشْرَةُ مِائَةِ دِرْهَمٍ]
په لس سوه (یعنی زر روپئ) نو هغهٔ زر پیسے راوخکلے او دهٔ ته ئے ورکړے، او دهٔ جینئ هغهٔ ته وسپارله۔
(ځکه چه د بادشاهی د کورنئ نه دے، هغهٔ ته زر روپئ څه دی)
روستو چا خُریم ﷛ ملامته کړو چه تا خو ډیره ارزانه ورکړه -
[لَوْ قُلْتَ مِائَةَ اَلْفٍ لَدَفَعَهَا اِلَيْكَ]
که تا یو لاکهـ روپئ یادے کړے وے نو خامخا هغه ئے هم درکولے (ځکه چه دا خو مالداره خلك دے) نو هغهٔ وویل:
[مَا ظَنَنْتُ اَنَّ عَدَدًا اَكْثَرَ مِنْ عَشْرِ مِائَةٍ]
زما دا ګمان نهٔ وو چه د لسو سوو نه به بره هم شمار وی، (دنیا کښې دومره ساده زندګی ئے وه، په عربو کښې پیسے کمے وے نو ددے وجه نه د زرو نه زیات حساب په عربئ کښې نشته، صرف الف او آلاف لفظ راغلے دے، (یعنی یو زر او زرونه) او په عربئ کښې د یو لاکهـ دپاره لفظ نشته او نهٔ د کروړ، ملیون، او ارب او کرب او فدم وغیره الفاظ شته، البته روستو ایجاد شویدی ددے وجه نه عربو ته زر روپئ ډیر شے

ښکاره کیدو، ساده ګې ئې دا وه لیکن ایمان ئې ځومره مضبوط دے، او همیشه الله تعالیٰ د داسې ساده ګانو خلکو نه د دین کار اخلی)

[المعجم الکبیر للطبرانی حدیث رقم : ٤١٦٨، والحاکم والبیهقی، اسد الغابة ١/٣٢٣، اخرجه الثلاثة، البدایة والنهایة : ٥/٣٤]

د عبد الله بن ابی ابن سلول منافق مرګ :

پدے نهم کال باندے د شوال په میاشت کښے د منافقانو مشر مړ شو۔

علماء کرامو لیکلی دی : [إِنَّهُ مَاتَ هَمًّا وَغَمًّا]

عبد الله بن اُبی ابن سلول د غم او خفګان د وجه نه مړ شو۔

د نبی ﷺ غلبه او د اسلام غلبه او فتح راتلل پدے باندے ډیر سخت خفه وو چه دا ولے داسے کیږی؟، زمونږ دشمن مشر کیږی، او داسے عزت ورته ملاویږی، او تول دنیا دده تابع کیږی او عرب او عجم ترے یریږی، او زما مشری ختمیږی، په مشرئ پسے ئے سترګے راوتے وے۔

د هغهٔ د مړ کیدو واقعه دا وه چه د شوال میاشتے په آخر کښے بیمار شو او په ذی القعده میاشت کښے مړ شو، او دده بیماری شل (۲۰) ورځے وه، پدے زمانه کښے به رسول الله ﷺ دده تپوس له ورتللو۔

(دے ظالم رسول الله ﷺ ته ډیر ضررونه ورکړی وو، او د هغهٔ عزت ئے هم اخستے وو، د بی بی (عائشے رضی الله عنها) پسے ئے ورله خبرے کړے وے او هره ورځ به ئے فساد کولو لیکن رسول الله ﷺ بیا هم رحیم او مهربانه او اُوچتو اخلاقو والا وو، او پدے اخلاقو باندے ډیره فائده شوے وه)

نو رسول الله ﷺ دده تپوس له ورغے، نو وګوره پدے وخت کښے دے د څه ارمان کوی؟

نو داسے وائی : [يَا لَيْتَ لِيْ حُلَفَاءَ يَهُوْدَ]

ارمان چه زما حلیفان یهودیان موجود وے۔ او دوئ ما ته ولاړ وے نو زما به څومره عزت وے، نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[اَمَا وَاللّٰهِ إِنْ كُنْتُ لَأَنْهَاكَ عَنْ حُبِّ يَهُوْدَ]

آیا تـهٔ ما د یهودیانو د محبت نه نهٔ وے منع کړے ، (یعنی د یهودو سره محبت خو د جهنم ذریعه ده) نو هغهٔ وویل :

[قَدْ اَبْغَضَهُمْ اَسْعَدُ بْنُ زُرَارَةَ فَمَا نَفَعَهٗ ؟]

د هغوی سره خو اسعد بن زراره ﷺ بغض کړے وو نو څه فائده ئے ورکړه؟۔

(یعنی هغه ګنے مړ نشو، ددهٔ مطلب دا وو چه څوك د یهودو سره بغض وکړی ګنے ژوندے به پاتے کیږی، او څوك چه ورسره محبت ساتی ګنے هغه به مړ کیږی، د رسول الله ﷺ د خبرے نه ئے غلط مطلب واخستو۔

منافقان د الله د نبی په خبره نهٔ پو هیږی، د الله د نبی مقصد دا وو چه یهود کافر دی، او د کفارو سره محبت د الله دشمنی ده، هغوی سره به جهنم ته لاړ شے۔

او د هغهٔ د خبرے جواب دا دے چه په اسعد ﷺ مرګ راغلے دے خو د ایمان په حالت کښے او په قیامت کښے به د یهودو نه جدا وی، یهودیان به اُور ته ځی او هغه به جنت ته نو د یهودو بغض ورله څومره فائده ورکړه)۔

بیا ئے وویل : [يَاَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ! لَيْسَ هٰذَا بِحِيْنِ عِتَابٍ هُوَ الْمَوْتُ]

یا رسول الله ! دا د ملامتیا وخت نهٔ دے بلکه زما د مرګ وخت دے،

او دا ئے وویل : زما غسل ته هم حاضر شه او ما ته خپل قمیص راکړه کوم چه ستا د بدن نه لګیدلے دے، او ما له پدے کښے کفن راکړه او ما باندے مونځ وکړه او ما دپاره بخنه وغواړه۔

(پدے کار کښے هم ددهٔ مقصد خپله مشری ثابتول وو چه نبی ﷺ مشر سړے دے نو پس د مرګ نه به زما ښهٔ شهرت وشی چه پیغمبر ورته خپل قمیص کښے کفن ورکړو او په خپل لاس ئے دفن کړو او مونځ ئے پرے وکړو او بخنه ئے ورله وغوښته۔ دا کار ئے د الله د رضا دپاره نهٔ کولو)۔

نو نبی ﷺ ورته وویل : [لَكَ ذٰلِكَ] صحیح ده، دا کار به درباندے وکړو۔

نو پدے ورځ یا صبا لـه پـه همدغه د منافقت په حالت کښے د دنیا نه لاړو، ایمان ئے رانهٔ وړو ګنے ښه ورته واضحه شوے وه چه دا د الله حق نبی دے، خو د دنیا د مفادو د خاطره ئے صحیح ایمان رانهٔ وړو۔

کله چه مړ شو نو خوی ئے راغے چه عبد الله رضی الله عنه ئے نوم وو او ډیر ښه مؤمن وو، اُوچت صحابی دے، او د پلار نوم ئے هم عبد الله دے، لیکن هغه منافق دے۔ ﴿یُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَیِّتِ﴾

هغهٔ وویل: زما پلار مړ شویدے نو ستا قمیص راکړه چه پدے کښے ورته کفن ورکړو، او دویم دا چه په هغهٔ باندے جنازه وکړه۔

نو احادیثو نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ د هغهٔ خوا ته داسے وخت کښے ورغے چه هغهٔ ته ئے بل کفن ورکړے وو او قبر ته ئے خکته کړے وو، نو نبی ﷺ ورغے او بیرته ئے راوخکلو او په خپلو پتنونو باندے ئے کیخودو۔

(امام بخاریؒ ددے حدیث نه دا معلومه کړیده چه مړے د یو وجه نه بیرته راوخکل جائز دی، لکه مړی سره پیسے غورزیدلے وی، یا پردئ زمکه کښے خخ شوے وی، یا په هغه زمکه باندے سیلاب راروان وی، یا یو ځائے باندے سرکار سړك تیره وی او ستا مړے ضائع کیږی، نو هغه راوخکل او بله زمکه کښے خخول جائز دی، مګر دا طریقه صحیح نهٔ ده چه یو ځائے کښے مړ شی هلته ئے خخ کړی او ډیره موده بعد ئے بیرته خپلے علاقے ته راوړی)

نو نبی ﷺ درے کارونه وکړل، یو ئے دا وکړو چه خپل قمیص مبارك ئے ورته واغوستو۔ ددے څه حکمت وو؟ نو ددے ډیر حکمتونه وو،

یو دا چه په غزا د بدر کښے عباس رضی الله عنه نیولے شوے وو نو هغهٔ بربنډ وو، او عباس رضی الله عنه چاق سړے وو، نو هغهٔ دپاره قمیص طلب کیدو چه هغهٔ ته ئے واغوندوی، نو د بل چا قمیص پرے نهٔ برابریدو او د عبد الله بن ابی ابن سلول قمیص پرے برابریدو، وجه دا وه چه دا هم پیړ بدن والا وو۔ نو دهٔ د رسول الله ﷺ ترهٔ ته قمیص ورکړے وو، او د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو چه هغهٔ به په خپل ځان باندے د هیچا بدله نهٔ پریخوده بلکه هغهٔ سره به ئے ضرور احسان کولو۔ لکه دا د اُوچتو اخلاقو تقاضا ده۔

دویمه وجه دا ده چه پدے کښے دے خبرے ته اشاره وه چه یو سړی کښے ایمان نهٔ وی، د توحید عقیده ئے نهٔ ده، د رسول الله ﷺ د تابعدارئ عقیده ئے نهٔ ده نو د محمد رسول الله ﷺ قمیص هم هغهٔ له فائده نهٔ ورکوی، په قبر کښے د الله د عذاب نه نشی بچ کیدے، اګرکه د نبی ﷺ په قمیص کښے ډیر برکات دی چه د چا سره وی نو ان شاء الله

الله تعالیٰ په هغهٔ باندے عذاب نهٔ راولی، الله ته د خپل نبی چوغه او قمیص دومره خوښ دی، دا برکت صرف په رسول الله ﷺ کښے وو، د هغهٔ خصوصیت دے۔
دریمه : فقهی فائده ترے دا معلومه شوه چه په کفن کښے قمیص ورکول هم جائز دی، او سنت طریقه د کفن دا ده چه درے اُوږدے کپړے وا چوه او د مړی نه ئے راتاؤ کړه د ښی طرف نه اول او د کس طرف نه روستو، او په هر یو باندے درے درے ځل عطر لګوه، او یو سر او بل سر او مینځ کښے ئے وتړه، او بیا په قبر کښے هغه غوټے کولاوے کړه۔ په کفن کښے قمیص ورکول په سنت کښے نهٔ دی راغلی، نو بعض علماء کرام چه پکښے قمیص جوړه وی، دا کمزورے خبره ده، او پدے باره کښے روایت ضعیف دے۔
مګر ددے حدیث نه معلومیږی چه که چا په کفن کښے قمیص ورکړو هم جائز ده، ګناه به نهٔ وی، ګنډلے جامے ورکول هم جائز دی۔
لیکن بهتره طریقه مخکنئ ده، لکه نبی ﷺ ته په درے کپړو کښے کفن ورکړے شو چه تکے سپینے وے چه په هغے کښے قمیص او پټکے نهٔ وو۔

[بخاری : ١٢٦٤]

څلورمه فائده دا وه چه پدے کار سره د ډیرو منافقانو زړونه نرم شو،
مفسرینو لیکلی دی چه منافقانو خپل مینځ کښے وویل چه دا هغه سړے وو چه دهٔ به د رسول الله ﷺ ډیر سخت خلاف کولو، او مونږ به هم ورسره ملګری وو، او دا نبی دومره اخلاقی انسان دے چه دے زمونږ د مشر دومره اکرام او اعزاز کوی، او حال دا چه هغهٔ ته ددهٔ نه ډیر تکلیفونه رسیدلی وو۔
نو ډیرو منافقانو پدے ورځ صحیح ایمان راوړو۔ ځکه چه عام خلك د چا د علم نه دومره نهٔ متأثره کیږی لکه څنګه چه د اخلاقو نه متأثره کیږی۔
ادب او اخلاق ډیر اُوچت شے دے، پدے سره اسلام ښائسته ښکاره کیږی۔
بیا نبی ﷺ په دهٔ باندے جنازه کوله او خلك ورپسے روستو ولاړ دی، نو پدے کښے عمر فاروق رضی الله عنه راغے او رامخکښے شو او نبی ﷺ ته ئے پټ وویل چه یارسول الله ! تهٔ پدے منافق باندے جنازه کوے،

[فَإِنَّهٗ قَالَ يَوْمَ كَذَا كَذَا وَكَذَا]

په فلانئ ورځ باندے ئے دا خبره نهٔ وه کړے، عمر فاروق رضی الله عنه وائی : ما ددهٔ بد بد صفات

ورتـه وریاد کړل۔ بیا راروستو شوم، بیا دویم ځلي ورمخکښې شوم چه اے د الله رسوله ! دا جنازه مۀ کوه دا سړے منافق دے، دریم ځل مے ورته وویل :

[اَلَیسَ قَدْ نَهَاكَ اللّٰهُ]

آیا الله تۀ ددے نه نۀ یې منع کړے۔ الله تا ته نۀ دي وئیلی :

﴿ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ، اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِیْنَ مَرَّةً فَلَنْ یَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴾

[التوبة : ۸۰]

کـه تـۀ دوئ لـه بـخـنـے غواړے یا ئے نۀ غواړے (برابره ده) که تۀ دوئ له اویا کرته بخنه غواړے نو الله دوی ته بخنه نۀ کوی۔ (نو بیا ورله ځنګه جنازه کوے)

نو رسول الله ﷺ هغۀ ته وفرمایل :

[دَعْنِیْ یَا عُمَرُ، فَاِنِّیْ بَیْنَ خَیْرَتَیْنِ]

مـا پریده اے عمر! ځکه چه ما ته (پدے آیتونو کښے) الله تعالیٰ اختیار راکړے دے، (او د آیت مطلب دا دے چه دوئ دپاره بخنه وغواړه (یعنی که د دنیا فائده پکښے وه) یا ورلهٔ بـخـنـه مۀ غواړه (که فائده پکښے نۀ وه) او هرچه زما کار دے نو زۀ ورتـه هیڅکله بخنه نۀ کوم اګرکه تۀ ورله اویا ځل بخنه وغواړے۔

(کـلـه نا کله سړی ته یو تن ښۀ مجرم او منافق او مبتدع ښکاره کیږی لیکن د هغۀ د پـلار جنازے له پدے وجه ورځی چه د هغۀ د پلار رعایت کوی، یا ئے د ورور وغیره ځکه چه هغـه مـومـن مـوحـد او متبـع سـنـت وی، البتـه د مبتدع او منافق په جنازه به نۀ ودریـږے مـګـر د هـغـۀ وارث ته به دعاء وکړے چه الله دِے تا له اجر درکړی او الله دِے تا ته صبر درکړی، او د مصیبتونو نه دِے الله وساته۔ (او مړی ته ورله دعاء مۀ کوه)

بیا ئے وفرمایل :

[وَلَوْ اَعْلَمُ اَنِّیْ اِنْ زِدْتُ عَلَی السَّبْعِیْنَ غُفِرَ لَهٗ لَزِدْتُ]

او کـه ما ته پته وے چه د اویا کرتونه په زیات استغفار باندے دا خلك معاف کوی نو ما به ورله زیات استغفار هم غوښتلے۔

(لیـکـن د الله فیصله دا ده چه هغۀ ئے نۀ معاف کوی، لیکن زما په جنازه کولو کښے نورے فائدے دی کومے چه مخکښے بیان شوے)

نـو نبی ﷺ جـنـازه وکړه۔ او لږ وخت چه تیر شو نو الله آیتونه نازل کړل او په هغے

کښې ئې د عمر ﷛ موافقت وکړو، الله وفرمایل :

﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمۡ عَلٰى قَبۡرِهٖ ﴾ [التوبة : ٨٤]

او د دوی (منافقانو) نه په هیڅ یو تن باندې د جنازې مونځ مۀ کوه او د هغۀ په قبر باندې د دعاء دپاره مۀ ودرېږه،

(د نبی ﷺ دا طریقه وه چه کله به یو تن دفن کړې شو نو د هغۀ قبر خواته به راغې او دا به ئې وفرمایل :

[اِسۡتَغۡفِرُوۡا لِأَخِيۡكُمۡ، وَسَلُوۡا لَهُ التَّثۡبِيۡتَ فَإِنَّهُ الۡآنَ يُسۡأَلُ]

ددې ورور دپاره بخنه وغواړئ او ددۀ دپاره د تثبت دعاء وکړئ ځکه چه ددۀ نه به اُوس ملائك تپوس نه کوی۔ [ابوداود : ۳۲۲۳ ومسند البزار : ٤٤٥]

او پدې دعاء کښې رفع الیدین (لاسونه پورته کول) راغلی دی۔

د جنازې نه روستو د مرو کتل هم بدعت دې، دا په دین کښې نشته، بلکه مړې په جلتئ سره مقبرې ته ورسوئ۔

دارنګه رسول الله ﷺ به په مړو باندې د دفن نه روستو د سورت بقرې او اول آخری آیتونه نۀ لوستل۔ دا په صحیح احادیثو کښې نشته، بلکه دا په بدعاتو کښې داخل دی۔ ډیرو ملیانو ته د هغې روایت سند نۀ دې معلوم نو دا خبره کوی چه په کتاب کښې ئې لیکلی دی، خو دا خبره زده کړه چه کتابونو خو کښې هره خبره شته، نو دا منهج پیژندل پکار دی چه زمونږ د دین خبرې به په صحیح احادیثو ثابتې وی، هله به دین ګرزی او په ضعیفو خبرو دین نۀ جوړیږی۔

(**فائده** : پدې آیت کښې چه کوم حکم ذکر دې نو دا زمونږ دپاره هم دې، مثلًا یو تن هیڅکله مونځ نۀ کوی، یا دین پورې توقې کوی، یا د کفارو او هندوانو او یهودو دینی ملګرې وو نو داسې سړی باندې به جنازه نشی کولې،

الله تعالیٰ روستو آیت کښې فرمائي :

﴿ وَلَا تُعۡجِبۡكَ اَمۡوَالُهُمۡ وَاَوۡلَادُهُمۡ اِنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ يُّعَذِّبَهُمۡ بِهَا فِى الدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ اَنۡفُسُهُمۡ وَهُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴾ [التوبة : ٨٥]

او تا دې د دوئ مالونه او اولاد په تعجب کښې ونۀ غورزوی، ځکه چه الله تعالیٰ غواړی چه دوئ لره ددې په سبب په دنیا کښې عذاب ورکړی او بې ایمانه ئې د دنیا نه

بوځی)

نو د داسې منافقانو دپاره بخنه غوښتل او د جنازې مونځ کول په رسول الله ﷺ او بیا په ټول امت باندې بند شول.

❁ عمر ﷺ پنځه ویشت (۲۵) خبرې کړې وې او د هغې مطابق الله تعالیٰ حکم رالیږلې دې، دې ته موافقاتِ عمری وائی. یعنی د رب العالمین سره د عمر ﷺ موافقت کول. چه دهٔ یوه خبره کړې او الله د هغې مطابق حکم رالیږلې دې، لکه روستو به په سیرت د عمر فاروق ﷺ کښې راشي ان شاء الله تعالیٰ، انتظار کوه.

ددې وجه دا وه چه په عمر ﷺ کښې د خپلو خواهشاتو تابعداری نهٔ وه بلکه هره خبره ئې د الله دپاره وه، نو د ډیر اخلاص د وجه نه او د الله په دین کښې د سختوالی د وجه نه به کله نا کله ددهٔ د خبرې مطابق آیتونه نازلیدل.

نو پدې آیتونو نازلیدو کښې د عمر فاروق ﷺ موافقت وشو.

بیا عمر ﷺ فرمائی: چه ما خو د نورو خبرو نه تعجب نهٔ کولو خو ددې خبرې نه مې تعجب کولو

[مِنْ جُرْأَتِیْ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ، وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ]

چه ما په رسول الله ﷺ باندې څنګه جرأت او زړهٔ ورتیا وکړه او هغهٔ سره مې زور وکړو حال دا چه الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیدل.

(مګر دې سړی لره ایمان مجبوره کړې وو او دینی غیرت وو نو غیر اختیاری به ئې دغه شان خبره او کار کولو، او په نبی ﷺ کښې ددهٔ نه زیات غیرت دې لیکن هغهٔ نورو مصلحتونو او خیرونو ته کتل، او عمر ﷺ ددې پرواه نهٔ کوله بلکه د الله دپاره ئې غیرت کولو.

ددې مثال داسې دې چه یو تن د قوم مشر دې نو هغه ډیرو فائدو او مصلحتونو ته ګوری، په خلاف د یو تن چه هغهٔ سره د هیڅ پرواه نهٔ وی، لکه یو تن ته مدرسه ورپه غاړه ده، هغه ډیرو مصلحتونو ته ګوری، او بل یو تن پدې هیڅ کښې کار نهٔ لری او د نبې مینځ ولې چه دا کارئې ولې وکړو او دا ولې کوی؟)

بیا هرکله چه د منافقانو دا مشر مړ شو نو د منافقانو ټولګې الله تعالیٰ تس نس کړو، څه ئې ښکاره وشرمول، چا لـه چه الله خیر لیکلې وو نو هغوی په دین کښې صحیح

داخل شول، او چا لـه چـه الله خیر نهٔ وو لیکلے، نو څه پـه یو ځائے کنبے مړهٔ شول او څه بل ځائے او لړ لړ پاتے هم شو، لیکن هغوی ته چا نهٔ کتل او نهٔ ئے څه زور او طاقت وو۔

د نهم کال نور کارونه

په نهم کال کی د جبریل علیه السلام راتلل :

پـدے نهـم کـال کنبے جبریـل علیـه السـلام نبی ﷺ تـه راغے چه هغهٔ ته ئے ددین ابتدائی او ضروری خبـرو تـعلیم ورکـولـو، نـو اول ئے عقیده بیان کړه بیا عبادات بیا معاملات۔

ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ په مسجد کنبے د خلکو سره ناست وو :

[كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَوْمًا بَارِزًا لِلنَّاسِ ، فَأَتَاهُ رَجُلٌ]

داسے ورځ وه چـه نبی ﷺ په کنبے خلکو سره ښکاره ناست وو، نو پدے کنبے ناشنا سړے راغے چه د هغهٔ سپینے جامے وے او ډیرے سپینے وے او ویښته ئے تور وو او سخت تور وو (لکه د ځوانئ حالت کنبے وو)

[لَا يُرٰى عَلَيْهِ اَثَرُ السَّفَرِ]

د سفر آثار پرے نهٔ لیدلے کیدل، (ځکه چه په مسافر باندے د سفر اثرات وی، رنګ ئے زیړ وی، مزلونه ئے کړی وی، خړ پړ ښکاره کیږی)

ځوك به ووائی چه د مدینے د یوے کوتے نه به راوتلے وی۔

نو فرمائی : [وَلَا يَعْرِفُهٗ مِنَّا اَحَدٌ] په مونږ کنبے هیچا نهٔ پیژندلو۔

راروان وو تردے چه د نبی ﷺ مخے ته کیناستو،

[حَتّٰى دَنَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ]

نـو خپل زنګنونه ئے د رسول الله ﷺ زنګنونو سره تکیه کړل، (ځکه چه سائل دے، او د تپوس کـونکي دپاره دا طریقه ده چه هغے ته به ځان محتاج ګنړی او ډیره توجه به ورکوی، او دا د علم طریقه هم دهِ چه خپل استاذ ته نزدے کینی۔

او خاصکر د جُمعې په ورځ دا ترغیبات ډیر راغلی دی :

[وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ وَاسْتَمَعَ]

چه امام ته څوك نزدې کینی او خبرې ته غوږ کیدی نو الله به ورته د لسو ورځو گناهونه معاف کړی۔

او دې سړی د التحیات شکل اختیار کړو او خپل لاسونه ئې په خپلو زنگنونو باندې کیخودل۔ او یو حدیث کښې دی چه دغه لاسونه ئې د رسول الله ﷺ په زنگنونو باندې کیخودل، ځان ئې هغهٔ ته متوجه کولو۔

(په پردی ورون باندې لاس کیخودل جائز دی کله چه په هغې باندې جامه وی)

نو د یو څو خبرو تپوسونه ئې وکړل :

[یَا مُحَمَّدُ اَخْبِرْنِیْ عَنِ الْإِسْلَامِ]

او نوم ئې واخستو چه اې محمد ! ما ته د اسلام په باره کښې خبر راکړه۔

(ددې نوم اخستو وجه دا وه چه د ځان د پټولو دپاره ئې داسې نوم واخستو چه صحابه کرامو به ورته نهٔ اخستو، ځکه چه که یارسول الله ووائی نو خلك به حیران شی چه دا څوك دې چه داسې وختی ئې ایمان راوړیدې او د الله رسول پیژنی۔

دې دپاره چه عوام خلك پرې دیاند چی گمان وکړی نو د هغوی به سوالونو ته توجه وی، او هغهٔ ته به نهٔ گوری، او که په دهٔ باندې پوهه شی چه دا دومره قیمتی شخص دې، نو خلك به دهٔ ته گوری بیا به په سوالونو او مسئلو باندې نهٔ پوهیږی)

نو اول تپوس ئې دا وکړو : چه ما ته د اسلام په باره کښې خبر راکړه چه اسلام څه ته وائی چه الله رب العالمین په بندگانو لازم کړې، او د اسلام نه په غیر مړهٔ نشیٔ، او د اسلام څه معنیٰ ده؟ نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : چه چا کښې پنځ بناء وی نو دا مسلم دې، او دا د اسلام ابتدائی پوړیٔ ده۔

نبی ﷺ وفرمایل :

[اَلْإِسْلَامُ اَنْ تَشْهَدَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ وَتُقِیْمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِیَ الزَّکَاةَ وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَیْتَ اِنِ اسْتَطَعْتَ اِلَیْهِ سَبِیْلًا]

اسلام دې ته وائی چه ته دا گواهی وکړې چه د الله نه سویٰ بل حقدار د بندگیٔ نشته او محمد ﷺ د الله رسول دې، او د مونځ پابندی وکړې او زکاة ورکړې او د

رمضان روژے ونیسے او د بیت الله حج وکړے که هغے ته د لارے طاقت لرے۔

(که یو تن کښے دا کارونه نهٔ وی او ځان ته مسلمان وائی نو دا به غلط وائی، که کلمه د توحید او رسالت نهٔ وائی نو کافر دے، او چه مونځ او زکاة او روژه او حج څلور واړه پکښے نهٔ وی نو بیا هم مسلمان نهٔ دے، او چه بعض وی او بعض نهٔ وی نو دا ناقص مسلمان دے، د خیمے یوه ستنه ئے غورزیدلے ده، نزدے ده چه په لږه هواء باندے دا خیمه راپریوزی، او پدے خیمه کښے دیره کیدل مشکل شی،

نو دغه شان که تهٔ په اسلام کښے ئے او مونځ نهٔ کوے، یا زکاة نهٔ ورکوے، یا روژه نهٔ نیسے، یا حج نهٔ کوے نو نزدے ده چه دا اسلام ډے خراب شی، که پدے حالت پاتے شوے او الله ته ډے توبه ونهٔ اُوخکله او راونهٔ گرزیدے، دا پنځه خبرے د اسلام بنیاد دے، بیا په اسلام کښے ډیرے درجے دی، اعلیٰ او ادنیٰ درجه)

نو دهٔ وویل : [صَدَقْتَ، فَعَجِبْنَا لَهٗ يَسْأَلُهٗ وَيُصَدِّقُهٗ]

تا رشتیا وویل۔ صحابه وائی چه مونږ تعجب وکړو چه تپوس هم کوی او تصدیق ئے هم کوی، (ځکه څوك چه تپوس کوی نو هغه نهٔ پو هیږی، او چه دا وائی چه رشتیا ډے وویل نو ددے مطلب دا دے چه دهٔ له دا مسئله د مخکښے نه ورځی)

بیا دهٔ تپوس وکړو : [فَأَخْبِرْنِيْ عَنِ الْإِيْمَانِ ؟]

ما ته د ایمان په باره کښے خبر راکړه ؟ ۔

نبی ﷺ وفرمایل : ایمان د زړهٔ تصدیق او یقین ته وائی، او دا یقین به په راتلونکو څیزونو کوے۔

[اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ] ۔

ایمان دا دے چه تهٔ یقین وکړے په الله او په ملائکو د هغهٔ او په کتابونو د هغهٔ

(چه بعض حدیثونو کښے دی چه یو سل څلور کتابونه الله رالیږلی دی، مگر ددے نه کم وزیات هم کیدے شی ځکه چه دے روایاتو کښے ضعف دے)

او د الله پیغمبران به منے۔

(د آدم علیه السلام نه تر محمد ﷺ پورے چه ددهٔ نه بعد به هیڅ نبی نهٔ راځی، او الله خپل بندگان مُهمل نهٔ پریدی او د پیغمبرانو د رالیږلو غرض دا دے چه بندگانو باندے رحم وشی او هغوی ته سمه لاره وخودلے شی، او دے دپاره چه د بندگانو په الله

باندې څه حجت نۀ وی، چه تا خو به مونږ ته ځوك رالیږلی وے چه تا به کتلی وے چه مونږ خبره منله او که نۀ)

او ورځ د آخرت به منې۔ او په یو روایت کښې دی: [وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ]

تۀ به په دوباره ژوندی کیدو باندې یقین لرے چه بندګان به الله تعالیٰ په قیامت کښې خپل ځان ته ودروی۔

او بل دا چه تۀ به په تقدیر باندې ایمان لرے چه هغه د خیر وی او که د شر۔

(او د تقدیر معنیٰ دا ده چه دا یقین ولرے چه الله تعالیٰ د کائناتو ټول څیزونه د پیدائش نه مخکښې الله تعالیٰ ته معلوم دی، بیا ئے دغه څیزونه په یو کتاب (لوح محفوظ) کښې لیکلی هم دی، او بیا دغه څیزونه د الله په اراده او د هغۀ په علم واقع کیږی،

د تقدیر مسئله ډیره عجیبه ده او ډیر ښه ایمان پکښې پروت دے، چه د الله څومره ناشنا علم او څومره ناشنا قدرت دے چه د کائناتو د پیدائش نه مخکښې هم په کائناتو پوهه دے، او بیا ئے ددے لیکل کړی، لیکل ګران کار وی، [كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُبِينٍ]

بیا چه کله خپل وخت راشی نو په هغے کښې ئے د خپل علم مطابق واقع کوی، مثلًا دا خبره ئے لیکلی وی چه زید به د جُمعے په ورځ پدے کال (۱۴۳۸ هـ) یولسیم رمضان موافق جون (۶/۶/۲۰۱۷) کښې په پیښور کښې وژنم نو دغه سړے به الله تعالیٰ دغه مقام ته حاضره وی او په همدغه ورځ او همدغه کال به ئے وژنی په هغه اسبابو سره کوم ئے چه ورله مقرر کړیدی، د الله نه خبره هیریږی نۀ چه دا ورځ تیره شی او صبا له ووائی چه د زید د مرګ خو پرون ورځ وو او هغه پاتے شو نو اُوس به ئے مړ کړو۔

او داسے هم نۀ کیږی چه مخکښې شی چه صبا له به ئے څه وژنو خو نن به ئے ختم کړو، صبا به ورته یا وزګاریږو یا نۀ، که دا سړے په مشرق کښې وی او مرګ ئے الله په مغرب کښې لیکلے وی نو اسباب به ورته برابره وی او هم هغه ځائے ته به ئے رسوی۔ الله پدے قادر دے، نۀ ترے هیریږی، نۀ ترے مخکښې کیږی، نۀ ترے عاجز دے۔ په خلاف د انسان باندے۔

دے ته د تقدیر عقیده وائی، کله چه تا دا عقیده په ذهن کښې حاضره کړه نو تۀ به د خپل مالك شان او قدر وپیژنے۔ د فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ، او عَلِيمٌ بِكُلِّ شَيْءٍ او اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

شَيْءٍ قَدِيْرٌ، اِنَّ رَبِّيْ لَطِيْفٌ لِمَا يَشَاءُ﴾ او [مَاشَاءَ اللّٰهُ كَانَ، وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ] په معانو به پوهه شے۔

او الله دغه څیزونه په حکمت سره لیکلی دی۔ نو تقدیر مسئله زمونږ په دین کښے د ایمان د جوړه ولو او د الله د تعلق د پیدا کولو ده، پدے کښے خلك په اُلجهن او پریشانئ کښے اچول مقصد نهٔ دے)۔

هغهٔ بیا وویل : [صَدَقْتَ] خبره دِے رشتیا ده۔

بیا هغهٔ تپوس وکړو : [فَأَخْبِرْنِيْ عَنِ الْإِحْسَانِ]

ما ته د احسان په باره کښے خبر راکړه (چه الله سره به احسان څنګه کولے شي ځکه چه د بندګانو سره احسان خو معلوم دے، حال دا چه الله خو خپله محسن (احسان کونکے) دے، نو بندګان به د هغهٔ سره څنګه احسان کوی)

نو نبی ﷺ وفرمایل (ددے دوه کارونو نه یو کار کوه یو اعلیٰ دے او بل ادنیٰ) :

[اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ]

د الله داسے بندګی کوه (نو بندګی د الله سره احسان دے) داسے بندګی چه ګویا که تهٔ الله ته ګورے۔

(یعنی دا تصور وکړه چه الله ستا مخامخ دے او تهٔ هغهٔ ته لاس په نامه ولاړ ئے، او هغهٔ ته سجده لګوے، د هغهٔ په ذکر او د هغهٔ د کتاب په لوستلو کښے مصروف ئے، یا بل یو عمل کوے نو الله باندے نظر ولګوه چه د دغه ذات دپاره ئے کوم، دا چه کله سړے اُوچت مؤمن وی او زړهٔ ډیر جوړ وی نو دے حالت ته رسیدلے شی، بیا تهٔ فکر وکړه چه کله یو تن دا خیال وکړی چه زهٔ الله ته ګورم نو دا به څومره ادبناك وی، او څومره حیاء او خشوع والا به وی، زمونږ مونځونو کښے چه خشوع نشته نو ددے وجه دا ده چه مونږ دا تصور نهٔ دے کړے۔ دا اعلیٰ حالت دے، دے ته به څنګه ورسیږو نو بیا ئے وفرمایل :

[فَإِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ]

یعنی که دغسے توجه سره بندګی نشے کولے نو دا بله خو آسانه خبره ده دا فکر وکړه چه الله ما ته ګوری۔ یعنی هر ځائے چه ئے خو دا فکر کوه چه اُوس پدے حالت کښے ما ته الله ګوری، زما زړونو ته ګوری،

(کله چه د بنده دا تصور جوړ شی بیا هم په بنده کښے ادب پیدا شی، که تهٔ دننه

کوته کښې ناست ئې خو پدې پوهه شې چه بهر نه ما ته یو تن په یو سوری کښې ګوری نو هم تهٔ به خپل حرکات او سکنات ډیر کنټرول کړې، چه صرف د انسان نه خبر شې، بیا چه پدې پوهه شې چه الله ما ته ګوری نو پدې سره بنده ډیر کنټرول کیږی، ددهٔ خوله، سترګې، لاسونه، بدن، اوې ځائې کیناستل برابر شي۔ او دا کارونه انسان کښې همداسې نهٔ راځي ترڅو چه ددې فکرمندی پکښې نهٔ وی)

دې حدیث ته ام الاحادیث، ام الجوامع، ام السنة وائی۔ د ټولو حدیثونو مور، او ټولې بنیادی خبرې پکښې راګیرې دی۔

بیا هغهٔ وویل چه رشتیا دې وویل :

بیا هغهٔ تپوس وکړو : [فَأَخْبِرْنِيْ عَنِ السَّاعَةِ] ما ته خبر راکړه په باره د قیامت کښې۔ چه دا به کله راځي۔

(پدې تپوسونو کښې مقصد اصل کښې په منافقانو باندې رد وو ځکه چه دویٔ به د نبی ﷺ نه د وعظ نصیحت په مینځ کښې د قیامت په باره کښې تپوس کولو، مسئله به یوه شروع وه دویٔ به مینځ کښې وویل : یارسول الله قیامت به کله راځي۔ بې مناسبته خبرې به ئې کولې۔ پدې سره به ئې یو خو رسول الله ﷺ ته ضرر ورکولو، او بل د نورو مهمو خبرو نه به ئې د خلکو ذهن اړه ولو۔

دا د منافقانو او کفارو طریقه ده چه بې وخته خبره او کار راپیدا کوی، مسلمانان په یو مهم کار او مهمه خبره کښې لګیا وی نو دویٔ یوه داسې شې راواچوی چه خلکو نه دغه مهمه خبرهٔ پاتې شی، پدې کښې منافقانو باندې رد داسې دې چه آینده کښې د قیامت د وخت په باره کښې تپوسونه مهٔ کویٔ)۔

رسول الله ﷺ وفرمایل : [مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ]

د قیامت په باره کښې زهٔ ستا نه ښهٔ نهٔ پوهیږم۔

(هر هغه څوك چه د هغهٔ نه تپوس وشي نو د هغهٔ علم زیات وی او د تپوس کونکی علم کم وی، نو د الله رسول وفرمایل چه د قیامت په باره کښې چه چا نه تپوس کیږی هغه پرې نهٔ پوهیږی نو تپوس کونکې به خامخا نهٔ پوهیږی یعنی ددې په باره کښې ما نه تپوس مهٔ کوه، دا علم صرف د الله تعالیٰ سره دې)۔

بیا هغهٔ وویل (هرکله چه د قیامت د وخت علم درسره نشته نو) :

[فَأَخۡبِرۡنِیۡ عَنۡ اَشۡرَاطِهَا]

ما ته د هغې علامات بیان کړه۔

(د قیامت علامات واړه او غټ دی، واړه واړه تقریباً اُوس ټول موجود شویدی او غټ علامات تقریباً لس دی، نو هغه واقع کیدل ډیر نزدے دی، د مهدی راښکاره کیدل، د عیسیٰ علیه السلام راتلل، دُخان راتلل، د دجال راتلل، د دابة الارض راوتل، یاجوج مأجوج راوتل، زلزلے دی، ددے نښے ډیرے نزدے شویدی، کیدے شی چه زمونږ پدے زمانه کښې یا ددے نه روستو راښکاره شی)

نو نبی ﷺ وفرمایل : [أَنۡ تَلِدَ الۡأَمَةُ رَبَّتَهَا]۔

چه وینځه به خپله مولاګئ (سیّده) وزیږه وی۔

(ددے حدیث ډیر مطلبونه دی، آسان مطلب ئے دا دے چه د مور نه به لور او د لور نه به مور جوړه شی، مور نه به لور خدمتونه اخلی، امر به ورته کوی لکه د وینځے په شان۔ او د وینځے دومره احترام نهٔ وی نو دوئ به هم د خپلے مور احترام او اکرام نهٔ کوی، خبره به ئے نهٔ منی۔ (یعنی عزتمن خلك به بے عزته شی او بے عزته به عزتمن شی)

(بل روایت کښې رَبَّهَا لفظ هم راغلے دے، یعنی ځوی به هم مورته د خدمت حکم کوی، او دا نښه د قیامت بیخی واقع شویده، ډیر خلك د مور او پلار په مرګ او د کور نه په ویستلو خوشحاله وی، ځکه چه د الله نه یره نشته)۔

دویمه نښه د قیامت دا ده :

[وَاَنۡ تَرَی الۡحُفَاةَ الۡعُرَاةَ الۡعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُوۡنَ فِی الۡبُنۡيَانِ]

تهٔ به داسے خلك وینے چه هغوی خپے ابیله، بربنډ، فقیران او د ګډو بزو څره ونکی وو (د دوئ سره به مال ډیر شی) نو دوئ به د یو بل نه اُوږد والے کوی په آبادیانو کښې۔ (لکه دا زمونږ په زمانه کښې ولیدلے شو، لکه عرب پنځوس شپیته کاله مخکښې ډیر زیات فقیران وو، دلته پاکستان ته به راتلل او مزدوری به ئے کوله، خو تیل پیدا شو نو ددے په وجه پرے الله فراخی راوسته، نو اُوس په دنیا کښې د هغوی په علاقو کښې د ټولے دنیا نه زیات اُوچت بلډنګونه دی، لکه د دبئ او د سعودی بلډنګونه وګوره، دلته زمونږ په علاقو کښې غریبان خلك هم څومره مالداره شو چه اُوس په فخر سره د یو

بل نه بلدنګونه جوړه وی، او آبادی ډیریدل د قیامت نښنه وی، دنیا چه کله پوره ښائسته شوه، چمنونه او تاونونه او سړکونه پوره برابر شو نو بیا به قیامت راځی۔

﴿ حَتّٰی اِذَا اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَا اَنَّهُمْ قَادِرُوْنَ عَلَيْهَا ﴾

(یونس : ٢٤)

(کله چه زمکه ډول ونیسی او ښائسته شی او دِدے وسیدونکی ګمان وکړی چه دوئ په دنیا باندے قادر دی نو دغه وخت به دے ته زمونږ فیصله راځی د شپے یا د ورځے۔

پدے آیت کښے ورته اشاره راغلے ده، نو دے خلکو ته به الله مال ورکړے وے نو دوئ به ئے په آبادیانو لګوی، کروړونه روپئ به پرے لګوی، د الله د حساب نه نهٔ یریږی)۔

او په بل روایت کښے دا دی :

[اِذَا رَأَيْتَ الصُّمَّ الْبُكْمَ مُلُوْكَ الْاَرْضِ]

کله چه تا ولیدل چه کانړه او چاړګانے د زمکے بادشاهان شو (چه د دین په هیڅ خبره نهٔ پوهیږی) نو پوهه شه چه قیامت رانزدے شویدے۔ (لکه دے زمانه کښے وګوره چه ډیرو خلکو ته د خپل تقریر نه مخکښے خطبه هم نهٔ ورځی او سورت فاتحه او سورت اخلاص چه پنځه وخته مانځه کښے لوستلے کیږی، هم نهٔ ورځی)۔

او په نورو احادیثو کښے راغلنی دی : چه کله امانت ضائع شی نو صحابه کرامو وفرمایل : امانت به څنګه ضائع کیږی؟ وے وفرمایل :

[اِذَا وُسِّدَ الْاَمْرُ اِلٰى غَيْرِ اَهْلِهٖ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ]

نا اهله خلك چه مشران شی نو بیا د قیامت انتظار کوه۔

(حکومت د نا اهله خلکو، وزارت د نا اهله خلکو، او مفتیان نا اهله شی، چه په هیڅ نهٔ پوهیږی، صرف یو کورس وکړی او د مفتی نوم پرے کیخودے شی او د مسئلے تپوس ترے کیږی نو د اُردو یوه فتاویٰ ئے پیدا کړی وی د هغے نه فتوے ورکوی، دا نا اهلی زمونږ په زمانه کښے بیحده ښکاره ده، او داسے مفتیان ډیر زیات دی، لیکن پوهه پکښے غالباً ډیر کم دی الا من رحم ربك۔ چه د الله په صحیح دین (کتاب او سنت) باندے پوهیږی، دا به په لس زرو (١٠٠٠٠) کښے چرته یو دانه وی)۔

بیا ئے وفرمایل : د قیامت علم په پنځو خبرو کښے داخل دے، چه هغه صرف الله تعالیٰ ته معلوم دی۔

﴿ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ، وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَّمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ﴾ [لقمان: ٣٤]

د الله سره د قیامت علم دے، د باران د نازلیدو علم، په رحم کښې څه دي؟ ددے علم، او یو نفس نۀ پوهیږي چه صبا به څه کوي او په کومه زمکه به مري، دا صرف الله ته معلومه ده۔ دا علم الله تعالیٰ نۀ مقرب ملائك ته او نۀ نبي مرسل ته ورکړیدے۔

دا تپوسونه وشول او صحابه کرام ټول ناست دي، نو پدے کښې دا سائل روان شو او د مسجد نه بهر ووتو۔ نو نبي ﷺ وفرمایل: [رُدُّوْهُ] چه ورشئ دا سړے راواپس کړئ (حکمت ئے دا وو چه دوئ ته ئے ورخودلو چه دوئ ئے وپیژني)

صحابه وائي چه مونږ بهر ووتو نو هغه ورك شوے وو۔

نبي ﷺ وفرمایل: [فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ]

دا جبریل علیه السلام وو دے دپاره راغلے وو چه تاسو ته ستاسو دین وښائي۔

عام صحابه کرامو چه پدے مجلس کښې ناست وو، جبریل علیه السلام ئے ولیدو، ددے نه د صحابه کرامو کرامت معلومیږي چه ملائك ئے لیدلي دي، جبریل علیه السلام ئے ولیدو خو د انسان په شکل کښې، دا تپوسونه جبریل علیه السلام د ملګرو د پوهه کولو دپاره کول، نۀ د ځان دپاره۔

[بخاری: ٥٠ و ٤٧٧٧ ومسلم: ١٠٢]

په نهم کال د غزا د تبوك نه بعد دا واقعه راغلے وه۔ دے ته حدیث جبریل هم وائي۔

اُوس د رسول الله ﷺ یو څو سرایا ذکر کیږي چه دا ئے مختلفو علاقو طرفته لیږلے وے۔

(۱) سریه د عیینه بن حصن فزاری رضی الله عنه بنو تمیمو ته :
(سنه ۹ هـ محرم)

رسول الله ﷺ د محرم په میاشت کښې په نهم (۹) هجري کښې عُیینه بن حصن فزاری رضی الله عنه له پنځوس (۵۰) شاهسواران ورکړل او بنو تمیمو ته ئې ولیږلو چه دوئ د سقیا او د تمیمو د زمکې ترمینځ وسیدل.
پدې لښکر کښې نهٔ کوم مُهاجر وو او نهٔ انصاري. دوئ به د شپې مزل کولو او د ورځې به پټیدل. هرکله چه هغه خلکو دا لښکر ولیدو نو وتښتیدل، د هغوی نه یولس (۱۱) کسان سړي ونیولی شو، دوئ ته په یوه محله کښې یولس (۱۱) ښځې او دیرش (۳۰) ماشومان نور ملاؤ شو، هغه ئې ځان سره مدینې ته راروان کړل، دلته چه راورسیدل د رسول الله ﷺ په امر سره قیدیان ئې د رمله بنت الحارث په کور کښې وساتل.
هرکله چه بنو تمیم خبر شو د خپلو قیدیانو د خلاصولو دپاره د دوئ ډیر مشران عطارد بن حاجب، زبرقان بن بدر، قیس بن عاصم، اقرع بن حابس، قیس بن حارث، نُعیم بن سعد، عمرو بن اهتم او رباح بن حارث بن مجاشع وغیره راغلل.
کله چه قیدیانو خپل سرداران ولیدل نو زنانه او ماشومان په ژړا شول، نو هغوی جلتئ وکړه او د نبي کریم ﷺ په دروازه باندې ئې اُوچت آوازونه وکړل نو پدې باره کښې دا آیت نازل شو ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ﴾
(الحجرات : ٤]۔
(کوم خلك چه تا ته د حجرو نه بهر نه آوازونه کوي د دوئ نه اکثر بې عقله دي.
رسول الله ﷺ دوئ ته د دوئ قیدیان واپس کړل. (طبقات ابن سعد ۲/ ۱۶۰)
لکه ددې وفد تذکره به روستو په باب د وفودو کښې راشي. ان شاء الله تعالیٰ.
سقیا : کله چه تبع حِمیري یمن والا د مدینې والو د قتال نه فارغ شو او مکې ته راتللو نو په سقیا علاقه کښې ئې پړاؤ واچولو، نو دلته سخت تګې شو نو دلته باران وشو نو

هغه ددې ځائې نوم سقیا کیخودو (یعنی د خړوبیدو ځائې) خوارزمی وائی : دا سمندر ته نژدې د یوې شپې او ورځې په فاصله باندې لویه علاقه ده۔ (معجم البلدان)

عُیَیْنه بن حِصن فزاری : ددهٔ کنیه ابومالك وه، د مکې د فتح نه مخکښې یا روستو مسلمان شوې او په غزا د حنین او په غزا د طائف کښې د اسلام په حالت کښې شریك شو، عُیَینه هم د هغه کسانو نه وو چه د تالیف قلب دپاره دهٔ ته په حنین کښې سل اُوښان ورکړې شول۔ د نبی ﷺ د وفات نه روستو مرتد شو او د طُلیحه اسدی سره ملګرې شو، بیا قیدی شو او د ابوبکر صدیق ؓ په خدمت کښې پیش کړې شو، نو هغهٔ بیا اسلام قبول کړو نو ابوبکر صدیق ؓ هغه پرېښودو، لکه تفصیل به ئې په سیرت د ابوبکر صدیق ؓ کښې راشی ان شاء الله۔ (اسد الغابة ٣١٨/٤)



(۲) سریه د قُطبه بن عامر ﷺ تباله ته :

(صفر ۹ هجری)

"تباله" یوه علاقه ده چه پدې کښې بنو خثعم وسیدل. دا ځائے په "بیشه" علاقه کښې د "تُربه" په خوا کښې واقع دے. تباله د مکے نه (۲۰۰) کیلو میټره د طائف جنوب مشرقي طرفته جدا علاقه ده، صوبه عسیر طرفته.

رسول الله ﷺ د صفر په میاشت کښې په نهم هجری قطبه بن عامر ﷺ ته (۲۰) کسان سرې ورکړل او د خثعم قبیلے ته ئے ولیږل چه دوئ په تباله نومے علاقه کښې وسیدل. دوئ ته رسول الله ﷺ حکم وکړو چه په هغوی باندے اچانك حمله وکړئ. دا کسان نمبر په نمبر په لسو (۱۰) اُوښانو باندے سفر کولو تردے چه د هغوی علاقے ته ورسیدل. هلته دوئ یو سړے ونیولو، د هغهٔ نه ئے تپوس وکړو چه ستاسو خلك چرته دی؟ نو هغهٔ په چغو چغو سره خلك خبرول شروع کړل، نو دوئ هغهٔ لره قتل کړو. بیا په قوم باندے د شپے دوئ سخته حمله وکړه نو سخت جنګ وشو، د دواړو طرفونو نه ډیر کسان زخمیان شو، قطبه بن عامر ﷺ څه کسان قتل کړل او د هغوی نه ئے اُوښان او ګډے بزے او زنانه ونیولے او سیده مدینے ته راورسیدل.

د هر مجاهد څلور (٤) اوښان یا د هغې برابر د هر اُوښ په بدله کښې لس ګډے بزے.

(طبقات ابن سعد)

قطبه بن مالک ﷺ : دا انصاری، خزرجی وو، ددهٔ کنیه ابوزید وه، عقبه اولیٰ او ثانیه کښې د حاضریدو نه علاوه ټولو غزواتو کښې شریك شوے، د اُحد په غزا کښې نهه ځائے زخمی شوے وو، د فتح د مکے په غزا کښې د بنو سلمه ؤ جنډه ددهٔ په لاس کښې وه، دے د عثمان ﷺ په خلافت کښې وفات شوے. (اسد الغابة ٣٨٧/٤)

خَثْعَم : دا قبیله خثعم بن انمار چه زید بن کهلان بن سبا سره ملاویږی، ددے خلکو علاقے په جبال سراۃ کښې وے. د یمن نه چه راځے نو په بیشه (عسیر) تربه (د طائف نه (۱۲۵) کیلو میټره مشرق طرفته) او په تباله کښې آباد شوی وو.

د سریۀ قطبه ﷺ نه روستو بنو خثعم اسلام راوړو۔ د دوئ مَعُبَد (عبادت خانه) ذو الخلصه (بت) وو چه هغې ته به ئې کعبه یمانیه وئیله۔ په هغې کښې د خلصه په نوم یو بت پروت وو چه هغه جریر بن عبد الله ﷺ ونړولو لکه چه مخکښې د هغې ماتیدل ذکر شو۔

بنو خثعم په (۱۱ هجری) کښې مرتد شول، دوئ د ازد او بجیله قبیلو سره ملاؤ شو او په شنوءه کښې ئې یو لښکر جمع کړو مګر کله چه جنګ وشو نو بنو خثعم شکست وخوړو او دوباره په اسلام مشرف شو۔ (معجم قبائل العرب جلد ۱)



(۲) سریه د ضحاک بن سفیان کِلابی ﷺ بنو کِلَاب ته
(سنه ۹ هـ ربیع الاول)

رسول الله ﷺ په ربیع الاول ۹ هجری کښې ضحاك بن سفیان کلابی ﷺ د بنو کلابو یو شاخ قُرَطاء طرف ته ولیږلو۔

د دوئ سره اَصُیَد بن سلمه بن قرط ﷺ هم وو۔ کله چه دوئ "زُج" نومے یو ځائے ته ورسیدل چه دا په نجد کښې دے، نو د دشمن سره ملاؤ شو، هغوئ ته ئے د اسلام دعوت ورکړو نو هغوی انکار وکړو، نو جنګ شروع شو، نو دوئ دشمن ته شکست ورکړو۔ پدے کښې اَصُیَد خپل پلار ته د اسلام دعوت ورکړو او هغهٔ ته ئے امان ورکړو۔

نو هغهٔ اصید او د هغهٔ دین ته کنځلے وکړے، نو اصید ورمنده کړه او د خپل پلار د اس روستونئ خپے ئے ووهلے نو اس راپریوتو او ددهٔ پلار نیزه راواخسته او نیغ ودریدو نو پدے کښې یو مجاهد رامنده کړه او د اس پلار ئے قتل کړو، او د هغهٔ خپل ځوی قتل نکړو۔

ضحاك بن سفیان ﷺ : ددهٔ کنیه ابو سعید ده، د مدینے په اطرافو کښې وسیدو، دا یو د پهلوانانو نه وو، او د رسول الله ﷺ په سر باندے به توره په لاس ولاړ وو او دے یوائے د سلو (۱۰۰) شاهسوارانو سره برابر ګڼلے کیدو۔

رسول الله ﷺ دے د خپل تول قوم عامل مقرر کړے وو۔ او کله چه رسول الله ﷺ د مکے فتح دپاره روانیدو نو دے ئے په بنو سلیم باندے امیر مقرر کړو۔ (اسد الغابة ۳/۴۸)

بنو کلاب : دا عدنانی قبیله ده، د کلاب بن ربیعه بن عامر بن صعصعه بن معاویه بن بکر بن هوازن اولاد دے، دا د بنو هوازن یو شاخ دے، د دوئ آبادیانے په ضریه، ریذه، فدك او عوالی کښې دی۔ بیا دوئ شام ته نقل مکانی کړے وه، قرطاء یا بنو قرط، د بنو کلابو یو شاخ دے۔ (معجم قبائل العرب جلد۳)

(٤) سریه د عقلمه بن مجزز مُدْلَجی ﷺ جدې طرفته :

(سنه ۹ هـ ربیع الآخر)

رسول الله ﷺ ته اطلاع وشوه چه د حبشو نه څه فوجیان په نقل او حرکت کښې مصروف دی چه جدې والا هغوی لره په خپلو سترګو لیدلی دی چه په کشتو کښې سوارهٔ وو، نو رسول الله ﷺ درې سوه (۳۰۰) صحابه کرام د علقمه بن مُجَزِّز ﷺ په مشرئ کښې د دوئ د مقابلې دپاره ورلیږل۔ کله چه دا علقمه ﷺ په سمندر (بحیرهٔ قلزم) کښې دننه په یوه جزیره کښې دوئ طرف ته ورغلو نو هغوی خبر آوریدو سره سمدست د هغه ځائے نه وتښتیدل، بیا علقمه ﷺ راواپس شو او هیڅ جنګ ونشو۔ (ابن سعد ۲/۱۶۳)

واقدیؒ وائی : دا سریه د حبشو خلکو سره د شعیبه په ساحل باندې راپیښه شوې وه، شُعیبه د شُعبه تصغیر دې، چه دا یوه کنده (نهر) دې چه ددې بره طرف ته بنوکلاب وسیږی او دا نهر سند قناة ته غورزیږی، شعیبه (د جدې په جنوب کښې) یوه بندرګاه هم ده چه د بحر حجاز (بحیرهٔ قلزم) په ساحل (غاړه) باندې واقع ده۔ د جدې نه مخکښې د مکې همدا بندرګاه وه۔ او وئیلې شویدی چه دا د سمندر په غاړه د یمن په لاره کښې یو کلے دې۔ (الاصابه۔ ابن حجر عسقلانی جلد ٤)

جده : د عام روایت مطابق آدم علیه السلام د جنت نه د هند سره پوسته جزیره سر اندیپ (سری لنکا) باندې او حواء رضی الله عها د جدې په زمکه باندې راکوز شوی وو، او بیا دواړه په میدان د عرفات کښې یو بل سره ملاؤ شو۔

جده د بحر احمر (قلزم) په مشرقی ساحل (غاړه) باندې د مکې نه (۷۰) کیلومیټره مغرب کښې واقع ده، نهٔ صرف د حجاز دروازه ده بلکه د پخوا زمانې نه د حج دروازه راروانه ده۔

د سیدنا عثمان ﷺ په زمانه کښې د جدې بنیاد ایخودې شویدې۔ د جدې معنیٰ ده "فراخه اوږده لاره"۔ په معجم البلدان کښې دی چه دا جده بن حزم بن ریان قضاعی په

نوم باندے یادیږی چه هغه دلته پیدا شوے وو۔ دا د سعودی عرب د تهولو نه لوی ښار او مشهوره بندرګاه ده او ددے آبادی پنځلس شپاړس (۱۶) لاکهه ده۔

(۵) سریه د علی ﷺ بت د بنو طیء ته:

(سنه ۹ هـ ربیع الآخر) (واقدی)

په نهم کال باندے بله واقعه دا راغله چه طیٔ قبیلے ته د جهاد دپاره یوه سریه ولیږل شوه۔ نبی ﷺ علی بن ابی طالب ﷺ طیٔ قبیلے ته ولیږلو، (طیء د عربو یوه قبیله ده چه حاتم طائی د هغه قبیلے نه دے) دهٔ ته ئے یو نیم سل (۱۵۰) کسان ورکړل چه په هغے کښے سل (۱۰۰) اُوښان او پنځوس (۵۰) اسونه وو،

(پدے وخت کښے مالداری راغلے ده مخکښے جنګونو کښے دومره اسونه نهٔ وو)

د دویٔ سره غټه جنډه توره وه او وړه جنډه سپینه وه۔ او نبی ﷺ دویٔ ته وویل چه په طیء کښے یو بت دے هغه مات کړیٔ چه د هغهٔ نوم اَلْفُلس دے،

(نبی ﷺ سره ددے خبرے غم وو چه په مخ د زمکه بت پرستی ختمه شی) د هغهٔ عبادت به کیدو او د انسان شکل ئے ورله ورکړے وو، دپاسه ئے پرے درے تورے ایخودے وے چه د هغے نومونه مِخْزَم، رُسُوُم او یَمَانی وو۔ دا تورے حارث بن ابی شمر دے بت دپاره نذر کړے وے۔

(دا ئے ددے دپاره ایخوستے وے چه دا وهمی عقیده ئے جوړه کړے وه چه څوک په بده اراده راځی نو دے به دا تورے راخلی او هغه سرے به پرے وهی۔ (د مشرکانو عقیده تهوله وَهُم او تا ویلی ما ویلی دی)

علی ﷺ لاړو په دغه علاقه د حاتم طائی باندے ئے د صبا د راختلو سره حمله وکړه، نو مشرکان وتښتیدل او د هغوی زنانه او ماشومان ئے قید کړل او اُوښان او ګډے بزے ئے ونیولے، او بت ئے مات کړو او د هغے په خزانه کښے ئے درے تورے او درے زغرے وموندے۔ او پدے قیدیانو کښے د عدی بن حاتم خور ونیولے شوه او عدی خپله شام ته وتښتیدو، (دا دواړه د حاتم طائی اولاد دے، حاتم طائی په عربو کښے یو مشهور سخی سړے تیر شویدے چه د هغهٔ په سخا باندے به عربو متلونه وئیل چه فلانے داسے سخی

دے لکه د حاتم طائی په شان، د الله نبی به فرمایل : چه ددهٔ پدے کار کښے د الله رضا نهٔ وه بلکه [اَرَادَ اَمْرًا فَاَصَابَهٗ] يوه خبره ئے غرض وه او هغے ته ورسيدو، هغه نوم او شهرت وو۔ کور کښے به ئے يوه اُوښه وه چه ميلمه به راغلو نو زر به ئے حلاله کړه او هغهٔ بانديے به ئے وخوړله، د کور د خرچے هيڅ پرواه به ئے نهٔ کوله، کور کښے به ئے چه هر څه وو،نو مسافرو او مسکينانو ته به ئے ورکول، ډير احسانات به ئے کول۔ ارمان چه دا کارونه ئے د الله دپاره کولے نو ډير اُوچت عبادات دی)

او عدی بن حاتم پدے زمانه کښے نصرانی شوے وو، او طیء قبيله هم تقريباً نصاریٰ شوی وو، دهٔ به د خپل قوم نه څلورمه حصه مال اخستو چه هغے ته مِرباع وائی۔ گويا که په قوم ئے دا ټيکس لگولے وو۔ او دا خپله هم ډير مالداره وو۔ شام کښے نصاریٰ وو نو خپل دين والو خوا ته لاړو، خور ئے پريخوده او ښځه ئے ځان سره وتختوله۔

د خور نوم ئے سفانه بنت حاتم وه۔

ابوقتاده ﷺ ئے په زنانه او ماشومانو مشر کړو چه تهٔ د دوئ حفاظت کوه، او په چارپيانو او سرهٔ او سپين باندے ئے عبد الله بن عتيك ﷺ مشر وگرزولو۔

جنگ چه ختم شو نو دوئ مدينے ته دا هرڅه راوستل او رسول الله ﷺ ته ئے خمس (پنځمه برخه) د غنيمت ورکړه او د رسول الله ﷺ چه کوم زياتی حق په هغے کښے کيدو (الصفی) نو هغهٔ ئے هم ورکړو يعنی درے تورے، او باقی غنيمتونه ئے د مجاهدينو ترمينځ تقسيم کړل۔

او د حاتم اولاد ئے د تقسيم نه بغير مدينے ته راوستل،

بيا رسول الله ﷺ دغه تورے علی بن ابی طالب ﷺ ته تحفه کښے ورکړے۔

نو پدے قيديانو کښے د حاتم طائی لور وه چه دا ډيره وقار والا او هوښياره عقلمنده ښځه وه۔ دے وويل :

[مَاتَ الْوَالِدُ وَغَابَ الْوَافِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ كَبِيْرَةٌ، مَا بِیْ مِنْ خِدْمَةٍ، فَمُنَّ عَلَیَّ، مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكَ]

زما پلار وفات شويدے او ماله چه څوك خرچه راکوی نو هغه هم تښتيدلے۔ (يعنی ورور عدی بن حاتم) او زهٔ بوډئ زنانه يم، زما د خدمت څوك نشته نو په ما باندے احسان وکړه او همداسے مے پريده الله دِ يے تا سره احسان وکړی۔

نو نبی ﷺ ورته وويل چه ستا وافد (خرچه درکونکے) څوك دے ؟ هغے وويل :

عدی بن حاتم۔ نو نبی ﷺ وفرمایل : [اَلَّذِیْ فَرَّ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؟] هغه سړے چه د الله او د رسول نه تښتیدلے دے؟ هغے وویل : آؤ، بیا رسول الله ﷺ ددے نه لاړو، دے ورته صبا له هم دغسے خبره وکړه او دارنګه بل صبا هم او نبی ﷺ به هم ورته دغه خبره کوله۔

(نو نبی ﷺ ډیر لوی سخی وو چه د حاتم طائی نه هم په زرګونو چندونو زیات وو) نو هغه ئے د الله دپاره پریخوده۔

دلته علی بن ابی طالب ؓ ولاړ وو نو هغے ته ئے اشاره وکړه چه ددے نبی نه څه سورلئ هم وغواړه نو هغے وویل : یارسول الله ! ما له سورلئ راکړه۔

نو رسول الله ﷺ حکم وکړو چه سورلئ هم ورکړئ۔

او هدیه تحفه ئے هم ورکړه، او دا ئے ورته وویل چه ستا خوښه ده مونږ سره پاتے کیږے او که واپس خپلے علاقے ته ځے؟ هغے وویل : زۀ د خپل ورور خوا ته ځم او هغۀ ته به د اسلام دعوت هم ورکړم۔ نو پدے کښے هغه شام ته لاړه او د خپل ورور عدی سره ملاؤ شوه او دا ئے ورته وویل چه تا څو مره بد کار وکړو چه خپله ښځه دے راوتښتوله او زۀ دے پریخودم، بیا ئے وویل :

زۀ د محمد رسول الله ﷺ سره ملاؤ شوم چه ډیرو اُوچتو اخلاقو والا دے، او ستا د پلار (حاتم) نه هم زیات سخی دے،

[لَقَدْ فَعَلَ فِعْلَةً مَا كَانَ اَبُوْكَ يَفْعَلُهَا]

ما سره ئے داسے احسان وکړو چه ستا پلار به هم دغسے نۀ کول۔ نو ښه درله دا ده چه تۀ سیده لاړ شه او په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړه، نو د عدی ؓ زړۀ کښے هم دے طرفته میلان پیدا شو، او د هغه ځائے نه رارواں شو او سیده مدینے ته راغے۔

حدیث کښے راغلی دی چه پدے وخت کښے رسول الله ﷺ د سورت توبه دا آیتونه لوستل :

﴿ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ﴾

[التوبة ۳۱]

د یهودو او نصاراؤ مرض دا دے چه دوئ خپل علماء او پیران معبودان او حاکمان او حلالونکی حرامونکی جوړ کړیدی سوئ د الله نه۔

ارباب دي ته وائي چه هغوئ د خپل ځان نه بعض څيزونه حلالوي او بعض حراموي۔ نو د آيت مطلب دا دے چه تاسو د دوئ سره قتال وکړئ ځکه چه د دوئ ډيرے بدے عقيدے دي، يو دا چه عيسىٰ او عزير عليهما السلام ته د الله ځامن وائي۔ ستاسو د الله بے ادبي كوي، او دويم د مليانو او پيرانو نه ئے آلهه جوړ كړيدي۔

او دا مرض زمونږ په امت كښے هم شته، يو امام او مجتهد داسے ګنړل چه بس دين دۀ پوره كړيدے او ددے نه مخكښے دين ناقص وو، او دا فلانے شے ئے حلال كړو، ميښته قرآن او حديث كښے نۀ وه نو زمونږ امام صاحب دا روا كړه۔ دا لويه د ګمراهئ خبره ده۔ آيا يو عالم حلالول او حرامول كولے شي، دا صفت خو د الله دے، د ډيرو خلكو پدے خبرو باندے ذهن نۀ كولاوېږي بلكه دا خبرے ورته د ضد ښكاره كيږي، پدے سره په ضد كښے راځي او ځان تباه كوي)

نو عدي ﷺ ووېل : يارسول الله نصاراؤ خو خپلو مشرانو ته ارباب (آلهه) نۀ دي وئيلي، د هغوي عبادت ئے نۀ دے كړے، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

[اَجَلْ، وَلٰكِنْ يُحِلُّوْنَ لَهُمْ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فَيَسْتَحِلُّوْنَهٗ وَيُحَرِّمُوْنَ عَلَيْهِمْ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ فَيُحَرِّمُوْنَهٗ فَتِلْكَ عِبَادَتُهُمْ]

[الترمذی : ۳۰۹۵ والسنن الكبرى للبيهقى ۲۰۸٤۷]

آؤ، ليكن مشرانو به دوئ ته هغه شے حلالولو چه الله به حرام كړے وو نو دوئ به حلال ګنړلو او په دوئ باندے به ئے هغه شے حرامولو چه الله به حلال كړے وو نو دوئ به حرام ګنړلو نو دغه د دوئ عبادت دے۔

(يعني د هغوئ خبره به مو بے دليله منله ؟ نو دغه د هغوي عبادت دے) نو د ځان نه جوړه كړے شوے خبرے ته دين وئيلو كښے ډير لوي ضرر دے۔ او دا هغه باطل تقليد دے چه ډير خلك دے خبرے ته متوجه نۀ دي۔

عدي ﷺ وائي كله چه زۀ رسول الله ته راغلم نو دغه وخت كښے زما په څټ كښے د سرو زرو صليب وو۔ نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل :

[يَا عَدِيُّ ! اِطْرَحْ عَنْكَ هٰذَا الْوَثَنَ]

اے عدي ! د ځان نه دا بت لرے كړه۔ (ځكه چه د صليب تعظيم كول او د هغے عبادت كول بت پرستي ده) [الترمذی : ۳۰۹۵] واسناده حسن)

بیا ورته رسول الله وفرمایل :

[مَا يَفِرُّكَ ؟ اَيَفِرُّكَ اَنْ تَقُوْلَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ ؟ فَهَلْ تَعْلَمُ مِنْ اِلٰـهٍ سِوَى اللّٰهِ ؟]

تـا كومه خبره د دين اسلام نه تښتوې؟ آيا تا دا خبره تښتوي چه ته دا اقرار وكړے چه د الله نـه سوئ بـل حـقـدار د بـنـدگـئ نشتـه نـو آيا ته معلومه ده چه د الله نه سوئ بل معبود شته ؟ عدي ﷺ وويل : نه، بيا ئے وفرمايل :

[اِنَّمَا تَفِرُّ اَنْ يُّقَالَ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، فَهَلْ تَعْلَمُ شَيْئًا اَكْبَرَ مِنَ اللّٰهِ ؟]

آيا تـهٔ ددے خبرے نـه تښتے چه د الله لوی ووئيلے شي، نو آيا تهٔ د الله نه سوئ بل شے لوی گڼړے؟ عدي ﷺ وويل : نه،

عدي ﷺ وائی : پدے باندے ما كلمه د توحيد ووئيله او مسلمان شوم۔

بيائے ورته وفرمايل : [فَاِنَّ الْيَهُوْدَ مَغْضُوْبٌ عَلَيْهِمْ وَاِنَّ النَّصَارٰى ضَالُّوْنَ]

دا خبره وپيـژنـه چه يهوديان هغه خلك دي چه الله پرے غضب نازل كړے او نصارئ گـمراهان دي۔ (چه خپل رب ئے نهٔ دے پيژندلے او عيسیٰ عليه السّلام او د هغهٔ مور ته رب وائي ،) نو عدي ﷺ وويل : چه زهٔ خو حنيف مسلم۔ (يعني موحد مسلمان) يم،

نـو د رسـول الله ﷺ مـخ مبارك د خـوشـحالئ نه وزليدو۔ او ددهٔ په باره كښے ئے امر وكړو چه دے يـو تن خپل كور ته بوځي نو د يو انصاري سره ديره شو او دے به د رسول الله ﷺ خوا ته د ورځے سهار او مازيگر راتللو۔

عـلامه سهيلیؒ ليكي : عدي ﷺ فـرمائي : زهٔ رسول الله ﷺ ته مدينے ته راغلم نو هـغـهٔ تـه مـسـجد نبوی ته ورغلم نو ما پرے سلام واچولو نو وے فرمايل : څوك ئے ؟ ما وويـل : عـدي بـن حـاتـم يـم۔ نـو رسول الله ﷺ راپاځيدو او زهٔ ئے خپل ځان سره كورته بـوتـلـم، نـو زهٔ د هـغـهٔ سره بهر وتم چه په لاره كښے ورسره ناڅاپي يوه ډيره بوډئ زنانه مـلاؤ شـوه نـو نبي ﷺ ئے ودره ولـو، نبي ﷺ هغے دپاره ډير اُوږد ولاړ وو او د هغے د ضرورت خبرے ئے ورسره وكړے نو ما په زړهٔ كښے وويل چه

[وَاللّٰهِ مَا هٰذَا بِمَلِكٍ]

قسم پـه الله دا خـو بـادشـاه نـهٔ دے۔ بيا رسول الله ﷺ روان كړم تردے چه كله كور ته ننوتو نويو بالخت ئے راواخستو چه هغه د كجورو د پوستكو نه ډك شوے وو نو ما ته

ئې راوغورزولو او راته ئې وویل : چه پدې باندې کینه، ما وویل : بلکه تهٔ پرې کینه اې د الله رسوله ! نو هغهٔ وویل، نه، بلکه تهٔ کینه نو زهٔ په بالخت کیناستم او رسول الله ﷺ په زمکه کیناستو (ددهٔ قدرئې کولو ځکه چه دا د سخي ځوی او خپله يو شريف او د قوم مشر دې، دې ته نبوي اخلاق وائي) نو ما په زړهٔ کښې وويل :

[وَاللّٰهِ مَا هٰذَا بِاَمْرِ مَلِكٍ]

قسم په الله دا کار خو بادشاهان نهٔ کوي۔

[الروض الانف ٤/٣٦٠ لعبد الرحمن السهيلي المتوفى ٥٨١هـ]

په روایت د ابن اسحاق کښې دي : نبي ﷺ چه هرکله په خپل کور کښې دې خپلې مخې ته کینولو نو دهٔ ته ئې د هغهٔ د دين بعض خبرې بيان کړې د معجزې په طور چه متأثره شي او ايمان ئې مضبوط شي، نو ورته ئې وفرمايل :

[اَلَمْ تَكُنْ رَكُوسِيًّا ؟]

آيا تهٔ ركوسي نهٔ وې؟ (دا د نصاراؤ او د صابئينو دواړو دينونو نه جوړ دين دې)

ما وويل : ولې نهٔ، بيا ئې وفرمايل :

[اَوَلَمْ تَكُنْ تَسِيْرُ فِيْ قَوْمِكَ بِالْمِرْبَاعِ ؟]

آيا تا به د خپل قوم نه څلورمه حصه مال نهٔ اخستو ؟ ما وويل : صحيح ده،

نو وې فرمايل : [فَاِنَّ ذٰلِكَ لَمْ يَحِلَّ لَكَ فِيْ دِيْنِكَ]

دا ستا دپاره ستا په دين کښې حلاله نهٔ وه (په نصرانيت کښې دا جائز نهٔ وو چه د عوامو نه په زوره ټيکسونه اخله) ما وويل همداسې ده۔ نو زهٔ پوهه شوم چه دا شخص نبي مُرسل دې، د پټو خبرو علم هم الله ورکړې۔ او زهٔ ددې خبرو په وجه متأثر شوم۔

بخاري د عدي ﷺ نه روايت کړې : زهٔ د نبي ﷺ سره په مجلس کښې ناست وم پدې کښې ورته يو سړې راغې او د فقر او فاقې شکايت ئې وکړو، بيا بل راغې نو هغهٔ ورته د لارې شوکولو شکايت وکړو نو نبي ﷺ ما ته متوجه شو او وې فرمايل :

[يَا عَدِيُّ، هَلْ رَاَيْتَ الْحِيْرَةَ ؟ فَاِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ فَلَتَرَيَنَّ الظَّعِيْنَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيْرَةِ حَتّٰى تَطُوْفَ بِالْكَعْبَةِ، لَا تَخَافُ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ]

اې عدي ! آيا تا حيره علاقه ليدلې ده ؟ که ستا زندګي اُوږده شوه نو خامخا تهٔ به يوه

زنانه وینئ چه په کجاوه کښې به سوره وي او د حیرې علاقې نه به یواځې کعبې ته سفر کوي او د هغې نه به طواف کوي او د الله نه سوئ د هیچا نه به نهٔ یریږي.

عدي ﷺ وائي : ما زړهٔ کښې وویل : [فَأَيْنَ لُصُوصُ طَيٍّ ؟]

د طئ قبیلې غلهٔ به چرته وي. (یعني دا خو ډیره ګرانه خبره ده چه دا غلهٔ ختم شي او امن او امان زمانه راشي).

بیا ئې وفرمایل : [وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتُفْتَحَنَّ كُنُوزُ كِسْرٰى بْنِ هُرْمُزَ]

که ستا زندګي اُوږده شوه خامخا د کسرئ بادشاه خزانې به فتح شي.

[وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الرَّجُلَ يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهٖ مِنْ ذَهَبٍ اَوْ فِضَّةٍ، وَيَطْلُبُ مَنْ يَّقْبَلُهٗ فَلَا يَجِدُ اَحَدًا يَّقْبَلُهٗ مِنْهُ] الحدیث.

او که ستا زندګي اُوږده شي نو تهٔ به وینې چه یو سړے به د سرو زرو یا سپینو زرو ډك لاس صدقه راوباسي او یو تن به ګوري چه دا ترے قبوله کړي لیکن هیڅوك به قبلونکے مونده نکړي.

د حدیث په آخر کښې دي : عدي ﷺ وائي : ما هغه مسافره زنانه ولیده چه د حیرے نه لاړه او طواف ئې یواځې وکړو او صرف د الله نه یریدله.

او زهٔ د هغه چا سره ملګرے وم چه هغوی د کسرئ بادشاه خزانې فتح کړے.

او شاګردانو ته ئې وویل :

[وَلَئِنْ طَالَتْ بِكُمْ حَيَاةٌ لَتَرَوُنَّ مَا قَالَ اَبُو الْقَاسِمِ ﷺ (يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهٖ)]

او که ستاسو ژوند اُوږد شو نو تاسو به د نبي ﷺ دا خبره وینئ چه یو تن به د صدقې قبلونکے نهٔ مونده کوي.

د ابن اسحاقؒ په روایت کښې دي : ما ته نبي ﷺ وفرمایل : اے عدي ! کیدے شي چه تهٔ به پدے دین کښې پدے وجه نهٔ داخلیږے چه تهٔ زما ددے ملګرو فقر او حاجتونه وینې، (لکه عام خلك ظاهر بین وي) قسم په الله نزدے زمانه راروانه ده چه مالونه به پکښې وبهیږي تردے چه اخستونکے به ئې نهٔ مونده کیږي،

او کیدے شي چه تهٔ پدے دین کښې پدے وجه نهٔ داخلیږے چه د مسلمانانو دشمنان زیات دي او د دوئ شمار کم دے، (لکه عام خلك ډیر والے د حقانیت نښه ګڼړي او حال دا

چه خبره اُتیه ده)
قسم په الله قریبه ده چه ته به خبر شې چه یوه زنانه د قادسیه نه په خپل اُوښ باندې راوتې ده او د بیت الله ملاقات ئې کړې او د هیچا نه نهٔ یریده۔ (قادسیه د کوفې نه په دوه مرحلو وړاندې علاقه ده) (السيرة الحلبية)
[وَلَعَلَّكَ اِنَّمَا يَمْنَعُكَ مِنْ دُخُوْلٍ فِيْهِ اَنَّكَ تَرٰى اَنَّ الْمُلْكَ وَالسُّلْطَانَ فِيْ غَيْرِهِمْ]
او کیدې شي چه ته پدې دین کښې پدې وجه نهٔ داخلیږې چه ته دا وینې چه بادشاهي او سلطنت د بل چا په لاسونو کښې دې،
[وَاَيْمُ اللّٰهِ لَيُوْشِكَنَّ اَنْ تَسْمَعَ بِالْقُصُوْرِ الْبِيْضِ مِنْ اَرْضِ بَابِلَ قَدْ فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ]۔
قسم په الله قریبه ده چه ته به خبر شې چه د بابل (عراق) د زمکې سپینې ماڼۍ (بنګلې) مسلمانانو فتح کړیدی۔
عدي وائي : ما چه دا خبرې واریدې نو زهٔ مسلمان شوم۔
بیا به عدي ﷺ وئیل : دوه کارونه خو ما ولیدل او دریم چه مالونه بهیدل دی هغه مې لا ندی لیدلی۔
ابن کثیرؒ وائي : [هٰكَذَا رَوَاهُ ابْنُ اِسْحَاقَ بِغَيْرِ اِسْنَادٍ وَلَهٗ شَوَاهِدُ مِنْ وُجُوْهٍ اُخَرَ، السيرة النبوية لابن كثير ٤/١٢٧]
بیا عدي بن حاتم ﷺ داسې صحابي وو چه د ښکارونو سره به ئې محبت وو، ددې وجه نه دهٔ په دې باره کښې د رسول الله ﷺ نه د حلال او حرام ښکار ډیر تپوسونه کړیدی۔
چه مثلًا زهٔ په غشي باندې ښکار ولم نو ما دپاره کوم حلال دې او کوم حرام؟ او چه سپې ښکار پسې ورخوشې کړم او هغه ئې ونیسي نو کوم حلال او کوم حرام دې؟
نو د الله نبي ورته وفرمایل : غشې که په تیرهٔ طرف باندې ولګیدو او تا پرې بسم الله ووئیله نو اګرکه هغه حیوان مړ شوې وي نو ستا دپاره ئې خوړل جائز دي، او که غشې په پلنو باندې ولګیدو نو بیا دغه حیوان وَقِیذ (تکولې شوې) دې، بیا ئې مهٔ خوره۔ ځکه چه دا په زور سره مړ شویدې، او وینه ترې نهٔ ده وتې۔
دارنګه سپې چه ولیږې نو یو بسم الله ووایه، دویم تا به لیږلې وي، پردې سپې به نهٔ وي، او دغه سپې به تعلیم یافته وي، او د هغې نښه به دا وي چه ښکار به خپله نهٔ

خوری بلکه تا له به ئے ساتی، که هغه په چکونو او پنجو سره وژلے هم وی ستا دپاره جائز دے، پدے شرط چه ځانله به ئے ترے خوراك نهٔ وی کړے ځکه چه دا ئے تا له نیولے دے، او که خپله ئے ترے خوراك وکړو نو دا ئے ځانله نیولے دے۔ نو حرام دے۔ دا د احادیثو حاصل دے۔ او داسے نور احکام ئے ورته بیان کړی۔

ددے واقعے نه د رسول الله ﷺ د بت پرستئ سره بُغض او د هغے نه پریشانی معلومه شوه ۔ او بل د رسول الله ﷺ جود او سخا معلومه شوه او اُوچت اخلاق او د خلکو د هدایت دپاره د هغوی سره احسان کول او په ځان باندے سخته تیره ول۔

او بل د موقعے او د محل مناسبه خبره کول لکه چه عدی بن حاتم ﷺ ته ئے د هغهٔ د نصرانیت د کتابونو نه مسئلے وکړے دے دپاره چه هغه متأثره شی، یو چا ته د هغهٔ د کتابونو نه حوالے ورکړه نو متأثره به شی۔ لکه چه ډاکټر ذاکر نائیك وغیره د نصاراؤ د کتابونو نه هغوی متأثره کوی، حفظه الله ورعاه وبارك فی عمره۔

د نجاشی بادشاه وفات او جنازه :

پدے نهم کال باندے یو نیك بادشاه د حبشو چه نجاشی ئے ورته وئیلو او د هغه نوم اَصحمه بن اَبجر وو، وفات شو، (اصحمه معنیٰ ده عَطِیه)

د ۀته رسول الله ﷺ ملګری ورلیږلی وو د جعفر بن ابی طالب ﷺ په مشرئ کښے کله چه هغه په مکه کښے وو، دریم یا څلورم کال د نبوت وو، او نجاشی بادشاه ورله ډیر اکرام کړے وو، رسول الله ﷺ هغهٔ ته په هغه وخت کښے هم خطونه ورلیږلی وو او په اوم (۷) کال باندے ئے بیا ورولیږل۔

او دهٔ غائبانه ایمان راوړے وو، نیك سړے وو، د رسول الله ﷺ تابعداری به ئے کوله، کله چه هغه وفات شو، نبی ﷺ ته جبریل علیه السلام راغلو او د هغهٔ د مرګ خبر ئے ورکړو نو دلته نبی ﷺ ملګروته وفرمایل :

[مَاتَ الْيَوْمَ رَجُلٌ صَالِحٌ]

نن ورځ نیك سړے وفات شوے۔

(نو رسول الله ﷺ د هغهٔ د نیك عملئ ګواهی وژکړه، ددے نه دا معلومیږی چه یو

نیك سړے وفات شي نو د هغهٔ صفت كول پكار دي خو دے كښې به مبالغه نشي كولے، بلكه د هغهٔ مناسب صفات به كوي، رسول الله ﷺ فرمائي :

[اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ وَكُفُّوا عَنْ مَسَاوِيهِمْ]

د مړو ښهٔ صفات بيانوئ او د هغوي د بدو صفاتو نه بند شئ۔

(دے سره مړي ته راحت ملاويږي)۔

(ددے نه معلوميږي چه رسول الله ﷺ د الله نبي دے، ځكه چه حبشه ددهٔ نه ډيره جدا ده او بيا هم د هغهٔ د مرګ خبر وركوي، په همغه ورځ چه دے وفات شو، دا خبر ورته الله تعالىٰ وركړے وو)۔

نو نبي ﷺ ملګرو ته اعلان وكړو چه

[فَقُومُوا فَصَلُّوا عَلَى أَخِيكُمْ أَصْحَمَةَ]

[البخاري، كتاب مناقب الانصار، باب موت النجاشي حديث رقم : ۳۸۷۷]

تاسو راپاځيږئ او په خپل ورور اصحمه باندے جنازه وكړئ۔

(دے نه معلومه شوه چه د مړي اعلان جائز نهٔ دے چه بهر نعرے وهي رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائيلے ده، دا د جاهليت والو طريقه وه، ليكن خپلو ملګرو ته په مسجد كښې (بغير د لاوډ سپيكر نه) خبر وركول جائز دي۔ او په ناروا اعلان كښې دا هم داخليږي چه پوسترے لګوي، او په اخبارونو كښې وركوي، او په بازارونو او په لارو كښې د مړي دا علان نعرے وهل چه فلانے مړ دے۔

نو رسول الله ﷺ ملګري جنازه ګاه ته بوتلل او د دوئ صف ئے برابر كړو او په هغهٔ باندے ئے څلور تكبيرونه اُوويل، او هغهٔ دپاره ئے بخنه وغوښته۔

(**فائده :** دلته رسول الله ﷺ غائبانه جنازه كړے، احاديثو كښې غائبانه جنازه راغلے ده، رسول الله ﷺ او بيا صحابه كرامو او بيا تابعينو او نور امت كړيده، خو رسول الله ﷺ به په هر غائب باندے جنازه نهٔ كوله چه مثلاً يو ځائے كښې به شهيد وشو او بيا به ئے غائبانه جنازه پرے كوله، په مختلفو غزواتو كښې صحابه كرام شهيدان شويدي او نبي ﷺ پرے غائبانه جنازه نهٔ ده كړے، ددے وجهٔ نه په هر شهيد باندے به د غائبانه جنازے اهتمام نهٔ كوے، د هرے مسئلے خپل وزن او مقدار وي چه د هغے نه واړه ولے شي نو بيا نقصان پيدا كيږي، نو كه غائبانه جنازه په بعض كسانو وكړے شي،

خاصکر په هغه ځائے کښې چه هلته په مړی جنازه نهٔ وی شوی، یا کم خلك وی، یا ناکاره خلکو کړی وی، یا یو تن ډیر نیك دے، او یو تن غواړی چه په هغهٔ جنازه وکړی نو کولے ئے شی)۔

بیا امام ابوداوَدؒ د محمد بن اسحاقؒ نه نقل کړیدی چه هرکله نجاشی بادشاه دفن شو نو الله تعالیٰ د هغهٔ دا کرامت رابښکاره کړو چه د هغهٔ د قبر نه به نُور (رنړا) پورته کیده۔

د ام کلثوم رضی الله عنها وفات:

(شعبان ۹ سنه)

پدے نهم کال کښې د شعبان په میاشت کښې د رسول الله ﷺ لور ام کلثوم رضی الله عنها وفات شوه چه دا د عثمان بن عفان رضی الله عنه بی بی وه، د رسول الله ﷺ یوه لور رقیه رضی الله عنها جنګ بدر ته د تللو په وخت وفات شوے وه، چه عثمان رضی الله عنه هغے ته د رسول الله ﷺ په امر پاتے شوے وو، دے دپاره چه د خپلے بی بی تیمار داری وکړی او رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چه ستا دپاره به د بدری اجر او د بدری غنیمت وی نو پدے وجه عثمان رضی الله عنه هم په بدریانو کښې شمار دے۔

حدیث کښې راغلی دی چه کله ام کلثوم رضی الله عنها وفات شوه نو رسول الله ﷺ په هغے باندے ډیر غمجن شو (ځکه چه نبی ﷺ بشر وو، هغهٔ باندے به هغه مشکلات راتلل کوم چه په عام انسان راځی، ورسره په هغهٔ کښې شفقت زیات وو، د چا په مرګ به ډیر خفه کیدو، او دا رحم دے)

ام کلثوم رضی الله عنها ته د انصارو څه زنانو –چه مشره ئے ام عطیه رضی الله عنها وه– غسل او کفن ورکړو۔ لکه چه ام عطیه رضی الله عنها قصه بیانوی چه مونږ د رسول الله ﷺ لور ته غسل ورکولو چه پدے کښې رسول الله ﷺ راغلو وے فرمایل:

دے ته درکرته یا پنځه کرته یا ددے نه زیات غسل ورکړئ (یعنی تاك کرته) په هغه اُوبو باندے چه په هغے کښې د بیرو پاڼړے وی، او په آخری ځل ئے په کافور ولمبوئ (یعنی کافور اُوبو کښې واچوئ او په دے باندے ئے راواړه وئ چه د هغے خوشبوئی په

مړی باندې پاتې شي)

او د ښي طرفونو نه شروع وکړئ او ځایونه د اوداسه مخکښې کړئ،

(دې نه دا فائده معلومیږي چه مړی له به د غسل په وخت اول استنجاء بیا اودس کولې شي او پوزه او خوله کښې به هم ورته اُوبهٔ اچولې شي، اګرکه هغه ئې نشي ارتولې، دارنګه ښي طرف نه شروع به کولې شي. او رسول الله ﷺ ته تاك عدد ډیر خوښ وو، دارنګه د مړي ډیر لمبول او ښهٔ صفائي کول بهتر دي ځکه چه دې الله تعالیٰ ته ور روان دې چه په پاکئ کښې ورشي، نو د ژوند د لمبا نه به هم د مرګ لمبا ډیرې صفائي والا وي)

ام عطیه رضی الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چه تاسو فارغ شوئ نو ما ته خبر راکړئ. هغه وائي : مونږ چه فارغ شو نو هغهٔ ته مو خبر ورکړو،

[فَاَلْقٰی اِلَیْنَا حَقْوَهٗ فَقَالَ اَشْعِرْنَهَا اِیَّاهُ]

نو مونږ ته ئې خپل لنګ راکړو او دا ئې وفرمایل : چه دا ورله د بدن نه تاو کړئ. (ځکه چه د کوم بدن سره د رسول الله ﷺ جامه ولګیږي او هغهٔ مومن وي نو الله تعالی پرې د جهنم اُور حراموي).

ام عطیه رضی الله عنها وائي : [وَمَشَطْنَاهَا ثَلَاثَةَ قُرُوْنٍ]

مونږ د هغې د ویښتو دپاره درې کمځئ جوړې کړې او هغه مو شا ته واړه ولې.

[بخاری، باب ما یستحب ان یغسل وترا رقم الحدیث : ۱۲۵٤، مسلم : ۲۲۱۱]

(دا هم سنت طریقه ده چه د مړې زنانه ویښتو نه به درې کمځئ جوړه ولې شي، او هغه به شا ته غورزولې شي.

فقهاءِ احنافو لیکلي دي چه دا به ورله په سینه راچوي، ځکه چه پدې سره ستر زیات راځي. لیکن دا ددې حدیث د بخاری خلاف خبره ده، او ستر ئې په درې کفنونو سره راځي، او دا جواب کول چه دا د ام عطیه رضی الله عنها خپل اجتهاد دې- خطاء دی ځکه چه دلته ام عطیه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ په امر باندې کارونه کوي، دویم دا چه که دا طریقه صحیح نهٔ وې نو رسول الله ﷺ ته به وحي شوې وې چه ام عطیه رضی الله عنها ددې نه منع کړه.

بله دا چه په سینه باندې د کمځو اچولو دپاره هیڅ نبوي دلیل نشته، بلکه ډیو

عالِم خبره ده نو د تقلید په وجه ولې حدیث رد کړې شي)

کله چه ام کلثوم رضی الله عنها مقبرې ته ویوړې شوه،
انس بن مالك ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ د قبر په خوا کښې ناست وو او د دواړو سترګو نه ئې اوښکې روانې وې.
(نو د هغې د دفن کولو نه مخکښې رسول الله ﷺ دلته یوه خبره وکړه) وې فرمایل :
[اَيُّكُمْ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ ؟]
په تاسو کښې چا بیګاه شپه د خپلې بی بی سره یو ځائې والے نهٔ دے کړے؟ نو هغهٔ دې دے قبر ته کوز شي، (پدې کښې اشاره عثمان بن عفان ﷺ ته وه چه هغه به قبر ته نهٔ کوزیږي ځکه چه هغهٔ بیګاه شپه د خپلې وینځې سره ملاؤ شوے وو)
نو ابو طلحه ﷺ ووېل : زهٔ یم، (ما نزدیکت ندے کړے، دا پردے سړے وو، او د ام کلثوم رضی الله عنها قبر ته د سپارلو دپاره کوز شو،
نو ددې نه دا ثابته شوه چه پردے سړے هم د یوې زنانه قبر ته کوزیدے شي پدې شرط چه خپلې بی بی سره به ئې په دغه شپه نزدیکت نهٔ وی کړے، دا مسئله ډیرو خلکو ته نهٔ ده معلومه او پدې حدیث د صحیحینو کښې ذکر شوې ده.
(ددې بیا خاص حکمتونه او رازونه دی چه د احادیثو په کتابونو او شروحاتو کښې ذکر کیږي).
نو ام کلثوم رضی الله عنها ابو طلحه ﷺ خخه کړه، وجه دا ده چه د مړی بدن سره د سړی لاس نهٔ لګیږي، بلکه کفن نه ئې نیسي او قبلې ته ئې متوجه کوی، که پردے سړی وې هم باك نهٔ کوی اګرکه غالباً د زنانو قبر ته محرم کوزیږي، خو که هغوی د شپې د خپل اهل سره ملاؤ شوی وی نو بیا به هغوی نهٔ کوزیږي پردے سړے هم کوزیدے شي او دې کښې د رسول الله ﷺ څه پټ حکمتونه دی.
(دا دلیل دے چه رسول الله ﷺ یو محتاج بنده دے، هغهٔ سره دا قدرت او اختیار نشته چه خپله لور د مرګ نه راواپس کړی، نو پس د مرګ د نبی ﷺ نه به د چا سره څه مدد وکړی.
د عثمان بن عفان ﷺ فضیلت ئې دا بیان کړو چه تا ته ما دوه لونړې درکړې وې،

[لَوْ كَانَتْ عِنْدِیْ ثَالِثَةٌ لَزَوَّجْتُكَهَا]

که زما دریمه لور وې نو تا له مې خامخا په نکاح درکوله.

دا د عثمان رضی الله عنه فضیلت دې چه ډیر حیاء ناك انسان وو، او د رسول الله ﷺ پسې ئې دریمه یا څلورمه مرتبه وه، ملائکو به ددهٔ نه حیاء کوله. نبی ﷺ په یو ځائې کښې ناست وو، پوندۍ ئې ښکاره کړې وه، ابوبکر رضی الله عنه بیا عمر رضی الله عنه راغې نو نبی ﷺ په همدغه حال باندې ناست وو، کله چه عثمان رضی الله عنه راښکاره شو نو نبی ﷺ خپله جامه برابره کړه، چا ورته وویل دا ولې ؟ نو وې فرمایل : د عثمان رضی الله عنه نه ملائك حیاء کوی نو ما له هم پکار ده چه زهٔ ئې هم ترې وکړم.

دهٔ ته ځکه ذی النورین وائی. (خاوند د دوه رڼاګانو) چه د رسول الله ﷺ دوه لونړه دهٔ ته په نکاح شوې وې، د رسول الله ﷺ زوم دې، لکه څنګه ئې چه علی بن ابی طالب رضی الله عنه زوم دې، ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه ئې سخران او عثمان رضی الله عنه او علی رضی الله عنه ئې زومان وو، دا د نبی ﷺ ډیر نزدې ملګری وو او دې ته خلفاء راشدین هم وائی. په صحابه کرامو کښې غوره خلك وو.

په نهم کال کښې دوه واقعې نورې راغلې :

دا واقعې د حدودو متعلق دی.

یوه واقعه د عُویمر عجلانی رضی الله عنه د لعان په باره کښې، او دویمه واقعه د غامدیه زنانه.



د عویمر عجلانی رضی الله عنه واقعه :
(ذی القعده ۹ سنه)

عـویمر بن ابیض یا اشقر (د پلار نوم ئے ابیض یا اشقر وو) عَجْلانی (د بنو عجلان نه) د بدن نه کمزورے سړے وو،

دا چرتـه بهـر سـفر ته تلے وو، ښځه ئے پوره دینداره نۀ وه، نو کله چه کور ته راغـے وے کتـل چه پردے سړے پـه کـور کښے دے، (چـه د هغۀ نوم شریك بن سَحماء وو، چه دا منـافـق طـورے سړے وو، چـه ځـان تـه ئے مسلمان وئیلو لیکن کارونه به ئے د منافقانو کول، بے حیاء سړے وو، سم ایمان ئے زړۀ ته نۀ وو کوز شوے، دۀ به دا کار کولو چه کله به خـلـك جهـاد تـه لاړل نـو دۀ بـه ځـان د جهـادونـو نـه پـاتـے کولو او د پردو زنانو سره به ئے تـعلقات قائمول، کوم ځائے چه به ئے وسعه وشوه، که نۀ وی غالباً هغه پاکه معاشره وه، دا کـار پـکښے نشو کیدے لیکن شاذ ونادر به چرته وشو منافقان سړی او منافقانے ښځے خو هره زمانه کښے موجودے وے)

نـو شـریك بـن سحماءِ د دغه زنانه سره ناست دے، نو پدے کښے عویمر عجلانی ﷺ پرے رانـنوتو او دواړه ئے په بد حالت کښے ولیدل، نو هغه پریشانه شو، نو د نبی ﷺ نه ورله حیاء ورتله چه د هغۀ نه ددے مسئلے تپوس وکړی،

نـو یـو ملگری (عاصم بن عدی ﷺ نـه ئـے تپوس وکړو چه دا د بنو عجلان سردار وو هـغـۀ) تـه ئے ووئیل چه تۀ زما دپاره د نبی ﷺ نه تپوس وکړه چه زۀ څه وکړم، دا سړے مړ کړو او که ښځه او که بل څه وکړو؟،

نـو عاصم بن عدی ﷺ لاړو هـغـۀ تپـوس وکـړو چه یو تن وی او د هغۀ په کور کښے پردے سړے راننوتے وی او ددۀ د بی بی سره پروت وی، او هغه ئے وینی نو که دواړه وژنی بیـا خـو ئے تـاسـو وژنئ ځکه چه څلور گواهان نشته او که تهمت لگوی چه دے سړی زمـا د ښـځـے سره زنا کړیده نو د څلورو گواهانو د نۀ کیدو په وجه تاسو اتیا (۸۰) دُرے ورکـوئ او کـه غـلے پـاتـے کیږی، نو دا خو ډیره سخته خبره ده چه ښځے ډے داسے فساد

کړے وی او سړے ړے ورته هیڅ نهٔ وائی۔ (دا خو انسان نشی برداشت کولے)
(پدے طرز ئے تپوس وکړو) نو رسول الله ﷺ ورله جواب ورنکړو
[فَكَرِهَ الْمَسَائِلَ]
رسول الله ﷺ ددے سوالونو جوابونه بد وګنړل۔
(ځکه چه د نبی ﷺ ګمان دا وو چه دا سړے هسے فرضی تپوسونه کوی، او دا ښه کار نهٔ دے او دا د بعض روستنو فقهاؤ طریقه ده چه بے ځایه فرضی مسائل بیانوی، لکه ددے مثال دادے چه د فقه په بعض کتابونو کښے شته چه دا توله زمکه د سرو زرو شی او یو سپے روان وی او د هغهٔ په شا باندے خاوره وی نو په دغه خاوره به تیمم کیږی او که نه؟ نو دا خو څه مسئله نهٔ ده، داسے چرته کیدے شی، ځکه چه کله د تولے دنیا نه اُوبهٔ ختمے شی بیا به پکښے انسانان هم ژوندی نهٔ وی، شریعت دا مسائل بد ګنړی)
نو عاصم بن عدی ﷺ ویریدو او عویمر عجلانی ﷺ ته ئے وویل چه ما ته نبی ﷺ هیڅ جواب رانکړو او داسے مسائل ئے بد وګنړل نو عویمر ﷺ وویل :
[وَاللّٰهِ لَا أَنْتَهِيْ حَتّٰى أَسْأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ذٰلِكَ]
قسم په الله زهٔ خو نهٔ منع کیږم تردے چه زهٔ به د رسول الله ﷺ نه ددے په باره کښے تپوس کوم۔ (ځکه چه ما ته خو مسئله پیښه ده)
نو هغه خپله راغے او د نبی ﷺ نه ئے تپوس وکړو چه داسے واقعه ما سره شویده نو الله آیتونه نازل کړل۔ نو رسول الله ﷺ دهٔ ته وویل چه الله ستا او ستا د بی بی په باره کښے قرآن نازل کړو :
﴿وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَاءُ اِلَّا اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ﴾ [النور : ٦]
دے ته د لعان آیتونه وائی، او دے ته اُوس هم د مسلمانانو ضرورت راځی لیکن د مسلمانانو په معاشره کښے اُوس دا مسئلے نهٔ ښکاره کیږی نو پدے وجه خلك پدے مسائلو نهٔ پوهیږی۔
لعان دے ته وائی چه یو سړے خپله ښځه په بد عمل باندے وینی نو شرعی قانون دا دے چه د هغے سره به لعان کیږی، یا به څلور ګواهان راولی چه آؤ دے فلانی د فلانئ سره زنا کړیده، نو بیا به ښځه رجم کړے شی او که سړے هم شادی شده وو هغه به هم

رجم کړے شي۔ او که څلور گواهان نۀ وي نو بیا به تۀ څلور قَسمونه وکړے د قاضي په مخامخ، او داسے به وائے : قسم په الله زۀ دا گواهي ورکوم چه ما دا ښځه په بد عمل لیدلے ده او زۀ پدے کښے رشتینی یم۔

او پنځم کرت به داسے ووائې چه په ما دِے د الله لعنت وي که زۀ دروغ وایم۔

نو بیا به د زنانه نه مطالبه وکړے شي (لکه نبي ﷺ عویمر عجلاني ؓ ته ووېل چه ورشه تۀ خپله ښځه راوله نو هغه ئے راوسته او دواړو په مسجد نبوی کښے لعان وکړو)

ښځے ته به ووېل شي چه که تا دا بد عمل کړے وي نو اقرار وکړه، فائده به دا وشي چه تا باندے به مونږ حد قائم کړو (رجم به دِے کړو) لیکن الله به دِے جنت ته بوځي،

[عَذَابُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ]

د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه آسان دے۔

او که تا دا عمل نۀ وي کړے نو بیا به تۀ هم څلور قَسمونه وکړے نو هغه اول روستو شوه (ویریده) لیکن بیائے ووېل چه قوم به مے وشرمیږي چه د فلاني قوم ښځے زنا کړیده نو هغے هم څلور قَسمونه وکړل چه قسم په الله چه ما زنا نۀ ده کړے او دا سړے په ما باندے دروغ وائي۔

او پنځم ئے د الله غضب ذکر کړو چه په ما دِے د الله غضب وي که ما دا کار کړے وي۔

نو پدے کښے پته ونۀ لگیده چه سړے رشتینی دے او که ښځه۔ لعان کښے پته نۀ لگیږي۔ نو د الله حکم دا وي چه ددے ښځے او خاوند د نن نه نکاح ماته شي او ابدي حرامه شي، تر قیامته پورے ددے ښځے سره نکاح نشي کولے، دائے د مور او خور په شان شي۔ نو دواړه د یو بل نه جدا شو،

نو پدے کښے د عویمر عجلاني ؓ گمان دا وو چه گنے نبي ﷺ دا ما ته دوباره راواپس کوي نو طلاقونه ئے ورله ورکړل، خو نبي ﷺ دغه طلاقونو ته ونۀ کتل ځکه چه دا ښځه خو د لعان په وجه پردۍ شوه او په پردۍ ښځه باندے طلاق نۀ واقع کیږي۔

(دا لعان په مسجد کښے وشو نو مسجد ته د زنانه راوستل او په مسجد کښے داسے ښیرے کول جائز دي ځکه چه دا د الله احکام دي)

روستو نبي ﷺ وفرمایل :

[اُنظُرُوهَا فَاِنْ جَاءَ تُ بِهٖ اَحۡمَرَ قَصِيرًا مِثۡلَ وَحَرَةٍ فَلَا اُرَاهُ اِلَّا قَدۡ كَذَبَ]

دے ښځې ته ګورئ که دے چرته داسے بچے راوړو چه د چینجی په شان تك سور وو او لنډے وو نو دے سړی به دروغ وئیلی وی۔

[وَاِنۡ جَاءَ تُ بِهٖ اَسۡحَمَ اَعۡيَنَ ذَا اِلۡيَتَيۡنِ فَلَا اَحۡسِبُ اِلَّا صَدَقَ عَلَيۡهَا]

او که دے داسے بچے راوړو چه تك تور، غټو سترګو والا، غټو کناټو والا وو، نو زما ګمان دے چه سړی به رشتیا وئیلی وی، او دا به د شریك بن سحماء نه پیدا وی او دا به ولدِ زنا وی۔

دا د رسول الله ﷺ پیشنګوئی وه۔ نو لږه موده بعد په همدغه بد صفت باندے پیدا شو۔ نو معلومه شوه چه دا د زنا نه پیدا دے، نو بیا ئے وفرمایل:

[لَوۡلَا مَا مَضٰى مِنۡ كِتَابِ اللّٰهِ لَكَانَ لِيۡ وَلَهَا شَاۡنٌ]

که د الله حکم نۀ وے (چه په ګواهانو فیصله وکړئ) نو ما به دے ښځې سره کتلی وے (ما به سمه رجم کړے وے)

(دے نه معلومه شوه چه پدے مقام کښے به خلك د الله حدودو ته ګوری او خپل غیرت به نۀ مخکښے کوی، د ظاهری غیرت تقاضا خو دا ده چه سړے او ښځه دواړه اُوولی بلکه د بعض خلکو عادت خو دا دے چه سړے ښځې سره صرف خبرے وکړی، یا اشاره وکړی یا ورسره یواځے ځائے کښے جدا شی نو بس هغه وژنی اګرکه زنا ئے نۀ وی کړی، لیکن شریعت کښے قانون د ګواهانو دے، که شك دِے پیدا شو نو په خپل کور والو باندے احتیاط کوه لیکن وژل نشته)

البته دلته یو بل د ګنجائش صورت شته هغه دا چه یو تن د خپلے ښځې سره یو سړے په دغه حالت کښے وګوری او پدے وخت کښے ئے دننه په کور کښے ووژل او دوه ګواهان ئے پدے پیش کړل چه ما دا سړے په کور کښے دننه وژلے او پدے بد عمل مے وژلے او عام قرائن او شواهد الاحوال ددے خبرے ګواهی ورکوی چه دا سړے ددۀ دشمن نۀ وو، د مخکښے نه ئے ورسره څه لانجه نۀ وه، او د مرګ په بهانه ئے کور ته نۀ دے راننویستے، بلکه دا سړے ورانکارے وو او پردی کورونو ته به دغسے ننوتو، او یے دینه سړے وو، د حال نه معلومیده نو بیا به په وژونکی باندے کوم قصاص نۀ راځی۔

پدے واقعه کښے **فائده**: یو خو د لعان مسئله معلومه شوه، او د شریعت غیرت معلوم شو، او دا معلومه شوه چه شرع ظاهر ته گوری، که باطن کښے یو تن وران هم دے او تا ته ښه معلوم هم شو خو په ظاهره کښے په هغهٔ باندے گواهان نشته نو په هغهٔ به فیصله نهٔ کوے بلکه ظاهر ته به گورے۔

دویمه فائده : الله یو غټ دین رالیږلے دے، د قرآن او حدیث په شکل، پدے کښے احکام او حدود او زواجر او هر قسم خبرے شته نو نبی ﷺ ددے بیانونکے وو، د رسول الله ﷺ د بدن نه به هغه عملونه راوتل چه کوم به پاك عملونه وو او خلکو به زده کول، کله کله به نبی ﷺ باندے الله تعالیٰ داسے حالت راوستو چه هغه به د نبوت خلاف نهٔ وو، په هغے کښے به هم د دین بیانول مطلب وو لکه رسول الله ﷺ به په مانځه ولاړ وو نو سهوه به شو لکه په ژوند کښے پنځه کرته سهوه شویدے، دا ولے سهوه کیدو؟ دا ددے دپاره چه امت ته د سجدهٔ سهوے چل او طریقه وښائی او په مانځه کښے سهوه کیدل خو بد کار نهٔ دے، نبوت پرے نهٔ خرابیږی، د چا تقویٰ او علم پرے نهٔ خرابیږی۔ کله به په مانځه ولاړ وو نو آیت به ترے هیر شو، دا ددے دپاره چه خلکو ته مسئله وښائی چه د آیت په پاتے کیدو باندے مونځ نهٔ فاسدیږی۔

د سهار په مانځه باندے ولاړ وو نو د سورة روم بعض آیتونه ترے مخکښے روستو شو، اُبی بن کعب ؓ ته ئے ووئیل چه آیا تهٔ مونږ سره نهٔ وے؟ هغهٔ ووئیل : ولے نهٔ، ورته ئے وفرمائیل : ولے دِ دے فتح (لُقمه) نهٔ راکوله، هغهٔ ووئیل : زما دا گمان وو چه الله به دا آیت منسوخ کړے وی،

نو نسیان راتللے شی لیکن د نبی ﷺ د بدن نه الله تعالیٰ داسے عمل نهٔ صادره ولو چه د هغے په وجه نبوت ته ضرر رسیږی لکه قتل، زنا، بهتان، غیبت وغیره (العیاذ بالله) نو بیا هر کله چه د نبی نه دا نهٔ صادریږی نو احکام به څنگه معلومیږی نو الله تعالیٰ د هغهٔ د بعض ملگرو نه صادر کړل، دے دپاره چه هغه پرے حد قائم کړی او روستو امت دپاره یوه طریقه جوړه شی،

ددے وجه نه د صحابه کرامو نه - چه د انبیاء علیهم السلام نه روستو په کائناتو کښے د دوئ نه بهترین خلك نشته- به کله کله یو عمل صادر شو او حد به پرے قائم شو دے دپاره چه اُمت دپاره د هغے نه دین جوړ شی۔ لکه دلته د عویمر عجلانی ؓ

سره دا کار وشو نو امت دپاره ترے دین معلوم شو چه په داسے موقعه کښے به لعان کولے شي۔

دارنګه د بنو مخزوم (قریشو) نه یوے زنانه به د خلکو نه څیزونه اخستل بیا به ئے ترے انکار کولو، نو یوه ورځ ئے غلا وکړه او نبی ﷺ ته راوستے شوه نو دلته د قریشو څه کسان راجمعه شو چه دے کښے خو زمونږ دپاره ډیر لوی شرم دے چه نبی ﷺ د هغے نه لاس پریکړی، نو نبی ﷺ ته به څوك ولیږو چه دا زنانه معاف شي او لاس ترے پرے نکړے شي۔ بیائے وویل چه دے خبره باندے به څوك بهادري وکړی؟، نو چا پکښے وویل چه دے کار باندے د اسامه بن زید ﷺ نه سویٰ بل څوك بهادري نشي کولے (ځکه چه دا د رسول الله ﷺ محبوب دے)

که دا ورولیږو او دے ورته سفارش وکړی نو خلکو اسامه ﷺ ته درخواست وکړو نو هغه لاړو رسول الله ﷺ ته ئے سفارش کولو۔ نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته په غصه شو او دائے ورته وویل :

[أَتَشْفَعُ فِيْ حَدٍّ مِنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ]

آیا تهٔ د الله په حدودو کښے سفارش کوے (چه دا دِے قائم نشي)

بیائے ملګری راجمع کړل او بیان ئے وکړو چه په بني اسرائیلو کښے دا مرض وو چه کله به په هغوئ کښے یو شریف سړی غلا وکړه نو په هغهٔ به ئے حد نهٔ قائمولو او په عامو خلکو به ئے قائمولو (د غریبانو او مالدارو فرق ئے کولو) نو ددے په وجه هلاك شول۔ بیائے وفرمایل :

[وَاَيْمُ اللّٰهِ لَوْ اَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا]

قسم په الله که زما لور فاطمه (چه سَيِّدَةُ نِسَاءِ اَهْلِ الْجَنَّة ده) غلا وکړی نو زهٔ به ددے نه خامخا لاس پریکوم۔

بیائے د مخزومیه زنانه لاس پریکړو او روستو زمانه کښے دغه زنانه د غلاګانو نه توبه اُوخکله او ډیره ښه مسلمانه شوه،

عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما کره به راتلله، نو ما به د هغے حاجتونه نبی ﷺ ته پیش کول نو هغهٔ به ورله د بیت المال نه پوره کول۔

نو د مسلمانانو نه دا بعض ګناهونه د تشریع دپاره شویدی، نو ددے نه دا فائده راووته

چه یو مسلمان به په حیثیت د مسلمان سره په صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین باندے بد گمان هیڅکله نهٔ کوی، د هغوی نیکیانے ډیرے زیاتی دی، تقویٰ او جهادونه او کمالات ئے ډیر زیات دی، او د بعض کسانو نه که په ټول عمر کښے یوه خطائی چرته وشی نو انسانان دی، او هغه هم الله تعالیٰ معاف کړیدی، او جنت ته ئے داخل کړیدی۔

بله وجه دا ده چه الله رب العزت امت ته خپل دین واضح کولو دپاره ئے د هغوی نه داسے بعض کارونه صادر کړل۔

دے ته قریبه د غامدیه زنانه واقعه راغله۔

د غامدیه رضی الله عنها واقعه :

غامدیه یوه زنانه وه چه د غامِد قبیلے نه وه چه دا د "أزد" قبیلے یو شاخ دے، وړه قبیله ده۔ د هغے نه زنا شوے وه لیکن ایمان پکښے دومره مضبوط وو چه سخته پریشانه وه چه ما خو گناه کړیده (او ځان مے جهنم ته تیار کړیدے) د خپل قوم نه راغله او نبی ﷺ ته ئے وفرمایل : چه په ما باندے حد قائم کړه او ما پاکه کړه۔

نبی ﷺ د هغے نه مخ واړه ولو (ځکه چه گواهان نشته او دا اقرار ولے کوی، خو پته دے الله ته توبه وباسی دا ورله غوره ده) لیکن هغے باندے د ایمان دومره زور وو چه رسول الله ﷺ ته ئے ښکاره وویل: تهٔ ما ولے واپس کوے، شاید چه ته به ما داسے واپس کوے لکه څنگه چه دے ماعز اسلمی رضی الله عنه واپس کړے وو :

[فَوَ اللّٰهِ اِنِّیْ لَحُبْلٰی]

قسم په الله زهٔ (د زنا په وجه) حامله یم۔ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : نه، په تا باندے اُوس حد نهٔ قائموو ځکه چه خیټه کښے کوم بچے دے هغهٔ خو گناه نهٔ ده کړے، تهٔ لاړه شه چه کله هغه پیدا شی بیا راشه، څه موده روستو هغه بچے پیدا شو نو نزدے ورځنو کښے راغله او بچے ئے په یوه ټوټه کښے راخستے دے، عرض ئے وکړو : دا دے زما بچے پیدا شو۔ نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : دے ماشوم له به تے څوك ورکوی؟، لاړه شه دهٔ له تے ورکوه تردے چه تهٔ ئے د تیو نه پریکړے۔

نو هرکله چه هغې د تیو نه پریکړو نو بیا ئې ماشوم راوستو چه په لاس کښې ئې ورله د روټۍ یوه ټکړه ورکړې وه، نو وې فرمایل : یارسول الله ما د تیوو نه پریکړو او اُوس روټۍ خوری۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

ددهٔ تربیت به څوك کوی؟، نو یو انصاری صحابی ﷺ عرض وکړو : اے د الله رسوله ! ددې تربیت به زهٔ وکړم،

نو د الله رسول امر وکړو ددې په رجم باندې،

(د زنانه د رجم طریقه دا وی چه یوه کنده ورله وکنی تر نیمائی بدن پورې چه عورت ئې ښکاره نشی او بیا هغه په کاڼړو باندې ویشتلې شی، او دا د الله تعالیٰ ډیر مزیدار حکم دے چه سړے یا زنانه د بل چا بستره خرابه کړی، او د بل چا عزت واخلی نو بیا د داسې سزا لائق دے، خاصکر هغه چه خپل وادهٔ ئې هم شته نوځکه دا شخص د کاڼړو د ویشتو لائق وی، او د الله نه زیات څوك مهربانه نشته چه هغه وائی رجم ورکړئ نو رجم به ورکولې شی)

نو هغې دپاره کنده وکنستلې شوه تر سینې پورې او خلکو ته ئې حکم وکړو چه دا په کاڼړو وولئ نو خلکو په کاڼړو ویشتل شروع کړل، نو خالد بن ولید ﷺ ورله مخې له راغې او په یو کاڼړی سره ئې په سر باندې اُوویشته نو د هغې وینې د خالد بن ولید ﷺ په مخ باندې راپریوتې نو خالد ﷺ ورته سپکې سپورې ووئیلې، نبی ﷺ دا خبرې واوریدې وې فرمایل :

[مَهْلًا يَا خَالِدُ ! فَوَ الَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهٗ]

پریږده اے خالده (دا مهٔ ملامته کوه) قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس کښې دے، دے خو داسې توبه اُوخکلې ده چه که داسې توبه په ظلم سره ټیکسونه اخستونکے ویاسی نو هغهٔ ته به هم بخښنه وکړې شی۔

بیا هغه راوخکله شوه او په دې باندې مونځ وکړې شو او په مقبره کښې خخه کړې شوه۔ [صحیح مسلم :٤٥٢٨]

مَکْس : په زوره ټیکسونه او په ظلم او زور سره د زکاۃ نه زیات مالونه اخستو ته وائی۔

دا حدیث دلیل دے چه رجم په صحیح احادیثو کښې ثابت دے او دا د قرآن کریم

مخالف نۀ دے لکه بعض منکرین حدیث ددے نه انکار کوی او دا وائی چه رجم په قرآن کریم کښے نۀ دے راغلے او دا د قرآن خلاف دے۔ مونږ وایو چه دا په قرآن کریم کښے راغلے دے، الله فرمائی :

﴿ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ [الحشر: ۷]

تاسو ته چه زما رسول څه درکوی هغه واخلئ او کوم نه چه مو منع کوی د هغے نه منع شئ۔ لکه داسے استدلال عبد الله بن مسعود ﷺ کړے وو کله ئے چه وفرمایل رسول الله ﷺ په واشمه او مستوشمه (خال لګونکے) باندے لعنت وویلے او وے فرمایل چه دا د الله په کتاب کښے راغلے دے، نو یوے زنانه ورته وویل چه ما خو د الله کتاب ټول لوستلے دا خو پکښے نشته نو هغۀ وفرمایل : که تا صحیح لوستلے وے نو تا به پکښے موندلے وے نو دغه آیت ئے ورته ولوستلو۔ دا آیت دلیل دے چه هره خبره چه د رسول الله ﷺ نه ثابته شی نو پدے باندے بعینهٖ قرآن امر کړیدے چه دا واخلئ۔

ابوبکر صدیق ﷺ د حج امیر کیدل :

په دے نهم کال باندے د ذی الحجے ورځے چه کله راغلے

(چه د ذی الحجے دا لس ورځے د ټولو نه بهترے ورځے دی چه پدے کښے نیك عمل الله تعالیٰ ډیر خوښ وی، ددے وجه نه پدے ورځو کښے روژے نیول، د الله ذکر کول، د شپے تهجد کول، تسبیحات کول، تردے چه لارے کوڅے به د الله په تسبیحاتو او ذکر باندے آبادے وے، لیکن دے زمانه کښے دا عبادتونه ختم شویدی، دا ورځے د عباداتو سیزن وی، او په نهم کال باندے حج فرض شو لکه دا راجح قول دے،

بعض علماء شپږم کال یاده وی، لیکن ظاهر داده چه په نهم کال حج فرض شو او مخکښے حج مستحب وو)

نو رسول الله ﷺ په حج باندے ابوبکر صدیق ﷺ امیر مقرر کړو (چه تۀ لاړ شه او په خلکو باندے د حج مراسم ادا کړه) نو هغه د ذی الحجے په ابتدائی ورځو کښے روان شو چه څان سره ئے درے سوه (۳۰۰) صحابه کرام روان کړل او رسول الله ﷺ د دوئ سره شل (۲۰) بدنے (اُوښانے) د قربانئ دپاره روانے کړے چه دا زما دپاره هلته ذبح کړئ، عام

مسلمانان ورسره لاړ نشو،

صاحب دا متاع الاسماع لیکی چه ابوبکر صدیق ﷺ ځانله پنځه (٥) بدنے روانے کړے او عبد الرحمن بن عوف ﷺ هم ځان سره بدنه روانه کړه۔

(ځکه چه په مکه مکرمه او منیٰ کښے ذبح ډیره غوره ده، دا یو سنت عمل دے چه د ډیرو مسلمانانو نه هیر دے، چه یو حاجی حج ته ځی او بل څوك ورله پیسے ورکړی چه پدے باندے زما دپاره قربانی واخله او په منیٰ کښے ئے ذبح کړه ځکه چه د راتلونکی آیت په یو تفسیر کښے همدا مقصد پروت دے :

﴿ لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا ﴾ [الحج :٣٤]

د هر یو امت دپاره د عبادت او قربانئ یو ځائے وی نو منیٰ د ټول امتِ مسلمه د قربانئ ځائے دے۔

ابوبکر صدیق ﷺ د ملګرو سره ووتو، پدے کښے الله تعالیٰ د سورة التوبه ابتدائی آیتونه راولیږل۔

(سورت توبه کښے د منافقانو د راښکاره کول او د مشرکانو سره خبره انتهاء ته رسول دی او د جزیرة العرب نه د شرك ګندونه ختمول دی، دا د سورة التوبه غرض دے، په ابتدائی آیتونو کښے ئے د مشرکانو اقسام بیان کړیدی، یو هغه مشرکان دی چه تاسو سره ئے لوظ کړے بیا ئے مات کړے،

دویم هغه مشرکان دی چه تاسو ورسره لوظ کړے او په لوظ باندے کلك ولاړ دی،

دریم هغه مشرکان چه بیخی وعده ورسره نهٔ ده شوے،

څلورم مستأمنین دی، د مسلمانانو ملك ته د څه کار دپاره راځی، تجارت، یا ملاقات وغیره دپاره نو د مسلمانانو نه امن وغواړی)۔

نو رسول الله ﷺ علی بن ابی طالب ﷺ راوغوښتو چه دا آیتونه په موسم د حج کښے خلکو ته بیان کړه، څلور اعلانونه ئے ورته وخودل چه دا به په موسم د حج کښے خلکو ته کوئ، نو علی بن ابی طالب ﷺ روان شو تردے چه د ابوبکر صدیق ﷺ سره په ضجنان علاقه کښے ملاؤ شو (چه دا د مکے نه پنځه پنځوس (٥٥) کیلو میټره جدا ځائے دے، او دا د مشرق نه مغرب طرفته اُوږد خوړ دے)۔

او بعض وائی په عرج علاقه کښے ورسره شو، په سهار کښے ابوبکر صدیق د رسول

الله ﷺ د قصواء اُوښے آوازونه واوریدل نو وے کتل چه په هغې باندے علی بن ابی طالب ﷺ سور دے۔

(اَلْعَرج د مدینے په جنوب کښے یوه وادی ده چه د مدینے نه (۱۱۳) کیلومیټره فاصله کښے واقع ده)

نو ابوبکر صدیق ﷺ ورته وفرمایل : امیر راغلے ئے او که مامور؟۔

(یعنی که ته ئے امیر جوړ کړے ئے نو زۀ درته امارت پریدم، ځکه چه د مسلمانانو اکثرے لانجے په مشرئ باندے راځی، او که مامورئے نو زما خبره به منے)،

نو علی بن ابی طالب ﷺ وفرمایل : زۀ مامور یم، لیکن د نبی ﷺ ارشاد دے چه زما د طرفنه به خبره عامو عربو ته هغه څوك کوی چه زما د خپلوانو نه وی، (ځکه چه دا د عربو عادت وو چه د چا سره به ئے د قتل وقتال وعده ماتوله نو د بادشاهانو او د مشرانو خپلوانو به دا اعلان کولو) (یعنی زۀ ئے د اعلانونو کولو دپاره رالیږلے یم)

دوئ شریك مکے ته ورسیدل، بیا مِنیٰ او عرفات او مزدلفه او منیٰ کښے کارونه وشوو او د اختر ورځ راغله نو د اختر په ورځ علی بن ابی طالب ﷺ ودریدو او ابوبکر صدیق ﷺ ورسره درے څلور ملګری ئے نور هم پاڅول چه یواځے د علی ﷺ آواز ټولو خلکو ته نۀ رسیږی نو څه کسان ئے یو ځائے او څه بل ځائے ودرول چه اعلانونه کوئ نو څلور اعلانونه به کیدل۔

اول اعلان دا وو : [لَا يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ]

د سږ کال نه بعد به هیڅ مشرك حج له نۀ راځی۔

(ځکه چه په همدے کال باندے مشرکان هم حج له راغلی وو، او ددے آواز مطلب دا وو چه یا به ایمان راوړئ یا به حج ته نۀ راځئ، مشرکان په مسجد حرام باندے الله تعالیٰ بند کړل، لکه قرآن کریم کښے دا آیت دے :

﴿ اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ﴾ [التوبة :۲۸]

مشرکان ناولی دی، نو دوئ به د سږ کال نه روستو مسجد حرام ته نۀ راځی۔

(نو مشرك د مسجد حرام لائق نۀ دے، ځکه چه مسجد حرام یو پاك ځائے دے، مکه مکرمه د مسلمانانو مرکز دے، نو بیا خو دلته نه شرك دنیا ته خوریږی، نو دلته به صرف توحید او د الله د یو والی خبرے وی، شرك اُوس ختمیدو والا دے)

دویم اعلان : [لَا يَطُوفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ]

په برېنډه به د بیت الله نه طوافونه څوك نهٔ كوی۔ (تردې ورځې پورې مشركانو به په برېنډه طوافونه كول، د الله رسول غالبه شوې وو ليكن تر اوسه ددې منع كولو ته وزګار نهٔ وو۔ د عربو دا غلط رسم وو او شيطان ورته ښائسته ښكاره كړې وو چه تا په كومو جامو كښې وخت تير كړيدې نو په هغې كښې به طواف نهٔ كوې، دا ګناه ده، ځكه چه پدې جامو كښې تا ګناهونه كړيدى نو د الله حرم ته چه ننوزې نو د ګناهګارو جامو سره به نهٔ ننوزې، او يو تن به پكښې وئيل چه زهٔ به د بيت الله نه داسې طواف كوم لكه څنګه چه مور نه پيدا شوې يم، په ما باندې د دنيا نه هيڅ شے نهٔ وو چه د هغې سره ظلم يو ځائے شوې وی۔ او پدې كار سره به ئے د بيت الله تعظيم او احترام كولو۔

او دې ته نهٔ ګورى چه ګناه خو په زړهٔ كښې او اندامونو كښې وی، ظاهرى جامو پورې انښتې نهٔ وی، نو د هغوى عادت دا وو چه يا خو به ئے جامې بالكل ويستلې او په برېنډه به ئے طواف كولو، لكه د عامو خلكو همدا طريقه وه،

او كه يو سړى له به ډير غيرت او شرم ورتللو چه د ورځې څنګه عورت ښكاره كړم نو هغهٔ به په خپلو جامو كښې طواف وكړو خو په هغهٔ باندې دا فرض وه –د جاهليت والو د طرف نه– چه دا جامې به صدقه كوې، ځكه چه دا به ئے وئيل چه ما غټ د ګناه كاروكړو، په جامو كښې مې طواف وكړو،

او بعض كسان به ډير شُرَفاء او سرداران وو نو هغوى به د قريشو نه جامې طلب كولے چه دا خلك د كعبې منجوران دى، د دوئ په جامو كښې طواف كيږى، نو كه هغوى به چا باندې صدقه وكړه نو طواف به ئے پكښې وكړو۔

او زنانو به هم د قريشو زنانو نه جامې غوښتے كه ملاؤ به نشوې نو بيا به ئے دغسې په برېنډه طواف كولو ليكن د شپې به ئے كولو، او داسې اشعار به ئے وئيل :

اَلْيَوْمَ يَبْدُوْ كُلُّهٗ اَوْبَعْضُهٗ	وَمَا بَدَا مِنْهُ فَلَا اُحِلُّهٗ

نن به زما عورت ټول يا بعض ښكاره كيږى او كومه حصه چه ښكاره شوه نو هغه زهٔ د چا دپاره نهٔ حلالوم۔

نو شيطان انسان ته داسې تكليفونه ورښائى چه اجر پكښې نهٔ وى، رسمونو او

رواجونو او بدعاتو کښې همدغه شان تکالیف وې.

دریم اعلان : د چا سره چه نبی ﷺ لوظ کړې او هغهٔ بیا مات کړې نو څلور میاشتو پورې هغهٔ ته انتظار دې، پدې موده کښې دې یا ایمان راوړي او که ایمان ئې رانهٔ وړو نو د څلورو میاشتو نه بعد به ورسره جنګ کیږي او الله به ئې شرموي.

دا څلور میاشتې ئې د سوچ کولو دپاره ورکړې.

او که د چا لوظ بالکل نهٔ وي نو د هغهٔ دپاره هم څلور میاشتې شوې،

او کومو کسانو سره چه وعده زیاته شویده مثلاً د کال یا د دوه کالو او هغوی پدې کښې کوم نقصان نهٔ دې پیدا کړې نو صحیح ده د هغه وخت پورې ئې ورسره پوره کوو.

ځکه چه زمونږ په اسلام کښې د وعدې ډیره سخته پابندي ده، اګرکه مشرك او سور کافر وي هم به وعده ورسره پوره کوې، لیکن زمونږ پدې زمانه کښې د وعدې پابندي تقریباً بیخي ختمه شویده، که بادشاهانو وعده وکړه هم چل ورسره کوي، او که عوامو وکړه هم دغسې ده، په بیع او شراء کښې خلك وعده وکړي، یو کور خرڅ کړي یا یو مال خرڅ کړي بیا ریټ وخیژي نو بیعه ورسره ماته کړي، خپلې ژبې نه وتښتي او ددې په وجه د مسلمانانو ژوند ځومره تنګ دې. د وعدې پابندي چه نهٔ وه نو دا منافقت دې.

هر څومره سخته چه وه خو د وعدې پابندي به کوې.

نبی ﷺ د نبوت نه مخکښې د یو سړي سره وعده کړې وه چه زهٔ به دلته ناست یم ته پیسې راوړه، ځکه چه یو شے ئې پرې ورخرڅ کړې وو. هغهٔ نه خبره هیره شوه ، درې ورځو پورې رسول الله ﷺ هلته ورته ناست وو او هغه سړي ته درې ورځ پس رایاده شوه او راغې نو نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[لَقَدْ شَقَقْتَ عَلَيَّ، اَنَا اَنْتَظِرُكَ مُنْذُ ثَلَاثٍ]

ما ته دې ډیر تکلیف راکړو، زهٔ درې ورځو نه ستا په انتظار کښې ناست یم.

هغهٔ وویل : ما نه هیر شوی وو. دا د نبوت نه مخکښې په رسول الله ﷺ کښې د وعدې پابندي وه.

څلورم اعلان : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ]

جنت ته به صرف مسلمان نفس داخلیږي،

(یعني دا خبره درته ځوك په ذهن کښې وانچوي چه یهودیت هم او نصرانیت هم د جنت لاره ده، لکه دې وخت کښې بعض خلك دا کوشش کوي چه تقارن او تفاهم بین الادیان راولي، (یعني یهودیت او نصرانیت او اسلام یو بل ته نزدې کوي او دا وائي چه دا ټولې الله ته رسیدلې لارې دي او یو بل باندې غم غرض نهٔ دي لرل پکار، هر ځوك چه په کومه لاره روان وي یو بل سره به بغض نهٔ ساتئ، لیکن زمونږ دین وائي چه الله ته صرف یوه لاره کولاوه ده چه هغه د کتاب او سنت یعني د محمد رسول الله ﷺ او د قرآن لاره ده، نورې لارې سیده جهنم ته تلې دي، الله فرمائي :

﴿ وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾

[آلعمران :٨٥]

ځوك چه د اسلام نه سوئ بل دین طلب کوي نو هیڅکله به ترې قبول نشي او دې به په آخرت کښې د تاوانیانو نه وي.

لکه ددې نه بعد د عام الوفود تذکره کیږي چه ټول خلك به اسلام ته راځي.

دا اعلانونه چه وشول نو عام عرب او عجم پوهه شو چه اسلام غالبه شو اُوس که مونږ په خپل دین باندې باقي پاتې کیږو نو دا به داسې وي لکه چه د یو تن نه اُوبه ګیرچاپیره تاؤ شي او دې په یوه جزیره (ټاپو) کښې پاتې شي، چه د لوږې او تندې نه به مړ شي، نو دوئ وویل چه طریقه دا ده چه په اسلام کښې به داخل شو.

نو عام خلك راتلل او ډلې ډلې به په اسلام کښې داخلیدل، ددې زمانې نه مخکښې هم دا کار شروع شوې او پدې وخت کښې بیا زیات شروع شو.

نو پدې طریقه ابوبکر صدیق رضی الله عنه حج وکړو او واپس مدینې ته راغې.

روستو کال کښې حجة الوداع وشو چه هغې کښې رسول الله ﷺ خپله په نفس نفیس سره حاضر وو چه ډیر مزیدار حج وو چه تفصیل ئې روستو راځي.

رسول الله ﷺ خپله پدې نهم کال حج ونکړو، وجه دا وه چه دلته مشرکان حج له راغلي دي، نو هغهٔ د مشرکانو سره شریك حج نهٔ خوښولو.

بل دا چه دلته خلك په برېنډه طوافونه کوي،

بله وجه دا ده چه د الله حکم ورته لا نهٔ وو شوې، په آرام ترتیب سره به ځي لکه د رسول الله ﷺ هر کار په آرام او ترتیب سره وو.

عام الوفود : (۹ هـ سنه)

دا نهم کال په عام الوفود سره مشهور دے، وفدونه خو مخکښے نه لږ لږ شروع شوی وو ليکن دے کال نه زيات شو، هره ورځ به وفدونه راروان وو۔

عام کال ته وائی او وفود جمع د وَفْد ده، د وفد معنیٰ ده ميلمانهٔ د يو بادشاه او امير ملاقات ته راتلل او د خپلو قومونو خبر راوړل۔

نو د وفود معنیٰ دا ده چه عام عرب او عجم به راتلل او په اسلام کښے به داخليدل، لکه په ﴿اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِیْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا﴾

کښے دا خبره راغلے ده چه کله د الله مدد او غلبه راشی او تهٔ خلك وينے چه په اسلام کښے ډلے ډلے داخليږی نو د الله تسبيحات او حمدونه وايه او د هغهٔ نه بخنه غواړه۔ (يعنی ستا د مرگ وخت رانږدے شويدے ځکه دين کامل مکمل شو او اسلام غالبه شو)

دا سورت چه پدے نهم کال نازل شو او رسول الله ﷺ په مجمع کښے ولوستلو نو ابوبکر صديق ﷺ په ژړا شو، چا ورته ووېل چه ولے ژاړے؟، دا خو د الله د طرف نه مونږ دپاره زيرے او د خوشحالئ خبره ده، هغهٔ ووېل : تاسو ته پته نشته پدے سورت کښے الله تعالیٰ [يَنْعٰی نَبِيَّهٗ ﷺ] د خپل نبی د مرگ خبر ورکړيدے،

پدے سورت کښے دا مطلب دے چه دا نبی وفات کيدو والا دے، او ستاسو نه روان دے، ځکه چه دے کوم مقصد له دنيا ته راغلے وو چه هغه د الله دين پوره کول او غالبه کول وو نو هغه پوره شو او دين غالبه شو نو اُوس به نبی وفات کيږی۔

نو د اذا جاء شرط دپاره جزا پټه ده۔ يعنی کله چه د الله مدد او فتح راغله

[فَذٰلِكَ عَلَامَةُ اَجَلِكَ]

نو دا ستا د وفات کيدو نښه ده چه وخت دے رانږدے شويدے۔

ددے وجه نه رسول الله ﷺ به دے نه روستو د مرگ خبرے ډيرے کولے۔ حجة الوداع

کښې ئې وفرمایل :

[لَعَلِّیُ لَا اَرَاکُمُ بَعُدَ عَامِیُ هٰذَا]

شاید چه زما به ستاسو سره ددې کال نه روستو ملاقات ونشي،

معاذ بن جبل ﷺ ئې یمن ته لیږلو لکه روستو راځي ورته ئې وفرمایل : چه زما او ستا ملاقات به ونشي۔ د الله رسول په ځان پو هه شوې وو چه زۀ وفات کیدو والا یم۔

دې نه معلومه شوه چه ابوبکر صدیق ﷺ د قرآن په اشاراتو ډیر ښۀ پو هیدو۔

د سیرت په کتابونو کښې د رسول الله ﷺ په ژوند کښې تقریباً اویا (۷۰) وفدونه ذکر شویدي، او د هغۀ د وفات نه روستو به ابوبکر صدیق ﷺ او بیا عمر فاروق ﷺ او همداسې خلفاؤ ته به راتلل، او اسلام کښې به داخلیدل، لیکن د نبي ﷺ په دغه لږه زندګئ کښې اویا (۷۰) جماعتونه راغلي دي چه په رسول الله ﷺ باندې ئې ایمان راوړیدې او خپل قوم ته ئې دعوت ورکړیدې او قومونه ئې غالباً په اسلام کښې داخل شویدي۔

د وفدونو سبب : Oد قریشو مسلمانیدل د وفدونو د راتللو فوري سبب جوړ شو ځکه چه قریش د عربو مشران، رهنما او د بیت الله او د حرم خادمان وو، عربو به د دوئ په فضیلت باندې اقرار کولو۔ O دارنګه قریش د رسول الله ﷺ په خلاف په ډیر زور او شور سره جنګونه راپورته کړي وو لیکن اُوس ټوله مکه مکرمه مسلمانه شوه،

O او دارنګه د مکې تمام بتان زره زره شو،

O او عربو به داوئیل چه دا نبي او ددۀ قوم پریدئ چه په خپلو کښې جنګونه وکړي. که دا په قوم غالب شو نو معلومه به شي چه دې رشتینی نبي دې۔

O دارنګه پو هه شو چه عامه دنیا په اسلام کښې داخله شوه، زمکه راته تنور شوه اُوس زمونږ دپاره بله چاره نشته چه اسلام قبول کړو، نو وفدونه رالیږل ئې شروع کړل۔

د عمرو بن سلمه ﷺ قصه :

ددې خبرې وضاحت په حديث د بخاري او ابو داود وغيره کښې راغلې دے،

عمرو بن سلمه ﷺ فرمائي : [كُنَّا بِمَاءٍ مَمَرِّ النَّاسِ] مونږ په يوه چينه کښې ديره وو چه هغه د خلکو لاره وه، خلك به تريدل راتيريدل، نو په مونږ به قافلې راتيريدلې (خاصکر هغه خلك چه د مدينې نه به راتلل) نو مونږ به د هغوی نه تپوس کولو :

[مَا لِلنَّاسِ؟ مَا لِلنَّاسِ ؟ مَا هٰذَا الرَّجُلُ ؟]

خلکو له څه شوي؟ خلکو له څه شوي؟ (چه پدې علاقه کښې يو انتشار دے) دا سړے څوك دے؟ (او څه وائي؟) نو هغوی به جواب وکړو :

[يَزْعُمُ اَنَّهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ، اُوْحِيَ اِلَيْهِ، اَوْ اَوْحَى اللّٰهُ بِكَذَا]

دے گمان کوي چه دے د الله رسول دے او دهٔ ته وحی شويده يا الله ورته داسې وحی کړيده نو مونږ ته به ئې قرآن ولوستلو.

عمرو بن سلمه ﷺ چه يو کشر صحابي دے، وائي چه

[فَكُنْتُ اَحْفَظُ ذٰلِكَ الْكَلَامَ، فَكَاَنَّمَا يُغْرٰى فِيْ صَدْرِيْ]

نو دغه قرآن به ما ته داسې مضبوط ياديدو لکه گويا که هغه زما سينه پورې انبنلی (لکه د ټيپ او ريکارډ په شان، د عربو ذهنونه هم ښه وو او بيا خاصکر چه واړهٔ وو او مونږ د کفر حالت کښې وو ليکن قرآن به مې يادولو)

او عامو عربو به اسلام نهٔ راوړو بلکه د مکې د فتح انتظار به ئې کولو، دا به ئې وئيل :

[اُتْرُكُوْهُ وَقَوْمَهٗ، فَاِنَّهٗ اِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ]

دے او دهٔ قوم پريدئ که دے په هغوی باندې غالب شو نو دے به رشتينی نبي وی.
(او که په باطله وی نو قوم به پرې غالبه شي)

نو کله چه فتح د مکې وشوه نو خلك په منډه باندې اسلام کښې داخليدل شروع شو.

عمرو بن سلمه ﷺ وائي چه زما پلار د خپل ټول قوم نه مخکښې لاړو او ايمان ئې

راوړو، هرکله چه بیرته راواپس شو نو د رسول الله ﷺ صفت ئے وکړو چه د الله حق پیغمبر دے، او هغهٔ ما ته د مونځونو امر وکړو چه دا فلانے مونځ پدے وخت کښے او دا مونځ پدے وخت کښے کوئ۔ او زما پلار ووئیل چه ما ته ئے دا وفرمایل :

[فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ اَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمُّكُمْ اَكْثَرُكُمْ قُرآنًا]

کله چه د مانځه وخت راشی نو یو تن دِ پہ تاسو کښے اذان وکړی او تاسو ته دِ هغه څوك امامتی وکړی چه چا ته قرآن ډیر یاد وی،

نو زمونږ نور قوم هم ایمان راوړو نو دوئ چه وکتل چا ته هم ډیر قرآن نهٔ وو یاد، (ځکه نوی مسلمانان دی) نو ما ځان پیش کړو چه ما ته ډیر قرآن یاد دے،

ولے را ته ډیر یاد وو؟

[لِمَا كُنتُ اَتَلَقَّی مِنَ الرُّكْبَانِ]

ځکه چه قافلے والا به په مونږ تیریدل نو هغوی به (په لارو کښے) قرآن لوستلو او ما به یادولو، (دا د جاهلیت زمانه وه چه دهٔ ایمان لا نهٔ دے راوړے، روستو ئے ایمان راوړو)

نو زهٔ ئے جَمعے ته مخکښے کړم، او زهٔ د شپږو یا د اُوه (۷) کالو په عمر باندے وم، او ما باندے یوه شړئ وه کله چه به ما سجده وکړه نو هغه به زما نه راخکلے شوه

(نو شا ته کناتی به مے ښکاره کیدل او پدے کښے به زنانه هم جَمعو ته راتللے)

نو د محلے یوے زنانه (سړو ته اعلان وکړو)

[غَطُّوا عَنَّا اِسْتَ قَارِئِكُمْ]

مونږ نه ستاسو ددے قاری (صیب) کناتی پټ کړئ۔ (یعنی څه چنده وکړئ چه ددے هلك لـه څه جامه واخلو نو هغوی پیسے راجمع کړے) او ما دپاره ئے کپړه واخسته او ما دپاره ئے قمیص جوړ کړو نو زهٔ په هیڅ شی باندے دومره نهٔ وم خوشحاله خومره چه په دغه قمیص باندے خوشحاله شوم۔

[بخاری :۴۳۰۲]۔

فوائد : ○ د قرآن د یادولو دومره عجیبه فائده ده چه انسان ته ہے وخته مشری ورنصیب کوی۔

○ دا روایت دلیل دے چه د ماشوم امامت هم صحیح کیږی، په فرضو کښے وی او که په نفلو کښے۔

O دے نه معلومه شوه چه زنانه هم مسجد ته راتللے شی او د سړو سره په یو جماعت کښې شریك کیدلے شی، او دے باندے د صحابه کرامو اتفاق دے۔

O دے روایت نه معلومه شوه چه عربو ته الله تعالیٰ د دین او د رسول الله ﷺ د سنتو د حفاظت دپاره داسے دماغ ورکړی وو لکه د ټیپ ریکاډنګ په شان۔ پدے کښې رد دے په شبهاتو د منکرین حدیث۔

O دے روایت نه معلومه شوه چه عامو خلکو به د فتح د مکے انتظار کولو او لا اسلام به ئے نهٔ راوړو۔

نو پدے کښې وفود شروع شو۔

دلته به د هغه وفدونو تذکره کیږی چه په هغې کښې څه دینی او ایمانی او اخلاقی فائده وی، یا د عقل یوه فائده منه خبره پکښې شوے وی۔



۱- وفد عبد القیس :

یو پدے وفدونو کښې وفد د عبد القیس قبیلې وو، چه دا قبیله په بحرین کښې وسیدله (کوم چه مشهور ملك دے او دوئ ته مشرقي عرب وائی) دا خلك د مدینې نه ډیر وړاندے وو لیکن بیا ئے هم ایمان راوړے وو ځکه چه ډیر خیر والا خلك وو۔
او د ټولو نه ئے مخکښې ایمان راوړے وو۔
د ایمان راوړو سبب ئے دا وو چه د دوئ د علاقې نه یو تن حِبَّان بن مُنُقِذ به مدینې ته د تجارت دپاره راتللو نو دلته ئے وکتل چه خلکو ایمان راوړیدے او ناشنا زندګی ده، د عامو عربو نه ئے احوال جدا دی، د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو اخلاق ئے وکتل نو خپله ئے ایمان راوړو۔
نو بیا نبی ﷺ خپل قوم ته ولیږلو چه خپل قوم ته د اسلام دعوت ورکړی، او هغهٔ له ئے یو خط هم ورکړو، هغه چه کلی ته راغے، هغوی ته ئے دعوت ورکړو نو کلی کښې ډیرو کسانو ایمان راوړو، نو عبد القیس قبیلې غائبانه ایمان راوړو۔
بیا دوئ د رسول الله ﷺ ملاقات ته دوه کرته راغلل۔ یو ځل په پنځم (۵) کال د هجرت راغلل چه پدے وخت کښې دوئ تقریباً دیارلس (۱۳) یا څوارلس (۱٤) کسان وو،
رسول الله ﷺ د دوئ مدینې ته د رارسیدو نه مخکښې صحابه کرامو ته فرمایلی وو چه تاسو ته یو قافله راځی چه په مشرق والو کښې د ټولو نه بهتر دی، چه په اسلام باندے نهٔ دی مجبوره کړے شوی۔ هغوی خپلے سورلئ سترے کړیدی او خپله توښه ئے ختمه کړیده (ځکه چه د ډیر لرے دنیا نه راروان دی)
بیا ئے وفرمایل : اے الله عبد القیس ته بخنه وکړه !۔
دا خلك چه کله مدینې ته راورسیدل نو عامو ملګرو اُوښان په ځائے باندے پریخودل او نبی ﷺ ته ئے مسجد نبوی ته ورمنډه کړه او رسول الله ﷺ له ئے لاس ورکړو او هغه ئے ښکل هم کړو او سلام ئے ورته وکړو،

زارع بن عامر صحابی ﷛ وائی چه زهٔ پدے وفد کښے خپله وم،

[نُبَادِرُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ نُقَبِّلُ يَدَهٗ]

مونږ رسول الله ﷺ ته ورمنډه کړه چه مونږ د هغهٔ لاسونه خکلول،

(ددے نه معلومیږی چه د مشرانو او د مور او پلار او نیکانو خلکو لاسونه او تندے خکلول جائزدی، د رسول الله ﷺ نښے او سر او لاسونه خکل کړے شویدی، لیکن دے نه به انسان همیشه کار نهٔ جوړه وی، بلکه کله نا کله جائز ده، خو سر به ورته نهٔ خکته کوی بلکه د هغهٔ لاس به راپورته کوی، ځکه چه په تعظیم سره سر مخلوق ته خکته کول ناروا دی، د الله د توحید خلاف ده،

نبی ﷺ ددے نه منع فرمائیلے وه، صحابه کرامو عرض وکړو یا رسول الله

[اَيَنْحَنِىْ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ قَالَ لَا،]

[ابن ماجه رقم: ۳۷۰۲، حسن]

آیا یو بل ته به خکته کیږو، وے فرمایل : نه۔

په دے کښے د دویٔ مشر عبد الله بن عوف الاشج په نوم باندے هم ورسره وو،

(یا منذر بن عائذ ئے نوم وو (الروض الانف)

او امام نوویؒ او امام قرطبیؒ وائی چه ډیره صحیح دا ده چه دا مُنْذِر بن عائذ وو۔

(شرح مسلم للنوی، المفهم للقرطبی)

(او دے د عمر په لحاظ په ټولو کښے کشر وو) چه دهٔ ته ئے اشج عبد القیس وئیلو ځکه چه په سر باندے ئے د وړوکوالی نه زخم وو،

دے چه راغے نو دهٔ اول خپل اُوښان ځملول او په هغے باندے چه کومے کتے او پالانونه وو هغه ئے لرے کړل او اُوښان ئے وتړل او بیا لاړو غسل ئے وکړو، جامے ئے بدلے کړے، او په آرام راغے د رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو۔

هر کله چه رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو نو رسول الله ﷺ ددهٔ صفت وکړو او دا ئے ورته وفرمایل :

[اِنَّ فِيْكَ خَلَّتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ الْحِلْمُ وَالْاَنَاةُ]

په تا کښے دوه خویونه دی چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول ته خوښ دی، یو حلم دے (حلم دے ته وائی چه انسان له زر غصه نهٔ ورځی، د جاهلانو په خبره زر نهٔ غصه

کیږي) او دویم اَنَاة (هر کار په آرام باندې کول)۔ جلتي او بې صبري د الله خوښ نهٔ وي۔
هغهٔ وفرمایل :

یارسول الله [خُلُقَانِ تَخَلَّقْتُ بِهِمَا فِي الْإِسْلَامِ اَمْ جَبَلَنِيَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا]

دا دواړه داسې خویونه دي چه ما په اسلام کښې په ځان کښې پیدا کړیدي او که الله تعالیٰ زهٔ پدې باندې پیدا کړې یم۔

(ځکه چه صحابه کرامو چه به ایمان راوړو نو خپل هر بد عادت به ئې بدل کړو)

نبي ﷺ وفرمایل : [بَلْ جَبَلَكَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا]

بلکه تهٔ الله تعالیٰ پدې باندې پیدا کړې ئې۔

(یعنې دا فطري خویونه دي، چه د وړوکوالي نه الله تا ته درکړیدي، بعض صفات انسان کښې د وړوکوالي نه وي، او بعض صفتونه بنده په کوشش سره روستو ځان کښې پیدا کوي، لکه څنګه چه د ښو صفاتو ورکونکې الله دې، نو دغه شان مونږ ته ئې هم امر کړیدې چه تاسو ځان کښې د ښهٔ صفاتو د پیدا کولو کوشش وکړئ)

نو دهٔ وویل : [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَبَلَنِيْ عَلٰى مَا يُحِبُّ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ]

شکر دې هغه الله لره چه زهٔ ئې په هغه اخلاقو پیدا کړې یم چه الله او د هغهٔ رسول ئې خوښوي۔ دا خو ما سره د رب العالمین احسان دې۔

[صحيح السيرة النبوية ٦٣١ والنسيرة النبوية عرض ووقائع]

(فائده: رسول الله ﷺ دهٔ ته ددې خویونو صفت وکړو دې دپاره چه دې ئې نیت وکړي ځکه چه که په تا کښې ښکلې صفتونه وي او تهٔ د هغې د ثواب نیت نهٔ کوې نو بیا درته اجر نهٔ ملاویږي، او پدې کښې نورو ملګرو او امت ته دعوت وو چه تاسو داسې ښکلې صفات ځان کښې پیدا کړئ۔ د رسول الله ﷺ د دعوت ډیر عجیب انداز وو)۔

بیا دوئ تپوسونه وکړل او رسول الله ﷺ د هغې جوابونه ورکړل لکه روستو روایت ئې وضاحت کوي :

په حدیث د بخاري کښې دي : چه کله وفد د عبد القیس راغلو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

[مَنِ الْوَفْدُ اَوْ مَنِ الْقَوْمُ ؟]

تاسو څوك يئ ؟ نو دوئ وويل : مونږ د ربيعه قبيلے نه يو،

نبي ﷺ وفرمايل : [مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ اَوْ بِالْوَفْدِ، غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامٰى]

مرحبا دِے وی دے خلکو یا دے وفد دپاره، چه الله دِے دوئ ونۀ شرموی او نۀ دے ئے ملامته کړی۔

نو دوئ وویل اے د الله رسوله !

[اِنَّا نَأْتِيْكَ مِنْ شُقَّةٍ بَعِيْدَةٍ وَاِنَّ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هٰذَا الْحَىَّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ]

مونږ تا ته د ډیر لرے علاقے نه راغلی یو او زمونږ او ستا ترمینځ د مضر قبیلے کفار دی، (دوئ سره زمونږ دشمنی ده، دا ئے د ترونو ځامن وو، ځکه چه مضر د ربیعه ورور دے)

نو مونږ تا ته صرف په (څلورو) عزتمنو میاشتو کښے راتلے شو،

(عربو به هم پدے کښے جنګ جګړے نۀ کولے او دا د الله تعالیٰ حکم اُوس هم دے چه پدے کښے ابتداء د قتال ناروا ده)

[فَمُرْنَا بِاَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرُ بِهٖ مَنْ وَرَائَنَا نَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ]

نو مونږ ته داسے غوڅه خبره وکړه (یا تفصیلی خبره وکړه) چه په هغے سره مونږ خپل روستو خلکو ته حکم وکړو او د هغے په وجه جنت ته داخل شو۔

(او دوئ د جاهلیت د زمانے د شرابو د لوښو استعمالولو په باره کښے تپوس وکړو چه آیا مونږ هغه استعمالولے شو او که نۀ)

نو رسول الله ﷺ دوئ ته په څلورو خبرو حکم وکړو (بیا ئے ورته پنځمه هم زیاتی وکړه) اول ئے ورته په ایمان باندے حکم وکړو، او هغوی نه ئے تپوس وکړو :

[اَتَدْرُوْنَ مَا الْاِيْمَانُ ؟] آیا تاسو پوهیږئ چه ایمان څه ته وائی؟

هغوی وویل : الله او د هغۀ رسول ښۀ پوهیږی۔(یعنی تۀ ئے راته بیان کړه، یعنی اګرکه ورته معلوم دے لیکن د رسول الله ﷺ ادب کوی)

نو وے فرمایل :

[شَهَادَةُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ وَاِقَامُ الصَّلَاةِ وَاِيْتَاءُ الزَّكَاةِ وَصَوْمُ رَمَضَانَ]

ددے گواهي ورکول چه د الله نه سوئ بل حقدار د بندګئ نشته او محمد ﷺ د الله رسول دے، او مونځ قائمول او زکاة ورکول او د رمضان میاشت روژے نیول)

(حج ئے ذکر نکړو ځکه چه پدے زمانه کښے لا حج فرض شوے نۀ وو)

پنځم دا چه : [وَأَنْ تُؤَدُّوا خُمُسًا مِنَ الْمَغْنَمِ]

تاسو چه جهادونه کوئ او غنیمت ونیسئ نو پدے کښے به پنځمه حصه بیت المال ته ورکوئ۔ (څلور حصے به د مجاهدینو وی)۔

او د څلورو لوښو نه ئے منع کړل چه روستو زمانه کښے رسول الله ﷺ هغه هم منسوخ کړل او د هغے د استعمالولو اجازه ئے ورکړه۔

دوئ ئے د حَنْتَم او دُبَّاء او مُزَفَّتُ او نَقِيْر نه منع کړل۔ (یعنی شین منګے د شرابو، او هغه چه د کدو نه جوړ شوے وی، او چه تارکول ترے تاؤ شوی وی، او هغه چه د لرګی نه توګلے شوے وی، دے لوښو کښے به دوئ پخوا شراب جوړه ول)

روستو زمانه کښے دے لوښو کښے هم اُوبه وغیره اچول جائز شو کله چه دا صفا وینځلے شی۔

لیکن دوئ ئے ددے لوښو د استعمال نه پدے وجه منع کړل چه دوئ ته شراب رایاد نشی ځکه چه کله یو تن یوه ګناه پریدی مثلاً نسوار او بیا هم د نسوارو ډبے او ګوتئ جیب کښے ګرزوی نو هر وخت به ئے دے ته فکر کیږی، نو کیدے شی چه دوباره ئے بیا شروع کړی نو ډبے هم ورپسے ختم کړه چه هر څه درنه هیر شی، د ګناه نه ډِے توبه اُوخکله نو د ګناه سامان هم ختم کړه، او د ګناه هغه ځائے ته هم مۀ ورځه بیا به درته ګناه نۀ رایادیږی)

صاحب د "الروض الانف" (عبد الرحمن السهیلیؒ) لیکی :

ددے وفد سره جَهْم بن قُثَم هم راغلے وو هرکله چه نبی ﷺ دوئ لره ددے لوښو نه منع کړل او دا ئے ورته ووېل چه کله یو تن شراب وڅکی نو بیا یو تن راولګی او د ترۀ خوی زخمی کړی، او پدے خلکو کښے دغه جَهم بن قُثَم سره دغه شان کار شوے وو چه د ترۀ خوی زخمی کړے وو لیکن دۀ به خپل زخم پټ ساتلو هرکله چه نبی ﷺ دا خبره وکړه، نو دوئ د نبی ﷺ د علم نه او د هغۀ دے سرِی ته د اشارے کولو نه تعجب وکړو۔

او په دوئ کښې اَبُوْ خَيْرَةَ الصُّبَاحِي د بنو صُبَاح بن لُكَيْز نه هم راغلے وو هغه فرمائی :

نبی ﷺ وفرمایل : [اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِ الْقَيْسِ]

اے الله ! عبد القیس قبیلے ته بخنه وکړه، او کله چۀ دوئ واپس کیدل نو رسول الله ﷺ دوئ ته د ممانړے د ونے مسواکونه ورکړل چه دا استعمالوئ.

دا وفد چه کله راغلو نو رسول الله ﷺ د دوئ سره دومره مشغول شو چه د ماسپخین روستنی سنت ترے پاتے شول تردے چه هغه ئے د مازیګر مانځه نه روستو وکړل.

[صحيح السيرة النبوية ص : ٦٣٥]

دا وفد ابتدائی وو.

دویم ځل د عبد القیس قبیلے وفد په عام الوفود کښې راغلے وو او هغوی ځلویښت (٤٠) کسان وو او په دوئ کښې یو نصرانی عالِم جارود بن عمرو عبدی هم وو، (ابن اسحاق) بعض وائی : جارود بن علاء عبدی نوم ئے دے، او بعض جارود بن بشر ذکر کوی. (ابن هشام) الدرر، الروض الانف) دے ډیر فصیح او بلیغ شخص وو، د نبی ﷺ سره ئے په ډیر ناشنا فصاحت او بلاغت سره خبرے وکړے.

نبی ﷺ سره چه کله ملاؤ شو نو نبی ﷺ ورته د ایمان دعوت او ترغیب ورکړو نو هغۀ ووئیل :

[يَا مُحَمَّدُ اِنِّىْ قَدْ كُنْتُ عَلٰى دِيْنٍ وَاِنِّىْ تَارِكٌ دِيْنِىْ لِدِيْنِكَ، أَفَتَضْمَنُ لِىْ دِيْنِىْ؟]

اے محمد ! زۀ خو په یو دین باندے روان یم، (چه نصرانیت دے) نو زۀ چه خپل دین ستا دین ته پریدم نو آیا تۀ به زما ذمه وارئے (د الله نه به مے خلاص کړے؟)

نبی ﷺ وفرمایل : آؤ، زۀ ذمه واریم چه الله تا ته داسے دین طرفته هدایت وکړو چه هغه ستا د دین نه غوره دے. (دے دین ته چه رانئوتے نو الله به دِ جنت ته داخلوی)

او په یو روایت کښې دی : دۀ ووئیل : زۀ خو خپل دین ستا دین دپاره پریدم خو دا راته ووایه چه آیا پدے سره به زما ګناهونه او جرمونه معاف شی او رب به رانه راضی شی؟

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : زۀ ددے ذمه واریم، خو تۀ د اُوس نه د الله دپاره وحدانیت خالص کړه او د نصرانیت دین پریده.

نو جارُود ووئیل :

[فِدَاكَ اَبِیْ وَاُمِّیْ مُدَّ یَدَكَ فَاَنَا اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّكَ مُحَمَّدٌ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ]

(زما مور او پلار دې ستا نه قربان شي، لاس را اُوږد کړه، زۀ ګواهي کوم چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه یواځې دے، هیڅ شریك ورله نشته، او زۀ ګواهي کوم چه تۀ د الله بنده او د الله رسول ئے۔ (السیرة النبویة لابن کثیر)

نو هغۀ ایمان راوړو او هغۀ سره راغلو ملګرو هم ایمان راوړو، نو نبي ﷺ د دوئ په اسلام ډیر زیات خوشحاله شو او د دوئ ئے دومره اکرام وکړو چه دوئ هم په هغے سره ډیر زیات خوشحاله او تازه شو۔

بیا خپل کلی ته لاړل، ددۀ چه کوم تابعدار خلك وو هغوی ته ئے دعوت ورکړو هغوی هم ایمان راوړو۔

دوئ بیا تپوس وکړو چه اے د الله رسوله! مونږ چه په لاره ځو نو د خلکو نه اُوښان ورك شوی وی او مونږ ته ملاؤ شی، نو آیا مونږ هغه ځان سره بوتللے شو چه ځان پرے خپلو علاقو ته ورسوو؟ نبي ﷺ وفرمایل:

[اِیَّاكَ وَاِیَّاهَا]

د هغے سره کار مۀ لرئ۔

[فَاِنَّمَا تِلْكَ حَرَقُ النَّارِ]

دا خو د اُور خشاك دی۔

(یعنی د ورك شوو اُوښانو لُقطه (راخستل) نشته، ځکه چه هغه خپل ځان په ځنګلاتو کښے ساتلے شی تردے چه مالك ته به یوه ورځ ملاؤ شی، د هغے سره په خیټه کښے د اُوبو مشکیزه هم شته او د ځټ د اُوږدوالی په وجه د ونو نه خوراك هم کولے شی، او نۀ ئے درنده ګان ماتولے شی۔

لقطه د هغه شی وی چه هغه ضائع کیږی، نو بیا ترے مسلمان له فائده اخستل پکار دی، لکه ګډه بزه، یا یو بل شے)۔

بیا دا جارود ډیر ښکلے مسلمان شو او تر مرګه پورے په دین باندے ډیر کلك ولاړ وو تردے چه کله د ابوبکر صدیق ﷺ په زمانه کښے ددۀ په قوم (عبد القیس) کښے څوك مرتد شو نو دے په خپل قوم کښے راپاڅیدو او د اسلام اعلان ئے وکړو او دے طرف ته ئے

دعوت ورکړو او د هغه چا نه ئې د بیزارئ اعلان وکړو چه څوك ددهٔ په قوم کښې مرتد شوی وو او دے او ددهٔ خاندان په اسلام باندے مضبوط پاتے شو۔

(الاکتفاء، السیرة النبویة)

ددے خلکو فضیلت دا دے عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه د مسجد نبوی نه روستو د تهولو نه اول د جُمعے مونځ د دوئ په مسجد کښې شویدے (مسجد عبد القیس) چه دا په بحرین کښې د "جُوَاثیٰ" نومے کلی کښې واقع دے۔

[بخاری: ٤٣٧١]

۲- وَافِد د بنی سَعْد

ضمام بن ثعلبه ﷺ (سنه ٥ هجری)

یو مختصر وفد چه په صحیح حدیث کښې راغلے دے هغه د بنو سعد بن بکر بن هوازن دے، دا یوه قبیله وه چه په دے کښې د نبی کریم ﷺ رضاعی مور (حَلِیمَه سَعدیه) هم وه۔ دلته رسول الله ﷺ د وړوکوالی زندګی تیره کړے وه، دے خلکو هم وفد راولیږلو۔

ددے خلکو د وفد وجه دا وه چه دوئ ته رسول الله ﷺ یو سړے ورولیږلو چه تهٔ لاړ شه او هلته وسیږه او خلکو ته اسلام وښایه۔

(په هغه زمانه کښې د دعوت طریقه دا وه چه یو تن به ئې ولیږلو او په یو کلی کښې به ئې دیره کړو، خلکو ته به ئې قرآن خودو او احکام د دین، چه مونځ داسے کوئ او پدے وخت کښې ئې کوئ او زکاة داسے ورکوئ او اذان پدے طریقه کوئ او روژه داسے نیسئ)۔

دے سړی قوم ته دعوت ورکړو نو خلك اسلام ته تسلیم شو چه اسلام مونږ منو، خو خپل مینځ کښې ئې مشوره وکړه چه یو تن به ولیږو او هغه به د نبی ﷺ سره ملاؤ شی او هغهٔ نه به تصدیق وکړی چه دا سړے چه هغه رالیږلے دے نو دے چه کومے

خبرے بیانوی دا رشتیا دی او که دیے د ځان نه راغلے دیے،

نو پدیے کښیے یو هوښیار سړیے وو چه هغهٔ ته ئے صاحب الفراسة وئیلو، ضمام بن ثعلبه ﷺ۔ (فراست والا هغه څوك دیے چه خلك د خبرو او د وضع رفع او د ناستے پاستے نه پیژنی)،

هغه ئے دیے دپاره راولیږلو چه محمد رسول الله ﷺ وګوری چه دا په رشتیا رسول دیے او که نهٔ، چرته ساحر یا بادشاه نهٔ وی۔

نو دا ئے یواځے راولیږلو، هغه چه راغے د مسجد نبوی د دروازیے په خوا کښیے ئے اُوښ کینولو بیا ئے هغه وتړلو بیا مسجد نبوی ته ننوتو او نبی ﷺ مسجد نبوی کښیے د ملګرو سره یو شان ناست دیے،

(لکه د نبی ﷺ عادت مبارکه دا وو چه د نورو ملګرو سره به یو شان کیناستو او د هغوئ نه به متمیز (جدا) نهٔ وو۔ نو دا پته به نهٔ لګیده چه کوم یو پکښیے رسول الله ﷺ دیے۔ لکه بادشاهانو باندیے خاص جامیے وی او تاج ئے په سر وی۔ نو د نبی ﷺ ساده ژوند وو)۔

او دا ضمام بن ثعلبه ﷺ چالاك، ډیرو وینښتو والا وو چه دوه کوڅئ ئے جوړیے کړیے ویے، نو دهٔ تپوس وکړو: [اَیُّکُمُ ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ ؟]

په تاسو کښیے د عبد المطلب څوی کوم یو دیے ؟

(د رسول الله ﷺ د نیکهٔ نوم ئے واخستو، ځکه چه عبد المطلب مشهور وو)

صحابه کرامو ورته ووئیل: [ذٰلِكَ الرَّجُلُ الْاَبْیَضُ الْمُتَّكِیُٔ]

دغه سپین سړیے چه تکیه ئے وهلے ده۔

(دیے نه د خپلو شاګردانو ملګرو سره په مجلس کښیے تکیه لګولو جواز معلومیږی)

نو هغه راوړاندیے شو او دا ئے ورته ووئیل: [یَا ابْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ]

اے د عبد المطلب څویه! (یعنی تهٔ د عبد المطلب څوی ئے، محمد ئے ؟) نبی ﷺ وفرمایل:

[قَدْ اَجَبْتُكَ]

ما تا ته جواب درکړو، (یعنی آؤ زهٔ د عبد المطلب څوی محمد یم، او تا له به جواب درکوم چه څه وائے وایه) نو دهٔ ووئیل:

[اِنِّیْ سَائِلُكَ فَمُشَدِّدٌ (وَفِیْ رِوَایَةٍ فَمُغَلِّظٌ) عَلَیْكَ فِی الْمَسْأَلَةِ فَلَا تَجِدْ عَلَیَّ فِیْ نَفْسِكَ]

زۀ ستا نه تپوسونه کوم او په تا باندے به په تپوس کښے سختی کوم خو په زړۀ کښے به خفګان او غصه نۀ کوے. نبی ﷺ ورته وفرمایل : زۀ نۀ غصه کیږم،

[فَسَلْ عَمَّا بَدَا لَكَ]

نو تپوس کوه څه چه ستا خوښه وی.

(دا هم ددۀ هوښیارتیا ده چه د مخکښے نه مقدمه کیږدی او هغه متوجه کړی) .

نو دۀ ساده تپوسونه شروع کړل.

(او صحابه کرام وائی چه مونږ به دا خوښول چه د باندو نه یو هوښیار سړے راشی او هغه تپوسونه وکړی او مونږه ئے آورو).

نو دۀ وویل : اے محمد ! مونږ ته ستا استازے راغلے وو او هغه وائی چه تۀ دا ګمان کوے چه تۀ الله رسول رالیږلے ئے.

نبی ﷺ وفرمایل : هغه رشتیا وائی.

بیا دۀ وویل : [فَمَنْ خَلَقَ السَّمَاءَ ؟]. آسمان چا پیدا کړے؟

نبی ﷺ وفرمایل : الله،

بیا دۀ وویل : [فَمَنْ خَلَقَ الْأَرْضَ ؟] . زمکه چا پیدا کړے ؟

نبی ﷺ وفرمایل : الله.

دۀ وویل :

[فَمَنْ نَصَبَ هٰذِهِ الْجِبَالَ وَجَعَلَ فِیْهَا مَا جَعَلَ] .

غرونه چا ودرولی دی او پدے کښے دا فائدے چا اچولی دی؟

نبی ﷺ وفرمایل : الله.

نو اُوس ورله قسم ورکوی، یعنی داسے لوی ذات شته چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړے او غرونه ئے ودرولی او قسما قسم فائدے ئے پکښے اچولی دی (لکه دا د هوښیارو خلکو طریقه وی چه کله د یو تن ذهن جوړه وی نو د برے نه خبر رانیسی او دا د قرآن کریم طریقه هم ده) نو دۀ وویل :

[فَبِالَّذِیْ خَلَقَ السَّمَاءَ وَخَلَقَ الْأَرْضَ وَنَصَبَ هٰذِهِ الْجِبَالَ، آللّٰهُ اَرْسَلَكَ ؟].

نو تا ته په هغه لوی ذات قسم درکوم چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړے او دا غرونه ئے ودرولی دی، آیا تهٔ الله نبی رالیږلے ئے؟
نو نبی ﷺ وفرمایل : [نَعَمْ] ـ آؤ۔
(زهٔ د الله نـوم گواه کوم چه زهٔ د الله رسول یم) نو ددهٔ یقین راغے ځکه چه عربو کښے د صدق ماده وه او خاصکر چه کله به ورته په الله باندے قسم ورکړے شو نو پدے به ئے ډیر یقین وو۔
نو دهٔ وویل : زهٔ گواهی ورکوم چه د الله نه ماسویٰ بل اله نشته او تهٔ د الله رسول ئے۔
بیا ئے ورتـه ووېـل : ستـا استازے وائی چـه مـونږ بـه پـه ورځ او شپـه کښے پنځـه مونځونه کوو؟ نبی ﷺ وفرمایل : هغه رشتیا وائی۔
نو دهٔ د تاکید دپاره ووېل :
[فَبِالَّذِیْ اَرْسَلَكَ آللّٰهُ اَمَرَكَ بِهٰذَا ؟]
تا ته په هغه الله قسم درکوم چه تهٔ ئے رالیږلے ئے آیا الله تا ته پدے خبره حکم کړیدے؟
نبی ﷺ وفرمایل : آؤ، بیا هغهٔ ووېل : ستا استازے وائی چه په مونږ باندے زمونږ په مالونو کښے زکاة لازم دے۔
نبی ﷺ وفرمایل : هغه رشتیا وائی۔
نو دهٔ ووېل : [فَبِالَّذِیْ اَرْسَلَكَ آللّٰهُ اَمَرَكَ بِهٰذَا ؟]
نـو تـا تـه پـه هـغـه الله قسم درکوم چه تهٔ ئے رالیږلے ئے چه آیا الله تا ته پدے باندے امر کړیدے؟ نبی ﷺ وفرمایل : آؤ،
(یو بل روایت د مسلم کښے دی :
[اَنْشُدُكَ اللّٰهَ آللّٰهُ اَمَرَكَ اَنْ تَأْخُذَ هٰذِهِ الصَّدَقَةَ مِنْ اَغْنِیَائِنَا فَتَقْسِمَهَا عَلٰی فُقَرَائِنَا ؟]
تـا تـه پـه الله قسـم درکوم چه آیا الله تا ته پدے امر کړے چه تهٔ دا زکاة زمونږ د مالدارو نه واخلے او زمونږ په فقیرانو ئے تقسیم کړے؟
رسول الله ﷺ وفرمایل : [اَللّٰهُمَّ نَعَمْ] آؤ۔ (همداسے ده)
بیـا ئے ووېل : ستا استازے وائی چه په مونږ باندے به په کال کښے یوه میاشت روژے (د رمضان) لازم وی۔ نبی ﷺ وفرمایل : هغهٔ رشتیا وئیلی دی۔
نو دهٔ ووېل : [فَبِالَّذِیْ اَرْسَلَكَ آللّٰهُ اَمَرَكَ بِهٰذَا ؟]

نو تا ته په هغه الله قسم درکوم چه تهٔ ئې رالیږلے ئې چه آیا الله تا ته پدې باندې امر کړیدې؟ نبي ﷺ وفرمایل: آؤ،

هغهٔ وویل: ستا استازې وائي چه په مونږ باندې د بیت الله حج دے څوك چه دے ته د لارې طاقت لري۔ نبي ﷺ وفرمایل: هغه رشتیا وائي۔

بیا دغه سړے روان شو۔ نو وې وئیل:

[وَالَّذِیْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَزِیْدُ عَلٰی هٰذَا وَلَا اَنْقُصُ مِنْهُ شَیْئًا]۔

قسم په هغه الله چه تهٔ ئې په حق سره رالیږلے ئې زهٔ به پدې باندې زیادت نکوم او نهٔ به ددې نه کم والے کوم۔

نو نبي ﷺ (ملګروته) وفرمایل:

[لَئِنْ صَدَقَ لَیَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ]

که دا سړے چرته رشتیا وائي نو خامخا به (پدې اعمالو سره) جنت ته داخل شي۔

دا اعمال د جنت د داخلیدو ذمه واري اخلي۔ (د جنت په شان قیمتي او د هر قسم خوشحالئ او د مزو ځائې پدې لږو اعمالو ورکوي دا د الله ډیره زیاته مهرباني ده)

بیا دا ددې سړي پورې خاص نهٔ ده بلکه هر مؤمن چه ایمان راوړي او دا اعمال کوي نو دا د هغهٔ دپاره د جنت ذریعه ده۔

[صحیح بخاري رقم: ٦٣، صحیح مسلم: ١١١]

(په یو روایت کښې دي چه دهٔ وویل: چه ما په هغه څه ایمان راوړے چه تا پرې راتلل کړیدي، او زهٔ د خپل د طرف نه استازے رالیږلے شوے یم۔ او زما نوم ضمام بن ثعلبه دے۔ (الانوار في شمائل النبي المختار رقم: ٤٧١، باسناد صحیح)

صاحب د ”الروض الانف“ لیکي: نو دے راووتو او خپل اُوښ ئې راکولاؤ کړو او راروان شو خپل قوم ته راغلو نو هغوی ورته راجمع شو، نو اوله خبره چه دهٔ وکړه هغه دا وه چه وې وئیل:

[بِئْسَ اللَّاتُ وَالْعُزّٰی]

لات او عزیٰ ډیر ناکاره څیزونه دي۔ خلکو ورته وویل:

[مَهْ یَا ضِمَامُ! اِتَّقِ الْبَرَصَ، اِتَّقِ الْجُذَامَ، اِتَّقِ الْجُنُوْنَ]

مه اے ضمامه! داسے خبرے مه کوه، د برگی بیماری، د جذام او د لیونتوب نه ویریږه (دا باباگان به دِے لیونے کړی او مړ به دِے کړی)۔

نو دهٔ ورته وویل :

[وَيْلَكُمَا إِنَّهُمَا وَاللهِ لَا يَضُرَّانِ وَلَا يَنْفَعَانِ]

هلاك شئ دا دواړه قسم په الله هیڅ ته نهٔ ضرر ورکولے شی او نهٔ فائده۔

[إِنَّ اللهَ قَدْ بَعَثَ رَسُوْلًا وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ كِتَابًا اِسْتَنْقَذَكُمْ بِهٖ مِمَّا كُنْتُمْ فِيْهِ]

الله یو رسول رالیږلے دے او په هغهٔ باندے ئے کتاب نازل کړے چه تاسو ئے ددے گندونو نه خلاص کړی یئ۔ او زهٔ دا گواهی ورکوم چه نشته حقدار د بندگئ سوی د الله نه یواځے دے، هیڅ شریکان ئے نشته، او محمد ﷺ د الله بنده او د هغهٔ رسول دے، او ما تاسو ته د هغهٔ د طرف نه هغه حکمونه راوړی چه په څه باندے ئے امر کړے او د څه نه ئے منع کړے۔

[فَوَاللهِ مَا أَمْسٰى مِنْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ فِيْ حَاضِرِهٖ رَجُلٌ وَلَا امْرَأَةٌ إِلَّا مُسْلِمًا]

نو قسم په الله د دغهٔ ورځے ماښام لا راغلے نهٔ وو چه ددهٔ په کلی کښے هر سړے او هره ښځه مسلمانه شوه۔

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به فرمایل :

[فَمَا سَمِعْنَا بِوَافِدِ قَوْمٍ كَانَ أَفْضَلَ مِنْ ضِمَامِ بْنِ ثَعْلَبَةَ]۔

مونږ د ضمام بن ثعلبه نه غوره استازے د یو قوم نهٔ دے آوریدلے۔

[الروض الانف ۴/۳۵۳، الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله ۲/۲۸۱]

فوائد :

○ددے نه دا معلومیږی چه د صحابه کرامو په زمانه کښے به د علم د طلب دا طریقه وه چه یو تن به ئے ولیږلو هغهٔ به علم زده کړو (آسان علم به وو) او هغه به راغلو، خپل کور او کلی کښے به ئے بیان کړو نو خلکو به ورسره وومنلو۔ ډیره آسانه طریقه ده۔

○دے ته خبر واحد وائی، نو د یو تن خبره منل هم په اسلام کښے شته دے، بعض ناپوهه ملیانو دا خبره جوړه کړیده چه د یو تن خبرے له اعتبار نهٔ وی، ځکه چه دے کښے شك وی، حدیثونو ته ئے چل جوړ کړے چه دا مونږ نشو منلے، لیکن د نبی ﷺ د زندگئ نه دا معلومیږی چه هغه زمانه کښے به د یو کس خبرے له هم اعتبار وو چه

کله صحیح مسلمان وی او دروغ نهٔ وائی۔

O او دئے نـه دا هم معلومه شوه چه په واسطے سره علم زدهٔ کول هم یوه طریقه د علم د طلب ده۔

O او اصل علم دا دے چه تهٔ د توحید مسئلے، د مانځه او د زکاة او د روژے او د حج او نور عبادات زده کړے، خلك علمونه نور څیزونو ته وائی)۔

د ضمام بن ثعلبه د راتللو په کال کښے اختلاف دے،

ځینی وائی : دا په پنځم کال د هجرت راغلے وو (واقدیؒ)

او ځینی اوم (۷)، او ځینی نهم (۹) کال ذکر کوی۔ الله اعلم۔

(الاکتفاء)

۳- د بنو عامر بن صعصعه وفد :

بـنـو عامر خپل مشر ته راجمع شو چه د دوئ مشران درے کسان وو، عامر بن طفیل (دا هـغه سړے وو چه د بئر معونه والا صحابه کرامو سره ئے دهوکه کړے وه) او اربد بن قیس (چه دا د لبید ﷺ مور شریکے ورور دے) او جبار بن اسلم یا جبار بن سلمی، دا درے واړه د خپل قوم رؤساء (سرداران) او د هغوی شیطانان وو۔

نـو دوئ خپـل مـینـځ کښے وویل چه ټولو خلکو په دے شخص باندے ایمان راوړو که مـونـږ داسے پاتے شو نو ډیر به تنگ شو لکه یوه جزیره کښے چه څوك راگیر شی۔ نو راځئ چه پدے نبی باندے ایمان راوړو، د جنگونو او لانجو نه به خلاص شو۔

نـو دوئ یـو وفـد تـیـار کـړو چه د رسول الله ﷺ ملاقات ته ورشی، ډیر کسان ئے ځان سره روان کـړل، دا دوه درے مشـران هـم پـکښـے دی، دا درے واړه مشـران انـتـهائی ناکاره خلك وو،

(کـلـه چه د یو قوم یا د یوے علاقے مشران ناکاره شی نو دے خلکو ته الله تعالیٰ په بد نظر باندے کتلی وی، او دا د رب العالمین عذاب وی)

نو پدے کښې اولنی دوه مشران د قوم نه جدا شو او خپل مینځ کښې ئې مشوره کوله، عامر بن الطفیل ډیر متکبر انسان وو نو ارېد ته ئې ووېل : [وَاللّٰهِ لَا اُسْلِمُ]
قسم په الله زما خو د اسلام اراده نشته۔ او قوم ته ئې هم دا خبره وکړه :
[وَاللّٰهِ لَقَدْ كُنْتُ آلَيْتُ اَلَّا اَنْتَهِيَ حَتّٰى تَتَّبِعَ الْعَرَبُ عَقِبِيْ، فَاَنَا اَتَّبِعُ عَقِبَ هٰذَا الْفَتٰى مِنْ قُرَيْشٍ]
قسم په الله ما خو دا قسم کړے وو چه زۀ به نۀ منع کیږم تردے چه عرب به ما پسے زاروان وی، نو اُوس به زۀ څنګه د قریشو ددے ځوان پسے روان شم۔
(د ریاست او مشوئ پسے ړوند وو)
خو ځئ چه تاسو وایئ نو وربه شو۔ نو عامر ارېد ته پټ ووېل چه زۀ خو ایمان نۀ راوړم، نو ارېد ورته ووېل چه زۀ ئې هم نۀ راوړم۔
نو دواړو دا صلاح وکړه چه زۀ به دا نبی ﷺ یو طرف ته کړم پدے بهانه چه مونږ درسره خبره کوو او تا سره به توره وی نو تۀ به پرے حمله وکړے او دا نبی (ﷺ به (العیاذ بالله) قتل کړے، دیته اغتیال سِری وائی۔
نو چه مشر مو ورله ختم کړو بیا دا ټول ختم دی،
(لیکن الله تعالیٰ وعده کړے وه چه الله به خپل نبی د خلکو د وژلو نه ساتی)
کله چه دا وفد راغلو نو عامو کسانو کشرانو ایمان راوړو (ځکه چه هغوی ساده ګان وی، خالی الذهن وی، بل کوم غلط غرض نۀ لری)
نو دے دواړو مشرانو کښې ورته عامر بن الطفیل ووېل : [يَا مُحَمَّدُ خَالِنِيْ]
اے محمد ما سره یواځے شه۔
(د الله نبی پرے پوهه شو چه ددے شخص د شر اراده ده ځکه چه هغۀ ته الله فراست او هوښیارتیا ورکړے وه، هسے خو ورته نبوت نۀ وو ملاؤ شوے)
نو نبی ﷺ وفرمایل : [لَا حَتّٰى تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ]
نه، زۀ نۀ یواځے کیږم ترڅو چه تا په یواځے الله باندے ایمان نۀ وی راوړے۔
(ایمان راوړه، کفر او فساد پریده) خو هغۀ ایمان نۀ راوړو او دا خبره ئې بیا وکړه :
[يَا مُحَمَّدُ خَالِنِيْ] اے محمد ! ما سره یواځے شه۔

او دے کښې دا اربد تاوېږي راتاوېږي چه د حملې موقعه وګوري۔ لیکن موقعه ورته ملاؤ نشوه۔ هرکله چه عامر پوهه شو چه اربد هیڅ ونکړل نو بیا ئے وویل : اے محمد ما سره یواځې شه نو نبي ﷺ د دوئ نه انکار وکړو چه زۀ نۀ یواځې کیږم ترڅو چه تۀ په یو اځې الله باندې ایمان راوړې،

هرکله چه عامر بن الطفیل پوهه شو چه نۀ یواځې کیږي، نو دلته ئے نبي ﷺ ته درې خبرې وکړې :

○یو دا چه زۀ به هله ایمان راوړم چه [اِنَّ لِیَ الْوَبَرَ وَلَكَ الْمَدَرَ]۔

په بانډو به زما بادشاهي وي او په سمو او ښارونو به ستا بادشاهي وي۔ یعنې نیمه بادشاهي راکړه۔

نبي ﷺ وفرمایل : دا نشي کیدے،

○هغۀ وویل : او که دا نۀ وي نو بیا دویم کار وکړه :

[وَاِمَّا اَنْ تَجْعَلَ لِیَ الْاَمْرَ بَعْدَكَ]

چه تۀ وفات شوے نو زۀ به ستا په ځائے خلیفه یم،

(بادشاهي به بیا زما په لاس کښې وي، رسول الله ﷺ په ډومره تکلیف باندې خلافت اسلامي قائم کړو او دا شری پکښې په تیاره حصے غواړي، او هغه خرابول غواړي)

رسول الله ﷺ ورته وویل : دا کار نۀ تا ته او نۀ ستا قوم ته حواله دے، دا خو د الله خوښه ده چه چرته ئے ګرزوي او چا له ئے ورکوي۔

○ هغۀ وویل : او که دا هم نۀ کوے :

[وَاِمَّا اَنْ اَغْزُوَكَ بِغَطْفَانَ بِاَلْفِ اَشْقَرَ وَاَلْفِ شَقْرَاءَ]

نو یا به درپسے د غطفان قبیله راولم چه په هغې کښې زر (۱۰۰۰) اسونه او زر (۱۰۰۰) اسپو باندے سوارۀ خلك دي،

(ګویا که دوه زره تینکونه به درپسے راولم) (صحیح بخاری) (امتاع)

او په یو روایت کښې دي : دۀ وویل :

[وَاللّٰهِ لَاَمْلَاَنَّهَا عَلَیْكَ خَیْلًا وَرِجَالًا]

قسم په الله زهٔ به دا مدینه تا ته د اسونو او د پیاده خلکو نه ډکه کړم۔
(ابن کثیر، وابن هشام)
رسول الله ﷺ ددے یوے خبرے هیڅ پرواه ونکړه، البته چه کله دوئ روان شو ښیرے ئے ورته وکړے۔
[اَللّٰهُمَّ اكْفِنِیْ شَرَّ عَامِرِ بْنِ الطُّفَیْلِ]
اے الله ! ما د عامر بن الطفیل د شر نه وساته، (فسادی دے، ورانے او فساد جوړه وی)
او د اربد د شر نه مو وساته۔ نو دواړه روان شو چه خپل کلی ته تلل (ددے وفد نه څه کسانو ایمان راوړو او څه ددے مشرانو ملګری دی)
هر کله چه دوئ راروان نو عامر بن الطفیل اربد ته دا خبره وکړه چه تا ته ما نهٔ وو وئیلی چه زهٔ به دا سړے مشغوله کړم نو تهٔ به ئے په توره ووهے، نو ما مشغوله کړے وو نو تا ولے نهٔ وهلو؟ هسے تاوېدے راتاوېدے، نو اربد ورته ووئیل: قسم په الله چه کله به ما دا اراده وکړه چه زهٔ پرے د تورے ګوزار وکړم نو تهٔ به مخے ته راتللے، زما توره به ستا په سر باندے برابریدله، [اَتُرِیْدُ اَنْ اَضْرِبَكَ ؟]
نو آیا ستا اراده ده چه تا په توره ووهم ؟۔
(دے ته معجزه وائی، الله د خپل نبی حفاظت کولو)
پدے کښے دوئ یوے علاقے ته ورسیدل چه په هغے کښے یو قوم وسیدو چه هغوئ ته ئے بنو سلول وئیل، چه دا خلك په غدر او دهوکه او خیانت باندے مشهور وو،
نو د دوئ هلته شپه راغله،
الله تعالیٰ د نبی ﷺ ښیرے په عامر بن الطفیل باندے ولګولے نو پدے یوه شپه کښے په دهٔ باندے په څټ کښے طاعون راوختلو،
(طاعون یوه وباء ده چه په سری باندے دانه راوخیژی لکه اُوښانو باندے راخیژی او هغه بیا ماته شی او داسے شی لکه چه انسان په توره ووهلے شی، سخت زخمی شی، او کینسر شی چه انسان ترے ډیر زر مری)
نو سهار چه راپاڅیدو ددهٔ تکلیف زیات شو نو دهٔ دا نهٔ غوښتل چه زهٔ د یوے زنانه په کور کښے مړ شم او داسے قوم دے چه په بدو صفاتو باندے مشهور دی، او په جنګ کښے دِے نهٔ مرم بلکه په یو مرض باندے ! نو ډیر پریشانه وو نو وے وئیل :

[اَغُدَّةٌ كَغُدَّةِ الْبَعِيرِ (يا : اَغُدَّةٌ كَغُدَّةِ الْبَكْرِ) فِي بَيْتِ سَلُولِيَّةٍ]

آیا زهٔ به په هغه دانه باندے مرم چه د اُوښ په څټ کښے راخیژی یا د ځوان اُوښ په څټ راخیژی او د یوے سلولی زنانه په کور کښے۔

(دا خو زما دپاره لوی شرم دے)

نو پریشانئ کښے وتلو او ننوتو۔ نو د خپل نوم او شهرت دپاره ئے امر وکړو چه ما له اس راولئ نو اس ته وخیژولے شو (ځکه چه سخت بیمار وو) او توره ئے ورله لاس کښے ورکړه او په توره باندے ئے لوے کولے چه زهٔ پداسے حالت کښے مړ شم۔

(یعنی د بهادرئ حالت) تردے چه درد پرے زیات شو او د اس نه خکته راپریوتو او مردار شو۔

(دا ئے فخر گنړلو چه زهٔ د اس په شا باندے او توره په لاس مړ شم، دا ورته ډیره لویه خبره ښکاره کیده او زمونږ په اسلام کښے غوره مرگ د الله په لاره کښے د کافر د لاسه شهادت دے، دا د عزت مرگ دے، او دویم په ایمان کښے الله له ورتلل۔ دا ښکلے حالت دے۔ لکه احادیثو کښے دی چه کوم انسان روژه ونیسی او د هغے نه پس مړ شی یا صدقه ورکړی د هغے نه پس مړ شی، یا گوم انسان کلمه ووائی، یا جنازے له لاړو او د هغے پسے مړ شو نو دا به ضرور الله تعالیٰ جنت ته داخل کړی او د ایمان حالت کښے به د الله سره ملاؤ شی، د نیکئ نه بعد مرگ لویه خبره ده)

الله تعالیٰ خپل نبی او مؤمنان ددے شیطان د شیطانئ او شرونو نه وساتل۔

او اربد بن قیس او د هغهٔ ملگری لاړل قوم ته ورسیدل، او قوم ته ئے ټوله قصه بیان کړه، چه مونږ داسے وکړل او نبی داسے وکړل، او عامر بن الطفیل رانه په لاره کښے مړ شو۔ نو قوم تربے تپوس وکړو چه څه وشو؟، نو پدے کښے اربد یوه غلطه ناکاره خبره وکړه وے وئیل : هیڅ شے نهٔ وو خو '

[دَعَانَا اِلٰى عِبَادَةِ شَيْءٍ لَوْ كَانَ اَمَامِيَ الْآنَ لَرَمَيْتُهُ بِالنَّبْلِ حَتّٰى اَقْتُلَهُ]

دے نبی مونږ د هغه الله عبادت ته راوبللو چه که هغه اُوس زما مخے ته وے نو ما به په غشو ویشتلے وے تردے چه ما به وژلے وے۔

(انسان څومره زړه ور دے، د خپل رب په باره کښے داسے خبرے کوی، حال دا چه دغه

رب انسان د نطفے د یو څاڅکی نه په ډیر ضعیف انداز کښے پیدا کړیدے چه د خولے نه یوه خبره هم د الله د ارادے نه بغیر نشی راویستلے، ټول رګونه ئے د هغهٔ په امر باندے روان دی، که هغه امر وکړو دماغ به ئے خراب وی، فالج به وهلے وی، سترګے به ئے کړے او ړندے وی، لیکن دومره غټے خبرے کوی،

لکه دا خبره الله تعالیٰ په قرآن کښے ذکر کړیده :

﴿ اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنَاهُ مِنْ نُطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُبِيْنٌ ﴾ [یس : ٤]

(آیا انسان نهٔ ګوری چه مونږ دے د منی د یو څاڅکی نه پیدا کړے او دے بیا ښکاره جګړه کونکے دے)

نو یوه ورځ یا دوه ورځے پس ارید بن قیس چرته بهر وتلے وو خپل اُوښ ئے خرڅولو (یا غر ته تلے وو د ګیاه وغیره دپاره) نو الله سبحانه وتعالیٰ یوه وریځه راواړه وله او د وریځے نه ئے په دهٔ او ددهٔ په اُوښ باندے یو غټ تندر نازل کړو، چه دے او ددهٔ اُوښ دواړه ئے وسیزل- (یو ایتهم پرے راګوزار شو) خلکو ته پته ولګیده چه دے شخص د الله بے عزتی کړه نو الله هلاك کړو-

او زید بن اسلمؒ د عطاء بن یسارؒ نه هغه د ابن عباس ﷺ نه نقل کوی چه دا آیتونه د عامر او ارید په باره کښے نازل شوی وو :

﴿سَوَاءٌ مِنْكُمْ مَنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِالَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ﴾ بیا فرمائی :

﴿وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ يَّشَاءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ﴾ [الرعد :١٣]

برابر دی د الله په علم کښے ستاسو نه چه څوك پټه وینا کوی یا ئے ښکاره کوی، او څوك چه د شپے پټیږی او د ورځے ګرزی-

بیا فرمائی : رعد ملائك د الله تعالیٰ تسبیح او حمدونه وائی او ملائك د الله د یرے نه تسبیحات وائی، او الله تندرونه رالیږی نو چا باندے چه وغواړی هغهٔ ته ئے ورسوی، او دا خلك د الله په باره کښے (د هغهٔ د وجود او د هغهٔ د توحید او تعظیم په باره کښے) جګړے کوی (کله ئے ذات نهٔ منی او کله ورسره شریکان جوړه وی، او کله ئے نومونه او صفتونه نهٔ منی، او کله ئے په احکامو او کله په رسول کښے جګړے کوی، پکار دا وه

چه دا خلك الله ته تسلیم شوی وے، او د هغۀ رسولان ئے منلی وے او د هغۀ احکامو ته ئے غاړے ایخودے وے) او الله تعالیٰ سخت قوت والا (او سخت رانیونکے او سخته سزا ورکونکے) دے۔ الخ

دا دوه کسان خو الله پدے طریقے سره هلاك كړل۔

بیا روستو زمانه کښے ئے کشران په دین کښے صحیح داخل شول، ځکه چه غلط مشران ئے ختم شو۔

ابن عبد البر په "الاستیعاب" کښے ذکر کړیدی چه پدے وفد کښے یو تن د مَوْءَ لَه بن كُثَيُف ضبابی، کلابی په نوم باندے وو هغه رسول الله ﷺ ته د شلو کالو په عمر راغلے وو نو اسلام ئے راوړو او بیا ئے په اسلام کښے سل کاله تیر کړل او دۀ ته به ئے ذو اللسانین (دوه ژبو والا) وئیلو، ځکه چه فصاحت ئے ډیر زیات وو۔ او همدے شخص د عامر بن طفیل قصه نقل کړیده چه غدة کغدة البعیر۔

او دۀ د رسول الله ﷺ سره بیعت کړے وو او د هغۀ نیے لاس ئے مسح کړے وو، او رسول الله ﷺ ته ئے خپل اوښان وروستی وو نو هغۀ ترے په زکاة کښے بنت لبون واخستو، بیا د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو د ابو هریره رضی الله عنه سره ملګرے شو۔

(ابن کثیر)

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه ابن اسحاقؒ او بیهقیؒ دا قصه د عامر بن الطفیل د فتح د مکے نه روستو کلونو کښے ذکر کړیده لیکن ظاهر دا ده چه دا قصه د فتح د مکے نه مخکښے راغلے ده۔ بیا ئے په دلیل کښے قصه د بئر معونه ذکر کړیده چه په هغے کښے عامر بن الطفیل د انس بن مالك رضی الله عنه ماما حرام بن ملحان قتل کړے وو۔

٤- د طفیل بن عمرو الدوسی رضی الله عنه وفد

ددهٔ مکمل قصه په اول جلد (٣٠٥) کښې ذکرشویده، ددې مقام مناسب داسې ده :

طفیل بن عمرو ﷺ په روستو زمانه کښې په حروب الرِّدَّةُ کښې شهید شویدې، ابوبکر صدیق رضی الله عنه د مرتدینو سره د الله تعالیٰ په لاره کښې قتال کړې وو، هغه واقعه روستو راځی نو پدې کښې طفیل بن عمرو رضی الله عنه او د هغهٔ ځوی عمرو بن الطفیل رضی الله عنه هم وو :

طفیل د شپې خوب ولیدو، چه ګویا کښې زهٔ روان یم، او د خولې نه مې مارغهٔ والوتو او دویم دا چه زهٔ یوې زنانه ونیولم او په خپل عورت کښې ئې داخل کړم۔

او بل دا چه سر مې خرئیلې دې، (عربو به اُوږده وېښته پرېخودل) او ځوی هم راپسې رامنډې وهې لیکن څوك راغې هغه ئې زما نه ونیولو او بند ئې کړو نو ما پسې راونهٔ رسیدو، خو لږ ساعت پس بیا راورسیدو۔

نو ملګروته ئې وویل : داسې خوب مې لیدلې دې، چه ددې به څه تعبیر وی؟ نو چا ورته یوه معنیٰ او چا بله معنیٰ ورکړه چه خوب دې بد نهٔ دې او تسلی ئې ورکړه، دهٔ ته ئې وویل چه تا ته ددې څه تعبیر ښکاره کیږی، نو دهٔ کرامةً داسې معنیٰ ورکړه چه سر خرئیلو معنیٰ دا ده چه زهٔ به د الله په لاره کښې سر اړدم،

(د وېښتو لرې کول د تول سر لرې کول دی) او د خولې نه مې مارغهٔ وتلې دې، نو دا د روح وتل دی او د زنانه نه مراد زمکه ده چه دا به ما ته خوله کولاوه کړی او زهٔ به پکښې خخ شم، او زما دا ځوی به هم ما پسې روستو شهید کیږی، لیکن څه زمانه پس۔ نو جهاد شروع شو همدغه شان وشو چه ددهٔ سر پرېکړې شو او ددهٔ نه روح لاړو او په دغه زمکه کښې ملګرو خخ کړو او ځوی ئې زخمی شو او بیرته ښهٔ شو، او څه زمانه بعد په غزا د یرموك هغه هم شهید شو۔

(دا ددهٔ کرامت وو، مخکښې رڼړا ددهٔ کرامت وو، بیا ددهٔ دعوت او د دین دپاره غیرت او روستو د خپل شهادت مرګ لیدل)۔

د نبی ﷺ دین الله تعالیٰ پدې طریقه غالبه کولو۔

٥- وفد د بنی حنیفه

په سنه ۹ هجری کښې د بنو حنیفه ۆ وفد راغلې وو، دا خلك د یمامې وسیدونکی وو (دا علاقه اُوس په ریاض کښې ده) د دوئ مشر مُسیلمه الکذاب هم ورسره وو، مُسیلمه بن ثُمامه د علاقې مشر او مخوریز او شاعر سړې وو، او ډیر زیات کسان ورسره نور دی، کله چه مدینې ته راغلل نو د یوې انصاري زنانه د بنو نجارو نه د هغې په کور کښې دیره شول، چه د هغې نوم کبشه بنت الحارث وو، ځکه چه تول مسجد کښې نشو دیره کیدې۔

نو دوئ مسجد ته راغلل او په نبی ﷺ باندې ئې ایمان راوړو او واپس چه تلل نو نبی ﷺ ورته جائزه (تحفه) ورکړه۔ لکه چه دا د نبی ﷺ عادت مبارکه وو چه میلمنو ته به ئې جائزه ورکوله د هغوی د خوشحالولو دپاره۔

او دا جائزه پنځه (٥) اُوقیه سپین زر وو۔

دوئ وویل چه زمونږ یو مشر دې په دغه کور کښې پاتې شویدې، د هغهٔ دپاره هم څه تحفه راکړه۔ نبی ﷺ وفرمایل :

[مَادَامَ يَحْفَظُ لَكُمْ مَتَاعَكُمْ فَلَيْسَ بِشَرِّكُمْ مَكَانًا]

کله چه ستاسو د سامان د حفاظت دپاره روستو پاتې شویدې نو هغه ستاسو نه په مرتبه کښې خراب نهٔ دې، (ښهٔ کار کوی)

نو هغهٔ له ئې هم ورکړه۔ پدې مابین کښې نبی ﷺ د دوئ نه خبر شو چه د دوئ سره مُسیلمه راغلې دې، او دهٔ مطالبه وکړه چه نبی ﷺ ډې ما سره ملاؤ شی دلته ډې راشی، (دې متکبر وو او د مشرئ خوښونکې او لیواله وو)

نو رسول الله ﷺ ځان سره ثابت بن قیس بن شماس ﷺ واخستو چه دا د رسول الله ﷺ خطیب وو او په خبره ډیر ښهٔ پو هیدو او چالاك حاضر جوابه وو۔

د دوئ ملاقات له ورغلل چه دوئ څه وائی، نو مسیلمه په ظاهره کښې کلمه ووئیله او د رسول الله ﷺ رسالت ئې ومنلو لیکن دا شرط ئې ولګولو چه اسلام به زهٔ هله مکمل قبلوم چه تهٔ به ما له بادشاهی راکوې :

[اَنۡ تَجۡعَلَ لِیَ الۡاَمۡرَ مِنۡ بَعۡدِكَ]

چه تهٔ وفات شې نو بادشاهي به زما وي.

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل او د هغهٔ په لاس کښې د کجورې یوه چوکه وه:

[وَلَوۡ سَاَلۡتَنِیۡ هٰذَا الۡعَسِیۡبَ مَا اَعۡطَیۡتُکَهٗ]

که تهٔ ما نه دا چوکه غواړې نو دا به درنکړم (پاتې لا دا چه بادشاهي غواړې)

[اِنَّ الۡاَرۡضَ لِلّٰهِ یُوۡرِثُهَا مَنۡ یَّشَاۤءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَالۡعَاقِبَةُ لِلۡمُتَّقِیۡنَ]

(زمکه خو د الله ده، چا له ئې چه خوښه وي هغهٔ ته ئې ورکوي او انجام تقوئ والو دپاره دې) لکه دا ئې ورته په خط کښې هم لیکلي وو لکه روستو راځي.

[وَلَنۡ تَعۡدُوَ اَمۡرَ اللّٰهِ فِیۡكَ]

او الله چه ستا په باره کښې کومه فیصله کړې نو تهٔ د هغې نه مخکښې نشې تللې.

او دا سخته خبره ئې ورته وکړه:

[وَلَئِنۡ اَدۡبَرۡتَ لَیَعۡقِرَنَّكَ اللّٰهُ]

او که چرته شا دې راواړه وله (او ایمان دې رانهٔ وړو) نو الله به دې هلاك کړي.

او بیا ئې ورته وویل: ما ستا په باره کښې یو خوب لیدلې دې.

[وَاِنِّیۡ لَاُرَاكَ الَّذِیۡ رَاَیۡتُ فِیۡهِ مَا اُرِیۡتُ]

او زما گمان دې چه دغه خوب والا تهٔ ئې.

صحابه کرامو ترې روستو تپوس وکړو چه تا کوم خوب لیدلې دې (او د نبی ﷺ خوب هم وحی وي) نو هغهٔ وفرمایل:

[بَیۡنَا اَنَا نَآئِمٌ اُوۡتِیۡتُ بِخَزَآئِنِ الۡاَرۡضِ]

پدې مابین کښې زهٔ اُوده وم نو ما ته د زمکې خزانې راوړې شوې.

(دا اشاره وه فتوحو او فراخئ ته، چه روستو به فتحې راځي او اسلام به غالبه کیږي او کفر به متاویږي)

نو پدې کښې دوه د سرو ښنگرې راوړې شو او ما ته په لاسونو کښې واچولې شو نو ما بد وگنړل (ځکه سړې چه د ښځو لباس واچوي نو ډیر بد ښکاره کیږي لیکن بعض خلکو ته د ښځو په لباس کښې خوند ملاویږي، گیره خرئیل، پینځې په زمکه راځکل،

په غاړه او په لاس کښې امیل اچول ورته ډول ښکاره کیږی)

نو ما ته وویل شو : [اُنْفُخْهُمَا]

دے ته پوکے ورکړه۔ نو ما چه پوکے ورکړو نو دواړه په هواء باندے روان شو، والوتل۔

زما لاسونه ترے خلاص شو۔

صحابه کرامو عرض وکړو چه ددے څه تعبیر دے ؟ وے فرمایل :

الله به فتحے راولی، او دوه بنګړیٔ دوه دروغجن کسان دی چه زما په زمانه کښې به پیدا کیږی او دواړه به د نبوت دعوے کوی، (د بنګړو مشابه ئے ځکه لیدلی دی چه داسے قسم غلطو خلکو کښې د ښځو صفات وی او د زنانو او د پیسو طلب ئے وی،

ددے خوب پوره تفصیل به په سیرت د ابوبکر صدیق ص کښې په معرکة الیمامة کښې راشی ان شاء الله تعالیٰ)

یو په هغے کښې مسیلمه الکذاب دے او بل اسود عنسی دے چه دا به په صنعاء الیمن کښې پیدا کیږی۔

نو نبی ﷺ ددے خبرو نه روستو د دویٔ نه روان شو او ثابت بن قیس ئے ورته پریښودو او دا ئے ورته وویل چه دے به تاسو له زما د طرف نه ستاسو د خبرو جوابونه درکوی۔

(ځکه چه دا د خبرو لائق نۀ دے، بعض سړے د مناظرے لائق نۀ وی، هسے کنځل مار او بے ځایه وخت خرابونکے وی، نو هغۀ ته به یو کشر سړے ورپریدے چه د هغۀ په شان سخت وی چه هغه یوه وائی او دے دوه وائی)

نو ثابت بن قیس یو چالاکه انسان وو چه هغۀ به څه خبره کوله نو دۀ به سم کلك جواب ورکولو۔

په ذلت کښې دغه وفد واپس شو او خپل کلی (یمامه) ته ورسیدل۔

کشرانو پکښې اسلام راوړو لیکن مسیلمه نۀ دے راوړے۔ (اګرکه دا اقرار ئے کولو چه دے د الله نبی دے)

د مسیلمه مرتد کیدل او د نبوت دعوه :

نو دۀ هلته دعوه د نبوت وکړه او دا ئے وویل چه ما ته وحی شویده چه زۀ د محمد رسول الله ﷺ سره په نبوت کښې شریك شوم۔ هغه هم نبی دے او زۀ هم نبی یم۔

او هغه کسانو ته ئے وویل چه ددهٔ سره په وفد کښے راغلی وو :

آیا تاسو ته رسول الله ﷺ نهٔ وو وئیلی کله چه تاسو زما تذکره هغهٔ ته وکړه چه

[اَمَا اَنَّهٗ لَیۡسَ بِشَرِّکُمۡ مَکَانًا]

هغه ستاسو نه بدے مرتبے والا نهٔ دے۔ او ددے وجه دا وه چه هغهٔ ته پته وه چه زهٔ د هغهٔ سره په نبوت کښے شریك یم۔

(د رسول الله ﷺ مقصد خو دا وو چه هرکله مسیلمه ستاسو د سامان حفاظت کوی نو هغه هم د تحفے لائق دے، ستاسو نه بوئے مرتبه نهٔ کموم، او دهٔ ترے دا مقصد واخستو چه رسول الله ﷺ ما ته په تاسو کښے غوره وئیلے دے نو بس زهٔ نبی یم۔ دا د ګمراهانو طریقه ده چه د رسول الله ﷺ د خبرے غلط مطلبونه اخلی)

بیا ئے خط ولیکلو او دوه کسانو ته ئے ورکړو چه یو عبدالله بن نواحه او بل ثمامه بن اُثال وو، او هغے کښے ئے ولیکل :

[مِنۡ مُسَیۡلَمَةَ رَسُوۡلِ اللّٰهِ اِلٰی مُحَمَّدٍ رَسُوۡلِ اللّٰهِ اَمَّا بَعۡدُ : فَاِنِّیۡ اُشۡرِکۡتُ مَعَكَ فِی الۡاَمۡرِ]

دا خط د مسیلمه (دروغجن) رسول الله د طرف نه دے محمد رسول الله (ﷺ) ته، اما بعد : زهٔ تا سره په کار د نبوت کښے شریك کړے شوے یم۔

[وَاِنَّ لَنَا نِصۡفَ الۡاَرۡضِ وَلِقُرَیۡشٍ نِصۡفَهَا وَلٰکِنَّ قُرَیۡشًا قَوۡمٌ یَعۡتَدُوۡنَ]

او زمونږ دپاره نیمائی زمکه ده او نیمائی د قریشو ده لیکن قریش داسے خلك دے چه زیاتے کوی۔

کله چه خط راورسیدو نو رسول الله ﷺ دغه دوه استازو ته وویل :

[فَمَا تَقُوۡلَانِ اَنۡتُمَا؟]

تاسو د مسیلمه په باره کښے څه وایئ ؟ هغوی وویل : مونږ هغه خبره کوو کومه چه هغه کوی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

[لَوۡلَا اَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقۡتَلُ لَضَرَبۡتُ اَعۡنَاقَکُمَا]

که چرے دا خبره نهٔ وے چه استازی نهٔ قتلیږی نو ما به ستاسو د دواړو څټونه وهلی وے۔ (څکه چه تاسو د اسلام نه مرتد شوی یئ، مګر د مرتد وژل هم نشته کله چه استازے وی)

بیا رسول الله ﷺ ددے طرف نه خط ولیکلو :

[بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ اِلٰى مُسَيْلَمَةَ الْكَذَّابِ، اَمَّا بَعْدُ : سَلَامٌ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى، فَاِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَاءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ]

دا خط د محمد رسول الله ﷺ د طرف نه دروغجن مسیلمه ته، اما بعد : سلام دِے وی په هغه چا چه د هدایت تابعداری کوی۔ خبر شه چه زمکه د الله ده، هغه ئے چه چا ته وغواړی په میراث کښے ئے ورکوی، او غوره انجام تقویٰ والو دپاره دے۔ (او تا کښے تقویٰ نشته نو انجام به دِے خرابیږی)

ددے وخت نه ددهٔ نوم مسیلمة الکذاب (یعنی دروغجن مسیلمه) کیخودے شو۔

ابن اسحاقؒ وائی : دا کار په آخر د لسم (۱۰) هجری کښے واقع شویدے۔ او نورو وئیلی دی چه دا په هغه وخت کښے وشو چه رسول الله ﷺ د حجة الوداع نه راواپس شو، او د رسول الله ﷺ د مرض الوفات زمانه وه۔ (امتاع الاسماع)

د مسیلمه شیطانی وحی او معجزے :

او دے ډیر لوی دجال وو، د خلکو د دهوکه کولو ډیر سامان ورسره وو، دا به ئے وئیل لکه څنګه محمد رسول الله ﷺ تاسو ته قرآن وائی دغه شان زهٔ ئے هم درته وایم او څه مقفیٰ او مُسجّع الفاظ ئے جوړ کړل :

[اَلْفِيْلُ وَمَا اَدْرَاكَ مَا الْفِيْلُ لَهٗ ذَنَبٌ وَخُرْطُوْمٌ طَوِيْلٌ]

هاتی او تهٔ څه پو هه کړے ئے چه هاتی څه شے دے، دهٔ لره یوه لکئ ده او یو اُوږد خرتم دے۔

داسے بے ځائے بے مقصده خبره ئے ووئیله، بیا ئے وویل چه ما ته داسے وحی شویده :

[وَالطَّاحِنَاتِ طَحْنًا وَالْعَاجِنَاتِ عَجْنًا، وَالْخَابِزَاتِ خُبْزًا وَالثَّارِدَاتِ ثَرْدًا، وَاللَّاقِمَاتِ لَقْمًا]

قسم دے په هغه زنانو چه په میچنو باندے دانے وړهٔ کوی، او په هغه زنانو چه وړه اغږی په اغږلو سره او په هغه زنانو چه روټئ پخوی په روټئ پخولو سره او په هغه

زنانو چه په کاسه کښې ډوډۍ ماتوی او بیا په هغه زنانو چه غتې غتې نوړۍ وهی.
دا د خندا وحی ئې جوړه کړه. خلك ئې دهوکه کول.
او ددهٔ ډیر ملګری پیدا شوی وو. خلك هم د هرې رمبارې والا پسې روانیږی.
قیس بن ابی حازمؒ وائی : عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته یو سړے راغے چه زهٔ د بنو حنیفه ؤ په بعض مساجدو راتیر شوم نو هغوی داسې قراءت کولو چه هغه الله تعالیٰ په محمد رسول الله ﷺ باندې نهٔ دے نازل کړے او بیا ئې دغه الفاظ ولوستل.
قیس وائی : عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دوئ پسې کسان ولیږل نو دوئ ئې راوستل او هغوی اویا (۷۰) کسان وو، چه مشر ئې ابن نواحه وو. نو عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ددهٔ په باره کښې حکم وکړو چه دا قتل کړئ نو ابن نواحه ئې قتل کړو.
او باقی کسانو په باره کښې ئې وویل :
[مَا كُنَّا بِمُحْرَزِيْنَ الشَّيْطَانَ مِنْ هٰؤُلَاءِ، وَلٰكِنْ نَحُوْزُهُمْ إِلَى الشَّامِ لَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يَّكْفِيْنَاهُمْ]
مونږ د شیطان نه په دې کسانو باندې محفوظ نهٔ یو، لیکن دوئ به شام ته ولیږو شاید چه الله به زمونږ د دوئ نه کافی شی. (ابن کثیر)
واقدیؒ لیکلی دی چه د بنو حنیفه ؤ په وفد کښې یو تن راغلے وو چه د هغهٔ نوم رَجّال بن عنفوه وو دا چه کله پدې وفد کښې راغے، نو دے به اُبی بن کعب رضی الله عنه خوا ته ډیر ورتلو او د هغهٔ نه به ئې قرآن زده کولو او د شریعت نور احکام او شرائع، تردې چه د دوئ په نیز باندې رجال پدې وفد کښې د ټولو نه افضل وو ځکه چه ددهٔ د دین او د قرآن سره ډیره مینه وه خو کله چه مسیلمه د نبوت دعوه وکړه نو رجّال بن عنفوه به خلکو ته وئیل چه زهٔ ګواهی کوم چه رسول الله ﷺ مسیلمه هم ځان سره په نبوت کښې شریك کړے وو نو ددے وجه نه خلك ددهٔ په وجه ډیر په فتنه کښې واقع شو.
علامه سهیلیؒ وغیره ذکر کړیدی چه د رجال بن عنفوه نوم نهار بن عنفوه وو او دهٔ اسلام راوړے وو، او د قرآن څه حصه ئې هم زده کړے وه او د رسول الله ﷺ سره څه وخته پورے پاتے شوے وو،
یوه ورځ په دهٔ باندې رسول الله ﷺ راتیر شو او دے د ابو هریره رضی الله عنه او فُرات به حیان رضی الله عنه سره شریك ناست وو نو رسول الله ﷺ دوئ ته وفرمایل :
[إِنَّ فِيْكُمْ لَرَجُلًا ضِرْسُهٗ فِي النَّارِ اَعْظَمُ مِنْ اُحُدٍ]

پہ تاسو کښې یو تن داسې دے چه د هغۀ غاښ به پہ اُور کښې د اُحد غر نه هم زیات غټ وی۔

نو دواړه په یره وسیدل تردے چه رَجّال د مسیلمه سره مرتد شو، او د هغۀ دپاره ئے په دروغو گواهي وکړه چه رسول الله ﷺ دے د ځان سره په نبوت کښې شریك کړیدے او هغۀ ته ئے د قرآن کریم څه حصه هم ووئیله کومه چه دۀ یاده کړے وه نو مسیلمه دعوه وکړه چه دا زما وحی ده نو پدے سره بنو حنیفه په ډیره لویه فتنه کښې واقع شو۔ بیا رجّال لره زید بن الخطاب ﷺ په جنگ یمامه کښې قتل کړو۔ آ هلکه چه تفصیل ئے راروان دے۔

ابو هریره ﷺ فرمائی کله چه رسول الله ﷺ دغه خبره وکړه نو زۀ په ډیره یره کښې وم، (چه چرته فتنه کښې واقع نشم او د رسول الله ﷺ دغه خبره راباندے واقع نشی) تردے چه رجّال د مسیلمه سره راووتو او د هغۀ د نبوت گواهي ئے ورکړه۔

واقدیؒ او طبرانیؒ او ابو نعیمؒ او ابن عساکرؒ فرمائی: رافع بن خدیج ﷺ وائی:

رجّال باندے خشوع وه او همیشه به ئے د قرآن تلاوت کولو او د خیر کارونه به ئے کول، ډیر عجیبه کارونه به ئے کول، نو یوه ورځ په مونږ باندے رسول الله ﷺ راووتو او دے مونږ سره ناست دے او نور کسان هم دی، نو نبی ﷺ وفرمایل:

پدے کسانو کښې یو تن به اُور کښې وی۔ نو ما چه وکتل نو دغه ناست کسان ابو هریره او ابو اَرویٰ الدوسی او طفیل بن عمرو الدوسی او رجال بن عنفوه وو،

نو ما د تعجب په نظر کتل چه دا بد بخته به څوك وی، بیا کله چه رسول الله ﷺ وفات شو او بنو حنیفه مرتد شو نو ما تپوس وکړو چه د رجال بن عنفوه څه حال دے؟ نو خلکو ووئیل چه هغۀ هم د فتنو ښکار شویدے او د مسیلمه سره ملگرے شویدے نو ما ووئیل چه رسول الله ﷺ څه وئیلی دی هغه حق ثابت شو۔

او رجال به داسې وئیل چه [کَبْشَانِ اِنْتَطَحَا فَأَحَبُّهُمَا اِلَيْنَا كَبْشُنَا]

دوه گډانو یو بل سره ډغرے ووهلے خو مونږ ته خپل گډ ډیر محبوب دے۔ مطلب ئے د رسول الله ﷺ او مسیلمه ترمینځ برابروالے وو۔ [الاکتفاء ۳/ ۳۷]

ابن هشام لیکلی دی چه مسیلمه ته د جادو څه طریقے زده وے چه هغے ته به ئے

نیروجات (یا نیرجات) وئیلو، نو دهٔ به یو بوتل ته انډه روغه ننویسته او دا اولنے هغه شخص دے چه دا کارئے کړیدے۔

او خلکو ته به ئے دا د دروغو معجزه هم ځکاره کوله چه یو مارغه به ئے راونیولو او د هغهٔ وزر به ئے مات کړو بیا ئے بیرته یو ځائے کړو نو صحیح به شو۔ (په خلکو باندے ئے نظر بندی کوله) او دهٔ به دا هم وئیل چه ما ته د ځنګل نه یوه صحرائی اُوسئ راځی اوزهٔ د هغے پئ لشم۔ (سیرت ابن هشام)

د محمد رسول الله ﷺ په معجزاتو کښے راځی چه په مدینه کښے یو کوهے وو چه اُوبه پکښے انتهائی کمے وے او دومره مزیدارے هم نهٔ وے نو رسول الله ﷺ ورغے او د کوهی نه ئے لږے اُوبهٔ راواخستے او دم ئے کړے او لاړے ئے پکښے واچولے او بیا ئے هغه کوهی ته واچولے نو کوهی جوش وکړو ډیرے شوے او اُوبهٔ د شاتو په شان خوږے شوے۔ (دا د نبی ﷺ معجزه وه) نو مسیلمه کذاب ته چا وویل (یوے زنانه) چه محمد رسول الله ﷺ به داسے معجزے ښکاره کولے نو تهٔ هم داسے څه وکړه،

(نو هغهٔ د رجال بن عنفوه نه (پټ) تپوس وکړو چه رسول الله ﷺ به څه طریقه کوله نو هغهٔ ورته ووئیل چه دعاء به ئے خلکو له کوله او د هغوی د کوهی اُوبهٔ به ئے راواخستے او په خوله کښے به ئے واچولے او بیا به ئے کوهی ته ورګوزار کړے نو هغه به اُوبهیدلے)

نو مسیلمه یو کوهی له ورغے چه په هغے کښے ئے لاړے واچولے او څه دم ئے پرے ووئیلو نو د کوهی اُوبهٔ داسے شوے لکه د خرهٔ متیازے، (الله وشرمولو) نو خلکو ورته ووئیل چه تا خو دا اُوبهٔ نورے خرابے کړے۔

او دارنګه نهار بن عنفوه ورته ووئیل : چه د بنو حنیفه ؤ په اولادو باندے لاس راښکاره لکه څنګه چه به محمد ﷺ دا کار کولو، نو هغهٔ وویل چه زهٔ به هم دا کار وکړم نو هغهٔ ته ماشومان راوستے شول نو د هغوی په سرونو ئے لاس راخکلو او د هغوی په تالو کښے ئے کجوره راښکله (تحنیك ئے ورله وکړو) نو د هر ماشوم سر ګنجے شو او د چا تحنیك ئے چه کړے وو د هغوی ژبے ترتړئ شوے چه د راء په ځائے به ئے غین وئیلو او د سین په ځائے ثاء۔ او دا کار د هغهٔ د مرګ نه پس راښکاره شو۔

(امتاع الاسماع ۵۲۹/۱۴)

د مسیلمه تعارف :

ابن هشام وائی : دا مسیلمه بن ثمامه به کثیر بن حبیب (او کله ورته مسیلمه بن حبیب وئیلے شی) کنیه ئے ابو ثمامه وو، بعض وائی : ابو هارون، او دهٔ به ځان ته رحمٰن الیمامه وئیلو۔ او دے چه کله وژلے کیدو نو عمرئے یونیم سل (۱۵۰) کاله وو۔

(السیرة لابن کثیر وابن هشام)

پدے وخت کښے یوه بله زنانه پیدا شوه چه د هغے سجاح نوم وه، هغے هم د نبوت دعوه وکړه (خو دا د نبی ﷺ د زمانے نه روستو وه) هرچا له دے خبرے خوند ورکړو چه رسول الله ﷺ ته خو د نبوت په دعوه باندے ډیر عزت ملاؤ شو مونږ ته به هم ملاو شی، سجاح د خپل قوم بنی یربوع او تغلب وغیره فوجونه راروان کړل چه مسیلمه له ورشی چه معلومه کړی چه نبی دے او که نهٔ ؟ نو د مسیلمة الکذاب سره ملاؤ شوه نو مسیلمه ورته ووئیل چه زمکه نیمه زما او نیمه د قریشو وه لیکن قریشو رد کړه نو دغه نیمه تا ته پاتے شوه۔

(یعنی رسول الله ﷺ وفات شو اوس ته نبیّه شوے) بیا ئے ورته ووئیل چه تهٔ خپل ملګری ځان نه جدا بوځه، مونږ به یواځے خبرے اترے وکړو، نو مسیلمه ددے ښځے سره درے شپے په ځانله خیمه کښے تیرے کړے، کله چه خپل قوم ته راغله نو قوم ورته ووئیل چه څه چل وشو؟ نو هغے ووئیل چه مسیلمه راته ښه سړے ښکاره شو، نو ما د هغهٔ تابعداری وکړه او ما ورسره وادهٔ وکړو۔ لکه دا اُوږده قصه ده۔ چه روستو په سیرت د ابوبکر صدیق ص کښے ئے پوره تفصیل راځی ان شاء الله تعالیٰ۔ (امتاع الاسماع)

بیا روستو زمانه کښے دے صحیح ایمان راوړے او په اسلام کښے داخله شویده۔

بیا د ابوبکر صدیق ﷺ په دورِ خلافت کښے په حروب الردة کښے مسیلمة الکذاب د وحشی بن حرب ﷺ په لاس باندے مردار شو۔ څوك چه دروغجن وی، نو د هغهٔ عقب او اتباع نهٔ پاتے کیږی او محمد رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ په دنیا کښے هم عزت ورکړے او په آخرت کښے به هم عزتمن وی ځکه چه الله ئے مدد کوی۔

او ابن النواحه پکښے قتل شوے او ثمامه صحیح اسلام راوړو۔

اسود عنسي د رسول الله ﷺ په ژوند کښې د فیروز الدیلمي ﷛ په لاس مردار شو.
چه ددهٔ واقعې ته هم په انتظار کښې وسیړه.

٦- وفد نجران :
(سنه ۹ هجری)

نجران یمن ته نزدې یوه علاقه ده چه مخکښې په یمن کښې داخل وو اُوس د سعودی حکومت یوه صوبه ده. ددې او د یمن ترمینځ (۳۰) کیلو میټره فاصله ده.
دا د مکې نه په اُوه مرحلو باندې جدا علاقه ده د یمن په طرف باندې. یعنی (۹۱۰) کیلومیټره د مکې نه په جنوب مشرقی طرف کښې دې چه دا په (۷۳) کلو او علاقو باندې مشتمل دې.
د نجران والو یو لاکھ جنګیان وو چه د نصرانیت په دین باندې وو.
رسول الله ﷺ اول دوئ ته خط لیږلے وو، او دا ئې ورته لیکلی وو چه
[اِنِّیْ اَدْعُوْکُمْ اِلٰی وِلَایَةِ اللّٰهِ عَنْ وِلَایَةِ الْعِبَادِ]
زهٔ تاسو ته دعوت درکوم د الله ولایت او دوستیٔ ته د بندګانو د دوستیٔ نه.
یعنی د مخلوق دوستی پریدئ او د خالق دوستیٔ ته راشئ، ځکه چه دې خلکو د الله د ولایت دعوې کولې، پدې علاقه کښې نصرانیت عام وو،
مخکښې ذکر شوی چه دې علاقې ته پخوا یو تن راغلے وو هغهٔ دلته عیسائیت خور کړے وو.
پدې وجه حسن بصریٔ وئیلی دی چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې دا آیت ددې خلکو په رد کښې رالیږلے وو :
﴿قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْکُمُ اللّٰهُ وَیَغْفِرْ لَکُمْ ذُنُوْبَکُمْ﴾ اِدَّعٰی قَوْمٌ مَحَبَّةَ اللّٰهِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذِهِ الْاٰیَةَ مِحْنَةً لَهُمْ.
څه خلك وو چه هغوئ به د الله د محبت دعوې کولې نو الله دا آیت راولیږلو د هغوی د امتحان دپاره چه که تاسو په خپله دعوه کښې رشتینی یئ او د الله سره په رشتیا

مینه لرئ نو د محمد رسول الله ﷺ طاعت دریاندے لازم دے، قَوْلًا او فِعْلًا۔ او که ددهٔ تابعداری درکښے نهٔ وی نو هسے په دعوه باندے کار نهٔ کیږی۔

دا خبره زمونږ دپاره هم ده، پدے زمانه کښے هم ډیر خلك د الله د دوستئ دعوے کوی او دا وائی چه مونږ اهل حق یو، او حال دا چه د نبی ﷺ تابعداری پکښے نهٔ لیدلے کیږی۔

دوئ چه کله خط ولوستلو نو خپل مابین کښے ئے مشوره وکړه چه ددے شخص ملاقات ته ورتلل پکار دی۔

د سیرت کتابونه لیکی چه دوئ دوه ځل راغلی وو،

یو ځل ئے درے (۳) کسان مشران رالیږلی وو، بیا یو غټ وفد راغے چه د شپیته (۶۰) کسانو نه جوړ وو۔ څلیریشت (۲۴) پکښے اشراف (مشران) وو، چه درے (۳) کسان پکښے خصوصی مشران وو چه هغوئ ته د دوئ ذمه واری حواله وه۔ یو عاقب وو، دا پکښے داسے وو لکه حاکم او بادشاه۔ او ددهٔ نوم عبد المسیح وو۔ دویم سید وو، دا د ثقافتی او سیاسی امورو مشر وو۔ (د قومندان شان شکل ئے وو) او ددهٔ نوم اَیْهَم یا شَرَحْبِیْل وو۔

او دریم ابو حارثه بن عَلْقَمه چه دا د دوئ اُسْقُف (ملا/ عالم) وو، دهٔ ته دینی مشری او روحانی قیادت حواله وو۔

او دا په اصل کښے عربی وو (د بکر بن وائل نه) لیکن نصرانیت دین ئے زده کړے وو نو پدے وجه رومیانو ورله ډیرے خرچے ورکولے، چه دهٔ له ئے ډیرے کنیسے جوړے کړے وے او ډیر خادمان او نوکران به ئے گرزیدل، او ډیره لویه مشری ئے ورکړے وه۔

دوئ راروان شو، په لاره کښے د ابو حارثه سره ورور کُرز بن علقمه هم راروان وو نو په لاره کښے د ابو حارثه د قچرے خپه اُوخویده نو ورور ئے بنیرے وکړے :

[تَعِسَ الْأَبْعَدُ]

دغه هلاك شده انسان دِے هلاكِ شی۔ مقصد ئے رسول الله ﷺ وو، چه ددهٔ په وجه مونږ ته دا تکلیف راپیښ دے۔ نو ابو حارثه ورته وویل :

[بَلْ اَنْتَ تَعِسْتَ]

تا دِے الله هلاك كړی۔ نو ورور ورته وویل :

[وَلِمَ يَا اَخِیُ؟]

ولے ؟ اے زما وروره !۔

نو هغهٔ وویل : [قَدُ وَاللّٰهِ تَعِسُتَ نَبِيًّا مُرُسَلًا]

تا خو یو مرسل نبی ته بنیرے وکړے۔ (تهٔ به هلاك شے)

او دا ئے ورته وویل : [وَاللّٰهِ اِنَّهُ النَّبِیُّ الَّذِیُ کُنَّا نَنُتَظِرُهٗ]

قسم په الله دے خو هغه نبی دے چه مونږ به ئے انتظار کولو، نو کرز ورته وویل :

[وَمَا يَمُنَعُكَ مِنُ اِتِّبَاعِهٖ وَاَنُتَ تَعُلَمُ هٰذَا ؟]

نو بیا هرکله چه تهٔ ته دا معلوم دے نو تهٔ ددهٔ تابعداری ولے نهٔ کوے؟ (بیا څه له وائے چه هسے ملاقات له ورځو او تابعداری ئے نهٔ کوو)

نو ابوحارثه ورته حقیقت بیان کړو :

[مَا صَنَعَ بِنَا هٰؤُلَاءِ الُقَوُمُ، شَرَّفُوُنَا وَمَوَّلُوُنَا وَاَخُدَمُوُنَا، وَقَدُ اَبَوُا اِلَّا خِلَافَهٗ وَلَوُ فَعَلُتُ نَزَعُوُا مِنَّا کُلَّ مَا تَرٰی]

ددے تابعدارئ نه مانع دا دے چه دے خلکو مونږ سره هر قسم احسانات کړیدی، مونږ ته ئے شرافت او عزت راکړے او مالونه او خادمان ئے راکړیدی او دوئ خو ددے نبی د مخالفت اراده کړیده نو که زهٔ ددهٔ تابعداری وکړم نو بیا به دوئ زمونږ نه دا ټوله مشری واخلی۔

نو کرز بن علقمه (یو امی سړے وو خو) په زړهٔ کښے ئے دا خبره واچوله چه هرکله زما دا ورور ددے نبی په باره کښے اقرار کوی چه دا د الله حق پیغمبر دے، نو زهٔ به پرے ایمان راوړم۔ نو کله چه ددهٔ نه جدا شو او وخت پرے راغے نو ایمان ئے راوړو او ښه مسلمان شو۔ (لیکن دغه ورور مُلا ئے کافر د دنیا نه لاړو)

ددے نه دا فائده راوخی چه اکثرو خلکو ته حق معلوم وی، مُلیانو، پیرانو او نورو پارټیانو او ډلو ته حق معلوم وی لیکن د هغے تابعداری نهٔ کوی، د دنیا څه عزت او مال او تنخواه یا د جمات امامت، یا مدرسه او اسکول کښے استاذی، او مشری ئے مخے ته ده، د دوئ دا گمان وی چه که مونږ حق قبول کړو نو عزت او مال او عهده او نوکری به

لاړه شي، دا په خپل عظیم رب باندې بد ګماني ده.

دا خبره مشرکانو کړېده چه الله په سورة القصص کښې په هغوی رد کړې فرمائي:

﴿وَقَالُوا إِنْ نَتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا، أَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَىٰ إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِزْقًا مِنْ لَدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [القصص : ٥٧]

اې نبي! که مونږ ستا سره د هدایت تابعداري وکړو نو عرب به راشي مونږ به ختم کړي. نو الله فرمائي: آیا مونږ د دوئ دپاره حرم امن والا نۀ دې ګرځولې چه هغې ته د هر شي میوه جات زمونږ د طرف نه راروان دي لیکن اکثر خلك نۀ پو هیږي.

یعني په حالت د شرك کښې زۀ فراخه رزق ورکوم او تۀ زما دشمن ئې نو کله چه تۀ زما دوست جوړ شې آیا زۀ به رزق نۀ درکوم؟.

دا په خپل رب باندې څومره بدګماني ده خو ډیر انسانان پدې طریقه هلاکت ته پریوځي. الله پورې پناه غواړو د داسې حالت نه.

یهودیانو تابعداري نۀ کوله او دا ئې وئیل چه زمونږ عزت او مشري به ختمه شي، مګر عبد الله بن سلام ﷺ تابعداري وکړه نو الله ورله څومره عزت ورکړو چه تر قیامته پورې ئې نوم په رضی الله عنه سره یادیږي.

الغرض: دوئ مدینې ته راورسیدل د ماز یګر مانځه نه بعد او ځانونه ئې ډیر ډولي کړي وو او ښائیسته جامې ئې اغوستې وې، نو هغوی مونځ کولو (په بني اسرائیلو څلور مونځونه لازم وو)

نو هغوی په مسجد نبوی کښې بیت الشرق (مشرق) طرف ته یعني بیت المقدس طرفته مونځ وکړو. بعض مسلمانان پسې ورپاڅیدل چه دوئ ئې منع کول چه زمونږ په مسجد کښې داسې مۀ کوئ لیکن رسول الله ﷺ منع کړل چه څه ورته مۀ وایئ، خپل عبادت دې وکړي.

کله چه د مانځه نه فارغ شو نو نبي ﷺ ته راغلل او په هغۀ باندې ئې سلام واچولو نو نبي ﷺ د هغوی سره خبرې هم ونکړې او سلام ئې هم ترې وانخستو.

پدې کښې دا ورځ او شپه هم تیره شوه، نو هغوی د عبد الرحمن بن عوف ﷺ او عثمان بن عفان ﷺ نه تپوس وکړو (چه دا دواړه تاجران وو او د دوئ علاقو ته به ورتلل،

دوئ ئے پیژندل) چه ستاسو مشر مونږ ته خط رالیږلے وو، مونږ هغهٔ له راغلی یو، او هغه مونږ سره خبرے هم نکوی او سلام هم نهٔ اخلی۔ (دا څه چل شوید ے؟ او د نورو خلکو سره خبرے کوی)

نو هغوی په هیڅ وجه باندے پوهه نشو،

نو پدے کښے علی ﷺ یو هوښیار سړے وو، قاضی وو، په فیصلو کښے ډیر ماهره وو، هغهٔ وویل چه تاسو غلطے جامے اچولی دی، ځکه چه دوئ چه کله د سفر نه راورسیدل نو د سفر جامے ئے اُوخکلے او د وریښمو جامے او د سرو زرو ګوتمے ئے ځان ته واچولے، او د وریښمو غټے چوغے ئے واچولے (بادشاهی سفر وو)

نو هغهٔ ورته وویل: زما رایه دا ده چه دا تاسو وباسئ او خپلے د سفر ساده جامے واچوئ نو د الله رسول به درسره خبرے وکړی نو هغوئ دا خبره ومنله، د وریښمو جامے او سرهٔ زرئے ویستل (ځکه چه دا په سړو باندے حرام دی) او نورے جامے ئے واچولے، چه بیا نبی ﷺ سره ملاؤ شو نو د دوئ سلام ئے هم واخستو او خبرے ئے ورسره وکړے۔

(نبی ﷺ دوی له یو زجر ورکولو چه تاسو خو ځان ته بزرګان وایئ او د وریښمو جامے او سرهٔ زر استعمالوئ خو الله په سړو باندے حرام کړیدی)

نو هغوئ رسول الله ﷺ ته وویل: ستا خبرے خو نورے صحیح دی، خو د عیسیٰ علیه السلام په باره کښے تهٔ څه وائے؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زهٔ وایم:

[عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ]

هغه د الله بنده او رسول وو (چه بنی اسرائیلو ته رالیږلے شوے وو) نو دوئ وویل چه تا د عیسیٰ علیه السلام بے عزتی وکړه۔

(بنده ورته ووئیلو، لکه دا د مشرکینو عادت دے چه تهٔ داسے ووائی چه دا اولیاء هیڅ نشی کولے، نو دوئ وائی دا کرامت نهٔ منی، که یو تن ووائی چه علماء ښه خلك دے خو معصوم نهٔ دی، خطائی ورله شته، نو دوئ وائی چه دے امامان نهٔ منی، نو خبره بدلوی)

بیا ئے ورته وویل: هرکله چه هغه بنده دے، نو بیا پلار ئے څوك دے؟

(دوئ ته دا شبهه پیدا شوے وه چه هرکله پلار ئے نشته نو بس هغه اِله دے)

د نصاراؤ ډیرے عقیدے وے خو درے پکښے مشهورے وے، یو دا چه عیسیٰ علیه

السلام د الله ځوی دے۔ (العیاذ بالله) دویمه عقیده ئے دا وه چه آلهه درے دی، یعنی ټول کائنات درے څیزونه چلوی، یو د الله رب العالمین ذات او دویم روح القدس او دریم عیسیٰ علیه السلام۔ او دے ته به ئے اقانیم ثلاثه وئیل۔ یعنی درے اصول۔ او ددے مثال به ئے دا ورکولو لکه نمر کښے یو ککوړے دے، او دویم شعاع (پلوشے) او دریم ګرمائش۔

او دا درے واړه چه راجمع شی نو نمر ترے جوړ شی۔

(قرآن کښے الله تعالیٰ دے خلکو ته کافر وئیلی دی:

﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ﴾ [المائدة: ۷۳]

(یقیناً کافران شو هغه کسان چه وائی بیشکه الله دریم دے د دریو نه)۔

دریمه عقیده دا وه چه الله تعالیٰ بعینه عیسیٰ علیه السلام دے، دا دنیا ته راکوز شوے وو بیا بیرته وختلو۔

د دوئ په باره کښے الله د کفر فیصله کړیده:

﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ﴾ [المائدة: ۷۲]

هغه خلك هم کافر دی چه وائی الله تعالیٰ بعینه عیسی علیه السلام دے۔

نو الله ددے نصاراؤ په جواب او رد کښے د سورت آل عمران د ابتداء نه تر اتیا (۸۰) آیتونو پورے راولیږل۔

یو سوال ئے دا وکړو چه پلار ئے څوك دے؟ نو دویم سوال ئے دا وکړو چه په انجیل کښے راغلی دی چه عیسیٰ علیه السلام الله ته خپل پلار وئیلے دے،

(لکه د پښتو په انجیلونو کښے دی: زما آسمانی پلار) او عیسیٰ علیه السلام ته ځوی وئیلے شویدے۔

او ته وائے چه دے د الله ځوی نه دے۔ (او انجیل خو د الله کتاب دے)

نو الله په سورة آل عمران کښے د دواړو خبرو جواب ورکړو،

اول دا چه د الله په کتابونو کښے بعض آیتونه متشابهات وی، او متشابهات هغه الفاظو ته وائی چه د یو لفظ دوه معانی وی، یوه صحیح معنیٰ او بله غلطه معنیٰ، نو د الله صحیح معنیٰ مراده وی، او ناکاره خلك (اهل زیغ) غلطه معنیٰ اخلی۔

په قرآن کښے هم داسے متشابهات شته چه باطل پرست د هغے نه غلطه معنیٰ

اخلی، لکه د قرآن نه هره طبقه د خپلے عقیدے او عمل دپاره دلیل نیسی، شیعه، قیدانیان، جهمیه، قدریه، جبریه، معتزله او مبتدعین۔ متشابهاتو پسے روان وی۔

د هغه لفظ دا مطلب نهٔ وی لیکن دوئ ئے ترے په زوره اخلی، او د بلے حقے معنیٰ سره تهکراؤ پیدا کوی لکه ددے مثالونه زمونږ په تفسیر "حکمة القرآن" کنبے وګورئ۔

لکه د اِبن لفظ دوه معانی دی، یو حقیقی بچے او کله په معنیٰ د محبوب سره دے، لکه مونږ چه یو ماشوم ته وایو اے ځویه ! دلته راشه۔ حال دا چه هغه زمونږ نه پیدا نهٔ وی۔ یعنی اے زما محبوبه !۔زهٔ په تا شفقت لرم۔

نو که عیسیٰ علیه السلام ته ځوی وئیلے شویدے نو د هغے مطلب دا نهٔ دے چه د الله نه پیدا دے (العیاذ بالله) بلکه په معنیٰ د محبوب سره دے۔ نو د متشابهاتو نه به غلطه فائده نهٔ اخلی۔ نو په اهل زیغو (کږو زړونو والو) باندے رد وشو۔

لکه د کږو زړونو والا دا هم وائی چه قرآن کنبے راغلی دی چه ابراهیم علیه السلام مړو ته آواز کړے وو، نو مړو ته آوازونه کول او د هغوی نه مددونه غوښتل جائز شو۔

او قرآن کریم کنبے راغلی دی

﴿فَاسْأَلُوْا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ [النحل: ۴۳]

د علماؤ نه تپوس وکړئ نو بس د امام صاحب تقلید واجب شو۔ دا د قرآن نه غلطه فائده اخستل او د متشابهاتو پسے روانیدل دی،

دویم جواب ورته دا وشو :

﴿إِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ﴾

[آلعمران: ۵۹]۔

الله وفرمایل : تاسو عیسیٰ علیه السلام ته پدے وجه اِله وایئ چه پلار ئے نشته نو بیا خو به آدم علیه السلام غټ اِله وی ځکه چه د هغهٔ خو نهٔ پلار شته او نهٔ مور۔

(او تاسو هغهٔ ته اِله نهٔ وایئ او د هغهٔ نه رب نهٔ جوړه وئ او د عیسیٰ علیه السلام صرف پلار نشته او تاسو ترے اِله او رب جوړ کړیدے)

دے ته تشبیه الغریب بالاغرب وائی۔ عیسیٰ علیه السلام کنبے لږ ناشنا والے دے او په آدم علیه السلام کنبے ډیر ناشنا والے دے۔

بیا هم هغوی خبره نهٔ آوریده (ځکه چه ضدیان وو) نو د بعض تفسیری روایاتو نه معلومیږی چه دے مجلس ته یهودیان هم حاضر شوی وو (ځکه چه هغوی نزدے وسیدل) نو پدے کښے د یهودیانو احبارو (ملیانو) وویل :

[مَا تُرِيْدُ يَا مُحَمَّدُ اِلَّا اَنْ نَّعْبُدَكَ، كَمَا عَبَدَتِ النَّصَارٰى عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ]۔

ستا مقصد دا دے چه تهٔ مونږ خپل عبادت ته راغواړے لکه څنګه چه نصاراؤ د عیسیٰ ابن مریم عبادت کړے،

او نصاراؤ هم دا وویل چه ستا مطلب دا دے چه مونږ د عیسیٰ علیه السلام د عبادت نه اړه وے، نو آیا ستا عبادت شروع کړو؟۔

(د رسول الله ﷺ دعوت ئے ګډوډ کولو او غلط مطلب ئے اخستو لکه دا د باطل پرستو همیشه طریقه راروانه ده چه کړه خبره کوی، که تهٔ ورته ووائے چه د قرآن او حدیث تابعداری وکړئ نو هغه به وائی تهٔ بنه پوهیږے که فلانے امام، هغهٔ پسے لاړ شو او که تا پسے۔ **جواب** دادے چه مونږ دا نهٔ وایو چه مونږ پسے راشه بلکه د الله او د رسول پسے لاړ شه۔

نو الله دا آیت نازل کړو :

﴿ مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتَابَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾

[آلعمران : ۷۹]

یو انسان له دا جائز او مناسب نهٔ دی چه الله هغهٔ ته کتاب او نبوت ورکړے وی، چه هغه خلکو ته دا وائی چه زما بندګی وکړئ سویٰ د الله نه۔

بلکه د پیغمبرانو او حق پرستو طریقه دا ده چه هغوی ځان ته دعوت نهٔ ورکوی چه زما بندګی وکړئ۔ بلکه هغوی خلك الله ته رابلی، انبیاء علیهم السلام دا دعوت ورکوی چه تاسو الله والا (او اخلاص والا) جوړ شئ پدے وجه چه تاسو د الله کتاب خلکو ته وایئ او خپله ئے هم لولئ۔

(او څوك چه د الله کتاب وائی نو پکار ده چه په هغهٔ کښے اخلاص وی)

﴿ وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّيْنَ اَرْبَابًا، اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴾۔

او هیڅ نبي تاسو ته دا حکم نهٔ کوي چه تاسو ملائك او انبياء عليهم السلام نه معبودان جوړ کړئ۔ دا خو کفر دے پس داسلام نه۔

نو پدے آیت کښے د ملائکو او انبیاء علیهم السلام عبادت کولو ته کفر وئیلے شویدے۔

دا بحثونه وشو آخر نصاراؤ ته د مباهلے دعوت ورکړے شو، که تاسو ددے حق تابعداری نهٔ کوئ نو ما سره مباهله وکړئ،

(يو سړے چه په باطل باندے کلك ولاړ وي او دليل هم ورسره نهٔ وي او باطل نهٔ پریدي نو بیا به ورسره مباهله کیږي، د مباهلے معنیٰ ده الله ته عاجزي کول، او د الله د ذات نه دعاء کول پدے طریقه چه دوه ډلے به راجمع شي او په ډیره عاجزئ سره به دعاء وکړي چه مونږ کښے کومه ډله په باطله ده او د حق سره ضد کوي، نو الله تهٔ ئے هلاك کړه۔

(ځکه چه څومره پکښے عاجزي زیاته وي نو دا ښیرے زر لګیږي او چه عاجزي پکښے کمه وي نو زر نهٔ لګیږي ځکه پدے کښے لفظ د اِبتهال (ثُمَّ نَبْتَهِلْ) ذکر شویدے چه ډیرے عاجزئ ته وائي)

نو نبي ﷺ د دوئ نه مطالبه وکړه چه مونږ سره مباهله وکړئ زهٔ چه کومه عقیده پیش کوم دا حق ده او تاسو چه څه وایئ دا باطل دی، که تاسو په حق یئ نو راځئ چه ښیرے وکړو که زهٔ په باطله یم زهٔ به هلاك شم او که تاسو په باطله یئ تاسو به هلاك شئ۔

نو هغوي وویل چه مونږ له وخت راکړه چه مشوره وکړو، دوئ جدا شو او مشوره ئے وکړه نو پدے کښے يو مشر (يعنی عاقب او بل روايت کښے سيد چه نوم ئے شرحبيل وو) وويل : تاسو ته پته ده چه کله خبره مشکله شي نو دا خلك زما رائے ته رجوع کوي، نو زهٔ یوه مشکله خبره وینم، هغه دا چه که دا سړے چرته قوي بادشاه وي، نو مونږ به د ټولو عربو نه اول ددهٔ په سترګو کښے خځنړے ورکړو او ددهٔ خبره به رد کړو چه زما دپاره به ددهٔ او ددهٔ د ملګرو نه دا خبره هیڅکله نهٔ وځي تردے چه مونږ ته به يو مصيبت راورسوي، ځکه چه مونږ د نورو عربو په نسبت ددهٔ نزدے ګاونډيان يو۔

[وَلَئِنْ كَانَ هٰذَا الرَّجُلُ نَبِيًّا مُرْسَلًا فَلَاعَنَّاهُ، لَا يَبْقٰى مِنَّا عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ شَعْرٌ وَلَا ظُفْرٌ إِلَّا

هَلَكَ]

[القول الاقوم فی معجزات النبی الاکرم ص (٤٩) والسیرة لابن کثیر ٤/١٠٤ وامتاع الاسماع]۔

او که دا سړے چرته نبی وی او الله رالیږلے وی او مونږ ورسره مباهله (ښیرے) وکړو نو زمونږ به په مخ د زمکه نهٔ نسل پاتے شی او نهٔ حیوانات۔ (ځکه چه نبی چا ته ښیرے وکړی نو غرقیږی) او تاسو ته پته ده چه دا نبی دے نو مباهله ورسره نهٔ کوو۔

نو ټولو پدے اتفاق وکړو چه مباهله ورسره نهٔ کوو لیکن خپل دین هم نهٔ پریدو، او د مسلمانانو عربو د جنګ طاقت هم نهٔ لرو،

نو دهٔ نورو دوه ملګرو وویل چه یا ابا مریم! ستا څه رایه ده چه دهٔ سره څه وکړو؟

نو هغهٔ ورته وویل:

[اَرٰی اَنْ اُحَکِّمَهٗ، فَاِنِّیْ اَرٰی رَجُلًا لَا یَحْکُمُ شَطَطًا اَبَدًا]۔

زما رایه دا ده چه خبره دهٔ ته سپاروو چه دا په مونږ کښے کومه فیصله کوی، ځکه چه زهٔ دا سړے وینم چه هیڅکله د ظلم فیصله نهٔ کوی۔

(تاسو ددهٔ عدل او انصاف او هرڅه ولیدل، ځکه چه د الله د حکم مطابق کار کوی)

دلته رسول الله ﷺ سهار کښے ځان سره حسن او حسن او فاطمه رضی الله عنهم واخستل او میدان ته راووتو چه مباهله به کوو (خپل ټول بچی دے دپاره اخلی چه هلاکیږی نو ټول هلاك شی، پدے کښے ډیرے حق پرستئ ته اشاره وی چه ما ته یقینی پته ده چه زهٔ په باطل نهٔ یم)

او په یو روایت کښے دی هرکله چه دوئ دا مخونه ولیدل نو وے وئیل:

[هٰذِهٖ وُجُوْهٌ لَوْ اَقْسَمَتْ عَلَى اللّٰهِ اَنْ یُّزِیْلَ الْجِبَالَ لَاَزَالَهَا!]

دا داسے مخونه دی چه که په الله باندے قسم وکړی چه هغه غرونه زائل کړی نو الله به ئے زائل کړی۔

نو هغوی شرحبیل راولیږلو چه مونږ مباهلے ته تیار نهٔ یو او مونږ تا په خپل ځان باندے حاکم جوړه وو چه تهٔ په مونږ کښے څه فیصله کوے د نن نه تر شپے پورے او د شپے نه تر صبا پورے تا چه څه فیصله وکړه هغه به جائز وی۔

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چه صحیح ده چه تاسو ایمان نهٔ راوړئ نو جزیه به ورکوئ۔

(جزیه د دعوت یوه لاره ده چه دوئ به تنګ شی آخر به اسلام ته غاړه کیږدی، او وخت په وخت به د مسلمانانو سره ملاویږی راملاویږی نو ایمان ته به مجبوره شی)

نو رسول الله ﷺ پرے جزیه مقرر کړه چه

[كُلَّ عَامٍ اَلْفَيْ حُلَّةٍ، اَلْفَ حُلَّةٍ فِيْ رَجَبَ وَاَلْفًا فِيْ صَفَرَ]

هر کال به دوه زره (٢٠٠٠) جوړے جامے ورکوئ، زر (١٠٠٠) جامے په رجب میاشت کښے او زر (١٠٠٠) جامے په صفر میاشت۔ چه د هرے جامے قیمت به څلویښت (٤٠) درهم وی۔ او د هرے جامے سره به یو اُوقیه سپین زر ورکوئ (یو اُوقیه څلویښت (٤٠) درهم وی) دا ئے پرے مقرر کړل ځکه چه دا خلك مالداره وو، مالونه ورسره زیات وو۔

(او دا ئے هم ورته وویل چه که مسلمانان تاسو نه په سوال باندے د جنګ دپاره څه زغرے او اسونه او وسلے غواړی نو هغه به ورکوئ)

بیا صحیح حدیث کښے دی چه دوئ وویل چه مونږ دا منو او اُوس نه به ئے درکوو خو [اِبْعَثْ مَعَنَا رَجُلًا اَمِيْنًا] مونږ سره یو امانتدار سړے ولیږه۔

(هسے نهٔ چه مونږ ورله دا پوره ورکړو او هغه ئے تا ته پوره راونهٔ رسوی)

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[لَاَبْعَثَنَّ مَعَكُمْ رَجُلًا اَمِيْنًا حَقَّ اَمِيْنٍ]

زه به تاسو سره (صبا) یو امانتګر سړے ولیږم چه رشتینی امانتګر دے۔

نو مسلمانانو هر یو ځان اوچت اُوچت کوو چه ما ولیږی، او بل وئیل چه ما ولیږی (دلته د دوئ مشری مقصد نهٔ دے بلکه دا کلمه ئے مقصد دے چه د الله نبی ورته رشتینی امانتګر وائی، نو ددهٔ خو دنیا او آخرت دواړه ښه شو، دا ډیر لوی منقبت دے چه د نبی ﷺ په خوله باندے د خیانت او غدر او دهوکے نه پاك شی)

عمر رضي الله عنه وفرمایل : زما مخکښے مشری نهٔ وه خوښه خو چه دا حدیث مے واوریدو نو ما ته پته ولګیده چه په مشرانو کښے هم ښه او امانتګر خلك وی نو د دغه وخت نه زما مشرئ ته لږ شان ذهن ساز شو۔

نو رسول الله ﷺ ابوعبیده بن جراح ﷺ راوغوښتو او هغه ئے ولیږلو۔

او عبد الله بن عمر ﷺ او انس بن مالك ﷺ د نبی ﷺ نه ارشاد نقل کړیدے :

[لِكُلِّ اُمَّةٍ اَمِيْنٌ وَاَمِيْنُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَبُوْعُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ]

هر امت کښے یو امین وی او ددے امت امین ابوعبیده بن جراح ﷺ دے۔

(ددے دا مطلب نهٔ دے چه گنے نورو صحابه کرامو کښے د امانت صفت نهٔ وو، نه، بلکه ټول صحابه کرام امانت والا وو او په امت کښے ډیر خلك امانت والا شته، لیکن دهٔ کښے دا صفت په خصوصی توگه مشهور وو۔

لکه صدیقین پدے امت کښے ډیر زیات دی لیکن ابوبکر صدیق ﷺ کښے د صدیقیت ډیر موجود وو، فاروقان پدے امت کښے ډیر دی، چه د حق او د باطل فرق راولی، لیکن عمر ﷺ کښے په بیل شان جدا وو، او حیاء په امت کښے ډیره ده، لیکن په عثمان ﷺ کښے مشهوره ده، او د قضاوت او فیصلے صفت په ډیرو کښے شته لیکن په علی بن ابی طالب ﷺ کښے ډیر زیات مشهور وو۔

نو ابوعبیده ﷺ ئے ورسره ولیږو او جزیه به د دوئ نه هر کال راتلله۔

بیا روستو زمانه کښے دوه مشران عاقب او سیّد هم ایمان راوړو ځکه چه نبی ﷺ به بار بار هغوئ ته د دعوت دپاره کسان ورلیږل لکه خالد بن ولید ﷺ ئے روستو زمانه کښے لیږلے وو، بنو الحارث بن کعب (نجران) ته، چه دوئ ته دعوت ورکړی، نو هغوی دعوت قبول کړو نو پدے کښے عاقب او سیّد چه دا دوه امیان مشران وو دوئ ایمان راوړو او مُلا (ابوحارثه) پکښے ایمان رانهٔ وړو۔ (غلطو مُلیانو کښے د حق سره د ضد صفت زیات وی)

رسول الله ﷺ خالد بن ولید ﷺ ته وویل چه ته نجران ته لاړ شه او بنی الحارث بن کعب ته د اسلام درے کرته دعوت ورکړه، که خبره ئے قبوله کړه نو هغوی کښے وسیږه او هغوئ ته د اسلام احکام بیان کړه، او که د اسلام نه ئے انکار وکړو نو بیا ورسره جنگ وکړه۔ نو خالد بن ولید ﷺ په لسم (١٠) هجری کښے د ربیع الاول په میاشت کښے نجران طرف ته روان شو۔ هلته ئے خلکو ته دعوت ورکړو نو هغوی خبره ومنله او اسلام کښے داخل شول او خالد بن ولید ﷺ هغوی ته د دین تعلیم شروع کړو او رسول الله ﷺ ته ئے د هغوئ د اسلام خبر راولیږلو،

بیا د نجران نه ئې څان سره مدینې ته یو وفد راوستو چه په هغوئ کښې قیس بن الحصین او یزید بن عبد المدان وو، بیا دا وفد د شوال میاشتې په آخر کښې یا په ذی القعده کښې واپس شو (چه دلته ئې ډیر دین زده کړې وو) او رسول الله ﷺ په دوئ باندې قیس بن الحصین امیر مقرر کړو۔

بیا رسول الله ﷺ دوئ سره عمرو بن حزم رضی الله عنه ولیږلو دې دپاره چه دوئ ته د اسلام د احکامو تعلیم ورکړي او د دوئ نه صدقات (زکاتونه) واخلي، او رسول الله ﷺ دهٔ دپاره یو خط ولیکلو چه په هغې کښې دیني احکام او د زکاۃ او د دیاتو اندازې ذکر وې، نو رسول الله ﷺ وفات شو او عمرو بن حزم رضی الله عنه همغه شان په نجران باندې گورنر مقرر وو۔ (امتاع الاسماع)

او د نجران ډیر خلك زوستو زمانه کښې په ایمان کښې داخل شو۔

وبالله التوفیق۔

۷- د کعب بن زهیر رضی الله عنه راتلل او د هغهٔ د اسلام واقعه :

زهیر بن ابي سلمیٰ مُزَنِيُ د جاهلیت د زمانې ډیر لوی شاعر وو چه په "سبعه معلقه" کتاب کښې دهٔ یوه قصیده هم شته او دا د شاعرانو کورنئ وه۔

او رسول الله ﷺ زهیر لیدلې وو چه د سلو (۱۰۰) کالو په عمر وو نو دا ئې وفرمایل :

[اَللّٰهُمَّ اَعِذْنِيْ مِنْ شَيْطَانِهٖ]

اې الله ! ما دهٔ د شیطان نه وساته، نو ترمرگه پورې ئې یو شعر هم ونهٔ وئیلو۔ (امتاع)

نو د هغهٔ ځوی کعب بن زهیر هم شاعر وو، او د دهٔ ورور بُجَیر بن زهیر هم شاعر وو۔

کعب هغه سړې وو چه دهٔ به د رسول الله ﷺ هجوې کولې، یعني بدیانې به ئې وئیلې۔

هرکله چه د طائف غزا په (۹) هجري کښې وشوه نو دې وخت کښې کعب او بُجَیر

دواړه اَبرَقُ العراق ته تښتیدلی وو، نو د بُجیر په زړهٔ کښې د اسلام رنړاګانې بلې شوې نو هغهٔ خپل ورور (کعب) د ګډو بزو سره پریخودو او دا ئې ورته وویل چه تهٔ دلته وسیږه او زهٔ دې سړی (رسول الله ﷺ) ته ورځم او ددهٔ خبرې آورم چه دې څه وائی نو کله چه دې مدینې ته راغې نو رسول الله ﷺ په دهٔ باندې اسلام پیش کړو نو دهٔ اسلام راوړو۔

نو کعب ته خبر ورسیدو چه بُجیر خو اسلام راوړو نو هغهٔ ورته دا راتلونکی شعرونه راولیږل:

اَلَا اَبـلِـغَـا عَـنِّـیْ بُـجَـیْـرًا رِسَـالَةً	❁	فَهَـلْ لَكَ فِيْـمَـا قُـلْـتُ وَيْحَكَ هَلْ لَّكَا
فَبَيِّـنْ لَـنَـا اِنْ كُـنْـتَ لَسْـتَ بِفَـاعِلٍ	❁	عَـلَـى اَيِّ شَـیْءٍ غَيْـرَ ذٰلِكَ دَلَّـكَـا
عَـلَـى خُـلُـقٍ لَـمْ تُـلْفِ اُمًّـا وَلَا اَبًـا	❁	عَلَيْـهِ وَلَـمْ تُـدْرِكْ عَـلَـيْـهِ اَخًـا لَّـكَـا
فَـاِنْ اَنْـتَ لَـمْ تَـفْـعَلْ فَلَسْـتُ بِـآسِفٍ	❁	وَلَا قَـائِـلٍ اِمَّـا عَثَـرْتَ لَـعًـا لَّكَ
سَـقَـاكَ بِهَـا الْـمَـأْمُـوْنُ كَـأْسًـا رَوِيَّةً	❁	فَـأَنْهَـلَكَ الْـمَـأْمُـوْنُ مِـنْهَـا وَعَلَّـكَـا
فَـفَـارَقْـتَ اَسْـبَـابَ الْـهُـدٰى وَاتَّبَعْتَـهٗ	❁	عَـلَـى اَيِّ شَـیْءٍ وَيْـبَ غَيْـرُكَ دَلَّـكَـا

خبر دار! زما د طرف نه بُجیر ته دا پیغام ورسوه، چه آیا ما چه تا ته کومه خبره کړې وه نو تهٔ پدې کښې رغبت لرې۔ مونږ ته دا وښایه چه که تهٔ دا کار نشې کولې نو بیا ددې نه سوئ دین تا ته چا وخودلو، داسې دین چه تا په هغې باندې نهٔ مور موندلې او نهٔ پلار او نهٔ دې ورور دغه دین اختیار کړیدې۔

که تهٔ دا دین نهٔ پریدې نو زما په تا هیڅ خفګان نشته او نهٔ تا ته تعزیه کوم۔

تا ته مامون (رسول الله ﷺ) ددې دین نه بار بار ډکه کاسه درکړه نو تهٔ ئې پرې ښه موړ کړې۔ او تهٔ د هدایت د اسبابو نه جدا شوې او ددې شخص تابعداری دې شروع کړه، خوار شې د بل چا په اشاره په کوم دین پسې روان شوې۔

او بیا ئې د رسول الله ﷺ بدی بیان کړه۔

هر کله چه دا اشعار بُجیر ته راورسیدل نو هغهٔ دا بده وګنړله چه دا د رسول الله ﷺ نه پټ کړی نو رسول الله ﷺ ته ئې ولوستل،

رسول الله ﷺ چه هر کله دا شعر واوریدو: [سَقَاكَ بِهَا الْمَأْمُوْنُ]

نو ویے فرمایل چه خبره ئے رشتیا ده او دیے دروغجن دیے، زهٔ مامون (امانتدار) یم۔ او هرکله ئے چه دا واوریدل :

[عَلٰی خُلُقٍ لَم تُلفِ اُمًّا وَّلَا اَبًا عَلَیهِ]

نو ویے فرمایل : آؤ پدیے اخلاقو او دین باندیے دهٔ مور او پلار نهٔ دی موندلی (یعنی هغوی خو جاهلیت کښیے تیر شویدی)

نو هرکله چه رسول الله ﷺ دا شعرونه واوریدل نو غصه شو او د هغهٔ وینه ئے هدر کړه۔ او دا ئے وفرمایل : [مَنُ لَقِیَ کَعُبًا فَلیَقُتُلُهٗ]

څوك چه د كعب سره ملاؤ شي نو هغه دِیے قتل کړی۔

وجه دا وه چه د رسول الله ﷺ بدی بیانول خو تول دین بربادول او رسول الله ﷺ چه کوم دعوت الی الله کړیدیے نو هغے ته لویه خطره وه، ځکه چه زهیر سره داسیے وژونکیے وسله وه چه د هغے د عربو په ژوند باندیے ډیر لوی اثر وو چه هغه شعر دیے۔

نو پدیے کښیے بُجیر خپل ورور کعب ته دا خبره ولیکله او دا خبرئے ورکړو چه رسول الله ﷺ ستا وینه هدر کړیده (دائے ووبل چه دا چا قتل کړو نو هیڅ پریے نشته) او دا هغه زمانه وه چه رسول الله ﷺ د طائف نه راواپس شویے وو،

او ددیے وجه دا وه چه دهٔ به ام هانئ بنت ابی طالب رضی الله عنها په اشعارو کښیے په بدئ ذکر کوله۔

نو کعب خپل ورور ته خط ولیږلو چه [اَلنَّجَاءَ النَّجَاءَ وَمَا اَرَاكَ اَنُ تَفُلُتَ،]

ځان خلاص کړه، وتښته او زما خیال نهٔ دیے چه تهٔ به بچ شے۔

او یو روایت کښیے دی : دائے ورته ولیکل چه رسول الله ﷺ په مکه کښیے هغه کسان قتل کړل چه د رسول الله ﷺ بدی به ئے وئیله او هغهٔ ته به ئے ضرر ورکولو او کوم شاعران چه بچ شویدی لکه ابن الزبعریٰ او هُبیره بن ابی وهب نو هغوئ هر طرفته تښتیدلی دی، نو که ستا سره د خپل ځان غم وی نو رسول الله ﷺ ته راوالوزه ځکه چه هغه هغه کس نهٔ وژنی چه خپله توبه ویستونکیے راشی، او بیا ئے هغهٔ ته د اسلام دعوت ورکړو۔ او که ایمان نهٔ راوړیے نو داسیے علاقے ته لاړ شه چه د رسول الله ﷺ لاس هلته نهٔ رسیږی۔

او دا شعرونه ئے ورته ولیږل :

مَنْ مُبْلِغٌ كَعْبًا فَهَلْ لَكَ فِي الَّتِي تَلُومُ	عَلَيْهَا بَاطِلًا وَهِيَ أَحْزَمُ
إِلَى اللّٰهِ (لَا الْعُزّٰى وَلَا اللَّاتِ) وَحْدَهُ	فَتَنْجُوْ إِذَا كَانَ النَّجَاءُ وَتَسْلَمُ
لَدٰى يَوْمَ لَا يَنْجُوْ وَلَيْسَ بِمُفْلِتٍ مِنَ	النَّاسِ إِلَّا طَاهِرُ الْقَلْبِ مُسْلِمُ
فَدِيْنُ زُهَيْرٍ وَهُوَ لَا شَيْءَ دِيْنُهُ	وَدِيْنُ أَبِيْ سُلْمٰى عَلَيَّ مُحَرَّمُ

 څوك شته چه كعب ته زما دا خبره ورسوي، آيا ستا مينه شته په هغه دين كښې چه تهٔ په هغې باندے په باطله سره ملامتيا وائے حال دا چه هغه ډير د هوښيارتيا دين دے۔

كله چه منده نجات وركوي نو تهٔ به صرف الله تعالیٰ ته منده وهے نهٔ عزیٰ او نهٔ لات ته نو هله به نجات مومے او د عذابونو نه به بچ كيږے۔

په هغه ورځ باندے چه نجات به نشي موندلے او د الله تعالیٰ نه به نشي خلاصيدے مگر هغه انسان چه پاك زړهٔ والا مسلمان وي۔

(پدے خبره پو هه شه) چه زما (د پلار) زهير دين هيڅ شے نهٔ دے، او زما (د نيكه) ابو سلمیٰ دين په باندے حرام كړے شويدے۔ (ځكه چه د هغوي خو د شرك والا دين وو)

هركله چه كعب ته دا خط ورسيدو نو په هغهٔ باندے زمكه تنگه شوه، او پهٔ خپل نفس باندے ويريدو، او بل د هغهٔ دشمنانو هم هغه ويره ولو كوم چه د هغهٔ سره هلته حاضر وو هغهٔ ته ئے وويل چه تهٔ به وژلے كيږے، او د رسول الله ﷺ حكومت وخت په وخت فراخه كيدو والا دے، نو داسے خلكو ته د پناه ځائے نهٔ ملاويدو،

او بُجير ورته دا هم وويل چه حقيقت د خبرے دا دے چه دا دين غالبه كيدونكے دے او زما خيرخواهي دا ده چه رسول الله ﷺ ته راشه عذر ورته پيش كړه ځكه چه هغه عذر قبلوي او د هغهٔ اخلاق دا دي چه خلكو ته معافي كوي۔

نو اول كښې كعب اراده وكړه چه ځان په خپلے قبيلے سره بچ كړي ليكن قبيلے دا خبره پريخوده او ددهٔ نه ئے د بيزارئ اعلان وكړو،

نو پدے كښے كعب بن زهير اراده وكړه چه ايمان راوړي نو د شام نه مدينے ته پټ راغلو، او د جُهَيْنَه قبيلے د يو انصاري په كور كښے ډيره شو، ځكه چه هغهٔ سره د

مخکښې نه اشنا وو، او هلته ئې ایمان راوړو (ځکه چه د ایمان په اراده راغلې وو) نو هغۀ په سهار کښې رسول الله ﷺ ته راوستو او د هغۀ سره ئې مونځ وکړو او د مانځه نه روستو ئې ورته اشاره وکړه چه دغه رسول الله ﷺ دے،

(او رسول الله ﷺ دے نۀ پیژندلو چه دا کعب دے او هغه سړے دے چه مونږ ته کنځلے کوی)، نو کعب ورپاځیدو او هغۀ ته ئې لاس ورکړو او دا ئې ورته وویل: چه یارسول الله کعب بن زهیر که چرته توبه وباسی او تا نه امان وغواړی او زۀ ئې تا له راولم نو آیا تۀ به د هغۀ توبه او ایمان قبول کړے؟ نو نبی ﷺ وفرمایل: آؤ.

(هر کله چه کعب پدے پوهه شو چه نبی ﷺ نرم دے او څه نۀ وائی) نو دۀ وویل: زۀ کعب بن زهیر یم.

نو پدے کښې یو انصاری صحابی توره راواخسته او دا ئې وویل چه یارسول الله اجازه وکړه چه دا څټ ورله ووهم (ځکه چه دا هغه سړے دے چه تا ته ئې کنځل کړیدی)

رسول الله ﷺ وفرمایل:

[دَعْهُ عَنْكَ، فَإِنَّهُ قَدْ جَاءَ نَا تَائِبًا نَازِعًا]

دۀ نه قلار شه، ځکه چه دے خو مونږ ته توبه ګار راغلے دے، هر څه ئې د زړۀ نه ویستلی دی.

(دا د اهل حقو طریقه ده چه یو تن ورپسے خبرے وکړی او بیا الله ته توبه وباسی او قرآن او حدیث قبول کړی نو د دوئ ورسره هیڅ دشمنی نۀ وی، ځکه چه الله ورته معافی وکړه نو هغوی هم ورته ټولے خبرے معاف کوی، او که هغه الله ته توبه نۀ وباسی نو بیا به ترے دوئ ټول حقونه غواړی، که غیبت ئې کړے وی، یا بهتان ئې تړلے وی)

نو هغه شاعر وو نو پدے وخت کښې ئې یوه ښکلے قصیده ووئیله چه د انصارو نه ئې لږ خفګان ښکاره کړو او د مهاجرینو صفت ئې وکړو، او پدے قصیده کښې ئې د رسول الله ﷺ صفت او د خپل ایمان مضبوطوالے ئې وخودلو، او رسول الله ﷺ ته ئې خپل عذر کولو، چه دغه قصیده په: [بَانَتْ سُعَادٌ] سره مشهوره ده.

او بل په قصیده بُرده باندے مشهوره ده.

بُرده څادر او شړئ ته وائی، ددے قصیدے په وینا سره رسول الله ﷺ دومره خوشحاله

شو چه راپاڅیدو او په هغهٔ باندے ئے خپله شړئ مبارکه ورواچوله، چه دغه شړئ به دهٔ په ټول ژوند کښے محفوظه ساتله،

معاویه ﷛ ترے مطالبه وکړه چه ما ته ئے په ډیرو پیسو راکړه لیکن هغهٔ ترے منع کړه، او دا ئے وویل :

[مَا كُنْتُ لِأُوْثِرَ بِثَوْبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَحَدًا]

زهٔ د رسول الله ﷺ په جامه باندے هیڅوك نهٔ غوره كوم۔

دهٔ په ټول ژوند کښے دا شړئ خرڅه نکړه مگر معاویه ﷛ د کعب بن زهیر د وفات نه روستو د هغهٔ د بعض څامنو نه په شل زره (۲۰۰۰۰) درهمو باندے واخسته چه هغه به د هغه زمانے نه خلفاؤ په اخترونو کښے اغوستله۔

ددے وجه نه دا قصیده په قصیده بُرده سره مشهوره شوه، او دے ته قصیده کعبیه لامیه هم وائی۔

په رسول الله ﷺ باندے ئے ډیر زیات تاثیر وکړو څکه چه د هغهٔ ذوق ژوندے وو، ښهٔ او بد اشعار ئے پیژندل، ادنیٰ او اُوچتے معانی ئے پیژندلے۔

[شرح قصيدة بانت سعاد، للامام عبد الله بن هشام الانصارى، وامتاع الاسماع]

پدے قصیده کښے ئے داسے وویل :

نُبِّئْتُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ اَوْعَدَنِیْ	❁	وَالْعَفْوُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ مَاْمُوْلُ
مَهْلًا هَدَاكَ الَّذِیْ اَعْطَاكَ نَافِلَةَ	❁	الْقُرْآنِ فِیْهَا مَوَاعِیْظٌ وَّتَفْصِیْلُ
كُلُّ ابْنِ اُنْثٰى وَاِنْ طَالَتْ سَلَامَتُهٗ		یَوْمًا عَلٰى آلَةٍ حَدْبَاءَ مَحْمُوْلُ

ما ته خبر راکړے شوے چه رسول الله ﷺ ما ته دهمکی راکړیده لیکن د رسول الله ﷺ په دربار کښے د معافئ امید کیدے شی۔

نو (اے د الله نبی!) ما ته معافی وکړه، تا ته هغه الله تعالیٰ هدایت کړیدے چه تا ته ئے په تحفه کښے قرآن درکړیدے چه په هغے کښے نصیحتونه او د دین تفصیلات دی۔

د هرے ښځے څوی به اګرکه په ډیر اُوږد ژوند کښے محفوظ او روغ رمټ وی خو یوه ورځ به په کږه آله (کټ) باندے (په اُوګو) پورته کړے شی۔

او دا ئے هم وویل :

اِنَّ الرَّسُوْلَ لَنُوْرٌ يُسْتَضَاءُ بِهٖ	❁	مُهَنَّدٌ مِنْ سُيُوْفِ اللّٰهِ مَسْلُوْلُ

دا رسول خو هغه رنړا ده چه نور خلك ددے نه رنړا حاصلوی، او د الله تعالیٰ د تورو نه هندی توره ده چه په کافرانو باندے راوخکلے شویده۔

او پدے اشعارو کښے ئے لږ شان تکے په انصارو وکړے۔

نو انصار خفه شو چه په مونږه ئے رد وکړو نو کله چه ددهٔ اسلام مضبوط شو نو بله ورځ ئے د انصارو ډیر مزیدار صفتونه وکړل چه دوئ خو د الله تعالیٰ د دین مددګار دی، او خپله وینه ئے د رسول الله ﷺ او د دین اسلام نه قربان کړیده۔

مَنْ سَرَّهٗ كَرَمُ الْحَيَاةِ فَلَا يَزَلْ	❁	فِيْ مِقْنَبٍ مِنْ صَالِحِي الْأَنْصَارِ
وَرِثُوا الْمَكَارِمَ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ	❁	إِنَّ الْخِيَارَ هُمْ بَنُو الْأَخْيَارِ

څوك چه عزتمن ژوند غواړی نو هغهٔ به د نیکانو انصارو په جماعت کښے همیشه وسیږی۔

دا هغه خلك دی چه عزتونه او شرافتونه دوئ د مشرانو نه د یو بل نه په میراث کښے اخستی دی، ځکه چه غوره خلك د غورو ځامن وی۔

رسول الله ﷺ ددهٔ په اسلام باندے ډیر خوشحاله شو ځکه چه یو شاعر مسلمانیدل لویه فتح وی۔ مسلمانان ئے د ضررونو نه خلاص شی۔

ددهٔ بعض نور د عبرت شعرونه دا دی :

لَوْ كُنْتُ اَعْجَبُ مِنْ شَيْءٍ لَأَعْجَبَنِيْ	❁	سَعْيُ الْفَتٰى وَهُوَ مَخْبُوْءٌ لَهُ الْقَدَرُ
يَسْعَى الْفَتٰى لِأُمُوْرٍ لَيْسَ يُدْرِكُهَا	❁	فَالنَّفْسُ وَاحِدَةٌ وَالْهَمُّ مُنْتَشِرُ

که ما د څه شی نه تعجب کولے نو زهٔ به د ځوان کوشش په تعجب کښے اچولے چه دے کوشش کوی حال دا چه ددهٔ دپاره تقدیر لیکلے شویدے۔ (د هغے مطابق به ورته ملاویږی)۔ ځوان د داسے کارونو دپاره منډه وهی چه هغه ئے نشی موندلے، نو نفس ئے یو دے او مقصدونه (او غمونه) ئے خوارهٔ دی۔

۸- **وفد ثقیف** : دا پـه نهـم کـال کښـې د رمضان پـه میاشت کښې راغلي وو چـه ددې تـفـصـیـلـي بیان مخکښې د طائف د غزا پـه موقعه کښې تیر شویدې، بیرته ورتـه رجوع وکړه۔ الله تعالیٰ دې ما او تا ته بخنه وکړي۔

۹- وفد د صُداء قبیلې
(سنه ۸ هجري)

نبي ﷺ چـه کله په اتم (۸) کال د هجرت د طائف د محاصرې نه جِعرانې ته راغلو او بیـا د حُنـیـن غـنـیـمـتـونـه ئې تقسیم کړل او د هغې نه پس مدینې ته راورسیدو نو دلته ئې یمن ته د جماعتونو لیږل شروع کړل نو د څلورو سوو (٤٠٠) مجاهدینو یو جماعت ئې تیـار کـړو او د هغوی مشرئې قیس بن سعد بن عباده رضی الله عنهما مقرر کړو او هغهٔ تـه ئې غټـه جنډه سپینه ورکړه او وړه جنډه ئې توره ورکړه او دا حکم ئې ورته وکړو چه د یمن یوې غاړې ته لاړ شي هلته د صُداء په نوم یوه قبیله ده چه مشرکان دي۔

کـلـه چه دا جماعت روان شو او قناة علاقې ته ورسیدل، (قناة د مدینې یوه وادي ده چه د مـدینې او د اُحـد تـرمـینـځ تیریږي) او هلته ئې دمه وکړه او خپل فوج ئې تیاره ولو نو پـدې کښې د صُداء قبیلې یو مشر وو د هغهٔ زیاد بن حارث الصُدائي نوم وو، هغه خبر شو چه زما په قوم باندې حمله کیږي نو هغه په جلتۍ باندې رسول الله ﷺ ته راغلو او ایمان ئې راوړو او دا ئې وویل چه اې دَ الله رسوله

[جِئْتُكَ وَافِدًا عَلٰى مَنْ وَرَائِىْ، فَارْدُدِ الْجَيْشَ وَاَنَا لَكَ بِقَوْمِىْ]

زهٔ تـا تـه د خپـل روسـتـو قـوم د طرف نـه قـاصـد راغلې یم، نو تهٔ د مسلمانانو دا فوج راواپس کـړه (چه زما په قوم حمله ونکړي) او زهٔ د خپل قوم ذمه واریم چه هغوی به تا ته راولم۔ (هغوی زما خبره مني)

رسول الله ﷺ خپل فوج د قناة نه بیرته راواپس کړو (چه دا خلك خپله ایمان راوړي

او قاصد ئے راغلے دے نو د قتال څه ضرورت دے) نو زیاد بن حارث الصدائی لاړو او خپل قوم ته ئے دعوت ورکړو نو د پنځلسو (۱۵) کسانو وفد ئے تیار کړو او رسول الله ﷺ ته مدینے ته راغلل، کله چه دوئ راغلل نو پدے کښے سعد بن عباده رضی الله عنه رئیس الخزرج وویل چه

[يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ دَعْهُمْ يَنْزِلُوْا عَلَيَّ]

اے د الله رسوله ! دا کسان ما ته پریده چه زما میلمانهٔ شی، نو رسول الله ﷺ ورته وویل : صحیح ده، نو دوئ په سعد رضی الله عنه باندے میلمانهٔ شو او هغهٔ ورته مرحبا ووئیله او ډیر زیات اکرام ئے ورله وکړو، او دوئ ته ئے کپړے (جامے) هم ورکړے،

بیا ئے دوئ رسول الله ﷺ ته راوستل او د هغهٔ سره ئے په اسلام باندے بیعت وکړو او ایمان ئے راوړو۔ نو دوئ وویل چه مونږ تاسو ته د خپل قوم د ایمان ذمه واری درکوو چه هغوی به تاسو ته راولو، دوئ لاړل او په خپل قوم کښے ئے دعوت کولو تردے چه سلو (۱۰۰) کسانو ایمان راوړو او هغوئ راغلل او د رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کښے ملګری شو۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[يَا اَخَا صُدَاءٍ اِنَّكَ لَمُطَاعٌ فِيْ قَوْمِكَ]

اے زیاد صُدائی تهٔ خو په خپل قوم کښے منلے شوے ئے، قوم ستا خبره منی، نو هغهٔ وویل : آؤ، اے د الله رسوله ! دا د الله احسان دے۔

زیاد بن حارث الصدائی هغه شخص دے چه د رسول الله ﷺ په مؤذنینو کښے هم شمار دے، د نبی ﷺ اُوه مؤذنین وو چه اذانونه به ئے کول، مشهور پکښے بلال رضی الله عنه دے، نور دا دی : ابو محذوره رضی الله عنه، عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه، زیاد بن حارث الصدائی رضی الله عنه، سعد القُرَظ رضی الله عنه، او کله کله ابو هریره رضی الله عنه او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هم اذانونه کړیدی، او شاذ او نادر اوقاتو کښے نورو هم اذانونه کړیدی۔

(دا مختصره واقعه وه چه پدے کښے دے مشر دا هوښیارتیا کړیده چه نبی ﷺ ته راغلے دے او په هغهٔ باندے ئے مجاهدین بیرته واپس کړیدی او قوم ئے د مصیبت نه بچ کړے او همیشه چه د ښه مشران وی، خپل قوم ته صحیح خبرے وښائی او هغوی ته فائده ورکړی او چه کله غلط مشران مسلط وی نو دا د الله عذاب وی)۔

پدې طریقه به مختلف وفدونه راتلل تردې چه عام یمنیان او نجران والا په اسلام کښې داخل شو، او د شام علاقو نه هم خلك راغلل۔

یمن ته د معاذ بن جبل رضی الله عنه او ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه لیږل

نبی ﷺ بیا یمن ته دوه مشران ولیږل چه تاسو لاړ شئ، دغه خلك په اسلام کښې داخل شویدی دوئ ته تعلیم ورکړئ، او څوك چه اسلام کښې داخل نهٔ وی د هغوی نه جزیه راوړئ، او څوك چه اسلام کښې داخل دی نو د هغوی نه به زکاة هم راټولوئ او بیت المال ته به راوړې شي او عوامو ته به دعوت ورکوئ، او د دعوت طریقه دا وه چه په یو ځائے کښې به ئې مشر مقرر کړو نو هغهٔ به په هغه علاقه باندې والی (گورنر) هم وو او خلکو ته به ئې قرآن هم خودلو، احکام به ئې هم خودل او ورسره ورسره تربیت ئې کولو، میاشت به ئې تیره کړه، کال به ئې تیر کړو بیا به ئې هغه راواپس کړو بل والی به ئې ورولیږلو، لکه اول کښې ئې دلته دوه کسان ولیږل۔

یو معاذ بن جبل رضی الله عنه او بل ابو موسی اشعری رضی الله عنه۔

معاذ بن جبل رضی الله عنه ئې په بره طرف د یمن مقرر کړو چه هغه د عَدَن طرف دے د سکون او سَکاسك ترمینځ۔ او ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه ئې په لاندې طرف د یمن باندې چه په هغې کښې زُبید، مآرب او زَمَع او سَاحِل علاقې دی۔

حدیث د بخاری کښې راغلی دی چه کله ئې دا دواړه لیږل نو دا ئې ورته وفرمایل :

[یَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا]

د خلکو سره آسانی کوئ او سختی مهٔ کوئ۔

دا ډیر عام الفاظ دی چه هر قسم آسانی پکښې داخله ده، یعنی د اخلاقو په لحاظ او د تعلیم په لحاظ او د چا نه د یو ذی په اخستو کښې به آسانی کوئ۔

[وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا]

او دواړه خلکو ته زیری ورکوئ او خلك د دین نه مهٔ متنفر کوئ۔ یعنی خلکو له د دین سره محبت پیدا کړئ۔

[وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا]

او یو بل سره اتفاق ساتئ او اختلاف مهٔ کوئ، ځکه چه اختلافاتو سره ډیر سخت نقصانات پیدا کیږی، دا دعوت ته لوی رکاوټ جوړیږی۔

او کله کله به دا دواړه د یو بل سره ملاویدل هم۔ او یو بل باندے به ئے سلام اچولو۔

لکه یوه ورځ ابو موسیٰ اشعری ﷺ ناست وو معاذ بن جبل ﷺ ورله راغلو چه وے کتل خوا کښې ورسره یو تن ناست دے او تړلے شویدے، تپوس ئے وکړو چه دا څه دی؟

هغهٔ وفرمایل: دا یو سړے دے چه ایمان نه پس مرتد شویدے، او ما نیولے دے، هغهٔ ورته وویل چه دا تا ولے ځان سره کینولے دے،

(ځکه چه د مرتد حکم دا دے چه هغه به وژلے شی)

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: [مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهٗ فَاقْتُلُوْهُ] [بخاری: ٣٠١٧]

چا چه دین بدل کړو نو هغه قتل کړئ،

(مګر دا یاد ساته چه دا وژل به حاکمِ وقت او بادشاه او امیر کوی چه د هغوی سره طاقت وی) عوامو ته دا حق حاصل نهٔ دے، بعض خلك داسے حدیثونه واوری نو ځان ته ئے متوجه کړی چه ګڼے دا زما ذمه واری ده نو د هغے نه شر او فساد جوړ شی)

په بل روایت کښې دی: دا سړے یهودی وو بیا ئے اسلام قبول کړو بیرته خپل باطل دین ته واوړیدو او یهودی شو۔ (مسلم: ٤٨٢٢)

نو ابو موسیٰ اشعری ﷺ ورته وفرمایل: دا سړے د همدے دپاره راوستے شویدے چه قتل کړے شی۔ (یعنی دا به بیګاه یا صبا وژنو)۔ نو تهٔ راکوز شه۔

نو معاذ بن جبل ﷺ وویل: چه قسم په الله [لَا اَنْزِلُ حَتّٰی يُقْتَلَ، قَضَاءُ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ]

چه زهٔ د خپلے قچرے نه نهٔ کوزیږم ترڅو چه دا تاسو وژلے نهٔ وی (دا څنګه کیدے شی چه یو تن دے د مسلمانانو په معاشره کښې وسیږی او هغه دے د اسلام پورے توقے کوی او مرتد کیږی دے او هغه دے نهٔ وژلے کیږی) دا د الله او د هغهٔ د رسول فیصله ده۔

هرکله ئے چه هغه قتل کړو نو معاذ بن جبل ﷺ د سورلئ نه راکوز شو۔

د یو بل نه به ئے کله نا کله تپوسونه کول چه تهٔ د ورځے څه عمل کوے او د شپے څه؟

ابو موسی اشعری ﷺ ورته وویل: زهٔ د ورځے فیصلے کوم او د شپے عبادت کوم۔

معاذ ﷺ ورته وویل: دا خو تا په ځان ډیره سخته راوستے ده، (چه د ورځے فیصلے وی

او د شپې عبادت وی نو دې سره صحت خرابیږی، آرام به څه وخت کوی، د بدن هم حق شته) داسې کوه چه د شپې په څه حصه کښې اُودهٔ کیږه او څه حصه کښې عبادت کوه۔

او زهٔ خپله داسې کوم:

[فَاَحۡتَسِبُ نَوۡمَتِیۡ كَمَا اَحۡتَسِبُ قَوۡمَتِیۡ] [بخاری: ۴۳۴۲]

نو زهٔ خپل خوب هم ثواب گنړم لکه څنګه چه عبادت ته ودریدل ثواب گنړم۔

(څکه چه اُوده کیدل هم پدې نیت دی چه صحت مې ښه شی او صبا له مې ذهن برابر وی چه فیصلې په آسانئ سره کولې شم)۔

ددې وجه دا وه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی:

[اَعۡلَمُهُمۡ بِالۡحَلَالِ وَالۡحَرَامِ مُعَاذُ بۡنُ جَبَلٍ]

د ټولو خلکو نه په حلال او حرامو باندې زیات پوهه معاذ بن جبل ﷺ دې، او د قیامت په ورځ به دا د ټولو علماؤ نه مخکښې روان وی۔

کله چه دې یمن ته تللو نو نبی ﷺ دې په اُوښ باندې کینولو او خپله ورسره پیاده روان شو (د هغهٔ ډیر اکرام ئې کولو، هغه راکوزیدو لیکن نبی ﷺ پرینخودو) بیائې ورته وفرمایل:

[يَا مُعَاذُ اِنَّكَ عَسٰى اَنۡ لَّا تَلۡقَانِیۡ بَعۡدَ عَامِیۡ]

اې معاذ! شاید چه ددې کال نه بعد به ما ونهٔ وینې،

[لَعَلَّكَ اَنۡ تَمُرَّ بِقَبۡرِیۡ وَمَسۡجِدِیۡ]

او شاید چه تهٔ به زما په قبر او مسجد باندې راتیر شې۔(او زهٔ به نهٔ یم، زما او ستا ملاقات به ونهٔ شی)

(دا ښکاره دلیل دې چه رسول الله ﷺ وفات شویدې او په قبر کښې خښ کړې شویدې)

[فَبَكٰى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ]

نو معاذ بن جبل ﷺ ډیر وژړل د وجه د فراق د رسول الله ﷺ نه۔

(چه اُوس هم ترې جدا کیږی او بیا به همیشه هم جدا شی، د معاذ ﷺ د رسول الله ﷺ سره او د رسول الله ﷺ د معاذ ﷺ سره ډیره مینه وه، نو څکه ئې ورته دا خبره وکړه لکه رسول الله ﷺ وته فرمائیلی وو:

[یَا مُعَاذُ اِنِّیْ اُحِبُّكَ]۔

او دغه شان د تولو صحابه کرامو د رسول الله ﷺ سره انتهائی مینه وه)

بیا رسول الله ﷺ مدینے طرفته مخ راواړه ولو او وے فرمایل :

[اِنَّ اَوْلَی النَّاسِ بِیْ الْمُتَّقُوْنَ مَنْ کَانُوْا وَحَیْثُ کَانُوْا]

ما ته نزدے خلك متقیان دی، هرڅوك چه وی او هرچرته چه وی۔

[رواه البزار ورجاله ثقات ورواه الطبرانی فی الکبیر ص ١٠٥، مجمع الزوائد : ٣/١٠٣/٤٠٣٦ ومسند الصحابة فی الکتب التسعة رقم : ٣١ وقال شعیب : اسناده صحیح]

بیا معاذ بن جبل ﷺ په یمن کښے وو تردے چه رسول الله ﷺ وفات شو او هر چه ابو موسیٰ اشعری ﷺ وو نو هغه بیرته راواپس شو، لکه روستو په حجة الوداع کښے راځی چه بیائے علی بن ابی طالب ﷺ یمن ته لیږلے وو۔

بیا به علی ﷺ فیصلے په یمن کښے کولے او د هغه ځائے نه بیا سیده حجة الوداع کښے شریك شو، او د خپل ځان نه روستوئے ابورافع ﷺ غلام نائب پریخودو۔

داسے نور ډیر وفدونه نبی ﷺ ته راغلی دی او دا ټول کارونه څه په نهم کال شویدی او څه په اتم او څه په لسم شویدی۔



۱۰- وفد بَلِیٰ

(ربیع الاول سنه ۹ هجری)

بَلِیّ په قُضاعه قبیله کښې یوه وړه قبیله ده.

ددې قوم نه یو تن رُوَیفِع بن ثابت البَلَوِی ﷺ مخکښې ایمان راوړے وو.

دے وائی : زما د قوم وفد راغے په نهم (۹) کال په ربیع الاول میاشت کښې نو ما ته د دوئ د راتللو خبر وشو، زۀ بهر اُووتم تر اول سر د ثنیة الوداع پورې چه د هغوی په لاسونو کښې د خپلو سورلو واګے وې نو ما ورته مرحبا ووئیله او دا مې ووېل چه تاسو به زما مېلمانۀ یئ نو ما خپل کور ته بوتلل کوم چه بنی جَدِیْله کښې وو، نو دوئ هلته دمه وکړه او ما مېلمستیا ورکړه، بیا دوئ ښکلے جامې واغوستے، بیا مې رسول الله ﷺ ته راروان کړل، داسې وخت کښې رسول الله ﷺ ته راغلو چه هغه د ملګرو سره د سهار په باقیمانده سوری کښې ناست وو نو ما پرې سلام وکړو، ما ته ئې ووېل : رُویفع ئې؟.

ما ووېل : لبیك (حاضر یم) وې فرمایل : دا خلك څوك دی؟ ما ووېل : دا ما قوم دې، وې فرمایل :

[مَرْحَبًا بِكَ وَبِقَوْمِكَ]

تا ته او ستا قوم ته دِې مرحبا وی.

ما ووېل : یارسول الله ! دا خلك د خپل قوم د طرف نه تا ته مېلمانۀ راغلی دی چه د اسلام اقرار کوی، او دوئ د خپل قوم د طرفنه د اسلام ذمه واری ورکوی.

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يَهْدِهٖ لِلْإِسْلَامِ]

چا ته چه الله تعالیٰ د خیر اراده وکړی نو اسلام طرفته ورله هدایت وکړی.

او په یو روایت کښې دی : ددې وفد مشر چه ابو الضُبَیْب نوم ئې وو، رامخکښې شو او داسې ئې ووېل :

[إِنَّا قَدِمْنَا عَلَيْكَ لِنُصَدِّقَكَ وَنَشْهَدَ اَنْ مَا جِئْتَ بِهٖ حَقٌّ وَنَخْلَعَ مَا كُنَّا نَعْبُدُ وَيَعْبُدُ آبَاؤُنَا قَبْلَنَا]

مونږ تا ته دے دپاره راغلو چه ستا تصدیق وکړو او دا ګواهي وکړو چه تا کوم دین راوړے دا حق دے او پریدو هغه معبودان چه مونږ به ئے عبادت کولو او زمونږ نه مخکنبے زمونږ پلارانو به ئے عبادت کولو۔

نو نبی ﷺ وفرمایل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدَاکُمْ لِلْاِسْلَامِ فَکُلُّ مَنْ مَاتَ عَلٰی غَیْرِ الْاِسْلَامِ فَهُوَ فِی النَّارِ]

الله لره شکر دے چه تاسو ته ئے اسلام طرف ته هدایت وکړو ځکه چه هر هغه څوك چه د اسلام نه په غیر مړ شی هغه به اُور ته ځی۔ نو دوئ اسلام راوړو۔

بیا ابو الضُّبَیْب د نبی ﷺ نه د یو څو ضروری مسئلو تپوسونه وکړل،

اول دا چه هغهٔ وویل :

[اِنِّیْ رَجُلٌ لِیْ رَغْبَةٌ فِی الضِّیَافَةِ فَهَلْ لِیْ فِیْ ذٰلِكَ اَجْرٌ ؟]

زما میلمنو له میلمستیا ورکولو سره ډیره مینه ده نو آیا زما به پدے کنبے اجر وی؟

نبی ﷺ وفرمایل :

[نَعَمْ، وَکُلُّ مَعْرُوْفٍ صَنَعْتَهٗ اِلٰی غَنِیٍّ اَوْ فَقِیْرٍ فَهُوَ صَدَقَةٌ]

آؤ، هره نیکی چه تهٔ ئے مالدار یا فقیر سره کوے دا ستا دپاره صدقه ده۔

نو میلمستیا هم غتہ صدقه ده، او لویه نیکی ده او ډیر ښکلے صفت دے، بلکه میلمستوب ورکول د واجباتو نه دی، نبی ﷺ فرمائی :

[مَنْ کَانَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْآخِرِ فَلْیُکْرِمْ ضَیْفَهٗ]

څوك چه په الله او په آخرت ایمان لری هغهٔ به د میلمه اکرام کوی۔

په قبر کنبے چه الله تعالیٰ انسان ته عذاب ورکوی د هغے تقریباً پنځه ویشت (۲۵) اسباب دی، چه یو د هغے نه دا دے چه د میلمه دپاره په خپل ځان باندے حق نهٔ منی، او میلمه له میلمستیا نهٔ ورکوی۔

بیا دهٔ وویل : [یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا وَقْتُ الضِّیَافَةِ ؟]

میلمستیا څومره وخته پورے وی؟ وے فرمایل : درے ورځے۔ او د هغے نه بعد صدقه ده (که ورکوے غوره ده او که نهٔ ئے ورکوے نو ستا خوښه ده)

لیکن دے بل طرفته ئے هم قانون بیان کړو وے فرمایل :

[وَلَا يَحِلُّ لِلضَّيْفِ أَنْ يُقِيمَ عِنْدَكَ حَتّٰى يُحْرِجَكَ]

میلمه له دا جائز نهٔ دی چه ستا سره وسیړی تردے چه تا تنګ کړی (او په ګناه کښے دِے واقع کړی)

خو حدیث کښے دی چه یوه ورځ به میلمه ته جائزه ورکوے۔ جائزه دے ته وائی چه د کور د عام خوراك نه لږ شان ښهٔ خوراك ورکړه چه په ځان ډیر تکلیف هم رانهٔ ولے۔

بیا دهٔ تپوس وکړو:

[اَرَأَيْتَ الضَّالَّةَ مِنَ الْغَنَمِ فِي الْفَلَاةِ مِنَ الْأَرْضِ؟]

ددے په باره کښے خبر راکړه چه په دشته زمکه کښے د چا نه ګډه بیزه ورکه شی نو آیا زهٔ ئے راخستے شم؟۔ نبی ﷺ وفرمایل:

[هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ]

آؤ، دا به یا تهٔ راخلے یا به ئے ستا ورور راخلی (یا به ستا ورور مسلمان مالك پیدا شی هغهٔ له به ئے ورکړے) او که نهٔ وی نو شرمخ به ئے ونیسی۔ (یعنی تا له د هغے راخستل پکار دی، شرمخ ته ئے مهٔ پریده)

بیائے وویل: که اُوښ ورك شوے وی، هغه رانیولے شم؟ وے فرمایل:

[مَالَكَ وَلَهُ؟ دَعْهُ حَتّٰى يَجِدَهُ صَاحِبُهُ]

ستا د اُوښانو سره څه کار دے (چه هغه رانیسے) پریده تردے چه مالك ته به ملاؤ شی، ځکه چه د هغے سره خپل مشك شته (لسو ورځو پورے نهٔ تږے کیږی)، او د هغے نعلونه شته چه هر ځائے ګرزیدے شی او خوراك د ونو نه هم کولے شی۔ (یعنی د هغے ورك کیدل نهٔ وی)

او داسے نور تپوسونه ئے وکړل او رسول الله ﷺ ورته جوابونه ورکړل۔

رُوَیفِع وائی: بیا دوئ راپاځیدل او زما کور ته راواپس شو نو دغه وخت د الله رسول زما کور ته راغلو چه کجورے ئے راخستے وے، وے فرمایل:

[اِسْتَعِنْ بِهٰذَا التَّمْرِ]

ددے کجورو نه (په میلمستیا کښے) مدذ واخله نو دغه میلمنو به ددے کجورو نه او د نورو نه خوراك کولو تردے چه دوئ ډرے ورځے تیرے کړے، بیا ئے د رسول الله ﷺ نه

رخصتي واخسته او رسول الله ﷺ دوئ ته تحفے ورکړے او دوئ خپلو علاقو ته واپس شول۔

[الاکتفاء ٢/٢٧٩/سبل الهدی ٦/٢٨٢، وعیون الاثر ٢/٣١٠]

١١- وفد د بني تميم :

پدے وفد کښے د قوم مشران وو لکه اقرع بن حابس، زِبرِقان بن بدر، عطارد بن حاجب، عمرو بن الاَهتَم، اَلحُتَاتَ بن یزید، نُعَیم بن یزید، قَیسَ بن الحارث، قیس بن عاصِم او عُیَینَه بن حِصَن فَزَاري پکښے وو۔

اقرع بن حابس او عیینه بن حصن فزاري خو مخکښے ایمان راوړے او د رسول الله ﷺ سره فتح د مکے او حنین او غزا د طائف ته هم حاضر شوے لیکن بیا ددے وفد سره هم راغلي دي، مګر لا تر اُوسه ئے د شریعت احکام ډیر نۀ دي زده کړي۔

او باقي نورو کسانو خو لا ایمان نۀ دے راوړے۔

کله چه دوئ مسجد نبوي ته راغلل نو دوئ صبر ونکړو او جلتي ئے وکړه،

دوئ د غرمے په وخت کښے راورسیدل چه د ماسپښین مونځ شوے وو، او دے وخت کښے رسول الله ﷺ قیلوله کوله،

(او دا قیلوله د هغه چا دپاره ضروري ده چه د شپے په ډیره حصه کښے عبادت کوي، او د سهار مانځه نه روستو نۀ وي اُوده شوے، که دا خوب ونکړي نو بیا ئے اخلاق خرابیږي او بدن ته راحت ورکوي)

نو دوئ د بهر نه آوازونه وکړل او دا ئے وویل :

[یَا مُحَمَّدُ اُخرُج اِلَینَا]

اے محمده ! مونږ ته بهر راوځه۔ نبي ﷺ دا آوازونه واوریدل او بیا راووتو او لږ شان رنګ ئے متغیر وو (پدے کار باندے خفه وو لیکن د هغۀ اخلاق ډیر اُوچت وو پدے وجه ئے دے خلقو ته څه بد رد ونۀ وئیل چه دا څه بے ادبي کوئ، دګل رټل ئے ونکړل)

او ددې خلکو په باره کښې د سورة الحجرات ابتدائی آیتونه نازل شول:

﴿ اِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ ﴾ (الحجرات : ٤)

او عامو مؤمنانو ته ئې ادب ورکړو چه د خپل نبی به ډیر قدر کوئ۔ دهٔ باندې به آواز نهٔ پورته کوئ او دهٔ ته به د بهر نه آوازونه نهٔ کوئ، او ددهٔ نه به نهٔ مخکښې کیږئ۔

نبی ﷺ دوئ ته راووتو (او قیلوله ئې ورته پریخوده)

دوئ وویل:

[یَا مُحَمَّدُ جِئْنَاكَ نُفَاخِرُكَ]

مونږ تا ته ددې دپاره راغلی یو چه تا سره په فخرونو کښې مقابله کوو۔ (لکه دا د عربو د جاهلیت د شرافت یوه طریقه وه چه د یو بل سره به ئې په خپلو پلارانو او صفاتو سره مقابله کوله، چه د چا شاعر به ډیر صفتونه وکړل هغه به عزتمن وو، گویاکه دوئ مناظرې او مسابقې له راغلی وو)

نبی ﷺ کینول۔ هغوی ورته وویل:

[فَأْذَنْ لِشَاعِرِنَا وَخَطِیْبِنَا]

نو تهٔ زمونږ شاعر او زمونږ خطیب (تقریر کونکی) ته اجازه وکړه چه هغوی خپل کلام پیش کړی۔

(نو نبی ﷺ هم د هغوی د مزاج مطابق کار وکړو ثابت قیس بن شماس ﷺ او حسان بن ثابت ﷺ ئې راوغوښتل)

نبی ﷺ ورته وفرمایل: ما ستاسو خطیب ته اجازه ورکړه چه څه وائی ودې وائی۔

نو د دوئ خطیب عطارد بن حاجب تمیمی راپاڅیدو او داسې ئې وویل:

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَهُ عَلَیْنَا الْفَضْلُ وَالْمَنُّ، وَهُوَ اَهْلُهُ الَّذِیْ جَعَلَنَا مُلُوْكًا، وَوَهَبَ لَنَا اَمْوَالًا عِظَامًا، نَفْعَلُ فِیْهَا الْمَعْرُوْفَ، وَجَعَلَنَا اَعَزَّ اَهْلِ الْمَشْرِقِ وَاَكْثَرَهُ عَدَدًا، وَاَیْسَرَهُ عُدَّةً فَمَنْ مِثْلُنَا فِی النَّاسِ؟ اَلَسْنَا بِرُؤُوْسِ النَّاسِ وَاُوْلِیْ فَضْلِهِمْ؟ فَمَنْ فَاخَرَنَا فَلْیَعْدُدْ مِثْلَ مَا عَدَدْنَا، وَاِنَّا لَوْ نَشَاءُ لَاَكْثَرْنَا الْكَلَامَ وَلٰكِنَّا نَسْتَحِیْ مِنَ الْاِكْثَارِ فِیْمَا اَعْطَانَا اللّٰهُ، وَاِنَّا نُعْرَفُ بِذٰلِكَ۔ اَقُوْلُ هٰذَا لِاَنْ تَأْتُوْا بِمِثْلِ قَوْلِنَا وَاَمْرٍ اَفْضَلَ مِنْ اَمْرِنَا]

هغه الله لره شکر دے چه په مونږه ئے مهربانی او احسان کړے او دغه الله د حمدونو لائق دے چه مونږه ئے بادشاهان جوړ کړی یو، او مونږ ته ئے ډیر غټ مالونه راکړیدی چه پدے کښے مونږ د خلکو سره احسانات کوو، او مونږه ئے د مشرق والو نه ډیر عزتمن ګرزولی یو، او ډیر شمار والا او ډیرو سامانو والا، نو په خلکو کښے زمونږ په شان څوك کیدے شی؟ آیا مونږ د خلکو مشران او خاوندان د فضل نهٔ یو؟

نو څوك چه زمونږ سره مقابله کوی نو زمونږ په شان صفتونه دِے وشماری څنګه چه مونږ ذکر کړل، او که مونږ وغواړو نو مونږ به ډیرے خبرے وکړو لیکن مونږ ته چه الله کوم فضیلتونه راکړی دی پدے کښے د ډیر والی نه شرمیږو. او مونږ پدے فضیلتونو باندے مشهور یو. (خلك مو پیژنی) زهٔ دا خبره ددے دپاره کوم چه تاسو زمونږ په شان خبره وکړئ او زمونږ د کارونو نه غوره کارونه راوړئ) ددے تقریر نه پس کیناستو.

نو دے وخت کښے رسول الله ﷺ سره یو خطیب وو ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه هغهٔ ته ئے وویل چه ته پاڅیږه او دهٔ ته جواب ورکړه ، هغه پاڅیدو او داسے ئے وویل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ خَلْقُهٗ، قَضٰی فِیْهِنَّ أَمْرَهٗ، وَوَسِعَ کُرْسِیَّهٗ عِلْمُهٗ، وَلَمْ یَكُ شَیْءٌ قَطُّ إِلَّا مِنْ فَضْلِهٖ، ثُمَّ کَانَ مِنْ قُدْرَتِهٖ أَنْ جَعَلَنَا مُلُوْکًا وَاصْطَفٰی مِنْ خَیْرَتِهٖ رَسُوْلًا أَکْرَمَهٗ نَسَبًا وَأَصْدَقَهٗ حَدِیْثًا وَأَفْضَلَهٗ حَسَبًا، فَأَنْزَلَ عَلَیْهِ کِتَابًا وَائْتَمَنَهٗ عَلٰی خَلْقِهٖ، فَکَانَ خِیَرَةَ اللّٰهِ مِنَ الْعَالَمِیْنَ، ثُمَّ دَعَا النَّاسَ إِلَی الْإِیْمَانِ بِهٖ فَآمَنَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ الْمُهَاجِرُوْنَ مِنْ قَوْمِهٖ وَذَوِیْ رَحِمِهٖ، أَکْرَمُ النَّاسِ أَحْسَابًا، وَأَحْسَنُ النَّاسِ وُجُوْهًا، وَخَیْرُ النَّاسِ فِعَالًا،

ثُمَّ کَانَ أَوَّلَ الْخَلْقِ إِجَابَةً وَاسْتَجَابَ لِلّٰهِ حِیْنَ دَعَاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نَحْنُ، فَنَحْنُ أَنْصَارُ اللّٰهِ وَوُزَرَاءُ رَسُوْلِهٖ، نُقَاتِلُ النَّاسَ حَتّٰی یُؤْمِنُوْا، فَمَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ مُنِعَ مَالَهٗ وَدَمَهٗ، وَمَنْ کَفَرَ جَاهَدْنَا فِی اللّٰهِ أَبَدًا وَکَانَ قَتْلُهٗ عَلَیْنَا یَسِیْرًا. أَقُوْلُ قَوْلِیْ هٰذَا وَأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ لِیْ وَلَکُمْ وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالسَّلَامُ عَلَیْکُمْ]

هغه الله لره شکر دے چه آسمانونه او زمکه د هغهٔ مخلوق دے، پدے کښے په خپل امر سره فیصلے کوی، او د هغهٔ علم د هغه کرسی او بادشاهئ ته فراخه دے، او هر شے د هغهٔ د مهربانئ نه راوتے دے، بیا د الله د قدرت نه دا وه چه هغهٔ مونږ بادشاهان

وگرځولو او د غوره انسانانو نه ئے يو رسول غوره کړو چه هغه د ټولو نه عزتمن نسب والا او ډير رشتينے خبرے والا، او ډير غوره شرافت والا دے، نو په هغهٔ باندے ئے کتاب نازل کړو او هغه ئے په خپل مخلوق باندے امانتگر جوړ کړو نو هغه د مخلوقاتو نه د الله غوره بنده شو، بيا هغهٔ خلك په الله باندے ايمان راوړو ته راوبلل نو په رسول الله ﷺ باندے د هغهٔ د قوم او د خپلوانو نه مهاجرينو ايمان راوړو چه دوئ د ټولو خلکو نه ډير عزتمن شرافتونو والا دی، او ښائسته مخونو والا دی، او بهترينو کارونو والا دی،

بيا د خلقو نه مونږه اولنی هغه خلك يو چه ددے نبی خبره مو ومنله کله ئے چه الله ته دعوت ورکړو نو د الله دپاره مونږه قبولوالے وکړو۔ نو مونږ د الله د دين مددګار يو او د هغهٔ د رسول وزيران يو، د خلکو سره به تر هغے جنگ کوو تر دے چه ايمان راوړی، نو چا چه په الله او د هغهٔ په رسول ايمان راوړو نو د هغهٔ مال او د هغهٔ وينه به محفوظ شی او چا چه کفر وکړو نو مونږ به ورسره هميشه د الله دپاره جهاد کوو او د هغهٔ وژل به په مونږ باندے آسان وی۔ دا زما خبره ده چه ما وکړه او زهٔ د الله نه د خپل ځان او تاسو او ټولو مؤمنانو سره او ښځو دپاره بخښنه غواړم۔ والسلام عليکم)۔

(الروض الانف : ٤/٣٣٦)

دا د رسول الله ﷺ خطيب وو چه د رسول الله ﷺ په ځائے به دهٔ خبرے کولے، نو ځکه ئے داسے عجيبه لنډه او جامعه خطبه ووئيله چه هرڅه ئے پکښے راګير کړل، نو ددے وجه نه په خلکو ئے ډير اثر وکړو او غټ او ښکلے آواز ئے هم وو۔

بيا اقرع بن حابس ووئيل : چه زمونږ شاعر ته اجازه وکړه نو هغه پاځيدو او لس (١٠) شعرونه ئے ووئيل چه په هغے کښے ئے د خپل ځان او د خپل قوم صفت وکړو :

١: نَحْنُ الْكِرَامُ فَلَا حَيٌّ يُعَادِلُنَا	❁	مِنَّا الْمُلُوْكُ وَفِيْنَا تُنْصَبُ الْبِيَعُ
٢: وَكَمْ قَسَرْنَا مِنَ الْأَحْيَاءِ كُلِّهِمُ	❁	عِنْدَ النِّهَابِ وَفَضْلُ الْعِزِّ يُتَّبَعُ
٣: وَنَحْنُ يُطْعِمُ عِنْدَ الْقَحْطِ مُطْعِمُنَا	❁	مِنَ الشِّوَاءِ إِذَا لَمْ يُؤْنَسِ الْقَزَعُ
٤: بِمَا تَرَى النَّاسَ تَأْتِيْنَا سَرَاتُهُمْ	❁	مِنْ كُلِّ أَرْضٍ هَوِيًّا ثُمَّ تَصْطَنِعُ

٥: اَلْـكُـوْمَ عُبْـطًـا فِـيْ اَرُوْمَتِـنَـا ❁	لِـلـنَّـازِلِـيْـنَ اِذَا مَـا اُنْـزِلُـوْا شَبِـعُـوْا
٦: فَلَا تَـرَانَـا اِلَـى حَـيٍّ نُفَاخِـرُهُـمْ ❁	اِلَّا اِسْتَـفَـادُوْا فَـكَـانُـوا الرَّأْسَ يُقْتَطَعُ
٧: فَـمَـنْ يُّـفَـاخِـرُنَـا فِيْ ذَاكَ نَعْرِفُـهٗ ❁	فَيَـرْجِـعُ الْـقَـوْمُ وَالْاَخْـبَـارُ تَسْتَـمِـعُ
٨: اِنَّـا اَبَيْـنَـا وَلَا يَـأْبٰـى لَـنَـا اَحَـدٌ ❁	اِنَّـا كَـذٰلِكَ عِـنْـدَ الْـفَـخْـرِ نَـرْتَـفِـعُ

١: مونږ عزتمن خلك یو، هیڅ یوه قبیله مونږ سره برابره نهٔ ده، زمونږ نه بادشاهان دي او په مونږ کښې بیعتونه ودرولے شي۔

٢: او د لوټ مار په وخت مونږ تولے قبیلے مغلوبه کړیدي، او د چا چه عزت زیات وي د هغهٔ تابعداري کولے شي، (یعنې خلك د زیات عزتمن پسے روانیږي)

٣: او د قحط په وخت کښې زمونږ خلك د وریتې کړے شوے ښاروي خوراکونه ورکوي، کله چه د باران وریځه په سترګو نهٔ ښکاري،

٤ : نو مونږ ته د هرے زمکے نه په مینه سره د خلکو سرداران راځي۔ بیا د میلمنو دپاره ٥ : اوښان ذبح کوي، او کله چه هغوی راشي نو مړیږي۔

٦ : نو هرے قبیلے سره چه مونږ مفاخره کوو نو هغوی زمونږ نه فائده اخستے ده نو هغوی سرونه (مشران) جوړ شویدي چه بیا زمونږ په مقابله کښې پریکولے شي۔

٧: نو څوك چه زمونږ سره پدے باره کښې فخر کوي نو هغه مونږ پیژنو نو خلك واپس شي او پوهه خلك خبرے آوري۔

٨: مونږ د خلکو په کارونو انکار کولے شو او هیڅوك زمونږ په کار باندے انکار نشي کولے، مونږ د فخر په وخت دغه شان پورته کیږو۔

علامه سهیلیؒ وائي چه بعض اهل سیرت وائي چه دا شعرونه پدے وفد کښې د قیس بن عاصم مِنْقَری دي۔ والله اعلم۔

پدے وخت کښې حسان بن ثابت ؓ غائب وو نو رسول الله ﷺ ورپسے جواب ولیږو او هغه راغے، (پدے وخت کښې زبرقان شعرونو وئیلو ته پاڅیدلے وو) نو هغهٔ سمدست پاڅیدو او ډیر ښکلے شعرونه ئے وویل :

١: إِنَّ الذَّوَائِبَ مِنْ فِهْرٍ وَإِخْوَتِهِمْ	❁	قَدْ بَيَّنُوا سُنَّةً لِلنَّاسِ تُتَّبَعُ
٢ يَرْضَى بِهِمْ كُلُّ مَنْ كَانَتْ سَرِيرَتُهُ	❁	تَقْوَى الْإِلٰهِ وَكُلَّ الْخَيْرِ يَصْطَنِعُ
٣ قَوْمٌ إِذَا حَارَبُوا ضَرُّوا عَدُوَّهُمْ	❁	أَوْ حَاوَلُوا النَّفْعَ فِي أَشْيَاعِهِمْ نَفَعُوا
٤ سَجِيَّةٌ تِلْكَ مِنْهُمْ غَيْرُ مُحْدَثَةٍ	❁	إِنَّ الْخَلَائِقَ فَاعْلَمْ شَرُّهَا الْبِدَعُ
٥ إِنْ كَانَ فِي النَّاسِ سَبَّاقُونَ بَعْدَهُمْ	❁	فَكُلُّ سَبْقٍ لِأَدْنَى سَبْقِهِمْ تَبَعُ
٦ لَا يَرْقَعُ النَّاسُ مَا أَوْهَتْ أَكُفُّهُمْ	❁	عِنْدَ الدِّفَاعِ وَلَا يُوهُونَ مَا رَقَعُوا
٧ إِنْ سَابَقُوا النَّاسَ يَوْمًا فَازَ سَبْقُهُمْ	❁	أَوْ وَازَنُوا أَهْلَ مَجْدٍ بِالنَّدَى مَتَعُوا
٨ أَعِفَّةٌ ذُكِرَتْ فِي الْوَحْيِ عِفَّتُهُمْ	❁	لَا يَطْمَعُونَ وَلَا يُرْدِيهِمِ طَمَعُ
٩ لَا يَبْخَلُونَ عَلَى جَارٍ بِفَضْلِهِمِ	❁	وَلَا يَمَسُّهُمْ مِنْ مَطْمَعٍ طَبَعُ
١٠ إِذَا نَصَبْنَا لِحَيٍّ لَمْ نَدِبَّ لَهُمْ	❁	كَمَا يَدِبُّ إِلَى الْوَحْشِيَّةِ الذَّرَعُ
١١: نَسْمُو إِذَا الْحَرْبُ نَالَتْنَا مَخَالِبُهَا	❁	إِذَا الزَّعَانِفُ مِنْ أَظْفَارِهَا خَشَعُوا
١٢: لَا يَفْخَرُونَ إِذَا نَالُوا عَدُوَّهُمْ	❁	وَإِنْ أُصِيبُوا فَلَا خُورٌ وَلَا هَلَعُ
١٣: كَأَنَّهُمْ فِي الْوَغَى وَالْمَوْتُ مُكْتَنِعٌ	❁	أُسُدٌ بِحَلْبَةَ فِي أَرْسَاغِهَا فَدَعُ
١٤: خُذْ مِنْهُمْ مَا أَتَوْا عَفْوًا إِذَا غَضِبُوا	❁	وَلَا يَكُنْ هَمُّكَ الْأَمْرَ الَّذِي مَنَعُوا
١٥: فَإِنَّ فِي حَرْبِهِمْ فَاتْرُكْ عَدَاوَتَهُمْ	❁	شَرًّا يُخَاضُ عَلَيْهِ السُّمُّ وَالسَّلَعُ
١٦: أَكْرِمْ بِقَوْمٍ رَسُولُ اللّٰهِ شِيعَتُهُمْ	❁	إِذَا تَفَاوَتَتِ الْأَهْوَاءُ وَالشِّيَعُ
١٧: أَهْدَى لَهُمْ مِدْحَتِي قَلْبٌ يُؤَازِرُهُ	❁	فِيمَا أَحَبَّ لِسَانٌ حَائِكٌ صَنَعُ
١٨: فَإِنَّهُمْ أَفْضَلُ الْأَحْيَاءِ كُلِّهِمْ	❁	إِنْ جَدَّ بِالنَّاسِ جِدُّ الْقَوْلِ أَوْ شَمَعُوا

۱ -سرداران د قریشو او د هغوی د ورونو (انصارو) خلکو ته د کمال داسے طریقے بیا کړیدی چه د هغے تابعداری لازم ده، چه هغه شریعت اسلامی دے۔

۲- پدے باندے هر هغه څوك خوشحالیږی چه د هغهٔ نیت د الله تعالیٰ نه یره وی او هر قسم احسانات کوی۔ (یعنی شریعت اسلامی ته هغه چا غاړه ورکړیده چه د هغه نیت صحیح وی او د الله تعالیٰ نه یره کوی)

۳: دا داسے خلك دے چه کله جنګ کوی نو دشمن ته ضرر ورکوی (یعنی په دشمنانو باندے قوی دی) یا کله چه خپلو ملګروته فائده رسول غواړی نو فائده رسوی، (یعنی خپل مینځ کښے رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ دی، یو بل باندے رحم کوی)۔

٤: دا صفات د دوئ داسے خوئی او لازمی عادت دے چه نوے نهٔ دے پیدا (بلکه دوئ په دے باندے پیدا کړے شویدی)، او پدے خبره پو هه شه چه ناکاره په اخلاقو کښے هغه دی چه نوی پیدا شوی وی۔ (یعنی نوی طبیعتونه او مزاجونه خو ګمراهی ده)

٥: که په خلکو کښے هر کمال ته مخکښے کیدونکی د دوئ نه روستو پیدا شی نو د دوئ ادنیٰ کمال ته هم نشی رسیدلے۔ (یعنی مسلمانان په نیك اعمالو کښے د ټولو نه وړاندے دی، نو څوك چه یو فضیلت حاصلوی یا یو عزت ته مخکښے والے کوی نو هغهٔ به د دوئ تابع وی او د دوئ نه به اثر اخستونکے وی)

٦: د دفاع په وخت کښے چه د دوئ لاسونو کوم شے کمزورے کړے نو خلك هغه نشی ګنډلے او دوئ چه کوم شے ګنډلے وی هغه خلك نشی کمزورے کولے۔

۷: که دوئ د خلکو سره په سبقیت کښے مقابله کوی نو د دوئ مخکښے والے د هر چا نه کامیاب دے، یا که په سخاوت کښے د شریفانو سره موازنه کوی نو دوئ د هر چا نه پورته کیږی۔

۸: دوئ داسے پاکدامن (او قناعت والا) دی چه په وحی کښے د دوئ پاکدامنی ذکر شویده، دوئ د مخلوق نه طمع نهٔ کوی او طمع او لالچ دوئ لره نهٔ هلاکوی۔

۹: د ګاونډیانو نه خپل احسان باندے بخل نکوی او دوئ ته د طمع په وجه عیب نهٔ رسیږی۔ (یعنی طمع نکوی چه د عیب نسبت ورته وشی)

۱۰: کله چه مونږ د یوے قبیلے مقابلے ته ودریږو نو هغوی ته نهٔ په آرام کیږو لکه چه صحرائی حیوان ته لاس په آرام سره ور اُوږدیږی (بلکه په تیزئ سره پرے حمله کوو)

۱۱: مونږ راپورته کیږو کله چه جنګ پنجے ښخے کړی، کله چه د جنګ د نوکونو

تیره طرفونه عاجزي وکړي.

۱۲: کله چه دشمنانو ته مصیبت رسري نو فخرونه نکوي (بلکه د غلبې په وخت هم تواضع کوي) او که دوئ ته مصیبت ورسولے شي نو کمزوري نۀ ښکاره کوي او فریاد نۀ کوي.

۱۳: ګویا که دوي په میدان د جنګ کښې زمریان دي کله چه مرګ رانزدے شوے وي، داسے زمریان چه مړوندونه ئے کاږۀ شوي وي.

۱٤: کله چه دوئ غصه شي نو هغه شے د دوئ نه اخله کومه چه په معافئ سره حاصل شوے وي او ستا همت دِے هغه کار نۀ وي چه دوئ منع کړے وي. (یعني مسلمانان د قدرت او د غضب په وخت کښې په عفو سره متصف دي، دا فکر مۀ کوه چه دا کار به د دوئ شرافت خکته یا ختم کړي)

۱۵: د دوئ سره دشمني پریده ځکه چه د دوئ په جنګ کښې داسے شر دِے چه زهر او چیچل ورسره ګډوډ شویدي.

۱٦: هغه قوم څومره عزتمن دے چه رسول الله ﷺ د مشر دے او دوئ د هغۀ ډله ده، کله چه د خلکو خواهشات او ډلے جدا جدا شي. (یعني د رسول الله ﷺ په قیادت کښې د دوئ خیر او هدایت دے او د ګمراهئ او د تفرقې او اختلافاتو نه بچاؤ دے کوم باندے چه نور خلك اخته دي).

۱۷: دوئ ته زما زړه صفات تحفه کړیدي چه د هغې مدد هغه ژبے کړیدے چه هغه فصیحه بلیغه ده.

۱۸: دوئ (مهاجرین او انصار) د تولو قبیلو نه ډیر غوره دي، په تولو احوالو کښې برابره ده چه رشتیا وائي او که توقے کوي.

زبرقان بیا پاڅیدو او د میم والا قصیده ئے ووئیله:

اَتَیْنَاكَ کَیْمَا یَعْلَمُ النَّاسُ فَضْلَنَا	❁	اِذَا احْتَفَلُوْا عِنْدَ احْتِضَارِ الْمَوَاسِمِ
بِاَنَّا فُرُوْعُ النَّاسِ فِیْ کُلِّ مَوْطِنٍ	❁	وَاَنْ لَیْسَ فِیْ اَرْضِ الْحِجَازِ کَدَارِمِ
وَاَنَّا نَذُوْدُ الْمُعْلِمِیْنَ اِذَا انْتَخَوْا	❁	وَنَضْرِبُ رَأْسَ الْاَصْیَدِ الْمُتَفَاقِمِ

وَأَنَّ لَنَا الْمِرْبَاعَ فِي كُلِّ غَارَةٍ	❁	نُغِيرُ بِنَجْدٍ أَوْ بِأَرْضِ الْأَعَاجِمِ

۱: مونږ تا ته راغلو دے دپاره چه خلك زمونږ فضيلت وپيژنی كله چه خلك د موسمونو د حاضريدو په وخت راجمع شی.

۲: (دا وپيژنی) چه مونږ د خلكو سرداران يو په هر ځائے كښے او د حجاز په زمكه كښے د دارم (بنو تميم) په شان څوك نشته.

۳: او مونږ هغه خلك دفع كوو چه په جنگ كښے ئے په ځان باندے نخه لگولی وی (د وجه د بهادرئ نه) كله چه دوئ تكبر او لوی كوی، او مونږ وهو سر د هغه متكبر چه ډير شری وی.

۴: او زمونږ دپاره په هره حمله كښے څلورمه حصه (جدا) غنيمت وی، كه مونږ په نجد كښے حمله كوو يا په زمكه د عجمو.

نو **حسان** بن ثابت ﷺ ددے د جواب دپاره پاڅيدو او د همدے قافيه (وزن) نه ئے جواب وركړو:

۱: هَلِ الْمَجْدُ إِلَّا السُّؤْدَدُ الْعَوْدُ وَالنَّدٰى	❁	وَجَاهُ الْمُلُوكِ وَاحْتِمَالُ الْعَظَائِمِ
۲: نَصَرْنَا وَآوَيْنَا النَّبِيَّ مُحَمَّدًا	❁	عَلٰى أَنْفِ رَاضٍ مِنْ مَعَدٍّ وَرَاغِمِ
۳: بِحَيٍّ حَرِيدٍ أَصْلُهُ وَثَرَاؤُهُ	❁	بِجَابِيَةِ الْجَوْلَانِ وَسْطَ الْأَعَاجِمِ
۴: نَصَرْنَاهُ لَمَّا حَلَّ وَسْطَ دِيَارِنَا	❁	بِأَسْيَافِنَا مِنْ كُلِّ بَاغٍ وَظَالِمِ
۵: جَعَلْنَا بَنِينَا دُونَهُ وَبَنَاتِنَا	❁	وَطِبْنَا لَهُ نَفْسًا بِفَيْءِ الْمَغَانِمِ
۶: وَنَحْنُ ضَرَبْنَا النَّاسَ حَتّٰى تَتَابَعُوا	❁	عَلٰى دِينِهِ بِالْمُرْهَفَاتِ الصَّوَارِمِ
۷: وَنَحْنُ وُلِدْنَا مِنْ قُرَيْشٍ عَظِيمَهَا	❁	وَلَدْنَا نَبِيَّ الْخَيْرِ مِنْ آلِ هَاشِمِ
۸: بَنِي دَارِمٍ لَا تَفْخَرُوا إِنَّ فَخْرَكُمْ	❁	يَعُودُ وَبَالًا عِنْدَ ذِكْرِ الْمَكَارِمِ
۹: هَبِلْتُمْ عَلَيْنَا تَفْخَرُونَ وَأَنْتُمْ	❁	لَنَا خَوَلٌ مَا بَيْنَ ظِئْرٍ وَخَادِمِ
۱۰: فَإِنْ كُنْتُمْ جِئْتُمْ لِحَقْنِ دِمَائِكُمْ	❁	وَأَمْوَالِكُمْ أَنْ تُقْسَمُوا فِي الْمَقَاسِمِ

۱۱: فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ نِدًّا وَاَسْلِمُوْا	❁	وَلَا تَلْبَسُوْا زِيًّا كَزِيِّ الْاَعَاجِمِ

۱: شرافت نهٔ دے مگر سرداری او سخاوت او د بادشاهانو مخوریزی او مصیبتونه برداشت کول دی۔

۲: مونږ مدد کړے او ځائے مو ورکړے دے نبی محمد ﷺ ته برابره ده عرب خوشحاله وی او که خفه۔

۳: په هغه قبیلے سره چه یکتا ده، (د نورو خلکو نه په صفاتو کښے جدا ده) ددے اصل او مالداری په جابیۃ الجولان کښے د عجمو ترمینځ ده۔ (جابیۃ الجولان د دمشق او د اُردن ترمینځ علاقه ده)

۴: مونږ ددے نبی مدد کړیدے په خپلو تورو سره د هر باغی او ظالم نه هرکله چه دے زمونږ علاقو ته راغلو۔

۵: مونږ خپل بچی او لونړه ددهٔ مخے ته ودرولی دی او مونږ د غنیمتونو په تقسیم کښے ددهٔ نه خوشحاله یو، (دے ئے چه هرڅنګه تقسیم کوی مونږ پرے راضی یو)

۶: او مونږ خلك په تیرو تورو سره ووهل تردے چه هغوی پرله پسے ددهٔ دین ته راغلل۔

۷: او مونږ د عظیم قریشو نه پیدا شوی یو، مونږ زیږولے دے د آل هاشم نه د خیرونو والا نبی۔

۸: اے بنو دارم! فخرونه مهٔ کوئ یقیناً ستاسو فخرونه د صفاتو د ذکر کولو په وخت وبال جوړیږی۔

۹: تاسو بیوقوفه شوئ چه زمونږ په مقابله کښے فخرونه کوئ او حال دا چه تاسو زمونږ خادمان یئ او څوك پکښے زمونږ بچو ته تے ورکونکے زنانه دی۔

۱۰: که تاسو د خپلو وینو او مالونو د حفاظت دپاره راغلی یئ چه ستاسو مالونه تقسیم نشی۔

۱۱: نو (داسے وکړئ چه) الله تعالیٰ سره شریکان مهٔ ګرځوئ او اسلام قبول کړئ او مهٔ اغوندئ جامه د عجمو (کفارو) د جامے په شان۔ (یعنی د هغوی پشان تکبر مهٔ کوئ او اسلام قبول کړئ)

ابن اسحاق رحمه الله لیکي : هرکله چه حسان بن ثابت ﷺ د خپل کلام نه فارغ شو نو اقرع بن حابس ﷺ وویل :

[اِنَّ هٰذَا الرَّجُلَ لَمُؤَتّیٌ لَهٗ، لَخَطِیْبُهٗ اَخْطَبُ مِنْ خَطِیْبِنَا وَلَشَاعِرُهٗ اَشْعَرُ مِنْ شَاعِرِنَا وَلَاَصْوَاتُهُمْ اَحْلٰی مِنْ اَصْوَاتِنَا]

دے سړی (نبی) سره د الله تعالیٰ د طرف نه مدد کیږی، (دهٔ باندے مونږ نشو اُوچتیدلے) خامخا د دهٔ خطیب زمونږ د خطیب نه ډیر تکړه او ددهٔ شاعر زمونږ د شاعر نه لوی شاعر دے، او د دویٔ آوازونه زمونږ د آوازونو نه زیات خواږهٔ دی۔

هرکله چه دا خلك د مشاعرے او مسابقے نه فارغ شو نو اسلام ئے راوړو، نو رسول الله ﷺ ورته جوائز (تحفے) ورکړے او ښائسته جائزے ئے ورکړے۔ (الروض الانف)

یو روایت کښے دی : چه هریو تن ته ئے دولس (۱۲) اُوقیه سپین زر ورکړل، او دویٔ وویل چه زمونږ سره یو کشر هلك هم دے (عمرو بن اَهتم) نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته د کشر والی د وجه نه پنځه (۵) اوقیه ورکړل۔

(السیرة النبویة لابن کثیر وامتاع)

(ددے واقعے نه مونږ ته د دعوت په باب کښے یو حکمت راوځی، هغه دا چه د دعوت طریقه دا ده چه یو قوم یا یو کس ته یو فن یاد وی، که تهٔ هغهٔ ته دینی خبرے د منځه او د اوداسه کوے، نو په هغهٔ باندے ددے اثر نهٔ کیږی، بلکه هغهٔ ته به د دین هغه خبرے وکړے چه د هغهٔ د فن سره برابرے وی، مثلاً ډاکټر ته به هغه خبرے کوے چه د ډاکټرئ د اصولو سره برابر وی، دارنګه سائنسدان ته د قرآن او حدیث نه سائنسی خبرے وکړه نو هغهٔ به متأثره شی، د هغهٔ په ژبه کښے د هغوی سره خبرے کولو سره هغه متأثره کیږی، او ددے نه معلومه شوه چه په اسلام کښے هرڅه شته، شاعری او خطبه وغیره هم)۔

ددے وفد متعلق دوه قسمه آیتونه نازل شوی یو دا آیتونه نازل شو چه دے وفد ته ئے ادب ورکړو او دا ادب د ټول امت دپاره جوړ شو وے فرمایل :

﴿اِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَاءِ الْحُجُرٰتِ اَکْثَرُهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ﴾ [الحجرات : ٤]

هغه کسان چه تا ته د کوټو نه اخوا آوازونه کوی زیات ددوئ نه عقل نکوی.
(یعنی دا مناسب نهٔ وه چه د الله نبی کوټه کښې وی او تهٔ ورته د بهر نه آوازونه کوے چه یا محمد !۔ بیا په نوم باندے ورته آواز کوے.
(په قرآن کریم کښې دوه آیتونو کښې دا خبره راغلې ده چه نبی ﷺ ته به خپل نوم نهٔ اخلئ)۔

ددے تشریح به حدیث د مسند احمد کښې ذکر ده چه اقرع بن حابس رضی الله عنه راغے او نبی ﷺ ته ئے آواز وکړو چه یا محمد نو الله دا آیت راولیږلو. الله تعالیٰ خپل نبی ته په نوم سره آواز نهٔ دے کړے نو بنده ئے څنګه وکړی. دا د ادب خلاف ده. هغهٔ چه کله ژوندے وو نو هغهٔ ته به یا نبی الله او یا رسول الله آواز کیدو،

او که دا آوازونه دِے د کوټو نه بهر وکړل هم بے ادبی ده، بلکه دا به ورته مخامخ وئیلے کیږی، د رسول الله ﷺ د الله په نیز باندے د هر چا نه ډیر زیات عزت دے نو ځکه د هغهٔ په باره کښې امت ته ادب ورکوی. د هغهٔ په باره کښې لږه کړه خبره هم الله تعالیٰ نهٔ برداشت کوی، بلکه انسان پرے کافر کوی،

او دینی اصول دا دی چه د رسول الله ﷺ ګستاخی کونکی په دنیا کښې توبه هم نهٔ قبلیږی بلکه هغه به د مسلمانانو بادشاه وژنی، اګرکه هغه ظاهراً مسلمان هم وی او د الله په نیز ئے توبه قبوله وی، لیکن اُوس وګوره چه څومره ظالمان د الله د نبی ګستاخی کوی !!۔

او دے خلکو په ناپوهئ او غیر اختیاری طریقے سره دا آوازونه کړی وو نو پدے وجه ورته الله تعالیٰ صرف ادب ورکړو او سزا ئے ورله بیان نکړه.

ادب ئے دا ورکړو :

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴾ [الحجرات : ٥]

چه که دے خلکو صبر کړے وے تردے چه تهٔ دوئ ته راوځے نو دا به د دوئ دپاره ډیره بهتره وے.

دویم ادب ئے عامو مؤمنانو ته ورکړے :

﴿ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾

[الحجرات :٢]۔

تاسو دے نبی ته په زوره خبره مهٔ کوئ لکه چه تاسوئے یو بل ته کوئ۔

او په سورة النور کښے الله وفرمایل :

﴿ لَا تَجۡعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَیۡنَکُمۡ کَدُعَاءِ بَعۡضِکُمۡ بَعۡضًا ﴾ [٦٣]

تاسو دے رسول ته آواز کول داسے مهٔ ګڼړئ لکه چه یو بل ته آواز کوئ چه اے عبد الله او عبد الرحمن۔ یعنی هغهٔ ته په نوم آواز مهٔ کوئ بلکه د هغهٔ صفت به ذکر کوے چه یا نبی الله او یا رسول الله۔

او رسول الله ﷺ ته یا محمد یو یهودی ووئیلو نو ثوبان ﷺ ورپسے پاڅیدو او په سینه کښے ئے یو سوك ورکړو چه په شا باندے ئے ګوزار کړو او دائے ورته ووئیل چه یا رسول الله وایه۔ نو هغهٔ ووئیل : مونږ به ورته هغه نوم وایو چه کوم ورله مور او پلار ایخودے وی۔ لیکن د الله رسول دلته ثوبان ﷺ ته ونهٔ وئیل چه دا سړے د اهل ذمهٔ نه دے او ددهٔ سره به ډیر ګوزاره کړے وے او وهلے به دِے نهٔ)

د بنو تمیمو مشر مقررول :

بیا ددے وفد یو تن مشر کول پکار دی، نو دے وخت کښے مشوره وشوه، ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل : چه قَعۡقَاع بن مَعۡبَد بن زُرارة پرے مشر کول پکار دی، عمر فاروق ﷺ وفرمایل : بلکه یا رسول الله ! اقرع بن حابس مشر کړه۔

(دے دواړو د رسول الله ﷺ مخامخ دا خبرے ذکر کولے ځکه چه دا دواړه د الله د رسول وزیران دی، او وزیر د بادشاه مخامخ خبرے کوی او مشورے ورکوی، لکه رسول الله ﷺ ددے دواړو په باره کښے فرمائیلی وو چه دا دواړه زما په زمکه کښے وزیران دی، ددے وجه نه په ډیرو خبرو کښے به دوئ د الله رسول ته مشوره ورکوله، بعض بے دینه خلك ددے په حقیقت نهٔ وی پوهه نو پدے وجه د ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ سپکاوے ئے په زړهٔ کښے راشی او مینځ کښے دا د هغوئ کمال وی چه داسے مشورے ورکوی دے دپاره چه حقیقت واضحه شی)

نو دے کښے ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل : [مَا اَرَدۡتَّ اِلَّا خِلَافِیۡ] زهٔ چه کله مشوره ورکړم نو تهٔ زما مخالفت کوے۔ هغهٔ وفرمایل : زهٔ ستا خلاف نکوم (لیکن دا یوه

مشوره وه چه ما ورکړه) خو پدې خبرو اترو کښې د دواړو آوازونه لړ شان پورته شو نو الله تعالىٰ په سورة الحجرات کښې ډیر سخت د یرې آیتونه راولیږل :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ، أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴾ [الحجرات :۲]

اے ایمان والو ! د الله د نبی په آواز باندې خپل آوازونه مهٔ پورته کوئ، او دهٔ ته په زوره خبره (آواز) مهٔ کوئ لکه چه تاسو یو بل ته په زوره آواز کوئ (سزا دا ده) چه ستاسو عملونه به بربادشی او تاسو به نهٔ پوهیږئ۔

(الله ډیر مهربانه دے د بندګانو عملونه نهٔ ضائع کوی لیکن دومره ده چه تهٔ به کله خپله هغه برباد کړے، او د اعمالو د بربادیدو ډیرے ذریعے دی، یو د هغے نه سوءِ ادب (بے ادبی د قرآن او د الله او د نبی او د هغهٔ د سنت) پدے خبرو سره کله نا کله د انسان نه ایمان اخستے کیږی، دا خطره هغه چا ته ډیر متوجه ده چه هغهٔ ته صحیح حدیثونه د رسول الله ﷺ راشی او هغه وائی چه دا احادیث زهٔ نشم منلے او د هغے د ورانولو کوشش کوی، او وائی چه مونږ خو د فلانی په مذهب یو، ددے حدیثونو منلو ته تیار نهٔ یو، لکه دا خبره دے زمانه کښے ډیره زیاته ده، اکثر خلك د الله نه نهٔ یریږی)

هرکله چه دا آیتونه نازل شو نو ابن ابی مُلیکه فرمائی :

[كَادَ الْخَيِّرَانِ أَنْ يَّهْلِكَا]

نزدے وه چه دوه غوره کسان هلاك شوی وے (ددے دواړو مرتبه دا ده چه د پیغمبرانو نه روستو د ټول مخلوق نه غوره دی) لیکن هغوئ ته ئے داسے یره ورکړه۔ (نو د نورو به څه حال وی)۔

عبد الله بن الزبیر ﷺ فرمائی :

[فَمَا كَانَ عُمَرُ يُسْمِعُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بَعْدَ هٰذِهِ الْآيَةِ حَتّٰى يَسْتَفْهِمَهٗ]

نو عمر فاروق ﷺ به ددے آیت د نازلیدو نه روستو رسول الله ﷺ سره داسے په آرام خبرے کولے چه هغهٔ ته به ئے نهٔ آورولے تردے چه هغهٔ به ترے تپوس وکړو (چه تا څه وویل) او د ابوبکر صدیق ﷺ په باره کښے ئے دا خبره نهٔ ده ذکر کړے (ځکه چه د هغه د مخکښے نه آواز خکته وو)۔

[صحیح بخاری کتاب التفسیر، بَابٌ لَا تَرۡفَعُوۡا اَصۡوَاتَكُمۡ : رقم: ٤٨٤٥]

د ثابت بن قیس ؓ حالت:

او دا آیت چه کله نازل شو نو ثابت بن قیس بن شماس ؓ (چه د رسول الله ﷺ خطیب وو او الله غټ آواز ورکړے وو چه په مجلس کښې به ئے خبرے هرچا آزادے آوریدلے) کور کښې کیناستو او په مسله ناست وو ژړل ئے، یوه دوه او درے ورځے تیرے شوے او ډیر غمجن دے، نو رسول الله ﷺ تپوس وکړو چه ثابت ولے نۀ ښکاره کیږی؟ چا وویل نا جوړه به وی،

سعد وویل: که نا جوړه وے، زۀ به ترے خبر وے لیکن بل څه وجه به وی، زۀ به معلومات وکړم، چه ورغے ښځے نه ئے ورله تپوس وکړو چه ثابت څه شو؟

هغے وویل چه درے ورځے وشوے، دننه کوټه کښې خفګان حالت کښې ناست دے، نو هغۀ نه ئے اجازه واخسته، بیا ئے ورته وویل چه نبی ﷺ ستا تذکرے کوی، تۀ څنګه نۀ راځے، نو هغۀ وویل چه تاسو ته پته ده چه مخکښې ورځو کښې په سورۃ الحجرات کښې الله آیتونه نازل رالیږلی دی چه اے ایمان والو! خپل آوازونه په رسول الله ﷺ مۀ اُوچتوئ عملونه مو بربادیږی۔

او تاسو ته پته ده چه زۀ په تاسو ټولو کښې اُوچت آواز والا یم، او زما خو ډیر کرته په نبی ﷺ باندے آواز اُوچت شویدے نو زما عمل برباد شویدے او زۀ جهنمی یم۔ (نو ځکه پدے خفګان کښې ناست یم) نو رسول الله ﷺ پسے کس ورولیږلو او غټ زیرے ئے ورکړو ورته ئے وویل چه ورته ووایه:

[اِنَّكَ لَسۡتَ مِنۡ اَهۡلِ النَّارِ وَلٰكِنۡ مِنۡ اَهۡلِ الۡجَنَّةِ]

تۀ د اُور والو نه نۀ ئے بلکه د جنتیانو نه ئے۔ [بخاری: ٣٦١٣]

(یعنی ستا بے ادبی مقصد نۀ ده بلکه ستا غیر اختیاری آواز پورته دے)

(ددے نه مونږ ته دا فائده حاصلیږی چه د الله او د رسول او د دین او د علماؤ او د شعائر الله ادب کول ډیر اُوچت عمل دے، پدے وجه ددے صحابی په زړۀ کښې ادب راغلو او

یره ورسره پیدا شوه، نو الله رب العالمین ورته په دنیا کښې د جنت زیرې ورکړو۔
بیا دا صحابي د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کښې د خالد بن ولید رضی الله عنه په فوج کښې د مسیلمة الکذاب په مقابله کښې په جنګ یمامه کښې شهید شو او جنت ته ورسیدو رضی الله عنه وارضاه)۔

د بنو تمیمو فضیلت :

امام بخاري د ابو هریره رضی الله عنه نه نقل کړیدی چه هغهٔ فرمائي :
[لَا أَزَالُ أُحِبُّ بَنِيْ تَمِيْمٍ بَعْدَ ثَلَاثٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُهَا فِيْهِمْ]
زهٔ د هغه وخت نه د بنو تمیمو سره همیشه مینه کوم، کله نه چه ما د رسول الله ﷺ نه د دوئ په باره کښې درې خبرې آوریدلې دی چه د دوئ په باره کښې ئې ذکر کولې۔ یو دا چه :
[هُمْ اَشَدُّ أُمَّتِيْ عَلَى الدَّجَّالِ]
دا خلك زما د امت نه د دجال په مقابله کښې ډیر سخت دی۔
دویم : د دوئ نه یوه وینځه د عائشې رضی الله عنها سره وه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :
[اِعْتِقِيْهَا فَإِنَّهَا مِنْ وَلَدِ اِسْمَاعِيْلَ]
دا آزاده کړه ځکه چه دا د اسماعیل علیه السلام د اولادو نه ده۔
او د دوئ زکاتونه راغلل نو رسول الله ﷺ وفرمایل :
[هٰذِهٖ صَدَقَاتُ قَوْمِيْ]
دا زما د قوم زکاتونه دی۔ (یعنی بنو تمیم ته ئې خپل قوم ووئیلو)
[بخاری :۲۵۴۳، ومسلم ۶۶۱۲] [ابن کثیر]

۱۲- د فروه بن عمرو جذامی رضی الله عنه راتلل :

پدې نهم کال کښې فروه بن عمرو الجُذامي په نوم باندې يو عربي قائد وو چه په مَعَان (اردن) علاقه باندې او د شام په خواؤ شا باندې د روميانو د طرف نه گورنر وو، او په عربو باندې به دۀ مشري کوله، نو هرکله چه دې سرې په مؤته غزا کښې په سنه (٨) هجري کښې د صحابه کرامو بهادري او د الله په دين باندې کلک والې او د رسول الله ﷺ تابعداري وليده او درې زره (٣٠٠٠) کسان د دوه لاکهو (٢٠٠٠٠٠) مقابله کوي، دې حالتونو سخت متأثر کړو نو زړۀ کښې ئې راغله چه محمد رسول الله ﷺ د الله حق نبي دې، نو ايمان ئې راوړو، او رسول الله ﷺ ته ئې يو استازې راوليږلو چه ما په تا باندې ايمان راوړيدې او يوه سپينه قچره ئې هم د هديه په شکل راوليږله چه دا ستا شوه،

پدې کښې روميان ترې خبر شو چه دۀ خو اسلام راوړيدې،

(لکه په هره زمانه کښې نصاراؤ د اسلام مخالفت کړيدې او يو حديث کښې دي چه دوئ به قيامت قائميدو ته نزدې هلاکيږي، تر هغه وخته پورې به ددوئ مخالفتونه د اسلام سره جاري وي)

نو دې ئې ونيولو او دۀ باندې ئې دوه خبرې پيش کړې چه يا به بيرته مرتد کيږې او زمونږ دين ته به راوړې او که نۀ مرتد کيږې نو بيا دې قتل دې، نو هغۀ له الله توفيق ورکړو او دا ئې وويل چه زۀ قتل غوره کوم په ارتداد باندې۔ (ما په بصيرت سره ايمان راوړيدې، هسې په پټو سترګو نۀ) او بيا ئې هغه بادشاه ته وويل :

[فَإِنَّكَ تَعْلَمُ أَنَّ عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ بَشَّرَ بِهٖ وَلٰكِنَّكَ تَضُنُّ بِمُلْكِكَ]

تا ته هم دا يقيني معلومه ده چه ددې نبي زيرې عيسیٰ عليه السلام ورکړيدې ليکن تۀ په خپله بادشاهي باندې بُخل کوې (يعنې اسلام نۀ راوړې ددې نه يريږې چه ستا بادشاهي به لاړه شي)

او هرکله ئې چه د يوې چينې خوا ته راوستو چه هغې ته عَفراء وائي چه دا په فلسطين کښې ده دې دپاره چه هغه قتل کړي نو داسې شعرئې ووئيلو :

بَلِغْ سَرَاةَ الْمُسْلِمِيْنَ بِأَنَّنِيْ	سِلْمٌ لِرَبِّيْ اَعْظُمِيْ وَمَقَامِيْ

د مسلمانانو سردارانو ته دا خبره ورسوه چه زهٔ د خپل رب تابعدار یم، زما هډوکی او زما دا ودریدل د الله دپاره دی۔

بیا ئے د هغهٔ څټ ووهلو او د دغه چینے په څوا کښے ئے په سولئ (پهانسی) کړو۔

دغه استازے راغے او نبی ﷺ ته ئے خبر ورکړو، رسول الله ﷺ خبر شو نو ددے په مُناسبت باندے روستو د مرض الوفات په وخت کښے د اُسامه بن زید ﷺ په مشرئ کښے ددے خلکو د مقابلے دپاره فوج لیږلے دے، چه د هغے واقعه روستو راځی چه هغے کښے ډیرے فائدے دی۔

داسے نور وفدونه دی چه مونږ به ئے تشریح نقل کوو۔



١٣- د تُجیب قبیلې وفد

تُجیب قبیله د یمن په سکون علاقه کښې وسیدله، دوئ هلته د رسول الله ﷺ د والیانو او عاملانو په لاس ایمان راوړے وو، ددے نه دیارلس (١٣) کسان خافونو سره زکاتونه او صدقات راواخستل او رسول الله ﷺ خوا ته مدینے ته راغلل،

نو رسول الله ﷺ د دوئ په راتګ باندے ډیر خوشحاله شو او د دوئ ډیر اکرام او اعزاز ئے وکړو۔

دوئ ووئیل : اے د الله رسوله ! مونږ تا ته د الله حق راوړیدے کوم چه په مونږ باندے زمونږ په مالونو کښے الله فرض کړیدے۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دا بیرته واپس ویسئ او دا په خپلو فقیرانو باندے ئے تقسیم کړئ۔ (لکه دا د زکاة حکم دے چه د مالدارو نه به اخستے کیږی او د هغه ځائے په فقیرانو به تقسیمولے شی)

نو دوئ ووئیل : اے د الله رسوله ! مونږ تا ته هغه مالونه راوړیدی کوم چه زمونږ د فقیرانو نه زیاتی پاتے شویدی۔

نو پدے کښے ابوبکر صدیق رضی الله عنه عرض وکړو اے د الله رسوله ! د عربو په وفدونو کښے د تُجیب قبیلے ددے کسانو په شان وفد خو مونږ باندے کله هم نۀ دے راغلے۔

رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ الْهُدٰى بِيَدِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فَمَنْ اَرَادَ بِهٖ خَيْرًا شَرَحَ صَدْرَهٗ لِلْاِيْمَانِ]

هدایت د الله په لاس کښے دے، نو چا ته چه الله د خیر اراده وکړی د هغۀ سینه ایمان ته کولاوه کړی۔

او دوئ د رسول الله ﷺ نه څه غوښتنے وکړے نو رسول الله ﷺ دوئ ته په هغے باندے لیکنه ورکړه۔

بیا دوئ شروع شو چه د رسول الله ﷺ نه ئے د قرآن او سننو (احکامو) تپوسونه کول نو د رسول الله ﷺ مینه د دوئ سره زیاته شوه۔

(د دین سره مینه لرونکو سره محبت پکار دے)

او بلال ؓ ته ئے حکم وکړو چه د دوئ میلمستیا مزیداره کړی۔
نو دوئ څه ورځے پاتے شو ... کر ډیره موده ئے تیره نکړه، نو دوئ ته ووئیل شو چه په تاسو باندے کومه خبره جلتی کوی؟۔
دوئ ووئیل : مونږ خپل شا ته قوم ته واپس کیږو او هغوی ته خبر ورکوو چه مونږ رسول الله ﷺ ولیدو او د هغهٔ سره مو خبرے اترے وکړے او هغهٔ مونږ ته کومے خبرے وکړے او څه جوابونه ئے راکړل۔
بیا دوئ رسول الله ﷺ ته راغلل چه رخصتی ئے ترے اخسته نو رسول الله ﷺ دوئ ته بلال ؓ ور ولیږلو چه دوئ ته د نورو وفدونو نه هم زیاته قیمتی تحفه ورکړی، د وجه د ډیر اکرام د دوئ نه۔
رسول الله ﷺ دوئ ته وفرمایل : آیا تاسو نه کوم یو تن پاتے شوے ؟
دوئ ووئیل : یو هلك شته چه مونږ خپل سامانونو او اُوښانو ته کینولے دے او هغهٔ په مونږ ټولو کښے کم عمره دے۔ نبی ﷺ وفرمایل : هغه ما ته راولیږئ، هرکله چه دوئ خپلو سامانونو ته راغلل نو دغه هلك ته ئے ووئیل چه ته رسول الله ﷺ ته ورشه او د هغهٔ نه خپل حاجت پوره کړه ځکه چه مونږ د هغهٔ نه حاجت پوره کړو او رخصتی مو ترے واخسته۔
نو هلك راروان شو تر دے چه رسول الله ﷺ ته راورسیدو، سلام نه پس ئے عرض وکړو اے د الله رسوله ! زهٔ د بنو ابذئ قبیلے نه یو تن یم،
(واقدیؒ وائی : دا ابذئ بن عدی دے، او د عدی د مور نوم تُجیب بنت ثوبان د مَذْحِج قبیلے نه ده) هلك ووئیل : زهٔ د هغه قبیلے نه یم چه د هغے کسان تا ته اُوس راغلی وو او تا د هغوی حاجتونه پوره کړل نو اے د الله رسوله ! زما هم یو حاجت دے دا به پوره کوے۔
رسول الله ﷺ وفرمایل : ستا حاجت څه دے ؟ هغهٔ ووئیل : زما حاجت زَما د ملګرو د حاجت په شان نهٔ دے، اګرکه هغوی راغلی دی چه په اسلام کښے رغبت لری او خپل صدقات او زکاتونه ئے هم راوړل، لیکن زهٔ قسم په الله د خپلو علاقو نه تا ته نهٔ یم راوستے مګر دے خبرے چه ته به ما دپاره د الله نه غواړے چه الله ما ته بخنه وکړی او په ما باندے رحم وکړی او زما په زړهٔ کښے غِنیٰ (مالداری / بے حاجتی / قناعت) واچوی۔

نو رسول الله وفرمایل : او دے وخت کښے هلك طرف ته متوجه شو۔

[اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَاجْعَلْ غِنَاهُ فِيْ قَلْبِهٖ]

اے الله ! دهٔ ته بخښنه وکړه او په دهٔ رحم وکړه او ددهٔ په زړهٔ کښے مالداري واچوه۔

بیا ئے دهٔ ته هم هغه شان تحفه ورکړه لکه څنګه چه ددهٔ مشرانو ملګرو ته ئے ورکړے وه۔

(اګرکه دے کشر وو لیکن ډیر لوی مقصد ئے مخے ته راوړے وو، او انسان ته چه مرتبه ملاویږی نو پدے وجه چه همت ئے اُوچت وی، صرف مقصد ئے دنیا نهٔ وی)۔

نو دوئ خپلو علاقو ته واپسئ کښے روان شو۔

بیا په لسم (١٠) کال کښے د حج په موسم کښے دوئ په منیٰ کښے د رسول الله ﷺ سره ملاؤ شول، نو دوئ ووېل : مونږ بنو ابذیٰ یو۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[مَا فَعَلَ الْغُلَامُ الَّذِیْ اَتَانِیْ مَعَکُمْ ؟]

د هغه هلك څه حالت دے چه تاسو سره ما ته راغلے وو ؟۔

دوئ ووېل : اے د الله رسوله ! قسم په الله مونږ د هغهٔ په شان هیڅوك نهٔ دے لیدلے، او مونږ چرته ددهٔ په شان د الله په رزق باندے قناعت او صبرکونکے نهٔ دے آوریدلے، که خلك ددهٔ مخامخ ټوله دنیا تقسیمه کړی نو دے هغے ته هیڅ ګوری هم نهٔ او هیڅ پرواه ئے پرے نهٔ وی۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اِنِّیْ لَاَرْجُوْ اَنْ یَّمُوْتَ جَمِیْعًا]

الله لره شکر دے، زما امید دے چه دے به ټول مری۔ (یعنی زړهٔ به ئے راجمع وی او هیڅ پریشانی او ټینشن به ورته نهٔ وی)

نو د دوئ نه یو تن تپوس وکړو اے د الله رسوله ! هر سړے ټول مری (یعنی داسے خو څوك نشته چه بعض حصه ئے مره شی او بعض ژوندئ وی)

رسول الله ﷺ وفرمایل : د یو سړی سوچونه او فکرونه او خواهشات د دنیا دومره خوارهٔ وارهٔ وی چه کله ورته مرګ راشی نو دے په یوه کنده د خواهشاتو او سوچونو کښے پروت وی نو الله په دهٔ باندے باك نهٔ کوی چه په هره کنده کښے هلاك شو۔ (نو دا انسان ټول مړ نشو، بلکه نیمګړے د دنیا نه لاړو)

بیا دا هلك په خپل قوم کښې په ډیر ښکلې او غوره حالت باندې ژوندې وو او په دنیا کښې ډیرې رغبته وو، او الله ورته په رزق باندې قناعت ورکړې وو،

بیا هرکله چه رسول الله ﷺ وفات شو او د یمن والو نه څه کسان د اسلام نه مرتد شو نو دې په خپل قوم کښې راپاڅیدو او خلکو ته ئې ناشنا وعظ او نصیحت وکړو او اسلام او الله ئې ورته رایاد کړو نو هیڅ یو تن د دوئ نه مرتد نشو۔

(خپل قوم ته ئې لویه فائده ورکړه، دغه شان اُوچتو همتونو والا خلکو نه الله تعالیٰ د دین خدمت اخلی)

بیا به ابوبکر صدیق ﷺ ددهٔ تذکره کوله او ددهٔ په باره کښې به ئې تپوسونه کول تردې چه هغهٔ ته ددې هلك دا ښکلې حالت راوسیدو چه داسې خلك ئې اسلام ته راواپس کړل او خپله په اسلام ډیر مضبوط ولاړ دې،

نو ابوبکر صدیق ﷺ زیاد بن لبید ﷺ ته خط ولیکلو (چه دا د رسول الله ﷺ د طرف نه د یمن والی مقرر شوې وو) او هغهٔ ته ئې وصیت وکړو چه ددې هلك سره خیر خیګړه کوه۔

واقدیؒ وئیلی دی چه دا وفد په نهم (٩) کال د هجرت کښې راغلې وو۔

[الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله ٢/٢٧٠، الرحیق المختوم ص ٤٥١ السیرة الحلبیة ٣/٢٦٥، السیرة النبویة لابن کثیر ٤/١٧٩]

OOOO

١٤- فَرْوَه بن مُسَيك المُرادی رضی الله عنه راتلل :

(یا د مُراد قبیلې وفد)

ابن اسحاق وغیره لیکی : فروه بن مسیك مرادی د کنده د بادشاهانو نه جدا شو او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او اسلام ئې قبول کړو۔
او پدې باره کښې ئې داسې اشعار وویل :

لَمَّــا رَأَيْــتُ مُلُوكَ كِنْدَةَ أَعْرَضَـتْ	۞	كَـالرِّجْلِ خَانَ الرِّجْلَ عِرْقُ نِسَائِهَا
قَــرَّبْــتُ رَاحِـلَتِـيْ أَوُمُّ مُـحَـمَّـدًا	۞	أَرْجُـوْ فَـوَاضِلَهَـا وَحُسْنَ ثَـرَائِهَـا

هرکله چه ما د کنده بادشاهان ولیدل چه د حق دین نه ئې مخ واړه ولو لکه چه د خپې رګ نساء د خپې سره خیانت کوی۔ (نور رګونه صحیح وی او یو رګ پکښې خراب (بدل) شی۔ (دغه شان نور خلك په اسلام کښې داخلیږی او دوئ د هغې نه کاږه روان شو) (نو) ما ځان ته خپله اُوښه رانزدې کړه په داسې حال کښې چه زهٔ د محمد ﷺ اراده لرم، او ددې اُوښې د خیرونو او د ښائسته مالدارئ امید لرم۔ (یعنی پدې تګ کښې مې د ډیر خیر امید دې)

دې د خپلې علاقې نه راروان شو تردې چه مدینې ته راوسیدو، او دې ډیر شرافت والا سړې وو، نو سعد بن عباده رضی الله عنه ځان سره میلمه کړو بیا سهار کښې رسول الله ﷺ خوا ته راغلو او هغه په مسجد کښې ناست وو، نو هغهٔ ته ئې سلام وکړو بیا ئې وویل :
اې د الله رسوله ! زهٔ د خپل روستو قوم د طرف نه تا ته راغلې یم، (او زهٔ د هغوی د اسلام ذمه واریم چه دعوت به ورکوم او په اسلام کښې به ئې داخلوم)
رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې فروه ! تهٔ چرته میلمه وې؟
هغهٔ عرض وکړو : په سعد بن عباده رضی الله عنه باندې۔

رسول الله ﷺ دعاء وکړه: [بَارَكَ اللّٰهُ عَلٰی سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ]
الله دې سعد بن عباده ته برکتونه او خیرونه ورکړي۔ (چه د میلمنو خدمتونه کوي)
او دې به د رسول الله ﷺ مجلس ته حاضریدو هرکله چه به رسول الله ﷺ کیناستو، او دهٔ به قرآن زده کولو او د اسلام فرائض او احکام به ئې یادول۔
نو یوه ورځ رسول الله ﷺ ددهٔ نه تپوس وکړو: په جنګ رَدُم (د اسلام نه مخکښې د مراد او د همدان قبیلو خپل مینځ کښې جنګ) کښې چه ستا قوم ته کومه صدمه رسیدلې آیا تهٔ په هغې باندې خفه ئې؟ نو دهٔ وویل: اې د الله رسوله! داسې به څوك وي چه هغهٔ ته زما د قوم په شان صدمه ورسیږي او هغه به خفه نهٔ وي،
نو رسول الله ﷺ وفرمایل:
[اَمَا اِنَّ ذٰلِكَ لَمْ يَزِدْ قَوْمَكَ فِي الْاِسْلَامِ اِلَّا خَيْرًا]
خبر شه چه دې صدمې ستا قوم لره په اسلام کښې نور خیر زیات کړو۔
(ځکه چه جنګونه انسان ډیر تنګوي، د هغې په وجه دې خلکو د اسلام خوبي معلومه کړه چه پدې سره اختلافات ختمیږي نو الله ورته د اسلام توفیق ورکړو)
بیا رسول الله ﷺ فروه لره په مُراد او زُبَید او مَذْحِج قبیلو باندې ګورنر مقرر کړو او ددهٔ سره ئې خالد بن سعید بن العاص ؓ د زکاة د وصولو دپاره ولیږلو، او د هغهٔ سره ئې پدې باره کښې یو خط ولیکلو چه صرف همغه سره به وو، نو خالد ؓ د فروه سره د هغه په ښارونو کښې وسیدو تردې چه رسول الله ﷺ وفات شو۔
پدې دوران کښې د دوئ په خوا باندې به د یمن قبیلې راتیریدې چه هغوی به رسول الله ﷺ ته په وفد کښې راتلل نو دوئ خپل مینځ کښې وویل چه مونږ خو دا دین منلې دې او زکاتونه هم ورکوو نو مونږ له پکار دي چه رسول الله ﷺ ته یو وفد ولیږو چه هغهٔ سره ملاؤ شي او هغهٔ ته زمونږ د اسلام معلومات وشي او مونږ د هغهٔ نه څه خیر شونتیئ رابله کړو۔
نو خالد بن سعید بن العاص ؓ ته ئې وویل چه تهٔ مونږ نه څه کسان ددې دپاره منتخب کړه، نو خالد بن سعید ؓ ورته وویل صحیح ده، بیا ئې د دوئ یو وفد رسول الله ﷺ ته راولیږلو۔
[الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله ٢/٢٧٢]

١٥- د عمرو بن معدی کرب رضی الله عنه راتلل یا وفد د زُبید قبیلې

عمرو بن معدی کرب رضی الله عنه د زُبید قبیلې د څه کسانو په ملګرتیا کښې نبی کریم ﷺ ته راغلو او اسلام ئې قبول کړو. عمرو رضی الله عنه نبی ﷺ ته د حاضریدو نه مخکښې قیس بن مکشوح مرادی ته وئیلی وو چه "اے قیس! ته د خپل قوم سردار ئې، مونږ ته دا خبره ذکر کیږی چه د قریشو نه یو سړے دے چه د هغهٔ محمد نوم دے او په حجاز کښې راوتے دے او د هغهٔ دعویٰ دا ده چه هغه د الله نبی دے، نو مونږ سره لاړ شه چه ددے حقیقت معلوم کړو، که هغه د الله حق نبی وی نو مونږ ته به په ملاقات سره د هغه حالت پټ پاتے نشی نو تابعداری به ئې وکړو او که حق نهٔ وی نو مونږ ته به ئې معلومات وشی، ځکه که ستا د قوم نه یو تن هغهٔ ته مخکښې ورغلو نو هغه به زمونږ سردار جوړ شی او په مونږ به مشری کوی او مونږ به د هغهٔ لکئ شو.

(عمرو بن معدیکرب رضی الله عنه ته په دے وجه د اسلام توفیق ملاؤ شو چه دهٔ کښې انابت وو، که اُوس هم یو انسان ووائی چه که دا فلانے په حقه وی نو زهٔ به ئې تابعداری کوم نو الله ورته هدایت کوی)

قیس انکار وکړو او د هغهٔ رائې غلطه وګڼړله.

عمرو بن معدی کرب رضی الله عنه راغلو اسلام ئې قبول کړو، او دلته څه ورځو پورے پاتے شو نو رسول الله ﷺ ورته تحفه ورکړه لکه څنګه چه به ئې نورو وفدونو ته تحفے ورکولے بیا خپلے علاقے ته واپس شو.

بیا عمرو بن معدی کرب رضی الله عنه په خپل قوم بنی زُبید کښې وسیدو چه په هغوی باندے فروه بن مسیك مرادی رضی الله عنه مشری کوله (کوم چه په مخکښې وفد کښې ذکر شو)،

عمرو رضی الله عنه د هغهٔ خبره منونکے تابعدار وو بیا هرکله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو عمرو بن معدی کرب رضی الله عنه د اسلام نه مرتد شو بیا روستو زمانه کښې بیرته اسلام ته

راواپس شو، او بنګلے مؤمن ترے جوړ شو او په اسلامی جهادونو کښے پوره پوره شریك شو۔

قیس ته چه کله د عمرو بن معدی کرب رضی الله عنه د اسلام پته ولګیده نو دا پرے ډیره ګرانه پریوته، او هغهٔ ته ئے دهمکی ورکړه او دا ئے وویل چه تا زما د رائے مخالفت وکړو۔

بیا فروه بن مسیك مرادی رضی الله عنه قیس مکشوح لره بنه تالاش کړو لیکن هغه د خپل کلی نه تښتیدلے وو،

بیا عمرو بن معدیکرب رضی الله عنه قیس ته وویل چه اے قیس! ما تا ته نهٔ وو وئیلی چه تهٔ به د فروه بن مسیك رضی الله عنه تابع او لکئ جوړیږے۔ دے دین ته دِ ے مخکښے والے ونکړو، نو فروه درنه مخکښے شو هغه ستا سردار جوړ شو۔

(دے نه معلومه شوه چه څوك دین ته مخکښے والے وکړی نو هغهٔ ته الله مرتبه او مشری ورکوی)۔ [الاکتفاء ۲/۲۷۳]

OOOO

۱۶- وفد بنی ثعلبه

(سنه ۸ هجری)

هرکله چه رسول الله ﷺ د جعرانې نه رواپس شو (یعنی غزا د طائف او حنین ئې وکړه) نو د بنو ثعلبه ؤ نه څلور کسان د هغهٔ په خدمت کښې حاضر شو۔

هغوی وائی :

مونږ وویل : "چه مونږ د خپل قوم نمائنده ګان یو"۔

رسول الله ﷺ زمونږ دپاره د میلمستیا حکم وکړو، او مونږه د رمله بنت الحارث نجاریه په کور کښې دیره شول، نو مونږ ته بلال رضی الله عنه راغلو مونږ ته ئې وکتل نو عرض ئې وکړو : آیا تاسو سره ستاسو نه سوی بل څوك شته؟ مونږ وویل : نه،

نو زمونږ نه واپس شو، لږ وخت روستو ئې یوه غټه کاسه راوړه چه په هغې کښې په پیوو او غوړو کښې روټۍ ماته کړې وه نو مونږ د هغې نه په ډکه خیټه خوراك وکړو بیا مونږ غرمه کښې رسول الله ﷺ خوا ته لاړو نو ومو کتل چه رسول الله ﷺ د کور نه راووتو او د هغهٔ د سر نه اُوبهٔ څڅیدلې نو مونږ ته ئې نظر واچولو نو مونږ په جلتۍ سره د هغهٔ خوا ته ورغلو او بلال رضی الله عنه د مانځه دپاره اذان وکړو،

مونږ په هغهٔ سلام واچولو او مونږ وویل : اې د الله رسوله ! مونږ د خپل قوم نماینده ګان یو ، د اسلام اقرار کوو او زمونږ قوم په خپلو ګډو بزو او سختو ضروریاتو کښې ایسار دې، او مونږ ته وئیل شویدی چه د هغه چا اسلام قبول نهٔ دې چه هغه هجرت ونکړی، (دا څنګه خبره ده؟) نبی ﷺ وفرمایل : تاسو چه هر ځائې یئ او د الله نه یریږئ نو تاسو ته هیڅ ضرر نشته چه هر ځائې یئ۔

پدې کښې بلال رضی الله عنه د اذان نه فارغ شو او رسول الله ﷺ مونږ سره خبرې اترې کولې، بیا مخکښې شو او مونږ ته ئې د ماسپخین مونځ وکړو چه مونږ د رسول الله ﷺ نه سوی په ډیر مختصر مګر پوره مونځ باندې بل څوك نهٔ وو لیدلې۔

بیا رسول الله ﷺ کور ته لاړو نو لږ وخت روستو راووتو، نو مونږ ته ووېل شو چه رسول الله ﷺ په کور کښې دوه رکعاته مونځ وکړو.

بیا ئې مونږ راوغوښتو، وې فرمایل: ستاسو اهل چرته دې؟

مونږ ووېل: نزدې دې، دوئ پدې سریه کښې دی. اې د الله رسوله!

بیا ئې تپوس وکړو چه ستاسو علاقې څنګه دی؟ مونږ ووېل: تازه او شنې دی، نو الحمد لله ئې ووئیله.

نو مونږ د رسول الله ﷺ سره یو څو ورځې تیرې کړې او د قرآن او د سنت طریقو نه مو ډیر څه زده کړل، او مونږ ته به میلمستوب راتللو،

بیا مونږ راغلو چه د رسول الله ﷺ نه مو رخصت اخستو چه واپس کلو ته لاړ شو نو بلال ﷺ ته ئې وفرمایل: دوئ ته هم د نورو وفدونو په شان تحفې ورکړه،

نو بلال ﷺ د سپینو زرو څه ټکړې راوړلې نو زمونږ نه هر یو تن ته ئې پنځه (٥) اُوقیه ورکړې، بیا ئې ووېل: مونږ سره تاپه شوې دَرَاهم نشته، د هغې په ځائې د سپینو زرو دا ټکړې واخلئ، نو مونږ خپلو علاقو ته راواپس شو.

[الاکتفاء ٢/٢٧٣]



۱۷- د بهراء قبیلے وفد

کریمه بنت مقدادؓ وائی : ما د خپلے مور ضُبَاعه بنت الزبیر بن عبد المطلب نه واوریدل چه فرمایل ئے : د یمن نه د بهراء قوم وفد راغلو چه دا دیارلس (۱۳) کسان وو، دوئ راروان شو تردے چه مدینے ته راورسیدل چه د خپلو سورلو نه مخکښے راروان وو، او سورلئ ئے راخکلے، تردے چه د مقداد بن الاسود ﷺ دروازے ته راورسیدل، او مونږ په خپل کور کښے وو چه د لرګو نه یوه پنجره جوړه وله،

نو مقداد ﷺ هغوی ته ور اُووتو او هغوی ئے خپل کور ته ننویستل او هغوی ته ئے د حلواء نه یوه غټه کاسه راوړه چه هغه مونږه ځان دپاره ددے میلمنو د راتګ نه مخکښے تیاره کړے وه۔

نو ابو معبد مقداد بن الاسود ﷺ هغه واخسته (ځکه چه هغه سخی وو) او د طعام سره ئے میلمنو ته کیخوده نو هغوی ترے په ډکه خیټه خوراك وکړو، او مونږ ته کاسه راواپس شوه چه په هغے کښے معمولی خوراك وو، نو مونږه دغه خوراك راجمع کړو او په یوه وړه کاسه کښے مو واچولو، بیا مو هغه رسول الله ﷺ ته ولیږلو خپلے وینځے سدره ته مو ورکړه، نو سدره لاړه او رسول الله ﷺ ئے د ام سلمه رضی الله عنها په کوټه کښے وموندو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا دا خوراك ضباعه رالیږلے دے؟،

سِدره وویل آؤ، اے د الله رسوله ! هغهٔ وفرمایل : دا کیده،

بیا ئے وفرمایل : د مقداد ﷺ میلمنو څه وکړل؟ ما وویل : هغوی مونږ کړه دی، نو رسول الله ﷺ د هغے کاسے نه خوراك وکړو خپله، او تول کور والو، او سدره ئے هم ځان سره کینوله تردے چه ماړهٔ شول،

بیا ئے وفرمایل : دا کوم طعام چه پاتے شو دا ستاسو میلمنو ته ویسئ۔

سِدره وائی : ما په کاسه کښے دغه پاتے شوے طعام خپلے مولاګئ ته راوړو۔

هغه وائی : چه میلمنو به د هغے نه خوراك کولو ترڅو چه دوئ دلته دیره وو، مونږ به هغوی ته دغه کاسه د روتئ په هر وخت کښے راوړله، او هغهٔ به نهٔ کمیده، تردے چه

میلمنو وویل : اے مقداد ! تهٔ مونږ ته په ډکه خیټه هغه خوراك راوړے چه هغه مونږ ته ډیر محبوب دے، او مونږ ددے په شان طعام باندے نهٔ یو قادر پدے وخت کښے، حال دا چه مونږ ته به خلکو ویل چه ستاسو پدے ښارونو کښے طعام ډیر کم دے، او مونږ تا سره دلته یو او پوره مړیږو،

نو مقداد بن الاسود ﷺ ورته خبر ورکړو چه دا مونږ رسول الله ﷺ ته لیږلے وو او هغهٔ ددے نه خوراك کړیدے او باقیمانده ئے رالیږلے دے نو دا د رسول الله ﷺ د ګوتو برکت دے۔ نو دے کسانو وویل : مونږ ګواهی کوو چه دے د الله رسول دے، او پدے سره ئے یقین نور هم زیات شو۔ او د همدے کار اراده رسول الله ﷺ کړے وه۔

او دویٔ پدے موده کښے د اسلام احکام زدهٔ کړل او یو څو ورځو پورے پاتے وو بیا رسول الله ﷺ ته راغلل د هغهٔ نه ئے رخصتی واخسته او رسول الله ﷺ هغوی ته تحفے ورکړے او خپلو علاقو ته ئے واپس کړل۔

[الاکتفاء ٢/٢٧٧]



۱۸- وفد د بنی عُذرَه

(صفر، سنه ۹ هجری)

په صفر میاشت کښې په نهم (۹) کال د هجرت د بنو عذره ۏ نه نهه (۹) کسان رسول الله ﷺ ته راغلل چه په هغوی کښې حمزه بن نعمان، سلیم بن مالك او سعد بن مالك (دواړه ورونه وو) او مالك بن ابی رباح وو،

نو دوئ د بنو نجارو نه د یوې زنانه رمله بنت الحارث په کور کښې دیره شول، بیا رسول الله ﷺ ته راغلل او هغه په مسجد کښې وو، نو دوئ د جاهلیت والو په شان سلام واچولو، رسول الله ﷺ تپوس وکړو تاسو څوك یئ ؟ نو د دوئ متکلم (خبرې کونکی) ووئیل : هغه خلك چه تهٔ به ئې ناشنا نهٔ ګنړې، مونږ بنو عذره یو، چه د قُصی بن کلاب مور شریکی ورورنه دی،

مونږ هغه خلك یو چه په قصی باندې ئې چلګ لګولې دې، او د مکې نه ئې خزاعه او بنو بکر شړلې دی او ز مونږ قرابتونه او صله رحمیانې (رشتې) دی۔

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تاسو ته دې مرحبا وی، او تاسو اهل ته راغلئ، زهٔ تاسو لره ښهٔ پیژندونکې یم، نو بیا تاسو د اسلام مطابق سلام ولې ونکړو ؟

هغوی ووئیل : اې محمد (نوم ئې واخستو ځکه چه لا اسلام ئې نهٔ دې راوړې)

مونږ په هغه دین باندې وو په کوم باندې چه ز مونږ پلاران وو، نو مونږ راغلو چه د خپلو ځانونو او روستو قوم دپاره خیر طلب کوو نو تهٔ کومې خبرې ته دعوت ورکوې؟

رسول الله ﷺ وفرمایل : یواځې د الله عبادت ته چه د هغهٔ هیڅ شریك نشته، او دا چه تاسو به دا ګواهی کوئ چه زهٔ د الله رالیږلې شوې رسول یم ټولو خلکو ته۔

نو د دوئ نمائنده ووئیل : ددې نه روستو نور کوم فرائض دی ؟

وې فرمایل : پنځه مونځونه دی، چه تهٔ به ددې دپاره ښکلې اودس کوې، او دا به په خپلو صحیح اوقاتو کښې کوې، ځکه چه دا د ټولو نه بهتر عمل دې،

بیا ئې دوئ ته باقی فرائض د روژې او د زکاة او د حج وخودل،

نو د دوئ نمائنده ووئیل : الله اکبر، مونږ ګواهی کوو چه نشته حقدار د بندګئ سوی

د الله نه او تهٔ د الله رسول ئې، مونږ ستا خبره منو کوم ته چه تهٔ دعوت ورکوې او مونږ ستا مددګار او ستا انصار یو.

بیا ئې ووېل : اې د الله رسوله! مونږ د شام سره پیوسته ګاونډیان یو، او د هغوی خبرونه مونږ ته راځي او په شام کښې تا ته معلومه ده چه هرقل دې، نو آیا تا ته د هغهٔ په باره کښې څه وحي شویده؟،

رسول الله ﷺ وفرمایل : خوشحاله شه څکه چه شام به زر فتح کړې شي، او هرقل به خپلو محفوظو ښارونو ته وتښتي، نو هغهٔ الله اکبر ووئیلو،

بیا ئې عرض وکړو : اې د الله رسوله!

[إِنَّ فِيْنَا امْرَأَةً كَاهِنَةً كَانَتْ قُرَيْشٌ وَالْعَرَبُ يَتَحَاكَمُوْنَ إِلَيْهَا وَلَوْ قَدْ رَجَعْنَا أَقَرَّتْ هِيَ وَغَيْرُهَا مِنْ قَوْمِنَا بِالْإِسْلَامِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ أَفَنَسْأَلُهَا عَنْ كَهَانَتِهَا]

په مونږ کښې یوه کاهنه زنانه ده چه قریشو او نورو عربو به هغې ته فیصلې راوړلې، که چرته مونږ واپس شو نو ان شاء الله چه هغه او زمونږ د قوم نه نور خلك به د اسلام اقرار کوی، نو آیا مونږ د هغې نه د هغې د کهانت (غیبو خبرونو ورکولو) په باره کښې تپوس وکړو؟.

رسول الله ﷺ وفرمایل : د هغې نه د هیڅ شي په باره کښې تپوس مهٔ کوئ.

(لکه په حدیث کښې ددې نه سخته منع راغلې ده چه څوك یو کاهن ته راغلو او د هغهٔ تصدیق ئې وکړو نو دهٔ کفر وکړو چه هغه دین باندې چه الله په محمد ﷺ باندې رالیږلې دې،ترمذي رقم : ١٣٥، صحیح).

نو دې سړي الله اکبر ووئیلو، بیا ئې د هغه ذبیحو په باره کښې تپوسونه وکړل چه جاهلیت والو به د خپلو بتانو دپاره حلالولې، نو رسول الله ﷺ ددې کار نه منع کړل. او دا ئې وفرمایل :

[لَا ذَبِيْحَةَ لِغَيْرِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ]

د الله نه سوئ د بل چا دپاره ذبح کول نشته.

او وې فرمایل :

[وَلَا ذَبِيْحَةَ عَلَيْكُمْ فِيْ سَنَتِكُمْ إِلَّا وَاحِدَةً قَالَ : وَمَا هِيَ؟ فِدَاكَ أَبِيْ وَأُمِّيْ قَالَ : اَلْأُضْحِيَةُ]

په تاسو باندې په کال کښې صرف یوه ذبیحه لازمه ده، هغهٔ وویل : زما مور او پلار دې ستا نه قربان شي هغه کومه ده ؟ وې فرمایل : اضحیه (قرباني) ده۔
(دا روایت دلیل دې چه په مسلمانانو باندې د اختر په ورځ قرباني کول لازم دي، د چا چه وسع کیږي)۔
هغهٔ وویل : دا به په کوم وخت ذبح کولې شي؟ وې فرمایل : د لسم (١٠) ذي الحجې په صبا باندې یو ګډ د خپل ځان او د خپل اهل د طرف نه ذبح کړه۔
هغهٔ بیا تپوس وکړو :

[أَهِيَ عَلَى اَهْلِ كُلِّ بَيْتٍ وَجَدُوْهَا ؟، قَالَ : نَعَمْ]

آیا دا په هر کور والا باندې لازم ده چه هغه موندهٔ کوي؟ وې فرمایل : آؤ۔
دوئ څو ورځې تیرې کړې بیا رسول الله ﷺ ته دوئ ته تحفې ورکړې لکه د نورو وفدونو په شان او دوئ خپلو علاقو ته واپس شول۔

[الاکتفاء : ٢/٢٧٩]

OOOO

۱۹- وفد بنی مُرّه

(۸ هجری)

هرکله چه رسول الله ﷺ د تبوك نه راواپس شو نو د بنو مره ؤ نه دیارلس (۱۳) کسان راغلل چه مشرئے حارث بن عوف وو، دوئ چه راغلل رسول الله ﷺ په مسجد نبوی کښے وو، نو د دوئ مشر حارث بن عوف ووېل : اے د الله رسوله ! مونږ ستا قوم او قبیله یو، مونږ د بَنُو لُؤَیِّ بن غالب نه یو،

نو رسول الله ﷺ مُسکے شو، او حارث ته ئے ووېل :

[اَیْنَ تَرَکْتَ اَهْلَكَ ؟]

تا خپل اهل کوم ځائے پریخودو؟ هغهٔ ووېل : په سلاح (علاقه) او د هغے په قرب او جوار کښے۔

وے فرمایل : ستاسو د علاقو څنګه حال دے؟ هغهٔ عرض وکړو :

[وَاللّٰهِ اِنَّا لَمُسْنِتُوْنَ وَمَا فِي الْمَالُ مُخٌّ فَادْعُ اللّٰهَ لَنَا]

قسم په الله مونږ قحط وهلی یو، او په مال کښے هیڅ مغز نشته، (خاروی خوار شویدی) نو د الله نه مونږ دپاره دعاء وغواړه۔

رسول الله ﷺ وفرمایل : [اَللّٰهُمَّ اسْقِهِمُ الْغَیْثَ]

اے الله ! په دوئ باندے فائده من باران وکړه۔ نو دوئ څو ورځے اُوسیدل بیا دوئ د واپسئ اراده وکړه نو رسول الله ﷺ ته راغلل چه د هغهٔ نه ئے رخصتی اخسته، نو هغهٔ بلال ته حکم وکړو چه دوئ ته تحفے ورکړی نو هغهٔ هر یو تن ته لس (۱۰) اُوقیه سپین زر ورکړل۔ او حارث بن عوف ئے د دوئ نه غوره کړو، هغهٔ ته ئے دولس (۱۲) اُوقیه ورکړل۔

او دوئ خپلو علاقو ته واپس شول، نو خپلے علاقے ئے وموندلے چه بارانونه پرے شوی وو، نو دوئ د قوم نه تپوس وکړو چه په تاسو باندے کوم وخت باران وشو ؟

هغوی حال ووئیلو نو دا هغه ورځ وه چه رسول الله ﷺ په هغې کښې د دوئ دپاره دعاء کړې وه۔

بیا روستو کال کښې رسول الله ﷺ د حجة الوداع په تیاریٔ کښې وو چه ددې قوم نه یو تن راغلو، عرض ئې وکړو اې د الله رسوله! مونږ چه ستا خوا نه خپلو علاقو ته لاړو نو مونږ ومونډل چه په هغوی باندې مضبوط بارانونه شوی وو په هغه ورځ چه تا مونږ دپاره دعاء کړې وه، بیا به هر پنځلسمه شپه کښې باران کیدو چه په دې سره زمونږ ګیا هګانې ښې راډیرې شوې، چه ما به اُوښان لیدل چه په ناسته به ئې هم خوراکونه کول او زمونږ ګډې بزې به زمونږ د کورونو نه نۀ پناه کیدې، چه لرې به لاړې هر ځائې به ئې ګیاه وخوړه او بیرته به ئې ځانونه کورونو ته واپس کولو او همدلته به ئې آرام کولو۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: الله لره شکر دې چه تاسو سره ئې داسې کار وکړو۔

(دا د اسلام او د رسول الله ﷺ برکت وو، څو مره چه انسان د الله په بندګئ کښې مصروف کیږی او د دین خدمت کوی او دین ئې راپورته کړې وی الله به دغه شان فراخیانې ورکوی)۔

[الاکتفاء ۲/۲۸۲، امتاع الاسماع ۱۴/۳۱۰، السیرة الحلبیة ۳/۲۷۴ سبل الهدی والرشاد ۶/۴۱۰، عیون الاثر ۲/۳۱۱]

OOOO

۲۰-وفد خَوُلان

(شعبان ۱۰ هجری)

خَولان یوه یمنی قبیله ده۔ ددې قبیلې لس (۱۰) کسان د شعبان په میاشت کښې په لسم (۱۰) هجری کښې رَسول الله ﷺ ته راغلل،

دوئ وویل : اې د الله رسوله ! مونږ د روستو خلکو د طرف نه تا ته راغلی یو، او مونږ په الله باندې ایمان راوړیدې او د هغهٔ د رسول تصدیق کوو، مونږ تا ته د اُوښانو ترخونه وهلی دی (یعنی اُوښان مو ستړی کړیدی) او په سختو او نرمونو زمکو باندې راتیر شوی یو (یعنی د ډیرو لرو علاقو نه راغلی یو) لیکن احسان د الله او د رسول دې په مونږ باندې او مونږ تا ته ستا د ملاقات دپاره راغلی یو۔ (یعنی په تا باندې زیاتنه نهٔ کوو، بلکه د الله احسان منو)

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تاسو چه ما طرف ته کوم راتلل ذکر کړل نو دا خبره واورئ چه تاسو ته به په هر قدم باندې چه ستاسو اُوښانو اخستے وی یوه نیکئ ملاویږی، او ستاسو دا خبره چه مونږ ستا ملاقات ته راغلی یو، نو (واورئ) څوك چه زما ملاقات په مدینه کښې وکړی نو دې به د قیامت په ورځ زما په گاونډ کښې وی۔

دوئ وویل : اې د الله رسوله ! دا یو داسې سفر دې چه هیڅ تاوان او هلاکت پکښې نشته (بلکه مونږ پرې انتهائی ډیر خوشحاله یو)

بیا رسول الله ﷺ د دوئ نه د دوئ د یو بت په باره کښې تپوس وکړو چه هغهٔ ته به ئې عَمّ اَنَس وئیلو، چه دوئ به ئې عبادت کولو، ورته ئې وویل :

[مَا فَعَلَ عَمُّ اَنَس]

ستاسو د بت (عم انس) څه حال دې ؟ یعنی څوك ئې عبادت کوی او که نهٔ ؟

دوئ وویل : [بِشَرٍّ وَعُرٍ] په ناکاره تکلیف او سختئ کښې دې۔

(یعنی ددهٔ په وجه خلك په مصیبت کښې اخته دی چه ددهٔ بندگی کوی چه د څه نه خبره هم نهٔ دې)

مونږ ته الله تعالیٰ ددې په بدل کښې هغه غوره دین راکړو چه تا راوړیدې، البته زمونږ نه بعض بوډاګان سړی او بوډۍ ګانې ښځې لا اُوس هم شته چه دا بت ئې کلك نیولې دې، خو که چرته مونږ ان شاء الله واپس لاړو نو مونږ به ئې ماتوو۔

ځکه چه اې د الله رسوله! مونږ ددې بت نه په دهوکه او فتنه کښې اخته وو۔

ددې فتنې تاته د ذکر کولو نه هم ډیره لویه ده، نو الله لره شکر دې چه په مونږ باندې ئې ستا په وجه احسان وکړو او ستا په وجه ئې د هلاکت نه او د عبادت د غیر الله نه بچ کړو د کومو چه به زمونږ پلارانو عبادت کولو۔

رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د هغې نه کومه لویه فتنه لیدلې ده؟

دوئ ووېل: اې د الله رسوله! مونږ یو وخت کښې په قحط کښې اخته شو تردې چه مونږ زاړه هډوکي خوړل شروع کړل او زمونږ بچې د تاوان د وجه نه مړۀ شول او زمونږ څاروي او خادمان او اسونه د لوږې نه هلاك شول، یا بعض د هغې نه هلاك شول۔

نو مونږ ووېل: یا مونږ کښې بعض کسانو ووېل:

[قَرِّبُوْا لِعَمِّ اَنَسٍ قُرْبَانًا یَشْفَعُ لَکُمْ فَتُغَاثُوْا]

تاسو عم انس (بت) ته څه قربانۍ وړاندې کړئ چه هغه ستاسو دپاره سفارش وکړي چه تاسو سره مدد وکړې شي (باران دریاندې وکړې شي)۔

نو مونږ د خپل وس مطابق خپل غوره مالونه راجمع کړل بیا په مونږ کښې یو تن لاړو او په هغې باندې ئې سل (۱۰۰) غوایان واخستل، بیا ئې مونږ ته تول راوستل نو مونږ په یو سهار کښې تول ذبح کړل، او مونږ همداسې پریخودل چه درنده ګان (حیوانات) به ورته راتلل حال دا چه مونږ هغې ته د حیواناتو نه ډیر محتاج وو،

نو دې وخت کښې باران شروع شو نو ددې نه بله لویه کومه فتنه کیدې شي، یقین وکړه چه مونږ داسې ګیاه ولیدله چه سړی به ئې پټول او په مونږ کښې به یو تن وئیل:

[اَنْعَمَ عَلَیْنَا عَمُّ اَنَس]

مونږ باندې عم انس (بت) ډیر لوی احسان وکړو۔

(دې ته امتحان او فتنه وائي چه کله مشرك ته په شرك سره هم حاجت پوره شي نو دې په خپل شرك نور کلك شي او دا کار حق وګنړي، الله پورې د داسې حالت نه پناه

غواړو، بعض مشرکان یو بابا او زیارت له ورشی هلته ئے بچے بنۂ شی،
یا ئے بعض حاجت پوره شی نو بیا وائی وګوره کنه منکران اولیاء نۂ منی څنګه ئے زمونږ حاجت پوره کړو۔ لا حول ولا قوة الا بالله والله المستعان)
او دوئ رسول الله ﷺ ته دا هم ذکر کړل چه دوئ به دے بت دپاره د خپلو چارپیانو او فصلونو نه تقسیم کولو او ددے نه به ئے څه برخه د الله دپاره او څه برخه ددے بت دپاره مقرروله۔ (د دوئ په خپل خیال او ګمان سره)،
دوئ وویل : مونږ به یو فصل وکرلو بیا به مو ددے بت دپاره ددے مینځ مقرر کړو او هغے ته به مو نوم ورکړو چه دا د عم انس برخه شوه۔ او بل فصل ته به مو نوم ورکړو چه دا د الله دپاره بند شو، بیا چه به هواء په هغه برخه باندے راغله چه مونږ به د الله دپاره مقرر کړے وه نو مونږ به د عم انس (بت) دپاره وګرځوله او کله چه به هواء په هغه برخه راغله چه عم انس دپاره به مقرر وه نو هغه به مو دغه بت ته ورکوله (ددے منجورانو وغیره ته او ددے بابا په نوم باندے) او د الله دپاره به مو نۂ ګرځوله۔
(یعنی د الله جانب ئے کم کړے وو او د خپل بت جانب ئے پرے غوره کړے وو، مشرك همیشه د الله سره داسے ظلم کوی)
نو رسول الله ﷺ دوئ ته دا خبره ذکر کړه چه ددے کار په باره کښے په ما باندے الله تعالیٰ وحی رالیږلے ده، داسے ئے فرمایلی :
﴿ وَجَعَلُوا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَائِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللّٰهِ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلٰى شُرَكَائِهِمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾
(الانعام ۱۳۶)
او دوئ مقرر کړیده د الله دپاره د هغے نه چه الله پیدا کړیدی د فصلونو او چارپیانو نه یوه برخه نو دوئ وائی : دا د الله دپاره ده او دا بله برخه زمونږ د (بتانو) برخه دارانو دپاره ده، نو کومه برخه چه د دوئ د برخه دارانو دپاره وه نو هغه به نۂ رسیدله الله ته او کومه چه به الله دپاره وه نو هغه به رسیدله د دوئ برخه دارانو ته ده، بده ده هغه فیصله چه دوئ ئے کوی۔
بیا دوئ وویل : او مونږ به دے بت ته فیصله ور وړله نو هغۀ به مونږ سره خبرے کولے۔ نو پدے وخت کښے رسول الله ﷺ وفرمایل :

[تِلْكَ الشَّيَاطِيْنُ تُكَلِّمُكُمْ]

دغه شیطانان وو چه تاسو سره به ئے (ستاسو د گمراه کولو دپاره) خبرے کولے.

(دے نه معلومه شوه چه هر هغه شے چه د کتاب او سنت نه خلاف وی اگر که تهٔ ترے څه آثار هم وینے نو دا به شیطان وی چه تا به په څه طریقه گمراه کوی)

دوئ وویل : اے د الله رسوله ! اُوس مونږ داسے گرځیدلی یو چه زمونږ زړونه دا پیژنی چه دے نهٔ چا ته ضرر ورکولے شی او نهٔ فائده او نهٔ پو هیږی چه څوك ئے عبادت کوی او څوك ئے نهٔ کوی.

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه الله لره شکر دے چه تاسو ته ئے هدایت وکړو او تاسو ته ئے په محمد ﷺ سره عزت درکړو.

بیا دوئ د رسول الله ﷺ نه د فرائضو په باره کښے پوښتنے وکړے، نو رسول الله ﷺ ورته هغه بیان کړل، او دوئ ته ئے د لوظ او عهد په وفادارئ او په ښکلے امانت ادا کولو او ښکلے گاونډتوب باندے حکم وکړو او دا امرئے وکړو چه دوئ به په هیچا باندے ظلم نهٔ کوی ځکه چه ظلم د قیامت په ورځ باندے تیارے دی.

بیا ئے د دوئ په باره کښے حکم وفرمایلو نو دوئ د رمله بنت الحارث په کور کښے دیره کړے شول، او دوئ دپاره په میلمستیا سره حکم وکړے شو چه دوئ ته به هره ورځ راتلله، او حکم ئے وکړو چه څه کسان دِے دوئ ته د قرآن او د احکامو تعلیم ورکړی، بیا ئے د څه ورځو نه روستو دوئ رخصت کړل او دوئ ته ئے تحفے ورکړے نو دوئ خپل قوم ته واپس شول،

نو دوئ لا د اُوښانو غوتے نهٔ وے کولاوے کړے چه عم انس بت ئے مات کړو، او د الله حلال ئے حلال وگنړل او د الله حرام ئے حرام وگنړل.

[الاكتفاء :۲/ ۲۸٤، السيرة الحلبية ٣/ ٢٧٤، السيرة النبوية ٤/ ١٧٩، سبل الهدى ٦/ ٣٣١]

OOOO

۲۱- وفد مُحَارب
(۱۰ هجری)

دا وفد د حجة الوداع په کال (لسم هجری) باندے راغلل۔

دا خلك په رسول الله ﷺ باندے د ټولو عربو نه ډیر سخت او ډیر بد ژبانه وو په هغه وخت کښے چه رسول الله ﷺ خپل نفس په قبائلو باندے پیش کولو او دوئ ئے الله ته رابلل، لیکن روستو زمانه کښے دوئ ته هم الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړو۔

د مُحارب نه لس (۱۰) کسان د خپل قوم د طرف نه نائبان راغلل، په دوئ کښے سواء بن الحارث او د هغهٔ ځوی خزیمه بن سواء هم وو، نو دوئ اسلام قبول کړو او دا ئے وویل چه مونږ د خپل قوم د اسلام ذمه واریو۔

بلال ﷺ به دوئ ته سهار او ماښام روټئ راوړله ترڅو چه دوئ یوه ورځ د غرمے نه تر مازیګر پورے د رسول الله ﷺ سره کیناستل نو په دے کښے یو تن ووچه هغهٔ له رسول الله ﷺ وپیژندلو نو نظرئے ورته تیز کړو هرکله چه دغه محاربی ولیدل چه رسول الله ﷺ دهٔ طرف ته نیغ نیغ ګوری، نو هغهٔ وویل : یا رسول الله ﷺ ګویا کښے په ما دے کوم ګمان وکړو، رسول الله ﷺ وفرمایل : آؤ، تهٔ ما لیدلے ئے۔

نو دغه محاربی شخص وویل :

[اَیْ وَاللّٰهِ لَقَدْ رَأَیْتَنِیْ وَ کَلَّمْتَنِیْ وَ کَلَّمْتُكَ بِاَقْبَحِ الْکَلَامِ وَرَدَدْتُكَ بِأَقْبَحِ الرَّدِّ بُعَکَاظَ وَاَنْتَ تَطُوْفُ عَلَی النَّاسِ]

آؤ، قسم په الله تا زهٔ لیدلے یم او تا ما سره خبرے کړیدی او ما تا سره ډیرے ناکاره خبرے کړیدی او ډیر بد جوابونه مے تا ته په عکاظ بازار کښے درکړی وو کله چه تهٔ په خلکو باندے ګرځیدلے۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : آؤ۔

بیا محاربی وویل : اے د الله رسوله ! زما په ملګرو کښے په دغه وخت کښے زما نه زیات سخت ستا په خلاف هیڅوك نهٔ وو، او د اسلام نه لرے زما نه بل هیڅوك نهٔ وو نو زهٔ د الله حمد کوم چه زهٔ ئے ژوندے وساتلم ترڅو چه ما په تا باندے تصدیق وکړو او

هغـه کسان چه ما سره پدے کار کښے شریك وو هغوی په خپل شرکی دین باندے مړهٔ شول۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ هٰذِهِ الْقُلُوْبَ بِيَدِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ]

دا زړونـه د الله پـه لاس کښے دی۔ (هـغـه ئے چه کوم طرفته اړوی هغهٔ خوښه ده، نو ستا زړهٔ ئے اسلام طرف ته راواړه ولو نو د الله شکر کوه)

نـو مـحـاربی وویـل : اے د الله رسوله ! ما دپاره بخنه وغواړه چه ما تا ته کوم ضرر او تکلیف درکړیدے۔

رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ الْاِسْلَامَ يَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهٗ مِنَ الْكُفْرِ]

اسلام د کفر کارونه ټول ختموی۔

(یـعـنـی د کـفر په زمانه کښے چه کوم گناهونه چا کړی او بیا اسلام ته راشی او توبه وباسی نـو هـر څـه ورته معاف کیږی، او دا د الله تعالیٰ د بندگانو سره ډیر لوی انعام او احسان دے)۔

او په دوئ کښے رسول الله ﷺ د خُزیمه بن سواء رضی الله عنه پـه مـخ باندے لاس راخکلو نو هغه تك سپین شو۔

بیا رسول الله ﷺ دوئ ته تحفے ورکړے او دوئ خپلو علاقو ته واپس لاړل۔

[الاکتفاء :٢/٢٨٥]

OOOO

۲۲- وفد طيء

(سنه ۹ هجری)

د طيء قبیلے وفد رسول الله ﷺ ته حاضر شو، چه په هغوئ کښے د هغوی سردار زید الخیل هم وو۔

دوئ سره رسول الله ﷺ خبرے اترے وکړے او دوئ ته ئے د اسلام دعوت ورکړو نو دوئ اسلام قبول کړو او ښکلے مسلمانان شول۔

رسول الله ﷺ وفرمایل: د عربو چه د کوم شخص زما په مخکښے فضیلت بیان شویدے نو کله چه د هغهٔ سره ملاقات شویدے هغه د هغے نه کم راوتے دے سوئ د زید الخیل نه چه ددهٔ متعلق مے څه آوریدلی وو نو دے د هغے نه ډیر زیات وو۔

نو رسول الله ﷺ د زید الخیل په ځائے دهٔ ته د زید الخیر لقب ورکړو،

او فید علاقه او ددے سره پیوستے زمکے ئے دهٔ ته په جاګیر کښے ورکړے او په هغے ئے ورته خط هم ولیکلو۔

نو زید الخیر ﷺ د رسول الله ﷺ د خوا نه روان شو او خپل قوم ته راواپس کیدو۔

زید الخیر راروان شو هرکله چه نجد ته ورسیدو نو هلته یوے چینے ته ورغے چه د هغے "فرده" نوم وو نو دلته پرے تبه راغله او د مرګ آثار ئے ولیدل او بیا ئے اشعار وویل چه په هغے کښے ئے د سفر په دوران کښے د مرګ غم ښکاره کولو او د هغے نه پس وفات شو۔

ښځه ئے راپاڅیده دهٔ سره چه کوم خط وو نو هغه ئے په اُور باندے وسیزلو۔

[طبقات ابن سعد ۱/۳۲۱، الاکتفاء ۲/۲۸۵]

OOOO

۲۳- وفد کنده

یا د اشعث بن قیس ﷺ راتلل

اشعث بن قیس ﷺ د بنو کنده د (۸۰) کسانو وفد راواخستو او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو،

دوئ د رسول الله ﷺ مسجد ته راننوتل چه خپل ویښتے ئے گمنځ کړی وو او سترگے ئے تورے کړے وے، او د وریښمو چوغے (جبے) ئے اغوستے وے۔

کله چه د رسول الله ﷺ خوا ته راغلل نو هغهٔ ترے تپوس وکړو چه آیا تاسو اسلام نهٔ دے قبول کړے ؟ هغوی عرض وکړو: ولے نهٔ،

نبی ﷺ وفرمایل: بیا تاسو دا چوغے څنگه اغوستی دی؟ (یعنی وریښم خو په سړو باندے حرام دی) نو هغوی سمدست ویستلے۔

جندب بن مَکِیُث ﷺ وائی: ما رسول الله ﷺ ولیدو چه کله ورته د کِندہ قبیلے وفد راغلو نو یوه یمانی جوړه ئے اغوستے وه۔

وئیلے شی چه دا جوړه د ذی یَزن د خوی وه۔

او په ابوبکر او عمر فاروق رضی الله عنهما باندے هم دغه شان جوړے وے۔

(دے نه دا سنت معلومیږی چه میلمنو ته به کور والا ډول کوی، او په گنده او خرابو کپړو کښے به هغوی سره نهٔ ملاویږی)۔

د اشعث تفصیلی قصه روستو قتال المرتدین کښے ذکر کیږی ان شاء الله تعالیٰ۔

OOOO

۲٤ - وفد د بنو اسد بن خزیمه

(سنه ۹ هجری)

د نهم (۹) هجری په ابتداء کښې د بنو اسدو لس (۱۰) کسان راغلل چه په هغوی کښې وَابِصَه بن مَعْبَد او ضِرار بن الازوَر او طُلَیْحَه بن خُوَیْلِد وو (کوم چه روستو د نبوت دعوه کړې وه او بیرته صحیح مسلمان شوې وو او په اسلامی فتوحاتو کښې ئې ډیره مضبوطه برخه اخستې وه). د دوئ مشر حَضْرَمِی بن عَامِر وو.

دې وخت کښې رسول الله ﷺ د څه صحابه کرامو سره په مسجد نبوی کښې ناست وو، دې خلکو سلام وکړو. بیا د دوئ ترجمان ووئیل: اې د الله رسوله! مونږ ګواهی کړې چه الله وحده لا شریك دې، او ته د الله بنده او رسول ئې.

او اې د الله رسوله! تا مونږ ته هیڅوك نه دې رالیږلې بیا هم مونږ راغلو او اسلام مو قبول کړو او د فلانو خلکو په شان تا سره مو جنګ ونکړو، او مونږ د روستو قوم دپاره د صلح پیغام راوړې.

نو پدې باره کښې الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو:

﴿ یَمُنُّوْنَ عَلَیْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ط قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَیَّ اِسْلَامَكُمْ بَلِ اللّٰهُ یَمُنُّ عَلَیْكُمْ اَنْ هَدٰاكُمْ لِلْاِیْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴾ [الحجرات: ۱۷]

دوئ په تا باندې زباتنه کوی چه دوئ اسلام راوړیدې، ووایه! په ما باندې د خپل اسلام زباتنه مه کوئ بلکه الله په تاسو زباتنه کوی چه تاسو ته ئې د ایمان هدایت درکړو که تاسو واقعی رشتینی یئ.

دوئ د جاهلیت د څه کارونو په باره کښې پوښتنه وکړه مثلًا:

"د فال نیولو دپاره مارغهٔ آلوزول، کهانت کول او کانړی ویشتل".

رسول الله ﷺ دوئ لره ددې ټولو خبرو نه منع کړل.

دوئ ووئیل: دا کارونه به مونږ په جاهلیت کښې کول خو یوه بله خبره پاتې شوه.

نبی ﷺ وفرمایل: هغه کومه خبره ده؟ عرض ئې وکړو:

هغه خط دے (یعنی رمل) نبی ﷺ وفرمایل :

پدے باندے د انبیاؤ نه یو نبی پو هیدو۔ که د چا علم ددے نبی مطابق شی نو صحیح ده او که نهٔ وی نو صحیح نهٔ ده"۔

او دا خبره ښکاره ده چه ددے نبی سره مطابق کیدل خو معلوم نهٔ دی او دا تول أعمال په غیبو کښے د اټکل اندازے دی نو بس جائز نهٔ ده۔ (شرح مسلم)

دوئ یو څو ورځے وسیدل چه د اسلام احکام ئے زده کول، بیا رسول الله ﷺ ته راغلل او د هغهٔ نه ئے رخصتی اخسته نو رسول الله ﷺ دوئ دپاره په تحفو باندے حکم وکړو، او دوئ خپلو علاقو ته واپس شول۔

[الاکتفاء، السیرة الحلبیة]

OOOO

۲۵- وفد د بنی فزاره

(۹ هجری)

دا وفد نبی ﷺ ته د هغهٔ د تبوك نه د واپس کیدو نه روستو راغلے۔
دویٔ د لسو (۱۰) نـه زیات کسان وو، پـه دویٔ کښې خـارجـه بـن حِصن د عُیَیْنَه بن حِصن ورور او حُرّ بن قَیس د عُیَیْنه بن حِصن ورارهٔ هم وو چه دا په ټولو کښې کشر وو۔
دویٔ د زینب بنت الحارث په کور کښې نازل شول چه د اسلام اقرارئے کولو او دویٔ ته د ډیرے مودے نه قحط رسیدلے وو، په ټپو (خوارو) اُوښانو باندے راغلی وو۔
رسول الله ﷺ د دویٔ نه د دویٔ ښارونو په باره کښې پوښتنه وکړه نو دویٔ کښې یو تن (خـارجـه بـن حـصـن) وویـل : اے د الله رسولـه ! زمونږ ښارونه قحط وهلی دی، زمونږ څاروی هلاك شوی، او زمونږ پټی وغیره شاړ شوی او زمونږ اهل وعیال وږی دی نو زمـونږ دپاره د خپـل رب نـه سـوال وکـړه چـه پـه مـونږ باندے باران وکړی او تهٔ زمونږ سفارش خپل رب ته وکړه او ستا رب دِے زمونږ سفارش تا ته وکړی۔
رسـول الله ﷺ وفـرمـایـل : سبحان الله ! په تاسو باندے افسوس دے، دا څه وایئ؟ زهٔ خـو بـه د خپـل رب نـه ستـاسو دپاره سفارش وکړم لیکن داسے څوك دے چه هغهٔ ته به زمونږ رب سفارش وکړی؟ د هغهٔ نه سویٰ هیڅ معبود نشته، هغه اعلیٰ او عظیم ذات دے۔ د هـغـهٔ کرسی آسمانونه او زمکه راګیره کړے ده او هغه د هغهٔ د عظمت او جلال نه داسے چغارے کوی لکه نوے کجاوه چه چغارے کوی۔
نبی ﷺ وفرمایل : الله عز وجل ستاسو د تنګئ او بد حالئ او قحط سالئ او د مدد د نـزدے کیدو نـه خـنـدا کـوی۔ نو یو باندے والا وویل : اے د الله رسوله ! آیا زمونږ رب خندا کوی؟ نبی ﷺ وفرمایل : آؤ، نو هغهٔ وویل :

[لَنْ نَعْدَمَكَ مِنْ رَبٍّ يَضْحَكُ خَيْرًا]

مونږ دِے د هغه رب نه خیر ورك نهٔ کړو چه خندا کوی۔ (یعنی کوم رب لره چه خندا ثـابـتـه وی، نـو هـغـه بـه خـلـکـو تـه خیرونه هم ورکوی) نو نبی ﷺ د هغهٔ پدے خبره

باندے وخاندل۔

بیا منبر ته وختلو او څه کلمات ئے ولوستل او د الله نه ئے دعاء وکړه نو ناڅاپه باران شروع شو او تر یوے هفتے پورے متواتر شو،

بیا دغه شخص راغلو چه اے د الله رسوله ! لارے منقطع شوے او اهل وعیال هلاك شو، د الله نه وغواړه چه باران ودروی،

نو نبی ﷺ وفرمایل : اے الله زمونږ نه ئے واړه وه او په ګټانو او کندو او د بوټو د راختلو په ځایونو ئے وکړه۔

[الاکتفاء و سبل الهدی و الرشاد و السیرة النبویة و الدلائل للبیهقی]

OOOO

۲۶- د غسّان قبیلے وفد
(رمضان ۱۰ هجری)

د غسان قبیلے وفد چه دا د شام بادشاهان وو، د هرقل د طرف نه- د دوئ نه درے (۳) کسان تیار شو چه لاړ شی وګوری چه رسول الله ﷺ په څه حال دے؟
نو دا درے کسان د رمضان په میاشت کښے په لسم (۱۰) هجری کښے راروان شو هرکله چه دوئ د ثنیة الوداع سر ته راورسیدل نو دلته ورسره یو سړے ملاؤ شو چه په اس باندے سور وو او لینده ئے کړه کړے وه۔
دوئ وائی چه په مونږ باندے ئے د اسلام سلام واچولو نو مونږ ورته په خپله طریقه جواب د سلام ورکړو۔ هغهٔ ووېل: تاسو څوك یئ؟ مونږ ووېل: مونږ غسان قبیله یو۔ مونږ محمد ﷺ ته راغلی یو چه د هغهٔ خبرے واورو او خپل قوم ته خبر ویسو۔
هغهٔ وفرمایل: تاسو هغه ځائے کښے کوز شئ کوم ځائے چه وفدونه کوزیږی؟
مونږ ووېل: وفدونه کوم ځائے پاتے کیږی؟ وے فرمایل: په کور د رمله بنت الحارث کښے۔ بیا رسول الله ﷺ ته ورشئ او هغهٔ سره خبرے اترے وکړئ۔
مونږ ووېل: آیا مونږ چه څه غواړو په هغے باندے به قادر شو (یعنی دا نبی به مونږ مونږ مونږ مونږ ته مونږ) نو هغه مُسکے شو او وے فرمایل: آؤ قسم په الله هغه په بازارونو کښے ګرځی او یواځے روان وی۔
دے وائی: مونږ به د نصاراؤ نه آوریدل چه هغوی به د رسول الله ﷺ دا صفت ذکر کولو چه هغه به یواځے ګرځی، هیڅ شُرطه (پولیس، باډی ګاډ) به ورسره نهٔ وی او چه څوك ئے وینی نو هغه به ترے په رعب کښے پریوزی۔
نو مونږ دے سړی ته ووېل چه تهٔ څوك ئے الله دِے تا ته جنت درکړی؟
هغه ووېل: زهٔ ابوبکر بن ابی قُحافه یم۔ مونږ ووېل: تهٔ به د نصاراؤ د وینا مطابق ددے نبی نه روستو دا کار سنبالوے۔
ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل: کارونه ټول الله ته حواله دی، بیا ئے ووېل: تاسو څنګه د اسلام نه په دهوکه کښے پراتهٔ یئ؟ حال دا چه تاسو ته اهل کتابو ددے نبی صفات

خودلی دی، او دا خبره هم چه دا به د ټولو انبیاؤ نه آخری نبی وی؟

مونږ ووېل : همدې خبرې خو مونږ راروان کړی یو.

نو ابوبکر صدیق ﷛ زمونږ نه رخصت شو او مونږ راروان شو. د رمله بنت الحارث د کور تپوس مو کولو.

تردې چه مونږ هغې ته راورسیدو نو مونږ د عربو د وفدونو سره مخامخ شو چه ټول د محمد ﷺ تصدیق کونکی وو، نو مونږ خپل مینځ کښې ووېل : آیا مونږ به ګنې د عربو نه ناکاره خلك یو چه ددې کار پسې راوتی یو. (یعنی مونږ پدې راتللو ستومانه نهٔ یو، بد کار مو نهٔ دې کړې، د ټولو خلکو همدا یو حالت دې)

بیا مونږ راووتو تردې چه رسول الله ﷺ سره د مسجد نبوی په دروازه کښې ملاؤ شو چه هغه ولاړ وو، نو مونږ ته ئې نظر واچولو او وې فرمایل :

آیا تاسو غسانیین یئ؟ مونږ ووېل : آؤ، وې فرمایل : تاسو خپل قوم دپاره خبر وړونکی یئ نو تاسو د هغه اهل کتابو د علم نه څه فائده واخسته چه هغوی تاسو سره موجود دی؟.

مونږ ووېل : اې محمد (ﷺ) مونږ هیڅوك نهٔ وو لیدلې چه ستا تابعداری ئې کړې وی نو پدې وجه مونږ هم په انتظار کښې وو، او مونږ اُوس په غیر د هغه حالت باندې یو چه په کوم باندې مخکښې وو، نو ته کومې خبرې ته دعوت ورکوې ؟

نبی ﷺ وفرمایل : زهٔ الله ته دعوت ورکوم چه یواځې دې، هیڅ شریکان نهٔ لری، او دې ته دعوت ورکوم چه د الله نه سوئ نور معبودان به پریدئ او دا اقرار به کوئ چه زهٔ د الله رسول یم.

یو تن پکښې ووېل : ستا د تابعدارو نه تا سره څوك دی ؟

وې فرمایل : الله تعالیٰ ما سره ملګرې دې، او ملائك او جبریل علیه السلام او میکائیل علیه السلام او نیکان مؤمنان.

بیا ئې یو طرف ته وکتل نو عمر فاروق ﷛ ئې ولیدو او ابوبکر صدیق ﷛ ئې نهٔ وو لیدلې، وې فرمایل : دا او ددهٔ ملګرې. مونږ ووېل : د ابو قحافه څوی وې فرمایل : آؤ.

مونږ ووېل : تا خو ډیر قوی قبیلې او جماعت ته پناهی حاصله کړه.


مونږ ستا تصدیق کوو او دا ګواهی کوو چه تا کوم دین راوړیدې هغه حق دې، او

مونږ ته پته نشته چه آیا زمونږ قوم به زمونږ خبره ومنی او که نهٔ ځکه چه هغوی ته خپله بادشاهی او قیصر بادشاه ته نزدے کیدل ډیر خوښ دی۔

بیا دوئ اسلام کښے داخل شول او رسول الله ﷺ دوئ ته د رخصتئ په وخت تحفے ورکړے او دوئ خپلو علاقو ته واپس شول۔

هرکله چه خپل قوم ته واپس شول نو قوم ورله خبره ونهٔ منله نو دوئ هم خپل اسلام پټ وساتلو۔ تردے چه د دوئ نه دوه کسان په اسلام باندے وفات شول او دریم کس عمر بن خطاب رضی الله عنه لره د یرموك د جنګ په کال وموندو نو د ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه سره ملاؤ شو او هغهٔ ته ئے د خپل اسلام خبر ورکړو نو ابوعبیده رضی الله عنه به د هغهٔ اکرام کولو۔

[الاکتفاء: ۲/۲۹۱، السیرة الحلبیة ۳/۲۷۷، سبل الهدی والرشاد ۶/۳۹۱، وزاد المعاد]



۲۷- وفد سَلَامَان

خبیب بن عمرو السَلَامانی رضی الله عنه وائی: مونږ د سلامان قبیلے وفد رسول الله ﷺ ته راغلو او مونږ اوه (۷) کسان وو، نو مونږ د رسول الله ﷺ د مسجد دروازے ته راورسیدو نو مونږ سره رسول الله ﷺ د مسجد نه بهر ملاؤ شو چه یو جنازے ته رابللے شوے وو، هرکله چه مونږ ولیدو مونږ وویل: اے د الله رسوله! السلام علیك۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: وعلیکم السلام۔ تاسو څوك یئ؟

مونږ وویل: مونږ د سلامان قوم نه یو، ستا خوا ته راغلی یو چه تا سره په اسلام باندے بیعت کوو او زمونږ نه شا ته زمونږ قوم دے۔

نو رسول الله ﷺ خپل غلام ثوبان رضی الله عنه ته وکتل او وے فرمایل: دا کسان هغه ځائے ته بوځه کوم ځائے چه وفدونه وسیږی (یعنی د رمله بنت الحارث کور)

نو ثوبان رضی الله عنه مونږ ځان سره روان کړو تردے چه مونږ یو فراخه کور ته راغلو چه په هغے کښے کجورے ولاړے وے او په هغے کښے د عربو ډیر وفدونه وو، او دا د رمله بنت الحارث النجاریه کور وو، هرکله چه مونږ د ماسپخین اذان واوریدو مونږ مانځه دپاره راووتلو، او د رسول الله ﷺ په دروازه باندے ودریدو،

پدے کښے رسول الله ﷺ راووتو او خلکو ته ئے مونځ وکړو بیا ئے مونږ تلاش کولو، نو کور ته ننوتو لږ ساعت روستو بیا راووتو او په مسجد کښے د منبر او د کور ترمینځ کیناستو او د هغهٔ نه د هغه ملګری بنی او کس طرف ته کیناستل نو ما یو سړے ولیدو چه هغه پدے خلکو کښے رسول الله ﷺ ته ډیر نزدے وو،

رسول الله ﷺ ته به ئے ډیر کتل او خبرے اترے به ئے ورسره کولے۔ ما د هغهٔ په باره کښے تپوس وکړو، خلکو ویل: دا ابوبکر بن ابی قحافه رضی الله عنه دے،

نو مونږ راغلو او د هغهٔ مخامخ کیناستو نو وفدونو به د هغهٔ نه د اسلام د شرائعو (احکامو) تپوسونه کول نو نزدے نهٔ وه چه د هغوی تپوس کونکے خبره ختمه کړی، (همداسے به ورسره اُوږدهٔ لګیا وو) تردے چه زهٔ ویریدم چه رسول الله ﷺ به پاځیږی (یعنی مونږ ته به موقعه ملاؤ نشی) نو ما (په جلتئ سره) وویل: زهٔ هم هغه څه

غواړم چه تۀ ئې غواړې. نو رسول الله ﷺ پدې آوریدو سره مُسکے شو او دغه تپوس کونکے ئې غلے کړو (اُوس دے بل ملګری ته موقعه ورکړه)

نو ما وویل: اے د الله رسوله!

[مَا اَفۡضَلُ الۡاَعۡمَالِ ؟]

د ټولو نه ډیر غوره عمل کوم یو دے؟ وے فرمایل:

[اَلصَّلَاةُ فِیۡ وَقۡتِهَا]

په خپل صحیح وقت کښې مونځ ادا کول دی.

بیا ئې اُوږد حدیث ذکر کړو.

دے وائی بیا بلال ﷺ راغلو مانځه دپاره ئې اذان وکړو بیا ئې اقامت وکړو، بیا رسول الله ﷺ راپاڅیدو او خلکو ته ئې د مازیګر مونځ وکړو نو په مازیګر مانځه کښې قیام د ماسپښین نه آسان (کم) وو، بیا کور ته ننوتو، نو وخت ئې تیر نکړو چه بهر راووتو نو په خپل مخکنی ځائے کیناستو او د هغۀ سره د هغۀ ملګری کیناستل او مونږ هم راغلو کیناستلو، هرکله ئې چه زۀ ولیدم ما ته ئې وفرمایل:

[یَا اَخَا سَلَامَان]

اے د سلامان قوم وروره! ما وویل: لبیك (حاضر یم) وے فرمایل:

[کَیۡفَ الۡبِلَادُ عِنۡدَ کُمۡ]

ستاسو علاقو ته څه حال احوال دی؟ ما وویل: اے د الله رسوله! قحط زده دی.

او (اُوس) مونږ ته د خپلو علاقو خبر نشته. نو د الله نه وغواړه چه په مونږ باندے زمونږ په علاقو باران وکړی چه په خپلو وطنونو کښې پاتے شو او د بل چا ښارونو ته ورنشو،

[فَاِنَّ النَّجۡعَ تُفَرِّقُ الۡحَمِیۡعَ وَتُشَتِّتُ الدِّیَارَ]

ځکه چه ګیاه طلب کول راغونډ خلك جدا کوی او کورونه وړاندے کوی.

نو رسول الله ﷺ په لاس سره اشاره وکړه او وے فرمایل:

[اَللّٰهُمَّ اسۡقِهِمُ الۡغَیۡثَ فِیۡ دِیَارِهِمۡ]

اے الله! دوئ باندے د دوئ په علاقو کښې باران وکړے.

نو ما وویل : اے د الله رسوله ! لاسونه اُوچت کړه ځکه چه دا قبولیت ته زیات نژدے دے او مزیدار کار دے۔

نو رسول الله ﷺ مسکے شو او لاسونه ئے پورته کړل تردے چه ما د هغهٔ د ترخونو سپینوالے ولیدو، بیا پاځیدو او مونږ هم د هغهٔ نه پاځیدو،

بیا مونږ درے (۳) ورځے وسیدو او مونږ ته به زمونږ میلمستیا راتلله، بیا ترے مونږ رخصتی واخسته او مونږ دپاره ئے په تحفو باندے حکم وکړو نو زمونږ نه هر سړی ته ئے پنځه (٥) اُوقیه سپین زر راکړل او مونږ ته بلال ﷺ عذر وکړو چه پدے وخت کښے مونږ سره زیات مال نشته گنے ډیر څه به مو درکړے وے۔

مونږ وویل : دا ډیر شے دے او ډیر مزیدار دے۔

بیا مونږ خپلو علاقو ته راروان شو نو مونږ خپلے علاقے وموندلے چه په هغے باندے په هغه ورځ باران شروع شوے وو په کومه ورځ چه رسول الله ﷺ دعا کړے وه او په همغه وخت۔

علامه واقدیؒ وائی : د سلامان وفد راتلل په شوال میاشت کښے وو په لسم کال د هجرت وو۔

[الاکتفاء ۲/۲۹۲، السیرة الحلبیة ۳/۲۷۸ سبل الهدی ٦/۳٤٥ دلائل النبوة لابی نعیم الاصفهانی ۱/٤۳۹رقم : ۳٦۳]

OOOO

۲۸- د بنی عبس وفد

رسول الله ﷺ ته د عبس قبیلے نه یو وفد راغلو چه په نهه (۹) کسانو مشتمل وو۔ دوئ وویل : اے د الله رسوله ! مونږ ته زمونږ قاریان راغلل نو مونږ ته ئے دا خبر راکړو چه چا هجرت نهٔ وی کړے د هغوی اسلام قبول نهٔ دے حال دا چه زمونږ په خپلو علاقو کښے مالونه او څاروی دی او همدغه زمونږ معاش (د زندګئ تیرولو سامان) دے، نو که د هجرت نه بغیر اسلام نهٔ وی نو بیا په دغه مالونو کښے خو هیڅ خیر نشته، مونږ به ئے خرڅ کړو او ټول به هجرت وکړو۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِتَّقُوا اللّٰهَ حَيۡثُ كُنۡتُمۡ فَلَنۡ يَّلِتَكُمُ اللّٰهُ مِنۡ اَعۡمَالِكُمۡ شَيۡئًا]

د الله نه یره کوئ (د هغه په دین عمل کوئ) هر ځائے چه تاسو یئ، الله به هیچرے ستاسو د اعمالو نه هیڅ شے کم نهٔ کړی۔ (یعنی پوره پوره اجر به درکوی)

بیا دوئ نه رسول الله ﷺ د خالد بن سنان علیه السلام په باره کښے تپوس وکړو چه آیا د هغهٔ څه اولاد شته ؟ نو دوئ ورته وویل : چه د هغهٔ هیڅ اولاد نشته البته یوه لورئے وه او هغه هم وفات شویده۔

بیا رسول الله ﷺ خپلو ملګروته متوجه شو، او د خالد بن سنان علیه السلام په باره کښے ئے هغوی ته خبر ورکړو چه خالد بن سنان یو پیغمبر وو چه خپل قوم ضائع کړے وو۔ (یعنی قوم پرے ایمان نهٔ وو راوړے)

[الاکتفاء ۲/۲۹۳، عیون الاثر ۲/۳۱۸، السیرة النبویة والسیرة الحلبیة]

OOOO

۲۹ – د صُرَد بن عبد الله ازدی رضی الله عنه راتلل

یا

د اَزد قبیلے وفد

صُرد بن عبد الله رضی الله عنه د بنو اَزُد قبیلے په وفد کښې څه دپاسه لس (۱۰) کسانو سره د یمن نه رسول الله ﷺ ته راغلو۔ نو ټولو اسلام قبول کړو۔

رسول الله ﷺ صُرد رضی الله عنه لره د خپل قوم په مسلمانانو باندې امیر مقرر کړو او دا حکم ئې ورته وکړو چه د یمن د مشرکانو سره جهاد وکړی۔ نو صرد رضی الله عنه جرش علاقې ته لاړو (چه دا یوه بنده ښاریه وه، دیوال ترې چاپیر وو، او پدې کښې د یمن قبائل وو او دې علاقې ته خثُعَم قبیله هم راغلې وه او د دوئ سره یو ځائے شوې وه کله چه دوئ آوریدلی وو چه رسول الله ﷺ دوئ طرف ته د حملې دپاره راروان دې)

نو صرد رضی الله عنه خثعم وغیره قبیلې لره یوې میاشتې ته نزدې پورې محاصره کړه، بیا د شکست خورده په شان راواپس شو (هیڅ جنګ ونشو) تردې چه کله یو غرته راورسیدو چه هغې ته ئې شکر وئیلو، جرش والو ګمان وکړو چه دې زمونږ نه پدې وجه واوریدو چه شکست ئې وخوړو، نو هغوی د هغهٔ په طلب پسې راووتل تردې چه دې ئې په دغه ځائے کښې وموندو، نو صرد رضی الله عنه هم بیرته ورواپس شو او د هغوی سره ئې ډیر سخت جنګ وکړو چه په ډیر بد مرګ باندې ئې هغوی قتل کړل۔

ددې نه وړاندې جرش والو دوه سړی رسول الله ﷺ ته لیږلی وو چه د هغهٔ حال احوال وګوری، نو رسول الله ﷺ دغه دواړو سړو ته خبر ورکړو چه ستاسو قوم صرد بن عبد الله رضی الله عنه وژلی دی،

پدې طریقه چه دا دوه کسان د رسول الله ﷺ سره د مازیګر مانځه نه روستو ناست وو نو ناڅاپه رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله په کومو ښارونو کښې شکر علاقه ده؟ نو دغه دواړه جرشیانو وویل : زمونږ په علاقو کښې یو غر دې چه د هغهٔ نوم کشر دې، او دغه شان نوم ورته اهل جرش اخلی،

نبی ﷺ وفرمایل : دا کشر نهٔ دے بلکه دا شکر دے۔

دے دواړو وویل : اے د الله رسوله ! د شکر تپوس ډے څنگه وکړو، څه واقعه راپیښه شویده ؟

وے فرمایل : "د الله اُوښانے اُوس هلته ذبح کولے شی"۔

دا دواړه کسان په خبره پو هه نشو۔ (ددے اشارے نه ئے څه خبره معلومه نکړه، دے نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ په خبرو کښے اشارات وی چه د هغے نه احکام راویستلے کیږی)

دا دواړه کسان ابوبکر صدیق ﷺ خوا ته کیناستل یا د عثمان ﷺ خوا ته راغلل۔

نو هغهٔ ورته وویل : خوار شئ رسول الله ﷺ اُوس تاسو ته ستاسو د قوم د مرگ خبر درکوی۔ نو تاسو پاڅیږئ او د هغهٔ نه وغواړئ چه هغه د الله نه وغواړی چه ستاسو د قوم نه دا تکلیف پورته کړی۔ نو دواړه ورپاڅیدل او د رسول الله ﷺ نه ئے دغه غوښتنه وکړه۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَللّٰهُمَّ ارْفَعْ عَنْهُمْ]

اے الله ! د دوئ نه قتل پورته کړه۔

بیا دا دواړه د رسول الله ﷺ نه خپل قوم ته واپس شول نو دوئ خپل قوم وموندو چه دوئ ته صرد بن عبد الله ﷺ دغه مصیبت په همغه ورځ او په همغه ساعت رسولے وو کوم چه رسول الله ﷺ ذکر کړے وو۔

نو پدے کښے د جرش خلکو یو وفد تیار کړو او رسول الله ﷺ ته راغلل او اسلام ئے قبول کړو، او رسول الله ﷺ هغوی دپاره د کلی نه گیر چاپیره چراگاه مقرر کړه د اس او اُوښ او ارتی غواگانو دپاره او په هغے باندے ئے معلومے نښے ولگولے۔

نو که عامو خلکو پدے کښے خپلے گډے بزے وڅرولے نو د دوئ مال به حرام وی۔

[امتاع الاسماع ۲/۹۸، الاکتفاء ۲/۲۹٤]

OOOO

۳۰- وفد د غَامِد

(۱۰ هجرى)

په لسم (۱۰) هجرى كښې د غـامد قبيلې نه د لسو (۱۰) كسانو يو وفد راغلو، نو دوئ پـه بـقيع الغرقد كښې نازل شو، او په بقيع كښې پدې وخت كښې غزونه او ځنګلى ونې ولاړې وې، بيا دوئ رسول الله ﷺ تـه ورغـلـل او د خپلو سامانو خوا كښې ئې يو كشر هلك پريخودو، نو هغۀ اُودۀ شو، پدې كښې يو غل راغلو او د دوئ نه د يو تن نه ئې بيګ (كځوړه) پټه كړه چه په هغې كښې د هغۀ جامې وې.

دا خـلك رسـول الله ﷺ تـه ورغـلـل په هـغـۀ باندې ئې سلام واچولو او هغۀ ته ئې د خپـل اسـلام اقـرار وكړو او رسول الله ﷺ دوئ دپاره يو خط وليكلو چه په هغې كښې د اسلام شرائع (احكام) وو،

او دوئ تـه ئې دا هـم وويـل: تاسو په خپلو سامانونو كښې څوك پريخودې دې ؟ دوئ وويل: زمونږ يو كشر هلك دې.

نبـى ﷺ ورتـه مـعـجـزه ښكاره كړه وې فرمايل: هغه ستاسو د سامان نه اُودۀ شوې وو نـو يـو تـن راغلو او ستاسو د يو تن بيګ ئې واخستو نو ددې خلكو نه يو تن وويل: اې د الله رسوله! په دې خلكو كښې صرف زما سره بيګ وو.

رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه غل ورېې وو خو بيرته خپل ځائې ته راواپس شويدې.

نـو دا خـلك په جلتئ باندې راووتل تردې چه خپلو سامانونو خوا ته راغلل، نو دوئ دغه هلك وموندو، د هغۀ نه ئې د رسول الله ﷺ ددې خبرې په باره كښې تپوس وكړو.

هـغـۀ وويـل: زۀ د خوب نه په ګبراهټ كښې راپاڅيدم نو ما بيګ ونۀ موندو نو زۀ د هغې په طلب كښې راپاڅيدم. نو يو سړې مې وليدو چه يو ځائې كښې ناست وو هركله ئې چه زۀ وليدم نو راپاڅيدو او منډه ئې كړه نو زۀ هغه ځائې ته ورغلم ومې كتل چه هلته د كنستلو اثرات وو، نو ما هغه ځائې كولاؤ كړو نو دۀ پكښې دغه بيګ پټ كړې وو نو ما راوخكلو.

نـو دوئ وويـل: مـونږ ګواهي كوو چه دې د الله رسول دې، ځكه چه مونږ ته ئې ددې

بیگ د اخستو او د واپس کیدو دواړو خبر راکړو۔

بیا دوئ نبی ﷺ تـه واپس راغلل او خبر ئے ورکړو او هغه هلك هم راغلو اسلام ئے قبول کړو او نبی ﷺ ابی بن کعب ﷺ تـه حکم وکړو چه دوئ تـه د قرآن تعلیم ورکړی او رسول الله ﷺ دوئ تـه د نورو وفدونو په شان تحفے ورکړے او دوئ ئے رخصت کړل۔

[الاکتفاء ۲/۲۹۵]

۳۱- د اشعرینو او اهل یمن وفد

ابو موسیٰ اشعری ﷺ فرمائی : مونږ په یمن کښے وو چه مونږ تـه د رسول الله ﷺ د راوتـو خبر راورسیـدو (او بیا هغهٔ مدینے تـه هجرت هم کړے وو) نو مونږ هغهٔ طرف تـه هجـرت کـونـکـی راووتو، یو زهٔ او زما دوه ورونه وو، یو ابو بُرده او دویم ابو رُهم، او زهٔ د دواړو نه کشر وم، او زما د قوم نور څه دپاسه پنځوس (۵۰) کسان وو،

مـونږ یـوه کشتـئ کښے سوارهٔ شول، نو مونږ کشتئ حبشو تـه ورسولو، ځکه چه هـوا گـانـے گـډے وډے راغـلـے چـه لاره ئـے خطاء کړه او په حبشو ورغله، نو هلته مونږ د جعفر بن ابی طالب ﷺ او د هغهٔ د ملگرو سره ملاؤ شو۔

نو هغهٔ مونږ تـه ووئیل چه رسول الله ﷺ مونږ رالیږلی یو او مونږ تـه ئے دا حکم کړے چـه دلتـه حبشـو کښے وسیږئ، نو تاسو هم مونږ سره دلته وسیږئ، نو مونږ هم هلته پاتے شو تردے چه یو وخت کښے مونږ مدینے تـه رارون شو دلتـه چه راورسیدو نو رسول الله ﷺ سره په داسے وخت کښے ملاؤ شو چه عین د خیبر فتح تازه شوے وه،

نو رسول الله ﷺ مونږ تـه په غنیمت کښے حصه هم راکړه حال دا چـه څوك د خیبر د فتـح نـه غـائـب وو هغوی دپاره ئے هیڅ حصه نهٔ وه مقرر کړے، صرف زمونږ د کشتئ والو دپاره او د جعفر بن ابی طالب ﷺ د ملگرو دپاره ئے برخه مقرر کړه۔

ابـو موسیٰ اشعری ﷺ وائـی : څـه کسـانـو بـه مونږ تـه وئیل چه مونږ ستاسو (یعنی کشتئ والو) نـه مخکښے هجرت کړیدے (یعنی زمونږ درجه اُوچتـه ده)

نـو پـدے کښے اسماء بنت عمیس رضی الله عنها (د جعفر بن ابی طالب ﷺ بی بی)

بی بی حفصے رضی الله عنها کره د هغے د ملاقات دپاره ورغله چه اسماء هم مونږ سره د حبشو نه راغلے وه۔

نو دے وخت کښے عمر فاروق ﷛ هم د حفصے کره راغلو او اسماء رضی الله عنها د هغے سره ناسته وه۔ نو عمر فاروق ﷛ چه کله اسماء ولیده نو حفصے رضی الله عنها ته ئے وویل : دا څوك ده ؟ هغے وویل : ذا اسماء بنت عمیس رضی الله عنها ده،

عمر فاروق ﷛ وفرمایل : حبشیه دا ده، دریاب والا دا ده؟۔

اسماء وویل : آؤ، نو عمر فاروق ﷛ ورته وویل : مونږ تاسو نه په هجرت کښے مخکښے والے کړیدے نو مونږ تاسو نه په رسول الله ﷺ باندے ډیر حقدار (او لائق) یو۔

نو اسماء رضی الله عنها غصه شوه او دا ئے وویل : هیڅکله داسے نۀ ده، قسم په الله تاسو د رسول الله ﷺ سره وئ چه هغۀ به ستاسو وږی ته خوراك درکولو او ستاسو ناپوهه ته به ئے نصیحت کولو او مونږ په کور یا په زمکه د پردو او دشمنانو کښے په حبشو کښے وو، او دا کار د الله دپاره وو او د هغۀ د رسول په حکم سره وو۔

بیا ئے وویل : قسم په الله زۀ به هیڅ خوراك نۀ کوم او نۀ به څښاك کوم تردے چه رسول الله ﷺ ته به هغه خبره ذکر کوم چه تا ووئیله، حال دا چه مونږ ته به تکلیفونه راکړے کیدل او یره ولے به شو۔ او زړ دے چه دا خبره به زۀ نبی کریم ﷺ ته ذکر کوم او د هغۀ نه به تپوس کوم او قسم په الله زۀ به دروغ نۀ وایم او نۀ به کږه خبره کوم او نۀ به پدے باندے زیادت کوم۔

نو هرکله چه نبی ﷺ راغلو نو دے ورته وویل : اے د الله نبی ! عمر فاروق (﷛) داسے داسے ووئیل، نبی ﷺ وفرمایل : نو تا ورته څه وویل ؟ هغے وویل : چه ما ورته داسے داسے جواب ورکړو،

نبی ﷺ وفرمایل : هغه ستاسو نه ما ته ډیر حقدار (او لائق) نۀ دے، د هغۀ او د هغۀ د ملګرو یو هجرت دے او ستاسو دپاره اے کشتئ والو دوه هجرتونه دی۔

اسماء رضی الله عنها وائی :

[فَلَقَدْ رَأَيْتُ اَبَا مُوْسٰى وَاَصْحَابَ السَّفِيْنَةِ يَأْتُوْنِيْ اَرْسَالًا يَسْأَلُوْنِيْ عَنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ مَا مِنَ الدُّنْيَا شَيْءٌ هُمْ بِهٖ اَفْرَحُ، وَلَا اَعْظَمُ فِيْ اَنْفُسِهِمْ مَا قَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ ﷺ]

ما ابو موسیٰ او کشتئ والا ولیدل چه ما ته به ډلے ډلے راتلل او ما نه به ئے ددے

حدیث په باره کښې تپوس کولو، په دنیا کښې هیڅ شے داسے نهٔ وو چه دوئ په هغې باندے زیات خوشحاله شي او زیات لوی وی د دوئ په نفسونو کښې د هغه خبرے نه چه نبي ﷺ د دوئ په باره کښې ووئیله۔

(ددے خلکو د دین سره محبت ته وګوره او د نیکو سره ئے څومره مینه وه، او په نیکئ به څومره خوشحالیدل او پدے باندے به ئے فخر کولو، په نیکو کښې به ئے یو بل سره سیالی کوله چه د دوئ نه څوك زیات غوره نشي)

ابو بُرده ﷛ وائي، اسماء رضی الله عنها وائي: ما ابو موسیٰ اشعری ولیدو چه هغهٔ به ما نه ددے حدیث بار بار راواپس کولو مطالبه کوله۔

[بخاری: ۴۲۳۰/۴۲۳۱]

ابوبرده ﷛ د ابو میوسیٰ اشعری ﷛ نه نقل کوی چه نبي ﷺ وفرمایل:

[اِنِّیْ لَاَعْرِفُ اَصْوَاتَ رُفْقَةِ الْاَشْعَرِيِّيْنَ بِالْقُرْآنِ حِيْنَ يَدْخُلُوْنَ بِاللَّيْلِ وَاَعْرِفُ مَنَازِلَهُمْ مِنْ اَصْوَاتِهِمْ بِالْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ وَاِنْ كُنْتُ لَمْ اَرَ مَنَازِلَهُمْ حِيْنَ نَزَلُوْا بِالنَّهَارِ]

زهٔ د اشعریینو د جماعت آوازونه پیژنم چه په قرآن سره ئے کوی کله چه دوئ په شپه کښې داخل شي، او زهٔ د دوئ ځایونه د دوئ د آوازونو نه پیژنم چه د شپے ئے په قرآن باندے کوی اګرکه ما به د ورځے د دوئ ځایونه د نازلیدو نهٔ وی لیدلی۔

(یعني ما ته د دوئ آوازونو نه اندازه کیږی چه فلانے په فلانی ځائے کښې ولاړ دے او فلانے په فلانی ځائے کښې، ځکه چه ډیر خوارهٔ آوازونه ئے وو)۔

[بخاری: ۴۲۳۲، مسلم: ۶۵۶۳]

او رسول الله ﷺ د دوئ په باره کښې فرمایلی وو: اشعریین چه کله په غزا کښې غریبانان شي، یعني نفقه ئے کمه شي، یا په کلی کښې د دوئ د اهل وعیال طعام کم شي نو دوئ سره چه څه وی هغه په یوه جامه کښې راجمع کړی بیا ئے خپل مینځ کښې په یو لوښي سره برابر په برابر تقسیم کړی:

[فَهُمْ مِنِّيْ وَاَنَا مِنْهُمْ]

نو دوئ زما نه دی او زهٔ د دوئ نه یم۔ (یعني دا ما ته نزدے او محبوب خلك دے)

(یعني دے خلکو کښې ایثار او همدردی ده او په یو بل باندے خفه کیږی، او دا د

مسلمان صفت دے):۔

[بخاری : ٢٤٨٦، مسلم : ٦٥٦٤]

رسول الله ﷺ د یمن والو په باره کښې فرمایلی وو :

[اَتَاكُمْ اَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ اَرَقُّ اَفْئِدَةً وَاَلْيَنُ قُلُوْبًا، اَلْاِيْمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَّةٌ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِيْ اَصْحَابِ الْاِبِلِ وَالسَّكِيْنَةُ وَالْوَقَارُ فِيْ اَهْلِ الْغَنَمِ]

[بخاری : ٤٣٨٨، مسلم : ١٩١]

تاسو ته به یمن والا راځي چه هغوئ د زړونو نه ډیر نرم دي، ایمان خو یمني دے او حکمت (پوهه) یمني ده، او فخر او تکبر په اُوښانو والو کښې وي، او سکون او وقار په ګډو بزو والا کښې وي۔

(یعنی یمن والا په ایمان کښې داسے مضبوط دي ګویا کښې ایمان هم دوئ ته منسوب دے، او ګویا کښې ایمان د یمن نه راوتے دے، او دا خلك ډیر حکمت او پوهے والا دي)۔

بنو اشعر او اهل یمن ټول په یو ځائے نهٔ وو راغلي بلکه بنو اشعر د خیبر د فتح په وخت په (٧) هجري کښې د ابو موسی اشعري ﷺ سره راغلي وو او اهل یمن په نهم (٩) هجري کښې په عام الوفود کښې راغلي وو۔

امام احمدؒ په خپل مسند کښې د انس بن مالك ﷺ روایت راوړیدے چه نبي ﷺ وفرمایل :

[يَقْدَمُ عَلَيْكُمْ اَقْوَامٌ هُمْ اَرَقُّ مِنْكُمْ قُلُوْبًا]

تاسو ته به داسے خلك راځي چه د هغوی زړونه ستاسو نه ډیر نرم دي۔

انس ﷺ وائي : نو اشعریین راغلل چه په هغوی کښې ابو موسیٰ اشعري ﷺ وو، هرکله چه مدینے ته رانزدے شول نو دوئ رجز (شعرونه) وئیل :

غَدًا نَلْقَى الْاَحِبَّةْ مُحَمَّدًا وَصَحْبَهُ

صبا به مونږ د دوستانو سره ملاویږو چه محمد ﷺ او د هغهٔ ملګري دي۔

[مسند احمد : ١٢٠٤٥ اسناده صحیح]

په دویم روایت کښې دي چه هرکله چه دوئ راغلل نو یو بل سره ئے مصافحه کوله

نو دوئ اولنی هغه خلك وو چه مصافحه ئے راپیدا کړه۔

[مسند احمد : ١٢٦٠٤ حدیث صحیح، وهذا اسناد حسن]

عمران بن حصین رضی الله عنهما فرمائی : بنو تمیم رسول الله ﷺ ته راغلل نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

[اَبۡشِرُوۡا یَا بَنِیۡ تَمِیۡمٍ]

اے بنو تمیمو خوشحاله شئ۔

نو هغوی وویل : [قَدۡ بَشَّرۡتَنَا فَاَعۡطِنَا]

تا مونږ ته زیرے راکړو نو اُوس څه راکړه۔ (یعنی تش زیری نهٔ قبلوو چه مال وغیره ورسره نهٔ وی)

نو پدے آوریدو سره د رسول الله ﷺ مخ مبارك متغیر شو۔ نو دے کښے څه کسان د یمن والو نه راغلل نو نبی ﷺ هغوی ته وویل :

[اِقۡبَلُوا الۡبُشۡرٰی اِذۡ لَمۡ یَقۡبَلۡهَا بَنُوۡ تَمِیۡمٍ، فَقَالُوۡا قَبِلۡنَا]

تاسو زیرے قبول کړئ ځکه چه بنو تمیمو قبول نکړو۔

نو هغوی وویل : اے د الله رسوله ! مونږ قبول کړو۔

[بخاری : ٣١٩١]

(ددے روایت نه یوه فائده دا معلومیږی چه مسلمان له اُوچت همت پکار دے، په دین باندے خوشحالی پکار ده، اګرکه دنیا ورسره نهٔ وی،

بله دا چه د رسول الله ﷺ خبره چه کله راشی نو هغه درنه ګنړل پکار دی، د الله رسول چه ووائی خوشحاله شه نو بس خوشحالی قبوله کړه، دا تپوس مهٔ کوه چه ولے خوشحاله شو، یا هله به خوشحالیږو چه مال راکړے شی، پدے وجه رسول الله ﷺ په بنو تمیمو باندے تعریض وکړو۔

دارنګه رسول الله ﷺ ته د یمن والو مزاج معلوم وو چه دوئ خبره زر قبلونکی دی، نو پدے وجه ئے هغوی ته وویل چه تاسو زیرے قبول کړئ۔ ددے نه د یمن والو فضیلت معلومیږی)۔

٣٢- د جریر بن عبد الله ﷛ راتلل

ابن سعد لیکی: جریر بن عبد الله البجلی په لسم (١٠) هجری کښې د خپلې قبیلې یو نیم سل کسانو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې مدینې ته حاضر شو.
رسول الله ﷺ د دوئ د راتللو نه مخکښې فرمایلی وو: تاسو ته به څه بهتر خلك راځي چه د هغوی مخونه د بادشاهانو په شان دی. آه.
مګر صحیح دا ده چه جریر ﷛ ددې نه مخکښې راغلې دې ځکه چه دې حدیث نقل کوی چه مونږ ته رسول الله ﷺ ووېل: "ستاسو ورور نجاشی وفات شویدې".
او د نجاشی مرګ د لسم هجری نه مخکښې شویدې. (سبل الهدی)
امام احمدؒ او بیهقی او طبرانی د جریر ﷛ نه نقل کړیدی:
هرکله چه زهٔ مدینة الرسول ته رانزدې شوم نو ما خپله اُوښه کینوله او خپله کسوړه مې کولاوه کړه او جوړه مې واغوسته او مسجد ته ننوتم او نبی ﷺ په خطبه بانـدې ولاړ دې نو رسول الله ﷺ په ما بانـدې سلام واچولو نو خلکو زهٔ په نظرونو باندې ویشتم، نو ما خپل نزدې ناست ملګری ته ووېل:
اې د الله بنده آیا رسول الله ﷺ زما په باره کښې څه خبره ذکر کړیده؟
هغهٔ ووېل: آؤ، تهٔ ئې ډیر ښهٔ یاد کړې ئې. پدې مابین کښې هغه په خطبه کښې وو چه هغهٔ د خطبې مینځ کښې ناڅاپی ووېل:

[إِنَّهُ سَيَدْخُلُ عَلَيْكُمْ مِنْ هٰذَا الْبَابِ أَوْ مِنْ هٰذَا الْفَجِّ مِنْ خَيْرِ ذِيْ يَمَنٍ وَإِنَّ عَلٰى وَجْهِهِ لَمَسْحَةُ مَلَكٍ]

اُوس نزدې به په تاسو باندې ددې دروازې یا ددې لارې نه یو تن رانوزی چه هغه د یمن والو نه ډیر غوره انسان دې او د هغهٔ په مخ باندې د بادشاه نښه ده.
نو ما د الله حمد ووئیلو پدې وجه چه په ما باندې ئې دا احسان وکړو.
[احمد: ١٩٢٠٣، صحیح ابن خزیمة ١٧٩٨ اسناد صحیح]

(لمسحة ملك) دے کښې دوه قراء ته دی، یو دا چه ملك ملائك ته وائی۔ او ملائك د عربو په نیز په ښائست باندے مشهور وو، یعنی د ملائکو اثر پرے دے، او داسے ښائسته دے لکه چه ملائك پرے لاس راښکلے وی۔
دا دا مُلك لفظ دے، یعنی د بادشاهۍ اثر ته وائی۔

او رسول الله ﷺ دهٔ لره د یو نیم سل (۱۵۰) کسانو سره د ذی الخلصه بت ورانولو دپاره ولیږلو، لکه چه دا خبره مخکښې ذکر شویده۔
کله چه دے راغلو نو رسول الله ﷺ دهٔ ته خپل څادر خور کړو او دائے ورته وویل : اے جریر ! پدے باندے کینه، بیا د رسول الله ﷺ او د هغهٔ د ملګرو سره ډیر وخت ناست وو بیا پاڅیدو او روان شو نو د رسول الله ﷺ څه ملګرو وویل : اے د الله رسوله ! مونږ نن ورځ تا نه داسے منظر ولیدو چه مونږ ستا نه د بل چا دپاره نهٔ وو لیدلے۔
وے فرمایل : آؤ، دا د خپل قوم عزتمن شخص دے،

[وَإِذَا أَتَاكُمْ كَرِيْمُ قَوْمٍ فَأَكْرِمُوْهُ]

او کله چه تاسو ته د یو قوم عزتمن شخص راشی نو د هغهٔ اکرام وکړئ۔
[ابن ماجه : ۳۷۱۲، معرفة الصحابة لابی نعیم ۳۷۵۶، اسناده حسن]
جریر رضی الله عنه فرمائی :
[مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ ﷺ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِيْ قَطُّ إِلَّا تَبَسَّمَ]
کله نه چه ما اسلام قبول کړے نو زهٔ رسول الله ﷺ په دروازه کښې نهٔ یم ایسار کړے (بلکه ما ته ئے اجازه راکړے چه راځه) او زهٔ ئے چه کله هم کتلے یم نو ما ته مُسکے شویدے۔
جریر رضی الله عنه فرمائی :
[بَايَعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ]
ما د رسول الله ﷺ سره بیعت وکړو چه مونځ به قائموم، زکاة به ورکوم او د هر مسلمان خیرخواهی به کوم۔
نو ددے وجه نه زهٔ د هر مسلمان خیرخواه یم۔ او مسلمانانو ته به ئے وئیل : قسم په

الله چه زهٔ ستاسو د ټولو خیرخواه یم۔ (ابن سعد)

او دا بیعت مونږ ټولو مسلمانانو ته اخستے شوید ے چه د هر مسلمان خیرخواهی به کوو، که دا صفت چا کښے نهٔ وی، هغه مؤمن نهٔ دے۔

۳۳- د واثله بن الاسقع رضی الله عنه راتلل

واثله بن اسقع رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته په داسے حالت کښے راغلو چه رسول الله ﷺ تبوك غزا ته تیاری کوله نو دهٔ اسلام راوړو او بیعت ئے وکړو او د رسول الله ﷺ سره ئے سهار مونځ وکړو او بیرته خپل کلی ته واپس شو، نو هغوی ته ئے د اسلام دعوت ورکړو او د رسول الله ﷺ نه ئے خبر کړل۔

نو پلار ورته وویل: قسم په الله زهٔ به تا سره یوه خبره هم نهٔ کوم هیڅکله۔ نو خور ئے خبره واوریده او اسلام ئے قبول کړو او دهٔ ته ئے سامان تیار کړو۔ دے بیرته رسول الله ﷺ ته راغلو نو هغه ئے وموندہ چه تبوك ته روان شوے وو،

نو دهٔ خلکو ته وویل:

[مَنْ يَّحْمِلُنِيْ عَقِبَهٗ وَلَهٗ سَهْمِيْ ؟]

څوك به ما ځان سره شا ته کینوی پدے شرط چه زما د غنیمت برخه به د هغهٔ دپاره وی۔ نو کعب بن عجره رضی الله عنه ځان سره کینولو تردے چه رسول الله ﷺ ته ورسیدل او د هغهٔ سره تبوك ته حاضر شو۔

او په تبوك کښے رسول الله ﷺ دے د خالد بن ولید رضی الله عنه سره اُکیدر ته ولیږلو نو غنیمت ئے ونیولو نو دهٔ خپله برخه غنیمت کعب بن عجره رضی الله عنه ته راوړو چه دا په هغه شرط کښے واخله۔

نو کعب بن عجره رضی الله عنه د هغے د قبلولو نه انکار وکړو او دا ئے وویل:

[اِنَّمَا حَمَلْتُكَ لِلّٰهِ]

ما خو تهٔ په خپل اُوښ باندے د الله دپاره سور کړے وے۔

(دے ته د صحابه کرامو همدردی او ایثار او په نیکو کښے شوق وائی)

۳۴- معاویه بن حَیدَه قُشَیرِیٌ ﷺ راتلل

معاویه بن حیده ﷺ فرمائی: زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم، هرکله چه راورسیدم نو ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے: خبر شه ما د الله نه سوال کړے چه ما سره ستاسو په خلاف باندے په قحط سره مدد وکړی چه ستاسو بیخ وباسی او په رعب سره چه ستاسو په زړونو کښے ئے واچوی۔

نو معاویه بن حیده ﷺ وفرمایل: خبردار ما داسے داسے قسم کړے وو چه زهٔ به په تا ایمان نهٔ راوړم او ستا تابعداری به نهٔ کوم نو قحط په مونږ همیشه شو او رعب زما په زړهٔ کښے اچولے کیدو تردے چه زهٔ ستا مخے ته اُودریدم، نو په هغه الله قسم درکوم چه ته ئے رالیږلے ئے، الله تعالیٰ ته په کومه خبره رالیږلے ئے؟

نبی ﷺ وفرمایل: زهٔ ئے په اسلام رالیږلے یم، هغهٔ وویل: اسلام څه شے دے؟

نبی ﷺ وفرمایل: ددے خبرے گواهی کول چه نشته حقدار د بندگئ سویٰ د الله نه، او محمد ﷺ د هغهٔ بنده او رسول دے، او تاسو به مونځونه قائموئ او زکاة به ورکوئ، دا دواړه د یو بل سره مدد کونکی ملگری دی، الله تعالیٰ د هیچا توبه نهٔ قبلوی چه د اسلام نه روستو ئے شرك شروع کړے وی (او بیا په هغے باندے مړ وی)

هغه وائی: ما وویل: اے د الله رسوله! زمونږ په یو تن باندے د بیبیانو کوم حق دے؟

وے فرمایل: طعام به ورکوی کله چه خوراك کوی، او هغے ته به جامه ورکوی کله چه خپله جامه اغوندی او په مخ به ئے نهٔ وی او کنځل به ورته نهٔ کوی او هغه به نهٔ پریدی (نهٔ به ورسره ورانوی) مگر په ځائے د شپے تیره ولو کښے۔

او په یو روایت کښے دی: تهٔ مونږ ته زمونږ د زنانو په باره کښے څه وائے؟

نبی ﷺ وفرمایل: ﴿نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ﴾ (البقرة ۲۲۳) بیبیانے ستاسو فصل دے، راځئ خپل فصل ته په کومه طریقه چه ستاسو خوښه وی۔

بیا هغهٔ وویل: آیا په مونږ کښے یو تن د بل ورور عورت ته کتلے شی؟

وے فرمایل : نه۔ هغهٔ عرض وکړو : کله چه مونږ یو بل نه جدا شو (نو آیا عورت ښکاره کولے شو؟) نبی ﷺ وفرمایل :

[اَللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَسْتَحْيُوْا مِنْهُ]

الله ډیر لائق دے چه تاسو د هغهٔ نه حیاء وکړئ۔

بیا رسول الله ﷺ درے کرته وفرمایل :

[هٰهُنَا تُحْشَرُوْنَ]

تاسو به دلته راجمع کولے شئ (او اشاره ئے شام طرف ته وکړه) څه به سوارهٔ وی او څه به پیادهٔ وی، او په مخونو باندے به یئ، تاسو به د قیامت په ورځ اویا امتونه پوره کوئ، چه تاسو د ټولو نه آخری امت یئ او په الله باندے ډیر عزتمن یئ، تاسو به د قیامت په ورځ راځئ په داسے حال کښے چه ستاسو په خولو باندے به خوله بند لګیدلے وی، اول خبرے به ستاسو د یو تن نه د هغهٔ ورون کوی۔

[الترمذی : ۲۷٦۹، حسن، مسند احمد ۲۰۰۲۵/۲۰۰٤٦ – حسن]

OOOO

۳۵- د وائل بن حُجر رضی الله عنه وفد

وائـل بن حُجُر الحَضْرَمِي الكِندي رضی الله عنه- د حضرموت وسیدونکے، او د کِنده قبیلے نه یو عظیم شخصیت وو، ددهٔ اسمِ کنیه ابو هُنَیْد وه، دا د حضرموت د بادشاهانو نه د یو بادشاه ځوی وو، او د هغه ځائے د رئیسانو او مشرانو نه یو مشر وو۔

دے خپله قصه نقل کوی فرمائی : زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم او زما په راتللو باندے رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته زیرے ورکړے وو داسے ئے فرمایلی وو :

[يَأْتِيكُمْ وَائِلُ بْنُ حُجْرٍ مِنْ أَرْضٍ بَعِيْدَةٍ مِنْ حَضْرَمَوْتَ رَاغِبًا فِي اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَفِي رَسُوْلِهٖ وَهُوَ بَقِيَّةُ أَبْنَاءِ الْمُلُوْكِ]

تاسو ته به وائل بن حجر رضی الله عنه د ورانده زمکے نه راشي د حضرموت نه چه په الله کښے او د هغهٔ په رسول کښے به مینه لری، او هغه د بادشاهانو د ځامنو نه پاتے دے۔

وائل بن حجر رضی الله عنه وائی : هرکله چه زهٔ راغلم نو ما سره به هیڅ صحابی نهٔ ملاویدو مګر دا به ئے وئیل چه مونږ ته ستا د راتللو نه درے ورځے مخکښے رسول الله ﷺ په تا باندے زیرے راکړے وو۔

هرکله چه زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم، ما ته ئے مرحبا ووئیله او زهٔ ئے خپل ځان سره نزدے کړم او زما د ناستے ځائے نزدے کړو او ما ته ئے خپل څادر خور کړو او په هغے باندے ئے کینولم، او دا دعاء ئے وکړه :

[اَللّٰهُمَّ بَارِكْ فِيْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ وَوَلَدِهٖ وَوَلَدِ وَلَدِهٖ]

اے الله ! په وائل بن حجر او د هغهٔ په بچو او د هغهٔ د بچو په بچو کښے برکت او خیر واچوه۔

بیا منبر ته وختلو او زهٔ ئے خپلے مخے ته کینولم، او خلکو ته ئے وفرمایل : اے خلکو ! دا وائل بن حجر دے چه تاسو ته د لرے ملك د حضرموت نه راغلے دے، د اسلام سره مینه لری۔

ما ووئیل : اے د الله رسوله ! ما ته ستا رابنکاره کیدل راورسیدل او زهٔ په یوه لویه

بادشاهئ کښېږ وم نو الله په ما باندې احسان وکړو چه ما دا ټول هر څه پرېخودل او د الله دين مې غوره کړو- رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

[صَدَقْتَ]

تا رښتيا وويل- بيا ئې دغه مخکښې دعاء د برکت دوباره وکړه-

وائل بن حجر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ته زما د راتللو سبب دا وو چه زما دپاره د عَقِيق (قيمتي کانړي) نه يو بت وو نو پدې مابين کښې زۀ په غرمه کښې اُوده وم نو ما د بت د کوټهئ نه يو ناڅاپي ناشنا آواز واوريدو نو زۀ بت خوا ته راغلم او د هغۀ مخې ته په سجده پريوتم نو دغه وخت يو ويونکي وويل :

وَاعَجَبًا لِوَائِلِ بْنِ حُجْرٍ	ο	يَخَالُ يَدْرِيْ وَهُوَ لَيْسَ يَدْرِيْ
مَاذَا يُرْجٰى مِنْ نَحِيْتِ صَخْرِيْ	ο	لَيْسَ بِذِيْ نَفْعٍ وَلَاذِيْ ضُرٍّ

لَوْ كَانَ ذَا حُجْرٍ اَطَاعَ اَمْرِيْ

په وائل بن حجر تعجب دې دې گمان کوي چه دې پوهيږي ليکن په حقيقت کښې دې نۀ پوهيږي- دې د کانړي نه توګلې شوي بت نه اميد ساتي چه هيڅ نفع او نقصان چا ته نشي ورکولې- ارمان چه دې زما خبره ومني-

دې وائي : ما وويل : اې خير خواه آواز کونکيه! تا خو ما ته آواز واوره ولو خو ما ته څه حکم کوې ؟

نو هغۀ وويل :

اِرْحَلْ اِلٰى يَثْرِبَ ذَاتِ النَّخْلِ	ο	تَدِيْنُ دِيْنَ الصَّائِمِ الْمُصَلِّيْ

مُحَمَّدِ النَّبِيِّ خَيْرِ الرُّسُلِ

مدينې ته لاړ شه چه د کجورو علاقه ده، تۀ به د هغه شخص دين قبول کړې چه هغه روژه دار او مونځ گذار دې، چه هغه محمد نبي ﷺ دې چه د ټولو رسولانو نه غوره دې-

بيا بت پرمخې راپريوتو او څټ ئې مات شو، نو زۀ ورپسې راپاڅيدم او هغه مې ذره ذره

کړو بیا په جلتئ سره راروان شوم تردے چه مدینے ته راغلم او مسجد ته راننوتم او بیا ئے دغه مخکنے حدیث ذکر کړو۔

[السيرة الحلبية ١/٣٣٤]

او رسول الله ﷺ دے د حضرموت په یوه حصه باندے والی مقرر کړو او عام والی په حضرموت باندے زیاد بن لبید ﷺ وو۔

[الادارة فی عصر الرسول]

او دۀ ته ئے د جاګیر په طریقه د هغه ځائے څه زمکه هم ورکړه، او د حضرموت علاقے ګورنرئے جوړ کړو۔

او په یو روایت کښے دی چه دۀ وویل : اے د الله رسوله ! زما کلي والا په ما باندے زما په مالونو او زمکو باندے غلبه کړیده نو رسول الله ﷺ وفرمایل : زۀ به تا ته هغه هم درکړم او د هغے دوچنده هم۔ (سبل الهدیٰ والرشاد)

[السيرة النبوية لابن كثير ٤/١٥٤]

هرکله چه وائل بن حجر ﷺ د خپلے علاقے نه راغلو نو رسول الله ﷺ د خوشحالئ په طور هغۀ ته خلك راجمع کړل۔

هرکله چه هغۀ د واپسئ اراده وکړه نو نبی ﷺ هغه دپاره یو خط ولیکلو : ......دا خط د محمد ﷺ دے وائل بن حجر ﷺ د حضرموت بادشاه دپاره : چه تاسو اسلام راوړونو کومے قلعه ګانے او زمکے چه ستاسو په قبضه کښے وے، هغه زۀ ستاسو سره پریدم (او ما تاسو ته درکړے) د هغه زمکو نه به عشر (لسمه حصه زکاة) اخستے کیږی۔ او زۀ په تاسو باندے دا لازموم چه تاسو به پدے کښے ظلم نۀ کوئ ترڅو پورے چه دین قائم وی او نبی او مؤمنان ددے مددګار دی۔

سُوید بن حنظله ﷺ فرمائی : یوه ورځ مونږ رسول الله ﷺ ته د ورتللو په اراده د حضرموت نه راووتو، مونږ سره وائل بن حجر ﷺ هم وو۔ په لاره کښے هغه لره یو دشمن ونیولو، نورو خلکو د دروغجن قسم خوړلو نه ځان وساتلو لیکن ما قسم خوړلو چه دا زما ورور دے نو هغه ئے پریخودو۔

کله چه مونږ رسول الله ﷺ ته راغلو نو ما ورته توله واقعه بیان کړه او عرض مے

وکړو چه زما نورو ملګرو دروغجن قسم بد وګنړلو او ما ورته قسم وکړو چه دا زما ورور دے (حال دا چه دا زما د نسب په لحاظ سره ورور نهٔ دے)

نبی ﷺ وفرمایل :

[صَدَقْتَ اَلْمُسْلِمُ اَخُو الْمُسْلِمِ]

تا رشتیا وئیلی دی، یو مسلمان د بل مسلمان ورور دے۔

[صحیح ابی داود ٣٢٥٦، صحیح ابن ماجه :٢١١٩)

وائل بن حجر ؓ فرمائی : زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم په داسے حال کښے چه زما د سر ویښته اُوږدهٔ وو، هرکله ئے چه زهٔ ولیدم نو وے فرمایل : [ذُبَابٌ ذُبَابٌ] لیونتوب لیونتوب دے۔

وائل بن حجر ؓ وائی: زهٔ واپس شوم او خپل اُوږدهٔ ویښتـه مے واړه کړل بیا ورته صبا له راغلم، نو ما ته ئے وفرمایل:

[اِنِّی لَمْ اَعْنِكَ وَهٰذَا اَحْسَنُ]

ما په تا باندے ستاسو د ویښتو په وجه عیب نهٔ وو لګولے او دا ویښته چه اُوس دِے ساتلی دی دا د مخکښی حالت نه ډیر ښهٔ دی۔

[سنن ابی داود : ٤١٩٢]

ذباب په عربئ کښے شُؤم (سپیرهٔ والے) او دائمی شر ته وائی۔ دلته ئے مطلب دا دے چه دا ښهٔ نهٔ ښکاری۔

وائل بن حجر ؓ په لسم هجری کښے راغلے دے،

او حافظ ابن کثیرؒ وائی چه په نهم هجری کښے راغلے دے۔

وائل بن حجر ؓ فرمائی : ما نبی ﷺ ولیدو کله ئے چه مونځ شروع کولو نو دواړه لاسونه ئے د غوږونو برابر پورته کړل۔ (هغه فرمائی) بیا زهٔ راغلم نو ما ولیدل چه دوئ لاسونه د سینو پورے پورته کول په ابتداء د مانځه کښے او دوئ کوټونه او شړئ اغوستے وے۔ [ابوداود : ٧٢٨]

دا روایت دا خبره ښکاره کوی چه وائل بن حجر ؓ رسول الله ﷺ ته بار بار راغلے دے۔

وائل بن حجر ﷺ فرمائی : دۀ نبی ﷺ ولیدو چه کله په مانځه کښې داخلیدو نو لاسونه پورته کړل او الله اکبر ئے وکړو همام راوی وائی : یعنی د غوږونو په برابرئ۔ بیا ئے خپلۀ جامه راتاؤ کړه بیا ئے ښے لاس په ګس لاس باندے کیخودو، بیا هرکله ئے چه د رکوع اراده وکړه نو دواړه لاسونه ئے د جامے نه رابهر کړل بیا ئے هغه پورته کړل بیا ئے الله اکبر ووئیلو نو رکوع ته خکته شو، هرکله ئے چه سمع الله لمن حمده ووئیلو نو دواړه لاسونه ئے پورته کړل، هرکله ئے چه سجده وکړه نو د دواړو لاسونو ترمینځ ئے وکړه۔

[مسلم : ۹۲۳]

وائل بن حجر ﷺ فرمائی :

[كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا قَرَأَ وَلَا الضَّالِّيْنَ قَالَ : آمِيْن وَرَفَعَ بِهَا صَوْتَهٗ]

(ابو داود :۹۳۳، صحیح)

رسول الله ﷺ به چه کله ولا الضالین ووئیلو نو آمین به ئے وئیلو، او پدے باندے به ئے خپل آواز پورته کړو۔

(دا حدیث دلیل دے چه امام به هم په جهری مونځ کښے آمین په جهر سره وائی۔

او وائل بن حجر ﷺ د رسول الله ﷺ په مانځه کښے په آخری قعده کښے تورك هم نقل کړیدے۔ (بخاری ومسلم وابوداود والترمذی)

وائل بن حجر ﷺ امت ته (۷۱) حدیثونه نقل کړیدی۔

او وائل بن حجر ﷺ چونکه د رسول الله ﷺ د نبوت د آخری دور مسلمان دے او هغه احادیث د رفع الیدین او د آمین بالجهر او تورك او جلسه استراحت وغیره نقل کونکے دے، دا قوی دلیل دے چه دا حدیثونه نۀ دی منسوخ شوی، لکه چه بعض خلك بے دلیله داسے خبرے کوی، بلکه دا سنت طریقے دی چه سلفاً او خلفاً پرے د امت مسلمه په توله دنیا کښے عمل راروان دے۔

0000

۳٦- د مالك بن حُوَیرث لَیثی کِنَانی رضی الله عنه راتلل

امام بخاري او مسلم د مالك بن الحُويرث نه روايت راوړيدے چه مونږ رسول الله ﷺ ته راغلو او مونږ نزدے نزدے (همزولي) ځوانان هلکان وو، نو د هغهٔ سره مو شل (۲۰) ورځے تيرے کړے او رسول الله ﷺ ډير رحم دل او نرم انسان وو۔ نو هغهٔ گمان وکړو چه زمونږ به خپل کور والو ته شوق پيدا شوے وی،

نو مونږ نه ئے تپوس وکړو چه تاسو خپل اهل کښے څوك پريخودي دي؟

نو مونږ ورته خبر ورکړو نو وے فرمايل: واپس لاړ شئ او په خپل اهل کښے وسيږئ، او هغوی ته د دين تعليم ورکړئ او هغوی ته د دين حکم کوئ او مونځونه کوئ،

[فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمُّكُمْ أَكْبَرُكُمْ]

کله چه مونځ وخت راشي نو يو تن ستاسو دے تاسو لره اذان وکړي او تاسو ته دے ستاسو مشر امامت وکړي۔ [بخاري: ٦٢٨ ومسلم ١٥٦٧]

او په يو روايت کښے دي: داسے مونځ کوئ لکه څنگه چه مو زهٔ په مانځه وليدم۔

دا حديث دليل دے چه اذان هر څوك کولے شي، وړوکے وي او که غټ، عالم وي، که امي۔ البته امامت به هغه تن کوي چه مشر وي۔ يعني کله چه ټول يو شان د قرآن لوستونکي وي نو بيا به مشر د امامت زيات حقدار وي۔

OOOO

۳۷- آخر الوفود - د نَخَع قبیلے وفد

(محرم ۱۱ هجری)

نَخَع د یمن یوه قبیله ده دا خلك د تولو نه روستو رسول الله ﷺ ته راغلی وو۔

په نیمائی محرم یولسم (۱۱) هجری کښے راغلل، او په کور د رمله بنت الحارث کښے ئے ډیره واچوله، دوئ دوه سوه (۲۰۰) کسان وو چه د اسلام اقرار ئے کولو، او دوئ مخکښے د معاذ بن جبل ﷺ سره په یمن کښے بیعت کړے وو۔

او دوئ کښے یو سړے وو چه د هغهٔ زراره بن عمرو النخعی نوم وو، هغهٔ وویل :

اے د الله رسوله ! ما پدے سفر کښے یوه عجیبه شے ولیدو۔ یا ما پدے سفر کښے ناشنا خوب ولیدو چه زهٔ ئے ویره ولم۔ نبی ﷺ وفرمایل : تا څه لیدلی دی ؟

عرض ئے وکړو : ما یوه خره ولیده چه هغه ما په کلی کښے پریخے وه ګویا کښے هغے یو ګډ زیګولے دے چه توربخن دے، نبی ﷺ وفرمایل :

آیا تا یوه وینځه پریخودے ده چه هغے حمل اخستے وو؟ هغهٔ وویل : آؤ، نبی ﷺ وفرمایل : هغے یو بچے راوړیدے چه هغه ستا ځوی دے۔

دهٔ وویل : اے د الله رسوله ! څه وجه ده چه هغه توربخن دے؟ نبی ﷺ ورته وفرمایل : ما ته رانزدے شه، نو دے ورته نزدے شو، ورته ئے وفرمایل : آیا په تا باندے برګی بیماری شته چه تهٔ ئے د خلکو نه پټ ساتے؟ هغه وویل :

[وَالَّذِیْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عَلِمَ بِهٖ اَحَدٌ وَّلَا اطَّلَعَ عَلَیْهِ اَحَدٌ غَیْرُكَ]

قسم په هغه الله چه تهٔ ئے په حق سره رالیږلے ئے پدے باندے هیڅوك نهٔ وو پوهه او ستا نه سوئ بل هیچا ته دا اطلاع نشته۔

نبی ﷺ ورته وفرمایل : پدے وجه هغه توربخن پیدا شویدے۔

دهٔ وویل : اے د الله رسوله ! ما نعمان بن المنذر بادشاه ولیدو چه هغه دوه والئ او دوه بنګړی مټ ته اچولی دی او دوه بنګړی ئے لاس ته اچولی دی، نبی ﷺ وفرمایل :

دا د عربو بادشاه دے چه خپل ښائسته لباس (حالت) او تازګئ ته راواپس شویدے۔

دۀ وویل : اے د الله رسوله ! ما یوه سپین سرے بو ډیٔ ولیده چه د زمکے نه راووته۔
ویے فرمایل : دا باقیمانده دنیا ده۔
دۀ وویل : ما اُور ولیدو چه د زمکے نه راووتو نو هغۀ زما او زما د ځوی ترمینځ حائل شو چه د هغۀ نوم عمرو دے، او ما دغه اُور ولیدو چه داسے ئے وئیل :

[لَظٰی لَظٰی، بَصِیرٌ وَاَعْمٰی، اَطْعِمُوْنِیْ آکُلُکُمْ آکُلُکُمْ، أَهْلَکُمْ وَمَالَکُمْ]

لمبے دی، لمبے دی، یو لیدونکے دے او بل ړوندے دے، ما ته خوراك راکړئ چه تاسو وخورم، تاسو وخورم، ستاسو اهل او ستاسو مالونه۔
نبی ﷺ وفرمایل : دا یوه فتنه ده چه په روستو زمانه کښے به پیدا کیږی۔
دۀ وویل : اے د الله رسوله ! فتنه څه ته وائی؟ نبی ﷺ وفرمایل :

[یَقْتُلُ /یُقَاتِلُ النَّاسُ اِمَامَهُمْ ثُمَّ یَشْتَجِرُوْنَ اشْتِجَارَ اَطْبَاقِ الرَّأْسِ – وَخَالَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بَیْنَ اَصَابِعِهٖ– یَحْسَبُ الْمُسِیْءُ فِیْهَا اَنَّهٗ مُحْسِنٌ وَدَمُ الْمُؤْمِنِ عِنْدَ الْمُؤْمِنِ اَحْلٰی مِنْ شُرْبِ الْمَاءِ، اِنْ مَاتَ ابْنُكَ اَدْرَکْتَ الْفِتْنَةَ وَاِنْ مِتَّ اَنْتَ اَدْرَکَهَا ابْنُكَ]

خلك به د خپل امام(/مشر/خلیفۀ وخت) سره جنګ کوی، (هغه به وژنی) بیا به دوئ خپل مینځ کښے په اختلافاتو کښے داسے ننوزی لکه د سر د کوپړئ هډوکی چه یو بل کښے ورغلی وی، پدے کښے به ګناهګار دا ګمان کوی چه دے نیك کار کوی او د یو مسلمان وینه به د بل مسلمان په نیز د اُوبو څکلو نه هم زیاته خوږه وی، که ستا ځوی مړ شی نۀ به فتنه راالاندے کوے او که تۀ مړ شے ستا ځوی به فتنه لاندے کوی۔
دۀ وویل : اے د الله رسوله ! د الله نه وغواړه چه زۀ ئے ونۀ ومومم۔
نبی ﷺ وفرمایل : اے الله ! دا دِے دا فتنه ونۀ مومی۔
نو ددۀ ځوی پاتے شو، بیا ددۀ دا ځوی د هغه خوارجو سره ملګرے شو چه د عثمان رضی الله عنه د خلافت نه د لرے کولو دپاره راغلے وو۔
(او په نتیجه کښے ئے خلیفه راشد عثمان بن عفان رضی الله عنه شهید کړو او دا خلك په لویه فتنه کښے اخته شول)

[سبل الهدی والرشاد وعیون الاثر]

بله قصه : اول کښے نخع قبیلے دوه کسان سرې رسول الله ﷺ ته ولیږل چه د یو

نوم ارطاة بن شَرَحْبِيل وو او د بل نوم جَهِيْش چه خپل نوم ئے ارقم وو،

دا دواړه د خپل کلی نه راووتل تردے چه رسول الله ﷺ ته راورسیدل، نو رسول الله ﷺ په دواړو باندے اسلام پیش کړو نو دواړو اسلام قبول کړو او د خپل قوم دپاره ئے د رسول الله ﷺ سره بیعت وکړو،

نو رسول الله ﷺ د دوئ دواړو په کار باندے او د دوئ په ښائسته هیئت باندے ډیر خوشحاله او په تعجب کښې شو۔

نبی ﷺ ورته وفرمایل: آیا تاسو د خپل ځانونو نه روستو ستاسو په شان قوم پریخودے دے، (یعنی نور قوم هم ستاسو په شان دے؟)

دواړو وویل: اے د الله رسوله! مونږ د خپل ځان نه روستو زمونږ د قوم نه اویا (۷۰) کسان داسے پریخودی دی چه هغه ټول زمونږ نه ډیر غوره دی، او ټول مشران دی او هر یو فیصله کونکے دے او خبرے نافذ کونکی دی چه کله کومه واقعه راپیښه شی نو هغوی پکښې مونږ نۀ شریکوی۔ (یعنی پوره واکدار او هوښیار خلك دے)

نو رسول الله ﷺ دے دواړو او د دوئ قوم دپاره دعاء وکړه او داسے ئے وفرمایل:

[اَللّٰهُمَّ بَارِكْ فِي النَّخَعِ]

اے الله! په نخع قبیله کښې برکت واچوه۔

عبد الله بن مسعود ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ د نخع قبیلے دپاره دعاء کوله۔ یا ئے داسے وویل: د هغوی صفتونه ئے کول۔ تردے چه ما ارمان وکړو چه زۀ د هغوی نه یو تن وے۔

[احمد برجال ثقات، والبزار والطبرانی]

[سبل الهدی والرشاد ٦/٤٢٣]

دریم جلد د **"سیرت رسول"** د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره اختتام ته ورسیدو، ددے نه پس څلورم جلد دے چه د حجة الوداع نه به شروع کیږی۔ ان شاء الله تعالیٰ

وَسُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك، وصلى الله تعالى على النبي الكريم وعلى آله وصحبه اجمعين .

فهرست مضامین کتاب سیرتِ رسول جلد ۳

سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم